Degeloving
د خولې له لارې د جراحي کړنلارې پواسطه د زنې د مندیبولار هډوکي ښکاره کول.

Deglutition
تېرول،بلع کول،له ستونې څخه د (مړی Food یا اوبو مایع Liquid) تېرېدلو عمل ، د (Swallowing) په انډول.

Degradation
د درجې کمولو کړنلاره ، د یوه کېمیاوي جوړښت بدلول په ساده نورو جوړښتونو.

Degrade
له اوچتی درجې څخه ټیټې درجې ته کښته کول، راکښته کول، ټیټول.

Degree
درجه، رتبه، دژوندانه پراو.

Degustation
آزمویل، امتحان کول، تست کول.

Dehisce
لېرې کېدنه ، وازېدنه ، شلېدنه ، یو تر بله سره ببرته جلا کېدنه.

Dehisced
لېرې شې ، وازشوې ، شلېدلې ، یو تر بله سره ببرته جلاشوې لکه هغه ټپ / پرهر چې ورسته د ترلو څخه بیرته واز شي.

Dehiscence
لېرې کېدنه ، وازېدنه (Opening Wide) عمل ، شلېدنه ، یو تر بله سره ببرته جلا کېدنه، سوری کول، دریمځه اېستل، د دوه شونډو د اتصال غوڅول،لاره اېستلو کړنلاره

Dehumidifier
لمده بله راویستل، رطوبت لرېکول، هغه دستګاه چې د رطوبت یا لوندوالی د لرېدنې لپاره پکار وړل کیږي.

Dehydrase
هغه انزایم چې اوبه له نورو جوړښتونو څخه جلا کوي.

Dehydratase
هغه انزایم چې د کتلایز په وخت اوبه له جوړښتونو جلا کوي.

مخرب ، ویجاړوونکي ، مضر ، زیان ور، ضر رناک. مجروح کونکی، ټپي کوونکی، ضرر لرونکی.

Delhi Boil

جلدی لشمانیا ، د (**Cutaneous Leishmaniasis**) په انډول.

Deliberate

سنجول، مشوره کول، غور کول، فکر کول، سنجېدل، ځیرکېدل.

Delicate

تنکی، نازک، لطیف، خوندور، نفیس، حساس، دسلیقې خاوند.

- **Delicate Operation**

یو ظریف او نفیس عملیات.

- **Delicate State of Health**

یو نرې او ترینګنې رغتیائی حالت.

Delicious

خوندور، په زړه پورې، لذیذ.

Deligation

غوټه کول، بنداژ، د بنداژ تاوول.

Delight

خوشالتیا ، زړه ښه والی ښادی.

Delineate

انځورول، تصویر ول، نخښه کول، تشریح کول.

Delinquent

د کار غفلت، تقصیر لرونکی، خطاکاره، ګناهکار، مجرم دا اصطلاح د لږ عمر لرونکو یا ځوانو ماشومانو په هکله پکار وړل کیږي.

Deliquescence

او به کېدل، ویلې کېدل، د اوبو د بخاراتو د جذب له مخې مایع کېدنې ته لېوالتیا.

Deliquescent

د پور ته حالت (**Deliquesconce**) صفت بلل کیږي.

Delirious

د هذیان (**Delirium**) پذرېعه اغېزمن شوې چې په (**Shock** ، **Fear**، **Drugs** ، **Fever**) منځ ته راځی.

Delirium

هذیان، پرته ویل، بې اختیاره غږېدنه، هیجاني کېدنه، اپلتی (اپلاکې) ویونکی، پرتې ویونکی، چې په (لیونی، لیونتوب، سودا یی توب، سرسام توب) کې شتون لری.

Dehydroretinol

ویتامین **A2** فورمول یې (**$C_{20}H_{28}O$**) دی او په رتینا او ځیګر (ینه) کښې موندل کیږي او همدارنګه په کبانو (ماهیانو)کښې موندل کیږي.

Dehypnotize

له خوبه راویښېدنه، له هیپنوتیک حالت څخه ویښول.

De-insectization

له حشراتو څخه پاکول، پرته له حشراتو کول.

De-iodination

له یوه جوړښت څخه د آیوډین عنصر جلا کول.

De-ionization

له یوه جوړښت څخه د آیون راوېستنه، پرته له آیون کول.

Deja-Vu

د ناروغ دا رنګه تصور کول چې نوي موقعیتونه په تکرار سره راځي چې دا حالت په (**Brain Disease**) کې لیدل شی.

Dejecta

غول ، مدفوع ، خوشائي (سرګین) ، فضله ، تېپاکه ، پلن ، غایطه ، پچې ، فضله مواد ، د د (**Excrement**) په انډول.

Dejection

تغوط، غول کول، تشونه لکه د (معدې، کولمو او نورو)، روانې هوساینه، خواشینی، خپګان.

Déjerine-Klumpke's Syndrome

د (**Klumpke's Paralysis**) په انډول.

Delacrimation

د اوښکو ډېره زیاته بهېدنه.

Delactation

د شیدو وچېدنه، له شیدو څخه جلا کول.

Delalution

د کېروات هایدروکسي پروجسترون سوداګریز نوم دی.

Delamination

د بلاستودرم وېشنه په دوه پاڼو سره.

Delatestryl

د انانتیټ تستوسترون لپاره سوداګریز نوم دی.

De-lead

د سربو (**Lead**)راکاږل له انساجو څخه او متیازو کښې د هغه اطراح.

Deletion

په جنیتیکي موادو کښې د کروموزوم لږېدنې ته اطلاق کیږي.

Deleterious

Delmandinone Acetate

دا د اندروجن ضد درمل یعني پروجستین دي او همدارنګه د استروجن ضد هم دي فورمول يې ($C_{23}H_{27}CLO_4$) دی دا درمل د وترنري په طب کښې پکاريږي.

Delrium

لیونتوب، سودایی توب، سرسام توب.

Delta

دلتا، دا د یوناني ژبې څلورم توری (Δ) دی دا نښه په کېمیاوي جوړښتونو کښې د څلورم ګروپ یا اتوم لپاره پکار وړل کیږي.

- **Delta-Cortef**

د پریدنیزولون لپاره سوداګریز نوم.

- **Deltacortisone**

د پریدینیزولون نوم ، د (**Deltasone** ، **Prednisolon**) انډول.

- **Delta- Fornicis**

د فورنیکس په مثلثي توګه بدلون او بڼه غوره کول.

- **Delta Hepatitis**

دلتا هیپاتیت ، دا د هیپاتیت شدید ډول دئ چې د (**RNA Virus**) پواسطه د (**Hepatitis B Virus**) سره په پیوست ډول منځ ته راځی .

- **Delta Virus**

دلتا ویروس ، هغه ډول د (**RNA Virus**) ویرس چې د (**Delta Hepatitis**) لامل ګرځی.

- **Delta Wave**

ډلتا څپې ، د ماغزو کراره څپې (**Slow Brain Wave**) چې د دماغ په قدام برخو کې په (**Deep Sleep** او **Frequency of 3.5 Hertz**) کې منځ ته راځی .

Deltalin

د ویتامین(D_2) لپاره سوداګریز نوم.

Deltoid

د مټ / عضد (**Humerus**) د دلتوئید اړوند برخه .

- **Deltoid Muscle**

ډلتوئید عضله ، د مټ او اوږې د مثلث (**Big Triangular Muscle**) په څېر بڼه لرونکې عضله ده چې د اوږې بند برخه پوښوی او عضد باندې ارتکاز مومی چې متېه ځنګ لوري ته راکاږی .

- **Deltoid Tuberosity**

ډلتوئید توبروزیتي ، د عضد هډوکی هغه جوته برخه چې د (**Deltoid Muscle**) وربانديې ارتکاز کوی.

Deltoiditis

د دلتوئید د عضلې التهاب.

Deltra

د پریدینزولون لپاره سوداګریز نوم دی.

- **Delirium Alcoholicum**

د الکهولو سره په تړاو کې هذیان لرونکی وینا کول چې په مزمن الکهول څښونکو کې عقلی زوال لیدل کیږی .

- **Chronic Alcoholic Delirium**

د مزمن الکهولو خوړلو له کبله د اوږدې مودې وروسته د هزیانونو ویل ، د (**Korsakoff's Psychosis**) په انډول.

- **Termens Delirium**

دا هغه حالت د ی چې (هیجان، اضطراب پریشاني، ناراحتي، رپېدنه، ډېره غږېدنه، د فکر ګډوډي) پکښې لیدل کیږي دا حالت اکثراً په هغه ناروغانو کښې چې الکهول پرېږدي په ناڅاپه توګه پیدا کیږي.

Deliver

ازادول، زیږول، ګوزارور کول ، د پلاسنتا (پریوان) او ماشوم زېږونه، یا د عدسې راوېستل له سترګې څخه د ماشوم د زېږېدنې د پروسې سره مرسته کول.

Delivery

زېږونه، د زېږونې کړنه.

- **Abdominal Delivery**

د ګېډې د څیرېدنې له لارې زېږونه.

- **Delivery Bed**

د زېږونې ځانګړې بستر / کټ .

- **Breach Delivery**

د بریچ د (کوناتیپو) پرزنتیشن زېږونه.

- **Forceps Delivery**

د فورسپس کړنلارې پواسطه زېږونه.

- **Post-mortem Delivery**

د مور د مړینې وروسته د ماشوم زېږونه.

- **Delivery Room**

د زېږون اړوند ځانګړې خونه .

- **Spontaneous Delivery**

پخپله یا بنفسهې توګه زېږونه.

- **Vaginal Delivery**

په طبیعي توګه د مهبل له لارې زېږونه.

Delle

د وینې د سرې کریوې په مرکز کښې د روښانه برخې شتوالی چې رنګ شوې وي.

Dellen

د (**Saucer- shap**) د بشقاب یا قاب په څېر د مقعریت منځ ته راتګ د سترګو د قرنیې په محیط کښې معمولاً د صدغي لوري ته.

Delomorphous

د بڼه او واضح حدودو لرونکی لکه د حجراتو حوافې.

په موخه د ګلوکوما ناروغي په درملنه کښې ورځخه کار اخیستل کیږي.

Demented

لیونی ، بې عقله ، بې مغزه.

Dementia

لیو نتوب، د ماغزو د ناروغیو له کبله د عقل او حافظې د توان له منځه تلل چې په (Organic Disease of Brain او AIDS) ناروغیو کې منځ ته راځي.

- **AIDS Dementia**

د (AIDS HIV Infection) له کبله منځ ته راغلې ناروغتیا چې د (د حافظې او عقل کمښت ، چلند ، شخصیت Personality او پېژندګلوي Disorientation) اړوند تغیرات پېښوی.

- **Alzheimer's Dementia**

الزایمر تخریب/ ناروغتیا ، دولادی ډول د انزایمی کمښت او دماغی تخریب له کبله منځ ته راغلې ناروغتیا چې د (د حافظې او عقلی استحاله Mental Degeneration ، چلند ، شخصیت Personality او پېژندګلوي Disorientation) اړوند تغیرات پېښوی ، د ناروغي (Disease) لغت لاندې په (Alzheimer's Disease) کې یې وګورئ.

- **Binswanger's Dementia**

د ماغزو د سپین نسج (White Matter) د تحت القشري د (Demyelination) له کبله چې د اروائي رګونو د تصلب (سکلروز) سره مل وي.

- **Dialysis Dementia**

پرمختلونکې انسفالوپتي ده چې د (Dysarthria Grandmal ، Seizures ، Myocolonic Jerking ، Aphasia) پیسکوز حالت دئ چې د هیمو ډیالایز څخه وروسته منځ ته راځي.

- **Paralytic Dementia**

دا یوه مزمنه عقلی استحالوی (Mental Degeneration) ناروغي ده چې (Tertiary Stage of Syphilis) اړوند مینګوانسفالیت له کبله وي پدې حالت کښې ذهني او جسمي قدرت له لاسه ځي او د ناروغ فلج منځ ته راوړي ، د (Dementia Paralytica) په انډول.

- **Dementia Prea' Cox**

پریکاکس ډیمانس ، د وخت څخه دمخه د عقل له منځه تلل دي دا حالت د ځوانې په وخت منځ ته راځي او پرمختګ مومي په شیزو فرینیا (Schizophrenia) کښې ډېر پکار وړل کیږي.

- **Presenile Dementia**

د (Alzheimer's Disease) په انډول.

- **Senile Dementia**

د زړښت د وخت دیمنشیا.

- **Secondary Dementia**

ثانوی ډیمنشیا ، په ثانوي توګه د عقل له منځه تلل دا ډول د عقل زوال د بل ډول لېونتوب او جنون وروسته منځ ته راځي.

Delusion

هذیان وینا ، د باطل خیال لرونکي، پرته له بنسټه او غلطه خوښي، دا د شیزو فرینیا لپاره (پارافرینی، پارانویا، پسیکوز) حالت چې د زړښت په دوره کښې لیدل کیږي.

- **Depressive Delusion**

د انحطاط یا خپګان لپاره برسام درلودل.

- **Expansive Delusion**

د لوئي غوښتنې په څېر برسام درلودل.

- **Delusion of Grandeur**

کبریا ، ځان لوی ګڼل، په غلطه توګه داسې فکر کول چې د ډېر قدرت درلودونکی دی دا په (Tabes) د ماغزو ناروغي کښې وي.

- **Delusion of Negation**

نفی د نفی ځواب تخیل، ردتخیل ، انحطاطي باطل خیال درلودل ، د (Nihilistic Delusion یا Depressive Delusion) په انډول.

- **Nihilistic Delusion**

د (Depressive Delusion او Delusion Of Negation) په انډول.

- **Delusion of Persecutions**

د داسې یو باطل خیال درلودل چې نا روغ فکر کوي چې هغه ته د (زجر، آزار، تهمت او تورنه) پېښه واقع شوې او زیان من شویدی.

- **Systematized Delusion**

د ناروغ داسې بې ځایه فکر کول چې د هغه ټول دلایل د قانون او ښه بنسټ له مخې دي او په هغه باندې ټینګار کوي.

Delusional

برسامي، د باطل خیالونو پورې اړوند.

Delvinal

د وین باربیتال (Vinbarbital) لپاره سوداګریز نوم دی.

Demarcation

دبرید یا سر حد ټاکنه.

Deme

ډېر کوچنی ارګانیزم چې په طبیعي توګه خپل ځای نیسي.

Demean

ټیټول (پست کول)، ځوړول، کښته کول.

Demeanor

خوی، اخلاق، چلند.

Demeanour

خوی، اخلاق، سلوک ، چلند.

Demecariume

د ترای ایتایل امونیوم جوړښت یو کولین استراز نهې کوونکی دی فورمول یې ($C_{32}H_{52}N_4O_4$) د بروماید د مالګې په څېر پکار وړل کیږي او سترګې د ګاتې د فشار د ښکته کولو

مظاهره کول، تمثیلول.

Demonstration

مظاهره ، تظاهر ، څرګندول، ښکاره کول.

Demonstrative

ثابتوونکی، مدلل، تظاهری.

Demoralize

بې زړه کول، دلسرده کول، بې همته کول، وارورخطاکول، فاسدول ، ضعیف کول.

Demorphinization

په تدریج سره د مورفین څخه خلاصون، په تدریج سره د مورفین پرېښودنه.

Demote

تنزیل ورکول

Demucosation

پرته له مخاط څخه د کولوکړنه د مخاط جلا کول.

Demulcent

آرامه کونکی، هوسا کونکی، مرهم پېښوونکی درمل لکه هغه درمل چې د معدې تخریش کموی .

Demur

مذبذب کېدل (دمشکلاتو او دوه زړه والی په اثر)، معترض کېدل، تا مل کول.

Demyelinating

پرته له میالین څخه کېدنه ، د عصبی ځانګو په چاپیریال کې د میالینی پوښ له منځه تګ حالت پېښول.

Demyelination

د عصبي سیستم یا حجرو پرته له میالین پوښ کېدنه ،د عصبي حجرو د میالین پوښ له منځه تللو حالت منځ ته راتګ چې د (**Head Injury** یا د **Multiple Sclerosis** اساسی حالت) له کبله پېښېږی.

Denasality

د (**Hyponasality**) په اندول.

Denarcotize

د نارکوتیک موادو څخه جلا کول، پرته له نارکوتیک کول.

Denaturation

پرته له طبیعي حالت څخه بل حالت ته اوښتنه.

Denature

د طبیعت بدلول (دیو شی مخصوصا الکول چه ونه چښل شی).

Denatured

له طبیعي حالت څخه غیر طبیعي حالت ته اوښتنی ته ویل کیږي.

- **Terminal Dementia**

وروستنی (نهائي) دیمنشیا ، دا ډول د عقل زوال د عصبي ناروغیو په پایله کښې منځ ته راځي.

Dementing

د دماغی تخریب یا ډیمنشیا (**Dementia**) منځ ته راتګ .

Demerol

د میپریدین (**Meperidin**) لپاره سوداګریز نوم دی.

- **Demethyl Chlortetracyclin**

دا د تتراسیکلین له کورنۍ انتي بیوتیک دي.

Demi-

دا یو مختاړي دئ چې د (نیمائی ، نیم ، نیمګړی، **Half**) معنی بشپړوی .

Demilune

د بدن یا حجرې د سپوږمۍ (هلالي) بڼه نیول.

- **Heidenhain's Demilune**

د (**Giannuzzi's Crescents**) په اندول.

Demenralization

د معدني موادو لرېدنه، پرته له معدني منرالونو کول.

Demodex

دا د غنو له کورنۍ څخه پرازیت دی چې د وېښتانو په بېخ کښې اوسیږي او د وېښتانو فولیکولونو ته ننوزي په اهلي او غیر اهلي څارویو کښې موندل کیږي.

- **Demodex Canis**

دا ډول پرازیت په سپیانو کښې اوسیږي.

- **Demodex Equi**

دا ډول پرازیت د آس په پوستکي کښې اوسیږي.

- **Demodex Folliculorum**

دا ډول پرازیت د وېښتانو د فولیکول اړوند دی او د سباسه غدواتو د ترشح برخو په ځانګړي ډول د مخ او پوزې په برخه کښې اوسیږي.

Demogram

هغه ګراف چې د یوې ټولنې احصایه په ببلابېلو عمرونو کښې څرګند وي.

Demographic

د (**Demography**) اړوند صفت.

- **Demographic Forecast**

د هغه کسانو د شمېر وړاندوینه چې د ببلابېلو عمرونو او جنسونو په راتلونکې کې کوی .

Demography

ډموګرافی ، د چاپیریال د ټولنې د انسانانو نفوس څېړنه چې پکې د (سلامتي، روغتیا، ناروغي، زېږون، مړینې) د اغېزو اړوند ترسره کوي.

Demonstrate

څرګندول، ښکاره کول، ثابتول، په عملی توګه شریح کول،

Dengue

ډینګو ،د تودې سیمې انتاني یا مکروبي (Arbovirus) تبه لرونکې ناروغي ده چې د یو ډول میاشي (Aedes Aegypti Mosquitoes) پواسطه انتقال مومي دا ویروسي ناروغي د (3-6) ورځو وروسته پیدا کیږي لکه د (لوړه تبه High Fever ،سر درد Headache، د سترګو درد، د عضلاتو، مفاصلو Joints Pains درد ، ستوني درد، نزله ، پوستکي تفلس) منځ ته راوړي .

- **Dengue Fever**

هډوکی ماتوونکي تبه ، د (Breakbone Fever) په انډول.

Denial

انکار، دغوښتنې ردونه، دیوې ار عار دونه ، په خیلو غوښتنو بندیز لګونه ، دا دفاعي میکانیزم دی چې د (نه تحمل ، نه زغم ، نه منلو) د عمل په وړاندې مقاومت شته والی لري ، هغه څوک چې دا رد کوی چې شدیده طبی ناروغتیا او ستونزه لری.

Denidation

د رحم څخه په ټاکلې توګه د تحیض په وخت د اپتیلیال نسج راوتل.

Denis Browne Splint

دا یو فلزی اتل تثبیتیه وسیله ده چې معمولاً د (Club Foot) اصلاح لپاره پکارېږی لومړی ځل د (1934) کال کې د استرالیائي اورتوپیدی او عمومی جراحی ډاکټر (Sir Denis John Wolko Browne) پواسطه معرفی شو.

Dens

غاښ یا غاښ ته ورته جوړښت ، د (Tooth) په انډول.

- **Dense Aninus**

د کانین (انیاب) غاښ.

- **Dense Incisor**

د مخامخ (ثنایا) غاښ.

- **Dense In Dent**

یو بد شکله غاښ چې د تاج د تغلف (Invagination) له کبله مخکښې لدې چې کلسیفیکیشن شي منځ ته راځي او داسې منظره ورکوي چې فکر کیږي یو غاښ د بل غاښ په منځ کښې راختلی دی او وده یې موندلې ده.

- **Dense Molaris**

د مولار یا ژرندې غاښ.

- **Dense Premolaris**

د ژرندې غاښ څخه دمخه غاښ.

- **Dens Sopientiae**

د عقل غاښ د ژرندې دریم غاښ چې په (17-22) کلنی کښې وده کوي او ښکاره کیږي، عقلي غاښ.

- **Denatured Alcohol**

غېر طبیعی حالت (Ethyl Alcohol) الکهول لکه د (Methylated Spirit، Rubbing Alcohol یا Surgical Spirit) په څېر معمولاً (Methyl Alcohol) چې ناوړه څښاک (Unpleasant Drink) بلل شی .

Dendr-

دا یو مختاړی دی چې ونې په څېر بنې (تشعب ، څانګې څانګې) معنی بشپړ وي.

Dendraxon

د اکسون د برخې څانګې په یوه عصبي حجره کښې.

Dendriform

څانګې لرونکې ته ورته، د ونې په څېر ورته بڼه.

Dendrite

ډنډرایټ ، په عصبي حجره (Nerve Cell) کښې دا د پروتوپلازم څخه اوږدې څانګې دي چې عصبي پاربدنې او تحریکونه او سیالي (Impulses) د حجرې جسم یا تنې ته لېږدوي او د ساینپس (Synapses) برخه کې د نورو حجرو سره پایله مومی .

Dendritic

څانګې لرونکی، لکه د ونې په څېر.

- **Dendritic Ulcer**

د سترګو د قرنیې (Cornea) څانګیزه بڼه قرحې (Branching Ulcer) چې د (Herpesvirus) پواسطه منځ ته راځي.

Dendrodendretic

ډنډرو ډنډریتیک ، د دوه عصبي حجرو د (Synaps) اړیکیزې برخې پورې اړوند.

Dendro-

دا یو مختاړی دی چې ونې په څېر بنې (تشعب ، څانګې څانګې) معنی بشپړ وي.

Dendroid

ښاخیز ، ښاخ ښاخ ، څانګه څانګه ، د ونې په څېر څانګې لرونکې.

Dendron

د (Dendrite) په انډول.

Dendrophagocytosis

د مایکروګلیا (Microglia) پواسطه د استحاله شویو استروسیتونو جذب او فاګوسایتوز کړنې ته ویل کیږي.

Denervation

بې تعیبه کول ، پرته له عصب څخه کول، د یوه غړي څخه د عصبي ریښې/ څانګې غوڅول.

Dense
متراکم ، غلیظ شوې، متکاثف، ګڼ، خنډ ، ټینګ، مزدحم، احمق.

Densimeter
هغه دستګاه چې مخصوصه وزن پرې ټاکل کیږي.

Densitometer
هغه دستګاه چې د مایعاتو مخصوصه وزن پرې ټاکل کیږي.

Densitometry
د مخصوصه وزنونو تر منځ د توپیر ټاکنه د ستاندرد مخصوص وزن له مخې کړنلاره بلل کیږي.

Density
د یوې مادې راټولېدنه (تراکم)، د یوې مادې د کلکوالي درجه. تکاثف

Densography
د فوتو الکتریک حجرو پواسطه د رادیولوژي په فلم د روښانه برخې د اندازې او د کثافت (سیوري) د ټاکلو کړنلاره.

Dent-
دا یو مختاړی دی د (غاښ ، غاښ جوړول **Tooth** یا **Teeth** او- **Dento**) په معنی بشپړوی .

Dentagra
د غاښ درد ، د غاښ وېستلو وسیله.

Dental
غاښی، د غاښ، دغاښو، غاښیز، په غاښو جوړولو پورې اړوند.

- **Dental Care**
د غاښونو کتنه او درملنه.

- **Dental Caries**
د غاښونو د جذر(**Tooth Rotting**) برخې فاسد کېدنه او چینجی وهنه، د (**Decay Dental**) په انډول.

- **Dental Cyst**
د غاښونو سیسټ ، د غاښونو د ریښې برخې سیسټ ، د غاښونو د جذر برخې تر څنګ د سیسټ (**Cyst**) جوړېدنه .

- **Dental Decay**
د (**Dental Caries**) په انډول.

- **Dental Floss**
د غاښونوفلاس ، هغه پسته رشتوی (**Soft Thread**) تار چې د غاښونو ترمنځ راکښله شی تر څو غاښونه پاک کړل شی.

- **Dental Hygiene**
د غاښونه پاکوالي ساتنې مېتود او کړنه ، غاښ روغتیا ساتنه .

- **Dental Impaction**
د غاښ کرنه ،هغه حالت چې پکې غاښ د نورو غاښونو په وړاندې نېږدی تر فشار لاندې راغلې وی او غاښ ونشی کړای چې نورماله وده وکاندې.

- **Dental Plaque**
د غاښونو پلک ، هغه کلکه ښویه باکټریائی راټولېدنه چې احتمالاً د (**Caries**) لامل ګرځی .

- **Dental Plate**
د غاښ پلېټ ، غاښیز سقف ، هغه برخه چې د خولې په بڼه جوړېدنه کې رول لری او مصنوعی غاښونه تثبیت ساتی .

- **Dental Prosthesis**
د غاښونو پروستېز ، یو یا ګڼ شمېر کاذب او غېر حقیقی (**False Teeth**) غاښونه.

- **Dental Pulp**
د غاښونو دننه رخوه (پاسته) نسجونه.

- **Dental Surgeon**
د غاښونو مسلکی جراح ډاکتر چې د غاښونو اړوند جراحی مهارت تر سره کولو تجربه ولری .

- **Dental Surgery**
د غاښونو جراحی څانګه.

Dentalgia
د غاښ درد.

Dentate
غاښی لرونکی، غاښ ته ورته جوړښت لرونکی.

Dentes
غاښونه، غاښونو ورته جوړښتونه.

Dentia
د غاښ راوېستل، د غاښ کاږل، د غاښو وده او راوتل په ژامنه کښې.

- **Dentia Prea Cox**
مخکښې له وخته غاښونو راوتل په مقدم ډول سره.

- **Dentia Tarda**
په مؤخره توګه د غاښ راوتل.

Dentibuccal
په غاښونو او غومبري (غمبوري) پورې اړوند.

Denticle
غاښی، غاښ ته ورته کوچنی جوړښت.

Dentification
د غاښونو د عاج یا د غاښ د مادې جوړېدنه.

Dentifrice
د غاښونو د پاکولو او پالش کولو لپاره ماده ده.

Dentigerous
د غاښ لرونکی، د غاښو مولد.

Dentilabial

په غاښ او شونډو پوري اړوند.

Dentilingual

په غاښ او ژبې پوري اړوند.

Dentimeter

د غاښونو د اندازه کولو وسیله.

Dentin

د غاښ عاج، د غاښ د جوړښت اصل ماده.

- **Adherent Dentin**

د غاښ نښتونکي ماده ، د (**Attoched Dentin**) په انډول.

- **Advantitious Dentin**

د (**Secondary Dentin**) په انډول.

- **Circumpulpar Dentin**

د غاښ د پولپ د برخې چاپېریال عاج.

- **Cover Dentin**

د غاښ د پوښ کونکې برخې عاج.

- **Irrigular Dentin**

د (**Secondary Dentin**) په انډول.

- **Mantle Dentin**

د (**Cover Dentin**) په انډول.

- **Opalescent Dentin**

د رنګین کمان (ږوی، تال) عاج، هغه عاج چې ظاهر یې غیر معمول یا نیمائي روښانه او رنګه روښنائي ته ورته والی لري.

- **Primary Dentin**

لومړنی عاج، د غاښ د جوړېدنې څخه دمخه عاج.

- **Secondary Dentin**

ثانوي عاج، چې د عمر د زیاتوالي سره د غاښ د ضایعاتو سره سم منځ ته راځي او غاښ ته جوړښت ورکوي.

- **Sclerotic Dentin**

تصلبي عاج ، شفاف عاج د (**Transparent Dentin**) په انډول.

Dentinal

د غاښ د عاج یا اصلي مادې پوري اړوند .

Dentinalgia

د غاښ د عاج درد.

Dentinification

د غاښ د عاج جوړېدنه.

Dentinoblast

هغه حجره چې د غاښ عاج جوړوي.

Dentinoblastoma

هغه تومور چې د دنتینوبلاسټ له اصله وي.

Dentinogenesis

د غاښ د عاج منځ ته راتلل.

- **Dentinogenesis Imperfecta**

په نیمګړي ډول د غاښ عاج جوړېدنه.

Dentinogenic

د غاښ د عاج جوړونکی (مؤلد).

Dentinoid

د غاښ عاج ته ورته جوړښت، هغه ماده چې د غاښ عاج جوړوي.

Dentinoma

دا هغه تومور دی چې کپسول لري او په ژامنه کښې منځ ته راځي.

Dentinum

د (**Dentin**) په انډول.

Dentist

د غاښو د ځانګې ډاکټر او یا طبیب، غاښ جوړونکې

- **Surgeon Dentist**

غاښو د جراحي ځانګې ډاکټر.

Dentistry

د غاښو اړوند پوهه او علم، هغه څه چې د غاښو د جوړښت پوري اړوند دي.

- **Cosmetic Dentistry**

ښکلا بښونکی. د (**Esthetic Dentistry**) په انډول.

- **Geriatric Dentistry**

د غاښونو علم، دا هغ برخه د غاښونو ده چې د فاسد شویو غاښونو په جوړولو او ساتنې اړوند ده، د (**Gerodontics Dentistry**) په انډول.

- **Operative Dentistry**

د غاښونو د جراحي کړنو ځانګه.

- **Pediatric Dentistry**

د ماشومانو د غاښونو درملنې ځانګه، د (**Pedodontics**) په انډول.

- **Preventive Dentistry**

د غاښونو د ساتنې او وقایه اړوند ځانګه.

- **Prosthetic Dentistry**

د غاښونو د پروتیز او جوړولو ځانګه.

- **Restorative Dentistry**

د غاښونو د ذخیره او زېرمه کولو ځانګه.

- **Medical Treatment Dentistry**

د غاښو د طبي درملنې ځانګه.

Dentition

د غاښونو راوتل له وریو څخه، د غاښونو وده کول.

- **Deciduous Dentition**

د هغه غاښونو راوتل چې په راتلونکي کښې غورځیږي او د هغه پر

جوړ شوي (مصنوعي) غاښونو ژامنه.

- **Clasp Denture**

هغه مصنوعي غاښونه چې د قالب سره متصل کیږي.

- **Complete Denture**

د غاښونو بشپړه مصنوعي ژامنه.

- **Continuous Gum Denture**

هغه مصنوعي د غاښونو ژامنه چې د پلاټین په نامه ماده پکښې پکار ېدلې وي، د (**Complete Denture** ، **Full Denture**) په انډول.

- **Full Denture**

د (**Complete Denture**) په انډول.

- **Immediat Denture**

سمدلاسه د غاښونو د وېستلو وروسته دا ډله غاښونه د طبیعي غاښونو په ځای کښې تثبیت کیږي.

- **Implant Denture**

په ژامنه کښې د کرلو غاښ په مصنوعي توګه جوړوي.

- **Intrime Denture**

هغه راز مصنوعي غاښ چې د مؤقت یا لنډې مودې لپاره په ژامنه کښې اېښودل کیږي او دا د ژوولو کړنې سره مرسته کوي.

- **Over Lay Denture**

هغه مصنوعي غاښونه چې د ژامنې د غاښ او وریو پواسطه حمایه کیږي.

- **Partial Denture**

قسمي ډول مصنوعي غاښونه، بېرته راوتونکي غاښونه.

- **Provisional Denture**

د یوې برخې مصنوعي غاښونه چې د وتلو غاښونو پر ځای کېښودل کیږي.

- **Transitional Denture**

د (**Partial Denture**) په انډول.

- **Trical Denture**

هغه د غاښونو سیت چې د تحقیق او څېړنې لپاره او د اندازه اخیستنې او نورو کړنو لپاره د مخه تر دې چې نهائي غاښ جوړ شي پکار وړل کیږي.

Denucleated

له هستی څخه محروم، پرته له هستی څخه.

Denudation

د بدن د هر یوې برخې برېنډ کول.

Denutration

د تغذي یا خوراک اختلال (نشتوالی یا فقدان) .

Deobstruent

د انسداد لېرې کول، هغه درمل چې بندښت له منځه یوسي.

Deodorant

د بد بوی له منځه وړل، د بوی ضد عامل، د بوی

ځای نوي غاښونه وده کوي.

- **Delayed Dentition**

مؤخر راوتل د غاښونو ، د (**Retarded Dentition**) په انډول.

- **Mixed Dentition**

د غاښونو مخلوط راوتل د دایمي غاښونو راوتل دمخه تر دې چې د شیدو یا لومړني غاښونه وغورځیږي .

- **Permanent Dentition**

د دایمي غاښونو راوتل.

- **Post Permanent Dentition**

بعضاً له دایمي غاښونو غورځېدنې وروسته غاښ راوځي.

- **Precocious Dentition**

د وخت څخه دمخه د شیدو غاښونو وده کول.

- **Predeciduous Dentition**

د اپیتلیال نسج هغه جوړښتونه چې په وریو کښې د غاښونو د ودې څخه دمخه د غاښونو په څېر راوځي.

- **Primary Dentition**

د (**Prediciduous Dentition**) په انډول.

- **Retarded Dentition**

د شیدې د غاښونو ځنډنی یا مؤخر وده کول.

- **Secondary Dentition**

دایمي غاښ راوتل. د (**Permannt Dentition**) په انډول.

- **Transitional Dentition**

د (**Mixed Dentition**) په انډول.

Dento -

دا یو مختاړی دی د غاښ (**Tooth**یا **Teeth**او **Dent**) په معنی بشپړوی.

Dentoalveolar

د غاښونو د الویول پورې اړوند.

Dentoalveolitis

د غاښونو د الویولونو التهاب.

Dentofacial

د غاښونو د الویول او مخ پورې اړوند.

Dentoid

غاښ ته ورته جوړښت.

Dentotropic

د غاښونو د نسج سره لېوالتیا لرونکی، غاښ خوښونکی.

Dentulous

د طبیعي غاښونو درلودل.

Denture

د مصنوعي غاښونو (**False Teeth**) بشپړه ژامنه چې په خوله ځای په ځای کېږی.

- **Artificial Denture**

هغه انزایم چې د دې اوکسي رابیو نوکلیک اسیډ د کتلایز په وخت هایډرولایترس (Depolymerization) تر سره کوي.

Deoxyribonuclic Acid

دا هغه نوکلیوټاید دی چې د اډینین له هایډرولایز څخه لاس ته راځي همدارنګه د (ګوانین، سایتوزین، تالمین دی اوکسي رایبوز، فوسفوریک اسید) څخه هم د هایډرولایزس په وخت لاس ته راځي همدارنګه په جنیتیک کښې د ارګانیزم په جوړېدنه کښې جنونو ته لېږدنه ورکوي لنډه ننښه یې (DNA) ده.

Deoxyribonuleoprotien

دا یو ډول هسته یي پروتین دي چې قند یې د (2- D- deoxyribose) له ډوله دی.

Deoxyribonucleotid

هغه نوکلیوتاید چې پیورین یا پریمیدین کړی اړیکه د (Deoxyribose) سره لري.

Deoxyribose

دا یو ډول الډوپنتور(Aldopentose) دي چې فورمول یې [$CH_2OH\ (OHCHOH)_2CH_2.\ COH$] دئ دا ماده په دې اوکسي رابیونوکلیوپروتینو، دی اوکسي رابیونوکلیوساید، دي اوکسي رایبونوکلیوټاید کښې موندل کیږي.

Department

څانګه، دایره، شعبه.

- **Anaesthesia Department**
د بېهوښۍ او بېحسۍ اړوند څانګه.
- **Child Health Department**
د ماشوم روغتیا چارو څانګه.
- **Curative Department**
د معالجې چارو څانګه.
- **Ear ,Nose & Throat Department**
د (غوږ ، پوزې او ستونې) څانګه.
- **Eye & Optic Department**
د سترګو او بصری (نوری) چارو څانګه.
- **Department of Health**
د روغتیا چارو څانګه.
- **Department of Internal Medicine**
د داخله ناروغیو چارو څانګه.
- **Dermatology Department**
د پوستکی (جلدی) څانګه.
- **Diagnostic Department**
د ناروغیو پېژندنې چارو څانګه.
- **Laboratory Department**
د لابراتواری چارو څانګه.

(Unpleasant Smells) خنثی کوونکې ماده.

Deodorize

د بوې مادې څخه د بوی لیرې کول.

Deodorizer

د بوی له منځه وړونکې ماده.

Deontology

د طب او ډاکټري اخلاقي دندې اړوند علم او پوهه.

Deorsum

ښکته لوري ته، ظهري لوري ته، خلف لوري ته.

Deorsumduction

د (Deorsum Version) په انډول.

Deorsumvergence

د (Deorsum Version) په انډول.

Deorsum Version

ښکته لوري ته څرخول په ځانګړې ډول د سترګو څرخول.

Deossification

له هډوکو څخه د معدني مالګو حذف کول او راوېستل.

Deoxidation

د (Deoxygenation) په انډول.

Deoxy

دا یو کېمیاوي مختاړی دی چې د یو اوکسي جن لرې والي په جوړښت کښې څرګندوي.

Deoxycholic Acid

دا د تریخي صفراوي اسیډونو له جملې یو دی.

Deoxycorticosterone

د کورتیکوستیرون هورمون څخه دی.

Deoxygenate

د اوکسیجن حذف کېدل، د اوکسیجن روا ېستلو کړنه.

Deoxygenated

پرته له اوکسیجن څخه شوې.

- **Deoxygenated Blood**
پرته له اوکسیجن څخه وینه چې د شریانې وینې په پرتله تیاره رنګ لري لکه د وریدی وینې (Venous Blood) په څېر

Deoxygenation

د اوکسیجن حذف کول، د اوکسیجن روا ېستنه

Deoxyhemoglobin

هغه هیموګلوبین چې اوکسیجن له ځانه سره نلري.

Deoxyribonuclease

- **Obstetric & Gynecology Department**
د زېږون او ښځینه ناروغیو اړوند ځانګه .
- **Orthopedic Department**
د هډوکو درملنې ځانګه .
- **Ophthalmology Department**
د سترګو ناروغیو چارو ځېړندویه ځانګه .
- **Outpatients Department**
د سراپا ناروغانو روغتیا چارو ځانګه .
- **Neonatology Department**
د نوې زېږېدلو ماشومانو ناروغانو درملنې ځانګه .
- **Neurology Department**
د عصبی ناروغانو درملنې ځانګه .
- **Nursery Department**
د نوې زېږېدلو ماشومانو ناروغانو درملنې ځانګه .
- **Pathology Department**
د پتالوژی کتنو سر ته رسولو علمی طبی ځانګه .
- **Pediatrics Department**
د ماشومانو داخلې ناروغانو درملنې ځانګه .
- **Polyclinic Department**
د پولی کلینیک ناروغانو درملنې ځانګه .
- **Preventive Department**
د مخنیوی کېدونکی ناروغانو درملنې ځانګه .
- **Radiology Department**
د راډیولوژیکو کتنو اړوند ځانګه .
- **Surgery Department**
د جراحی ناروغانو درملنې ځانګه .

Depend
متکی کېدل، مربوطېدل ، هیله درلودل، باور درلودل.

Dependant
متکی، هیله ناک، باوری، تکیه، هیله، باور، هغه څوک چه هرڅه یې په بل پورې اړه لری .
- **Several Dependants**
ګڼ شمېر اتکاوی ، ببلابېل باورونه.

Dependence
اتکأ، ادړیکه، تابعیت، هیله، باور ،اعتیاد ، د درملو سره د عادت درلودنې په هکله پکار وړل کیږي.

Dependency
معتاد، په اعتیاد اړوند ، اړیکه ، په روانې ناروغیو کښې پکار وړل کیږي.

Dependent
هیله ناک، متکی، اړوندوالې ، خپلوان ، لکه د درملو اړوند ناروغي.
- **Dependent Relative**
مرتبط خپلوان ، اړیکیز خپلوان ، د (**Member Of Family**) په انډول .

Depersonalisation
د (**Depersonalization**) په انډول.

Depersonalization
پرته له شخصیت کېدنه، هغه روانی حالت (**Psychiatric State**) چې د حقیقت پر خلاف وی چې په شیزوفریني ناروغي کښې لیدل کیږي.

Dephosphorylation
د فوسفورس املاحو راوېستنه یا حذف کول.

Depict
انځورول، رسمول، د عکس اخیستل، تشریح کول

Depilate
و وېښتانو لیرې کول.

Depilation
د وېښتانو له منځ وړل، د وېښتانو توئیدنه د وېښتانو وتل.

Depilatory
د وېښتانو راوېستلو قدرت درلودل، هغه ماده چې خراب وېښتان راکاږي.

Deplasmolysis
د پلازمولایز شوې حجرې ته د پروتوپلازم بیا راتګ.

Depletion
کمېدنې عملیه او پروسه تر سره کول . کمښت راوستل .

Deplorable
ستړی کول، خالی کول، د (قوت یا منابع) د لاسه ځنی ایستل ، دخواشینی وړ، د غم وړ .

Deplore
په غم اخته کول، خواشینی کول، زړه سوی ښکاره کول، ویر کول.

Depolarable
د قطبیت له منځه وړلو وړتیا لرونکې .

Depolarization
د قطبي کېدنې له منځه وړل، خنثی کول، پرته له قطبونو کول.

Depolimerization
د یوه جوړښت په لږ مالیکولي وزن بدلول پرته لدې چې د عناصرو فیصدي بدلون وکړي.

Depolimerize
دې پولي مرایز شوی.

Deploy
اوږدول، خپرول، له قطارونه په صف کې درول.

Depo-Provera
د (Progesterone) مستحضر لپاره سوداګریز نوم دئ چې هره دري میاشتې زرق کېدل د [زېږون کنټرول (Birth Control) او (Endometriosis) درملنې] لپاره کارول شی.

Deport
شړل، تبعیدول، له یوځای څخه بل ځای ته لیږدول، سلوک کول.

Deportment
چلند ، چلاو ، سلوک، وضع

Deposit
زېرمه کول، رسوب کول، په غیر عادي توګه په انساجو کښې د عضوي موادو راټولېدنه ،کافی ذخیره او امانت اینبودل ، پا سره اینبوول، ذخیره کول.

- **Drugs Deposit**
د درملو / دارو ذخیره .

- **Fat Deposit**
شحمی ذخیره ، غوړینه ذخیره.

- **Hard Deposit**
کلکه ذخیره .

Deposition
معزولتیا ، خلع توب لکه د (بوه خواک) ، له ځایه ښکاېه کول.

Depository
مخزن، دپاسرې یا ذخیره کولو ځای لکه (تجری یا بانک).

Depol
د بدن هغه برخه چې هلته د درملو یا موادو راټولېدنه منځ ته راځي او یا هم له هغه ځایه وېشنه تر سره کیږي.

Depot
ډیپو، تحویلخانه (لښ).

- **Depot- Testosterone**
د تستوستیرون لپاره تجارتي نوم دی.

Deprave
ویجاړول، خرا بول.

Depreciation
تنزیل، کمښت ، کمول .

Depress
تیټول، لږول، کښیکښل، غور ځول، زړه ور تنګول، خوابدی کول، سپکول، تا بع کول .

Depressant
لږ کوونکی، انحطاطي، پخ کوونکی.

- **Anti Depressant**
د انحطاط ضد .

- **Anti Depressant Drugs**
هغه درمل چې خپګان له منځه وړی لکه د (Tranquilliser) په څېر .

- **Cardiac Depressant**
هغه درمل یا عامل چې د زړه فعالیت لږ کړي.

Depressed
خپه، خپګان لرونکی، زړه تنګی سړی، ستړی، انحطاطي.

- **Clinically Depressed**
کلینیکی انحطاط ، د روانی حالت (Mental Condition) چې د کلینیک له مخې خپګان لرونکې پېښه وی .

- **Depressed Fracture**
انحطاطی کسر ، د اپلنو (هموار، اواره، هډوکو (Flat Bone)) ننوتې کسر

- **Depressed Person**
هغه کس چې د روانی کلینیکی له مخې خپګان لرونکې حالتته ور ته پېښ وی .

Depression
یتیول، لږول، کښیکښل، تنزل، ځپنه، زمولونه، مړاویتوب، انحطاط، ډوب او غم لړلی، خپګان، هغه څوک چې ډېرو غمونو له کبله ناروغه وي او حیاتي او عملي فعالیتونه یې لږوي، روحي ناروغي ده، د بدنی جوړښت دننه ننوتې (ژوره) ډ برخه.

- **Agitated Depression**
اضطرابي خپګان او انحطاط.

- **Anaclitic Depression**
ژور خپګان ، ترلی خپګان، د جسمي حالاتو دوري نقص او خرابي، همدارنګه د ټولنیزې، ذهني ودې خرابي کله ناکله په ماشومانو کښې د مور څخه د ناڅاپه جلا کېدنې له کبله هم منځ ته راځي.

- **Congenital Chondrosternal Depression**
په ولادي توګه د ماشوم د صدر په برخه کښې د سترنوم په برخه کښې د قیف په څېر ننوتې برخه.

- **Endogenous Depression**
داخلي انحطاط چې د غبرګون پورې اړه نلري.

- **Involutional Depression**
دا هغه راز انحطاطی ناروغي ده چې په ښځو کښې د زېږښت (مینوپاوز) وروسته او په نارینه کښې د جنسي قواو یا شغلي فعالیت ماتېدنې وروسته منځ ته راځي.

- **Major Depression**
لوی انحطاط چې د مانیا او هایپومانیا وروسته منځ ته راځي.

- **Pacchionian Depression**
په کوپړی کښې ننوتلې برخه چې په ځان کښې پچوني اجسامو ته ځای ورکوي "پچوني اجسام هغه اضافي ځانګې دي چې ارکنوئید غشا

او یوه کوپړی په ګډه بڼه لري.

Deradenitis

د غاړې د لمفاوي عقداتو التهاب.

Deradenoncus

د غاړې د یوې لمفاوي غدی (عقدي) التهاب او پرسوب.

Derange

ګډوډ کول، لیونی کول.

Derangment

اختلال ، لېونتوب، روحي تشوشونه، د یوه غړی په یوه برخه کښې ګډوډ ته هم ویل کیږي ، د (**Mental Disorder**) په انډول.

Dereism

د خیال جوړول، خیالونه او سوچونه وهل، روحي ناروغي ده.

Dereistic

د خیال جوړولو پورې اړوند.

Derencephalus

دا یوه نیمګړې ولادي پېښه ده چې د جنین ماغزه او کوپړی وده نکوي او د ماغزو برخه د غاړې په نخاع کښې موندل کیږي د ماشوم نور بدن وده موند لې وي.

Derepression

په جنیتیک کښې د یوه انزایم زیاتوالی له خپل طبیعي حد څخه دا د غلظت د لړوالي د عامل د لړېدنې له کبله یا د موټیشن له کبله منځ ته راتلای شي، د پوستکي ناروغي ده.

- **Exfoliative Derepression**

د پوستکي تفلسي التهاب، دا د پوستکي هغه راز ناروغي ده چې پکې [په شدیده توګه د پوستکي توئیدنه، خارښت، سوروالی او وېښتانو توئیدنې] سره مل وي.

- **Herpitiformis Derepression**

د پوستکي د تبې تناکې (تبخال) په څېر التهاب، پدغه ډول ناروغي کښې د [پوستکي التهاب یا پولی سوروالی، وزیکولونه، پوستولونه د پوستکي سوځېدنه او خارښت] شتون والی لري.

- **Medicamentosa Derepression**

د درملو د غبرګون له کبله د پوستکي التهاب، دا د یو لړ درملو د استعمالولو له کبله (خوراکي، زرقي، انشاقي) وي منځ ته راځي.

- **Schistosome Derepression**

د شیستوزومیازس ناروغي له کبله د پوستکي التهاب چې د خارښت سره مل وي او د شیستوزوما د لاروا د ننوتل له کبله پوستکي ته منځ ته راځي.

- **Seborrheic Derepression**

دا د پوستکي سیبوریک التهاب دی چې پکښې پوستکي څخه غوړ ژېړ لېواله تفلس منځ ته راځي او معمولاً د خارښت سره مل وي.

پورې اړوند دی چې سوریو له لارې تحت عنکبوتیه ته دماغي نخاعي مایع تېروي.

- **Reactive Depression**

غبرګونی انحطاط، چې د چاپېریال د پېښو په وړاندې د غبرګون له کبله منځ ته راځي.

- **Situational Depression**

موقعیتي انحطاط، شرطي انحطاط ، غبرګونی انحطاط ، د (**Reactive Depression**) په انډول.

Depressive

انحطاطی ، ژور ، عمیق ، د ژورتیا / خپګان منځ ته راوړونکې ، هغه څوک چې خپګان تېروی.

- **Depressive State**

د خپګان حالت ، ژور او انحطاطی حالت.

Depressomotor

د حرکتي فعالیت لړېدنه.

Depressor

ښکته لوري ته وړونکی، ښکته لېږدونکی، ننوتونکی.

- **Tongue Depressor**

د ژبې ښکته کوونکې آله.

Deprivation

محرومیت، بې برخې والی، تاوان، زیان، خواری ګالنه ، د یوې برخې قوت یا ضروري شیانو له لاسه ورکول او نشتوالی.

- **Emotional Deprivation**

هیجاني ډول دی چې د ژوند په لومړیو کښې لیدل کیږي.

- **Sensory Deprivation**

حسي ډول د قوت له لاسه ورکول دي چې د بهرنیو تنبهاتو په وړاندې غبرګون نشتوالی لري او وخت ته اړتیا لري.

Deprive

محرومول، بې برخې کول.

Depth

ژوروالی، عمق ، کنده ، ګړنګ، عمق،دشی منځ، شدت، په مو سیقی کې د غږ بموالی.

- **Focal Depth**

دا د عدسي (**Lenz**) ژوره اندازه کول دي چې وکړای شي یو شي د ببلابېلو مسافو(واټونو) څخه د لیدلو وړ وګرځوي، د مکان فاصله، د (**Depth of Focus**) په انډول.

- **Depth of Focus**

د (**Focal Depth**) په انډول.

Deradelphus

دا ولادي نیمګړتیا ده چې دوه ګونی جنین چې یوازې یوه غاړه

Derivative
یو کېمیاوي جوړښت چې له بل ډول جوړښت څخه مشتق کیږي یا لاس ته راوړل کیږي.

Derma
پوستکی ، د (Corium) په انډول.

Dermabrasion
د پوستکي لپاسه د جراحي پلانونو او کړنلارو او شقونو ساده ډولونو لپاره پکار وړل کیږي په پلاستکي جراحي کښې ډېر پکاریږي.

Dermatocentor
د حشراتو او پرازیتونو یو ډول دی ناروغي یو بل ته لېږدوي.

- **Albipictus Dermatocenter**

دا په پیشوګانو، آسونو، او نورو څاروبو کښې وي.

- **Andersoni Dermatocenter**

دا په تي لرونکي حیواناتو کښې د یو ناروغي ډول [Rocky Mountain Fever، تېې، Colorado Thick Fever، اووبا (Tularemia،] پرازیتي ناروغیو لپاره مسؤل ګڼل کیږي.

- **Variabilis Dermatocenter**

د (Rocky Mountain Fever) اصلي عامل دی دا پرازیت په مړو، پسونو، آسونو کښې موندل کیږي.

Dermanyssus
دا د سپږو او ورګو (Mites) د پرازیت یو ډول دی دا حشره لاندې ډولونه لري.

- **Gallinae Dermanyssus**

د الوتونکو (چرګانو، چرچنو) کښې لیدل کیږي دا پرازیتونه کله نا کله انسانان هم چیچي او پرازیتي ناروغي لېږدوي.

Dermat -
دا یو مختاړی دی د(پوستکي/جلد) معنی ورکوي .

Dermatitis
د پوستکي هر ډول ناروغي ته ویل کیږي.

- **Acnitic Dermatitis**

د اکنې په څېر د پوستکي التهاب دا ډول التهاب د پوستکي په برخه کښې کله چې وړانګو لمر، الترا ویولت (UV)، مجهوله (×)، ګاما(ϑ)]سره مخامخ شي منځ ته راځي.

- **Acute Dermatitis**

حاد ډول د پوستکی التهاب .

- **Acute Moist Dermatitis**

حاد مرطوب ډرماتیټ ، دا د سطحی باکټریائي جلدی انتاناتو پواسطه مهمولاً د خپلځانی ترضیضاتو (Self-trauma) لکه د (Scratching، Rubbing ، Biting په سپیانو کې Ectoparasites، Otitis او Sacculitis او Pruritic Skin Diseases) په ذریعه په لمده بله برخو کې د (Staphylococcus spp) پواسطه د (Dried Exudate) په څېر منځ ته راځی معمولاً د (Pyotraumatic Dermatitis، Hot Spots) پنامه هم یاد ېږی .

- **Dermatitis Aestivalis**

هغه ډول اکزیما (Eczema) چې په دوبی کې ښه والې مومی.

- **Allergic Dermatitis**

الرژیکه بنه درماتیټ . د [(Allergic Contact Dermatitis) او (Atopic Dermatitis)] په انډول.

- **Allergic Contact Dermatitis**

الرژیک تماسی د پوستکی التهاب .

- **Dermatitis Artefacta**

پخپله رامنځ ته کېدونکی د پوستکی آفتونه چې د (عادتی موښلو Habitual Rubbing ، ګروئو Scratching ، ویښتانو کشولو Hair-Pulling ، تمارض Malingering او روانی اختلالاتو Mental Disturbance) کې لیدل شی ، د (Factitial Dermatitis، Feigned Eruption) په انډول.

- **Ammonia Dermatitis**

امونیائي درماتیټ ، د امونیا د جوړښتونو سره د مخامخ کېدنې له کبله د پوستکي التهاب منځ ته راځي د ببلګې په توګه د متیازو پواسطه د لوندېدنې له کبله.

- **Atopic Dermatitis**

غېروصفی ډرماتیټ ، غیر وصفي د پوستکي التهاب چې په مزمنه توګه پوستکی د ناڅرګنده ایتولوژي سره مخامخ وي.

- **Berlock Dermatitis**

برلوک ډرماتیټ ، دا هغه درماتیټ دي چې په وصفي ډول د (غاړې Neck، مخFace ، سینې/ټټر Chest لپاسه د څاڅکي (Drop- shap، ، ټکو Streaks یا Patches) په څېر څرګندیږي چې په ځانګړی ډول د (عطرو Perfume یا نورو بنه بوی غوړوونکو Bergamot Oil موادو یا لمر وړانګو Sunlight) سره د مخامخ کېدو له کبله پېښېږی .

- **Berloque Dermatitis**

د (Berlock Dermatitis) په انډول.

- **Blastomycetic Dermatitis**

بلاستوما یسېټ ډرماتیټ، د (Dermatitis Blastomycotica، Cutaneous Blastomycosis) په انډول.

- **Dermatitis Bullosa Pratensis Striata**

دا یو ډول فوټوټوکسیک درماتیټ دئ چې د(لمر وړانګو Sunlight او ځانګړی نباتاتو Plants) سره د پوستکی مخامخ کېدنې له کبله منځ ته راځي ، د (Phototoxic Dermatitis ، Phytophotodermatitis) په انډول.

- **Cercarial Dermatitis**

سرکاریال ډرماتیټ ، د (Swimmers' Itch، Trichobilharzia) په انډول.

- **Cheyletiella Dermatitis**

د (Cheyletiella) په انډول.

- **Chronic Dermatitis**

د پوستکی مزمن بنه التهاب.

د (**Staphylococcal Scalded Skin Syndrome**) په انډول.

- **Factitial Dermatitis**

د (**Dermatitis Artefacta**، **Feigned Eruption**) په انډول.

- **Feline Miliary Dermatitis**

فیلاین میلیاری ډرماټیت ، هغه [پاپولی **Papular** ، کرسټ لرونکي **Crusting Skin Disease** پوستکي ناروغي چې په خلف **Back** کې لیدل شی چې د ببلابلو درجو خارښت لرونکی وی] چې په ګڼ شمېر ناروغانو کې د (**Ectoparasites**، **Food** او **Drug Allergy** ، او **Fungi Infection** یا **Bacteria**) شتون لری چې ورته د (**Scabby Cat Disease**) نوم هم ورکول شی.

- **Feline Psychogenic Dermatitis**

فیلاین پسایکوجنیک ډرماټیت ، د

(**Idopathic Hyperesthesia Syndrome**) په انډول.

- **Feline Solar Dermatitis**

فیلاین سولار ډرماټیت ،د (**Solar Dermatitis**) په انډول.

- **Fibrosing Dermatitis**

لیفی ډرماټیټ ، هغه ډول د پوستکی التهاب چې کلفی اندازه شدید ډئ او لاندینۍ طبقې د (**Dermis Deep Layers**) اړوند اخته کوی او هلته د پراخه اندازه (**Excessive Fibrous Tissue**) منځ ته راوړی.

- **Filarial Dermatitis**

د فیلار یا ناروغۍ پورې اړوند ، د

(**Onchocercosis**، **Stephanofilarosis**) په انډول.

- **Fold Dermatitis**

فولډ ډرماټیت ، هغه ډول ډرماټیت چې په بدن کې د (**Moisture**، **Friction** او **Secondary Infection**) له کبله منځ ته راځی چې دا په اوږد سر لرونکو سپیانو نسل (**Brachycephalic Dog Breeds**) کې ډېر لیدل شی چې د خپلې لکۍ او مخ برخې ډېر ګروی او په دوی کې لیدل شی.

- **Grain Itch Mite Dermatitis**

دا یو ډول تېرېدونکي بنه سطحی ډرماټیت دئ چې معمولاً د آس په سر کې لیدل شی او ښائی د خوګانو په ټول بدن کې ولیدل شی چې د (**Pediculoides Ventricosus** یا **Tyroglyphus**) پواسطه منځ ته راځی.

- **Granular Dermatitis**

د (**Swamp Cancer**) په انډول.

- **Herpitiformis Dermatitis**

دا د پوستکي اړوند التهاب دئ چې د [متناظر سروالی **Symmetrical Erythematous** یا پولی (**Papular**) ویزیکولي (**Vesicular**)، تیاکیزه (**Bullous Lesions**)، جلدي اکزیمائی **Eczematous** اندفاع ګاني دي چې د مزمن التهابی خارښت **Pruritic Chronic Dermatitis** ، سوزېدنې، ګرانولار ټولنې یې (**IgA**) د آفت په چاپېریال کې شته والی لري] او غېر عرضی (**Gluten-Sensitive Enteropathy**) ورسره مل وی.

- **Idiopathic Caprine Dermatitis**

دا هغه ډول (**Alopecic, Exudative Dermatitis**) دئ چې په (**Pygmy Goats**) کې لیدل شی.

- **Contact Dermatitis**

تماسی ډرماټیت ، دا د یو لړ الرجن / حساسیت پاروونکو موادو سره د مزمن تماس له کبله د درماتیت منځ ته راتګ دئ چې پکې (شبکوی **Reticulated**، صباغی **Pigmented** ، ماکولی اندفاعاتو **Macular Eruption**) سور مخجن اندفاعاتو په څېر ننبې لیدل شی چې معمولاً لکه د [تالګ له پوډرو ، لمر وړانګو **Shins**، په ډوډۍ پخوونکو **Bakers** ، اور اچوونکو **Stokers**، یا نور هغه کسان چې د اور لمبو او تودوخې وړانګو **Radiant Heat**] سره چې کوم څوک ورسره حساسیت ولري مخامخ شی منځ ته راځي ، د (**Dermatitis Calorica**، **Erythema Caloricum** ، **Toasted Shins**) په انډول.

- **Dermatitis Combustionis**

د سوځېدنې وروسته د پوستکی التهاب.

- **Contagious Pustular Dermatitis of Sheep**

د (**Contagious Ecthyma**) په انډول.

- **Coronet Dermatitis**

د مخاطی غشأ اړوند انتانی (**Infectious Mucosal Diseases**) ناروغی ده چې د (**Cattle Equine Pemphigus**) کې لیدل کېږی.

- **Dermatitis Crustosa**

د (**Exudative Epidermitis**) په انډول.

- **Diaper Dermatitis**

د (**Diaper Rash**) په انډول.

- **Elaeophorial Dermatitis**

د (**Elaeophoriasis**) په انډول.

- **Equine Contagious Pustular Dermatitis**

د (**Canadian Horsepox**) په انډول.

- **Equine Exfoliative Eosinophilic Dermatitis**

د لکی ایکفولیاټیف ایئوزینوفیلی (**Infiltration of Eosinophils** او **Granulomatous Inflammation**) التهابی ډرماټیت چې دا د (**Ulcerative Stomatitis** او **Wasting**) سره مل بنه شتون لری چې د نظر وړ ناروغ به (**Strongylus Equinus Larvae**) سره حساسیتی حالت ولری.

- **Equine Staphylococcal Dermatitis**

د لکی برخې (**Staphylococcal Dermatitis**) درماټیټ چې معمولاً په آس لکی برخه کې لیدل شی.

- **Exfoliative Dermatitis**

د پوستکي تفلسي التهاب چې [عمومی سروالي **Universal Erythema** سره چې د تفلساتو (**Scaling**، **Desquamation** ، جلدی خارښت (**Itching**، او ویښتانو تلنې (**Hair Loss**)] سره مل وی.

- **Exfoliative Neonatarum Dermatitis**

د نوي زېږېدلي ماشوم د امپتیګو سره سم د پوستکي تفلسي التهاب.

- **Exudative Dermatitis of Pigs**

د خوګانو اړوند تقیحی ډرماټیټ.

- **Dermatitis Exfoliativa Neonatorum**

راځی او لامل یې معمولاً (**Atopy** یا **Bacterial Pyoderma**) وی .

- **Mammary Pustular Dermatitis**

د تی لرونکو پوستیولی بڼه ډرماټیټ .

- **Meadow Dermatitis**

دا فوتوتوکسیک درماټیټ دي چې د [کرښیزو یا نورو بڼو ویزیکول (**Vesicles**، او بول (**Bullae**، د اندفاعاتو **Eruption**] پواسطه څرګندیږي اکثراً هغه کسان چې د لمر وړانګو سره مخامخ وي منځ ته راځي او معمولاً ورته د (**Agrimonia Eupatoria**) نوم ورکول کیږي ، د (**Meadow Grass Dermatitis**) په انډول.

- **Meadow-Grass Dermatitis**

د (**Phytophotodermatitis** ، **Meadow Dermatitis**) په انډول.

- **Dermatitis Medicamentosa**

د درملو اړوند ډرماټیټ چې پکې (**Eruption** یا **Solitary Skin Lesion**) لیدل شی.

- **Miliary Dermatitis**

جاورسی ډرماټیټ ، د ږدن دانې په څیر بڼې لرونکې جلدی التهابی اندفاتو سره مل ناروغتیا ده ، د (**Feline Miliary Dermatitis**) په انډول.

- **Moist Dermatitis of Rabbits**

د سوی رطوبت اړوند ډرماټیټ ، دا حالت د (**Slobbers** ، **Wet Dewlap**) په څیر ورته نوم هم لری.

- **Mycotic Dermatitis**

د (**Mycotic**) چنیاسو اړوند ډرماټیټ .

- **Nasal Solar Dermatitis**

د پوزې وړانګیزې بڼې ډرماټیټ .

- **Ovine Interdigital Dermatitis**

د (**Ovine Footrot**) په انډول.

- **Ovine Staphylococcal Dermatitis**

هغه تقرحی درماټیټ (**Ulcerative Dermatitis**) دئ چې په ځوانو پسونو او حسکیانو په مخ حیواناتو کې لیدله شی چې د (**Dermatopathic Strain of Staphylococcus Aureus**) پواسطه منځ ته راځی او ورته (**Ovine Staphylococcal Pyoderma**) هم ویل شی.

- **Papulocrustous Dermatitis**

پاپولی –کروسټ لرونکې ډرماټیټ .

- **Pastern Dermatitis**

د (**Greasy Heel**) په انډول.

- **Pelodera Dermatitis**

دا ډول (**Larvae of the Free-Living Nematode Pelodera Strongyloides**) پواسطه منځ ته راځی چې پکې (**Alopecia**، **Itching** ، **Thick** ، **Scurfy Skin** او **0.5 Inch Diameter Pustules** چې پدې کې لاز وا ګانې **Larvae**) لیدل شی.

- **Photoallergic Contact Dermatitis**

دا د وړانګو په وړاندې د حساسیت یا غبرګون له کبله د پوستکي

- **Infections Eczematoid Dermatitis**

د یوې انتاني پیوجنیک پروسې او ناروغي د شته والي له کبله اکزیمایي د پوستکي التهاب منځ ته راځي.

- **Infectious Eczematous Dermatitis**

انتانی اکزیمائی درماټیټ ، هغه ډول (**Pustular Eczematoid Eruption**) چې په ابتدائی آفتونه یئ د (**Infectious Exudate**) څخه سرچینه اخلی.

- **Inhalant Dermatitis**

د (**Canine Atopy**) په انډول.

- **Insect Dermatitis**

د حشراتو چیچلو اړوند د پوستکی التهاب ، دا یو تېرېدونکې بڼه د پوستکی اندفاعاتو پېښېدنه ده چې د زهرجنو موادو لرونکو او مخرشو موادو سره د پوستکی مخامخ کېدو وروسته منځ ته راځی .

- **Interdigital Dermatitis**

د ګوتو ترمنځ ډرماټیټ .

- **Interface Dermatitis**

دا یوه (**Histopathological Pattern**) نمونه ده چې په جلدی التهاباتو نارغیو کې چې د (**Dermoepidermal Junction**) برخو یوځایکېدنه شتون ولری هلته (**Hydropicdegeneration** یا **Lichenoid Cellular Infiltrate**) لیدل کېږی.

- **Intertriginous Dermatitis**

د (**Fold Dermatitis**) په انډول.

- **Intraepidermal Pustular Dermatitis**

د (**Equine Allergic Dermatitis**) په انډول.

- **Lipfold Dermatitis**

د (**Fold Dermatitis**) په انډول.

- **Irritant Dermatitis**

تخریشی / پارېدونکې د پوستکی التهاب، دا یو غېر حساسیتی ډول تماسی ډرماټیټ (**Nonallergic Contact Dermatitis**) اړوند د پوستکی التهاب دئ او هغه وخت منځ ته راځي کله چې پوستکي د مخرب مادې (**Skin Damages Substance**) سره مخامخ شی.

- **Livedoid Dermatitis**

دا په [موضعي ډول د اندفاعي پرسوب (**Local Swelling**)، د درد (**Local Pain**)، سره مل د (**Livedoid Changes**) بدلون دی چې د تودوخې لوړه درجه (**increased temperature**) دلته سره توپیر کوي او شدیده بڼه لري او موقت اوږدمهاله ډول اسکیمیا (**Ischemia**) او په موضعي ډول سره د شریان التهاب (**vasculitis**)، د شریان انسداد (**arterial obliteration**) له کبله په یوه برخه کښې کله چې په کوناټیو (**Intragluteal Administration**) کښې د زرقي درملو] تېرولو له کبله منځ ته راتلای شي.

- **Malassezia Dermatitis**

د خارښت لرونکې سیبوریک جلدی ناروغی چې په (**West Highland White Terrier**، **Shetland Sheepdogs**، سپیانو او په **Poodles** او **Cocker Spaniels** ، **Rarely Cats** پیشو ګانو) کې معمول ده چې په دوی کې د (**Malassezia pachydermatis**) ډرماټیټ منځ ته

- **Pyotraumatic Dermatitis**

د (**Acute Moist Dermatitis**) په انډول.

- **Dermatitis-Pyrexia-Hemorrhage Syndrome**

دا هغه ډول (خارښت لرونکي **Pruritic** ، جلدی پاپولی - کروستټ لرونکي **Papulocrustous**) ډرماټیټ چې په عادی غواګانو کې د (تبې **Fever** ، د پوزې او مقعدی وینه بهېدنې **Nasal & Anus Hemorrage**) سره مل وی داسې فکر کېږی چې د زهرو (**Toxin**) له کبله پیدا کېږی .

- **Radiation Dermatitis**

دا د رادیواکتیف او(**X-ray**) وړانګو له کبله درماټیټ دی ، د (**Oak Dermatitis**یا **Poison Ivy Dermatitis** ، **Radioepidermitis**، **Radioepithelitis** ، **Radiodermatitis**) په انډول.

- **Radiodermatitis**

د (**Radiation Dermatitis**) په انډول.

- **Rat- Mite Dermatitis**

دا د موږګانو ورګو (**Rat-mite** یا **Nithonyssus Bacoti**) د حشراتو د چیچلو له کبله منځ ته راځي.

- **Repens Dermatitis**

د (**Acrodermatitis Continua**) په انډول.

- **Rhus Dermatitis**

د (**Poison OakDermatitis** یا **Sumac Dermatitis** ، **Poison Ivy Dermatitis**) په انډول.

- **Roentgen- Ray Dermatitis**

د مجهوله (**X- ray**) وړانګو له کبله درماتیت دی.

- **Schistome Dermatitis**

د شیستوزومیا د لارو له کبله د پوستکي التهاب.

- **Seasonal Allergic Dermatitis**

د (**Equine Allergic Dermatitis**) په انډول.

- **Seborrheic Dermatitis**

دا د پوستکي سیبوریک درماټیټ دی چې په مزمنه توګه د خارښت (**ChronicPruriticDermatitis**) د شته والي له کبله سوروالی (**Erythema**) په وچه، لمده یا غوړینه تفلسي (**Scaling**) بڼه د پوستکي د ژیړ رنګه کرسټ (**YellowCrust**) التهاب دی چې د(**Scalp**) په پوستکي کښې ډېر اندازه پخه (**Dandruff**) موجوده وي ، د (**Pityriasis Capitis**، **Seborrhea Corporis** ، **Seborrhea Sicca**) په انډول.

- **Solar Dermatitis**

وړانګیز ډرماټیټ ،شعاعی جلدی التهاب ، هغه ډول (**Chronic**، **Inflammatory Reaction** په سپین **White**او یا لږ صباغی **Lightly Pigmented** بڼه لیدل شی) التهابی حالت چې د مزمن لمر وړانګو (**Sunlight**) سره د پوستکی مخامخ کېدنې له کبله د پیشو ګانو په (**Ear Tips** ، **Nose** او **Eyelids**) او د (**Collie Dogs**) په پوزه (**Nose**) کې منځ ته راځي ځینې وختونه پدې برخو کې (**Squamous Cell Carcinomas**) هم منځ ته راځي، د التهاب منځ ته راځي لکه د لمر وړانګو ، د (**Photo Contact Dermatitis**) په انډول.

- **Photocontact Dermatitis**

هغه ډول تماسی جلدی التهاب چې د (**Halogenated Salicylanilides**، **Sunlight** ، **Sandalwood Oil** یا **Hexachlorophene**) په څېر موادو سره د پوستکی مخامخ له کبله منځ ته راځي، د (**Photoallergic Contact Dermatitis** ، **Allergic Contact Dermatitis**) په انډول.

- **Phototoxic Dermatitis**

فوټوتوکسیک ډرماټیټ ، دا د پوستکي د سوروالي (**Erythema**) د منځ ته راتګ د هایپرپګمنټیشن (**Hyperpigmentation**) منظره د لمر وړانګو له کبله ده دا توکسیکه بڼه ده چې د یو لړ نور (**Photosensitizing Substances**) موادو لکه د (**Coal Tar** او **Psoralen-** او وړانګو **Sunlight**) سره د مخامخ کېدو له کبله چې په پوستکي کښې د وړانګو په وړاندې غبرګون راپاروي لکه د (سکارو، قیر، یو لړ درمل **Psoralen**) هم منځ ته راځي.

- **Plastic Dish Dermatitis**

د پلاستیک ډیش ډرماټیټ ، دا یو (**Contact Dermatitis**) دئ چې په سپیانو کې چې په پلاستیکی کاسو کې خوراک کوی لیدل شی چې د الرژی اړوند بلل شی .

- **Poison Ivy Dermatitis**

دا هم هغه ډول د حساسیت لرونکي درماتیت دی چې پوستکی کله چې د یو لړ نباتي بوټو لکه (**Rhus**) له کورنۍ څخه چې (**Urushiol**) لري او د پوستکي حساسیت پارونکی اجینټ (**Skin-sensitizing Agent**) دی دغه راز ناروغي منځ ته راوړي، د (**Oak Dermatitis**یا **Sumac Dermatitis**) په انډول.

- **Poison Oak Dermatitis**

د (**Poison Ivy Dermatitis** ، **Allergic Contact Dermatitis**یا **Sumac Dermatitis**) په انډول.

- **Poison Sumac Dermatitis**

د (**Radiodermatitis**) په انډول.

- **Porcine Juvenile Pustular Psoriasiform Dermatitis**

د (**Pityriasis Rosea**) په انډول.

- **Potato Dermatitis**

د آلوګانو (کچالو) ډرماټیټ.

- **Primary Irritant Dermatitis**

دا د مخرش پارونکو موادو سره د مخامخ کېدنې له کبله د پوستکي د التهاب منځ ته راتګ دی.

- **Proliferative Dermatitis**

ارتشاحی ډرماټیټ ، د (**Strawberry Footrot**) په انډول

- **Psoriasiform Dermatitis of Swine**

د خوګانو پزوریائي ورته (**Psoriaform**) ډرماټیټ ،د (**Pityriasis Rosea**) په انډول.

Dermato-

دا یو مختاړی دی د (پوستکي/جلد) معنی ورکوي .

Dermatoautoplasty

د پخپله د ناروغ له پوستکي څخه پخپله ناروغ ته د پیوند کړنه

Dermatobia

دا یو ډول مچ دی چې لاروا یې په څارویو کښې او کله نا کله په انسانانو کښې هم ناروغي منځ ته راوړي دا پرازیتي ناروغي ده.

Dermatocele

هغه ثویق لرونکی لیپوم چې د کڅوړې په څېر یې استحاله موندلې وي او د درماتوسل لایپوماتوزس پنوم هم یادیږي، (**Dermatolysis**) په انډول.

Dermatochalasis

هغه ډول حالت چې پکې د پوستکی قات (**Skin Fold**) ښکته د سترګو د جفن (**Eyelid**) په لوري ورغلې وی چې دا د زړښت پر مهال لیدل شی.

Dermatoconiosis

د پوستکي او لاندینی برخې (تحت الجلد) برخې التهاب.

Dermatocyst

د پوستکي سیسټ.

Dermatodynia

د پوستکي د عصبي دردونو (نیورالجي) شنه والی.

Dermatofibroma

د پوستکي فیبروما تومور.

Dermatogen

د پوستکي په هره ناروغی کښې د انتي بادي منځ ته راتګ.

Dermatogenic

د پوستکي منځ ته راوړونکې ماده.

Dermatogenous

د پوستکي منځ ته راوړونکې ماده.

Dermatoglyphics

د ورغوي پېژندنه، فال لیدنه، د ورغوي د لیکو له مخې فال لیدنه.

Dermatograph

د پوستکي لپاسه د لیکلو یوه وسیله.

Dermatographia

هغه حالت چې د یوې (کلکې وسیلې **Blunt Instrument** یا **Allergic Reaction**) پواسطه د پوستکي لپاسه د کاړلو وروسته یو سور (**Nasal Solar Dermatitis** او **Actinicdermatitis**) په انډول.

- Spongiotic Dermatitis

د رګونو د چاپېر التهاب (**Perivascular Inflammation**) حالت چې د (**Spongiosis**) سره مل وی په انډول.

- Stasis Dermatitis

مزمن اکزیمائي درماټیټ دی.

- Summer Dermatitis

د دوبی (اوړی) ډرماټیت چې د تودوخې پر مهال منځ ته راځی ، د (**Equine Allergic Dermatitis**) په انډول.

- Superficial Dermatitis

سطحی ډرماټیت .

- **Blood Goo'd Disease**

د تیبونو سیستیک ناروغي.

- **Blount Disease**

د قصبې (تیبیا) هډوکي کوږوالی، د (**Tibia Vera**) په انډول.

مزمن ډیسپنیا، مزمن براشیت، براشیکتازي هیپاتوسپلینومیګالي، د هډوکو د ماغزو هایپرپلازي) نښې نښانې لري.

- **Baelz's Disease**

دا ناروغي د پرته له درده حالت څخه د پاپولونو (**Papuls**) شته والی دئ چې د شونډو د مخاطي غشا لپاسه څرګندېدنه کوي.

- **Bamberger's Disease**

ګډپلمونکی سپزم ،رقاصي سپزم ، دا د لینګیو د عضلاتو سپزم دی چې په ځانګړي ډول الوتنه او فنري حرکتونه تر سره کوي او پدې کښې په عمومي توګه ورسره د مخاطي غشا پرسوب هم شته والی لري.

- **Bang's Disease**

د څارویو یا غوایانو په منځ کښې د سقط یا زیان شتون د بروسلا ابورتوس په ناروغي اخته کېدنې له کبله.

- **Bannister's Disease**

انجیونیو روتیك اذیما ، دا ډول اذیما په مؤقت ډول په ناڅاپه توګه په پوستکي یا مخاطي غشا کښې پیدا کیږي چې علت یې عصبي یا ناڅرګنده دی.

- **Bantis Disease**

دا اصلاً د توري (طحال ، تیلي) لومړنی ناروغي ده چې د عظم او طحال لوېدنې سره مل وي او د وینې اجزا لږوالی مومي خو وروسته بیا د فرط فشار او باب ورید د انسداد لپاره په ثانوي توګه یو علت ګڼل کیږي چې دغه ته احتقاني سپلینومګالي هم وایي.

- **Barlow's Disease**

د ماشومانو د سکاروي (**Scorvey**) ناروغي چې د ویټامین سي(**Vitamin.C**) د فقدان له کبله منځ ته راځي.

- **Barraquer's Disease**

په قسمي توګه لایپو ډستروفي.

- **Basedow's Disease**

د ګراویس ناروغي ، د (**Graves Disease**) په انډول.

- **Bayle's Disease**

د عمومي ګوزن(فلج) ناروغي، د (**General Paresis**) په انډول.

- **Barthelemy's Disease**

دا د پوستکي یو ډول دانو شته والی په ماشومانو او ځوانانو کښې دی چې د مزمن باسیل سره په متناوب ډول منځ ته راځي چې کوچنی پاپولونه منځ ته راوړي او نکروز کوي وروسته له ښه کېدنې د هغوی ځای پاتې کیږي دغه حالت ته (**Acnitis**) هم وایي.

- **Battenmagou Disease**

د ژېړو رنګ الوتو پګمنتونو پیدا کېدنه د اوپتیک پاپنه کښې په ماشومانو کښې شتون لري په ماشومانو کښې کورنی سپزمودیک فلج دی چې په پښو کښې پیل کوي چې وروسته بیا لاسونه هم فلج کیږي او د سترګو لیدنه له منځه ځي.

- **Bazin's Disease**

اریتیما اندوراتوم، دا په مزمنه او حاد (ډېره کوونکی) ډول سره روڼ سورالي د عضلاتو په منځ کښې ناروغي منځ ته راځي دا په نجونو

- **Boeck's Disease**

د سارکوئیدوزس ناروغي ، د (**Sarcoidosis**) په انډول.

- **Bornholm Disease**

اپیډیمیک ډیلورا درد ، د (**Epidimic Pleurodynia**) په انډول.

- **Bowen's Disease**

داخل الجلدي (**Intradermal**) سکواموزسل کارسینوما دا ناروغي پسوریاز ته ورته ده او د پوستکي سور والي سره مل دی.

- **Bredos Disease**

د (**Yaws Disease**) په انډول.

- **Brill's Disease**

د محرقي د ناروغي بابېړې (عود) تر (**70**) کلنی پورې وروسته د لومړنی حملې څخه دا د لومړني ځل څخه په خفیفه بڼه وي.

- **Brill Symmers Disease**

د (**Giant Folicular Lymphoma**) په انډول.

- **Broad Befa Disease**

د [**Hyperliporatienemia (Type III)**] په انډول.

- **Brodie's Disease**

د زلالیه کځوړې مزمن التهاب، په ځانګړې ډول د زنګون د مفصل د زلالیه کځوړې مزمن التهاب د اخته برخې د پوپې استحالې سره مل، په هستیاریا ناروغانو کښې د فقراتو د تېر خیالي ماتوالي چې ناروغ دغه راز ناوړه فکر کوي.

- **Bronzed Disease**

د (**Addison Disease**) په انډول.

- **Brooke's Disease**

د یزوروسپوروم پنامه انتان له کبله چې یو ډول میکروب د سیرومیدیا دی، همدارنګه سیست لرونکی اډینوئید اپتیلوما ته هم ویل کیږي کراتوز (**Keratosis**) فولیکولر هم بلل کیږي.

- **Buerger Disease**

دا د اندامونو د رګونو انسدادي ناروغي چې غالباً ښکته اندامونه اخته کوي پدي ناروغۍ کښې د راو د ایسکیمې او ګانګرن لامل ګرځي د وینې د ناروغي له کبله.

- **Buhl's Disease.**

دا نوي زېږېدلي ماشومان اخته کوي او د پوستکي لاندې مخاطي غشا او نامه غوټې په برخه وینه بهېدنه ورکوي دا دسیانور او ژېړي سره مل ده په کولمو کښې هم وینه بهېدنه ورکوي.

- **Bush Disease**

دا د غواګانو او پسونو ټاکلې ناروغي ده دا په نیوزلاند کښې معمول ده او پرمختلونکې وینه لرې منځ ته راوړي.

- **Busse Buschke Disease**

کریپټوکوکوزس، د (**Cryptococcosis**) په انډول.

- **Caffey's Disease**

دا ناروغي په ځانګړي ډول د ماشومانو لپاره ده چې د هډوکو تر څنګ د رخوه اقسامو پرسوب، تبه او پارېدنې په توګه ځانګړی کیږي دا ناروغي په متناوبه توګه شپه والی او عود منځ ته راوړي.

- **Casson Disease**

د صندوقچې ناروغي، پدې ناروغي کښې د (مفصلونو درد، د سړو نښې د پوستکي زیان او عصبي) نښې نښانې څرګندیږي هغه کسان چې ډېر فشار لاندې وي او یا هم په ناڅاپه توګه د چاپېریال فشار لږ شي دغه ناروغي ورته پیدا کیږي.

- **Calve- Perthese Disease**

د فخذ د هډوکي د کپیټولاړ اپي فیزیس اوسټیوکاندروز.

- **Camurati Engelmann Disease**

د (**Diaphysal Dysplasia**) په انډول.

- **Canavan's Disease**

د مرکزي عصبي سیستم اسفنجي استحالوي ناروغي.

- **Canine Parvovirus Disease**

دا یو حاد ډول ناروغي ده چې د سپیانو په منځ کښې په وژونکي ډول ګسترواینټریت منځ ته راوړي او سببي عامل (**Parvovirus**) دی.

- **Carrion's Disease**

د کاریون ناروغي یوه انتاني ناروغي ده چې د پیرو د غرو- رغونو او بولویا او کولمبیا په برخو کښې موندل کیږي دا ناروغي (حاده تبه، وینه لړې، او د پوستکي زیان) سره مل ده د ناروغي عامل بارتونیلا باسیلیفورمیس انتتان دی چې یو ډول ماشي پواسطه لېږدول کیږي.

- **Cat - Scratch Disease**

د پیشو د منګولي ګرونو له کبله تبه، دا تحت حاده تبه لرونکی التهابي ناروغي ده چې د لمفاوي غدواتو برخه نیسي چې د پیشوګانو د شوکارو وهلو وروسته منځ ته راځي.

- **Chagas Disease**

تریپانوزومیازس د تریپانوزوما (**Cruzy**) پنوم انتتان له کبله په ماشومانو کښې حاد سیر لري او لویانو کښې مزمنه تګ لاره خپلوي ، د (**Chagas Crus Disease**) په انډول.

- **Chabert's Disease**

د تورتپ [انتراکس **"Anthrax"**] ناروغي ته مراجعه وکړی.

- **Charcot Marrie Tooth Disease**

په پرمختلونکي توګه د عضلاتو اټروفي چې د نیوروپتي سره مل وي.

- **Christmas Disease**

د کرسمس ناروغي ، چې په ولادي توګه ناروغان د وینه بهېدنې سره لېوالتیا لري او د (**A**) کلاسیک ډول هیموفیلیا په څېر ورته کلینیکي نښې نښانې ورکوي په غالبه توګه د (**IX- Factor**) د شتوالي یا اختلال له کبله منځ ته راځي چې د ترومبوپلاستین جوړېدنه مختل کیږي.

- **Chronic Disease**

ټولې هغه ناروغي چې اوږد مهاله (مزمنه) تګ لاره لري.

- **Chronic Granolomatouse Disease**

مزمن ګرانولوماتوز ناروغي.

- **Chronic Obstructive Pulmonary Disease**

د سړو مزمنه انسدادي (بندښتیزي) ناروغي چې لنډه نښه یې (**COPD**) ده.

- **Corvisart's Disease**
مزمن هایپرتروفیک مایوکارډیت تترالوژي د دفالوټ ته ویل کیږي.
- **Cowden's Disease**
دا ارثي ناروغي چې د (مولیتپل اکتودرمال، میزودرمال او اندودرمال نیوپلاستیک انومالي) پکښې وي.
- **Creutzfeldt Jakob Disease**
معمولاً د ماغزو د اسفنج په څیر ویروسي استحالوي ناروغي ده چې د عمر په منځني وخت کښې منځ ته راځي.
- **Crouzon's Disease**
د (**Craniofacial Dysostosis**) په انډول.
- **Cruveilhier's Disease**
د معدې ساده قرحه د نخاع عضلي ضمور (اتروفي) سره مل ناروغي ده.
- **Curschmann's Disease**
دا د کبد هغه ناروغي ده چې د کپسول په برخه کښې د سپینې کتلې په څیر وي لکه د کېنک لپاسه اومه برخه منځ ته راځي.
- **Curtis Disease**
د پوستکي پسودومیګزوماتوز تومورونه دي چې پکښې د (**Sarcomysis Subcutis Myxoma**) سیست تشییت کیږي.
- **Cushing Disease**
دا د فوق الکلوي غدې د قشر ډېر کار کول دي چې د هیپوفیز غدې د ډېر زیات هورمون افراز پورې اړوند دی.
- **Cysticercusis Disease**
د سرکوزي د کدو دانې (تینیاسولیوم) په لارو اخته کېدنه.
- **Cystic Disease of Breast**
د تیبونو (ډدیو) سیستیک ناروغي.
- **Cytomegalic Inclussion Disease**
د سایتومیکالو ویروس باندې اخته کېدنه ده چې اکثراً نوی زېږېدلي ماشومان اخته کوي او د کبد او طحال په لوئیدنې ځانګړې کیږي اغلباً دا ماشومان کوچنی کوپړۍ او له عقل څخه پڅ وي او د مور څخه د پلاسنتا له لارې تېریږي.
- **Dancing Disease**
د نڅا یا ګډېدنې ناروغي دا په مانیا (**Mania**) ناروغانو کښې منځ ته راځي او درملنه یې باید تر سره شي ، د (**Tarantism**) په انډول.
- **David Disease**
دا ناروغي له نوم څخه د (ډ.ب. دیوید) پنوم ده دا هماغه (**Pott's Disease**) ناروغي ده او همدارنګه د (و.دیوید) پنوم ناروغي دا هغه د ښځو ناڅرګنده ناروغي ده چې د (ډیې، مخاطي غشا) څخه وینه بهېدنه ورکوي.
- **Deficiency Disease**
د فقدان ناروغي ،هغه حالت چې پکښې د خوراکي توکو میتابولیزم بېخې نشتوالي ولري لکه د (ویتامین، پروټین، منرالونو) او نور.
- **Degenerative Joint Disease**
د بندونو استحالوي ناروغي دا ناروغي د اوستیوارتریت په نوم هم یاد یږي.

- **Cricling Disease**
د کړۍ په څیر منځ ته راتلونکي ناروغي، حلقوي ناروغي.
- **Coat's Disease**
اګزوډاتیف رتینوپتي ، په دغه ناروغي کښې (سپین رنګه یا ژېړ رنګه کلسترین رسوب د سترګو په ښکته برخه کښې) شتون لري چې په ترتیب سره مکولا خرابي مومي او رېوندوالی منځ ته راځي.
- **Coast Disease**
د وانبه خوړونکو څارویو ناروغي ده چې په نیوزلینډ کښې لیدل کیږي پدوی کښې (وینه لړي، خوارښت) د کوبالت د نشتوالي له کبله منځ ته راځي.
- **Collagen Disease**
د کولاجن انساجو ناروغي پدغه ډله کښې د (روماتیزم تبه، روماتوئید ارتریت، لوپوس اریتیماتوز په خپاره ډول، د رماتومیوزیت، سکلرودرما، پیري ارتریټ او نور) ورګډ یږي.
- **Communicable Disease**
ساري ناروغي، لېږدونکي ناروغي دا ناروغي په نېغ (مستقیم) یا غیر مستقیم توګه د یوه څخه بل ته لېږدول کیږي.
- **Compressed- air Disease**
د هوا د فشار له کبله ناروغي د ناروغي د مفصلي دردونو، سږو نښې نښانې د پوستکي او عصبي نښو نښانو پواسطه څرګند او پېژندل کیږي.
- **Contagious Disease**
ساري ناروغي، لېږدونکي ناروغي، تماسي ناروغي.
- **Concato's Disease**
په پرمختلونکي توګه خبیثه پولي سیروزیت، د ډېرې اندازې (پریکارډ مایع، او پلورا او پریتوان) په جوف کښې مایع راټولیږي.
- **Constalk Disease**
د اهلي څارویو د دماغ او نخاعي طناب ناروغي چې د سوزس سربرالیس پواسطه منځ ته راځي.
- **Constitutional Disease**
هغه اساسي ناروغي چې سیستم، غړی اخته کوي او په پراخه اندازه کلینیکي نښې نښانې منځ ته راوړي
- **Cori's Disease**
د (**Forbe's Disease**) په انډول.
- **Crigler Najjar Disease**
د (**Crigler Najjar Syndrome**) په انډول.
- **Coroles' Disease**
داد صفراوی قناتونو هغه ولادی نیمګړې ناروغی ده چې پکې د تریخی قناتونه اتریزیا لری او د کبد دننه قناتونه توسع لری.
- **Crohn's Disease**
د کولمو مزمن ډول تقرحي ګرانولوماتوز التهابي ناروغي ده چې معمولاً په ترمینال ایلیوم کښې منځ ته راځي او کولمو جدار پرسوي دغه ناروغي ته (**Regional Enteritis** ، **Regional Ileitis**) هم وایي.

او کله نا کله د ریکتوم د کولمې تضیق منځ ته راوړي او بل نوم لمفوګرانولوما وینیروم دی.

- **Duroziez's Disease**

د (**Congenital Mitral Stenosis**) په انډول.

- **Ebstain's Disease**

د (**Ebstain Anomali**) په انډول.

- **Elonomo's Disease**

دا اپیډیمیک انسفالیت دی چې ټولنه اخته کوي چې د سستي، رخوت او لاپروایي بې تفاوتي سره مل ده چې وروسته پایله کښې د ځړت او خوبجن حالت منځ ته راوړي، د (**Lethargic Encephalopathy**) په انډول.

- **Edsall's Disease**

دا د تودوخې نیونکی کرامپ، د درد سره مل د عضلاتو سپزم، ضعیف نبض، متوسع حدقه، د تودوخې ځای کارکوونکو کښې شتون لري.

- **Edsall's Disease**

د اعصابو د پوښ (**Sheet**) نیوریت دی چې د عضلاتو بین النسجي برخه هم اخته کوي نیامي نیوریت هم ورته وایي.

- **Epizootic Disease**

د ځاروبو ټولنه اخته کوونکي ناروغي ده چې دا ناروغی ډېره برخه د یوه ملک ځاروی په ناڅاپه توګه اخته کولای شي.

- **Endemic Disease**

انډیمیک ناروغتیا ، دا هغه یو ډول ناروغي ده چې د راتګ سره سم د انسانانو یوه ټولنه په لږه موده کښې اخته کوي او چټکه پراختیا مومي.

- **Erb's Disease**

ارب ناروغتیا ، په پرمختلونکې توګه د عضلاتو ضموري ناروغي

- **Erb-Goldflome Disease**

ارب ګولډفلوم ناروغتیا ، دا وخیم ډول ناتاریزه میاستینیا ناروغي ده پدې کښې د (مخطط عضلاتو سترپا ، او فلج پرته لدې چې حسي اختلال یا اتروفي) منځ ته راځي، ښایي د بدن ټول عضلات اخته کړي په ځانګړي ډول د شونډو ، مخ، ستوني ژبې او غاړې عضلات اخته کیږي.

- **Eulenburg's Disease**

دا ارثي ناروغي ده چې په هغه کښې که چېرې د مخطط عضلي تحریک لپاره کوښښ وشي د سپزم (شخی) علت ګرځي چې وروسته له کراره کېدنې عادي حالت ته راځي.

- **Extrapyramidal Disease**

هر هغه راز کلینیکي تشوش د غیر عادي حرکاتو چې غیر ارادي دي په عضلاتو کښې د مقویت بدلونونه، لکه پرکنسون کوریا ، اتیتوزس په ځېر حالتونه منځ ته راځي.

- **Falory's Disease**

سفینګولیپیدوزس د (**X- Linked**) په ځېر لېږدېدنه کوي چې پدې کښې (**Trihexosyl Ceramid**) په ببلابېلو انساجو کښې لکه پښتورګو کښې چې د (**α– Glactosidese**) انزایم نشتوالی لري منځ ته راځي.

- **Fahr- Volhard Disease**

- **Dejerine's Disease**

پدغه ډول ناروغي په پرمختلونکي ډول د عصبي سیستم بین النسجي برخې ضخاموي ناروغي منځ ته راځي په نتیجه کښې محیطي اعصاب او د نخاع خلفي ریښې پېړوالی مومي او د نخاع خلفي ځانګې تصلب (سکلروز) کوي او دا ناروغي په ماشومانو کښې معمول ده ، د (**Interstitial Progressive Hypertrophic Neuropathy**) په انډول.

- **Demyelinating Disease**

د میالین د طبقې هر ډول استحالوي ناروغي.

- **Devergie's Disease**

دا د پوستکي نادر او مزمنه ناروغي ده د فولیکولار تقرني پاپولونو سره مل ده دا په ماشومانو یا بالغو (خوانانو) عمر لرونکي ناروغانو کښې منځ ته راځي او غوړ سیبوریک تفلس د سردپوستکي او د مخ د برخې درماتیت سیبوریک او د پښو او لاس ورغوي کراتودرمي شتون لري.

- **Diamond Skin Disease**

د پوستکي د الماس په ځېر ناروغي ده، دا ناروغي په سرکوزي ځاړیو کښې معمول ده او د پوستکي یاقوت ته ورته سور رنګه پوستوالی منځ ته راځي دا سور رنګه ټګی ځلور ضلعي بڼې لري چې د چاپېریال برخې یې د تورو لیکو په واسطه احاطه شوېدي ددې ناروغي علت یو مکروب پنوم اریزیپلو تریکس اینسیدیوزا تولید وي.

- **Dieulafoy's Disease**

سطحي قرحه ، سطحي السریشن.

- **Drugs' Disease**

د درملو د غبرګون له کبله ناروغي.

- **Duchenne's Disease**

د نخاع د عضلي برخې ضمور.

- **Duchenne's Aran Disease**

د نخاع د عضلي برخې ضموري کېدنه.

- **Duhring's Disease**

دا د پوستکي ناروغي ده چې پکښې (اریتیماتو، پاپولي، ویزیکولي، پوستولي اندفاع د خارښت او سوزېدنې) سره مل وي.

- **Dukes Disease**

دا د ماشومانو حاد ډول ویروسي ناروغي ده چې د تبې او پوستکي اندفاع ورسره وي دا اندفاع ماکولي یا ماکولو پاپولي دی.

- **Duplays Disease**

د (**Bursitis**) په انډول.

- **Durand's Disease**

دا ویروسي ناروغي چې د (سر درد، تنفسي علوي دستګاه او سیستم او منتجیت، معدې او کولمو) نښې نښانې منځ ته راوړي.

- **Durand Nicolas Favure Disease**

دا زهروي یا د جنسي یو ځای کېدنې له کبله لېږدونکي ویروسي ناروغي ده چې عامل یې پسیتاکوز او رینتوز دی دا ناروغي ښایي د مهبل د شونډو او نارینه د خوټو او مړغېړو الیفانتیاز منځ ته راوړي

- **Fish Slime Disease**

دا یو ډول د سپټیسیمي (**Septicemi**) ده چې د کبانو د هډوکو او یا لشکو د چوخېدنې له کبله بدن کښې منځ ته راځي.

- **Flax- Dresser's Disease**

دا یو ډول د پنومونیا څخه ده چې هغه کسانو کښې چې د کتان ټوکر په فابریکه کښې کار کوي منځ ته راځي چې د کتان او بدني د ذراتو د انشاق له کبله منځ ته راځي.

- **Flint Disease**

د (**Chalicosis**) په انډول.

- **Focal Disease**

موضعي ناروغي ، د (**Localized Disease**) په انډول.

- **Folling's Disease**

دا عقلي ارثي او اسید فینایل پایرویک د شته والي له مخې په متیازو کښې پېژندنه کیږي، د اولیګوفرینیا (**Oligophrenia**) په انډول.

- **Foot and Mouth Disease**

دا زهروي لېږدونکي ناروغي ده دا ناروغي (تبه، د خولې د مخاطي غشا تهاکې، د مخ په برخه تهاکې، د شونډو تهاکې، د حنجرې تهاکې) همدارنګه د پښو د ګوتو او نوکانو تر منځ تهاکې منځ ته راځي دا ناروغي په شخوند وهونکي څارویو کښې ډېر لیدل کیږي او انسانان هم اخته کیږي.

- **Forbes Disease**

د (**Type III**) ګلایکو جنیزس چې پکښې هغه انزایم چې(**Debrancher Enzym Dextrin 1-6 Glecosidase**) نشتوالی لري او زړه او ینه اخته کوي او د (کبد ضخامه، هایپوګلاسیمیا، اسیدوز، پڅه وده او د لاندې کو) په څېر تغوط نښې شتون لري.

- **Fothergill's Disease**

فورتاجیلی ناروغی دا د (سکارلاتین، انجینوزا، ترایجیمینال نیورالجي) ته اطلاق کېږي.

- **Fourth Disease**

د فورت ناروغي، دا هغه ناروغی ده چې په ماشومانو کښې لیدل کیږي متناوبه نوساني تبه لري چې درې ورځې اوزدید نه مومي او په څلورمه (**Fourth**) ورځ دغه د تبې لوړوالی راغورځي او څو ساعته وروسته د تني لپاسه جلدي (**Rush**) اندفاع منځ ته راځي، د (**Duke's Disease**) په انډول.

- **Fourth Venereal Disease**

دا زهروي یا د جنسي اړیکو له لارې لېږدونکي ناروغي ده چې پدغه ناروغي کښې د ناروغی عامل له کبله د (قضیب د سرالتهاب او قرحه او حتی ګانګرن) منځ ته راځي د مغبنې یا سپوغزی برخې ګرانولوماتوز تپې کېدنه ده چې د بهرنی تناسلي غړو او مجاورو انساجو برخه اخته کوي او د تومور په څېر غوښنې غوټې منځ ته راځي.

- **Fox's Disease**

د (**Fox Fordyce Disease**) په انډول.

دا خبیث ډول د نفروسکلروزس ناروغي ده پدغه راز التهاب کښې د پښتورګو د شریان جدار پرسوب مومي او استحاله کوي او ګلومیرولونه فیبرولونه فیبروزس کوي او په څو میاشتو کښې ناروغ له پښو غورځوي.

- **Fallot's Disease**

د فالوت تترالوژي د زړه ولادي ناروغي ده چې پکښې (**Qoarctation Pulmonary Stenosis . V.S.D . Ventricular Hypertrophy .of Aorta**) ناروغی شتون لري.

- **Fanconis Disease**

د (**Fanconis Syndrom**) په انډول.

- **Farber's Disease**

ارثي سفینګو لیپیدوزس ناروغي.

- **Fat Dificiency Disease**

د شحم یا غوړو د نشتوالي ناروغي پدې حالت کښې د ودې ودرېدنه د پوستکي ضایعات منځ ته راځي.

- **Favre Durand Disease**

د فاور- دوراند- نیکولاس ناروغي دا یو ډول زهروي (**Nicolas**) یا د جنسي لارې لېږدونکي او ښایي د (مهبل د شونډو، بذر او یا د نارینه د خوتو او مرغېړو د الفانتیازس) سبب وګرځي او کله نا کله د ریکتوم تضیق هم منځ ته راوړي.

- **Fede's Disease**

د ژبې لاندې برخې فیبروما تومور.

- **Feer's Disease**

دا د ماشومانو ځانګړې ناروغي ده چې د لاسونو او پښو د [سور رنګه کېدنې او هضم اختلال، د بندونو پرسوب او د عضلاتو د ضعف] پواسطه په پایله کښې ځانګړی کیږي بل نوم یې اکرودا ینیا (**Akrodyna**) دی.

- **Fibrocystic Disease**

سیستیک فیبروز ، د (**Cystic Fibrosis**) په انډول.

- **Fifth Disease**

پنځمه ناروغي، دا یوه ساري یا لېږدونکي ناروغي ده چې په ټولنیزه توګه سمدلاسه ټولنه اخته کوي پدې ناروغي کښې د (پوستکي(**Rush**) سور والی مکولوپاپولار اندفاع چې د جس وړ دي) منځ ته راځي دا معمولاً هغه ماشومان چې د (**12-4**) کلونو په عمر کښې وي منځ ته راځي.

- **Fifth- Venereal Disease**

دا ویروسي لېږدونکی ساري ناروغي ده چې د تناسلي غړو او لمفاوي غدواتو ضخامه او پرسوب دی دا ناروغي د جنسي اړیکو له لارې لېږدول کیږي ، د (**Lymphogranulloma Venereum**) په انډول.

- **Filatow- Dukes Disease**

د (**Fourth Disease**) په انډول.

- **Fish Skin Disease**

د کب (ماهي) د پوستکي په څېر ناروغي یا ایختیوزس دی پدې ناروغي کښې پوستکی وچ او کلک او تفلسي کیږي او د قرنیې طبقې هایپرتروفي منځ ته راځي.

لړ رنګ لرونکي غایطه موادو او ډېرو زیاتو شحمي موادو) شتون په غایطه موادو کښې وصفي ګډون پتوګه ښکاري، د (**Gee- Herter Disease** یا **Gee- Herter- Heubner Disease**) په انډول.

- **Genetic Disease**

جنیتیک یا ارثي ناروغیو ته ویل کیږي چې دا ناروغي د کروموزومونو د انومالیو پورې اړوند دی.

- **Gierke's Disease**

د (**Type- I**) ګلایکو جنوزس ته ویل کیږي چې پکښې د کبد ګلوکوز (**G- 6 Phosphatase**) فاسفیټیز انزایم نشتوالی لري چې کبد او پښتورګي اخته کوي او ورسره (هیپاټومیګالي، هایپوګلایسیما، هایپرلیپوریسیمیا او نقرس) شتون لري.

- **Gilloert's Disease**

دا په فامیلي توګه یوه ناروغي ده پرته لدې چې د کبد د حجراتو ویجاړېدنه شته والی لري د وینې د بلیروبین سویه لوړه وي.

- **Gilles-De-La-Tourette's Disease**

د سندروم په برخه کښې شرحه راغلې ده.

- **Gerhardts Disease**

دا ډول ناروغي د ټولو اندامونو په نسبت پښې ډېرې اخته کوي پدې ناروغي کښې په ناڅاپه توګه د لاسونو او پښو په برخه کښې د (رګونو اتساع، درد او سوزېدنه او سور والی) په زیاتېدونکي توګه منځ ته راځي ، د (**Erythromelalgia**) په انډول.

- **Gerlier's Disease**

دا پارالایتیک سرځرخي دا د مرکزي اعصابو اړوند ناروغي ده په کارګرانو او بزګرانو کښې په زراعتي ځمکو کښې منځ ته راځي دا ناروغۍ (ټیم فلج په خفیفه توګه، غورځېدنه، او د عضلاتو په انقباضي توګه حرکتونې) پواسطه پېژندل کیږي، دا حالت د کار کولو په وخت منځ ته راځي.

- **Gelbeny's Disease**

د فقراتو د چاپېریال د انساجو التهاب ته وایي.

- **Glanzmann's Disease**

د ترومبو سایتوپینیا یو ډول دی چې په نومورې بحث کې تعریف راغلی، د (**Thrombocytopenia**) په انډول.

- **Glycogen Disease**

ګلایکوجن ناروغي ، دا یو ځانګړې ناروغي ده چې د ګلایکوجن د راټولېدنې ځځه په غیر طبیعي توګه په کبد کې تعریف کیږي. دا ناروغي په ماشومانو کې ډېره او هیپاټومیګالي او هایپرګلایسیمیا سره تاکل کیږي.

- **Glycogen Storages Disease**

دا هم لکه د پورته د ګلایکوجن د نه استقلاب ناروغي ده او د بدن په انساجو کې ګلایکوجن زېرمه کیږي ، د (**Glycogenosis**) په انډول. لاندې ډولونو ته پاملرنه وکړئ. په دغه (**Type I** څخه تر **Type VII**) ډوله ناروغیو کښې د فاسفورایلیزکنیز انزایم نشتوالی لري. چې پکې د [**Gierke's Disease** (**Type I**) ، **Pompe's Disease** (**Type II**) ، **Forbe's**

- **Fox Fordyce Disease**

دا د پاپول په څېر د پوستکي اندفاعات دي چې د تخرګ او تناسلي غړو چاپېریال برخو خارښت په موضعي ډول منځ ته راځي ددې علت د خولې (عرقیه) د غدواتو مزمن التهاب دی.

- **Frei's Disease**

دا ناروغي د جنسي اړیکو له مخې لېږدول کیږي او ویروس عامل لري او د(مهبل د شونډو، کلایتوریس، تناسلي غړو خوټې او مرغړو الفانتیازس) منځ ته راوړي او د ریکتوم تضیق لامل ګرځي.

- **Freiberg's Disease**

د (**Freidiander Disease** یا **Endartritis Obliterans**) په انډول.

- **Freidiander Disease**

د دوهم میتاتارس هډوکی د راس او ستیوکاندزورس.

- **Freidreich's Disease**

دا هغه حالت دی چې په نارینه وؤ کښې نسبت ښځو ته دېر منځ ته راځي او انقباضونه په ناڅاپه توګه لومړی په مټ او اوږې عضلاتو کښې او وروسته بیا د تنې ټول عضلات نیسي او ځانګړی کیږي همدارنګه دا د ماشومانو ارثي ناروغي ده چې ښایي د ځواني په عمر هم پیل وکړي ضایعات پدې ناروغي کښې د نخاع د خلفي او جنبي رسیو (طنابونو) په برخه کښې اسکلروز منځ ته راوړي ښې یې (اتاکسي، د تکلم اختلال، د ملا د تیر د فقراتو انحراف یوې لوري ته یې نظم حرکتونه، په ښکته عضلاتو کښې فلج) په څېر څرګندېږي دا ناروغي د(**Freidreich Ataxia** یا **Paramyocolonus Multiplex**) پنوم هم یادېږي.

- **Functional Disease**

دا د غړو د کار کړنې اړوند ناروغي پدې ناروغي کښې د غړو پتالوژي نشته او انساج نورمال دي.

- **Gaisbock's Disease**

دا پولي سایتیمیک هایپرتونیك ناروغي ده پکښې (توري ضخامه، د زړه ضخامه او لویوالی، او وینې لوړ فشار) شته والی لري.

- **Gamna's Disease**

پدې ناروغي کښې توری (طحال) لویوالی کوي او د اوسپنې عناصر پکښې رسوب کوي او پر پوستکي د ګامنا نودولونه منځ ته راځي د طحال د پولپ په برخه کښې زهرمه کیږي.

- **Gaucher's Disease**

دا یوه ارثي ناروغي ده چې د ګلوکوسریبرو سیدونو میتابولیزم کښې تشوش شته والی لري دغه ناروغي کښې [طحال یا توری ضخامه د پوستکي پګمنتیشن، د سترګو نوکی ډوله بدلون، او په توري کښې د کرازین د حجراتو او کبد او د هډوکو د ماغزو په منځ کښې **Gaucher's Cell** موندل کیږي همدارنګه په متوسطه اندازه وینه لرې **Anemia**، ترومبوسایتو پینیا **Thrombocytopenia** د پوستکي ژېړ رنګه پګمنتیشن په ماشومانو کښې د مرکزي عصبي سیستم وصفي استحالهٔ] شته والی لري.

- **Gayet's Disease**

دا په مرضي توګه د فکر کولو او خوبجن حالت دی دا حالت نادراً په ناروغانو کښې پېښیږي.

- **Gee's Disease**

دا په ماشومانو کښې د نس ناستي ناروغي ده چې د بدن د (اختلال، د

عقلي زوال، په خبرو کولو کې پڅوالی او د احساس لړوالی) سره ځانګړی کیږي.

- **Hamman's Disease**

د سږو د بین النسجي برخې بنفسهي امفزیما ناروغي ده دا حالت ښایي په حاده توګه د زړه د ترومبوز علت وګرځي.

- **Hand Schuler- Christian's Disease**

دا ناروغ مزمنه ایډیوپتیک هستوسایتوز دی چې په پوستکي او د هډوکي په منځ ټولنې فولیکل هیستوسایتیک لایپوګرانولوماتوز نښې شتون لري او د لایپوائیډوز کولسترول شته والی تثبیت کیږي دا ناروغي دري ډوله نیمګړتیاوې لري لکه غشائي هډوکی، د سترګو مخکښې راوتنه او پرته له مزې دیابت (**Diabetes Insipitus**) لري.

- **Hanot's Disease**

دا د صفراوي د تریخي سیروزس.

- **Hansen Disease**

د هانسن یا جذام ناروغي چې مزمنه ساري یا لېږدونکي ناروغي ده او د مایکوباکتریوم لیپارا پنوم عامل لري دا ناروغی په (پوستکي، مخاطي غشا، او محیطي اعصابو) کې ګرانولوماتوز ضایعات منځ ته راوړي دوه ډوله لري نودولار (لیپروماتوز) او دوهم ډول یې عصبي (ماکوتو انستیتیک) دی او مخلوط ډول یې هم شتون لري ، د (**Leprosy**) په انډول.

- **Hartnup's Disease**

دا ارثي ناروغي ده د پلګرا په څېر پوستکي اندفاع منځ ته راوړي په کولمو کې په جنیتیکه توګه تشوش شتون لري او په پښتورګو کې د طبیعي الفاامینو اسید تشوش په لېږدېدنه کې شته دی دا ناروغي د تېږېدونکي اتاکسي، ثابته امینو اسید اسیدیوریا او بیوشیمیکي انبار ملیتي لري.

- **Hashimoto's Disease**

د (**Struma Lymphomatosa**) په انډول.

- **Heberden's Disease**

د کوچنیو بندونو روماتیزم، صدري انجین.

- **Heavy Chain Disease**

د درانده ځنځیر لرونکی ایمیونوګلوبولین ټوټو شتون په وینه کې چې په دري ډوله واقع کیږي چې د [ګاماګلوبولین د **IgG** (**Y Chain**) ځنځیر، د الفاګلوبولین **IgA** (**α Chain**)، ځنځیر، د میګاګلوبولین **IgM**(**M. Chain**)] ځنځیره په څېر.

- **Hebra's Disease**

دا یو ډوي مولتیفورم اپریتیما ده چې د ترشحاتو سره مل وي.

- **Heer Fordt's Disease**

دا یو ډول انتاني ناروغي ده چې د سترغلو د غدي التهاب او د (عنبي، د باښو د جسم، مشیمی) التهاب پواسطه ځانګړی او پېژندنه تر سره کیږي دا ناروغي ښایي آیریدو سکلیت (**Iridocyclitis**) او د مخ د یوه لوري فلج هم منځ ته راوړي.

- **Hein- Medin Disease**

د پولیومیالیت لویه بڼه.

Mc- Ardle's ، (**Type III**)**Disease** ، (**Type IV**)**Amylopectinosis** ، (**Type V**)**Disease** ، (**Type VI**)**Her's Disease** ، **Type**)**Taruis Disease** ، (**VII**)] شامل دی.

- **Goldflam's Disease**

دا ناروغي د میاسیتینا پسوډوپارالایتیک وخیم ډول دی پدغه سندروم کې عضلات ویلې کیږي او پرته لدې چې حشي برخه مختل نشي په پرمختلونکې توګه د عضلاتو فلجي اټروفي منځ ته راځي ښایي ټول عضلات اخته شي خو په ځانګړي ډول سره د(مخ، شونډو، ژبې، ستوني او غاړې) عضلات اخته کیږي ، د (**Goldflame- Erbs Disease**) په انډول.

- **Goldflame- Erbs Disease**

د (**Goldflam's Disease**) په انډول.

- **Goldscheider's Disease**

دا یو ډول ارثي ناروغي ده چې د زهرېدنې وروسته سمدلاسه په ماشومانو کې او(ویزیکولونو د سیستونو په څېر اپیډرمل ضایعاتو او سوزېدنه ورسره مل وي) ښکاره کیږي.

- **Gower's Disease**

دا اګزو فتالمیک ګواتر دی چې په کلونیک ډول د لېنګو د عضلاتو سپزم چې د فنر په څېر حرکتونه منځ ته راوړي نښې نښانې لري.

- **Graf- Versus- Host Disease**

د (**Graft- Versus – Host**) په انډول.

- **Graves- Disease**

دا هم اګزوفتالمیګ ګواتر ناروغي ده چې پدې کې د [درقي غده ضخامه کوي، نبض چټکتیا مومي، اګزوفتالمیا، ډېره خوله، د لاسونو رېښدنه، رواني اختلال، د قاعدوي میتابولیزم] لوړوالی شتون لري.

- **Green Field's Disease**

د (**Infantile Metachromatic Leukodystrophy**) په انډول.

- **Gull's Disease**

پدې ناروغي کې د درقي غدی اټروفي د مګزودیما سره مل وي.

- **Gull and Suttan's Disease**

دا د شریاني رګونو په عمومي توګه تصلب دی چې پدې کښې د (رګونو ارتجاعیت له منځ ځي او جدار کلک او تصلبي) کیږي.

- **H. Disease**

د (**Hartnup Disease**) په انډول.

- **Hailey- Hailey Disease**

فامیلي پامفیګوس ناروغي ده.

- **Hand's Disease**

د (**Hand- Schuller- Christain Disease**) په انډول.

- **Hand Foot & Mouth Disease**

دا د لاسونو او پښو او خولې ناروغي ده ویروسي عامل لري او په ماشومانو کې ډېره منځ ته راځي ویزیکولار اندفاع منځ ته راځي.

- **Haller Vorden Spatz Disease**

دا ناروغي د ماشوم توب له وخته په تدریجي ډول د (پښو کلکوالی، اتیتوز،

کې نشتوالی لري او پرستالیزم پدغه برخه کې منځ ته نه راځي.

- **His' Disease**

د (**His' – Werner Disease** یا **French Fever**) په انډول.

- **Hodgkin's Disease**

دا یوه خبیثه سرطاني ناروغي ده چې پکې په کلینیکي توګه په پرمختلونکي بڼه د لمفاوي عقداتو ضخامه او پرسوب منځ ته راځي دا لمفاوي عقدي پرته له درد څخه وي او د طحال ضخامه هم لري او همدارنګه په عمومي توګه د لمفاوي سیستم نښې لکه [بې اشتها کېدنه، د وزن له لاسه ورکول، تبه، خارښت، د شپې له خوا خوله وینه لرې، په وصفي ډول د(**Red – Sternberg**،حجري] شته والی لري په اغلب توګه د عقداتو ضخامه له غاړې څخه پیل او پراختیا مومي.

- **Hodgson's Disease**

دا د ابهر مرکزي برخې ته نږدې د اینریزم اتساع ده چې اغلباً د زړه د هایپر تروفي او تساع سره مل وي.

- **Hoof and Mouth Disease**

د (**Foot & Mouth Disease**) په انډول.

- **Wookwarm Disease**

د چنګك لرونکي چنجیانو ناروغي چې پکښې(**Ancylostoma Dcudenal Or Necator Americanus**) چینجي ورګډیږي کله چې لاړوا ډول یې د پوستکي یا خولې غذا له لارې بدن ته ورننوزي د مخاطي غشا د کولمو له لارې وینه زیښي چې د(ګېډې درد، نس ناستی، کولیکي دردونه، زړه بدوالی او وینه لرې) پیدا کوي په سپیانو کښې د(**Uncinaria Stenocephala**) پواسطه ناروغي منځ ته راځي.

- **Hunt's Disease**

د ماغزو د ناروغي له کبله د عضلاتو د کار نه کولو او نه انډولتیا شتون چې کلونیك سپزم او یا د څو عضلو صرعه منځ ته راځي.

- **Hutchinson's Disease**

دا ناروغي د پوستکي مزمنه ناروغي چې په دوبي یا اوړي تودوخه کې د اکوچنیو پاپولونو پواسطه چې رنګ الوتې بڼه لري او خارښت] ورسره وي پېژندل کیږي همدارنګه بل نوم یې پروجیریا(**Progeria**) دی، د (**Hutchinson Gilford Disease**) په انډول.

- **Hutinel's Disease**

د کبد سیروزس، د ماشومانو د زړه د نري رنځ او د کبد سیروز او حبن ناروغي ده چې د لاس او پښو د پرسوب سره مل وي او همدارنګه ښایي چې سیانوز هم ورسره وي.

- **Hyalin Membrane Disease**

د هیالین غشائي ناروغي.

- **Hydatid Disease**

د هایداتید ناروغي د اکینوکوکوس پرازیت پواسطه منځ ته راځي.

- **Hydatid Disease of Alveolar**

د هایداتید ناروغي په اسناخو کې د اکینوکوکوس مولتي لوکولاریس په واسطه د سږو په اسناخو کې سیست او پتالوژیکه پروسه منځ ته راوړي.

- **Hemoglobin Disease**

دا ارثي مالیکولار ناروغي ده چې په سرو کریواتو کې ببلا ببل ډولونه غیر نورمال د هیموګلوبین شتون لري چې هموزایګوس ډول یې هیمولایتیک انیمیا یا وینه لرې سره مل وي.

- **Hemolytic Disease of Neoborn**

ایریتروبلاستوزس فیتالیس، د نوی زېږېدلو ماشومانو د وینې هیمولایتیک ناروغي ده، د (**Erythroblastosis Fetalis**) په انډول.

- **Hemorrhagic Disease Epidemic**

دا راز ناروغي په اپیډیمیکه توګه وینه بهېدونکي ناروغي منځ ته راځي دا انتاني حاده ناروغي ده چې د [تبې، پورپورا کولاپس او پښتورګو عدم کفایه] ورسره مل وي دا ناروغي د یو ډول کوچنیو غښو نه کورنۍ څخه حشراتو پواسطه اخته کېدنه منځ ته راوړي.

- **Hemorrhagic Disease of Newborn**

د ماشومانو د زېږېدنې وروسته په لومړیو څو ورځو کې وینه بهېدنه ده چې په بنفسهي توګه سمون مومي او بڼه کیږي چې د[**Vitamin.K**] او(**X, Ix Vii, II**فاکتورونو] اړوند د نشتوالي له کبله ده.

- **Henderson Jones Disease**

د هډوکو او غضروفونو تومور دی چې د بندونو د چاپېریال برخو کې ډېر زیات خارجي غضروفي اجسام او یا د زلالیه کڅوړې کې یوه پاڼه د تېندون(**Tendon**) پېژندل کیږي.

- **Henoch's Disease**

د هینوخ شوئن لاین پورپورا چې د هضمي جهاز اختلال ورسره مل وي او د مخاطي غشا لاندې د پورپورا شتون تثبیت کیږي.

- **Hepatolienticular Disease**

دا د کبد یا ځیګر او سترګو دتور [کسي (عدسي)] پرمختلونکي استحالوي ناروغي ده چې په ګډ ډول منځ ته راځي.

- **Her's Disease**

دا (**Type VI**) ډول ګلایکوجنوزس چې پکښې په کبد کښې فاسفورایلیز انزایم شتون نلري او په ځیګر او لوکوسیتونو اغېزه کوي او پکښې د [کبد ضخامه او هایپوګلایسیمیا او همدارنګه خفیفه اسیدوز او د وډي وروسته والی] هم پیدا کیږي.

- **Herter's Disease**

دا ناروغي په ماشومانو کې نس ناستی منځ ته راوړي چې د وډي نیمګړتیا منځ ته راوړي او ناروغ د لږ رنګ لرونکی ډېر غوړو سره مل د ډېر اندازې غایطه مواد (غول) کوي بل نوم یې(**Non Tropical Sprue In Child**) دی ، د (**Herter Heubner Disease**•) په انډول.

- **Hip Joint Disease**

د فخذي حرقفي مفصل د نري رنځ ناروغي.

- **Hippel's Disease**

د (**Von Hipples Disease**) په انډول.

- **Hirschprung's Disease**

د ماشومانو په ولادي توګه د کولمو میګاکولون پدې ناروغي کې د (**Missner**او **Aur Bach** عصبي عقدي) د عضلي او تحت المخاط په طبقه

د (**Hyperphosphatasia**) په انډول.

- **Kahler's Disease**

دا ناروغي د متعددو میلوما تومورونو شتون دی چې خبیثه تګ لاره لري د هډوکي ماغزو لومړنی ټومور ګڼل کیږي چې(هایپرپلازي او پروتین یوریا ورسره مل وي) پواسطه ځانګړی کیږي ناروغ د عصبي دردونو د شتون څخه شکایت کوي وروسته بیا د کوپړۍ د برخې درد پیدا کیږي بعضاً د هډوکو بنفسهي ماتېدنه هم منځ ته راځي، د (**Multipl Myeloma**) په انډول.

- **Kaposi's Disease**

دا نادره خو وژونکي ناروغي ده د[پوستکي د قهوه یې رنګه قرحاتو او عضلاتو اټرفي او د پوستکي تلانجیاکتاري پواسطه پیژندنه کیږي همدارنګه د پوستکي پوستولونه چې ویروسي منشه لري د پخوانیو اګزیمائي برخو لپاسه چې د ویروسي تبخال (اګزیما هرپیتیکوم)، واکیسنیا (اګزیما واکیسناتوم) په څېر وي او یا هم ایدیوپتیک وینه ورکونکی سارکوما په څېر دی[ليدل شی.

- **Kaship- Back Kashier's Disease**

د محیطي مفصلونو او(**Spin**) نتو د برخو استحالوي ناروغي ده دا ناروغي د شرقي برخو لکه چین، کوریا، سیمو اندیمیکه ناروغي ده او داسې فکر کیږي چې د لوبیا د فنګسونو پواسطه د منتن کېدنې او د هغوی د خوړلو وروسته منځ ته راځي او لامل یې همدا ګڼل کیږي.

- **Katayama Disease**

د (**Schistosomiasis Japanica**) په انډول.

- **Kien Bock's Disease**

په کراره سره پرمختلونکي د اوستیو کاندروزس چې د(**Lunate**) هډوکي پورې اړوند ده دا ښایي د مړوند بند اخته کړي او د مړوند درد لامل وګرځي.

- **Kinky Hair Disease**

د (**Menkes Syndrome**) په انډول.

- **Klebs Disease**

د کلبز ګلومیرولو نفریټ ناروغي ده دا ناروغي په حاد، مزمنه او تحت الحاده توګه منځ ته راځي او معمولاً په ثانوي انتاني پروسې له کبله وي په ځانګړي ډول د هیمولایتیک استرپتوکوک له کبله په ثانوي توګه منځ ته راځي.

- **Klein's Disease**

دا د الوتونکو او چرګانو تر منځ ساري حاده ناروغي ده چې د شګیلا ګالیناروم پواسطه منځ ته راځي.

- **Kliple's Disease**

د ارتریت له کبله د بندونو عمومي کاذب پرالایزس.

- **Kohler's Bone Disease**

دا د هډوکو بدشکله بڼه اخیستل دي چې په ماشومانو کې د تارس نویکولار هډوکو او سیتو کاندروزس د دوهم میتاتارس هډوکي پېړوالی او د مفصلي هډوکي بدلون. دا ناروغي په ګوډه توګه تګ او د هډوکي په برخه کې د درد احساس او د ودرېدنې په وخت د درد شدت منځ ته راځي.

- **Hydatid Unilocularis**

دا هم د هایداتیډ ناروغي ده چې د یو پوښاکي (حباب) په څېر د اکینو کوکوس ګرانولوز د لاروا له کبله یو واحد سیست منځ ته راځي.

- **Idiopathic Disease**

ناڅرګنده ناروغي. دا هغه ناروغ دی چې د کومې ځانګړې ناروغي پورې اړوند ندی او همدارنګه د هغوی لپاره لاهم علت نه دی تثبیت شوی.

- **Immune Complex Disease**

د ایمیون کمپلکس د منځ ته راتګ له کبله د ناروغي منځ ته راتګ چې بالاخره حاده یا مزمنه ناروغي منځ ته راوړي.

- **Immuno Deficiency Disease**

د معافیت د نشوالي ناروغي.

- **Inclusion Disease**

دا هغه راز ناروغي ده چې د حجراتو په منځ کې مواد راتولیږي او انکلوژن بادي جوړوي او دغه جسم پکې تثبیت کیږي.

- **Infection Diseas**

دا انتاني ناروغي. دی چې د ببلابېلو انتاناتو پواسطه منځ ته راځي او د یوه څخه بل ته د انتان لېږدېدنې له کبله منځ ته راځي.

- **Inflamatory Bowel Disease**

د کولمو التهابي ناروغي.

- **Insect Borne Disease**

د حشراتو د چیچلو پواسطه منځ ته راتلونکي ناروغي چې د حشراتو پواسطه یوه ناروغي له یوه څخه بل ته لېږدول کیږي.

- **Intercurrent Disease**

دا ډول ناروغي د بلې ناروغي په لړ کې منځ ته راځي.

- **Iron Storage Disease**

چې د لومړنی ناروغي پورې کوم تړاو نه لري د اوسپنې زېرمه کېدونکي ناروغي د هیموکروماتوزس پنوم هم یادیږي.

- **Jaksch's Disease**

دا په نوي زېرېدلو ماشومانو کې کاذب ډول لوکیمیا سرطاني ناروغي ده چې د دري کالونو څخه په لږ عمر ماشومانو کې لیدل کیږي چې پکې[(**Anisocytosis**)، پولي کیلوسایتوزس، د سروکریواتو اومه بڼه د سپینو کریواتو لوړه اندازه، د لمفاوي غدواتو غټوالی، د طحال او کبد ضخامه] لیدل کیږي په پایله داسې سندروم ګڼل کیږي چې د[خوراکي موادو (تغذیې) اختلال، مزمن انتاني ناروغي، د جذب اختلال او د هیموګلوبین اړوند ناروغي] لیدل کیږي.

- **Johnson Stevens Disease**

دا د اریتیما مولتفورم رتې او د خولې د مخاطي غشا د تفلس او مقعد او قضیب تفلسي ناروغي ده.

- **Johne Disease**

معمولاً مزمن د څاروپو د کولمو التهاب دی همدارنګه د(غوایانو پرته، پسونه، وزې، هوسی) هم اخته کوي د مایکوباکتریوم پارا توبرکلوزس یې عامل دی.

- **Juvenile Paget Disease**

- **Korsakoff's Disease**

دا یو ډول پسایکوز ناروغي ده چې په مزمنو الکهولي عادت لرونکو ناروغانو کې لیدل کیږي او د درک اختلال لري حساسیت د بهرنیو پارېدنو په وړاندې منلې بڼه لري حافظه ضعیفه که چېرې د ناروغ څخه پوښتنه وشي په ځواب کې داسې څه وایي چې اړوند نه وي په بعضې حالتونو کې د پولي نیوریت نښې منځ ته راځي چې مړوند بند څخه لاس څوړند او شل پروت وي.

- **Krabbe's Disease**

دا فامیلي ناروغي ده چې د لېوکو انسفالو پتي په څېر د ماشومتوب له وخته پیل کوي پدغه ناروغانو کې سیرامایډ ګلکټوزیدونه په انساجو کې راټولیږي او د بیتاګلکټوزیدیز انزایم نشتوالی لري د کلینیک له پلوه پدغه ناروغانو کې په چټکه توګه د عصبي سیستم (**Demyelination**) او لوی ډوګلوبوئید اجتسام په سپین موادو (**White Substance**) کې لیدل کیږي.

- **Kuf's Disease**

د (**Juvenile Amaurotic Idiocy**) مؤخر بڼه ده.

- **Kugelberg Welander Disease**

دا په ارثي توګه د ځوانانو په منځ کې د عضلاتو د ضمور یا اټروفي ناروغي ده دا د نخاع د قدامي شاخ د ناروغیو له کبله منځ ته راځ ددې ناروغي تېرې د (**2- 17**) کالونو منځ کې وي.

- **Kummell's Disease**

د ملا د تیر د فقراتو د فشار له کبله ماتېدنه ده دا حالت څو اونۍ وروسته له ضربې (ترضیض) څخه منځ ته راځي د (فقراتو درد د پښتیو نیورالجي، حرکي اختلال په لینګو کې او د کیفوز) منځ ته راتګ چې د بسط د حرکت په وخت دردناکه وي.

- **Kyasanur Forest Disease**

دا یوه ویروسي ناروغي ده چې د بیزوګانو تر منځ وژونکې بڼه لري او (**Kayasanur**) په ځنګل کې په هندوستان کې پېښې منځ ته راځي دا انسانانو ته لېږدېدونکی ده چې وینه بهېدنه منځ ته راوړي.

- **Haennec's Disease**

دا د کبد د سیروز ناروغي ده چې د ډېرو الکهولو خوړلو له کبله منځ ته راځي همدارنګه د سوري کبدونکي اینوریزم معنی هم ورکوي.

- **Leber's Disease**

اټروفي او اماوروزس ته پاملرنه وکړي.

- **Lederer's Disease**

دا حاد ډول وینه لرې ناروغي ده چې د سرو کریواتو هسته لرونکې بڼه منځ ته راځي او لولوسستونه هم لوړه اندازه خرګندوي.

- **Legionnairies Disease**

دا د ګرام منفي باسیلونو پواسطه منځ ته راځي چې ځینې وختونه وژونکې بڼه لري لامل یې (**Legionella Pheumophila**) باسیل دی دا ناروغي له یوه کس څخه بل کس ته نه لېږدول کیږي (لوړه تبه، د هضمي جهاز درد سر دردی، پنومونیا، او ښایي پښتورګي او کبد او عصبي سیستم) هم اخته کوي او د هغوی اړوند کلینیکي نښې نښانې منځ ته راوړي.

- **Leiner's Disease**

د (**Erythroderma Desquamativum**) په انډول.

- **Leriche Disease**

د (**Sudeck's Atrophy**) په انډول.

- **Lettere Siwe Disease**

دا د اندوتیلیال سیستم ناروغي ده چې د ماشوم توب په وخت کې راښکاره کیږي، دا ناروغي (په پوستکي کې غبرګونیزه بڼه وینه بهېدنه او اکزیمائي اندفاع ګاني ، د کبد او طحال او لمفاوي غدوات ضخامه او غټوالی او پرمختلونکي وینه لرې) منځ ته راوړي.

- **Lewandowsky Lutz Disease**

دا فامیل ناروغي ده چې د اپي درم د پاڼو او طبقو کې نیمګړتیا د دایروي پاپولونو سره مل په سره رنګ سره لېواله د لاسونو او پښو پر مخ راخرګندیږي.

- **Libman Sacks Disease**

د (**Atypical Verrucou Endocarditis**) په انډول.

- **Lignac Fanconi Disease**

د (**Fanconi's Syndrome**) په انډول.

- **Lindau Disease**

دا ناروغي د مخ انجیوما تومور دی چې معمولاً سیستې لرونکی دی او د (سترګو شبکې د همانژیوما ، د معدې د پیلور پولي سیستیک حالت او پښتورګو پولي سیستیک بڼه) ورسره شتون لري، د (**Lindau Von Hippel Disease**) په انډول.

- **Lindau Von Hippel Disease**

د (**Lindau Disease**) په انډول.

- **Lipschutz's**

د تناسلي غړو یا مهبل او فرج چټکه وده کوونکې او پرمختونکې قرحه (**Ulcer**) دی لامل یې تل د کراسوس یا سیلوس عامل دی غیر مقاربتي منشه لري او د فرج غیر زهروي ناورغ یې هم ګڼل کیږي.

- **Little Disease**

دا د سپزمودیك ډول فلج څخه دی چې ولادي منشه لري د ماغزو د پایرامید لارې د ودې د نشتوالي له کبله منځ ته راځي.

- **Lobstein's Disease**

دا د هډوکو منځ ته راتلو ارثي بڼه نیمګړې ناروغتیا ده چې پکې هډوکي پاسته وي او د ژېړ ژر ماتېدونکي بڼه لري پدې صورت کې ښائي چې د جنین هډوکی د مور د رحم په منځ کې په جنیني دوره کې مات شوی وي بل ډول یې (**Tarda**) پنوم یادېږي چې ماشوم ته د غوړځېدنې له کبله د هډوکي ماتېدنه پېښېږي.

- **Lowe's Disease**

د (**Oculocerebro Renal Syndrome**) په انډول.

- **Lucas Championnier Disease**

دا مزمن پسودوممبران برانشیټ ناروغي ده چې د ډېرو سختو او زیاتو زورونکو ټوخي سره مل وي همدارنګه د نفس تنګی (**Dyspnea**) په څېر څرګندیږي د بلغم یا خراشکي په کتنه کې د (شارکولیدن کرستیالونه، دایوزینوفیل حجري) لیدل کیږي.

پرمختلونکی نیوروپتیک عضلاتي اټروفي د نخاع د خلفي برخې د حجراتو د استحالې له کبله دی دا حالت د نخاع د چاپیریال له برخې پیل کیږي او په تدریج سره لاسونه او متو نه اخته کوي.

- **Mauriac Disease**

د سیفلیس له کبله د عقداتو اریتیما ده چې اندفاع په ګرده بڼه سور رنګ لرونکې دردناکه بڼه لري عموماً د روماتیزم د دردونو په څېر دی او د سیفلیس وخیم او ناوړه او خطرناکه ډول ګڼل کیږي.

- **Mc Ardle's Disease**

د (**Type -V**) ګلایکو جنیزس ناروغي چې پدغه ناروغي کې د عضلاتو فاسفورایلیز انزایم نشتوالی په اسکلیتي عضلاتو اغېزه اچوي او تمریناتو په وخت عضلات ستړي وي او قوت نلري.

- **Made Lung's Disease**

یو ډول د بڼې بې شکلي (دیفورمیتي) ده چې د دیفورمیتي تر لغت لاندې ورته پاملرنه وکړي.

- **Marburg Virus Disease**

دا شدیده ناروغي ده چې د ویروس له کبله منځ ته راځي وژونکې ده پدغه ناروغي کې وینه بهېدنه منځ ته راځي او هغه کسان چې په افریقا کې د بیزوګانو په لابراتوال کې کار کوي لیدل کیږي.

- **Mediterranean Disease**

بیتاتلسیمیا (**Thalacemia -B**) ته ویل کېږي.

- **Medulary Cystic Disease**

د (**Familial Juvenile Nephronophthisis**) په انډول.

- **Menieres Disease**

دا ناروغي یا سندروم د[کونوالي، په غوږونو کې د وزوز (**Tinitis**) آوازونو، سرځرخي اکلېنیکی نښې شتون لری چې په لابیرنتایتس کې لیدل کیږي.

- **Metal Disease**

روحي ناروغي ، روانی ناروغی - عقلي ناروغی.

- **Merzbacher Pelizaeus Disease**

دا کورنۍ ناروغي ده (**Familial Centrolobar Psychosis**) پنوم هم یادیږي د تکل اختلال د حرکاتو د نا انډولتیا ، اتیتوز ، سپزم، او په هوښ او فکر کې اختلال د (**White Mater**) د اټروفي له کبله منځ ته راځي.

- **Metabolic Disease**

مېټابولیک ناروغی ، هغه ناروغي چې د میتابولیک اړوند اختلالاتو او کړنو په لړ کې منځ ته راځي.

- **Metazal Disease**

د څو حجروي حیواناتو څخه لاس ته راتلونکې ناروغي لکه د (نیماتودا، تریماتودا، سیستودا، ارتروپودا او نورو) په څېر .

- **Myer's Disease**

د حنجرې اډینوئید ویجیتیشن.

- **Mikulicuz's Disease**

مېکولیکز ناروغی، دا د مزمن ډول لمفوسیتونو ارتشاح ده چې د

- **Lumpy Skin Disease**

د غوایانو او څارویو په زیاته اندازه سره د انتاني ویرولانت لرونکې ناروغي ده دا ویروسي ناروغي ده سمدلاسه عقامت منځ ته راوړي او یا هم د پوستکي په برخه کې نور ډولونه شتون لري او وژونکې بڼه لري او ځینې وختونه مخاطي غشا هم اخته کوي.

- **Lutembacher's Disease**

دا د زړه ولادي ناروغي ده چې پکښې د مایترال دسام تنګوالی (**ASD**) د بني بطین هایپرټروفي او په پایله کې سیانوز منځ ته راځي.

- **Lutze Splendore Almeda Disease**

د (**Paracoccidioidomycosis**) په انډول.

- **Lyme Disease**

دا عود کوونکې مولتي سیستمیك ناروغي ده چې لامل یې (**Spirochate Borrilca Burgdorferi**) دا یوه مزمنه مهاجرتي اریتیما منځ ته راوړي او ورپسې د(لویې مفصلونو ارتریت، میالجي، د زړه او عصبي) نښې نښانې منځ ته راځي.

- **Lymphocystic Disease of Fish**

د کبانو (ماهیانو) لمفوسیستیک ناروغي ده چې د پوستکي لپاسه کروي او ګردي ډوله نوډولونه منځ ته راځي لامل یې ویروس دی.

- **Maple Syrup Urin Disease**

د میتابولیزم هر هغه خطا چې د لایزوزوم هایدرولیز، د نه میتابولایز ټوټو راتولېدنه په حجراتو کې د ننه او په کلینیکي توګه د انساجو په ارګان پرمختلوکې وده منځ ته راوړي دغه نوم ورکول کیږي.

- **Marchiafava Michell Disease**

دا ناروغي یو ډول هیموګلوبین یوریا ده چې یوازې د شپې له لوري پیدا کیږي او په متیازو کې هیموزیدرین شتون لري (البومینوریا، نارموکروم وینه لرې، د سپینو کریواتو لړوالی، د پلاټلیټونو لړوالی په وینه کې د ډېرو زیاتو رتیکولوسیتونو پیدا کېدنه، د ژېړې منځ ته راتګ او د طحال ضخامه) لیدل کیږي.

- **Marek's Disease**

دا د الوتونکو لمفوماتوز ناروغي ده (اعصاب، سترګه مصلي غشا، هډوکی اخته کوي لوکوسیتوز لري لمفوسیتونه یې ډېر تثبیت کیږي) او د هډوکو دیافیز برخه اخته کوي.

- **Marie's Disease**

دا ناروغي د هورموني نا انډولتیا له کبله ده چې اکرومیګالي په څېر د لاسونو او پښو ګوتې هډوکي غټوالی مومي چې د هایپوفیز غدی ډېره کار کړنه پکښې وي پدغه ناروغي کې د بندونو التهاب د ګوتو او ساعد هډوکو د لېنګو هډوکو ته هم سرایت کوي اغلباً زړه او سږو ته په ثانوي توګه لېږدېدنه کوي.

- **Marie Strumpell Disease**

روماتوئید سپانډیلیت دی چې پیل یې مخفي دی چې په نارینه وٶ کې تر څلویښت کالو عمر پورې لیدل کیږي دا ناروغان د (بندونو درد او حرکتونو اختلال لري او حوصلې، عجز او اضلاعو او ملا د فقراتو د بندونو درد) په څېر نښې نښانې لري.

- **Marie Tooth Disease**

- **Morquio's Disease**

د (**Morquio's Villrich Disease** یا **Morquio's Syndrome**) په انډول.

- **Morquio's Villrich Disease**

د (**Morquio's Disease** یا **Morquio's Syndrome**) په انډول.

- **Mortan Disease**

میتاتارسالجي د پښو حساسیت د پښو د مفصلونو او هډوکو درد چې د پښو په تلې په دریمه او څلورمه ګوته کې، د (**Mortan Syndrome**) په انډول.

- **Morvan's Disease**

دا سایرینګو میالیا یو ډول دی د ګوتو د څوکو د پرته له درده ټپ، فلج او د ساعد اټروفي او لاس اټروفي منځ ته راځي.

- **Mosaic Disease**

دا یو ډول انتاني ناروغي ده چې ویروسونه یې عامل ګرځي.

- **Moschcowitz's Disease**

دا یوه ترومبوټیک ترومبوسایټوپینیک پورپورا ده چې پکې د اوینې پلاټلټونه لړوالی مومي هیمولایټیک وینه لړي، عصبي بدلونونه، په وینه کې د ازوت پیدا کېدنه د وینې فرط فشار او پرته د کوم علت څخه ترومبوز صفراوي توتې زیاتوالی مومي او تبه] منځ ته راځي هم لري.

- **Mule Spinner Disease**

د مرغېړو په برخه کې د پوستکي قرحات دي که څه هم د خبائث سره لېوالتیا لري او په هغه کسانو کې چې ټوکرانو اوبدلو کښې کار کوي موندل کیږي.

- **Munk's Disease**

دا لایپوئید نفروزس دی چې د (اډیما، البومینوریا او د پروټیننونو او حجرو لړوالی به په وینه کې بدلون ومومي او په پښتورګو کې د کولسترول د اسټرونو حجرې په اپیتلوم طبقه کې ثابت کیږي) په څېر نښې لري .

- **Newcastle Disease**

دا د الوتونکو او کورنۍ اهلي چرګانو ناروغي ده عامل یې ویروس دی چې تنفسي او معدي برخې پواسطه ځانګړی کیږي دا ناروغي انسانان هم اخته کولای شي.

- **Nidoko Disease**

دا زهروي لمفوګرانولوما ده چې د جنسي اړیکو له لارې لېږدول کیږي لامل یې ویروس دی ددې ناروغي سره د (تناسلي غړو نسجی ضایعات ، وینه ورکونکي تبه لرونکي ناروغي) پېښېږي چې اپیډیمیک بڼه لري دا یوه حاده انتاني ناروغي ده چې پکې (پورپورا ، محیطي کولاپس، د پښتورګو حاد اختلال) منځ ته راځي.

- **Niemann Picks Disease**

دا فامیلي ناروغي ده چې د کبدي ضخامي ژېړ قهوه ئي رنګ ته د پوستکي اوښتنه، د عصبي سیستم او د هډوکو د ماغزو، کبد، سپرو، طحال په برخه کې د ګرانولر (خاکې ډوله) رټیکولار حجرو پیدا کېدل کیږي دا حجرې هغه هستوسیتونه دي چې ځانګړي فاسفولېپیډونه د لیستیین او سفینګو میالین له ډوله په خان کې زېرمه کوي.

اوښکو د غدی غټوالی او د لاړو د غدواتو ضخامه هم منځ ته راځي چې لامل یې لا هم معلومه ندی دا ناروغي د نورو ناروغیو لکه د (سارکوئیدوز، لمفوما او کولاجن) ناروغیو سره مل لیدل کیږي.

- **Milk Born Disease**

هغه ناروغي چې د شیدو خوراک له لارې منځ ته راځي.

- **Milroy Disease**

دا ارثي ډوله دایمي یا تلپاتي لمفاوي اذیما ده چې د پښو د لمفاوي رګونو د بندښت له کبله منځ ته راځي.

- **Minamata Disease**

دا د عصبي ناروغي ده چې د (محیطي اعصابو پاراستیزي، اټاکسي، د تکلم اختلال، دلیدنې اختلال) د الکایل مرکیوري د مسمومیت له کبله منځ ته راځي چې تلپاتي عقلي فکري ناتواني یا مرینې سبب ګرځي.

- **Minor's Disease**

هماتومیالیا او یا هم عصبي مرکزي سیستم ته د وینې ننوتل بلل کیږي.

- **Mitchell's Disease**

د نهاینونو ناروغي په ځانګړي ډول پښې اخته کوي دې ناروغي سره د دواړو لورو ته د رګونو اتساع منځ ته راځي دا ناروغي د درد سوزېدنې د پوستکي سوروالی او د پوستکي د تودوخې احساس سره مل وي.

- **Mixed Connective Tissues Disease**

د منضم نسج ګډ ډول ناروغي لکه د(سکلرودرما، مایوزیت، سیستمیک لوپوس اریتیماتوزس، روماتوئید ارتریت او نور) په څېر .

- **Mobius Disease**

پریودیك نیم سری د اوکولو موتور عضلاتو فلج سره مل وي.

- **Molecular Disease**

هغه ناروغي چې پکښې ناروغي د یوه مالیکول پورې اړوند وګڼل شي معمولاً د پروټین د غیر نورمال جوړښت او یا لړوالي پورې اړوند وي.

- **Mondor's Disease**

هغه د وریدونو التهاب (فلیبیت) دئ چې معمولاً په جنبي توګه د سینې او تیبونو او اپي ګاستریک د پوستکي لاندې غټ ورید اخته کوي دا حالت ښایي په دواړو نارینه او ښځو جنس کې ولیدل شي.

- **Monge's Disease**

د غرونو د لړی مزمنه ناروغي.

- **Morel Kraepeline Disease**

مخکې له وخته لېونتوب رسیدل د وخت څخه د مخه د عقل زوال دی چې پسیکوز له ډلې ناروغي ده د ځواني یا لږ څه وروسته له ځواني پیل کوي د درک اختلال لري، د بهرنۍ محیط او چاپېریال سره اړیکه غوڅوي او شخصیت یې له منځه ځي ساده او پارانوئید ډولونه لري.

- **Morgagni's Disease**

د کوپړۍ په هډوکو کې له سره اوستیوجنیزس چې د تندي په برخه کې منځ ته راځي چې د هډوکو د داخلي سطحې برخه کې د قطعاتو په څېر منځ ته راځي.

- **Nodule Disease**

دا د پسونو ځانګړې ناروغي ده چې یوه کوچنی چینجی (**Azophagostama Colombianum**) پنوم منځ ته راځي دا د مخاطي غشا په برخه کې په کولمو کې ځان ننبلوي او هلته کوچنی نودولونه منځ ته راوړي.

- **Norrie's Disease**

د (**X- Linked**) تشوش دی چې پکې په متناظر ډول د رتینا ملفورمیشن، عقلي روسته والي (تأخر) او کوږوالی شتون لري.

- **Notifiable Disease**

اړتیا ده چې په فدرالـه، دولتي، روغتیائي مرکزي دفتر کې د پېژندل شوبو ناروغیو راپور جوړ کړي ځکه چې د ناروغیو انتاني حالت، شدت او واقع کېدنې فریکونسي باید د درملنې په پلانونو کې په راتلونکې په پام کې ولرل شي دا د احصایوي ډول ناروغیو له ډلې څخه شمېرل کیږي.

- **Oasthouse Urin Disease**

د (**Methionin Malabsorption Syndrome**) په انډول.

- **Occupational Disease**

وظیفوی ناروغی ، د دندې (کاروبار) سرته رسولو اړوند ناروغي.

- **Oguchi's Disease**

په جاپان کې د ارثي ډول د شپې له خوا پروندوالی ناروغي.

- **Ollier's Disease**

دا ډیسکاندروپلازي ده چې پکښې د غضروفونو او د هډوکو د دیافیز په برخه کې د ودې اختلال شتون لري او همدارنګه په هډوکو کې او غضروف کې تومورونه منځ ته راځي.

- **Oppenheim Urbach Disease**

دا یو ډول د شکري یا ډیابت ناروغي له کبله درماتوز دی چې په ځانګړې توګه د (تحت الجلد استحاله او پوستکی الاستیکي کېدنه ، د کولاجن نسج استحاله) ورسره مل وي همدارنګه (**Amyotonia Congenita**) هم ورته ویل کیږي.

- **Organic Disease**

عضوي ناروغي، د غړو ناروغي، پدې حالت کې د یوه غړي په نسج او جوړښت کې بدلون منځ ته راځي.

- **Osgood Schlatter Disease**

د قصبي (**Tebia**) د هډوکي د توبروزیتي اوستیو کاندروس ناروغي ته ویل کیږي.

- **Oster Disease**

دا یو ډول ارثي ناروغي ده چې پکې علت معلوم ندی د سره کریواتو زیاتوالی (**Polycythemia Vera**) او هیموراژیک تلانجیکتازي شتون لري او د [طحالی ضخامه، لوکو سیتوز، ترومبوسیتوز، د هډوکو د ماغزو هایپر تروفي، او سر ببره پر دي د لوکوسیتونو پلاټیلتونو زیادښت] پواسطه پېژندنه تر سره کیږي او د وینې اختلال میلوسیتیک لوکیمیا سره اړیکه لري او په ځینې ناروغانو کې (**Myeloproleferative**) اختلال ورسره وي ، د (**Osler Vaquez Disease**) په انډول.

- **Owren's Disease**

د وینې د پرن کېدنې د (**Factor- V**) نشتوالی دی چې پدغه ناروغي کې د وینې نه پرن کېدنه (**Coagulopathy**) شتون لري.

- **Paas's Disease**

دا یو ډول فامیلي ارثي ناروغي ده چې پدې کښې د بدن د بنې بد شکله کېدنه منځ ته راځي لکه د [فخذ غاړې او تنې تر منځ د عادي زاویې زیاتوالی چې د (**140°**) درجو څخه ډېر والی مومي، د ګوتو د بندونو لنډوالی د جنب لوري ته د ملا د تیر کوږوالی، د ملا د تیر د فقراتو التهاب] شتون لري.

- **Paget Disease**

د پجټ ناروغي، او ستیټ هغه بڼه ده چې پکې (هډوکی ورستېږي ، هډوکی کوږوالی مومي، د تیبیونو د څوکې سرطاني ناروغي) حالتونه شتون لري

- **Panner's Disease.**

دا د دوهم میتاتارس ناروغي ده چې د هډوکي جسم پېړوالی مومي د میتاتارسونو د مفصلونو درد د تګ او لاړې په صورت کې منځ ته راځي چې دا ناروغي د (ډوهم کهلر) ناروغي پنوم هم یادیږي.

- **Parkinson's Disease**

د پرکیسون ناروغي، دا ناروغي یوه ثابته بڼه لري ناروغ پدې کې [په لنډ ډول قدم ږدي او ژر ژر خي د عضلاتو ضعف او سستي ورسره مل ده ښایي ناروغه خوله وکړي د بدن لاسونو او پښو رېښدنه لري لاسونه یې د تنې تر څنګ نیولې بڼه لري] ننبښي شتون لري ، د (**Paralysis Agitans**) په انډول.

- **Paroxysmal Disease**

پروکسیزمال ناروغی، ناڅاپه نیونکي ناروغي، ددې ناروغي تیری او حمله په ناڅاپي او مؤقته بڼه لري.

- **Parrot Disease**

پسیټاکوزس ناروغی ، د (**Psittacosis**) په انډول.

- **Parrot's Disease**

د کاذب پرالایزس تر نیولیك لاندې شرحه راغلې.

- **Pearl Disease**

د غواګانو د میزانتر او پریتوان د نري رنځ ناروغي ده.

- **Pelizaeus Merzbacher Disease**

دا ارثي فامیلي تصلبي یا سنترولوبر- سکلروتیک ناروغي ده په نادره توګه پېښېږي د [خبرو کولو یا تکلم اختلال، حرکتي نا انډولتیا ، اتیتوزس، د ذهن او روانی ویجاړېدنې سېزم] د (**White Matter**) د ضمور اټرفي له کبله منځ ته راځي.

- **Pellegrinie's Disease**

د زنګون د بند د انسي کولاترال لیګامنت تکلس یا کلسیلیکیشن د ترضیض له کبله منځ ته راځي.

- **Pellegrini Stieda Disease**

د (**Pellegrini Disease**) په انډول.

- **Periodic Disease**

دوره یې ناروغي، هغه ناروغي چې دوره ئي بڼه لري پوې کې (راجعه تبه په منظمه او متناوبه توګه، اذیما د مفصلونو درد، د معدې درد زړه بدوالی) شتون لري دا ناروغي د کلونو لپاره پرته لدې چې نور غړي اخته وي منځ ته راځي.

انجیونیوروتیك اډیما ، چې په‌ناڅاپه توګه د پوستکي یا مخاطي غشا پرسوب کوي دا پېښه اکثراً د (درموګرافي، کهېر، ایریتیما او پورپورا) سره مله وي ښایي سرچینه یې الرژیکه، عصبي یا پرته له کومه عامله وي.

- **Quinquaud's Disease**

دا یو ډول زوی (قیح) لرونکی فولیکولیټ دی چې د کوپړۍ په پوستکي کې د بې نظمۍ ټاپې ډوله ځایونه جوړوي چې هلته وېښتان شتون نلري دا ناروغي د (Acne Decalvance) پنوم هم یادیږي.

- **Raasorter Disease**

د تور ټپ ناروغي ، د خوراړې ناروغتیا ، د (Anthrax) په انډول .

- **Raynaud Disease**

د رینو د ناروغي، د رګونو لومړنی اختلالي ناروغي ده چې دواړه لورو ته په متناظر ډول منځ ته راځي پدې ناروغ کې د (لاسو او پښو د ګوتو څوکې کرختي، وینه نه سیدنه، او حتی د ګانګرن ناروغي) منځ ته راځي ښځې نسبت نارینه وُ ته ډېرې اغېزمنې کیږي. په اخته بعیده برخه کې رنګ الوتې برخه د شینوالي - سره سیمه په ځانګړي ډول د (لاسونو پښو، غوږ او پوزې په څوکو) کې منځ ته راځي د سړې هوا په وخت دا ناروغي شدت اخلي او هیجان او اضطراب دغه ناروغي زیاتوي د ستوني د عضلاتو فلج هم کېدای شي فلج شي.

- **Recklinghausen's Disease**

1 - متعدد ډول نیوو فیبروما چې دا فامیلي ارثي ناروغي ده چې پکې د (ژیق لرونکی تومورونو پواسطه چې د پوستکي، تحت الجلد او شوان پوښ (Shwann- Sheet) نسج څخه جوړ دی) لیدل شی. **2**. فیبروسیستیک اوستینا دا هم د هډوکو ناروغي ده چې فیبروتیک استحاله د کڅوړې په څېر جوړښت په هډوکو کې منځ ته راځي علت یې د پاراتایرایډ غدی ډېر کار کول دي.**3**. د بندونو هغه ډول نیوپلاستیک التهاب چې د بند بڼې ته بدلون ورکوي.

- **Rheumatic Heart Disease**

د زړه روماتیك ناروغي.

- **Rhenmatoid Arthritis Disease**

د بندونو روماتیک التهاب ناروغي.

- **Rheumatoid Diseases**

هر ډول دروماتیزم د ناروغي له کبله منځ ته راغلی حالت.

- **Ritter's Disease**

دا د پوستکي ناروغي ده چې پکې د پوستکي تفلس ضایعات شتون لري او اکثراً په ماشومانو کې لیدل کیږي.

- **Roger's Disease**

دا اصطلاح تل د یوه ډېر کوچنی نقیصې لپاره پکار وړل کیږي ، د (Ventricular Septal Defct) په انډول چې لنډه نښه (VSD) یې ده.

- **Reiter's Disease**

دا د نارینه وُ ځانګړي ناروغي ده چې (لومړی نس ناستی ورپسې یورتریت د سترګو پرسوب، پولي ارتریت د بندونو پرسوب په مهاجرتي ډول) شته والی لري او ورسره د پوستکي کراتوتیک ضایعات شتون لري.

- **Periodontal Disease**

د پریودنت هره ناروغي چې وي.

- **Perthes Disease**

د فخذ د هډوکي د کپیتولوم د اپې فیز برخې او ستیو کاندروز.

- **Pfeitter's Disease**

دا د مونو نوکلیئر ډول حجراتو لرونکی انتاني ناروغي ده ناڅاپه په حاده توګه پیل کوي، حاده تبه پرسوب او د غدواتو التهاب د غاړې په برخه کې پېژندنه تر سره کیږي دري کلینیکي ډولونه لري [پیتر ډول (Pfeitter's Type) یا غره ډوله، انجین ډوله (Angina Type) ، تبه لرونکي ډول (Fever Type)] په څېر.

- **Pick's Disease**

د پیک ناروغي ، دا د لوبراټروفي ډول دی چې پکې د (حبن ، د کبد فیروتیك ناروغي او کانسټریکتیف پریکارډیټ ورسره مل وي، د ذهن ناتواني د تکلم اختلال ورسره مل) لیدل کیږي ډولونه یې [د ارنولد پیک (Arnold Picks Disease) ناروغي، پي- جي پیک (P.J. Picks Disease) ناروغي، د فریډل پیک (Fridle Picks Disease) ناروغي ، نیمان پیک (Neimann Picks Disease) ناروغي] دی، د (Arnold Picks Disease) په انډول .

- **Polycystic Kidneys Disease**

دا د پښتورګو سیستیک ولادي ډول انومالي ده چې په دواړو لورو پښتورګو کې په متعدد (ګڼ شمېر) ډول سیستونه شتون لري.

- **Polycystic Ovarian Disease**

دا هغه ډول د هګۍ خالي د ډېر سیستونو درلودونکي ناروغي ده چې پدې ناروغي کې د (اندروجن هورمونونه ډېر افرازیږي او د ناریښتوب نښې نښانې او عقامت) ښکاره کیږي ، د (Stein Leventhal Syndrome) په انډول.

- **Pompe's Disease**

د (Type II) کلایکو جنیزس ناروغي ده چې پکې (A- 1- 4 Glycosidase) انزایم نشتوالی لري چې ورسره د (زړه لویوالی، او د زړه او سږو عدم کفایه ، ماشومان بې قوته او ناتوانه ښکاري او مړینه) منځ ته راځي.

- **Pott's Disease**

د ملا د تیر د فقراتو د نري رنځ له کبله د هډوکو التهاب اوستیت ناروغي ده چې پکې (د حرکت په وخت درد، د فشار په وړاندې حساسیت، د ملا د فقراتو راوتنه او کوږوالی، د ګډې د برخې درد، فلج ، د ابسي منځ ته راتلګ) پواسطه څرګندیږي.

- **Pullorum Disease**

سپین نس ناستی، دا د چرګانو او لوتونکو ځانګړې ناروغي ده پدې حالت کې په ناڅاپه توګه د (اشتها لږېدنه، کسالت او نس ناستی) څرګندیږي دا ناروغي د سلمونیلا پولوروم پواسطه منځ ته راځي.

- **Pulsless Disease**

د رګونو د بندښت پرمختلونکي ډول ناروغي ده چې پکې د (براخیوسفلیک جذع، کبن تحت الترقوي، ثباتي شریانونه د منشي برخې څخه د علقاتو له کبله بندښت ولري چې د اړوندو برخو، کوپړۍ، سترګې، مټ او لاس د برخې اسکیمیا منځ ته راوړي چې نبض هلته د جس وړ نه وي) په څېر حالتونه منځ ته راځي .

- **Quincke Disease**

ګوني عیبونه (غشائي نری هډوکی، اګزوفتالموس، د پرته له مزي دیابت ناروغي) پواسطه یې پېژندنه کیږي دا ناروغي د ایدیوپاتیک اګزیما تور مزمن ډول هم ګڼل کیږي، همدارنګه د اسکلیت د هډوکو د معدني موادو شتوالي ته هم وایي.

- **Shultz's Disease**

دا یوه حاده شدیده اګرانولو سایتوستوز ناروغي ده چې د لوکوپیني او نیوتروپیني شدید ډول دی چې د هضمي جهاز مخاطي غشا او پوستکی قرحي پکې منځ ته راځي چې پرته له درملنې وژونکي بڼه لري.

- **Sandhroff's Disease**

دا ناروغي د (**Hexosaminidose**) د انزایم د (**A** او **B**) ډول د لږوالي له کبله او (**Gmz-Gangliosidosis**) له ډوله ده او په (**Non- Jews**) کې موندل کیږي ، د (**Tay Sachs Disease**) په نامه ډول.

- **Schamberg's Disease**

د پګمنټ له ډوله پرمختلونکی ډول درماتوز دی

- **Schider's Disease**

د ماشومانو تحت الحاده یا مزمنه لوکو انسفالوپتي ده چې په کهولت کې هم لیدل کیږي پدې ناروغي کې (**White Matter**) په کتلوی ډول ویجاړېدنه کوي کلینیکي غوره نښې یې (ړوندوالی، کوڼوالی، متناظره شخوالی او د عقل او ذهن ویجاړېدنه) ده.

- **Schmort's Disease**

د فقراتو تر منځ د ډیسک فتق دی، او د سوي د نکرو باسیلوز ناروغي ته هم وایي.

- **Schol's Disease**

په ځوانانو کې په فامیلي توګه په پراګنده یا پاشلې توګه د ماغزو تصلب یا تصلب ناروغي.

- **Schonlein's Disease**

دا هغه کلینیکي نښې نښانې دي چې په لومړنۍ توګه په بندونو او هضمي جهاز مخاطي غشاء کې د پورپورا شتون دی ناروغي کله نا کله د ګېډې له درد سره وي او وینې د کریواتو بدلون ورسره وي ، د (**Henoch Schonlein Disease**) په نامه ډول.

- **Schottmuler Disease**

دا د پاراتایفوئید په څېر ناروغي ده.

- **Schridde's Disease**

په ولادي ډول سره د پارېدنې شتون.

- **Secondary Disease**

ثانوي ناروغي.

- **Septic Disease**

انتاني ناروغي.

- **Self Limeted Disease**

بنفسهي ډول محدود کېدونکې ناروغي.

- **Serious Disease**

جدي ناروغي، شدید ناروغتیاوي.

- **Renikhet Disease**

د (**Neewcastle Disease**) په نامه ډول.

- **Rice Disease**

بیري بیري ناروغي ، د ویټامین د نشتوالي له کبله منځ ته راځي او ځانګړې نښې نښانې لري ، د (**Beri Beri**) په نامه ډول.

- **Riedel's Disease**

دریډلز غوږ، دا یوه التهاب ناروغي ده چې (مزمن فیبروز او د تایرایډ د دواړو لوبونو هایپرتروفي) منځ ته راځي او کله نا کله د شزن او مجاورو انساجو برخه اخته کوي.

- **Riga's Disease**

دا ناروغي د واوري په څېر آفتونه د ضعیفوالي له کبله منځ ته راوړي دا ناروغي ښایي تر ژبې لاندې قرحي جوړ وي او ښایي وژونکې بڼه ولري د (کبد او طحال ضخامه او د پوستکي پګمنټي کېدنه) منځ ته راوړي.

- **Rose Disease**

دا په سرکوزي ځاروبو تر منځ لېږدونکی (ساري) ناروغي ده چې عامل یې ایریزیپلو تریکس اینسیدیوا دی د سرکوزي په غاړه او نورو برخو کې سره ټکي د تبې سره پیدا کیږي.

- **Rosenbach's Disease**

دا د سري مخي (سرخباد) په څېر ورته ناروغي ده چې انتاني ده او د اریزیپلوتریکس پواسطه منځ ته راځي او هغه کسان چې لاسونه یې د ماهیانو په غوښه ککړ وي لکه په کبانو (ماهي) نیوونکي او د پخلنځي کارکوونکو کې لیدل کیږي.

- **Rokitansky's Disease**

د ځیګر (ینې) ژبړه اټروفي.

- **Ross Bach's Disease**

په معده کې د (**HCl**) هایدروکلوریک اسید د ترشح زیاتوالی.

- **Rotha Disease**

د پوستکي د زویولرونکی التهاب، هغه ناروغي چې د پاراستیزي او حسي اختلال سره د ورون په بهرنۍ برخه کې مل وي د (پاراستیزي سوزېدنې، خارښت او ډېر شدید درد سره وي او یا هم ښایي یوازې د دغه برخې کرختي احساس شتون ولري خینې وختونه د خفیف هایپرستیزي حتی د انستیزي تر حده) شتون لري.

- **Sach's Disease**

دا کورنیزه (فامیلي) ارثي ناروغي ده چې د ړوندوالي سره مل وي په ماشوم کې په پرمختلونکي ډول تګلاره لري او په تدریج سره د لیدلو وړتیا له لاسه ورکوي، سیستیک فلج منځ ته راځي او بالاخره د مړینې علت ګرځي.

- **Sacroiliac Disease**

د ساکروایلیاک بند د نري رنځ ناروغي ده.

- **Schroeder's Disease**

د رحم (خلانځي) د اندومتریوم هیپرتروفیکه بڼه ده چې د شدیدې وینه بهېدنې سره مل وي د نشتوالي پورې اړوند وي.

- **Schuller's Disease**

دا د کولسترول د لایپوئیدوزس ناروغي ده د کلینیک له پلوه درې

- **Simmune Disease**

سایمیون ناروغی ، دا د ډېر ژر زېږنت ناروغي ده چې نښې يې د روانې علایمو سره مل دی او دهایپوفیز د غدی بشپړې اټروفي له کبله ده دا حالت اصلاً په بښو کې لیدل کیږي او دا ناروغی د (په پرمختلونکي خوارښت، د پوستکي غوټجوالی د تخرګ او مغبني برخو او عاني برخي د ویښتانو توئیدنه، د جنسي لېوالتیا له منځ تلل د(**Bmr**) راښکته کېدنه ورسره وي) د پېژندنې وړ ګرځی ، د (**Hypophysis Cachexia**) په انډول.

- **Simon's Disease**

د غوړو د میتابولیزم اختلال دی چې پکښې په پرمختلونکي توګه غوړینه برخه ویلي کیږي او حوصلې پورتنی برخي پرته له غوړو کیږي او د ورنونو او لېنګو په برخه کې په غیر طبیعي توګه غوړ راټولیږي.

- **Sixth Disease**

د (**Exanthema Subitum**) په انډول.

- **Sixth Venercal Disease**

د (**Lymphogranoloma Venerum**) په انډول.

- **Smith Strang Disease**

د (**Methionine YndromeTion Yndrome**) په انډول.

- **Spielmeyer Vogt Disease**

د ځوانانو کې د ړوندوالي او لېونتوب کورنی ارثي ناروغي.

- **- Sponge Diver's Disease**

دا د لامبو وهونکي ډلې اسفنجي ناروغي ده چې په سیندونو کې د اسفنجونو سره د تماس له کبله منځ ته راځي دا حالت د(تېې ریښدنې، قرحاتو او درد) سره مل وي.

- **Sporadic Disease**

په پراګنده توګه، په پاشلې توګه ځائي ناروغي دا راز ناروغي په ټولنه کې یو یو کس نیسي او ټوله ټولنه نه اخته کوي.

- **Stalk Disease**

دا په غوایانو کې د ساقه ئي اندفاعاتو په څېر ناروغي ده په پوستکي کې د ساق یې اندفاعاتو په څېر ناروغي ده په پوستکي کې د زنګون څخه بښکته برخې لینګو (ساق) کې لیدل کیږي.

- **Stargardt's Disease**

دا سترګې د ستوري په څېر ژېړ بخن ګل دی چې د ځوانې څخه د مخه په سترګو کې پیدا کیږي.

- **Steinert's Disease**

دا نادره ناروغي ده چې د عضلاتو وچوالی او اتروفي د[(غاړې، د مخ) عضلاتو اټروفي منځ ته راوړي او دا سبب ګرځي چې مخ اوږد او نری شي او خوله د خرطوم په څېر شي په تدریج سره د لاسونو او پښو لوړې ته خې او د مرغلرو د اویو سره مل وي] په څېر کلښنیک لري.

- **Stiff Lamb Disease**

د اریزیپیلوترکس انسایدیوزا له کبله د بندونو شخوالی نه حرکت چې د لاسونو او پښو په برخه کې منځ ته راځي.

- **Still's Disease**

د ځوانې د دورې روماتوئید ارتریت.

- **Serious Kidney Disease**

د بډوډو شدیدې ناروغی.

- **Serum Disease**

دا د سیروم اړوند غبرګونیزه ناروغي ده چې د یوه الرجن وروسته کله چې زرق شي منځ ته راځي او کله نا کله پخپله جوړیږي.

- **Shimamushi Disease**

د تسو تسوګاموشي دیکتزیا پواسطه منځ ته راتلونکي ناروغي ده دا ناڅاپه تبه، د پوستکي لومړنی ضایعه او د پوستکي اندفاعات چې پنځه ورځي وروسته له چیچلو منځ ته راځي.

- **Shiprard Disease**

دا ناروغي په هغه کسانو کې چې د کښتی جوړولو کارخانه کې کار کوي پدوی کې اپیدیمیک کراتو کانجکټیویت منځ ته راځي دا ډېره شدیده بڼه انتاني ناروغي ده چې پکې د استرګو اګزودات، ګردی رتې (خاپې) تراپیتلیال طبقې لاندې د کراټیټ سره ګډ ډول لیدل کیږي چې ورسره په د سر درد، ددغه برخې لمفاوي غدی غټوالی موندلاې وی) او له دغه ناروغانو څخه بنائی د (**Adeni Virous Type 8**) لاس ته راشی.

- **Shishito Disease**

دا ناروغي د تسو- تسوګاموشي پواسطه منځ ته راځي پکې د (تبه په ناڅاپه توګه، د پوستکي لومړنی ضایعه او جلدي اندفاع په پنځمه ورځ خانګړې منظره جوړوي) کلښنیکی نښې جوړوی دا ناروغي د اسکروب تایفوس ناروغي هم ګڼل کیږي.

- **Sever Combined Immune Deficiency Disease**

دا یو ډول نادره ولادي ناروغي ده چې پکښې دواړه هومورال او سل مدیټ د معافیت د سیستم کمپوننټونه نشتوالی لري یا شدیداً انحطاطي وي چې لنډه نښه یې (**SCID**) ده.

- **Sexually Transmitted Disease**

زهروي یا د جنسي اړیکو له لارې ساري ناروغي ده.

- **Sickle Cell Disease**

دا د سروکریواتو او هیموګلوبین اړوند ارثی لېږدېدونکي ناروغي ده چې پکې وینه لږې منځ ته راځي .

- **Silage Disease**

د واښو اړوند ناروغي دا په اهلي څارویو لکه پسونو کې د شنه واښو خوړلو له کبله د سربرالیس سنوروس انتان له عامله د ماغزو او نخاع ناروغي ده چې نشي کولای بښه په لاره تګ وکړي.

- **Silk Stocking Disease**

د پښو د ورېښمو په څېر د پوستکي ناروغي د پښو د لینګو سوروالی پیدا کیږي په خانګړې ډول په بښو کې وي چې دا سوروالی توربخن کېدنه مومي په ساړه موسم کې ډېروالی مومي.

- **Sillo Filler Disease**

دا یو ډول غبرګونیزه مزمنه التهابي ګرانولوماتوز ناروغي ده چې په بین النسجي نسج کې د (سړو د دوړو، خاورو وښو، فنګسونو یا عضوي مواد د راټولېدنې) له کبله منځ ته راځي او هغه کسان چې په سیلوګانو کې کار کوي هغوی کې ډېر موندل کیږي.

تېرېدنې وروسته نښې نښانې رجعت کوي.

- **Takayasu's Disease**

پرته له نبض څخه ناروغي، د (**Pulsless Disease**) په انډول.

- **Tangier's Disease**

دا فامیلي کورنۍ ارثي ناروغي ده چې د درندو لایپوپروتینو لرېوالی په سیروم کې تثبیت کیږي او همدارنګه په تانسلونو کې د کولسترول ایسترونه او همدارنګه د بدن په نورو برخو کې هم زېرمه کیږي.

- **Taruis's Disease**

پدغه ناروغي کې د(**Phosphofructokinase**) نقیصه یا نشتوالی په عضلاتو او ایریتروسایتونو اغېزه اچوي په عضلاتو کې د تمرین څخه وروسته مؤقتي کرامپونه او ضعیفوالی منځ ته راوړي، د (**Glycogenesis Type VII**) په انډول.

- **Tay`s Disease**

د سترګو د مشیمې د برخې استحاله ده چې ژېړ رنګ لرونکی خاپې پکښې منځ ته راځي دا حالت د رګونو د اتیروما له کبله په شریان کې منځ ته راځي دا ناروغي د زېږنت په عمر کې لیدل کیږي.

- **Teschen Disease**

دا هم فامیلي ارثي ناروغي ده چې په ماشومانو کې لیدل کیږي ماشوم وروسته له څو میاشتو د ړوندوالي او ذهن له منځه تللو څخه شکایت کوي او وروسته له څه مودې مرګ منځ ته راځي حمله یې اکثراً (**3-6**) میاشتو عمر کې پیل کوي دا ناروغان د (ړوندوالی، ماکروسفالي، اختلاج، هایپوتونیا) سره مل وي او(**2-5**) کلونو عمر کې مړه کېږي.

- **Teschen Disease**

دا یو ډول وژونکی انسفالیت ناروغي ده چې په سرکوزي څارویو کې معمول ده دا ویروسي ناروغي ده لکه د انسانانو د پولیومیلیت په څېر شلېدنه او فلج منځ ته راوړي.

- **Thomsen`S Disease**

دا فامیلي ارثي ناروغي ده چې د سپږو او عضلاتو کلکوالي سره مل ده د حرکت کولو وروسته په کراره سره کلکوالی او شخي له منځه ځي.

- **Thomson's Disease**

دا هم ولادي نیمګړتیا ده چې د(هایپرکراتوټیک پوستکي ضایعاتو او اګزودرماتو وچوالي) سره مل وي.

- **Tsutsugamoshi Disease**

دا جاپاني ناروغي ده چې د یو لړ حشراتو مچانو یا میاشو پواسطه لېږدونه کوي عامل یې یو ډول ریکتسیا دی او نورې نښې یې تبه، د پوستکي اندفاع او د چیچنې په ځای کې د ټپ شته والی.

- **Tunnel Disease**

په انکیلوستوما پرازیت اخته کېدنه، د فشار د لرېدنې ناروغي د چاپېریال په هوا کې د فشار د لرېدنې له کبله په وینه کې د ازوت ګرانولونه او نورو انساجو کې هم لیدل کیږي.

- **Thyrotoxic Heart Disease**

د زړه د تایروتوکیسکوز ناروغي چې د زړه ناروغیو سره د هایپرتایرایدیزم حالت شتون لري.

- **Stokes Adams Disease**

هغه ناروغي چې د ناڅاپه بېهوښۍ حملاتو سره وي ښایي چې اختلاج ورسره شتون ولري او یا هم نشتوالی ولري همدارنګه ښایي د زړه بلاک ښایي ورسره ملتیا وکړي.

- **- Storage Disease**

د زېرمه کېدنې ناروغي د میتابولیک تشوش سره.

- **Storage Pool Disease**

دا د وینې د پرن کېدنې تشوش ناروغي ده چې پلاټلټونه عدم کفایه لري چې د (خفیف ډول وینه بهېدنې او د وینې بهېدنې وخت او موده اوږده وي او کولاجن او ټرومبین پکې لړوالی مومي) سره مل وی.

- **Strumpell's Disease**

دا په جنبي توګه د پښو ارثي ډوله تصلب او شخوالی دی، پولیو انسفالومیالیت ته هم ویل کیږي.

- **Strumpell Leichtenstern Disease**

د (**Hemorrhagic Encephalitis**) په انډول.

- **Strumpell Marie Disease**

روماتیزمل سپوندیلیټ یا د ملا د تیر د بندونو ارتریت چې علت یې معلوم ندی دا سیستمیکه ناروغي ده ځوانان اخته کوي په حقیقت کې د پاراسپاینل برخې تکلس دی چې ښایي ټول بند متکلس او په هډوکي بدل شي ، د (**Rheumatoid Spondilitis**) په انډول.

- **Sturge Weber Disease**

په سندروم کې شرحه راځي.

- **Stuttgart Disease**

د سپیانو لپتو سپایروزس ناروغي.

- **Subacut Disease**

تحت الحاد ناروغي.

- **Subchronic Disease**

تحت المزمن ناروغي.

- **Sudeck Disease**

د هډوکو وروسته شوې ښنه چې د ترضیض پسې موندل کیږي.

- **Sutton's Disease**

دا په ژبه او خوله کې د یو ډول ګرانولوما منځ ته راتګ دی چې دا ګرانولوم (کلک، محدود، سپین درز لرونکي او فیبروتیک) دی او اغلباً د ژامنې او شونډې د کوت (**Fold**) تر منځ پیدا کیږي.

- **Sweet Clover Disease**

د خوږې شوتلي ناروغي دا په غوایانو کې وینه بهېدونکي ناروغي ده چې د فاسد شویو شوتلو پاڼو د خوړلو له کبله منځ ته راځي د وینې د پرن کېدنې نیمګړتیا هم لري د کومارین ورکړه یې د درملنې لپاره ورکول کیږي.

- **Swift's Disease**

د نهایاتو درد درلودل ، د (**Acrodynia**) په انډول.

- **Sylvest Disease**

دا یو اپیدیمیک ناروغي ده چې ناڅاپه حمله لري او په صدر یا سینه کې درد منځ ته راوړي تبه د لړې مودې لپاره وي او د درې ورځو

- **Von Jaksch`s Disease**

دا ناروغي د درې کالو څخه په لږ عمر کې لیدل کیږي د[وینې سره کریوات غټ او واړه غیر طبیعي بڼه لري او (**Anesocytosis**) او (**Polakilocytosis**) او د سرو کریوات اُومه (بلاسټ**Blast**) بڼه] لیدل کیږي. سپین کریوات ډېر لمفاوي غدوات طحال او کبد غټوالی مومي دا ناروغي د ناوړه تغذیې مزمنو انتاناتو، د غذا په جذب کې نقص او هیموګلوبینو پاتې له کبله منځ ته راځي.

- **Von Willebrand's Disease**

پدغه ناروغي کې [(**BT**) اوږد محاله، د پرن کېدنې د اتم **VIII** فاکتور نشتوالی، د پلاټلیټونو د نښتني د حالت نشتوالی، د پوزې وینه بهېدنه، مینور راڅې او د زېرېدنې وروسته وینه بهېدنه] شتون لري ، د (**Conginital Hemorrhagic Diathesis**) په انډول.

- **Waldenstrom`s Disease**

د فخذي د هډوکي د کپیټولار اوسیټوکاندروزس

- **Weber Christian Disease**

پرته له تقیح څخه نودولار (**Ponnicaitis**) ته ویل شی.

- **Weil`s Disease**

د لپټوسپایروزس ژېړی چې (نفریت، ژېړی تبه د عضلاتو دردونه د کبد او طحال غټوالی) خطرناکه ناروغي ده نښې نښانې یې د لس ورځو څخه تر دوه اونیو اوږدوالی مومي.

- **Werlhof`s Disease**

ایډیوپاتیک ترومبو سایتوپینیک پورپورا.

- **Wernicke`s Disease**

دا یو ډول انسفالوپتي ده.

- **Westphal Strumpell Disease**

هیپاتولینتیکولار استحاله.

- **Whipple`s Disease**

د نس ناستي غوړینه ډول تغوط دی چې د (بندونو التهاب، خواږېدنه او ضعیفي حالت) ورسره مل دی او د کولمو په لمفاوي لارو کې غوړ راتولیږي او رسوب کوي.

- **White Muscle Disease**

د ویتامین **E** د نشتوالي له کبله د عضلاتو ډیستروفي ده، (**Stif Lomb Disease**) هم ورته وایي.

- **White More`s Disease**

دا د ژونکو څارویو او حیواناتو ناروغي ده په (هند، مالایا، چین) کې شته والی لري انسانانو ته لېږدول کیږي علت مالئومیس پسودومالئ دی ، د (**Melioidosis**) په انډول.

- **Wilson`s Disease**

د پوستکي نفلسي ناروغي ده، د سترګو د عدسي هسته ډوله پرمختلونکې استحاله د ماغزو ده.

- **Wilson Braca Disease**

دا هم د پوستکي تفلسي ناروغي ده چې د خارښت، سوروالي او غیر عادي وېښتانو توئېدنه ورسره وي.

- **Trophoblastic Disease**

د تروفوبلاستونو ناروغي.

- **Unverricht`S Disease**

دا ناروغي د متناوب کلونوس (**Clonus**) سره په ټولو عضلاتو کې شتون لري چې ورسره به (عقلي زوال د نورو پتالوژي ګانو لکه د پرمختلونکي ډول نیوریټ او خپلې وخت اختلاجي حملې) شتون ولري.

- **Urbach Oppenheim Disease**

دا د پوستکي ضایعه لرونکې ناروغي ده چې د دیابت ناروغي سره مل وي او (تحت الجلد، الاستیک مجاورو انساجو استحاله د کولاجن استحالې) سره لیدل کیږي.

- **Vagaband Disease**

د پوستکي رنګ الوتنه ده د پوتکي لپاسه د چیچنې یا وهلو له کبله د اوږدې مودې لپاره پاتې کیږي.

- **Vallee`s Disease**

د انتاني ناروغي له کبله وینه لږي دا ناروغي په آس او د آس کورنۍ په ډله کې لیدل کیږي تبه کسالت ورسره وي همدارنګه انسانانو ته هم سرایت کولای شي چې وینه لږي، نیوتروفلیا ، او لمفوستوز لري.

- **Venereal Disease**

زهروي یا د جنسي اړیکو له لارې د انتان ناروغیو لړېدنه لکه سیفلیس، ایډز ، ګونوریا ، مغبني ګرانولوماتوز ناروغي او نور.

- **Veno-occlusive Disease**

د وریدونو او رګونو انسدادي (بندښت) ناروغي

- **Vidal Disease**

دا یوه لیکنوئیده ناروغي د پوستکي ده چې مزمن خارښت نیورومادرتیت هم ورته ویل کیږي دا خارښت لرونکی لیکنوئید اندفاع د تخرګ مغبني او عاني په برخه کې منځ ته راوړي د عصبي اختلال له کبله منځ ته راځي.

- **Virchow`S Disease**

د هډوکو د شیدو په څېر منظره درلودنه د کوپړۍ او مخ غټوالی پیدا کیږي لکه د جذام په ناروغي د پرانګ په څېر مخ لیدنه.

- **Vogt Spielmeyer Disease**

د (**Juvenile Form Of Amaurotic Idiocy**) په انډول.

- **Volkmann`s Disease**

دا ولادي نیمګړتیا ده د قصبي(**Tebia**) او د تارس بندونو خلع (ختلې) ناروغي چې پښه کوږوالی لري.

- **Voltolini`S Disease**

دا زویو لرونکی د غوږ دننه برخې ناروغي ده چې د (سخت درد او تبې سره مل ده روحي اختلال، هزیان، هیجان او جسمي نا راحتي) ورسره وي ناروغه پرته له اړیکې او په خپل ځان خبر نه وي.

- **Von Hippel Lindau Disease**

دا ولادي ارثي ناروغي ده چې د (انجیوماتوزس رتینا او سربیلوم) ورسره مل دی همدارنګه د نخاع آفت او د احشاؤ سیست هم ښایي چې شتون و لري عصبي نښې لکه (اختلاج، عقلي روسته پاتې والې) ښایي تثبیت شي.

- **Winckle's Disease**
دا د نوي زېږېدلي ماشومانو لپاره وژونکي ناروغي ده چې ژېړی، وینه بهېدنه، هماتوریا ، سیانوز په ګډه توګه شتون لري.
- **Wolman`s Disease**
د لایزوزوم زېرمه کېدنې ناروغي د اسیدلایپیزد نشتوالي له کبله منځ ته راځي.
- **Woolsorter`s Disease**
دا سږو د تور تپ / خوارې ناروغي ده او هغه کسان چې وړیو سره کار لري لیدل کیږي (**Anthrax**) د سږو بلل کیږي.
- **X.Disease**
دا نامعلومه بڼه لري د حساسیت درلودل د سړې هوا سره، سۀهضم، کولمو اختلال د زړه او د سږو د کارکولو اختلال پکې لیدل کیږي، د (**Hyper Keratosis & Aflatoxicosis**) په انډول.
- **Zahorshky`s Disease**
دا په ماشومانو کې لیدل کیږي دا حالت د تبې متناوبه ډول درې ورځې چې تبه بیا رالوړي او جلدي سره مخه (**Rush**) منځ ته راځي.
- **Ziehen Oppenheim Disease**
دا مزمنه کمیابه ناروغي ده چې د (عضلاتو نامنظمه کلونیک غیر ارادي تقلصونه د تني، لاس او پښو برخه) کې شتون لري چې دا ستونزه د لاړه تللو په وخت ښکاره کیږي.
- **Zymotic Disease**
د یوه متر شحه انزایم له کبله په یو میکروسکوپیک ژوندي کې د شتون له مخې ثابتیږي دا پتومائین بلل کیږي او ناروغي منځ ته راوړي.

Disengagement
د مهبلي کانال برخې ته د زېږېدونکي ماشوم د کوپړۍ را رسېدنې پراو.

Disequilibrium
د فزیکي یا رواني د نه انډولتیا شتون.

Disgerminoma
ډیسجرمینوما ، د (**Dysgerminoma**) په انډول.

Dish
ظرف، بشقاب، هغه لوښی چې معمولاً ښیښه یې وي او د آزموینې د سرته رسولو لپاره پکار وړل کیږي.
- **Petri Dish**
دا د مایکروبیولوژي څانګې د میکروب پېژندنې لپاره لوښی دی.
- **Standerd Dish**
ستندرد یا ثابت ښیښه یي لوښی دی چې د بیولوژیک آزموینو لپاره پکاریږي.

Disimmunity
د معافیت نشتوالی.

Disimmunize
پرته له معافیت څخه شوی.

Disimpaction
د دوه کسرونو د سرونو د ننوتې برخې سره لېرې کول.

Disinfect
پرته له میکروبه، پرته له ناپاکي او ککړتیا.

Disinfectant
پرته له میکروبه کول، د پاکولو کړنه.

Disinfected
پرته له میکروبه شوي ، معقم ، له مایکروارګانیزمونو پاک شوي.
- **Disinfected Instruments**
معقم شوي وسایل.
- **Disinfected Skin**
معقم جلد ، پاک شوي پوستکي.

Disinfection
د پرته له میکروبه کولو کړنه، د ناروغي منځ ته راوړونکو عالمونو له منځه وړل.

Disinfest
له حشراتو څخه پاک ، له حشراتو پرته.

Disinfestation
د حشراتو څخه پاکولو کړنه.

Disinsectization
د حشراتو له منځه وړلو کړنه.

Disintegrator
تجزیه کوونکی، کوچنی کوونکی، میده کونکی، هغه دستګاه چې مواد یا انساج په یو ډول سره مېده کوي.

Disipal
د هایدروکلورو او رفنادرین لپاره تجارتي نوم دی.

Disjunction
پرته له بنده کول، د مایتوز په مرحله کې د انافیر په وخت د کوروموزومونو جلا کول.

Disk
ډیسک، پانه، ګرده پانه.
- **Arthicular Disk.**
مفصلي ډیسک ، د بندونو ډیی ک لکه د ملا تیر بندونو ډیسک.
- **Blood Disk**
د وینې ډیسک ، صفیحات، پلاټلېټونه.
- **Bowman`s Disk**
د ګلومیرول د بومن ډیسک.
- **Intervertebral Disk**
د فقراتو تر منځ د بندونو ډیسک.

Disocclude
د یوه غاښ توږل دا رنګه چې د ژولو په خت کې یو د بل په وړاندې تماس پیدا نکړي.

Disomus
نیمګړي ولادي زېږېدنه چې دوه تنې لري.

Disorder
اختلال غیر عادي، په دنده کې ابنارمله، تشوش.

- **Adjustment Disorder**
د عیارولو اختلال.
- **Affective Disorder**
اغېزمن اختلال.
- **Anxiety Disorder**
اضطرابي تشوش، روحي اختلال.
- **Attention Deficit Hyperactivity Disorder**
د فکري سکون او مرکزیت د نشتوالي له کبله د ډېر فعالیت کولو تشوش.
- **Autitic Disorder**
دا د ودې کولو تشوش دی چې په ماشومتوب کې منځ ته راځي دا ناروغي د مکتب دورې ماشومتوب د شیزو فرینیا څخه توپیر لري چې پکې هزیان او برسام شتون نلري.
- **Behavior Disorder**
د سلوك تشوش په روحي ناروغیو کې وي.
- **Bipolar Disorder**
دوه قطبي تشوش په انحطاط او مانیا کې وي.
- **Character Disorder**
د شخصیت یا کرکتر اختلال.
- **Collagen Desorder**
د کولاجن ناروغي اختلال.
- **Conduct Disorder**
دا روحي تشوش دی چې د ماشوم توب او کهولت د وخت تشوش دی او ټولنیزو اړیکو نشتولي سره پېژندل کیږي.
- **Conversion Disorder**
دا د فزیکي فعالیت د نشتوالي سوماتیك اختلال دی چې د فزیکي دندې سرته رسولو کې بدلون شتون لري او د فزیولوژیك له پلوه کومه ناروغي شتون نلري خو د فزیکي فشار په وخت ناروغي زیاتوالی مومي.
- **Depersonalization Disorder**
د شخصیت له منځه تللو تشوش.
- **Depressive Disorder**
انحطاطي تشوش او اختلال.
- **Dissociative Disorder**
دا هسیتریکي نیوروز چې په ناروغ نا څاپه بدلون منځ ته راځي او راز راز بدلونونو سره مل وي.

- **Optic Disk**
بصري ډیسک، د لیدلو یا سترګو ډیسک.

Diskectomy
د فقراتو تر منځ د ډیسك د غوڅولو کړنلاره.

Diskitis
د ډیسك التهاب په ځانګړي ډول د فقراتو تر منځ.

Diskography
د ملا د تیر د فقراتو رادیوګرافي.

Dislocate
خلع کېدنه ، له بنده اووښتنه و بې ځایه توب .

Dislocated
بې ځایه شوې ، ښتلې ، خلع شوې .

Dislocation
خلع، بې ځایه کېدنه، ختلی، له بنده وتل ، د (Luxation) په انډول.

- **Chronic Dislocation**
مزمنه خلع.
- **Compleat Dislocation**
تام یا کامله یا بشپړه خلع.
- **Early Dislocation**
هغه خلع چې سمدلاسه منځ ته راغلې وي.
- **Incompleat Dislocation**
نا تامه خلع.
- **Late Disloction**
هغه خلع چې په مؤخره توګه د درملنې لپاره مراجعه وکړي.
- **Compound Dislocation**
مرکبه یا کمپوند خلع هغه ډول دی چې مفصلي سطحه د هوا سره لاره پیدا کوي.
- **Vecurrent Dislocation**
په تکرار سره څو ځله د خلعې منځ ته راتګ په یوه مفصل کې.
- **Subspinous Dislocation**
د فقراتو د نتویا (Spine) څخه ښکته برخې د خلع منځ ته راتګ.
- **Pathologic Dislocation**
پتالوژیکه خلع.
- **Simple Dislocation**
ساده خلع.
- **Congenitat Dislocation**
ولادي خلع.

Dismember
د یو چا د اندام د (کشولو ، پېښو او زور زیاتی) له کبله غوڅ یا وتلې.

Dismemberment
د یوه غړي خلع یا د یوه غړي غوڅول.

- **Factitious Disorder**
دا روحي تشوش دی چې د تنبهاتو پواسطه یو لړ کلینیکي نښې لکه { **Munchhausen Syndrome** } چې فزیولوژیك اعراض لري او د { **Ganser Syndrome** چې روحي عراض لري} او په کراره او تدریج سره یې د درملنې اړتیا ده.

- **Functional Disorder**
دا عملي اختلال دی چې په وظیفوي توګه منځ ته راځي او عضوي او یا د غړو ناروغتیا شتون نلري.

- **Generalized Anxiety Disorder**
د اضطراب عمومي اختلالي حالت چې پکې له واقعیت څخه پرته ډېره زیاته حیرانتیا شته والی لري.

- **Identity Disorder**
د پېژندنې او ښودنې په هکله اختلال.

- **Induced Psychotic Disorder**
د یوې بلې ناروغي د شته والي له کبله د روحي تشوشاتو منځ ته راتګ چې اکثراً په عقلي عصبي ناروغانو کې شتون لري.

- **Intermittent Explosive Disorder**
په متناوبه توګه وظیفوي عقلي تشوش شته والی چې ببلا ببل تصمیمونه او کارونه پرته له بریا و تر سره کوي.

- **Kidney Disorders**
د بڼوډو اختلالونه .

- **Major Mode Depression Disorder**
دوه قطبي ژور انحطاطي حالت.

- **Maniac Depressive Disorder**
د سودائی توب (مانیا) او خپګان (انحطاطي) حالت ګډ ډول شته والی.

- **Mental Disorder**
عقلي روحي تشوش.

- **Mendelian Disorder**
دا ارثي ناروغي ده چې په جنیتیك (ارثي) توګه د جن موټیشن حالت شتون لري چې ښایي یوه بنسټیزه توګه پتالوژیکه نیمګړتیا شته والی ولري.

- **Multifactorial Disorder**
څرګوني فکتوریزه اختلال.

- **Monogenic Disorder**
د (**Mendelian Disorder**) په انډول.

- **Multiple Personality Disorder**
څو ګوني شخصیت درلودلو تشوش.

- **Organic Mental Disorder**
د ماغزو او عقلي عضوې تشوش شته والی لکه د(**Alzheimer`S Disease**) ناروغي.

- **Over Anoxious Disorder**
د مفرط اضطرابي تشوش شتون.

- **Paranoid`s Disorders**
د (**Paranoia**) په انډول.

- **Pervasive Developmental Disorders**
د ودې له مخې عقلي او غبرګونیزو (عکس العملي) ټولنیزو حالتونو نشتوالی چې پکې د پرته له خبرو کولو[ویناوو (ژمي)،غږېدنې] اړیکه او فعالیتونه له منځه تللي دي.

- **Post Traumatic Stress Disorders**
له ترضیض څخه وروسته د فشار اختلال.

- **Psychoactive Substance use Disorder**
دا روحي تشوش او اختلال دی چې پکې د کرکتر او سلوك بدلون منځ ته راځي.

- **Psychosomatic Disorders**
روحي جسمي اختلال پدغه ناروغي کې فزیکي اعراض د روحي فکتورونو له کبله زیاتوالی مومي لکه د نیم سری سر دردي، د ملا درد ، پیپتیك قرحه، د کولمو تنبهي سندروم د یو لړ فکتورونو پواسطه شدت اخلي.

- **Schizo Affective Disorder**
دا یو د پېژندنې لپاره کټه ګوري (درجه) ده چې د هغې له مخې عقلي اختلال پېژندنه مومي چې د شیزو فرینیا اعراض به ورسره وي.

- **Schizophrenia Form Disorder**
شیزو فرینیا ته ورته اختلال دغه نښې نښانې تر شپږ میاشتو اوږدېدنه مومي او وروسته له هغه له منځه ځي.

- **Separation Entity Disorder**
په هغه ماشوم کې د اضطراب اختلال او تشوش شتون چې له مور او پلار یا کورنۍ څخه جلا کړل شویوي.

- **Sleep Terror Disorder**
دا هم په ماشومانو کې لیدل کیږي او دا راز تشوش دی چې ماشوم له خوبه وخته او یا نیمه شپه راپورته کیږي چې داماشومان د خوب وهم او وېره لري چې دا د عمر په **3-5** کلونو کې لیدل کیږي.

- **Somatization Disorder**
دا کلاسیك ډول د هیستریا ده چې (**Briquette's Syndrome**) هم بلل کیږي.

- **Somatoform Disorder**
دا هغه ډول روحي تشوش او اختلال دی چې فزیکي او روحي منشه لري خو د ترارادي لاندې وي او د کنترول وړ دی.

- **Somatoform Pain Disorder**
د روحي او فزیکي تشوش درد لرونکې بڼه.

- **Unipolar Disorder**
دا ژور انحطاطي حالت دی او انحطاطي نیوروز بلل کیږي.یو قطبی رووانی اختلال دی.

Disorganised
بې نظمه ، نامنظمه ، غېر منظم ، د (**Not Organized**) په انډول.

Disorganization
د یوه غړي د انساجو د جوړښت ویجاړولو کړنلاره.

کښته ګڼل، ټیټ ګڼل ، بې اهمیته بلل، دچا له فضیلت څخه انکار کول، بې اعتبارول، بې قدره کول.

Disparate

توپیر کول ، متفاوت ، نا جوړ توب، هغه چې برابر سره جوړه شوې (Paired) نه وی ، سره جلا والې ، ناورته والې، د (Dissimilar) په انډول .

- **Disparate Points**

هغه ټکی چې سره ببل وی او په معادل ډول جوړه شوې ندی .

- **Disparate Retinal Points**

د سترګو د شبکیې ټکی (Retinal Points) چې سره مرتبط ندی (Non-corresponding) بڼه لرل .

- **Disparate Twins**

هغه ډول غبرګونې زېږېدلی ماشومان چې یو تر بله سره متفاوت دی.

Disparity

توپیر ، فرق،اختلاف، متفاوت والې ، نا جوړتوب، هغه چې برابر سره جوړه شوې (Paired) نه وی ، سره جلا والې ، په کامل ډول ناورته والې، د (Disparate) اړوند صفت .

- **Binocular Disparity**

بای نوکولار تفات لرلې حالت چې په (Stereoscopic Visual Acuity) کې وی په (Retinal Disparity او Depth Perception) یې وګوری .

- **Crossed Disparity**

تېر او بېرتفاوت ، دا د سترګو هغه ډول ناورته لیدنه چې پکې د (Retinal Disparity) له کبله د یو شی تصویر چې په بنی سترګه کې وی په کینه برخه او د کینې برخې په بنی اړخ کې د لیدنې وړ ګرځی ، د (Crossed Retinal Disparity) په انډول .

- **Fixation Disparity**

په (Retinal Disparity) کې یې وګوری.

- **Retinal Disparity**

دا دوه سترګې لیدنه ده چې پکې د دواړو سترګو شبکیه د یوه شی تصویر لپاره کارول شی چې دا تصویرونه (Corresponding Retinal Points) کې یو دبل مانعه نګرځی او د دواړو (Retinal Images) تصویر په (Panum's Area) کې رالویږی پدې ځای هم دا تصویر یو دانه (Single) ښکاری چې د (Fixation Point) کې د سترګو د (Over- or Under-Convergence) لامل ګرځی ، د [Fixation Disparity (or Retinal Slip)] په انډول .

- **Uncrossed Disparity**

غبر چلیپا شوې نا ورته والې ، دا د (Retinal Disparity) دئ چې د پکې تصویر د سترګو څخه په لېرې سیمه کې منځ ته راځی او فوکس (Focused) یې په انفی شبکیه (Nasal Retina) کې تثبیت کېږی نو لدې کبله تصویر کله چې دښی سترګې تصویر منځ ته راشی هغه په بنی برخه او د کینې سترګې تصویر په کینه برخه کې لیدل کېږی ، د (Uncrossed Retinal Disparity) په انډول .

Disorganize

ګډوډ کول، بې ترتیبه کول، بې ارادې کولا، شوپشو کول، تیت وپرک کول.

Disorganized

بې نظمه ، نامنظمه ، غېر منظم ، د (Not Organized) په انډول.

- **Disorganized Infant Behavior**

د ماشوم بېنظمه چلند.

- **Disorganized Person**

غېرمنظم کس .

- **Disorganized Schizophrenia**

بېنظمه شیزوفرینیا ، دا ناروغۍ د[غېر برجسته توب (Predominance Incoherence) ، تکېدلی او ترضیضی (Blunted) ، حماقت او نامناسبه (Inappropriate) اغېزمنتیا او د سیستمیک هذیاناتو (Systematized Delusions) نشتوالی] په څېر نښو پواسطه پېژندل کېږی، د (Hebephrenic Schizophrenia) په انډول .

Disorient

مغشوش ، نا پوهېدنه ، مختلوالې .

- **Disorient Records**

نامنظمه او مغشوش تثبت شوی طبی موضوعات .

Disorientation

د هوښ اختلال ، په پوهېدنه کې د ناتواني حالت، لکه یو څوک ونشي کړای د چاپېریال سره عادي اړیکه وساتي لکه په زمان او مکان نه پوهېدنه د ذهن مختل کېدنه.

- **Cetacean Disorientation**

په (Pinniped Stranding) کې یې وګوری.

- **Spatial Disorientation**

دا د هغه حالت بڼه ده چې پکې د لید محدودیت (Restricted Vision) شتون لری او دا د (Vestibular Illusions) په حال کې منځ ته راځی چې نشی کولای د ځمکې سطحې وپېژنی .

- **Disorientation Vertigo**

د سرځرخی بڼې د هوښ اختلال ، دا یو غېر وصفی اصطلاح ده چې د عقلی اختلال له کبله د بدن تصور په فضأ کې نشی تخمین کولای او د ماغزوی د جداری لوب (ParietalLobe) په اخلالاتو کې لیدل کېږی.

Disoriented

د هوښ اختلالی شوې ، په مغشوشیت اخته شوې حالت.

Disorienting

مغشوش کول ، په مغشوشیت اخته کول ، خړ پړ کول.

Disorients

مغشوشیت ، خړ پړ تیا ، د روښانتیا له منځه تګ.

Disparage

شیندلې ، متفرق کول،تیت وپرک کول ، د (Disperse) اړوند صفت.

Disperse

تیت او پرک کول، شو په شو کول، وېشل، پاشل ، شیندل ، په یوه سوسپنشن د کلوئیدي محلول کې د ذراتو شتون، متفرق کول.

Dispersidology

د کلوئیدي کېمیا علم او پوهه.

Dispersion

وېشنه ، د یوې مادې د ذراتو ننوتل په بله ماده کې لکه د محلول منځ ته راتګ د سوسپنشن یا کلوئیدي محلول جوړېدنه،تفریق، ببلول، خپرېدنه،کلوئیدي محلول.

Dispersoid

هغه ماده چې په ډېرو کوچنیو ذراتو وېشل شوېوي.

Dispirit

بې زړه کول، مړاوی کول، سړول، بې جرئته کول.

Displace

بې ځایه کول، دبل چا ځای نیول، مو قوفول.

Displaced

بې ځایه شوې ، دبل چا ځای نیولې ښځه ، مو قوفول.

- **Displaced Intervertebral Disc**

د فقراتو ترمنځ د ډیسک بې ځایه کېدنه.

Displacement

جلا کېدنه، لېرې کېدنه، د مکان بدلون، ایکتوپي، د ځای نیونه، بر طرفی، دیوې مایع حجم یا وزن.

- **Wrist Displacement**

د مړوند بند بېځایه کېدنه او ښتلې ښځه.

Disproportion

د عناصرو تر منځ د مناسبو اړیکو نشتوالی.

Disposable

ډیسپوز ، یو ځلی ، د یوه ځل کارېدونکي ، هغه وسیله یا شئ چې وروسته له کارولو لېرې غورځول کېږي.

- **Disposable Blade**

ډیسپوز چاړه ، هغه جراحی چاړه چې یوازې یو ځل لپاره پکار وړله شي.

- **Disposable Gaune**

ډیسپوز چینه ، هغه چینه چې جراحان یې یوازې یو ځلی اغوندی .

- **Disposable Gloves**

ډیسپوزلاسپوښونه ، ډیسپوز دستکشې، هغه دستکشې چې یوازې یو ځل استعمالېږي.

- **Vergence Disparity**

د (Motor Fusion) په برخه کې یې وګوری.

Dispassionate

سوړ، غلی، آرام، بې تعصبه ، بې عاطفې، بې طرفه،بې شفقته.

Dispel

ایستل، شړل، غورځول لکه د پلاسنټا ، ردول، ورکول، تیت کول.

- **Placental Dispel**

د پلاسنټا (خلاځې) بهر ته غورځول.

Dispenation

وېشنه، توزیع قسمت، نصیب، معافیت، دقوانینو مجموع.

Dispensary

هغه د درملنې ځای چې هلته درملنه او درمل په وړیا توګه او یا هم د بازار له نرخ څخه په لږه بیعه وي او د غریبو او بې وسه کسانو درملنه کوي، هر هغه ځای (Chemist's Shop) چې له هغه ځای څخه درمل (Drugs) برابرول او وېشل کیږي لکه درملځی یا درملتون.

Dispensatory

د درملو کتاب او نیولیک چې (مشتقات، د استعمال وړ حالتونه او نومونه) پکې وي.

Dispenseary

هغه ځای چه هلته ناروغانو ته وړ یاتوګه یا په ټیټه بیه دارودر مل ورکوله کیږی.

Dispense

د لیکلې نسخې (Prescription) مطابق د درملو برابرول او د درملو اړوند کسانو ته وېشل. اداره کول، د درملو وېشل، استثنا کول یا بخښل، سمول یا جوړول لکه د (دواګانو)، اجرا کول، اصلاح کول، تطبیق کول، معافول .

Dispenser

جوړوونکی، وېشونکی، د درملو جوړوونکې او ویشونکې لکه د روغتون فارمسست .

Dispensing

وېشنه ، تقسیم کول .

- **Dispensing Optician**

د عینکو خرڅوونکې چې د سترګو آزمایښت نه تر سره کوی.

- **Dispensing Practice**

هغه ډاکټر چې د عینکو ورکولو پرکټیس کوی او اړوند کسانو ته د درملو او عینکې سپارښتنه کوی.

Dispersal

- **Disposable Hat**
ډیسپوز خولی ، ډیسپوز ټوپی ، هغه خولی چې یوازې یو ځل استعمالېږی.
- **Disposable Knife**
ډیسپوز چاړه ، هغه چاړه چې یوازې یو ځل استعمالېږی.
- **Disposable Masks**
ډیسپوز ماسک ، هغه ماسک چې یوازې یو ځل استعمالېږی.
- **Disposable Needle**
ډیسپوز ستنه، هغه ستنې چې یوازې یو ځل استعمالېږی.
- **Disposable Set**
ډیسپوز سیټ لکه د جراحی عملیاتونو سیټ ، هغه سیټ چې یوازې یو ځل استعمالېږی.
- **Disposable Sheet**
ډیسپوز پوښ ، ډیسپوز پوښوونکې پرده ، هغه پوښ چې یوازې یو ځل استعمالېږی.
- **Disposable Syringes**
ډیسپوزیبل سورنج او پیچکاری ستنه ، هغه سورنج چې یوازې یو ځل استعمالېږی.
- **Disposable Thermometer**
ډیسپوز ترمومېتر ، هغه ترمومېتر چې یوازې یو ځل استعمالېږی.

Disposal
ترتیبونه، واک ، اختیار.

Dispose
سمول، تر تیبول، سنبالول ، تنظیمول، فیصله کول، په خاص ډول استعمالول، متمایل کېدل، ځان ځنی خلاصول.

Disposer
سموونکی، تنظیموونکی.

Disposition
ترتیب، تنظیم، وېشنه، توزیع ، دشتمنی دوېشلو پلان، طبیعی میلان، طبیعت، هغه کس چې یوازې د ځانګړی مزاج له مخې عمل کوی، حالت، واک ، شخصیت.

Dispossess
بې شتمنی کول، لیری کول دباندې ایستل، محرومول.

Disproof
ردونه ، رد کول ، نه منل ، بیرته غبرګ کول ، مسترد کول.

Disproportion
بې تناسبی، بې موازنګی بې تناسبه کول، د دوه شیانو د بې موازنې کولو او د نا تناسبه اړیکې منځ ته راوړی.

Disproportionate
بې تناسب، نا متناسب والې ، هغه چې تناسب نلری.

Disprove
غلط ثابتول، تر دېدول ، رد کول.

Dispute
جنګېدل، شخړه کول، مناقشه او لانجه کول، جګړه کول، بحث او مباحثه کول، منکر کېدل، ردېدل.

Disqualification
دصلاحیت نه لرنه، عدم صلاحیت ، بې کیفیته کېدل.

Disqualify
دحق یا امتیاز څخه بې برخې کول، نا مطلوب ګڼل ، بې صلاحیته کول.

Disquiet
نارامه، نا کراره ، ناراموله، بې کرارول.

Disquisition
څېړنه، پلټنه، هغه مقاله یا رساله چه دڅېړنې په اثر لیکل شوې وې.

Disquitude
نارامی، اضطراب، اندېښنه.

Disreputable
بدنام، بې اعتباره سپک، ورک.

Disrepute
سپک تیا ، بې اهمیتی، بې اعتباري، بدنامی بد خویی، رسوایی.

Disrespect
په سپکه سترګه کتنه، بې احترامی، بې حرمته، بې ادبی.

Disrobe
لوڅ لغړول، لوڅول، کالی تر بنه ایستل، کالی کښل لکه د کلېنیکی کتنې پرمهال د ناروغانو څخه کالی ایستل.

Disrupt
پرېکول، ماتول، جلا کول، چول، ماتېدل، چاودل، په شدت سره خارجېدل.

Disruption
د څیرلو عملیه او یا کړنه، په مرضي یا ناروغي توګه جلا کېدنه.

Dissatisfaction
ناراضی توب، خپګان، قناعت نه در لودنه، نا خوشی ، نه موافقت.

Dissatisfied
پربرخو وېشل، برخی برخی کول، ټوټې کول، تجزیه کول، تحلیلول، تسلیخ کول.

Dissatisfy
ناراضه کول، زړه وربدولو خپه کول، خوابدی کول.

Dissecans
د (**Osteochondritis Dissecans**) په انډول.

Dissect
د یوې برخې غوڅول، جلا کول، تشریح کول چې په اناټومیکه څېړنو کې پکاریږي، تسلیخ کول.

Dissecting
د (جلا، غوڅول، شرحه، تسلیخ) کولولو کړنلاره تر سره کول.

- **Dissecting Aneurysm**
هغه انیوریزم (**Aneurysm**) چې د ابهر (**Aorta**) شریان د جدار دننه پېښېږی او وینه د غشا برخې ته ورننوزی او نفوذ کوی.

Dissection
د جلاکولو یا غوڅول، د شرحه کولو کړنه، د تسلیخ کولولو کړنلاره.

- **Blunt Dissection**
په پڅه توګه جلا کول، پخ تسلیخ.
- **Liver Dissections**
کبدی تسلیخ، د ځیګر آزادول او تسلیخ یا ېبلولو کړنلاره.
- **Lung Dissection**
ریوی تشریح، د سږو تسلیخ، د سږو آزادول او تسلیخ یا ېبلولو کړنلاره.
- **Pancreas Dissections**
د پانکریاص تسلیخ، د پانقراص آزادول او تسلیخ یا ېبلولو کړنلاره.
- **Renal Dissection**
د پښتورګو تسلیخ، د ېښوډو جلاکول.
- **Sharpe Dissection**
په غوڅه توګه سره جلا کول.

Dissemination
مجزا، جلا، په جلا توتو یو له بله جلا کول توپیرول، توتې توتې کول.

Disseminated
منتشر، خپور، په خپره بڼه، په ټول بدن او غړو (**Organ** یا **Body**) کې تیتول، پاشل لکه د (تخم دانو) په څېر خپرول، په بله بڼه اړول.

- **Disseminated Intravascular Coagulation**
په خپره بڼه د رګونو دننه د وینې علقه کېدل چې لنډه نښه یې (**DIC**) ده.
- **Disseminated Lupus Erythematosus**
منتشرډول لوپوس ایریتیماتوز چې د جلدی التهابی ناروغی بلله شی چې د [جلدی بدلونونه (**Skin Rash**)، پراخه اندازه د مرکزی عصبی سیستم (**Central Nervous System**)، زړه-رګونو سیستم (**Cardiovascular System**) او نورو غړو) نښې نښانی منځ ته راځي لنډه نښه یې (**DLE**) ده.
- **Disseminated Sclerosis**
منتشر او خپره بڼه تصلب، د (**Multiple Sclerosis**) په انډول.

Dissemination
خپور بڼه نیول، ټول بدن کې منتشر کېدل، منتشر کېدل.

Dissension
چپوالی، انحراف، تو پیر، اختلاف، جګړه، نفاق.

Dissent
په عقیده کی مخالفت کول، جلا کېدل، ېبلېدل، مختلف کېدل

Dissertation
د یسرټیشن (هغه اثر چه دډاکټری ددرجې اخیستلو دپاره لیکل کېږی)، مقاله، رساله، رسمی لیکنه.

Dissever
جلا کول، ېبلول، پرې کول.

Dissimilar
ناورته والې، غیر مشابه، بې شباهته، مختلف.

Dissimilation
د (**Disassimilation**) په انډول.

Dissimulation
پټونه، بڼه اړونه، ددرواغو بانه مکر، غولونه.

Dissipate
جلاکول، شوپشو کول، تیت وپرک کول.

Dissipation
جلا کول، خپرېدل، تیت او پاشان کېدل.

Dissociate
له ټولنې یاډلې څخه جلا کول، د برخو یا دندو (**Functions**) ېبلول، په روانپوهنه (**Psychiatry**) کې د شعوری عقل له آرامتیا جلاکېدل، ېبلېدل.

Dissociated
جلا شوې، سره ېبل شوې.

- **Dissociated Anaesthesia**
د (**Heat**، **Pain** یا **Cold**) په وړاندې د حساسیت له منځه تګ.

Dissociation
د بدنی (**Parts** یا **Functions**) سره جلاکول، په کېمیا کې تجزیه، روانې اختلال چې په هغه باور او عقاید له شخصیت څخه جلا کیږي او ضمیر ته ورځي یا د فکر شلېدل له واقعیت څخه منځ ته راځي.

Dissociative

بېلوونکې ، جلاکوونکی ، شلېدونکې .

- **Dissociative Disorder**

د هیستېریا (**Hysteria**) هغه ډول چې پکې (**Psychological Changes**) لکه د (**Split Personality** یا **Amnesia**) په څېر ننېۍ شتون لری چې په فزیکی بڼه شتون نلری.

Dissolute

هر زه، بد اخلاقه .

Dissolution

مړینه، مرگ، په منځ ته راوړونکو اجزاو تجزیه کول، تجزیه انحلال، ماته مړینه، زوال، تباهی.

Dissolve

مل کول، اوبه کول، ویلې کول، ویلې کېدنه ، گډوډ کول، منحل کول.

Dissolvent

حل کوونکی، حلال.

Dissonance

تو پیر ، اختلاف، نه جوړښت (عدم توافق)، ناروغتیا

Disspated

حل شوې ،شوپشو شوې .

Dissuade

منصرف کول، اړول (له فکره یا یوه کاره)، ګرزول، بد ګڼل.

Distad

لېرې لوري ته، وریا جهت ته، د انتها لوري ته بعیده لوري ته.

Distal

بعید ، لېرې، وریا ، انتها پورې اړوند ، د (**Distalis**) په انډول.

- **Distal Convoluted Tubule**

د پښتورگو د ګلومېرولونو د لېرې / بعیده معوج تیوبولونه.

- **Distal Interphalangeal Joint**

د لاسونو او پښو د ګوتو اړوند بعیده بندونه چې لنډه نښه یې (**DIP**) ده.

- **Distal Phalanges**

بعیده فلانکسونه.

Distally

بعیده ، په لېرې توګه پروت ، لېرې والې .

Distalgesic

د (**Co-proxamol**) انالجزیکونو جوړښت لپاره سوداګریز نوم دئ.

Distance

فاصله، مسافه، واټن ، لېرې والې.

- **Focal Distance**

کانونې فاصله (په عدسیه او هنداره کې)، موضعي فاصله.

- **Hearing Distance**

د غږ اورېدنې او آواز تنبه تر منځ فاصله.

- **Inter Arch Distance**

د مګزیلا او مندیبولا د لیندیو تر منځ عمود فاصله.

- **Interocclusal Distance**

د مندیبولا او مګزیلا غاښونو د تړلې سطحې تر منځ فاصله بلل کیږي.

- **Introcular Distance**

د سترګو تر منځ فاصله.

- **Working Distance**

د کار کولو د مایکروسکوپ عدسې او د شي تر منځ فاصله کله چې وسیله په صحیح توګه برابره شي.

Distant

لیرې، تو پیر لرونکی، سوړ ،غیر صمیمی.

Distaseful

بېزاره، بې میله.

Distaste

نه خوښونه، بې خونده تجربه، کرکه.

Distemper

دماغی ناروغی، اختلال، دسپی یو ډول مهلکه ناروغی، بد ذوقی، ګډوډ کول، ناروغه کول ، د څارویو (حیواناتو) د ببلابېلو ناروغیو لپاره نوم چې انتاني منشه لري.

Distend

اوږدول، پړسول، ارتول، ډډول ، متوسع کول.

Distended

پړسېدلې ، متوسع .

- **Distended Abdomen**

د ګېډې پړسوب ، بطنی توسع چې په کولمو بندښت او ګېډې دننه تومورونو کې لیدل شی.

- **Distended Bladder**

د متیازو راټولېدنې له امله متوسع او پړسېدلې مثانه.

- **Distended Stomach**

د معدې پړسوب ، د معدې توسع چې په پیلوریک معصری بندښت کې لیدل شی.

Distension

توسع ، پړسوب ، پړسېدل ، ارتېدل ، ډډېدل.

- **Abdomen Distension**

د ګېډې پړسوب ، بطنی پړسوب.

- **Veins Distension**

وریدی پړسوب لکه د (**Portal Vein**) په څېر.

Distichia
د سترغلو په دننه کې د بنو د اضافه لیکې (کرښې) شته والی چې د سترګو د قرنې په برخه کې ټپ پیدا کوي.

Distichiasis
د دوه لیکو لرونکي بنو سترغلي ، د اضافی بنو شتون چې ځینې وختونه (Meibomian Glands) لپاسه وده مونډنه کې لیدل شی.

Distil
نیښدل، څڅېدل ، تقطیرېدل، تصفیه کېدل، تصفیه کول، تقطیر کول.

Distill
د (Distil) په انډول.

Distillate
مقطر اوبه.

Distillation
تقطیر، د اوبو په بخار بدلول او د بخار بیا بیا بدلول په اوبو باندې.

- **Destructive Distillation**
د هوا په نشتوالي کې د جامدې مادې تجزیه کول د حرارت (تودوخې) پواسطه،د وچ تقطیر (Dry Distillation) په انډول.

- **Fractional Distillation**
په کوچنیو اجزاو بدلول د تقطیر پواسطه ماتوونکی تقطیر،انکساری تقطیر.

Distilled
مقطرې ، څاڅکی ډوله.

- **Distilled Water**
مقطرې اوبه .

Distinction
څرګندوالی، او څار توب، امتیاز ، ښه والی، ترجیح، ناور ته والی، تبعیض.

Distinctive
ممتاز، څرګند ، ټاکلی، جلا، مشخص، او څار .

Distinctometer
دا یوه داسې وسیله ده چې د ګېډې د احشاو څنډې وربانديې لمس کیږي او د هغه فشـــار اندازې ټاکنه چې دســـتګاه یې وربانديې راوړي.

Distinguish
تو پیر ورکول، جلا کول، لوړول، سترول، نامتویا نوموړی کول، تشخیصول، درککول، تصنیف کول.

Distinguished
اوښار، مشخص، لوړ، نوموړی ، نامتو.

Distobuccal
انتهايي- فمي، د خولې او انتها پورې اړوند غاښ.

Distobucco-occlusal
د خولې او انتها غاښ د ژونکې سطحې اړوند.

Distobuccopulpal
د غاښ د پولپ او خولې انتها پورې اړوند .

Distocervical
د غاړې او انتها ، د انتها د جدار او غاښ غاړې اړوند.

Distoclusion
د غاښونو د لیندې یا قوس نادرسته اړیکه د علوي او سفلي ژامنې تر منځ.

Distomia
د دوه خوله درلودونکې نیمګړتیا.

Distomiasis
د تریماتودا (Flukes) انتان له کبله د ناروغې منځ ته راتګ.

Distomolar
هر هغه غاښ چې د دریم مولار ته لېږې وي.

Distort
ګرزول، اړول، کیږول،پیچل، تاوول، بې ډوله کول، بدڅرګندول، ناوړه ښوول، تحریفول، بل ډوله تعبیرول ، (Twist) په انډول

Distortion
کړکیچن بڼه اړول ، د پام ړونه، له خپل بڼې څخه بلې بڼې ته ګرزونه، تحریفونه ، د کړکیچن یا غیر طبیعي حالت خانته نیول په رواني طب کې د مضرو موادو بدلېدنه د (Superego) لپاره د منلو وړ په توګه.

Distract
ګرزول، اړول ، لکه د (نظریاتو، توجه) پواسطه منحرف کول، جلا کول وېشل، په (Emotionally او Mentally) مضطرب کول، لیونی کول، پارول.

Distractibility
د ځیر (دقت) د نه مرکزیت شتون، هغه حالت چې پکې ځیر او توجه په آسانه توګه له منځه ځي.

Distraction
هغه نا انډولتیا چې پکښې پرته لدې چې اوتار (Tendon) د مفصل ځیرل شوی مکاني بدلون منځ ته راوړې مفصلي سطحي یو له بله په جلاتوګه واقع وي، د(حواسواود ځیر)اختلال، په غاښو طب څانګه کې په پراخه توګه او غیر طبیعي توګه د غاښونو د قوس شتون.

Distrait

سربداله، پریشان حاله ، مضطرب.

Distraught

لیونی، ګیچ ، ګنګس.

Distress

فشار، خپګان (Unhappiness) ، د زړه تنګوالی، خوږ ، غم ، مصیبت، د خطر حالت.

- **Mental Distress**

عقلی فشار ،روانی فشار .

Distribute

وېشل، ویږول، جلا کول، خپرول، توزیع کول.

Distribution

توزیع، وېشنه، په ببلا ببلو ځانګو وېشنه.

District

سیمه، منطقه، علاقه، نا حیه.

- **District General Hospital**

سیمه ائیز عمومی روغتون .

- **District Nurse**

سیمه ائیز نرس ، هغه نرس چې د سیمې ناروغان په کور کې تر سره کوی.

Distrix

د وېښتانو د پایلې دوه ځانګې کېدنې.

Distrust

بې اعتباری، بد ګمانی، بې اعتمادی، شک چې د روانی ستونزو یوه نښه بلله کېدای شی.

Distuillation

تنونه، چنې (پاچون)، **څڅونه** (تقطیر، تصفیه).

Disturb

چړپول، ګډوډکول، نارامه کول، اخلالول، خواس ور پریشانه کول، مزاحم کېدل.

Disturbance

تشوش، اختلال، لاس واو پښه وهل، غېر عادی او غېر نورمال بڼه درلودل

- **Emotional Disturbance**

تهیجي تشوش ،دا یو عقلي اختلال دی.

- **Sexual Orientation Disturbance**

د خپل جنسي لوري ته لېوالتیا درلودنه.

- **Mental Disturbance**

عقلي تشوش ، هغه ډول اختلالونه چې عقلی برخه اغېزمنه کوی.

Disturbed

دا روانی (Psychiatric Disorder) ناروغه حالت دئ چې پکې ناروغ ډېر (مشوش ، مزاحم او نارامه) ښکاری .

- **Severely Disturbed Children**

د ماشومانو د ډېرشدید بڼه مزاحم او مشوش حالت .

Distuse

نه استعمالونه، نه کارول ، له استعمال ځخه اچونه، پرېښودنه.

Disulfiram

دا یو (انتي اوکسید انت، د تحمض ضد) مستحضر دئ فورمول یې ($C_{10}H_{20}N_2S_4$) دی دا مواد د استالدیهاید میتابولیزم له الکهولو ځخه منځ ته راوړي او د هغه اوکسیډېشن نهې کوي د الکهولیزم د درملنې په لړ کې پکار وړل کیږي.

Disunite

بې اتفاقه کول، جلا کول، ببلول، شوپشو کول، چاک اچول.

Diuresis

د یوریز ، د متیازو د ترشح زیاتوالی.

Diuretic

مدرر ، میتازې راوستونکي مواد ، دیوریټیک. دا هغه درمل دي چې له خوړلو اوزرق وروسته یې ډېرې متیازی کول منځ ته راځي.

- **High Ceiling Diuretic**

د هنلي پر لوپ اغېزه درلودونکي دیوریتیک درمل ، د (Loop Diuretic) په انډول.

- **Loop Diuretic**

د پښتورګو د لوپ هنلي برخې اغېزه منځ ته راوړونکی ډیوریټیک.

- **Osmotic Diuretic**

اوزموتیك دیوریتیك درمل.د اوزموزس عملي له لارې متیازي منځ ته راځي.

- **Potassium Sparing Diuretic**

د پتاسیوم ساتونکي دیوریتیك درمل.

- **Thiazid Diuretic**

د تیازید له ګروپ ځخه دیوریتیك درمل.

Diuril

کلوروتیازید لپاره سوداګریز نوم.

Diurnal

د روښنا د دورې ، د ورځې وخت پورې اړوند.

Divagation

پرته له اړیکو غږېدنه، پراته ویل، په پراګنده ډول غږېدنه.

Divalent

د دوه (Valence) ولانسه اړیکې درلودونکي، دوه ولانسه

د کولمو اړوند رتج چې ښائی د کونیو اوغټو کولمو په هره برخه کې منځ ته راشی چې د مخاطی غشأ او عضلی طبقو لرونکې وی .

- **Meckel's Diverticulum**

میکل ډایورټیولوم ، هغه ډول راوتلې کځوړه ډوله جوړښت چې د ایلیوم کولمې په انتی مېزانټریک برخه کې په حدود د (20 Cm) سانتی مترو د ایلیو سیکال دسام څخه لېرې په ایلیوم کې منځ ته راځی.

- **Nasal Diverticulum**

د پوزې اړوند رتج چې د آسونو د پوزو سوریو خلف کې منځ ته راځي د (False Nostril) پنامه هم یادېږی.

- **Pressure Diverticulum**

فشاری رتج ، په (Esophageal Diverticulum) کې وګورئ.

- **Pulsion Diverticulum**

کشش کېدونکې وصف لرونکې رتج ، په (Esophageal Diverticulum) کې وګورئ.

- **Rectal Diverticulum**

د ریکټوم برخې رتج ، چې دا د ریکټوم د یوې ځیرلې عضلی طبقې څخه پېښېږی او د یوه پاکټ بڼه غوره کوی معمولاً په سپیانو کې د (Perineal Hernia) سره مل وی چې د ولاړې زور وهلو په حالت کې مقعد راوتلې ښکاری .

- **Stomach Diverticulum**

هغه کوچنی پوچ چې د خوګ د معدې په کینې اړخ کې مری ته نېږدې د معدې ته د ننوتلو سیمه کې منځ ته راځی.

- **Suburethral Diverticulum**

تر احلیل د بهرنی فوجې لاندې برخه کې منځ ته راځی معمولاً په غواګانو کې .

- **Traction Diverticulum**

کششی رتج چې په (Esophageal Diverticulum) کې یې وګورئ.

- **Diverticulum Tubae Auditivae**

د غوږ برخې تیوب دننه رتج ، د (Guttural Pouch) کې وګورئ .

Division

وېشنه، انحراف، جلاکول ، تقسیمول ، په برخو ویشل ، پراو لرونکې حالت ته اړول .

- **Cell Division**

د حجراتو وېشنه،حجروي وېشنه.

- **Direct Cell Division**

مستقیم حجروي وېشنه.

- **Indirect Cell Division**

غیر مستقیم حجروي وېشنه.

- **Maturation Division**

د مایوزس (Meiosis) پواسطه حجروی وېشنه.

Divulse

په فشار سره جلاکېدنه، راشکول.

(Bivalent) په انډول.

Divarication

په ګڼ شمېر څانګو وېشنه ، هغه جوړښتیزه برخه چې ورځخه نورې څانګې منځ ته راځي.

Divergence

تبعد ، لېرې کېدنه، د دوه سترګو لېرې کېدنه یو له بله.

Divergent

د (Divergence) اړوند صفت .

- **Divergent Strabismus**

کېږې سترګې ، د (Divergent Squint) په انډول.

- **Divergent Squint**

د هغه ډول لیدنه چې کې د ناروغ دواړه سترګې له پوزې څخه لېرې بڼه بهر ته متوجه لیدنه کوی.

Diverticula

د ډایورټیکولوم د ګڼې شمېرې بڼه.

Diverticulectomy

د ډایورټیکول غوڅول.

Diverticulitis

د ډایورټیکول (رتج) التهابي کېدنه.

Diverticulogram

د ډایورټیکول د راډیولوژیک څېړنه.

Diverticulosis

د ډېرو ډایورټیکونو شته والی.

Diverticulum

ډایورټیکولوم ، رتج ، دا هغه کځوړه ډوله د استطالې په څېر ګردې یا په ببلا ببلو بڼو د تش منځو غړو (لکه د کولمو ، مثانې اونورو) څخه وتلې برخه چې ولادي نیمګړتیا ګڼل کیږي او علت د مخاطي طبقې فتق دی چې د عضلاتو طبقې له جدار څخه منځ ته راځي لکه د [میکل ډایورټیکولوم (Meckel's Diverticulum)] په څېر.

- **Auditory Tube Diverticulum**

د (Guttural Pouch) په انډول.

- **Dorsal Urethra Diverticulum**

دا د احلیل د ظهری برخې اړوند دایورټیکولوم دئ چې د یوې وړې او کوچنی پوچ (تشې) په څېر منځ ته راځی .

- **Esophageal Diverticulum**

د مری ولادی یا کسبی بڼه ډایورټیکولوم چې پکې موضعی ډول اتساع شتون لری او پکې مایع او غذائی مواد راټولېږی کشش بڼه لری ، کلېنیکی نښې یې (Dysphagia And Regurgitation و د مری بندښت Esophageal Obstruction) دی .

- **Intestinal Diverticulum**

Divulsion
په فشار سره د جلا کولو کړنه.

Divulsor
هغه وسیله چې جلا کېدنه او شلول پرې تر سره کیږي.

Dizygotic
د دوه زایګوت یا هګو لرونکې چې سره جلا وي.

Dizziness
ګنسیت، ګېچ کېدنه، د ثبات نشتوالی د ماغزو نه انډولتیاس.

DLE
د ډیسک په څېر لوپوس اریتیماتوز (Discoid Lupus Erythematosis) لپاره لنډه نښه ده.

dm
د (Decimetre) لپاره لنډه نښه ده.

DMD
د غاښونو د طبی څانګې ډاکتر (Doctor of Dental Medicine) لپاره لنډه نښه ده.

DMRD
د رادیولوژي د پېژندنې طبي ډیپلومه ډاکتر (Diploma In Medical Radio Diagnosis) لپاره لنډه نښه ده.

DMRT
د رادیو تراپي څانګې طبي ډاکتر (Diploma In Medical Radio Therapy) لپاره لنډه نښه ده.

DMF
د دوړپدلي (ورستو) غاښونو شتون د لوپدلي یا ډک شوي غاښ شتون، هغه نیولیک چې د غاښونو په جراحي کې پکاریږي ، د (Decayed Missing Filled) لپاره لنډه نښه ده.

DNA fingerprint
د (Genetic Fingerprint) لپاره لنډه نښه ده.

DNase
دی اوکسي رایبونیوکلیز انزایم (Deoxyribonuclease) لپاره لنډه نښه ده.

DNB
د لاندې جملو لپاره مخفف دی.

DNB
دای نایتروبنزین د (Dinitrobenzene) لپاره لنډه نښه ده.

DNB
د رحم غېر وظیفوی وینه بهېدنه چې د (Menstrual Period) اړوند بلله نشي.

Dysgalactia
د شیدو په غیر طبیعي توګه ترشح کېدنه.

Dysgammaglubolinemia
د ګاماګلو یولپین اختلال په وینه کې.

Dysgammaglubolinemic
د وینې د ګاماګلوبولین اختلال اړوند.

Dysgenesia
په وده کې اختلال، نه جوړېدنه ، په جنینی دوره کې د غړو نه جوړېدنه.

Dysgenesis
نیمګړې وده، ناقصه وده.

Gonadal Dysgenesis -
د ګونادونو یا جنسي غدواتو نیمګړې وده.

Dysgenic
د هغو تر منځ واده چې ارثي نیمګړتیاوې لري.

Dysgenitalism
په جنسي ودې لپاره نیمګړتیا.

Dysgerminoma
دا هغه د جنسي غدواتو (Ovary یا Testicle) اړوند خبیث تومور دی چې د اپتیلیال نسج د جرمینال برخې څخه منشه اخلي دا هغه وخت وي چې لا هم جنسي توپیر منځ ته نه وي راغلې.

Dysgeusia
د ذایقې (خوند) په حس کې اختلال.

Dysglobulinemia
د وینې په ګلوبولین کې اختلال.

Dysglycemia
د قند (شکرې) په میتابولیزم کې اختلال.

Dysgnathia
د پورتنی او ښکتنی ژامنو کې نیمګړتیا.

Dysgnathic
په (Dysgnathia)پورې اړوند.

Dysgosia
په ذکاوت او هوښیاری (عقل) کې اختلال.

Dysgonic
لږه وده کړې حالت ، د لږ اندازې ودې – زیاد ښت سره ترلې

Dyskinesia
د اعصابو له کبله د حرکت (تلنه) کې اختلال ، د ارادی حرکتونو (Voluntary Movements) د کنټرول اختلال.

- **Biliary Dyskinesia**
د صفراوي کڅوړې د حرکت له کبله دردونو شته والی.
- **Intermittan`s Dyskinesia**
متناوبه ډیسکاینیزیا چې پدې کې په متناوبه توګه د ویني د بهیر د ویجاړتیا له کبله لاسونه او پښې د حرکت کولو ناتواني لري.
- **Tarda Dyskinesia**
په غیر ارادي توګه متکرراً د[مخ، بارخوګانو، خولې، غاړې د عضلاتو حرکتونه] شتون لري چې دا حالت معمولاً په ډیر عمر لرونکو کسانو او هغه کې د اوږدې مودې لپاره د پسایکوز ضد درمل اخلي او یا هم د درملو د ودرېدنې سره سم منځ ته راځي ، د (Tardative Dyskinesia) په انډول.

Dyslalia
په خبرو کولو یا تکلم کې اختلال.

Dyslexia
هغه ډول وده موندنه چې پکې د لیکنې په درک کې د اختلال شتون لری ، د (Dyslexic) په انډول.

Dyslexic
د (Dyslexia) اړوند صفت.

Dyslipidaemia
د ویني د غوړو (Lipids) شحمی موادو اختلال او نا انډولتیا حالت.

Dyslipidosis
د شحم یا غوړو په استقلاب کې اختلال.

Dyslipoidosis
د (Dyslipidosis) په انډول.

Dyslipoproteinemia
په وینه کې د لایپوپروتین ابنارمل حالت شته والی.

Dyslochia
د لوشیا یا زېږېدنې ځخه وروسته د ترشحاتو اختلال په اطراح کې.

Dyslogia
د بیان او استدلال د قدرت اختلال ، پدې کې ناروغان نشی کولای چې د لغتونو استعمال له مخې خپل نظر څرګند کړی.

Dysmaturity
د داخل الرحمي عمر نه پخوالی او یا کوچنیوالی حالت چې د (Little Body Fat ،Toenails ، Long Fingernails ،Wrinkled Skin) په څېرنښې لری او داسې ویل کیږي چې د پریوان د ښه دندې نه تر سره کولو پورې اړوند دی.

- **Pulmonary Dysmaturity**
د سږو نارس حالت ، اومه سږي ، د (Wilson Mikity Syndrome) په انډول.

Dysmasesis
په ژوولو کې اختلال یا د ستونزې شته والی په ژوولو کې.

Dysmelia
په یوه یا څو اندامونو کې د اختلال شتون د جنین ودې د نیمګړتیا اړوند دی.

Dysmenorrhea
د تحیض دردناکه بڼه ، عسرت الطمث ، د (Dysmenorrhoea) په انډول.

- **Congestive Dysmenorrhea**
احتقاني ډیسمینوریا.
- **Essential Dysmenorrhea**
لومړنی ډیسمینوریا ، هغه دردناکه تحیض چې د هغه لپاره روښانه علت او سبب نه موندل کیږي.
- **Membranous Dysmenorrhea**
غشائي ډیسمینوریا.
- **Obstructive Dysmenorrhea**
انسدادي ډیسمینوریا ، دا حالت په میکانیک توګه د حیض د بندېدنې له کبله منځ ته راځي.
- **Primary Dysmenorrhea**
لومړنی ډیسمینوریا.
- **Secondary Dysmenorrhea**
ثانوي ډیسمینوریا ، دا د حوصلې غړی د ناروغیو له کبله منځ ته راځي.
- **Spasmodic Dysmenorrhea**
د سپزم حیض درد درلودنه دا د رحم د سپزم له کبله په دردناکه توګه حیض شتون لري.

Dysmetabolism
د میتابولیزم اختلال.

Dysmetria
د ارادي حرکاتو د لمنې په دقیقه کنترول کې ناتواني چې دا حالت د ماغزو په ناروغیو کې منځ ته راځي.

Dysmetropsia
د سترګو پواسطه د اجسامو د ابعاد و په تاکنه کې اختلالي.

Dysmicrobialism
د مکروبونو په طبیعي ټولګې کې اختلال چې معمولاً د ګاونډیتوب په برخه کې منځ ته راځي لکه په کولمو کې.

Dysmimia
د مطلب په بیان کې ناتواني د حرکاتو پواسطه.

ماته پوزه او هایپوپلاستیک مګزیلا] حالتونه شتون لري.

- **Mandibul of Facial Dysostosis**

دا هم ارثي ولادي نمګړتیا ده چې پکې [**Franceschett`S Syndrome** همدارنګه د مخ د هډوکو هایپوپلازیا د ژامني او ورسره د غوږونو نقصان، د خولې غټوالی لکه د کب (ماهي)] په ځېر حالتونه شته والی لري.

- **Metaphyseal Dysostosis**

د هډوکو د میتافیر برخې ډیسوزتوزس.

- **Multiplex Dysostosis**

د (**Hurler`s Syndrome**) په انډول.

- **Orodigitofacial Dysostosis**

د (**Orofacio Digital Syndrome**) په انډول.

Dysoxidizable

په مشکل یا ستونزې سره اوکسیدیشن.

Dyspancreatism

په پانکراص کې اختلال.

Dyspareunea

درد لرونکی جنسي یو ځای کېدنه (مقاربت) ، په ښځو کښې د کوروالې د مهال درد احساس.

Dyspepsia

سؤ هضم، د هضمې جهاز اختلال، نه هضمېدنه، بد هضمي.

- **Acids Dyspepsia**

د معدې د تېزابو زیاتېدنه د سؤ هضم سره.

- **Nervous Dyspepsia**

د اعصابو ناروغي له کبله نه هضم کېدنه.

Dyspeptic

دبد هضمي. (**Dyspepsia**) پورې اړوند.

- **Dyspeptic Symptoms**

د بدهضمی اړوند کلېنیکی نښې نښانې .

Dyspeptone

هغه پیپټون چې نه حل کیږي.

Dysphagia

عسرت بلع ، په تېرولو(**Swallowing**) کې د (ستوني او مری، د درد او ستونزې) شتون.

Dysphasia

تکلم او د (کلماتو بیان او لیکنه دواړو) نه پوهېدنه او ناتواني.

Dysphemia

د پسیکونیوروز له کبله د تکلم اختلال ، د (**Stammering**) په انډول.

Dysphonia

پـه تکلم او بیـان کې د آواز (غږ) اختلال چې د (صـوتی حبلونو **Vocal Cords** تخریب **Impairment** له کبله چې د حنجرې التهاب **Laryngitis** کې منځ ته راځي) پېښو کې لیدل شی.

Dysmnesia

د حافظې اختلال.

Dysmorphism

د بڼې یا مورفولوژي لپاره ببلا ببلې بڼې او اختلال.

Dysmorphophobia

د بڼې له بدلون څخه په ناروغي توګه وېره درلودل.

Dysmorphopsia

د لیدنې اختلال دی چې شیان پکې په بدلون سره لیدل کیږي.

Dysmorphosis

غیر نورماله بڼه ، د (**Malformation**) په انډول.

Dysmyotonia

د عضلاتو غیر طبعي مقویت.

Dysneuria

د عصبي نیرو لړېدنه او اختلال.

Dysnomia

دا یو ډول افزي (**Aphasia**) ده چې د بعضې شیانو په نوم اخیستلو کې اختلال او ستونزه شته والی لري.

Dysodontiasis

په مؤخر ډول یا ستونزې سره د غاښونو منځ ته راتګ.

Dysontogenesis

د جنیني وده کولو اختلال.

Dysontogenetic

د جنیني ودې اختلال اړوند.

Dysopia

د لیدنې اختلال، نیمګړې لیدنه.

Dysosmia

په بویولو کې اختلال.

Dysorexia

په اشتها کې اختلال، بې اشتهائي.

Dysosteogenesis

د هډوکو د جوړېدنې نقیصه ، د (**Dysostosis**) په انډول.

Dysostosis

د هډوکو په جوړېدنه کې اختلال.

- **Cleidocranial Dysostosis**

دا یو ارثي ډول اختلال دی چې پکښې د کوپړۍ او ترقوې، غاښ او فقراتو هډوکو کې نقیصه شتون لري.

- **Craniofacial Dysostosis**

دا هم ولادي ارثي نیمګړتیا ده چې پکښې [**Strbismus**، **Hypetetorism**، **Exophthalmus** ، **Acrocephaly** د طوطي د منښوکې په څېر

پورې اړوند ندی.

- **Fibrous Dysplasia**
فیبروتیک دیسپلازیا ، پدې صورت کې د هډوکو د قشر برخه نری کیږي او د مخ عظم (هډوکوماغزو) برخه پکې وده مومي چې په نتیجه کې درد ، نتواني او زیاتېدونکي سۀ شکل منځ ته راځي.
- **Heriditary Dysplasia of Ectoderm**
دا په ولادي توګه د اکتودرم نقیصه ده.
- **Metaphyseal Dysplasia**
د هډوکو د میتافیز برخې دیسپلازیا.
- **Spondyloepiphyseal Dysplasia**
په ارثي ډول د فقراتو د نتو او د هډوکو د اپي فیز برخې ډیسپلازیا.

Dysplastic
د ډیسپلازي لرونکی، پرته له دري ډوله (اتلتیک، استنیک او پیکنیک) نامتو ډولونو څخه د بدن بڼه.

Dyspnea
نفس تنګي، زړه خپګان، د ساکښلو دردمنه ستونزه چې د زړه او سږو ناروغیو له کبله پیښېږي.
- **Cardiac Dyspnea**
د زړه د ناروغي له کبله ډیسپني.
- **Paroxismal Nocturnal Dyspnea**
د زړه د ناروغیو له کبله د شپې له خوا په بستر کې د وضعیت له کبله د تنفس ستونزه منځ ته راځي چې ناروغ یو ناڅاپه له خوبه راویښوي دا د زړه احتقاني عدم کفایي پورې اړوند ګڼل کیږي (**PND**) په انډول.
- **Traube`s Dyspnea**
د حرکت کولو په وخت نفس تنګي چې نفس پڅ او د صدري اتساع او کولاپس د زفیر اوشهیق په وخت څرګندیږي.

Dyspneic
په نفس تنګي (**Dyspnea**) پورې اړوند صفت.

Dyspnoea
تنفسی عسرت ، نفس تنګی ، د ساکښلو درد منه ستونزه .

Dyspnoeic
په نفس تنګي (**Dyspnea**) پورې اړوند صفت.

Dysponderal
د دروندوالي (وزن) اختلال پورې اړوند.

Dyspragia
د بعضې دندو (وظیفو) د سرته رسولو ستونزه او اختلال.

Dyspraxia
د موزون او توله ائیزو حرکتونو (**Coordinated Movements**) کې ستونزه.

Dysprosium
ډیسپروزیوم ، دا یوکېمیاوي عنصر دی اتومي لمبر ئي

Dysphonic
په ډیسفونیا (**Dysphonia**) پورې اړوند.

Dysphoria
د کسالت، ناتواني، د خوښې (**Eupopharia**) نارامي او بېچارګي احساس.

Dysphoriant
د دیسفوریا (**Dysphoria**) منځ ته راوړونکی.

Dysphrasia
د بیان ستونزه د رواني اختلال له کبله.

Dysphrenia
عملي پسیکوز.

Dyspigmentation
د پیګمنټیشن اختلال.

Dyspinealism
د صنوبري غدی په عمل وکړنه کې اختلال.

Dyspituitarism
د هایپوفیز د غدی د عمل اختلال.

Dysplasia
غیر نورماله وده، د ودي اختلال ډیسپلازي.
- **Anhidrotic Ectodermal Dysplasia**
ولادي د اکتودرم نقیصه.
- **Anteroposterior Facial Dysplasia**
دا د ودي د اختلال له کبله د مندیبولا او مکزیلا تر منځ ابنارمل اړیکو منځ ته راتګ دی چې د کوپړۍ سره مل وي.
- **Bronchopulmonary Dysplasia**
دا په ماشومانو کې د مزمن ریوي ناروغیو شتون دی چې په نتیجه کې برانشیولونو میتاپلازیا او بین السنخي فیبروز منځ ته راځي.
- **Chondroectodermal Dysplasia**
دا کاندروپلازي ده چې د پوستکي، وېښتانو، غاښونو پولې ډکتیلي او د زړه د حجابونو نقیصه ورسره مل وي.
- **Cretinoid Dysplasia**
د هغه ډول د ودي ابنار ملیتي ده چې ورسره کریتینیزم، د هډوکو جوړېدنې تأخیر، د جنسي غړو کوچنیوالی لیدل کیږي.
- **Dental Dysplasia**
د غاښونو ډیسپلازیا.
- **Diaphyseal Dysplasia**
د اوږدو هډوکو د ډیافیز برخې د قشر پېړوالی چې د ډیافیز برخه د اپي فیز لوري ته وده کوي او بعضاً په پلنو هډوکو کې هم دغه پېښه منځ ته راځي.
- **Epiphyseal Dysplasia**
د اوږدو هډوکو د اپي فیز برخې ډیسپلازیا چې دا د تایراید غدی

Dyssystole
نابشپړه سیستول، د زړه د سیستول اختلال، د (Assystole) په اندول.

Dystaxia
د عضلاتو ارادي حرکاتو په کنترول کې اختلال ، رعشه ، رپېدنه.

Dystectia
د جنین د عصبي لارې د شونډو ناقص ډول سره یو والی کوی چې دغه حالت لکه د انانسفالي، سپینا بایفیدیا او مینینګوسل منځ ته راوړي.

Dysteliology
د نیمګړو غړو ، یا د نیمګړتیا اړوند علم او پوهه.

Dysthermosia
د تودوخې په تولید کې اختلال.

Dysthymia
هغه حالت چې د ټایموس د غدی د ترشحاتو د اختلال له کبله په ماشومانو کې منځ ته راځي. د ټایموس اختلال

Dysthyroid
د ټایرایډ غدې اختلال.

Dysthyroidal
د ټایرایډ د غدې د اختلال اړوند.

Dysthyroidism
د ټایرایډ د غدې کار کړنې اختلال.

Dystimbria
د غږ یا آواز په کیفیت کې نقصان

Dystithia
د تیښو پواسطه په تغذیه کې نقصان او اختلال.

Dystocia
ستونزمن ډول زېږونه، غیر طبیعي زېږونه.

- **Fetal Dystocia**
د ماشوم ستونزمنه زېږونه.
- **Maternal Dystocia**
د (Mother Dystocia) په اندول.
- **Mother Dystocia**
د مور د حوصلې غیر طبیعي بڼې له کبله د ستونزمن ماشوم زېږول.
- **Placental Dystocia**
د پلاسنتا د زېږونې ستونزمنه بڼه.

Dystonia
د عضلاتو د مقویت اختلال، د قوت لړوالي اختلال.

(66)او اتومي وزن یې (50.162) دی او اختصاري یا مخففه علامۀ یې(Dy) دی.

Dysproteinemia
په وینه کې د پروتین د اختلال شتون.

Dysraphia
د نیورال تیوب د نه ټرلو له کبله د (Raphe) وازه پاتې کېدنه دا د جنیني دورې د ودې نیمګړتیا بلل کیږي.

Dysraphism
په (Disraphia) پوري اړوند.

Dysrhythmia
د ریتم یا نظم اختلال، بې نظمی ، بې قاعدګی .

- **Cerebral Electro- encephalographic Dysrhythmia**
دا د ماغز د برېښنائي ګرافونو د ریتم او نظم نشتوالي ته ویل کیږي.
- **Electrocardiographic Dysrhythmia**
د زړه د برېښنائي ګراف اختلال.

Dyssebacea
د سیباسیوس د فولیکول اختلال چې د ویټامین ب په نشتوالي کې وي.

Dissocial
د خلکو ټولنې په خلاف ، د (Antisocial) په اندول.

Dyssomia
بې خوبي، د خوب نشتوالی، د خوب اختلال.

Dysspermasia
د منوي مایع اختلال، د سپرماتوزوا اختلال، د (Dysspermia) په اندول.

Dysstasia
په وربدنه کې ستونزه او اختلال.

Dysstatic
په (Dysstasia) پوري اړوند.

Dyssymbolia
د بیان د فصاحت نشتوالی، په مطلب د پوهولو د توان نشتوالی.

Dyssynergia
د عضلاتو هم غږی نشتوالی، د (Asynergia) په اندول.

- **Cerebellaris Myoclonica Dyssynergia**
د دماغ او مایوکلونیک هم غږی نشتوالی.
- **Cerebellaris Prograssive Dyssynergia**
په پرمختللي ډول سره د عضلاتو او دماغ د همغږي (هماهنګي) نشتوالی.

- **Musculorum Deforms Dystonia**
دا یوه نادره ناروغي ده چې مزمنه بڼه لري د کلونیک انقباضاتو او غیر منظم غیر ارادي تقلصونه په تنه او اندامونو کې منځ ته راځي په لاره کې ښکاره کیږي.

Dystonic
په (**Dystonia**) پورې اړوند.

Dystopia
غیر طبیعي موقعیت، بې ځایه ، مکان بدلون.

Dystopic
په (**Dystopia**) پورې اړوند.

Dystrophia
د تغذیې اختلال، تغذیې نقص، ویجاړیدنه.

- **Adiposegenitalia Dystrophia**
د بدن د څربه کېدنې زیاتوالی او د جنسي توان لړیدنه، د هایپوفیز غدی د لږ کار کولو له کبله د تناسلي دستګاه اټروفي. د (**Fröhlich's Syndrome**) په انډول.

- **Dystrophia Adiposogenitalis**
د (**Fröhlich's Syndrome**) په انډول.

- **Epithelialis Dystrophia of Cornea**
د سترګو د قرنیې برخې د اپیتیل نسج ګړیدنې او او ویجاړیدنه ده.

- **Dystrophia Myotonica**
دا نادره ناروغي ده د عضلاتو کلکوالی او اټروفي پکې منځ ته راځي. د (**Myotonic Dystrophy**) په انډول.

- **Ungium Dystrophia**
د نوکانو په جوړښت او سمون کې بدلون او اختلال دا ښایي د سیستمیک یا نورو ناروغیو له کبله وي.

- **Dystrophoneurosis Dystrophia**
د تغذي له کبله د عصابو اختلال.

Dystrophic
په (**Drystrophy**) پورې اړوند.

Dystrophy
د تغذي اختلال، تغذي (خوراک) نقص ، خوراکی نیمګړتیا.

Myotonic Dystrophy
د (**Myotonic Dystrophia**) په انډول.

Dystrypsia
د کولمو د هضم اختلال.

Dysuria
د متیازو سوزېدنه ، عسرت البول ، د متیازو کولو په وخت کښې د درد شته والی.

- **Initial Dysuria**
د متیازو په پیل کې د سوزېدنې احساس.

- **Total Dysuria**
د متیازو کولو په ټول بهیر کې د سوزېدنې احساس.

- **Terminal Dysuria**
د متیازو په پایله کې د سوزېدنې احساس.

Dysuric
د متیازو د درد کولو اړوند.

Dysury
د (**Dysuria**) په انډول.

Dysvitaminosis
د ویټامینونو د نشتوالي په کبله اختلال.

Dyszooamylia
د ګلایکوجن په زېرمه کولو کې د ځیګر (کبد) عدم کفایه.

Dyszoospermia
د سپرماتوزوا په جوړېدنه کې اختلال.

- **Blainville`s Ear**
په ولادي توګه د غوږ د بېلابېلو بڼو لرونکي ډولونه.
- **Cagot Ear**
هغه غوږ چې پرته له بڼکتني لوب څخه وي.
- **Ear Canal**
د غوږ کانال د غوږ هغه برخه چې د (**Eardrum**) څخه بهر ته واقع ده او هوا او غږ د تېرېدو لپاره مجرا برابروی په ځانګړې توګه (**External Auditory Meatus**) برخه.
- **Cauliflower Ear**
د جروحاتو او یا پریکاندریت له کبله د ګلپي په څېر غوږ بڼه منځ ته راتګ.
- **Diabetic Ear**
د دیابت سره د مستوئیدیت یو ځای شتون.
- **Eardrum**
د غوږ پرده ، د غوږ سمعی صماخ چې د غږونو ته اهتزاز (**Vibrations**) ورکوی او دننه غوږ (**Middle Ear**) ته یې لېږدوی ، د (**Myringa, Tympanum**) په انډول .
- **External Ear**
د غوږ بهرنی (دباندینی) برخه یا د اوریکول برخه.
- **Glue Ear**
په دننه غوږ کې په مزمن ډول د مایع راټولېدنه چې دا د موادو د ډېر لزوجیت او (**Austachian**) تیوب د بندښت له کبله منځ ته راځي.
- **Inner Ear**
د غوږ دننه برخه، داخلي غوږ.
- **Internal Ear**
د غوږ دننه برخه، داخلي غوږ.
- **Middle Ear**
د غوږ دننه منځنی متوسطه برخه.
- **Ear Ossicle**
غږیز اوسیکولونه ، د (**Auditory Ossicles**) په انډول.
- **Outer Ear**
بهرنی غوږ، د غوږ بهرنی برخه.
- **Ear–minded**
د غوږ له لارې بڼه حافظې ته سپارنه، هغه څوک چې د خاطراتو او اوربدنې قوې بڼه لري.
- **Ear Wax**
د غوږ خیری، د غوږ موم ، د (**Buchone** یا **Cerumen**) په انډول.

Earache

د غوږ درد.

EB

د وینې پلاټلټ، د یوې حجرې داخلي جسم (**Elementary Body**) لپاره لنډه نښه ده.

E.e

دا د انګریزي ژبې پنځم توری دئ چې د ګڼ شمېر طبی کلمو لپاره لنډه نښه بلله کېږی.

E

سالمه لیدنه او روغه سترګه. د (**Emmetropia**) لپاره لنډه نښه ده.

E

سترګه ، د (**Eye**) لپاره لنډه نښه ده.

E

د الکتروموتور قوت ، د (**Electromotive Force**) لپاره لنډه نښه ده.

E

څېړندوي ، محقق ، تحقیقي، تر څېړنې لاندې ، د (**Experimenter**) لپاره لنډه نښه ده.

E

د الکترون (**Electron**) لپاره لنډه نښه ده.

Ea

دا د بابلیانو او آشوریانو معبود ته وایي او داسې انګېرنه کوي چې د طبیبانو معبود دی.

EAC

د سروکریواتو د انتي باډي کمپلمنټ، د (**Erythrocyte Antibody Complement**) لپاره لنډه نښه ده.

EACA

د اپسیلون امینو کیپروئیک اسید ، د (**Epsilon Amino Caproic Acid**) لپاره لنډه نښه ده.

Ead

دا د (**Eadem**) لپاره مخفف دی د هماغه یا هماغه اندازې معنی ورکوي.

EAP

دا یو اندروجن یا د نارینه وو هورمون دی چې د بلاربو بڼځو له تشو متیازو څخه لاس ته راځي او د نارینه صفاتو په منځ ته راتګ کې مرسته کوي ، د (**Epiallopregnanolone**) لپاره لنډه نښه ده.

Ear

غوږ، د اوربدنې لپاره د بدن یو غړی.

ببلابیل د ټکو په څېر بدلون منځ ته راځي.

Ecchymotic

په ایکیموزس پورې اړوند.

Eccrine

بهر ته افرازونکي(**Exocrine**) غدی لکه د خولې خدی ، د (**Merocrine**) په اندول.

Eccrinology

د ترشح لرونکو غدواتو اړوند علم او پوهه.

Eccrisis

د اضافه موادو غورځول (دفع).

Eccritic

د ترشحاتو تشدید ، هغه عامل چې ترشح تنبه کوي.

Eccyclomastopathy

دا د تیبونو یو ډول ناروغي ده چې د جس وړ جلا جلا کتلې چې د اپیتل له نسج څخه جوړوي د هغوی د جس پواسطه پېژندنه کیږي.

Eccyesis

د رحم څخه بهر ته بلاربتوب، بې ځایه بلاربېدنه لکه په نفیرونو، پلن لېګامنت د پریتوان جوف، هګۍ ځالې کې ، د (**Ectopic Pregnancy**) په اندول.

Ecdemia

هغه ناروغي چې عامل یې پرته له خپل ځایه له بل برخې څخه منشه اخلي.

Ecdemic

دا عقلي ناروغي ده چې عامل یې پرته له خپل ځایه له بل برخې څخه منشه اخلي.

Ecdemomania

دا عقلي ناروغي ده چې ناروغ له کوره په تېښته سره لېوالتیا لري.

Ecderon

د پوستکي او مخاط بهرنی طبقه.

Ecdysis

د (**Desquamation**) په اندول.

ECF- A

د انافیلاکسي لپاره کیموتاکتیک ایوزینوفیلیک فاکتور ته ویل کیږي ، د (**Eosinophil Chemotactic Factor of Anaphylaxis**) لپاره لنډه نښه ده.

EBV

د اپستین بار ویروس (**Epstein Barr Virous**) لپاره لنډه نښه ده.

Eberthelia

دا د سلمونیلا له ډلې څخه میکروب دی.

Ebonation

د هډوکو څخه توپیر کول، د ټپ توپیر د هډوکو له توټوڅخه.

Ebullition

د جوشېدنې حالت، د خوټېدنې حالت.

Eburnation

د هډوکي بدلېدنه په یو کلک نسج باندې، عاجي کېدنه په غاښونو کې.

Eburneous

عاج ته ورته، د عاج په ښه.

Ecaudate

پرته له لکۍ، د لکۍ څخه پرته د لکۍ نه لرونکی.

Ecbolic

بهر ته لېږدونکی، راوېستونکی، سقط منځ ته راوړونکی هر هغه عامل چې زېږوني ته چټکتیا ورکوي د رحم تقلصونه زیاتوي.

Eccentric

هغه چاپېریال چې له مرکز څخه لېرې وي، محیطي.

Eccentrochondroplasia

د هډوکي په اپي فیز کې له حده ډېره د غضروف وده.

- Eccentro -osteochandrodysplasia

هغه حالت چې پکښې (**Ossification**) د هډوکي جوړېدنه له څوټکو پیل کیږي او د هډوکي بڼې ته توپیر ورکوي ، د (**Morquios Syndrome**) په اندول.

Eccentropiesis

له دننه څخه بهر ته فشار.

Ecchondroma

د غضروفي نسج چټکه وده په غضروف یا هډوکي کې.

Ecchondrosis

د غضروف له حده زیاته وده.

Ecchymoma

تر پوستکي لاندې د وینې را ټولېدنې له کبله راوتلې برخه.

Ecchymosis

اکیموز ، تر پوستکي لاندې نسج کې کوچنی اندازه د وینې خپرېدنه چې د پوستکي رنګ ته د رنګ شینوالی ورکوي او

ECG
د زړه برېښنائي ګراف چې دغه کتنه د زړه د بېلابېلو ناروغيو د پېژندنې لپاره پکاريږي (Electrocardiogram) لپاره لنډه نښه ده.

Ecgonine
دا د قلوي وروستنی تولید دی چې فورمول يې ($C_9H_{15}NO_3$) دا د کوکائين او نور اړوند کلوئيدونو د هايدرولايزس څخه لاس ته راځي.

Echinococciasis
د (Echinococcosis) په انډول.

Echinococcosis
په اکينوکوک (Echinococcus Granulosus) باندې اخته.

Echinococcus
دا د سيستودا له کورنۍ څخه يو پرازيت دی چې د لاروا ډول يې په تي لرونکي حيواناتوپه (Lungs، Liver ، Kidneys) کې د هائيداتيد سيست (Hydatid Cysts) په نامه ناروغي منځ ته راوړي.

- **Echinococcus Granolus**
دا د هائيداتيډ سيست مسؤل دی.

- **Echinococcus Multilocularis**
دا سنخي او مولتي لوکولار سيستونو ډولونه لري چې د لاروا او ځوان ډول يې ښايي په (ګيدړانو، موږکانو) کې ومومندل شي همدارنګه په سپورا ډيک ډول انسانان هم اخته کوي.

Echinulate
غاښې ،تېغ لرونکی، اغزي لرونکی، دا اصطلاح په ميکروب پېژندنه کې د هغه ميکروبي کښتونو لپاره پکار وړل کيږي چې غاښ يې موندلی وي.

Echo
د غږ غبرګون، دا په ښلا ښلو ډولونو د کتنو کې لکه د ايکو کارډيوګرافي التراسونو ګرافي په کتنو کې پکار وړل کيږي.

- **Amphoric Echo**
دا غږ د سږو په اورېدنه کې د اوړېدنې وړ دی دا غږ په خالګړي ډول سره د خبرو کولو وروسته تثبيت کيږي.

- **Echocardiography**
د زړه د برېښنائي ګراف اخيستنې کړنه ده.

- **Echoencephalography**
د ماغزو ايکو انسفالوګرافي کتنه.

- **Metalic Echo**
دا د اوسپنيز زنګ وهلو په څېر غږ دی چې په زړه کې د اورېدنې وړ دی په پنوموپريکارډيوم او پنوموتورکس کې د اورېدنې وړ دی.

Echoacousia
دا هغه ډول غبرګونيز غږ اورېدنه ده چې د اصلي غږ وروسته بيا اورېدل کيږي.

Echography
د التراسونوګرافي (Ultrasongraphy) کړنې ويل کيږي

Echokinesia
د حرکاتو پېښې کولو حالت، د حرکتونو له مخې چې کوم ګوری هغه تقليد (پېښې) کوي په عقلي ناروغي کې ليدل کيږي ، د (Echopraxia) په انډول.

Echolucent
د ايکو د څپو د تېرېدنې اړوند.

Echolalia
په بنفسهي ډول سره د خبرو کولو تکراري بڼه ده چې دا حالت په شيزوفريني او د عقلي زوال ناروغيو کې منځ ته راځي.

Echopathy
دا هغه ډول نيوروز دي چې ناروغ پرته لدې چې د خبرو يا حرکاتو په معنی ورسيږي او پوه شي په تکرار سره تر سره کوي.

Echophotony
د غږ او رنګ تر منځ اړيکه داسې ناروغانو کې ليدل کيږي چې د غږ اورېدنې د پارېدنې سره سم ښلابېل رنګونه وينې.

Echopraxia
پدې حالت کښې ناروغان هغه څه چې وينې په بنفسهي او بې معنی په ډول سره هغه تکراروي .

Echophonography
په ګډ ډول سره د ايکوکارډيوګرافي او د فونوکارديوګرافي کار کړنه.

Echoranging
په التراسونوګرافي کې د بدن د ژوروالي او پوزيشن ښودنه.

Echothiophate Iodide
د کولين ايستراز نهې کوونکی دئ چې د ($C_9H_{23}INO_3PS$) فورمول لرېدا درمل د ګلوکوما په درملنه کې پکار وړل کيږي.

Echovirous
دا د ويروسونو يو ډول دی ډېر سيروټايپونه لري په کولمو کې

Ecologic

په ایکولوژي پورې اړوند.

Ecological

په ایکولوژي پورې اړوند.

Ecomania

په کور او چاپېریال کې د بدخویه سلوک درلودل.

Economy

د کورنیو چارو سمون.

- **Economy Class Syndrome**

د (**Deep-vein Thrombosis**) په انډول.

Ecosystem

د ژوندیو او غیر ژوندیو موجوداتو تر منځ د تبادلې کېدونکو موادو یوه ټولی بهیر ته ویل کیږي.

Ecotaxis

دا یو ډول حرکت دی لکه په یوه بطری کې چې بهیر شتون لري.

Ecouvillonage

د ټپ یا زخم یا د حفرې توپیر کول.

Ecphylactic

د محافظت نشتوالی.

Ecphylaxis

د محافظت ځخه پرته، په وینه کې د انتي باډي نشتوالی.

Ecphyma

راوتلې برخه، پرمختللې برخه

Ecrasement

دا کرازیوز(**Ecraseur**) پواسطه اوچتول او خارجول.

Ecraseur

ماتوونکې آله (**Surgical Instrument**) دا په وترنري کې پکار وړل کیږي، داسې یوه وسیله چې یو ځنځیر یا طناب (**Wire Loop**) لري چې د کړې په څېر دی په تدریج سره تنګوالی مومي او د یوې برخې یا غړي یا ټوټې د غوڅولو لپاره پکار وړل کیږي.

Ecstasy

دا د نېشې یا خوب یو حالت دی، د خوښۍ او ثابت فکر حالت دی.

Ecstrophy

د یوه غړي د داخلي سطحې بهر ته راوتل لکه د مثانې اکستروفي.

- **Visical Exstrophy**

دا په ولادي توګه د ګېډې د قدامي جدار او د مثانې د قدامي جدار

ژوند کوی او په ماشومانو کې د (اسپتیک مینجیت **Aseptic Meningitis** ، **Gastroenteritis** ، **Respiratory Infection**) منځ ته راوړي.

Echovirus

د (**Echovirous**) په انډول.

Eclabium

د څنډو یا شونډو بهر ته اوښتنه او چپه کېدنه ، د (**Eversion**) په انډول.

Eclampsia

دا د بلاربتوب (امبدواری) د وخت اړوند ناروغي ګڼل کیږي چې پدغه ناروغي غوره نښې لکه (اختلاج، توکسیمیا **Toxaemia** ، بېهوښه کېدنه، د لوړ فشار **High Blood Pressure** شتون، البومینوریا اوښائی کوما **Coma**) شتون لري.

- **Pre-eclampsia**

پري ایکلامپسیا.

Eclampsism

دا هغه ډول ایکلامپسي ده چې د زېږونې وروسته پرته له اختلاج څخه نورې نښې نښانې شتون لري.

Eclamptic

په ایکلامپسي پورې اړوند.

Eclamptogenic

د ایکلامپسیا منځ ته راوړونکی.

Eclectic

دا د پوهنتون هغه څانګه ده چې د طب په کړنلارو [(طریقو)روش]کې تر ټولو غوره کړنلاره ټاکي.

Eclicticism

دا هغه ډول مدرسه ده چې په طب کې ناروغي د پېژندل شوې پتالوژي له مخې او یا د یوه ډول درملو پواسطه درملنه کوي او د نباتي بوټو پواسطه دغه درملنه غوره ګڼي.

Ecmnesia

دا هغه ډول د یاده وتنه یا هېرول دي چې پکې نورې پ ښې له یاده وزي حال دا چې پخوانی پېښې په حافظه کې لري.

Ecold

د وینې د یوې سرې کریوې پرته له رنګه شبکه

E. coli

د (**Escherichia Coli**) په انډول.

Ecology

د ژوندیو موجوداتو اړیکه د چاپېریال سره څېړي دا هغه علم دی.

Ectiris

د عنبیه بهرنی طبقه.

Ecto-

دا یو مختاړی دی چې د بهر (خارج) معنی لري.

Ectoantigen

هغه انتي جن چې د باکتري په بهرنی سطحې پورې نښلي.

Ectoblast

د یوې حجرې بهرنی جدار، د پوستکي بهر.

Ectocardia

په ولادي توګه د زړه د ځای بې ځایه کېدنه.

Ectocervix

د رحم د عنق یا سرویکس بې ځایه کېدنه.

Ectocervical

د رحم د سرویکس بې ځایه کېدنې پورې اړوند

Ectochoroidae

د سترګو د مشیمې بهرنی پوښ.

Ectocinerea

د ماغز د قشر خاکستري (ایره ډوله) ماده.

Ectocolon

د کولون اتساع، د کولون بهر ته.

Ectocondyle

د هډوکي خارجي کوندیل.

Ectocornea

د سترګو د قرینې بهرنی برخه.

Ectocuneiform

دا د پښې د مېتاتارس برخې (د مېخ په څېر درې هډوکي).

Ectocytic

د حجرې بهر ته د حجرې بهرنی برخه.

Ectoderm

دا د جنین د وخت د پریمیتیف جرم طبقې بهرنی طبقه ده چې له هغه څخه د پوستکي اپي درم او اړوند نسج منځ ته راځي.

Ectodermal

د پوستکی بهرنی طبقې اړوند.

Ectodermic

په اکتودرم (**Ectoderm**) پورې اړوند ، د (**Ectodermal**) په انډول.

Ectodermoidal

د اکتودرم په څېر یا ورته جوړښت.

نیمګړتیا ده چې پکې د مثانې مخاطي غشا بهر ته بڼکاري.

ECT

د الکتروشاک یا د اختلاج د منځ ته راوړلو پواسطه درملنه دا د برېښنا د بهیر د ټاکلې اندازې پواسطه منځ ته راځي، د (**Electro Convulsive Therapy**) لپاره لنډه نښه ده.

Ect-

دا یو مختاړی دی چې د بهر (خارج) معنی لري.

Ectal

خارجي، بهرنی.

Ectad

نېغ په نېغه (مستقیماً) د بهر لوري ته.

Ectasia

اتساع، پراخوالی، لوئېدنه.

- **Annuloaortic Ectasia**
د ابهر د پروګزیمال یا مقدمې برخې اتساع دا حالت په مارفن سندروم کې لیدل کیږي.
- **Mamary Duct Ectasia**
د مورني غدواتو د قناتونو اتساع چې د ورسره د غدواتو افراز او التهابي بدلونونه په انساجو کې منځ ته راځي دا حالت عموماً د مینوپاوز یا له هغه وروسته منځ ته راځي.

Ecstasy

د ډېرې خوښۍ احساس ، هغه ډول قوی تنبه او هذیان (**Powerful Stimulant** او **Hallucinatory**) اغېزو لرونکی غېر قانونی درمل چې ورته (**Methylenedioxymethamphetamine**) نوم هم ورکول وی.

Ectatic

په اتساع او پراخېدنې پورې اړوند.

Ectental

د پوستکي بهرته او دننه د اتصال حد اړوند.

Ectethmoid

د غربالي (**Ethmoid**) هډوکي کتلاتو له جنبي کتلاتو څخه یوه.

Ecthyma

دا د پوستکي پوستوالی اندفاع ده چې د یوې التهابي برخې پواسطه احاطه شوېده وروسته لدې چې تخلیه شي یوه (سیکاتریزیه) رتبه پرېږدي.

- **Acthyma Syphilliticum**
د سیفلیس اکتیما.

Ectodermosis

دا په ولادي توګه د اکتودرم څخه د منځ ته راتلونکو جوړښتونو کې د نیمګړتیا شتون دی.

- **Ectodermosis Erosiva Pluriorificialis**

دا ایریتیما مولتیې فورم یو ډول دی چې د تبې او مخاطي ضایع په خوله کې او مقعد کې او تناسلي غړو کې ورسره مل وي.

Ectoentad

د بهر څخه دننه لوري ته.

Ectoenzyme

د حجرې څخه بهر انزایم، بهرنی انزایم.

Ectogenous

له بهر څخه زېرېدلی، د ارګانیزم له بهر څخه منځ ته راغلی.

Ectoglia

د لومړنی پریمیټیف جرم سل(**Germcell**) بهرنی طبقه.

Ectoglobular

د وینې د کریواتو څخه بهر ته.

Ectogony

د زایګوټ د ودې اغېزه د مور د غړو لپاسه.

Ectolecithal

د محیطي ژېرې درلودونکی.

Ectoloph

د ژرندې د غاښ پر مخ بهرنی حاشیه په پورته ژامنه کې.

Ectolysis

د اکتوپلازم له منځه وړل یا د اکتوپلازم لایزس.

Ectomere

دا یو د هغه بلاستومیرونو څخه دی.

Ectomesoblast

دا هغه لومړنی جنیني حجرې دي چې لا هم د اکتودرم او میزودرم تر منځ یې توپیر سره نکېږي.

Ectomorph

هغه پېژندنه چې د اکتومورفي پواسطه تر سره کیږي.

- ectomy

دا یو روستاړې دئ چې د غوڅولو او موخې وړ غړی (هماغه غړي) د غوڅولو معنی لري ، دا د بدن هغه ډول جوړښتیزه بڼه ده چې په هغه کې د اکتودرم څخه مشتق شوي انساج تر ټولو ډېر وي پدغه کسانو کې احشا او غړي ښه وده نکوي بدن نرۍ او ونه لنډه وي او عضلات ویلې بڼه لري.

Ectonuclear

د هستی څخه بهر، د هستی دباندې.

Ectopagus

دا هغه نیمګړې زېرېدنه ده چې په ولادي توګه دوه ګونی ماشوم د تنې له برخې څخه یو بل سره نښتي بڼه لري.

Ectoparasit

بهرنی پرازیت، هغه پرازیت چې د کوربه بدن څخه بهر ژوند کوي.

Ectophyte

بهرنی د نباتي پرازیت، د کوربه له بدن څخه بهر ژوند کونکی پرازیت.

Ectopia

بې ځایه، هغه غړی چې په خپل طبیعي ځای کې نه وي.

- **Lentis Ectopia**

د عدسیې بې ځایه موقعیت.

- **Ectopia of Pupillae Congenita**

ولادي اکتوپي د پوپیل یا کسي.

- **Ectopia of Testes**

د مرغېړیو بې ځایه موقعیت.

- **Ectopia of Pregnancy**

د بلاربتوب بې ځایه موقعیت.

Ectopic

په بې ځایه موقعیت پورې اړوند.

- **Ectopic Heartbeat**

د زړه بېځایه نبض یا تقلص چې د (**Sinoatrial Node**) څخه سرچینه اخلی . د (**Extrasystole**، **Premature Beat**) په اندول.

- **Ectopic Lentis**

د عدسیې بې ځایه موقعیت.

- **Ectopic Pacemaker**

بېځایه پسمېکر چې د (**Sinoatrial Node**) پر ځای کار کوی.

- **Ectopic Pupillae Congenita**

ولادي اکتوپي د پوپیل یا کسي.

- **Ectopic Testes**

د مرغېړیو بې ځایه موقعیت.

- **Ectopic Pregnancy**

د بلاربتوب بې ځایه موقعیت چې معمولاً په (**Fallopian Tubes**) کې پېښېږی. د (**Extrauterine Pregnancy**، **Eccyesis**) په اندول.

Ectoplasm

د حجرې د سایتوپلازم چاپېریال (محیطي) برخه.

Ectoplastic

په سطحه کې د جوړېدنې قدرت درلودونکی.

پرته له اندامه ، د (**Ectromelia**) اړوند صفت.

Ectromelus

هغه جنین چې د مټ او لینګو وده یې ودرېدلې وي، د (**Ectromelia**) اړوند صفت.

Ectropion

د سترګو د سترغلو اوښتنه بهر ته او د منظمې ښکاره کېدنه.

Ectropionize

د په څټ کېدنې حالت، اوښتنې حالت ته راګزول.

Ectrosyndactyllia

هغه حالت چې پکښې بعضې ګوتې نشتوالی لري او یاپه نښتې بڼه دي.

Eczema

دا د پوستکي التهابي حالت دی چې ببلابېل ډول ضایعات پکې شته والی لري چې دا د ارتشاح، او بلنې ترشح، تفلس، زېرېدنې، سره مل وي دا مزمنه ناروغي ده چې د یوه څخه بل ته لېږدېدنه نه کوي او علتونه یې لاهم پېژندل شوي ندی. سوز ېدنه ترشح او تفلس یې غوره نښې دي.

- **Atopic Eczema**

غیر وصفي اکزیما.

- **Facial Eczema of Ruminants**

دا فوتوسنستیف ناروغي ده په هغه ناروغانو کې چې د لمر وړانګو سره حساسیت لري چې دا په نیوزلانډ کې لیدل کیږي.

- **Berpiticum Eczema**

په خپاره ډول د هر پس سیمپلکس ناروغي.

- **Marginatu Eczema**

د څنډو اکزیما د یوه ډول فنګس پواسطه منځ ته راځي د ورنونو او قابضه برخو کوتونو کې منځ ته راځي.

- **Nummular Eczema**

دا په نیورودرماټیټ کې لیدل کیږي.

- **Squamosum Eczema**

دا یو ډول اکزیما ده چې اپتلیال نښتونکي تفلسونه لري.

- **Vaccinatum Eczema**

د ویروسو د واکسین له کبله د بدن په عمومي ډول ویزیکولار (**Eruption**) منځ ته راځي او مزمن جلدي انتانات وربانديز یاتوالی (**Superimpose**) کیږي.

- **Vesicular Eczema**

دا ویزیکولار اکزیما ده چې د ویزیکولونو له مخې پېژندل کیږي.

- **Vesiculosum Eczema**

د (**Vesicular Eczema**) په اندول.

Ectopeterygoid

د پتریګوئید هډوکي بهرنی عضله.

Ectopy

بې ځایه پرته له طبیعي موقعیت څخه.

Ectoretina

د سترګو د شبکې بهرنی طبقه.

Ectoscopy

د یوې غړي بهرنی کتنه او منظره.

Ectosite

بهرنی پرازیت. بهرنی برخه.

Ectoskeleton

بهرنی اسکلیت، دا یو کلک جوړښت دی چې د بدن په بهرنی برخه کې منځ ته راځي لکه صدف په صدف لرونکي حیواناتو کې.

Ectosphenoid

د پښې د میتاتارس هډوکو څخه دریم هډوکی د میخي هډوکې. د وتدي هډوکي بهر لوري ته.

Ectosteal

د هډوکي څخه بهر ته واقع، د هډوکو بهر ته.

Ectostosis

دا یو ډول هډوکی کېدنه ده چې پریکاندر څخه ښکته پیل کوي.

Ectothrix

دا یو ډول فنګس دی چې په وېښتانو کې وي.

Ectozoon

د څارویو (حیواناتو) بهرنی پرازیتي انتان.

Ectro-

دا یو مختاړی دی او په ولادي توګه د نشتوالي او فقدان معنی ورکوي.

Ectrodactyllia

په ولادي توګه په لاس یا پښه کښې د ګوتې نشتوالی.

Ectrodactyly

د (**Ectrodactyllia**) په اندول.

Ectrogeny

د یوه غړي په ولادي توګه نشتوالی ، د (**Ectrogenic**) په اندول.

Ectromelia

په ولادي (له موروزېږېدلې) توګه د یو اندام نشتوالی.

Ectromelic

Eczematous
اکزیمائي، د اکزیما د ماهیت لرونکی.

- **Eczematous Dermatitis**
اکزیمائی ډرماتیت ، د پوستکی اړوند تخریش او حساسیت ښودنه ده چې پکې(خارښتی التهاب **Itchy Inflammation**، الرژیک غبرګونونه **Allergic Reaction** ، تخریش التهاب **Irritation**) د موادو جذب یا تماس په وړاندې منځ ته راځی.

ED
اغیزمنه اندازه (**Effective Dose**) لنډه ښنبه ده.

ED
ایریتیمائي اندازه، دا د وړانګو په درملنه کې پکار وړل کیږي (**Erythema Dose**) لنډه ښنبه ده.

E.D50
منځنی اغیزمن ډوز (**Median Effective Dose**) لنډه ښنبه ده.

EDD
د (**Expected Date of Delivery**) لنډه ښنبه ده.

Edema
اذیما ، پرسوب **Oedema** ، د بدن په انساجو کې په غیر طبیعي توګه د مایع راټولېدنه د التهاب یوه ښنبه ده.

- **Angioneurotic Edema**
عصبي الرجیکه اذیما او پرسوب چې پوستکی یا مخاطي غشا په برخو کې منځ ته راځي.

- **Brain Edema**
دماغي اذیما ، هغه ډول اذیما چې د دماغ د داخل القحفی فشار (**Intracranial Pressure**) زیاتوالی له کبله منځ ته راځی.

- **Cardiac Edema**
د زړه د احتقاني عدم کفایې له کبله اذیما.

- **Dependent Edema**
دا د بدن په ښکتنی برخو یا ځوړوندو برخو کې د اذیما منځ ته راتګ دی لکه د پښو او سفن په برخه.

- **Neonatarum Edema**
دا د نوي زېږېدلو ماشومانو کې اذیما ده.

- **Pitting Edema**
هغه ډول اذیما چې د ګوتې د فشار راوړلو پواسطه په هغه ټکي کې د (**30**) ثانیو لپاره هغه برخه ژوره پاتې کیږي.

- **Pulmonary Edema**
د سږو (ریوي) اذیما ، هغه ډول چې د زړه د احتقاني عدم کفایې له کبله اذیما او ریوی دسام تضیق کې منځ ته راځی.

- **Purulent Edema**
هغه اذیما چې ورسره تقیح (**Puss**) منځ ته راځي.

- **Vagogenic Edema**
دا د رګونو د نفوذیه قابلیت د زیاتوالي له کبله منځ ته راځي دا په دماغ کې معمولاً منځ ته راځي.

Edemagen
د اذیما منځ ته راوړونکی عامل.

Edematous
اذیمائي، اذیما لرونکي.

Edentia
د غاښ نشتوالی، پرته له غاښه.

Edentulous
د غاښ د لاسه ورکوونکې کس .

Edible
خوراکی، دخوراک وړ، د خوراک وړ هغه شئ چې پرته له زیان رسولو څخه وی .

Edification
روزنه، پالنه

Edify
روزل، پالل، تربیه کول، خوی ور ښه کول.

Edit
تصحیح کېدنه ، نشرته چمتو کول لکه د (مقالې ، رسالې ، کتاب ، ورځپاڼې)، بدلون ورکول .

- **Medical Books Edit**
د طبی کتابونو تصیحیح .

Edition
ټوک ، شمیر لکه د (کتابو، خپرونو) عمو می ګڼه.

- **Medical Book Edition**
د طبی کتاب ټوک ، طبی کتاب شمېر.

Editor
چلوونکی،تصحیح کوونکې ، خپروونکی، هغه څوک چه لیکنې اصلاح کوی او بیا یې چاپ ته چمتو کوی.

- **Medical Book Editor**
د طبی کتاب تصیحیح کوونکې .

- **Medical Leaflets Editor**
د طبی رسالو تصیحیح کوونکې .

- **Medical Research Editor**
د طبی څېړونو تصیحیح کوونکې .

Editorial Board
چلوونکې، جرګه ، تصحیح کوونکې پلاوی.

- **Medical Editorial Board**

شرقي د آسي ډوله انسفالومیلیت (**Estern Equine Encphalomyelitis**) ته ویل کیږي.

EEG

د (**Electroencephalogram**) لپاره لنډه نښه ده.

EFA

د (**Essential Fatty Acid**) لپاره لنډه نښه ده.

Efface

پراختیا موندل ، توسع کول ، توډل، ایسته کول، لیري کول، پاکول (له یوځه ځخه).

Effacement

د زېږون پرمهال د زېږوني ځخه دمخه د رحم عنق د تنګوالی له منځه تګ او پراخېدنې حالت. د رحم (ځلانځې) هغه وضعیت ته ویل کیږي چې په هغه کښې ولادي بدلونونه لامل کیږي چې یوازې د رحم د بهرنی خولې سوري وازېدنه زیاتوالي منځ ته راځي تر څو زېږون تر سره شي.

Effect

نتیجه، اثر، اغیزه ، د یوه کار پروسې پواسطه تر لاسه شوې پایله لکه د (درملو،درملنې ، ناروغی ، کړنې) . لکه د (**Drug Treatment، Disease** یا **Action**) اغېزو پېښېدنه ، مفهوم انفاذ، چلند ، واقعیت، لاس ته را وستل (نتیجه، بری)، بری موندل ، سرته رسول.

- **Aortic Effect**

د ابهر د وینې د فشار د ناڅاپه زیادښت له کبله چې په زړه کښې د مثبت اینوتروپیک اغېزهې لامل ګرځي او د زړه ځخه د وینې د خروجي بهیر په وړاندې یو ډول مقاومت رابرسېره کوی .

- **Bayliss Effect**

د نسجي فشار د زیادښت له کبله چې د وینې د رګونو د عضلاتي جدار انقباض کول دي چې د مقاومت د زیاتوالی لامل ګرځي چې پخپل واردا ددې سبب کیږي چې دوینې بهیر نورمال حالت ته راستون شي.

- **Experimenter Effect**

اړینې ځانګړې اغیزې، تجربوي اغیزې.

- **Position Effect**

په جنیتیک کښې ، یو دبل په پرتله د کروموزومونو پر مخ د بیلابیلو جینونو د ځای نیونې د موقعیت بدلون ځخه زېږنده بدلونونه منځ ته راتلګ .

- **Pressure Effect**

فشاری اغېزه ، د فشار په اثر د نسجي درېناژ د انسداد ځخه زېږنده اغېزو مجموعه بلل کیږي.

د طبی ځانګې اړوند تصحیح کوونکې پلاوی .

Editorially

دسرمقالې په ډول.

EDTA

هغه د (**Ethylene Diamine Tetra- Acetate**) لپاره لنډه نښه ده ، هغه پرته له رنګه کېمیاوی ماده چې د دراندې فلزی موادو سره اړیکه جوړوی تر څو د بدن وینې بهیر ځخه بهر ته خارج شی.

Educate

روزل، ښوول، تر بیه کول.

Education

دښوونې او رو زنې علم، تعلیم، زده کړه.

- **Contienous Medical Education**

طبی پرلپسې زده کړې .

- **Medical Education**

طبی زده کړې .

- **Spacialized Education**

ځانګړې زده کړې د مهارتونو زیاتولو په موخه تر سره کېږی.

Educational

تعلیمی، دزده کړی.

- **Educational Research**

څېړنیزې زدوکړو اړوند.

- **Educational Study**

څېړنیزې زدوکړو اړوند.

- **Educational Training**

د زده کړو اړوند روزنه ، روزنیزې زده کړې .

Educator

روزونکی، ښوونکی.

- **Medical Educator**

طبی روزونکې .

Educe

ایستل، را کښل، زېښل.

Edwards' Syndrome

دیډوارډز سنډروم ، دا شدید ډول د تناسلی غړو اختلال دئ چې پکې د [دماغی **Brain** ، پښتورګو **Kidney** ، زړه **Heart** ، لاسونو **Hands** او پښو **Feet**) نیمګړتیاوی شتون لری چې دا د اضافی کاپی (**Copy of Chromosome 18**) لری] په هغه خلکو کې چې د شپږو میاشتو په لړ کې مړه کېږی شتون لری.

EEE

- **Side Effect**

ضرر ، ناوړه اغیزې

- **Somogyl Effect**

په شکري (ډیابټ) کښې یو ډول راستنېدونکې پروسه ده : د انسولین په مټ له حد څخه زیاته درملنه د هایپو ګلایسیمیا لامل ګرځي او دغه حالت د اپي نفرین، **ACTH** ، ګلوکاګون او ودې هورمون د افراز لامل ګرځي چې په نتیجه کښې لایپولایزس ، ګلوکونیوجنیزس، او ګلایکوجنولایزس پروسه چټکتیا مومي په پایله کښې هایپو ګلایسیمیا او کېتوزس منځ ته راځي.

Effective

اغیزه ناک، نتیجه ور کوونکی، نافذ ، په چلند کې، چمتو، تیارسی، اثرناک، په ځای، واقعی.

- **Effective Care**

اغیزه ناک ځارنه او درملنه .

- **Effective Cure**

اغیزه ناک ځارنه او درملنه .

- **Effective Dose**

اغیزه ناک ډوز/ اندازه د درملو چې د نظر وړ اغیز ښندی .

- **Effective Range**

اغیزناکه وړنه ،اغیزناکه برد ، اغیزناکه برم/ بری ، اغیزناکه اندازه.

- **Effective Time**

اغیزه ناک موده ، اغیزه ناکه وخت .

- **Effective Treatment**

اغیزه ناک ځارنه او درملنه لکه د ناروغانو (**Embolisation**) د شدید ډول (**Severe Haemoptysis**) اغیزناکه درملنه بلله شی.

Effectively

په اغیزه ناکه توګه.

Effectiveness

اغیزه ناکی، اغیزمنتیا ، اثر ناکی، چلند.

- **Medical Care Effectiveness**

د طبی ځارنې اغیزمنتیا .

- **Relative Biological Effectiveness**

دغه نومونه د ایکس (**X**) او ګاما (**ϒ**) د وړانګو د کارولو د طریقو څخه پرته د نورو وړانګیزو (شعاعي) درملنیزو طریقو د کارولو کفایت د مقایسې لپاره کارول کیږي .

Effectless

پرته له اغیزو ، بې اثره .

Effector

اغیزمن عامل،هغه عامل چې د یوه ځانګړي اغیز پېښېدو لامل ګرځي. **هغه** (عضلي **Muscles** ، غدي **Glands** ، غړي) چې د یوه عصبي تحریک (**Nerve Ending**) ځواب کښې فعالېږی او له ځان څخه ځانګړې اغیز لکه (تقلص **Contraction** یا ترشح **Secretion**) څرګندوي.

- **Alostero Effector**

یو فعالونکي انزایم چې خپلې اغیزې د یوه انزایم د کتالیستیک ناحیې څخه پرته په یوه ناحیه کښې ښایي .

Effemination

ښځنی، ښځرنګی، د ښځې په ډول، ښځونکي، مؤنث (ښځینه) ګرځوونه.

Efferens

د (**Vas Efferens**) په انډول.

Efferent

بهر وړونکي، دباندې چلوونکی، له مرکز څخه لیرې کول ، مرسله ، لیږدونکي ، هر هغه غړي یا برخه چې له مرکز څخه و بل ځای ته مواد ولیږدوي.

- **Efferent Artery**

لیږدوونکي شریان.

- **Efferent Duct**

لیږدونکي قنات (هغه نلکه چې ترشحی مواد **Secretion** د یوې غدې **Gland** څخه بل ځای ته لیږدوی).

- **Efferent Nerve**

لیږدونکي عصب ، د (**Motor Nerve**) په انډول.

- **Efferent Vessel**

لیږدونکي رګ ، هغه قناتونه چې لمفاوی مایع له غدواتو څخه درېناړ کوی .

Effervesce

سره خوټېدل او ځګ کول لکه (سرکه یا دسوډا او به).

Effervescence

سره خوټېدنه، خوشېدنه، ځګ کونه.

Effervescent

سره خوټېدونکي او ځګ کوونکی.

Effete

وچه، شنډه لکه (ونه یا ښخه) له کاره لوېدلی، بې حاصله.

Efficacious

نتیجه ورکوونکی، په ځای لګیدلی لکه (خبره یا عمل).

Efficacy

کفایت ، د یوه کارپوه دپه مټ د ایده آل شرایطو لاندې د پام وړ او ګټورو اغیزو په مرسته د یوې درملنیزې طریقې کفایت او پیاوړتیا ، اغیزه ناک توب.

Efficiency
اغیزه ناکی، مؤثریت ، مستعد.

Efficient
مؤثر، په ځای اغیزه ناک، باکفایت.

- **Efficient Drugs**
اغېزناکه درمل.
- **Efficient Treatment**
اغېزناکه درملنه.

Efficiently
په اغیزه ناکه توګه.

Effleurage
په مساژ ورکولو کښې یو ډول کشش لرونکې حرکت چې پکې د وینې بهیر زیاتوالې مومی .

Efflorescent
بلوری کول ، داوبو د لاسه ورکولو او تبخیر پذیریعه د کریستالونو پوډري کول.

Effluence
څیرېدنه، بهېدنه، پر خېدنه.

Effulgent
څلاند ، بریښند ، رون.

Effluvium
ډډوزی، بدوېږم ، بوی ناک توب ، هغه غیرمریی ذرات چه له یو جسم څخه خپریږی، په ناڅاپه ډول توئېدل لکه د (وینښتانو سرچینه اخیستل لکه د په ضرر رسوونکو او زیانمنونکو پېښو) کښې .

Effort Syndrome
د زړه تشوشی عمل (Heart Disordered Action) دئ.

Effusion
انصباب ، د یوې فضا دننه ته دیوي مایع ننوتل او حرکت (اګزودات و ترانزودات ، وینې مایع) لکه د پلورا انصباب .

- **Cerebral Effusion**
دماغی انصباب.
- **Pericardial Effusion**
د پریکارډ د جوف انصباب
- **Pleural Effusion**
د پلورا د جوف انصباب

Effusive
انصـبـابی، جـاری ، بیرون ریز، بهرتـه اچول ، بهر تـه استوونکې.

Effusiveness
بهېدرېغه بڼه ، فراوانه ، پراخه پیمانه .

Efflornithine
دارنیتین د ډی کاربوکسیلیشن د انزایمي کتلایز پیزوانونکي انزایم ، دغه ماده د هایدروکلورایډ مالګې په بڼه افریقائي تریبانوزومیازس په درملنه کښې کارول کیږي چې لنډه نښه یې (DMFO) ده .

Egest
دفع ، اطراح ، خارجول لکه (متبازي ، غایطه مواد ، خوله) .

Egesta
د (Egest) په انډول.

Egestion
د یوې نه هضم کېدونکې مادې اطراح ته ویل کیږي.

Egg
هګۍ ، تخمه ، ښځینه ګامیټ ، اووسیت ، د ښځینه جنس جرمې حجره چې په هره مرحله کښې چې وي بلل کیږي.

- **Egg Cell**
یوه خامه (نارسېدلې) ښځینه هګۍ.

Ego
په رواني څانګه طب (Psychology) کښې د دماغ یوه برخه چې د شعور له مخې له بهرنۍ نړۍ سره اړیکه لري او تر اغېزې لاندې راځي .

Egoalien
بې وسه ایګو (Ego) ته ویل کیږي ، د (Ego-dystonic) په انډول.

Egobronchophony
دلوړ فریکانس کېفیت درلودونکي صوتي څپو رزونانس زیادښت چې د سږو (د قرع یا اصغاء په مهال په څانګړي توګه د پلورایي انصباب له کبله) اورېدل کیږي .

Egocentric
د ځان لوري ته د یوه شخص د ټولو خیالونو او تصورونو تمرکز ورکول ، هر څه ځان پورې اړوند ګڼل .

Egodystonic
دغه اصطلاحات هغه تحریکونو ، مفکورو او لېوالتیاوو لپاره کارول کیږي چې د ځان څخه د هر شخص د درک سره نیمګړتیا او تناقص لري.

Egoism
۱- په فردي اړیکو کښې پرمختګ خبرېدل او ددې پروختګ

Eidetic

هغه نومونه چې د پېښو یا هغه موضوعاتو په څرګند ډول لیدلو دلالت کوي چې پخوا لیدل شویدي (ریښتیني خوب ، بې نهایته واضیح تصویر په ماغزو کښې) ، هغه شخص چې دغه ډول توان ورټیا ولري.

- **Eidetic Imagery**

په دماغ کې ډېر زیات روښانه ښه تصویر راتګ .

Eidoptometry

د بصری ادراک د تیزی اندازه نیول

Eikonometer

د شدت د اندازې کولو لپاره وسیله.

Eimeria

د پروتوزواګانو هغه جنس چې د انسان او حیوان په اپیتلیالي حجرو کی موندل کیږي او د اهلي حیواناتو دناروغیو عامل ګرځي.

Einsteinium

دا یو کیمیاوي عنصر چې اتومي لمبر یی (99) او نښه یې (Es) ده.

Eisenmenger Syndrome

دایو سندروم دئ چې پکښې د زړه نارغی (Ventricles Septal Defect) او ریوي فرط فشار (Pulmonary Hypertension) له کبله منځ ته راځي د اناروغې په کال(1897) کښې د(Victor Eisenmenger) پواسطه چې د جرمني طب (German Physician) پوهانو څخه وؤ او په (1864-1932) کالونو کښې اوسېده پواسطه شرحه شوي دئ.

Ejaculate

انزال کېدو فعل، دفعتاً او په لوړ اواز ویل ، دبدن څخه دمایعاتو ایستل ، انزالیدل.

Ejaculatio -Praecox

انزال ، احتلام ، خلاصېدنه ، د جنسي مقاربت پرمهال انزال کېدنه .

Ejaculation

انزال ، به فشار او ناڅاپې ډول وتل، د نارینه د جنسي آلي څخه د مني وتل دي.

Ejaculatory

انزالي ،خلاصونکې ، چې اکثراً د خلاصېدني قنات لپاره کارېږي.

ته لېوالتیا ښودل .۲- د انساني اړیکو پر بنسټ د فردي اړیکو په پیدا ېښت ولاړه فلسفي مفکوره .۳- ایګوټیزم

Egomania

په ناروغ نفس باور درلودل ، ناروغي ته لېوالتیا خوښونکې رواني حالت.

Egosyntonic

دغه اصطلاحات هغه تحریکونو ، مفکورو او لېوالتیاوو لپاره کارول کیږي چې د ځان څخه د هر شخص د درک سره همغږي (هماهنګي) لري.

Egotism

له ځان څخه له حده زیاته هیله درلودل، ځان غوښتنه ، له حده ډېره ځان خوښونه .

Egyptian Ophthalmia

د سترګو د تراخم (Trachoma) ناروغي بلل کیږي .

EHO

د چاپېریال روغتیایي مسؤل (Environmental Health Officer) لنډه نښه ده.

Ehrlichia

د ایرلیشیاسه کورنۍ څخه یوجنس چې په سپیانو ، غوایانو پسونو او انسانانو کښې د ناروغۍ د پېښېدو لامل ګرځي او د (E.Canis) او (E.Sennetsn) جنسونه پکښې ورګډ دي.

Ehrlichieae

د رکتسیاګانو یوه ډله چې د غیر فقاریه ژویو په بدن کښې ژوند کوي او ځینې تي لرونکو لپاره ناروغي منځ ته راوړي.

Ehrlichiosis

د ایرلیشیاسه جنس کورنۍ د باکتری ګانو په مټ تبه لرونکې ناروغۍ اخته کېدنه ده.

EIA

د تمرین په مټ سالنډي ناروغي منځ ته راتګ بلل کیږي (Exercise-Induced Asthma) لنډه نښه ده.

Eiconometer

د (Eikonometer) لغت وګورئ.

Eicosapentaenoic Acid

یو ډول[3- اومیګا غوړو اسید] چې غیر مشبوع دي او شل (20) کاربنونه لري په پریمانه کچه د کبانو په غوړو کښې موندل کیږي لنډه نښه یې (EPA) ده .

ور، دغبر ګډدو او لړ کېدوور چې راز اوړی رااوړي.

- **Elastic Adhesive Bandage**

الاستیکی نښتونکي بنداژ.

- **Elastic Arch**

ارتجاعی لیندی ، الاستیکی قوس .

- **Elastic Artery**

الاستیکی شریانی رګ .

- **Elastic Axis**

ارتجاعی محور ، الاستیکی محور .

- **Elastic Bandage**

ارتجاعي بنداژ چې بندونه او نورې برخي د بدن پرې تثبیت ساتل کیږي.

- **Elastic Band Fixation**

د الاستیکی باندې تثبیت کول .

- **Elastic Bougie**

الاستیکی سُنده ، هغه الاستیکی بڼه جوړه شوې اتساع پېښوونکې وسیله چې د توسع ورکولو په موخه کارول شی.

- **Elastic Brace**

الاستیکی بڼه ترونکي چې بندونه پرې تقویه کېږی.

- **Elastic Cartilage**

الاستیک غضروف لکه د (حنجري اپیګلوټیس غضروف **Epiglottis** او غوږ **Ear**) په څېر.

- **Elastic Deformation**

الاستیکی نیمګړتیا ، الاستیکی سؤتشکلات/ انومالی ګاني .

- **Elastic Fiber**

الاستیکي رشتې ، چې ورته ژیړي رشتې هم ویل کیږي دا ارتجاعي نسجي فیبرونه دي چې په غضروفي نسج او پوستکي کې موندل کیږي ، د (**Yellow Fiber**) په انډول.

- **Elastic Hose**

جراحي اوږدې جرابې چې د وریدي وریکوز او وریدي ټرومبوز درملنه کې پکاریږی ، د (**Surgical Hose**) په انډول.

- **Elastic Impression**

الاستیکی بڼه اغېزه ښندل، الاستیکی اثر .

- **Elastic Intermaxillary**

د (**Elastic Maxillomandibular**) په انډول.

- **Elastic Intramaxillary**

هغه الاستیک باندې چې معمولاً په (**Maxillary** یا **Mandibular Arch**) شتون لری.

- **Elastic Limit**

الاستیکی محدودیت ، د ارتجاعیت کمښت .

- **Elastic Lamella**

الاستیکی تېغه، د الاستیک جوړښت جوانه .

- **Retrograde Ejaculatory**

معکوس انزال، د احلیل په منځ کښې د مثانې په لوري د مني حرکت ته وایي.

- **Ejaculatory Duct**

د انزال قنات ، هغه دوه نلکي چې مني له تر منوي ځغوړې (**Seminal Vesicles**) څخه تر (پروستات **Prostate Gland** ، احلیل **Urethra**) پورې لېږدوي او له هغه ځایه پورې رسوي.

Eject

شړل، ایستل، معزول کول ، لرې کول.

Ejection

په زور سره د یوڅه شي (شړلو، ایستلو، او لرې کولو) کړنې ته ویل کیږي.

EKG

دزړه بریښنائي ګراف (**Electrocardiogram**) لنډه نښه ده.

EKY

د الکتروکیموګرام (**Electrokymogram**) لنډه نښه ده.

Elaborate

مکمل، مفصل، په زیار او پا ملرنه تر سره شو. په دقت اجر کول، په یزا ر او پا ملرنه سر ته رسول، په کار لاس پورې کول، له هیڅ یو شی جوړول، تفصیل ورکول

Elaboration

تفصیل، ستونزه

Elapidae

کړچه ماران چې زهري او سلینډري لکې. لري لکه (کوبرا مار..... او نور).

Elapse

تېرېدل لکه د (وخت ، مهال ، زمان ، موده).

Elast-

دا یو مختاړي دئ او د (ارتجاعیت یا الاستیکی خانګړتیا) معنی بشپړوی.

Elastance

د ارتجاعیت قابلیت درلودل، او هغه واحد چې د ارتجاعیت قابلیت پرې اندازه کیږي .

- **Elastance Unit**

ارتجاعی واحد ، الاستیکی واحد .

Elastase

الاستیز ، دا یودول انزایم دئ له پانکراص څخه افرازیږی.

Elastic

الاستیکی ، ارتجاعی، فنر ډوله، دشرایطو سره سم دبد لېدو

- **Elastic Tissue**

الاستیک نسج ، د منضم نسج (Connective Tissue) یو ډول (Yellow Elastic Fibers) یوه برخه بلل کیږي لکه په رګونو جدار او سږو اسناخو (Alveoli) په پوښونو (Sheets) کښې شتون لري.

- **Elastic Traction**

الاستیکی ټرکشن ،ارتجاعی کشش.

- **Elastic Tubular Bandage**

ارتجاعی ټیوبولی بنداژ ، هغه ډول ټیوبولی بنداژ چې په (Spiral Latex Thread) رانغاړل شوې وی چې د دردناکه بندونو تثبیت لپاره پکار وړل شی.

Elastica

ارتجاعی، د (Elastic) په اندول .

Elasticity

ارتجاعیت، دځکېدو او سره ور تلو وړوالی، د ژر راستنېدو قابلیت.

Elastine

هغه پروټین چې په الاستیک نسج کښې شتون لري.

Elation

د خوښي ، هیجان او تنبهي حالت ته وایي.

Elasto-

دا یو مختاړي دئ او د (ارتجاعیت یا الاستیکی خانګړنو) معنی بشپړوی.

Elastocollagenous

د منظم نسج د الاستیک او کولاجن جوړښت اړوند.

- **Elastocollagenous Ball**

الاستیوکولاجنی نسج اړوند غونډاري اکتله.

Elastofibroma

د الاستیک نسج ګډ فیبرومائی ټومور.

Elastogram

د الاستیک نسج د ګراف پورې اړوند انځور .

Elastography

د الاستیک نسج د ګراف پورې اړوند انځور د اخیستلو کړنلاره تر سره کول.

Elastoid

د الاستیک نسج ته ورته .

- **Elastoid Degeneration**

د الاستوئیډ نسج اړوند استحالوی تخریب.

Elastoidin

الاستو ئیډین .

- **Elastic Lamina of Cornea**

د سترګو اړوند د قرنیې ارتجاعی پاڼه ، د سترګو اړوند د قرنیې الاستیکی مخ.

- **Elastic Laminae of Arteries**

د شریانونو اړوند ارتجاعی پاڼه

- **Elastic Layer of Cornea**

د سترګو اړوند د قرنیې ارتجاعی طبقه .

- **Elastic Ligature**

الاستیکی لېګاتور ، الاستیکی غوټه اچول.

- **Elastic Maxillomandibular**

هغه الاستیکی باند چې معمولاً د ښکته ژامنې (Mandibular) او پورتنۍ ژامنې (Maxillary) د غاښنیزو(Dentitions) برخو کې پرته وی

- **Elastic Membrane**

الاستیکی غشأ ، ارتجاعی پاڼه.

- **Elastic Memory**

ارتجاعی حافظه ، هغه ډول موادو خاوند لکه د موم چې له ترمولو (Warmed) تاوول او سړول شی چې وروسته بیا خپلې اصلی بڼې ته اړولو وړتیا ولری ، هغه ربړی پلاستیکی باند چې د غاښونو لپاسه فشار منځ ته راوړی .

- **Elastic Medium**

ارتجاعی وسط .

- **Elastic Modulus**

ارتجاعی موډیول ، هغه ثابت (Constant Or Scale Factor) چې د کمیت (Quantitatively Relationship) معرف پتوګه د [Vascular Wall Deformation لکه (Elastic Medium)] او (Deforming Force) ترمنځ پکار ږی .

- **Elastic Potential Energy**

الاستیکی پوتانسیالی انرجی .

- **Elastic Recoil**

ارتجاعی بڼه بیرته معوجکېدنه .

- **Elastic Ring Castration**

د ارتجاعی کړې (حلقې) د مرغېړو ه منځه تګ ، الاستیکی کریز عقیم کېدنه .

- **Elastic Shoelaces**

د پښو بوټانو الاستیکی بند.

- **Elastic Spirits**

ارتجاعی روحی سپکوالې ، الاستیکی سپکروحی .

- **Elastic Stocking**

الاستیکی جورابې ، ارتجاعی جورابې چې په پښو پرسوب او (DVT) کې اغوستلې شی.

- **Elastic Stockings**

الاستیکی جورابې ، په پښو پرسوب او (DVT) کې د ارتجاعی جورابو اغوستنه .

Elastoidosis
په الاستیوئیدی استحالې اخته شوې حالت .
Elastolysis
الاستیوئیدی نسج تخریب او تجزیه کېدنې کړنلاره.
Elastoma
الاستیومائې ټوموری جوړښت.
Elastomer
الاستومر، په کېمیا کې پولیمېر الاستیک ته ورته جوړښت لرونکې.
Elastomeric
د الاستیمېر (**Elastomer**) اړوند صفت .
- **Elastomeric Infusion Device**
الاستومېریک انفیو ژنی وسیله .
Elastometer
د الاستیک نسج د کچې ټاکنې لپاره وسیله ده.
Elastometry
د (**Elastometer**) پواسطه د الاستیک نسج د کچې ټاکنې کړنلاره ترسره کول.
Elastomucin
الاستومیوسین ، د الاستیک اومخاط نسج اړوند .
Elastorrhexis
د الاستیک نسج د ګنډلو او ترمیم کړنلاره.
Elastose
الاستوز ، د الاستیک ارتجاعی نسج اختلال حالت.
Elbow
څنګل، لښته ، کړلیچی، پیچومی، په څنګل وهل، هغه بند چې د مټ او مړوند څخه پورته هډوکو (زند **Radius** او کعبري **Ulna**) پذریعه منځ ته راځي .
- **Elbow Crutch**
د لښچې (مرفق) بند ملاتړي (حمایوي) برخه چې د مټ برخه په بند ته څېرمه احاطه کوي او شکته برخه کلکه نیسي.
- **Elbow Grease**
ډېر سخت بدنی کار.
- **Elbow Joint Arthritis**
د لښچې (مرفق) بند التهاب.
- **Elbow Joint**
د لښچې (مرفق) بند/ مفصل.
- **Elbow Joint Fracture**
د لښچې بند د هډوکو ماتېدنه .
- **Tennis Elbow**
دټېنس سپورټمینانو اړوند لښچې بند .
Eld
دعمر پو خوالی ،پخوانی وختونه، لرغونې زمانه.
Elder
مشر، ستر، زړښت ، ړومبنی، وختنی، پوخ، رسیدلی، جګ، لوړ پوړې (په ر تبه کې)، په عمر پاخه زوړ سړی، یو بوټې چه ګلان یې الو تونکی تیل لری اودغه تېل دسونی او نا سور دعلاج لپاره استعمالیږی.
Elderly
دا یو صفت (**Elder**) لپاره دئ هغه کسان چې عمر یې د (**65**) کالونوڅخه پورته وي ، پوخ سړی یا ښځه.
- **Elderly Parents**
زاړه والدین ، د ډېر عمر خاوندان مور او پلار .
- **Elderly People**
د (**65**) کالو څخه ډېر عمر خاوندان خلک.
- **Elderly Single Women**
ډېره زړه مجرده ښځه .
Eldership
زړښت ، ډېر عمر ، سپین ږیرتوب.
Eldritch
عجیب او غریب ، اسرارآمیزه ، وېره ترهه پېښوونکې.
Eldest
تر ټولو مشر، تر ټولو زوړ، تر ټولو پوخ.
Elect
غوره، منتخب، ټاکل شوی غوره کول، انتخابول، ټاکل (درأیوپه واسطه)
Electable
د ټاکنې وړ ، انتخابی ، ټاکنیز .
Election
انتخاب، ټاکنه (درأیوپه واسطه) .
Elective
غوره شوی، انتخاب شوی، دانتخاب واک لرونکی (امر)، هغه کورس چه زده کوونکی یې خپله ته غوره کی (اختیاری کورس)، همدارنګه **1**- هغه کیمیاوي ماده چې د یوه بلې مادې سره یوځای کیدو ته لېواله وي ، **2**- د هغه درملنې یا جراحي کړنې اړوند چې ورته ببړنې اړتیا نه وي تر څو د چا ژوند وژغورې.
- **Elective Care**
انتخابي خارنه ، دا په روغتونونو کښې د ببړنۍ خارنې په پرتله په

Electroconvulsive

د برېښنائی ټکانونو پواسطه د عصبی شاک ، عصبی ټکان ورکول.

- **Electroconvulsive Therapy**

د یو لړ رواني ناروغیو (**Mental Disorders**) د برقي شاک پواسطه د عصبی شاک ورکولو له مخې درملنه ، د (**ECT** یا **Electroplexy**) په نامه.

Electrocute

دبرېښنا په واسطه وژل، برق ور کول.

Electrode

دبرېښنا دسر چینی قطب.

Electrodesiccation

حاد انډآرټرایټیس .
- **Endarteritis Deformans**
انډآرټرایټس ډیفورمانس ، هغه رګیز التهاب چې د (Atheromatous Patches) سره مل وی او پکې ډېرینې ذخیرې (Calcareous Deposits) منځ ته راغلې وی .
- **Endarteritis Obliterans**
د بند شریاني رګ شدید التهاب .
- **Endarteritis Proliferans**
انډآرټرایټس پرولیفرانس ، هغه رګیز تقیحی ارتشاحی التهاب چې د تقیح / زویو سره مل وی.

Endartery

د شریان د وروستنی برخه چې نور د شریان سره اړیکه ونلري د شعریې په سویه کښې.

Endaural

د غوږ دننه او منځ.

- **Endaural Incision**
د غوږ دننه لوري د (External Auditory Canal) برخې جراحی شق چې غضروف (Cartilage) نه مجروح کېږی او د (Mastoid Surgery) جراحی لاره برابروی.

Endbrain

د ایمبریولوژیک دورې ویشنې مرحلې اړوند یو د (Prosencephalon) د ویشنی چې پکې (Cerebrum) برخه هم شتون لری ، د تلانسفالون (Telencephalon) په انډول.

Endbulb

د حسي عصب د پایلې (Small Encapsulated Bodies) برخه او تکې چې د مختلفو پېړوالي لرونکي فیبروزي کپسول په شته والي سره چې په حقیقت کې د انډونوریوم ادامه ګڼل کېږي پېژندل شي چې د (جلد ،مخاطی غشا او عضلاتو) ته ځانګې ورکوی ، د (Krause's Bulb یا Corpuscle) په انډول .

(Macrolide Antibiotic Avermectin) په څېر .

Endectocides

دا درمل د سیستمیک لارې تطبیق کېږی چې د (Parasiticides) اغېزې لری لکه د (Ivermectin او Milbemycin) په څېر .

Endergonic

د بیو شیمي له پلوه هغه دله غبرګونونه چې د انرژی جلب د اړتیا سره تړاو لری لکه د (آنابولیزم او فوتوسنتز) په څېر.

Endermal

د پوستکی له لارې ننوتونکی لکه هغه درمل چې د پوستکی لپاسه (Ointment یا Patch) خپرېږی او تطبیق کېږی ، د (Transcutaneous، Transdermal) په انډول .

Endermatic

انډرماټیک ، د پوستکی له لارې ، د درملنې هغه کړنې چې د پوستکی مېتودونو له لارې تر سره کېږی چې د جذب وروسته اغېزې ښندی ، د (Transdermal, Intradermal، Endermic) په انډول.

Endermic

انډرمیک ، د (Endermatic ،Transdermal, Intradermal) په انډول.

Endermosis

انډرموزیس، هره هغه ډله ناروغی چې تنایکې پېښوونکې ناروغی (Eruptive Disease) دی او په مخاطی غشأ (Mucous Membrane) کې منځ ته راځی.

Ender Nail

دا د اورتوپېډي له پلوه (Unreamed Intramedullary Nail) لپاره پکارېږی چې معمولاً د (Femoral Shaft او Intertrochanteric Fractures) په کسرونو کې چې د (Early Weight-bearing) په موخه پکاروړل شی.

Endfoot

د (Bouton Terminal) په انډول

Endoaneurismorrhaphy

د یوې انیوریزمي کڅوړې پرانیستل او بیا ګنډلو کړنلاره.

Endoappendisitis

د اپنډکس د دننه مخاطي غشأ التهاب ته ویل کیږي .

Endoarteritis

دا دشریانی جدار د (Tunica Intima) اړوند معند التهابی حالت دئ.

- **Endemic Syphilis**

انډیمیک سیفلیس، د (BEJEL) په انډول.

- **Endemic Typhus**

اندیمیک تبګې (محرقه) چې د مچانو او موږکانو پذریعه لېږدول شي.

Endemiology

د اپیډیمیک ناروغیو اړوند طبی علمی او پوهې څېړنیزه څانګه .

Endemoepidemic

هغه اندیمیک وضعیت چې ځینې وختونه اپیډیمکه بڼه خپلوي.

Endergonic

د انرژي په جذب سره ځانګړي او مشخص ، د آزادې انرژي داخلولو ته اړتیا لرل.

- **Endergonic Reaction**

اندرګونیک غبرګون ، هغه غبرګون چې له بهر څخه آزادې انرژی ته اړتیا لری ، د (Endothermic Reaction) په انډول.

End –expiratory

مثبت د پایلې ذفیري فشار (Positive End-Expiratory Pressure) په انډول .

- **Positive End-Expiratory Pressure**

مثبت د پایلې ذفیري فشار (Positive End-Expiratory Pressure) په انډول چې لنډه ننښه یې (PEEP) ده.

End-diastolic

انډ- ډیاستولیک ، دا هغه دئ چې د ډیاستول په لړ کې سمدلاسه له سیتول څخه دمخه منځ ته راځی لکه د (End-diastolic Pressure) په څېر.

- **End-diastolic Extrasystole**

انډ –ډیاستولیک اکسټراسیستول.

- **End-diastolic Pressure**

دوینې هغه فشار چې په بطین کې د ډیاستول په پایله کې د سیستول څخه دمخه منځ ته راځی .

- **End-diastolic Volume**

هغه ډیاستولیک حجم چې د په بطین کې د وینې د ظرفیت په اړه څرګندونه کوی چې د سمدلاسه د زړه د تقلص څخه دمخه په بطین کې منځ ته راځی چې دا د (Diastolic Function) سره تړاو لری.

Endectocide

هغه درمل چې د دواړو[(Endoparasites) او (Ectoparasites)] په وړاندې اغېزمنتیا لری لکه د

په اندول.

- **Mycotic Endocarditis**

د چنیاسو (فنګسونو) لکه (کاندیدا ، آسپرجیلوس او هیستوپلازما) په ذریعه منځ ته راځي.

- **Nonbacterial Thrombotic Endocarditis**

په مزمنو ناتوانه کوونکو ناروغیو کې چې پکښې ټرومبوز رامنځ ته کیږي دا ډول اندوکارډیت منځ ته راځي لنډه نښه یې (**NBTE**) ده.

- **Prosthetic Valve Endocarditis**

د زړه د مصنوعي والفونو کښښودنې وروسته د بخیو د قطار لپاسه وجیتیشنونه منځ ته راځي .

- **Rheumatic Endocarditis**

روماټیزمي اندوکارډیت دا د روماټیک تبې ناروغۍ سره سم منځ ته راځي او د دسامونو التهاب –تنګوالې پیښیږي .

- **Rickettsial Endocarditis**

د زړه د والفونو باندې د (**Coxiella Bometti**) یرغل څخه وروسته د اندوکارډیت چې نښه (**Q - Fever**) تبه ده منځ ته راځي .

- **Vegetative Endocarditis**

هغه ډول انتاني یا غیر انتاني اندوکارډیت چې د اندوکارډ طبقې ضایعات ئې د وجیټیشن په بڼه وي ، د (**Verrucous Endocarditis**) په اندول.

- **Verrucous Endocarditis**

د (**Vegetative Endocarditis**) په اندول.

Endocardium

اندوکارډیوم ، دزړه د اندوکارد (دننه) طبقه

Endocervical

اندوسرویکال ، د رحم د سرویکس برخې دننه طبقې (مخاطي غشا) اړوند .

Endocervicitis

اندوسرویسیټ ، د رحم د سرویکس برخې دننه طبقې (غشا) التهاب.

Endocervix

اندوسرویکس ، د رحم د سرویکس برخې دننه طبقې (مخاطي غشا) اړوند ، د رحم د جوف داخل ته د رحم د غاړې (سرویکس) برخې پرانیستل کېدونکې سیمه .

Endochondral

اندوکانډرال ، د غضروف دننه واقع کېدنه ، د (**Inside Cartilage**) په اندول.

Endocolitis

اندوکولیټ ، د کولون دننه طبقې (مخاطي غشا) التهاب.

- **Chronic Endoarteritis**

مزمن اندو آرټرایټس ، دا دشریانی جدار د (**Tunica Intima**) اړوند معند التهابی (**Persistent Inflammation**) حالت دئ چې ښائی د شریانی نسج د استحالې (**Degeneration**) او کلسیومی ذخیره کېدنی (**Calcium Deposits**) سره مل وی ، د (**Endarteritis Deformans**) په اندول.

Endoblast

اندودرم ، اندوبلست برخه په رشیمي دوره کښې.

Endobronchial

د برانش دننه مخاطي طبقه.

Endobronchitis

د برانش دننه مخاطي طبقه التهاب.

Endocardial

د زړه د عضلاتي طبقې دننه برخه ، د (**Endocardium**) په اندول.

- **Endocardial Pacemaker**

هغه پسمیکر د زړه پورې نښتې وي.

Endocarditic

د اندوکارډیت اړوند صفت

Endocarditis

د زړه دانوکارډ طبقې التهاب، چې پدې کې اکزوداتیف او پرلیفراتیف بدلونونه داندوکارد پر سطحه د پیژندلو وړ ګرځي دزړه دسامونه (والونه) نیسي .

- **Atypical Endocarditis**

د لیبمن-ساکس اندوکارډیت.

- **Bacterial Endocarditis**

باکتریائي اندوکارډیت (سترپتوکوک، ستافیلوکوک ، انتروکوک ، ګونوکوک ، ګرام منفي باکتریاوو) له کبله منځ ته راځي .

- **Infectious Endocarditis**

انتاني (مکروبي) اندوکارډیت په خانګړي توګه د باکتریائي (سترپتوکوک، ستافیلوکوک ، انتروکوک ، ګونوکوک ، ګرام منفي باکتریاوو) او چنیاسو (فنګسونو) له کبله منځ ته راځي.

- **Libman –Sacks Endocarditis**

هغه غیر باکتریائي اندوکارډیت چې د سیستمیک لوپوس اریتیماتوزس سره مل وي او اغلب دهلیزي والونه اخته کوي.

- **Loffler Endocarditis**

د ایوزینوفیلیا سره مل چې د اندوکاډ د فایبروبلاست د پنډېدو(پیړوالي) په مټ د پیژندلو وړ ګرځي د(زړه احتقاني عدم کفایه ،مداومي تاکي کارډیا ، دخیګر او طحال ضخامه، پلورائي انصباب او دغړو اذیما) له مخې پیژندل شي ، د (**Loffler Parietal Fibroplastic Endocarditis**)

Endocranium
انډوکرانیوم ، د قحف دننه ، د ماغزو د ډورامتیر او هډوکي انډوستیال تر منځ دننه لوړې ته طبقه.

Endocrine
انډوکرین ، هغه غدې چې هورمونونه داخل ته افرازوي پورې اړوند ، په داخلي افرازولو پورې اړوند.

- **Endocrine Gland**
انډوکرین غده ، هغه غدې چې هورمونونه داخل ته افرازوي.
- **Endocrine System**
انډوکرین سیستم ، هغه سیستم چې غدې یې قناتونه نلري سضص(**Ductless Glands**) دي .

Endocrinologist
انډوکرینولوژسټ ، هغه ډاکټر چې خاصتاً د اندوکرینولوژي اړوند تخصص او پوهه لري .

Endocrinology
انډوکرینولوژی ، هغه سیستم چې غدې یې قناتونه نلري (**Ductless Glands**) او دننه افرازات لري ددې غدواتو(غدودونو) دندو ، تغیراتو او ناروغیو اړوند علم دي.

Endocrinopatic
د اندوکرینوپتي پورې اړوند.

Endocrinopathy
د اندوکرین سیستم چې غدې یې قناتونه نلري (**Ductless Glands**) او دننه افرازات لري د دې غدواتو (غدودونو) هر راز (اختلال ، تغیراتو او ناروغیو) ته ویل کیږي.

Endocyst
دیوه سیست دننه طبقه لکه د هایداتید دننه طبقه.

Endocystitis
د مثاني د مخاطي غشأ (دننه طبقې) التهاب.

Endocystosis
د درواغجنو(کاذبو) پښو د ایجاد له لارې د حجرې پواسطه د موادو تر لاسه کول چې دغه پروسه فاګو سایتوزس او پینوسایتوزس ډولونه لري.

Endoderm
د هغه درې طبقو څخه چې د ایمبریو (رشیم) پوښوي یوه دننه طبقه (انډوډرم) بلل کیږي چې بیا وروسته [د تنفسي ، هضمي ، بولي مثاني -احلیل سیستم او پرته قنات غدواتو] اپیتلیوم منځ ته راوړي. دا درې طبقې (له دننه څخه انډوډرم ، میزو ډرم او اکتو ډرم) نومونه لري.

Endodermal
د انډوډرم اړوند ، د (**Endodermic** او **Entodermal**) په انډول.

Endodermophyton
د () په ان د (**Trichophyton**) په انډول.

Endodontia
د غاښونو دمزمنو دردونو درملنه د غاښونو د ریښې راویستلو کړنلارې پواسطه.

Endodontics
دغاښونو د طبابت څانګې علم او پوهه چې د (ناروغیو لاملونو تاکنې ،پتوجنېزس، کلینیکي علایمو، مخنیوي ، پېژندنې ،درملنې) پورې تړاو لري.

Endodontium
د غاښ ریښه ، د غاښ جذر.

Endodontology
د غاښونوطبابت اړوند علم.

Endoenteritis
د کولمو د مخاطي غشأ التهاب

Endogamy
۱-د هغه بېلابېلو حجرو د اتحاد له لارې القأح چې یو شان جنیټیکي اجداد ولري .۲- په یوه ټولنه کې د واده کولو له لارې د هغې ټولنې د وګړو محدود کول.

Endogenous
داخلي ، دیو ارګانیزم د دننه لاملونو اړوند.

- **Endogenous Depression**
د دننه څخه انحطاط ،د انحطاطهغه حالت چې دننه لاملونو اړوند وي او له بهر څخه کوم ډول لامل ونلري.
- **Endogenous Eczema**
هغه اکزیما منځ ته راتګ چې دننه لامل لري.

Endolaryngeal
د حنجرې دننه واقع کېدل.

Endolymph
د دننه غوږ د غشائی لابیرنت دننه شته مایع ده.

Endolymphatic
انډولمفاټیک ، د انډولمف (**Endolymph**) اړوند صفت .

- **Endolymphatic Duct**
هغه قنات (لاره) چې د د دننه غوږ د غشائی لابیرنت دننه شته مایع لېږدوي.

Endolysin
د حجرې دننه هغه مواد چې مستقیماً باکتریاوي وژني.

Endometria

انډومتریا ، د رحم انډومتریوم (**Endometrium**) طبقه.

Endometrial

د رحم انډومتریوم طبقې پورې اړوند.

- **Endometrial Laser Ablation**

په نسائي جراحي درملنې طریقو کښې د لایزر (**Laser**) په مرسته د فیبروئید او نورو لاملونو د رحم د ضخامې درملنه.

Endometrioma

د انډومتر د نسج په ګډون یوه غیر نیوپلاستیکه منفرده کتله ده.

Endometriosis

د حوصلې جوف په هره بله برخه کښې د رحم د اندومتر په څېر د ستروما اندومتر او ګرانولار عنصرونو په ګډون د نسجې کتلې منځ ته راتګ.

- **External Endometriosis**

بهرنې اندومتریوزس .

- **Internal Endometriosis**

دننه اندومتریوزس .

- **Ovarian Endometriosis**

د هګۍ ځالې اندومتریوزس .

Endometriotic

د اندومتریوزس اړوند حالت صفت.

Endometritis

انډومتریټ ، د رحم د اندومتریوم طبقې التهاب.

- **Puerperal Endometritis**

پیورپیرال التهاب د زېږون څخه وروسته منځ ته راځي.

- **Syncytial Endometritis**

په رحم کښې د سایتو تروفو بلاست سن سیشیال لویو حجرو ارتشاح په بڼه سلیمه توموري ډوله ضایعه ده.

- **Tuberculous Endometritis**

د نري رنځ له کبله د رحم د اندومتریوم التهاب ته ویل کیږي.

Endometrium

انډومتریوم ، د رحم دننه طبقه .

Endomitosis

انډومایټوزیس ، د سایتوپلازمي ویشنې څخه پر ته د هستوي عنصرونو تکثر.

Endomitotic

د اندومایتوزې اړوند.

Endomorph

انډومورف ، هغه شخص چې د بدن په جوړښت کښې یې د اندومتریوم نسج څخه زېږنده اجزأ غالب او پیاوړې وي.

Endomyocardial

انډومایوکارډیوم ، د زړه د مایوکاردیوم اړوند.

Endomyocarditis

انډومایوکارډایټس ،د زړه د مایوکاردیوم عضلې التهاب .

Endomysium -

انډومایوزیوم ، د رتیکوالر فیبریلونو پوښ یا هغه منضم نسج چې د عضلاتو د رشتو ترمنځ او چارچیر برخو کې شتون لري.

Endoneurium

انډونیوریوم ، د یوه محیطي عصبي منضمی نسج تر ټولو دننې طبقه چې د نیوریلیما په بهر کښې د هر عصب شاوخوا بین البیني طبقه احاطه کوي.

Endoneurial

د اندو نیوریوم (**Endoneurium**) اړوند صفت.

Endonuclease

هر هغه نیوکلیز(**Nuclease**) چې په ځانګړې ډول د رایبوز نیوکلیوتایدونو د ځنځیرونو د داخلې اړیکو هایدرولایز کوي.

Endoparasite

هغه پرازیت چې د کوربه دننه اوسیږي لکه په کولمو کښې اسکاریس.

Endopelvic

دحوصلې دننه، داخل الحوصلي.

Endopeptidase

هر پیپټایدیز انزایم چې په یوه پولي پیپټاید یا پروټین کې داخلې اړیکې پرانیزي.

Endopericarditis

د اندوکارډ او پریکارډ دواړو التهاب

Endoperitonitis

د ګېډې د جوف دننه پریتواني طبقې التهاب.

Endophthalmitis

د سترګو د جوفونودننه او ګاونډي نسجونو جوړښتونو التهاب.

Endophyte

یوپرازیتي نباتي ارګانیزم چې د مېزبان (کوربه) بدن دننه ژوندون کوي.

Endoskeleton
د بدن د غضروفي او هډوکیز اسکلیټ البته له هغه برخو څخه پرته چې درمال (Dermal) جوړښتیزه منشه ولري .

Endosmose
دننه لوري ته رامنځ ته کېدنه ، داخلي حلول.

Endosmosis
دننه لوري ته نفوذ ، ددا خل په لوري اسموزس عملیه، د حجري منځ ته د حجري غشأ له لارې د اوبلنو موادو لېږدونه او نفوذ کول.

Endosmotic
د اندوسموسیز (Endosmosis) اړوند صفت.

Endosome
اندوزوم ، دننه لوري .

Endosperm
دننه سپرم ، داخلی سپرم ، په نبات پېژندنه کې دننه تخم لرونکی.

Endospore
دننه سپور لرونکې ، داخلی سپور .

Endosporium
د هګۍ دننه غشأ ، د هګۍ دننه پرده .

Endosteal
په اندوستیوم پورې اړوند ، دیوه هډوکي په منځ کښې پېښېدنه.

Endosteoma
د هډوکي د ماغزو په جوف (مُخ عظم) کې شته تومور.

Endosteum
اندوستیوم ، د هډوکیز ماغزو غشأ ، د هډوکی د مغزي جوف پوښونکې نسج .

Endostosis
په اناټومی / بیولوژی کې د غضروف دننه د هډوکی منځ ته راتګ ، دننه په هډوکی اووښتنه .

Endotendineum
د یوّه ټینډون د ثانوي ګېډیو جلاکوونکې منضمي نسج.

Endothecium
دننه جداری ، دننه دپوالی .

Endothelia
اندوتیلیوم (Endothelium) د لغت ګنې شمېره ده.

Endophytic
د اندوفایت اړوند صفت.

Endopolypoid
هغه حجره چې د دهستې دننه تکثیر شوي کروماتین لري خو د کروموزومونو شمیر ئی کېداي شي زیات شوی یا نه وي زیات شوی.

Endoprosthesis
یو تش منځې تیوب چې د صفراوي لارې مجرأ دننه کیښودل کېږي ترڅو د صفراوي افرازاتو تخلیه په آسانی صورت نیسي.

Endoreduplication
د حجروي ویش څخه پرته د کروموزومونو تکثر (زیږون).

Endorgan
د حسي اعصابو لویو کپسول لرونکو انجامونو څخه هر یو برخه .د عصبي ریښې پایله .

Endorphin
د ماغزو پواسطه تولید شوې پیپتاید (Peptide) چې طبیعي ډول د درد ضد اغېزې کوي. د الفأ،ګاما او بیتا اندورفین څخه هریو کوم چې د بیتا لایپو پروتین پاتې شونو څخه دې چې د ماغزو په بېلابېلو ناحیو د اُپیاتونو له رسېټورونو سره نښلي او د درد ضد اغېزې کوي ، د (Encephalin) په اندول.

Endosalpingoma
د رحم په تیوب کښې ادینوم تومور شتون.

Endoscope
اندوسکوپ، هغه وسیله ده چې د هغې پواسطه د بدن د دننه ارګانونو داخلي فضأ د کتنې وړ دي چې یو اوږد ټیوب لري په سر کې ویډیو کمره او رڼا څراغ (Fiber Optic Light) لري.

Endoscopic
د اندوسکوپ اړوند صفت .

- **Endoscopic Retrograde Cholangiopancreatography**
رتروګراد د پانکریاص د قناتونو او صفراوي قناتونو (Pancreatic Duct & Bile Duct) د بندښتونو د ارزوني لپاره میتود بلل کېږي لنډه نښه یې (ERCP) ده.

Endoscopy
د اندوسکوپ پذریعه د کتنې تر سره کولو کړنلاره.

- **Peroral Endoscopy**
د خولې له لارې اندوسکوپي دود تر سره کول.

Endothelial

د اندوتیلیوم نسج اړوند صفت.

Endotheliobalstoma

د ابتدائي (لومړنی) وازوموماتیف نسج ځخه زېږنده تومور چې (هیمانجیوما ،اندوتیلیوما، آنجیوسارکوما، لمف آنجیواندوتیلیوما او لمفانجیو سارکوما) پکې ګډون کوي.

Endotheliochrial

په یودول پلسنتا پورې اړوند چې په هغه کښې مورني رګونه د سینتیټومي ټروفوبلاستیونو تر منځ ځای لري.

Endotheliocyte

د اندوتیلیال سیستم سپینه حجره.

Endothelioma

هر ډول هغه تومور په ځانګړي توګه سلیم یا خبیث ډول چې د وینې رګونو د فرش کوونکې د اندوتیلیوم (**Endothelium**) ځخه منشه لرونکې تومور ته وائي.

Endotheliomatosis

په بدن کښې په منتشر ډول د ځو ډول اندوتیلیوما ګانو جوړښت ته وائي.

Endotheliosis

د اندوتیلیوم زېږنده او تکثر ته وائي

Endothelium

دننه پوښلې ، دننه پټوونکې طبقه ، د هغه اپیتلیالی حجرو ځخه جوړه طبقه چې د زړه جوفونه ،سیروزیتي جوفونه او د وینې او لمفاوي رګونو دننه لومن برخه فرش کوي.

Endotherm

د تودې وینې اړوند ځناور ، خونګرمه حیوان .

Endothermal

د دننه تودوخې اړوند ، اندوترمیک .

Endothermic

دننه تودوخه لرونکی اړوند ، د اندوترمي (**Endothermy**) اړوند صفت

Endothermy

۱-دتودوخې د جذب سره د یوې پېښې یو ځای والې یا د تودوخې په جذب سره نومبدل ،۲- د تودوخې د داخلی تولید له کبله د بدن د تودوخې د درجې تنظیم، ۳- هومیوتراپې.

Endothrix

اندوتریکس ، یوډول درماتوفیت چې د سپور وده او تولید یې د ویښته د تنې دننه صورت نیسي.

Endotoxemia

اندوټوکسیمیا ، په وینه کې د اندوتوکسین شتون ته وائي.

Endotoxin

اندوټوکسین ، دننه زهر ، دا یو ډول زهرد لایپوپولي سکراید ځخه جوړ د ي چې د باکتري ګانود حجرې په جدار کښې ځای لري او د تخریب ځخه وروسته بهر محیط ته اطراح کیږي تبه او درګونو نفوذیه قابلیت زیاتوالي لامل ګرځي.

Endotracheal

د شزن (توتکی) دننه د لومن کې ، د (**Intratracheal**) په اندول.

- **Endotracheal Intubation**

د شزن دننه د ټیوب کېښودنه لکه په انستېزی کې .

- **Endotracheal Trachiostomy**

د شزن برخې تراخیوستیومی جراحی کړنلاره تر سره کول.

- **Endotracheal Tube**

د توتکی (شزن) دننه کولو ټیوب چې د خولې یا پزې له لارې دتنفسي هوائي لارې وازې ساتنې لپاره تطبیق کیږي .

Endotrachelitis

اندوتراخیلیټ ، د سرویکس دننه التهاب،د اندوسرویسیت (**Endocervicitis**) په اندول .

Endourology

دیورولوژي یوه ځانګه ده چې دبولې جهاز کتنې او لېدنې د اندوسکوپي پواسطه تر سره او اړوند علم بلل کیږي .

Endovasculitis

اندو انجیت ، د رګونو دننه التهاب ، د (**Endangitis**) په اندول.

Endozoic

درون جانوری ، دارای زندگی دردرون جانور

Endplate

اندپلیټ ، د وروستۍ پاڼې اړوند ، د موتورعصب د پایلې برخې چې دعضلاتو سره مفصل جوړوي.

- **Motor Endplate**

موتور اندپلیټ ، د موتورعصبي حجرې د اکسون د پایلې برخه چې دعضلاتو سره مفصل جوړوي .

Endrine

د کلورینې هایدروکاربنونو له ډلې ځخه یوه حشره وژونکې ډېره قوي ماده ده.

End Stage

وروستنۍ مرحله ، آخری پړاو .

سپما او منځ ته راځي.

- **Kinetic Energy**

حرکی انرژي ، د حرکت له کبله منځ ته راځي.

- **Energy Level**

د انرژی سویه ، د انرژی او توان سطحه .

- **Nuclear Energy**

هستوي انرژي ، د اټوم د هستې د تخریب څخه لاس راځي .

- **Energy Operates Changes**

هغه انرژی اوتوان چې د د تغیراتو اوبدلون لامل شی ، دبدلون پېښولو عملیاتی څواک .

- **Potential Energy**

پوتانسیلي انرژي، د استراحت پرمهال هم منځ ته راځي او یوه کار له تر سره کولو سره یوځای نه وي.

Enervate

په اناټومی کې د یوې برخې د انساجو ته د عصبی رشتو غوڅولو کړندود ، تعصیب له منځه وړل، کمزوری کول ، ضعیف کول .

Enervation

په عموم ډول د اعصابو کمزوري ، د جراحي پواسطه د اعصابو غوڅول، نیورکټومي ، د عصبي انرژي نشتوالي.

ENG

الکترو نیستګموګرافي (Electronystagmography) کړنلاره لپاره لنډه نښه ده.

Engagement

اعتلان، د زېږون پر مهال د حوصلې علوي (پورتنی Pelvis) خولې ته د جنین د سر (Head) راښکته کېدنه او رارسېدل، اشتغال ، نیول ، منل ، قبول کول ، کوژده.

- **Engagement Ring**

د انګېجمنټ اړوند کړی/ حلقه .

Engaging

د انګېجمنټ منځ ته راتګ حالت.

Engender

لامل کېدنه ، موجب او سبب کېدنه .

Engineer

انجن جوړوونکې ، مهنـدس ، مېخـانیـک ، تعمیر جوړوونکې .

- **Biomedical Engineer**

هغه انجنیر چې د طبی اړوند ماشینونه جوړوی .

- **Medical Engineer**

طبی انجنیر ، هغه انجنیران چې د طبی اړوند لکه د (روغتونونو ، کلینیکونو او نورو طبی مؤسسو) تعمیرونه ډیزاین کوی او جوړوی.

- **End Stage Renal Disease**

د پښتورګو د ناروغیو د پرمختللي او انتها پړاو چې پکې یوریمیا شدید ا ډیالایزس پیل ته اړتیاوي (ESRD) لنډه لری .

Endtidal

د ذفیر په وروستنی مرحله کې پېښېدل یا په هغې پورې اړوند.

Endurable

د زغم وړ ، د زغملو وړتیا لرونکې ، د تحمل قابلیت لرونکې.

Endurance

د تحمل قدرت ، بردباری قوت ، د زغملو اندازه ، پایداری/ پایښت ، استقامت ، زغم ، طاقت.

Endure

تحمل ، تاب ، زغمل ، حوصله مندی.

Enduring

ډېر پایښت ،دېره اندازه تحمل او زغمل .

Enduringly

د زغملو په توګه ، د بردباری لرونکې بڼه ،ډېر طاقت لرونکې.

Enduron

د متیکلوتیازید د محصولاتو سوداګریز نوم دئ.

Enema

اینیما ، امالـه تر سره کول ، د غولو کولو یا د کولمو سیستم د پاکۍ برخې د یوې مایع (اوبه ،فزیولوژیک ، پارافیني) پواسطه د تشولو او وینځلو لپاره امالـه ورکولو یوه کړنلاره ده، شیاف کول.

- **Enema Bag**

د امالې کڅوړه چې د امالې مایع لری.

- **Barium Enema**

د باریوم رنګه موادو د تېرولو وروسته د راډیوګرافي اخیستنه.

- **Contrast Enema**

په راډیوګرافي ښکاره کېدونکې امالـه .

- **Double Contrast Enema**

یو ډول راډیوګرافي کړنه ده چې پکې د دوه کثیفه موادو څخه کار اخیستل کیږي.

- **Enema Bag**

د امالې ورکړې د وسـیلې خریطه (بوجی) ته وائي چې د املې مایع پکې وي.

Energy

انرژي ، قوت ،قدرت ، زور ، پیاوړتیا ، نیرو ،توان، ځواک ، هغه ځواک چې ټول فزیکي حرکتونه او مقاومتونه پرې منځ ته راځي.لکه د غذا خوړولو وروسته په بدن کښې انرژي

Enhancement
د آسانه کولو پروسه کړنلاره، آسانه شوې وضعیت ، معافیتي آسانتیاوي ، د تومورې نسج انتي جنونو د تلقیح اوددې انتي جنونو په وړاندېد معافیتي غبرګون منځ ته راتګ د نشتوالي په اثر د یوه ژوي په بدن کښې د تومورې حجراتو اوږد مهالي پاتې کېدل.

Enigmatic
ګران، نغښتی، پېچلی معما ډوله، په مشکله حل کېدونکی، مبهم، تیاره.

Enjoin
سپارښت کول، امر کول. منع کول، لار نښودنه کول، تحمیلول.

Enjoyment
مزې، چړچې، خوښی او ساعت تېری.

Enkephalin
په‌ماغزو ، نخاعې رسی (طناب) او همدا راز هضمی جهاز کې د موجود دوه پنتا پیپتاید ونوځخه هر یو چې د مخدرو موادو په ځیر پیاوړې اغېزې لري او احیاناً د عصبي – کیمیاوي لېږدونکو په توګه کار کوي ، د (Encephalin) په انډول.

Enlarge
انلار جول، لویول، ار تول، پراخول.

Enlargement
لویونه ارتونه، پراخونه.

Enlightenment
روښانونه، پوهونه، خبرتیا ،ذهنی تنویر.

Enliven
ژوند کول، ویښول ، بېدارول، ژوند ورکول.

Ennui
ستومانی، زړه وهل کېدنه، بېزاری، بېخوندی، بې مزېتوب.

Enol
یو عضوي مرکب چې په هغه کې د دوه ګونې رابطې یو کاربن د یوه هایدروکسیل ګروپ سره هم نښلیدلي دی او اوّ په ترتیب سره د کتیون له بنې ځخه یو تاتومیر منځ ته راځي ، دغه کلمه ځینې وختونه د مختارې یا روستاړې په ځیر هم کاریږي .

Enolase
هغه انزایم چې په فوسفوانول پایرویټ باندې د ۲- فسفو کلای‌سریټ دیهایدریشن کتلایز کوي دغه پروسه د ګلوکوز د میتابولیزم یوه مرحله ده.

Engird
دا پخوانی اصطلاح ده چې د (احاطه کولو ، چارچېرکول ، قابو کولو) اړوند معنی لری لکه د (کمربند په ځېر د یو جوړښت راګېرول) په ځېر ،د (Engirdle) په انډول.

Engirdle
شاملېدل ، شمولیت ، احاطه کول ،د (Engird) په انډول.

Engorge
ډېر خوراک ، حریصانه خوراک ، تېرول ، بلع کول ، احتقانی کېدل ، له مایع او وینې ځخه ډکون .

Engorged
احتقانی شوې ، پرسوب موندلې ، د یوې برخې موضعي احتقان موندلې چې له مایع ډک حالت معمولاً د وینې له کبله پېښېږی.

Engorgement
موضعي احتقان موندلې، له مایع ډک حالت معمولاً د وینې له کبله زېرنده له وینې ډک پرسوب اتساعي حالت ، هایپرهیمي ، ډېر خوراک .

Engraft
پیوند کول ، ریښې ځغلول ، ګرافټ کول.

Engraftment
د هډوکو د ګرافت بریالې پیوند .

Engrail
غاښې بڼه کول ، غاښیز کېدنه.

Engrained
پینه شوې ، خوسا شوې ، ګنده شوې ، ډېر پاتې شوې .

Engram
عصبی رد ، تل پاتې بڼه په لټ کېدنه ، همېشنی چپه کېدنه

Engrave
کیندل لکه د (مهر ، تاپه)، حل کول، توږل.

Engross
په حقوقی او قضایی بڼه ځر ګندول، را کښل، را ځکول، جلبول، اړول لکه د (پام ، توجه)، انحصارول، استهلاک کول.

Engulf
را چاپیرول، را ایسارول، ډوبول، په ګرځوبی کې ګېرول، کښېایستل، غوټه کول.

Enhance
پورته کول، لوړول، قدرمن کول، ګرانول ، شدید کول.

ENT
غوږ ، پوزه او ستونېه (Ear, Nose & Throat) لنډه نښه ده

- **ENT Department**

د غوږ ،پوزې او ستوني (Otorhinolaryngology Department) ځانګې لنډه نښه ده .

- **ENT Doctor**

د غوږ ،پوزې او ستوني ځانګه متخصص ډاکټر (Otorhinolaryngologist) لنډه نښه ده.

Entad
د مرکز په لورې، دننه لورې ته .

Entamoeba
د انتا آمیب دکولمو کښې اوسیدونکې پرازیت ته ویل کیږي.

- **Entamoeba Buccalis**

د مخ ،غومبری او ستونی برخو اړوند آمیب .

- **Entamoeba Coli**

د کولمو د سیستم اړوند آمیب چې ضرر رسوونکې ندئ.

- **Entamoeba Gingivalis**

دا پرازیت د خولې په وریو (دننه خولهGums) او لوزو (Tonsils ټانسیلونو) کښې موندل شي او جنجیویت (Gingivitis) منځ ته راوړي ، د (Entamoeba Buccalis) په انډول.

- **Entamoeba Histolytica**

د کولمو د آمیبیک ډیزانټري لامل ګرځي .

Entamologist
حشره پېژندو نکی شخص .

Entangle
نیول، ګیرول، ایسارول، سره تاوول، مغلق کول.

Entangled
اخته شوې ، ګرفتار شوې ، لړل شوې ، ککړ شوې.

Enter
ننوتل، پیل کول، برید کول، برخه اخیستل، ګډول، سوری کول، لار پکښې کړول، محکمی ته وړاندی کول، پښه ایښودل، داخلېدل.

Enter-
دا مختاړې دئ او د (کولمو ، Entero-) په معنی بشپړوی.

Enteral
معائي ، د کولمو اړوند ، د خولې له لارې یا د انفي معدې تیوب (Nasogastric Tube) له لارې خواړه ورکولو اړوند.

- **Enteral Feeding**

د خولې له لارې یا د انفي معدې تیوب (Nasogastric Tube) له لارې

- **Neuron –specific Enolase**

د اینولایز ایزوزایم چې به نورمال ډول نیورونونو او دنیورو انډوکرین سیستم په تولو حجرو کې موندل کیږي دغه انزایم د تومورونو د نیوروانډوکرین د بېلولو او تمیز ځانګړتیا ده.

Enormous
لوی ،ستر ، غټ.

Enough
بسیا بس، کافی، بسیا کوونکی، په کافی تو ګه، په پوره ډول.

- **Enough Dose**

په بسیا اندازه ، بسیا توګه ډوز .

- **Enough Treatment**

د درملنی کافی حالت .

Enrange
قارول، په غضب را وستل.

Enrol
شاملول، په لست کې نیول.

Enroll
شاملول، په لست کې نیول.

Enrolled
په رسمي لیست کې راجستر شوي کس.

- **Enrolled Nurse**

د ثانوي سوئي نرس ، راجستر شوې نرس (روغتیاپال).

Ensconce
پوښول، پټول ، سیب ته کول، خوندی کول ، ښخول ، خو ندی کېدل، ځان ځایول.

Enostosis
د هډوکي د مغز دننه د هډوکي مرضي وده او یا هم د هډوکي د قشر په داخلي سطحه کښې د هغه نا روغه وده.

Ensiform
توره ډوله ، خنجري ، زیفوئید ته ورته.

- **Ensiform Cartilage**

لکه د زایفوئید استطالې د غضروف په څېر ورته جوړښت.

Enstrophe
انتروپیون (Entropion) د سترګو نا روغي ده.

Ensur
په نتیجه کې پېښیدل، منتج کېدل، په اخیر کې راتلل.

Ensure
ډاډ ور کول، ډاډه کول، ذمه وهل، په غاړه اخیستل، بیمه کول.

دکوچنیو کولمو ترضیض، دکوچنیو کولمو ضربه، د کولمو ټپی کېدنه.

Enteritis

د نری کولمو دمخاطي غشأ التهاب ته وائي، د د کوچنی کولمې التهابی حالت، د وړو کولمو برخې التهاب.

Entero-

دا مختاړې دئ او د (کولمې، **Enter-**) په معنی بشپړوی.

Enterobacteria

د وتایلین سیست (**Vitelline Cyst**) په انډول.

د کولمو باکتریاوې لکه د [ګرام منفي باکتریا لکه (سلمونیلا **Salmonella**، شجیلا **Shigella**، ایشریشیا **Escherichia** او کلبسیلا **Klebsiella**) اړوند.

Enterobacteriaceae

ګرام منفي استوانه ئي ډوله باکټریا ګانو یوه کورنی چې د بوټو او ژویو پرازیت شمېرل کیږي یا داچې سپروفایټ بڼه ژوند کوي.

Enterobiasis

دکښې چینجي، په ځانګړي ډول د (انټروبیوس ورمیکولاریس **Oxyuriasis**) په ځپر د نیماتودا په پرازیت اخته کېدنه.

Enterobius

انټروبیوس، د نیماتودا چینجي د پرازیت یو ډول جنس ئي انټروبیوس ورمیکولاریس (**Enterobius Vermicularis**) نومیږي چې غټې کولمې، کونه (مقعد) او ځینې مهال ښځینه تناسلي غړي، مثانه اخته کوي او خارښت منځ ته راوړي، د (**Threadworm**، **Pinworm**) په انډول.

- **Enterobius Vermicularis**

د کښې چینجي، انټروبیوس ورمیکولاریس چې د کولمو یو ډول پرازیټ دئ چې د کونې (مقعدی) برخې کې خارښت او ناارامی پیښوی، د (**Oxyuriasis**) په انډول.

Enterocele

انټروسل، هغه چره (فتق) چې محتوي ئي کولمې وي.

Enterocentesis

د جراحي ډول د کولمو له داخل ځخه د موادو (ګاز، مایع) راویستل او تخلیه

Enteroclysis

دکولمو دننه ته د موادو زرق کولو کړنلاره او میتود.

Enterococci

د (**Enterococcus**) ګڼه شمېره ده.

Enterococcus

خواړه ورکولو او کولمو ته د موادو تېرول بلل کیږي، د (**Enteral Nutrition**) په انډول.

- **Enteral Nutrition**

د کولمو ټیوب له لارې تغذیه، د کولمو له لارې د خوراک ورکړه، د (**Enteral Feeding**) په انډول.

- **Enteral Tube**

معدوی او کولمو ته ننوتونکې (**Nasogastric Tube**) ټیوب.

Enteralgia

د کولمو دردونه، قُلنج، د (**Colic**) په انډول.

Enterally

د کولمو له لارې د خوراک میتود بلل کیږي.

Enterectomy

د کولمو د غوڅولو جراحي کړنلاره.

Enteric

معائي، معائی هضم اړوند، د نری کولمو پورې تړلې، د کوچنیوکولمو اړوند صفت

- **Enteric Adhesion**

د کولمو التصاق، د کولمو ننښتنه.

- **Enteric Coated**

د هغه کپسول (پوښ) اړوند چې په معده کې نه هضمیږي او تر کولمو پورې مواد ساتي او لېږدوي.

- **Enteric Coil**

دکوچنیو کولمو کړی، کړی تاوراتاو بڼه، دکوچنیو کولمو حلقه.

- **Enteric Cyst**

دکوچنیو کولمو سیسټ جوړښت.

- **Enteric Disease**

دکوچنیو کولمو ناروغتیاوی.

- **Enteric Disorders**

دکوچنیو کولمو اختلالات.

- **Enteric Duplication**

د کولمو تضاعف چې ولادی ناروغه نیمګړتیا ده.

- **Enteric Fever**

د محرقې (**Typhoid**) او شبې محرقې (**Paratyphoid**) او دکوچنیو کولمو اړوند تبه لرونکې ناروغي ته وایي.

- **Enteric Fixation**

د دکوچنیو کولمو تثبیت کړنلاره.

- **Enteric Incision**

دکوچنیو کولمو څیرل، د کولمو غوڅولو جراحی عملیات.

- **Enteric Loop**

دکوچنیو کولمو لوپ.

- **Enteric Trauma**

Epicyst
حجروي غشأ ، دیوه سیست بهرنۍ طبقه.

Epidemic
یوه وخت کې په چټک او پراخه پیمانه په یوه ناروغۍ د یوې سیمې د وګړو د اکثریت خلکو اختنه کېدنه ، په چټک او پراخه پیمانه پراختیا موندونکي دا ناروغي ښائي ځینې وختونه په انساني ټولنو کې منځ ته راځي ډېرې مهال انتانی ناروغې دا حالت پیښوي.

- **Epidemic Pleurodynia**

په اپیډیمیکه بڼه د پلورا دردونه منځ ته راتګ هغه ناروغۍ چې پکښې کولمې عضلې طبقه اخته وي او ورسره به (انفلوانزا، تبه ، سردرد، صدری دردونه) شتون ولري. ورته د (**Bornholm Disease**) ناروغي هم وائی.

- **Epidemic Typhus**

په اپیډیمیک ډول د ټیفوس [شپې محرقې (تبګی، وچکی،)] ناروغۍ چې د تبې ،سردرد، رواني تشوش جلدي دانې چې د ورګې پذریعه خپرېدنه مومي.

Epidemiological
د اپیډیمیولوژي اړوند صفت.

Epidemiologist
د اپیډیمیولوژۍ پوه او متخصص ډاکټر ته ویل کیږي چې د ناروغیو د (منځ ته راتګ ، خپرېدنو ، او مخنیوي) اړوند لارو چارو پوه وي.

Epidemiology
هغه علم چې د ناروغیو څېړنه په یوه ټولنه کښې د خپرېدو ، مخنیوي او کنټرول تر سره کوي.

Epidermal
د پوستکي اپیډرمیس طبقې اړوند صفت .

Epidermidalization
د موکسي حجرو څخه د اپي درمال حجرو منځ ته راتګ.

Epidermis
د پوستکي تر ټولو دباندینۍ سطحي طبقه چې د وینې رګونه لري د جنینې اکتودرم څخه منشه اخلي او دبدن ټوله سطحه ئې پوښلې ده. له دننه څخه بهر ته پنځه طبقې لري: [۱- قاعدوی ،۲-شوکي طبقه،۳- حبیبي طبقه،۴- شفافیه طبقه ،۵- قرني طبقه] ، د (**Cuticle**) په انډول.

Epidermitis
د اپیډرم طبقې التهاب .

د کولمو کوکوسونه ، هغه سترپتوکوک باکتریا چې په کولمو کې ژوند کوي لکه د [(**Enterococcus Faecalis**) او (**Enterococcus Faccium**)] ډولونه لری چې د نورمال فلوراګانو برخه یا جز ګڼل شي نادراً پتالوژیک بڼې ته اوړي .

Enterocoele
د کولمو محتوی لرونکې ځتق ، د (**Enterocele**) په انډول.

Enterocolectomy
د نرۍ او غټو کولمو غوڅولو کړنلاره.

Enterocolitis
د کوچنیو او غټو کولمو التهاب.

- **Antibiotic Associated Enterocolitis**

د انتی بیوتیک ورکړو سره مل انتېروکولیټ حالت شتون ته وائي.

- **Hemorrhagic Enterocolitis**

وینه ورکوونکې انتیروکولیټ ، خونړۍ انتېروکولیټ .

Enterocutaneous
د کولمو او پوستکې اړوند.

Enterocyst
د کولمو سیست ، د کولمو د سیروزا طبقې منځ ته راغلې سیست

Enterocystic
د انتېروسیست (**Enterocyst**) اړوند صفت.

Eterocystoma
د انتېروسیستونو څخه جوړه کتله ، انتېروسیستوما ټومور.

Epicranius
د سکلپ (**Scalp Muscle**) عضلې برخه .

Epicrisis
یوه ثانوي حمله.

Epicritic
د غه کړنه د هغه جلدي عصبی فایبرونو په اړه کارول کیږي چې د ډېر ظریف او حساس لمس او د تودوخې د درجې د ډېر جزئی بدلون په وړاندې حساس وي.

Epicystostom
هغه لاره (دبولي لاري مصنوعي خوله) چې د فوق العانې برخې څخه مثانه بهر ته لاره مومي.

Epicystostomy
هغه جراحي کړنلاره تر سره کول چې د هغې په متې هغه لاره (دبولي لاري مصنوعي خوله) چې د فوق العانې برخې څخه مثانه بهر ته لاره مومي.

Epidermodysplasia

د اپیډرم طبقې ناسم جوړښت.

- **Epidermodysplasia Verruciformis**

د ویروس له امله منځ ته راغلې حالت چې په هغه کې د پوستکي پر مخ سره یا سره –نیلي ضایعه رابرسېره کیږي چې د خبائث لورې ته اوښتنې ته لېوالتیا څرګندوي.

Epidermoid

د اپی ډرم پورې اړوند صفت ، اپي درم ته ورته جوړښت.

- **Epidermoid Cyst**

د اپي ډرموئید سیستې ، د سیباسه غدې سیستې (**Sebaceous Cyst**) په انډول.

Epidermoidoma

د اپي ډرموئید تومورې کتله او پرسوب لکه د اپي درموئید سیستې ، د سیباسه غدې سیستې .

Epidermolysis

تر اپیډرم لاندې د ویزیکول له پیدایښت سره مل د اپي درم نرمښت او سست کېدنه چې په بنفسهي ډول یا د ګوزار خوړلو (ترضیضي) په سیمه یوه تیاکه منځ ته راوړي او لیدل کیږي.

- **Epidermolysis Bullosa**

تر اپیډرم لاندې د بول لرونکي او یا وزیکول پیدایښت دئ چې د اپي درم نرمښت او سست کېدنه د بنفسهي ډول یا د ګوزار خوړلو (ترضیضي) وروسته په یوه سیمه یوه تیاکه منځ ته راوړي او خواشینونکي تندب (سکار نسج) یې پر ځای لیدل کیږي.

Epidermomycosis

درماتو مایتوزس ته وایی.

Epidermophyton

دا د مرخپړیو یو جنس دئ په پوستکي پښو ګوتو منځ او نوکانو یرغل کوي خو ویښتان ورځخه خوندي پاتې کیږي او د (**Onychomycosis** ، **Tinea Cruris** ،**Tinea Pedis**) منځ ته راوړونکې لامل بلل شي.

Epidermophytosis

د پوستکي د چنیاسي (فنګسي) ناروغي په ځانګړي توګه د (**Epidermophyton**) له کبله پېښیږي لکه د منډې وهونکو د پښو ناروغي.

Epididymal

د بربخ (**Epididymis**) اړوند صفت.

Epididymectomy

د بربخ د غوڅولو او راویستلو جراحي کړنلاره بلل کیږي.

Epididymis

بربخ ، پّه نارینه وود مرغیړي (خصیې) د خلفي څنډې په اوږدو پروت جوړښت دئ دغه تاوراتاو (مارپیچه) جوړښت د انزال څخه دمخه د سپرمونو (**Spermatozoa**) (ساتنه، وده او لېږدونه منوی قنات ته) پرغاړه لري.

Epididymitis

اپیډیډیمیټ ، د بربخ التهاب.

Epididymo-orchitis

د بربخ او مرغیړي د غدې التهاب ته وائي.

Epididymovasostomy

د بربخ سره د ډیفرانس قنات یا مجرا د بیا اناستوموزس (تفمم) جراحي کړنلاره.

Epidural

د ډورا باندې پروت ، پر ډورا برسیرن جوړښت یا کړنې اړوند لکه د اپي ډورال بېهوښي ورکړه.

- **Epidural Anaesthesia**

د ملا دتیر د فقراتو له لارې د اپي ډورا اناستیزیا (بېهوښي) تر سره کولو کړنلاره.

- **Epidural Block**

د اپي ډورا له لارې د درد ضد درملو ورکړه او د درد (**Analgesia**) له منځه وړلو کړنلاره.

- **Epidural Hematoma**

د اپي ډورا اړوند هیماټوما.

- **Epidural Space**

د اپي ډورا مسافه ، د اپي دورا فضأ ، د اپي ډورا واټن.

Epidurography

د اپي ډورا مسافې ته د کثیفه موادو زرق څخه وروسته د ملا د تیر راډیوګرافي اخیستنې کړنلاره بلل کیږي ، د (**Myelography**) په انډول.

Epiesteriol

دا یو ستیروجنیک ستیروئید دئ چې د بلاربو ښځو په وینه او تشو متیازو کې موندل کیږي.

Epigastric

د ګېدې پورتنی برخه، د شرسوفیه برخه د معدې لپاسه موقعیت برخه.

- **Epigastric Hernia**

د شرسوفیه برخې فتق.

- **Epigastric Hemangioma**

- **Epileptic Convulsion**

صرعوی اختلاج.

- **Epileptic Szisure**

صرعوی اختلاج.

Epileptiform

صرعي ډوله ، د میرګي او صرعي په څېر ورته پېښې کوونکي اختلاجي حالت.

Epilepsy

میرګي، سیوری ، صرعه، عصبی ناروغی. د کلینیکي سندرومونو یوه ډله چې د ماغزو د وظیفې د تېرېدونکو او حملوي اختلالاتو په بڼه چې کېدای شي د بېهوښۍ ، غیر نارمل حرکتونو ، روحي او حسي ستونزو سره مل وي

- **Absence Epilepsy**

پدې صرعه کښې د شعور نشتوالي پذریعه څرګندونې کوي او عموماً په ماشومتوب او بلوغ پیلامه سره منځ ته راځي.

- **Focal Epilepsy**

محراقي میرګي.

- **Generalized Epilepsy**

عمومي میرګي. دا ډول صرعه چې اختلاجونه یې عمومي بڼه لري په پیل کې کېدای شي محراقي وي یا عمومي بڼه ولري.

- **Grandmal Epilepsy**

دا ډول صرعه چې د اورا (**Aura**) په حالت سره پیل او د هوښ په ناڅاپه کلینیکي ټونیک –کلونیک تشنجاتو سره مل وي .

- **Jacksonian Epilepsy**

دا ډول صرعه چې حرکتي –محراقي تشنجونه د یوه اړخیز کلونیک حرکتونو په بڼه د یوې عضلې ډلې څخه پیل او ګاونډیو عضلاتو ډلو ته انتشار مومي.

- **Juvenile Myoclonic Epilepsy**

د ځوانانو کې میوکلونیکه صرعه چې د ټوپ وهلو په بڼه د پېژندنې وړ ګرځي.

- **Lafora Myoclonic Epilepsy**

پرلپسې حملو سره مل په ارادي حرکتونو او ذهني فعالیتونو کې د ستونزې په بڼه یو ډول میرګي چې په مختلفو حجرو کې د لافورا جسمونه درلودونکي دي او د هغې له مخې د پېژندنې وړ ګرځي.

- **Myoclonic Epilepsy**

د میوکلونیک حرکتونو سره مل صرعه.

- **Ptitmal Epilepsy**

کوچنۍ میرګي یا ابسنس صرعه.

- **Photic Epilepsy**

یو ډول غبرګونیزه صرعه چې د نورو سره د مخامخ کیدو له کبله پېښېږي ، د (**Photogenic Epilepsy**) په انډول.

د شرسوفیه برخې هیمانجیوما.

- **Epigastric Incision**

د شرسوفیه برخې څیرېدنه .

- **Epigastric Laprotomy**

د شرسوفیه برخې لاپراټومی .

- **Epigastric Lipoma**

د شرسوفیه برخې لاپیوما .

- **Epigastric Mass**

د شرسوفیه برخې کتله .

- **Epigastric Pain**

سرشوفیه برخه، د معدې سره موافق برخه.

- **Epigastric Tumor**

د شرسوفیه برخې تومورونه .

Epigastrocele

د اپې ګاستریوم برخې چُړه یا فتق.

Epigenesis

د یوې نا تفریق شوې مجرا څخه د یوه ارګانیزم جوړېدل.

Epigenetic

د اپیجنیزس (**Epigenesis**) اړوند صفت.

Epiglottidectomy

دحنجرې د مزمار یا اپیګلوټ د جراحي په متې د غوڅولو کړنلاره.

Epiglottiditis

د مزمار غضروف التهاب.

Epiglottis

اپیګلوټیس ، مزمار ، دا د حنجرې یو پلن ډول غضروف دئ چې د خوړلو او تیرولو پر مهال د حنجرې لاره تړي تر څو شزن ته محتوی تېره نشی، په ستوني کښې (وړه ژبه ، کمکی ژبه ، مزمار).

Epiglottitis

د مزمار (کمکی ژبې) التهاب.

Epilation

دویښتانو او د هغو د جړو او فولیکول د راویستلو پروسې کړنلاره.

Epilemma

انډونیوروم (**Endoneurium**) په انډول.

Epileptic

د صرعې ، میرګي اړوندصفت

- **Epileptic Fit**

د صرعې دتیري او حملې اړوند شړن (اختلاج) ته ویل کیږي.

- **Photogenic Epilepsy**
د (**Photic Epilepsy**) په انډول.
- **Post Traumatic Epilepsy**
له ضرباتو او ترضیض څخه وروسته منځ ته راغلې صرعه .
- **Psychomotor Epilepsy**
د ټیمپورال لوب میرګي، پسایکوموتور صرعه .
- **Reflex Epilepsy**
د حسي تحریکاتو په وړاندې د صرعي اختلاجونومنځ ته راتګ.
- **Rotator Epilepsy**
د ټیمپورال لوب یو دول صرعه چې اتوماتیزم یې دبدن څرخېدونکي حرکتونو په بڼه وي.
- **Sensory Epilepsy**
حسي صرعه . دا ډول صرعه چې د پاراستیزیا یا باصري، شاموي، ذایقي یوخای والي سره مل وي.
- **Somatosensory Epilepsy**
دا یو ډول حسي صرعه چې د پاراستیزي، د سوځېدني احساس او کرختي سره مل وي.
- **Temporal Lobe Epilepsy**
د ټیمپورال لوب یو دول صرعه چې نسبي کمپلسي تشنجاتو سره مل وي .
- **Visual Epilepsy**
باصري صرعه،دي ډول کې بصري اختلاجونه او اختلالونه شتون لري.

Epileptogenic
د صرعې منځ ته راوړونکي لامل.

Epileptoid
صرعې ته ورته حالت.

Epiloia
اپیلویا ، دا غیر ارثي دماغي ناروغي ده چې د پښتورګو د تومورونو سره مل او مترافق وي چې ورته (**Tuberose Sclerosis**) هم ویل کیږي.

Epimandibular
د ښکته ژامنې باندې مېشت او پروت.

Epimenorrhagia
په مېرمنو کې پیاوړي ، شدید او پر له پسې حیض چې ډېره لنډ مهاله وقفه لري.

Epimenorrhoea
غیر نارمل هغه حیض چې د (**28**) ورځو په منځ کې لنډه وقفه لري.

Epimer
د هغه دوه آپټیکي ایزومیرونو څخه هر یو چې د یوه غیر متناظر کاربوني اټوم پر شاو خوا کې په جوړښتیز کانفیګوریشن کې توپیر لري.

Epimerase
یو ډول ایزومریز انزایم چې د یوه غیر متناظر کاربني اټوم په شاوخوا د یوه مرکبجوړښتیز څرخېدل کتلایز کوي او پدې ترتیب سره یو پر بل د اپي میرونو د اوړېدو شونتیا برابروي.

Epimere
د یوه سومیت شاتنی برخه چې له هغه څخه هغه عضلات منځ ته راځي چې د نخاعي عصب د خلفي ښاخ څخه تعصیب مومي.

Epimerization
د یوه انزایمي فعالیت تر اغیزې لاندې د یوه مرکب د یوه اپیمیریک بنې بدلون په بل اپیمیریک بنې باندې.

Epimorphic
د اپیمورفوزس اړوند صفت.

Epimorphosis
د شق په سیمه کې د نسجي تکثر له کبله د یوه ارګانیزم د یوې برخې ترمیم .

Epimysiotomy
د اپي میزیوم شق یا څیرل.

Epimysium
د یوې عضلې شاو خوا منضم نسج فایبري پوښ.

Epinephrine
اپي نفرین ، ادرینالین **Adrenaline** ، دا کتیکول امین هورمون چې د فوق الکلیوي غدې د مرکزي برخې او د ځینو عصبی رشتو څخه افرازېږي ، دغه هورمون په کرومافیني ګرانولونو کې زېرمه کېږي اود (هایپوګلایسیمیا ، سترس او نوروفکتوروتن) په ځواب کې آزادیږي دا د عصبي سیستم د سیمپاټیک عصبی سیستم تحرک کوونکې او پیاوړې وازو پریسور دۀ چې د برانکوډایلاتور اغېزې لري او د وینې فشار ته لوړ والي وربخښي.

Epinephrous
د ادرینال غده.

Epineurial
د اپینیوریوم اړوند.

Epineurium
د یوه عصب چارپیر د منضم نسج پوښ.

Epipharynx
نازو فارینکس ، انفي بلعومي

Epipharyngeal
د انفي بلعومي اړوند.

Epiphenomenon
د یوې ناروغۍ په بهیر کې یوه اتفاقي او استثنائي ناروغي.

Epiphora
د سترګو څخه د اوښکو راتګ او بهیدنه دا د بهنځای (Lacrimal Duct) د بندښت له کبله منځ ته راځي .

Epiphyseal
د هډوکو د اپي فیز پرخې اړوند.

- **Epiphyseal Cartilage**
د اپیفیزیس غضروف. دا برخه د ماشومتوب پرمهال غضروفي خو د بلوغت وروسته کلکوالي مومي او هډوکیز کیږي.

- **Epiphyseal Line**
داهغه غضروفي بېلونکي کرښه (Plate of Epiphyseal) ده چې اپیفیزس او ډیافیزس برخه یو له بله سره بیلوي.

Epiphysis
اپیفېزیس، د اوږدو هدوکو هغه وده موندوکې برخه چې د ودې تر ودرېدنې پرواو پورې غضروفي وي او بیا په کلک هډوکي بدلون مومي چې د هډوکي د هډوکیزې ډیافیز [Diaphysis) او میتافیز (Metaphysis)] برخې د اپیفیزیال لاین پواسطه بېلوالي مومي.

- **Annular Epiphysis**
حلقوي اپی فیزس، هغه ثانوي وده کونکي مرکزونه چې د فقرو د جسم د پورتنیو او کښتنیو سطحو په محیط کې د کړیو په بڼه لیدل کېږي .

- **Epiphysis Cerebri**
پینایل جسم ، دماغی عصبی اپیفېزیس .

- **Stippled Epiphysis**
کاندرودیسپلازیا پنکتاتا (Chandrodysplasis Punnctata) په اړوند.

Epiphysitis
دهډوکود اپي فیزس برخې التهاب.

Epiphyte
یو نباتي دباندینې پرازیت

Epiphytic
د اپي فایت اړوند.

Epipia
د عنکبوتیه جوړښت ته څېرمه د پیامتر یوه برخه.

Epipial
داپیپیا اړوند صفت.

Epiplo-
دا یو مختاړي دئ او د [اومنتوم ، ثرب Omentum ، د ګېډې غوړینه پردې] معنی بشپړوی .

Epiplocele
هغه فتق (چُره) چې محتوی يي اومنتوم (Omentum) یا ثرب دئ

Epiploenterocele
هغه فتق (چُره) چې محتوی يي کولمې یوه برخه اومنتوم (Omentum) ثرب دئ.

Epiploic
د ثرب (Omentum) اړوند صفت.

Epiplomerocele
د فخذي برخې هغه فتق (چُره) چې محتوی يي یوه برخه اومنتوم یا ثرب وئ.

Epiplomphalocele
سُروی هغه فتق (چُره) چې محتوی يي یوه برخه ثرب (Omentum) دئ.

Epiploon
اومنتوم ، ثرب ، د ګېډې غوړینه پرده ، د (Omentum) په اندول.

Epiploschecele
د خوټلنګ (سکروتوم ، سفن) د ثرب لرونکې فتق بلل کیږي.

Epipygus
اپي پایګوس ، پایګومیلوس ، د (Pygomelus) په اندول.

Epirubicin
د ډوکسوروبوسین په څېر اغېزه لرونکو خباثت ضد درمل د ډول ډول (کارسینوما،لوکیمیا ، میلوماګانو، لمفوماګانو) په درملنه کې پکار وړل کیږي.

Episclera
د سترګو د ګاټو د صلبي (Sclera) بهرنی طبقه.

Episcleritis
د سترګو د ګاټو د صلبي (Sclera) بهرنی طبقې التهاباتو ته ویل کېږي.

کېږي چې احلیل د مثانې د عنق له برخې څخه شتون نلري او خوله د قضیب د جذر په برخه کې وازیږي. په دواړه جنسونو کې منځ ته راځي خو په نارینه ذات کې ډېر مهال لیدل کیږي.

Epispadiac

د اپیسپډیاز (**Epispadias**) اړوند صفت.

Epispadial

د اپیسپډیاز (**Epispadias**) اړوند صفت.

Epispastics

تر سپزم څخه پورته ،ویزیکانت (**Vesicant**) په انډول.

Epistaxis

له پوزې څخه وینه راتګ، رعاف ، د پُزې وینه بهېدنه، ویزیکانت (**Nosebleed**) په انډول.

Episternum

هغه هډوکې چې د خزندو د سترنوم (قص) هډوکي لومړنی برخه جوړوي.

Epistropheus

د غاړې دوهمه مهره (فقره).

Epitendineum

د یوه تینډون پوښوونکې فایبري پوښ.

Epithalamus

اپیتلاموس ، د ډیانسفالون (**Forebrain**) هغه برخه چې د تلاموس پر سر او شا کې پرته ده او پینیل جسم (**Pineal Body**) او ګاونډي جوړښتونو په لمن کښې نغاړې ځینې دغه برخه د (**Stria. Medullaris**) یوه برخه بولي.

Epithelial

د اپیتلیوم (**Epithelium**) اړوند صفت.

- **Epithelial Layer**

د اپیتلیوم (**Epithelium**) طبقه.

- **Epithelial Tissue**

د اپیتلیوم (**Epithelium**) نسج اړوند چې څو ډول طبقې لري.

Epithelialisation

هغه جلدی نسجی وده چې د یوه تپ لپاسه وده کوی ، د (**Epithelialization**) په انډول.

Epithelialize

د اپیتلیال نسج پواسطه پوښل کېدل بلل کېږي.

Epithelitis

د د اپیتلیوم (**Epithelium**) نسج التهاب.

Episi-

دا یو مختاړې دئ چې د [فرج (**Vulva**) ، **Episio-**] اړوند پکار وړل کیږي.

Episioperineoplasty

د فرج او عجان پلاستیک ترمیمي جراحي کړنې تر سره کول.

Episioperineorrhaphy

د فرج او عجان دګنډلو جراحي کړنې تر سره کولو ته وائي.

Episiorrhaphy

د ځیرل شوې فرج،عجان او غټو شونډو د ګنډلو ترمیمي جراحي کړنې تر سره کول.

Episiostenosis

د فرج د سوري تنګوالې او تضیق.

Episiotomy

د زېږون په پروسه کې د آسانتیاوو د راوستلو په موخه د فرج او عجان برخو ځیرل د جراحي عملې پواسطه ترڅو د مهبل او عجان د غېر نورمال شلېدنې څخه مخنیوې وشي.

Episode

ضمنی پېښه، پېښه، په ژوندانه کې یو لړ داسی پېښې چې له نورو بېلې وی، نه هیرېدو نکې پېښې.

- **Acute Schizophrenia Episode**

حاد ډول شیزوفرینیا.

- **Major Depressive Episode**

هغه دوره چې د شخص په معمول فعالیتونو کې د خوندونو او اړیکو په کمښت ، د تمرکز ستونزو سترپا ، د خوب او اشتهأ په اختلالاتو ،د درونده والي په بدلون په روحي حرکتي ناکراری، د ناهیلې کېدنې په احساس او همدغه راز د ځان وژنې او مړینې په اړه د ځُرتُونو سره د پېژندلو وړ ګرځي.

Episodic

د اپیزوډ اړوند صفت.

Episome

په باکټریا جنیټیکي علم کې هغه خارج الکروموزومي فرعي جنیټیکي عنصر چې په یوازې (ګونډې) توګه یا د کروموزوم دننه وجود درلودلای شي.

Epispadias

دا یوه ولادي اناټومیکه نیمګړتیا ده چې د احلیل بهرنی خوله (د پایلې فوحه) په خپل اناټومیک طبعي موقعیت کې نه بلکه په بل بې ځایه موقعیت د قضیب په څټ (ظهري وجه) کې وازیږي او یا هم د احلیل پورتنۍ دیوال شتون نلری کله داسې هم

Epithelochorial
یو ډول پلاسنتا چې پکې کوریون د رحم په وړاندې واقع شوي خو دهغه تخریب لامل نه ګرځي.

Epithelolysis
د اپیتلیوم (Epithelium) نسج تخریب او له منځه تګ ته وائي.

Epithelioma
هغه تومورونه چې د د اپیتلیوم (Epithelium) نسج څخه سرچینه اخلي.

- **Malignant Epithelioma**
خبیث ډول داپیتلیال نسج سرطاني تومور.

Epitheliomatous
د اپیتلیالوما اړوند صفت.

Epithelium
اپیتلیوم (Epithelium) هغه نسج چې د ټولو غړو سطح پوښوی او د پوستکی سطحه پوښوي چې د حجروي جوړښت له پلوه بېلابېل نومونه لري

- **Ciliated Epithelium**
سلیا لرونکي یا ویښته ائیز(احدابي) اپیتلیوم ، چې کوچني ویښته ډوله جوړښت لري د هوائي لارې مخاطي طبقه پوښوي او آزاد خوځېدونکي حالت لري.

- **Columnar Epithelium**
استوانه ئی اپیتلیوم ،چې اوږدې او نرۍ حجرې لري او د هغوی پلنوالي د لوړوالي (ارتفاع) څخه ډېره ده او د کولمو دننه طبقه پوښوي.

- **Cubical Epithelium**
مکعبي اپیتلیوم ، معکب ته ورته حجروي جوړښت لري غدواتو دننه او کولمې پوښوی ، د (Cuboidal Epithelium) په انډول.

- **Germinal Epithelium**
دا اپیتلیوم دهغه پیړوالي زېږونکي اپیتلیوم چې د تکامل او ودې له پیل څخه په جنسي غدو باندې مېشت دئ او داسې فکر کېږي چې جرمینال حجرې ورڅخه مشتق کېږي.

- **Glandular Epithelium**
افرازي اپیتلیوم ،چې د افرازي حجرو څخه جوړ دئ.

- **Laminated Epithelium**
متطبق اپي تلیوم.

- **Pavement Epithelium**
سکواموز اپیتلیوم ، هموارې حجرې لري لکه د تلې په څېر (Scales) ، معمولاً د پریکارډیوم، پریتونیوم او پلورا طبقې پوښوي، د (Squamous Epithelium) په انډول.

- **Pseudo Stratified Epithelium**
کاذب طبقوي (متطبق) اپیتلیوم ، چې پکې د حجرو هستې په مختلفو سطحو کې ځای لري لدې کبله ښکاري چې څو حجروی طبقې ولري.

- **Seminiferous Epithelium**
مني جوړونکی اپیتلیوم ، د مرغېړو د مني جوړونکې ټیوبونو پوښونکې طبقوی اپیتلیوم.

- **Simple Epithelium**
ساده اپیتلیوم چې یوه ښه متفردې طبقې څخه جوړ اپیتلیوم دئ.

- **Squamous Epithelium**
سنګفرشي اپیتلیوم یا خشت فرشي اپیتلیوم، د پانې په څېر د پلنو حجرو څخه جوړ دئ.

- **Stratified Epithelium**
ستراتیفاید اپیتلیوم چې څوډوله د حجروطبقې لري، طبقوی اپیتلیوم.

- **Transitional Epithelium**
دا اپیتلیوم د هغه تش منځو غړو داخلي برخه پوښوی چې د انقباض او انبساط په څېر د میخانیکي بدلونونو په وړاندې قرار لري داسې ښکاري چې د سنګفرشي اپیتلیوم او استوانه ئي اپیتلیوم تر منځ بین البینی حالت لري.

Epitope
د پېژندل شوي جوړښت لرونکی یو انتي جني جوړښت دئ.

Epitrichium
اپیډرم نسج.

Epitrochlea
د مټ (عضد) هډوکي د داخلی کونډیل.

Epituberculosis
په صدر (ټیټر) کې د لمفاوي غدې پرسوب د نرۍ رنځ ناروغۍ له کبله.

Epitympanic
د اپیتیمپانوم اړوند صفت.

Epitympanum
د صماخی جوف پورتنۍ برخه.

Epizootic
په یوه وخت کې په چټکه او پراخه ښه پرمختلونکې توګه د زیات شمېر ژویو په ناروغۍ اخته کېدنه.

Epizootiology
دهغه عواملو د څېړنې پوهه او علم چې د څارویو ترمنځ د انتاني ناروغیو د خپرېدو اوپراخېدو په کچې تاکنې کې ونډه لري.

Epoetin
یو بشری بیا ودان شوې ایریتروپوائټین چې د وینه لړې ضد درملو په څېر کارول کېږي.

Eponychium
د اپي درم یوه نری فیته چې د نوک په جدار کې غزېدلې ده ، جنیني اپیډرم چې د راتلونکې نوک په ځای کې لیدل کیږی.

Eponym
دا هغه پروسیجرونه ، ناروغیو او دبدن هغه برخې چې د یو چا د نامه پواسطه نومول شویدي .لکه [حالت (**Dupuytren's Contracture**) ،سندروم (**Guillain–Barré Syndrome**) ،د بدن جوړښت (**Circle Of Willis**) ، ارګانیزم (**Leishmania**) او جراحي پروسیجر (**Trendelenburg's Operation**) سامان (**Kirschner Wire**)] په څېر.

Epoophoron
د هګۍ ځالې په ګاوند کې د پاتې شونی جوړښت شتون ته وائي

Epoxy
هغه مرکب چې داسې اکسیجن ولري چې د دوه متفاوتو کاربنی اتومونو اړیکو سره نښتې وی. د اپوکسي پولیمیرونو څخه جوړ یو زرین چې سریښناک او انعطاف منونکې دئ چې د کېمیاوي غبرګونونو په وړاندې د مقاومت ځانګړنو په ښودلو سره پېژندل کېږی.

Epsom Salts
د مګنیزیوم سلفیت مالګه، د (**Magnesium Sulphate**) په انډول.

Epstein–Barr Virus
هغه ویروس چې ممکن د غدوي تبې (**Glandular Fever**) لامل وي په کال (**1964**) کې د (**Michael Anthony Epstein**) او بریستول پتولوژست کال (**1921**) کې د (**Murray Llewellyn Barr**) پواسطه نومول شوې دئ لنډه نښه یې (**EB Virus**) ده.

Epulis
1-د اوریو د تومورونو یا تومور ډوله کتلاتو په اړه کارول کېږی. **2**- محیطي هډوکي جوړونکی فیبروم.

- **Giant Cell Epulis**

د غټو حجرو لرونکي هغه د اوریو د بنست لرونکي یا له هغه پرته یو ضایعه چې د ضرباتو (ترضیضاتو) یا وینه بهېدنې په ځواب کې د یوه التهابي غبرګون ښودنه کوی.

Equanil
د میپروبامات د مستحضراتو سوداګریز نوم دئ.

Equation
د دوه برخو تر منځ څرنګوالي ښودنه ،پرتله کول، معادله، موازنه، په شمېر کې دمعادلې ددواړو خواو برابری چه دا نښه (=) یې په منځ کې وی.

- **Handreson –Hasselbach Equation**

دا معادله د وینې د پلازما په څېرد بفری محلولونو د (**pH**) ټاکنې لپاره فورمول.

Equaxial
د یوشان انډول لوړوالي محورونو درلودونکې

Equi-
دا یو مختاړي دئ او د [انډول،تعادل ، برابر ، مساوی ،**Equal**] معنی بشپړوی.

Equidistant
په فاصله کې سره برابر ، متساوي الفاصله، په برید کې سره برابره.

Equilibration
انډول توب، توازن، د دوه مادو یا مخالفو قووترمنځ د تعادل ساتل.

- **Occlusal Equilibration**

د ستړس تعدیل، بند توازن.

Equilibrium
انډول توب، توازن حالت، تعادل حالت.

- **Dynamic Equilibrium**

ډاینامیک توازن حالت.

Equine
د آس پورې اړوند ، له هغه آس څه څخه زېرنده چې یا دهغه په مټه نومول کېدونکې.

Equinovalgus
د پښې کوږوالي چې ولادي بڼه لري، د (**Talipes Equinovalgus**) په انډول.

Equinovarus
دپښو د پل ولادي کوږوالې او خلع، د (**Talipes Equinovarus**) په انډول.

Equipment
تجهیز ،سامان، سمبالښدنه، سمبالونه، اسباب.

Equipoise
انډول توب، برابروالی توازن، تعادل.

Equipotential
د ورته قوي یا ظرفیت درلودل.

Equivalent
معادل، د یوشان ارزښت درلودل ،یو دبل په وړاندې د دوه متضادو قوو خنثی کېدل.

Erect
نعوذ ، لکېدنه ، نېغېدنه ، ولاړېدنه .

Erectile
نعوذي، لکونکې ، هغه غړې چې د لکېدنې وړتیا لرونکي وی.

- **Erectile Dysfunction**

د جنسي مقاربت پر مهال د لکېدنې وړتیا نشتون او تشوشات لرل ، د نعوذ اختلال .

- **Erectile Tissue**

نعوذیه نسج ، د لکېدنې د خواصو درلودونکی نسج ته وائي چې د وینې د ډنډېدنې په مټه لکېدنه مومي لکه د قضیب د کورنوزوم د جسم نسج .

Erection
د لکېدنې او نعوذ حالت،لکتوب ، نېغېدنه ، په یوه غړې یا انساجو کې لکه د (قضیب او ویښتانو) لکېدنه.

Erector
هغه جوړښت چې د انتعاذ لامل ګرځی له یوه عضله چې یوه برخه شخه او دلکېدنې حالت کې ساتی.

- **Erector Spinae**

هغه غټې عضلې چې د ملا تیر (Spine) د قاعدې څخه راولاړېږی او کله چې لږ څه پورته خی په دوه برخو ویشل کېږي.

Erepsin
د انزایمونو ګډ (Mixture Of Enzymes) ډول چې د کولمو د غدواتو په مټه جوړېږی او د امینواسیدونو (Amino Acids) په جوړېدنه کې کارېږی.

Erethism
غېر معمول تخریش ، نابېره پېښېدونکې تخریشیت ته وائي.

ERG
د الکتررتینوګرام (Electroretinogram) لنډه نښه ده.

Erg
دکار او انرژی واحد چې (**10^{-8} Gram Calorie**) یا (**0.624 X 10^{12} E. Volts**) سره معادل بلل کیږی.

Ergasia
د هر شخص د (کارونو ،فعالیتونو ، غېرګونونو او ماغزو) د لېوالتیا ټولګه بلل کېږی.

Ergastoplasm
دانه لرونکې انډوپلازمیک شبکه.

Ergocalciferol
ارګوکلسیفیرول ، د ویتامین ډي (**D_2**) یو ډول دئ چې په ځینو

- **Migraine Equivalent**

د سردرد څخه برته میګرین سره یوځای د یوریا شته والي .

Equulosis
د قیحي (ډیو) یا چرکي آرتریت، سینوزیت او د کولمو التهاب یوه ټولګه چې اغلباً د کلیوي دانو(آبسې) د پیدا ېښت سره مل وی او اساساً په کوټو او کوچنیو آسونو کې منځ ته راځي دغه ناروغی د (**Actinobacillus Equuli**) په مټه د منتن کېدو څخه سرچینه آخلي.

ER
دا د ېېرنې څارنې خونې (**Emergency Room**) لپاره لنډ نوم دئ.

ER
دا د اندو پلازمیک رټیکولوم (**Endoplasmic Reticulum**) لپاره لنډ نوم دئ.

Eradicate
په کامله توګه د یو څه له منځه وړل، په جذري ډول ورک کول. لکه د نري رنځ ناروغی. د ېېخه ورکولو کړنه دنړېوالې ټولنې له خوا.

Eradication
په کامله توګه د یو څه له منځه وړلو کړنه ، په جذري ډول ورک کولو کړنه لکه نړېوالې ټولنې له لورې د نري رنځ ناروغی. د ېېخه ورکولو کړنه.

Erb's Palsy
د زېرون پر مهال د ماشوم د مټ د عصبي ظفیرې خوړېدنه چې د لاس د موټي (منګول) برخې شا لورې ته د فلج او کوږ والي ناروغی ته ویل شي، د (**Erb's Paralysis** یا **Bell's Palsy**) په انډول.

Erb's Paralysis
د (**Erb's Palsy** یا **Bell's Palsy**) په انډول.

Erbium
اربیوم ، یو کیمیاوي عنصر دئ چې اټومی شمېره یې (**68**) او کیمیایي نښه یې (**Er**) ده .

ERCP
رتروګراډ اندوسکوپیک د تریخې لارو او پانکراص لارو راډیولوژي (**Endoscopic Retrograde Cholangiopancreatography**) لنډه نښه ده.

مخامخ کېدو سره په ارګوکلسیفیرول (Vitamin . D) بدلېږي.

Ergot

هغه ماده چې د (Clariceps Purpurea) پنامه د چنیاسو (Fungus) څخه لاس ته راځي او الکلوئیدونه ئې د اوکسی توسیک (تقلص ورکونکی) عامل په توګه او همدغه راز د مایګرین آرامونکی په توګه کاریږي.

Ergotamine

ارګوټامین ، دا کیمیاوي درمل او ماده د ($C_{36}h_{35}n_5o_5$) فورمول لري فنګسي ارګوټي الکلوئیدونو څخه یو دئ چې تارتاریټي مالګه یې د نیم سری (مایګرین) د آرامولو لپاره کاریږي چې دماغزو رګونو وازولو اغېزې لري.

Ergotism

ارګوټیزم ، د ارګوټ د کارونې له کبله زهرنده مزمن مسمومیت چې د نخاعی دماغی شکایتونو ، د عضلاتو سپزم او کرامپ او یا یو ډول د لاس او پښو ګوتو وچ ګانګرین (Dry Gangrene) په نامه ځان ښکاره کوی

Eriodictyon

د (Eriodictyon Californicum) بوټی وچې شوې پانې چې یې د درمل جوړولو په صنعت کې کاریږي.

Erogenous

د جنسی لېوالتیا پارونکي مواد او حالت.

- **Erogenous Zone**

د بدن هغه غړو برخه چې جنسي لېوالتیا پاروي او منځ ته راوړی لکه (قضیب **Penis** ، بذر **Clitoris** ، او تیټونو څوکې **Nipples**).

Erosion

ایروژن ، یو سطحي او برسېرن ټپ، د غاښونو طب کې د یوې داسې کېمیاوي پروسې له امله د غاښونو د انساجو او موادو له منځه تګ او تخریب چې پکې څرګندې میکروبي کړنې وجود نلری. ګرېدلې ټپ.

Erosive

د ایروژن (**Erosion**) اړوند صفت.

Erotic

د جنسي اشتیاق او لېوالتیا منځ ته راوړونکې اړوند . د شهوت اړوند.

Erotism

د شهوت ،جنسي اشتیاق او لېوالتیا درلودل ، د جنسي اشتیاق او لېوالتیاپه اړه د شخصی احساساتو څرګندولو فنګسونو او حیواني غوړو کې شتون لري او یا د وړانګو تر اغېزو لاندې له ارګوستیرول څخه پلاس راځي چې د کولیکلسیفیرول په څېر خواص او میتابولیزم لري چې د[ویټامین ډي (**Vitamin. D**) غذایي کمښت ناروغۍ ، هایپوپاراټایرایډیزم ، هایپوکلسیمیا او هایپوفاسفتیمیا] په درملنه کې کارول کېږي.

Ergograph

هغه وسیله (دستګاه) چې د یوې یا څو عضلو کار کړنه ثبت کوي.

Ergoloid Mesylates

د ارګوت د هایدروجن لرونکي دریو لرونکو الکلوئیدونو د میتان سولفونیت مالګو مخلوط چې په عمر خوړلو کسانو کې د ذهنی کارونو کمښت په درملنه کې کارول کېږي.

Ergometer

ډینامومتر ، د ارګ ټاکنې لپاره وسیله ده.

- **Bicycle Ergometer**

د ورزش د تنفسي میتابولیکی او عضلاتی اغېزو د ټاکنې لپاره وسیله ده.

Ergometrine Maleate

د پلاسنتا څخه لاس ته راغلي ماده ده چې دا درمل چې د زېږون د پراوونو د چټکتیا په موخه میندو ته ورکول شی او د ځلانځې د تقلصونو ډېروالی منځ ته راوړی او له زېږون وروسته وینه بهېدنه ودروي.

Ergonomics

د بشر اود هغه د مصروفیتونو تر منځ د اړیکو او اغېزو څېړنې علم چې د انسانی انرژی په سمه توګه کارولو باندې اغېزمن عوامل هم په لمن کې نغاړي.

Ergonovin

د ارګوټ څخه مشتق شوې الکلوئید یا په مصنوعي ډول جوړ شوی هغه چې په ساده یا مالییت (**Malate**) مالګیزه بڼه د اوکسی توسیک لامل او مایګرین په آرامونکې توګه کارول کیږي.

Ergostate

هغه ماشین چې د عضلاتی ورزش ترسره کولو لپاره کاریږي.

Ergosterol

ارګوستیرول ، یو ډول استیرول چې په عمده ډول مخمرونوکې وجود لري او د بنفش التراویولټ وړانګو سره د

- **Drug Eruption**

د درملو خوراک په وړاندې غبرګون او د پوستکې اندفاعی ضایعه منځ ته راتګ.

- **Fixed Eruption**

جلدی ثابتې دانې چې د خو میاشتو یا کلونو پورې پاتې کېږی.

ERV

ذفیري ریزرف ده شوې حجم (**Expiratory Reserve Volume**) لپاره لنډه نښه ده.

Ery-

دا یو مختاړې دئ او د (سور، سره **Erythro**) معنی ورکوی نورو لغتونو سره یوځای کیږي.

Erysipelas

ایریزیپلس ، سره مخه ، د پوستکی سرې اندفاع ګانې ، [یوډول ساری او لېږدونکی التهابی ناروغتیا چې د مخ او نورو برخو پر پوستکی سري ، ګرمي ، دردناکې د (**Streptococcus Pyogenes**) له کبله دانې راخیژوی].

- **Swine Erysipelas**

د سرکوزی (خوکانو) سره مخه .

Erysipeloid

په لاسونو کې د سرې مخې ناروغی. ته ورته پېښه دا د پوستکی باکتریائی ناروغي چې د پوستکې کله د منتن کب اویا غوښې سره مخامخ شی او ډېر مهال د کب نیونکو او کبانو پخونکو کاریګرانو کې د (**E. Incidiosa**) په مټه منځ ته راځی.

Erythema

د نریو لکه د وینښتانو په څېر (شعریو) رګونو د احتقان او هایپرهیمیا له کبله د پوستکي سوروالي منځ ته راتګ.

- **Erythema Ab IgE**

د سور رنګه کرښې په څېر دیوې رتې شتون د پوستکی په هغه برخه کې چې د تودوخې سره مخامخ شوېوی.

- **Erythema Annulare**

دا یومولتیفورم اریتیمیا چې حلقوي ضایعات لري.

- **Erythema Anuulare Centifigum**

دا یومولتیفورم ایریتیمیا مزمن ډول دئ چې په ورانه او سفلی غړو باندې د پرسېدلو سرو پانو په بڼه راوتلې محیطی ځنډې او بې رنګه مرکز لري لیدل کېږی.

- **Erythema Chronicum Migrans**

د وږو چیچلو له کبله یو ډول حلقوي مولتیفورم ایریتیمیا ، چې دغه ضایعات تر چیچلو څو اونۍ وروسته د یو سور رنګه پلاک په بڼه راښکاره کېږی په چټکی. سره شاو خوا ته خپرېدنه مومی او مرکز بې بې رنګه پاتې کېږي.

حالت بلل کېږی.

- **Anal Erotism**

د کونې (مقعد) له لارې اشتیاق، مفعولی حالت خوښول چې په ډزرو ناروغانو کې د ماشومتوب دورې(**Anal Phase**) له وخته شته او تر لویوالي پورې په مرضی ډول ثابت پاتې کېږی او دا میل دځان خوښونکي ،سر ټمبه او سر سخته او ناوړه شخصیت د پېدا ینښت لامل ګرځی.

- **Genital Erotism**

د روحی – جنسی ودې ا وتکامل په جنسی فیز (**Sexual Phase**) کې د جنسی میلان ثابت پاتې کېدل چې د نارمل تولنیزو اړیکو سره مل وی.

- **Oral Erotism**

د ماشومتوب په فمی فیز (**Oral Phase**) کې د جنسي لېوالتیا ثابت پاتې کېدل چې د منفعل والی ، ناامنی. داحساس او دبیدریغه حساسیت د ځانګړتیاوو له مخې د پېژندلو وړ ګرځی.

Erotogenic

د ایروتیک احساس منځ ته راوړونکی عامل ته وایی.

Erotomania

دجنسی چلند یا غبرګونو د بېدریغه او مرضی چلند زیاتوالې، په جنسي فعالیتونو باندې ځان مشغولول.

Erotophobia

د جنسي عشق ځخه مرضی ډار ، د جنسی عشق ځخه وېره او ترهه درلودل.

ERPC

د القأ شوی محتوی پاتې شونې راویستلو(**Evacuation of Retained Products of Conception**) لپاره لنډ نوم.

Eructation

د سا بندولو کړنه ، سا نیول ، تېغ ایستل ،په زوره له خولې ځخه د معدې هوا ایستل (په تیره له خولی ځخه لکه اپتکی، غرچی، سوکلی، اړپمی)، وتل لکه (لوګی د توپ له خولی ځخه) ، د (**Belching**) په انډول.

Erupt

په پوستکی کې د تخریب منځ ته راتګ، راخوتېدنه، راختنه.

Eruption

د غابنې د راوتلو په ځېر د ښکاره کېدنې او بهر کېدلو پروسه، راخوتېدنه، داړې وهنه، په زور راوتنه لکه د (چینې یا داوړغورځېدنه او روانېدنه) ، راماتېدنه، پار ېدنه، دپوټکی په سرددانو سوروالی او پرسوب په ځېر یا داغوپیدا کېدنه.

- **Creping Eruption**

د مهاجرو لارواګانو ځخه زېرنده جلدی ناروغی.

د پوستکی د لوپوس ناروغی، د (Lupus) په انډول.

Erythematous

د سرې مخې یا ایریتیما (Erythema) اړوند صفت.

Erythr -

دا یومختاړې دئ چې د سرې (سوروالی-Erythro) معنی ورکوی.

Erythraemia

حقیقي پولي سایتیمیا ، دا وینې یو ډول تشوش دئ چې پکې د وینې سرې حجرې (Red Blood Cells) په چټکه توګه زیاتوالي مومی او ورسره سپینې حجرې (White Blood Cells) هم زیاتېږی چې د وینې غلظت زیاتوی او سرعت یې لړوالي مومی ورته د (Polycythaemia Vera) نوم هم ورکړل شوېدئ، د (Erythremia) په انډول.

Erythrasma

معند ډول جلدی انتانات چې د کوت لرونکو برخو (Fold) کې منځ ته راځی لکه د پښو د ګوتو برخه کې چې د (Corynebacterium) په مټه منځ ته راځی.

Erythritol

دا یو پولیهایدریک الکهول دی چې د سکروز څخه دوه چنده زیات خوږ دئ چې د څو ډوله مرخبږیو څخه لاس ته راځي.

Erythrityl

یو یوولانسه رادیکال دئ چې فورمول یې (C4h9) دئ.

- Erythrityl Tetranitrate

د رګونو توسع ورکونکې او د صدری خناق د مخنیوی په موخه او د زړه د اکلیلی رګونو د عم کفایي په درملنه کې کارېږی.

Erythro-

دا مختاړې دئ د سره (Red) په معنی.

Erythroblast

د هسته لرونکو سرو کریواتو پریکارسور لپاره پکاریږي چې وروسته بیا (Erythrocyte یا Red Blood Cell) منځ ته راوړی.

Erythroblastoma

د اریتروبلاستونو څخه جوړه تیوموری کتله بلل کېږي.

Erythroblastopenia

په وینه کې د اریترو بلاست حجرو کمښت ویل کېږی.

Erythroblastosis

په محیطي وینه کې د اریتروبلاست حجرو (نا بالغه سرو کریواتو) شته والې او شمېر زیاتولي مل حالت ته ویل کېږی. چې په هیمولایټیک انیمیا او هغه میندې چې(Rhesus Negative) دي او (Rhesus Positive) انتي باډي ګانې جوړوی او د

- Erythema Cold

د سړوخې سره د بېدریغه حساسیت چې د (موضعی درد ، خپرې اذیما، ناڅاپه عضلی سپزم او د همانغه برخې د رګونو کولاپس) دا ناروغي کېدای شی چې د سړو اوبو څښلو پر مهال د پېژندلو وړ وګرځی.

- Erythema Epidemic Arthritic

اپیډیمیکه سره مخه (Haverhill Fever) په انډول.

- Erythema Induratum

نکروز کونکي مزمن واسکولیت دتقرحی نوډولون سره مل چې معمولاً د ځوانو مېرمنو د پښو پنډیو باندې لیدل کېږی د نری رنځ ناروغی سره یې اړیکه تر شک لاندې ده، او رته (Bazin's Disease) هم ویل کېږی.

- Erythema Infectiosum

دا یو لېږدېدونکي انتاني ناروغی ده چې خپنې وخت په هلکانو کې اپیډیمیکه وي او د سور رنګه ماکولار دانو

- Erythema Iris

یو ډول مولتی فورم ایریتیما چې ضایعات یې متحدالمرکزه کړی، لری او د موخه ائیزې (هدفي) ضایعې په څېر را منځ ته کوي.

- Erythema Marginatum

یو ډول مولتی فورم ایریتیما چې په هغه کې د راوتلوځنډولرونکي صفحه یې ډوله (پانیز) سور رنګې ناحیې شتون لری.

- Erythema Migrans

د ژبې سلیم ډول مهاجر التهاب، مزمنه مهاجره ایریتیما.

- Erythema Multiform

د (ماکول ، پاپول ، وزیکول او بول) په ګډون د راز راز یوه مجموعی چې ددې ناروغی حملې په خپله سر محدود او بنه کېدونکي خو د یوه قانون په توګه راګرځی.

- Erythema Nodosum

د پوستکي حاده التهابی ناروغی چې معمولاً د پښو په پنډیو باندې درد ناکو سور رنګه نوډولونو په پیدا ېښت سره د پېژندلو وړ ګرځی دغه ضایعه د وینې او سېروم بهېدنې او راوتلو له کبله منځ ته راځی.

- Erythema Pernio

چاود (چاوړه) چې دیخنۍ له کبله په لاس او پښو کی پیدا کیږی، پر هار (دیخنی په اثر) ، د (Chilblain) په انډول.

- Erythema Serpens

دا ډول سره مخه غیر باکتریال وی او د منتن کبانو او غوښې سره د تماس له امله منځ ته راځی په کب نیونکو او پخوونکو کې لیدل کېږی.

- Erythema Toxic

دا ډول دانې چې د باکتری د زهرو (توکسین) ، د درملو یا نورو زهری موادو د ورکړې په اثر منځ ته راځی، د (Erythema Toxicum) په انډول.

- Erythema Toxicum

د (Erythema Toxicum) په انډول.

Erythematosus

لابراتوار په کتنو کې تر سترګو کېږي لنډه نښه يې (ESR) ده.

Erythrocythemia

د وينې سرو حجرو زياتوالي حالت ته ويل کېږي.

Erythrocytolysis

د وينې سرو حجرو تجزيه کېدل او د هيموګلوبين آزادېدل بلل کېږي.

Erythrocytophagy

د وينې سرو حجرو فاګوسايتوز.

Erythrocytorrhexis

د وينې سرو حجرو څېرېدل او دهغه څخه دخلاندې ګرانولونو آزادېدل.

Erythrocytoschiasis

دپاڼو(صفيحاتو) په څېر ذراتو باندې د سروکريواتو بدلېدل.

Erythrocytosis

لومړنۍ بڼه پولي سايتيميا ده چې د څرګندو تحريکونو پر خلاف او د وينې نه جوړونکو عمومي اختلالاتو په ځواب کې پېښېږي په ثانوي توګه د وينې سرو حجرو شمېر زياتوالي مومي.

- **Leukemic Erythrocytosis**

حقيقي اريتروسايتوزس.

- **Stress Erythrocytosis**

د فشار اړوند پولی سايتيميا چې د لوړو ارتفاعاتو اوسېدونکو خلکو کې ليدل کېږي.

Erythroderma

په پراخه بڼه د پوستکی غير نارمل سوروالي ، د (Acrodynia) په انډول.

- **Congenital.Ichthyosiform Erythroderma**

په ولادي توګه عمومي ارثي درماتيت چې د تفلس سره يوخای وی او په پولي او غېر پولی بڼه رابنکاره کېږي.

- **Desquamativum Erythroderma**

د ديسکوواميشن سرمل درماتيت چې د (Leiner Disease) ناروغۍ په نوم هم يادېږي.

- **Psoriaticum Erythroderma**

د پسوريازس درماتيت ته ويل کېږي.

Erythrodontia

د غاښونو سره کېدل.

Erythrogenesis

د سرو کريواتو جوړېدنه . د سرو کريواتو منځ ته راتګ په مخ عظم (Red Bone in Marrow) کې، د (Erythropoiesis) په انډول.

(Rhesus Positive) جنين وينې ته تېريږي ليدل کېږي .

- **Erythroblastosis Fetalis**

دا د وينې ناروغی نده چې نوې زېږېدلې ماشوم اخته کوی او مور او جنين د (Rhesus Factor) د غبرګون له کبله منځ ته راځي.

Erythroblastotic

د ايريتروبلاستوزس اړوند صفت.

Erythrochromia

د سور رنګ لرونکې او په وينه ککړه نخاعی مايع.

Erythroclasis

د وينې د سرو کريواتو ماتېدل.

Erythrocyanosis

د پنډيو او ورنونو په ځانګړې ډول په نجونو کې سوروالې او سيانوزس چې احياناً د سړوخې سره دمخامخ کېدو له کبله منځ ته راځي.

Erythrocytapheresis

د سروکريواتو اخيستل ، بيلول او ساتل او بيا دوينې ورکونکې شخص بدن ته د هغه بېرته ترزيق کوول.

Erythrocyte

نورمالـه سره کريوه.په نورمال ډول دغه حجره په انسانانو کې هسته نلری د ژيړ رنګ خاونده او هيموګلوبين لرونکې دوه مقعري سطحې لری اوکسيجن لېږدوی ، د (Red Blood Cell) په انډول.

- **Achromic Erythrocyte**

بې رنګه د وينې سره حجره.

- **Basophilic Erythrocyte**

د وينې سره حجره چې د په قلوی رنګونو سره رنګ اخلی.

- **Hypochromic Erythrocyte**

هغه د وينې سره حجره چې د هيموګلوبين د لږې محتوی لرلو له کبله الوتې رنګ لری او سپين چکه وی او معمولاً کوچنی هم وی.

- **Normochromic Erythrocyte**

هغه د وينې سره حجره چې هيموګلوبين د نارمل محتوی له کبله نورمال رنګ اخلی.

- **Orthochromic Erythrocyte**

هغه د وينې سره حجره چې يوازې اسيدی رنګ اخلی.

- **Target Erythrocyte**

موخه ائيزه حجره.

Erythrocyte Sedimentation Rate

د سروکريواتو د رسوب سرعت چې پکښې د وينې سرې کريوې د سيروم څخه جلا او بيا رسوب کوی دا کړنه د

Erythropenia

دوینې په دوران کې د سرو کریواتود شمېر کمښت او لړوالی چې وینه لړئ منځ ته راوړی.

Erythrophage

فاګو سایتوز چې سرې کریوې تېروی.

Erythrophil

حجره یا بل عنصر چې په سور رنګ سره ښه رنګ اخلی، سورکېدنې ته لېوالتیا .

Erythrophobia

له سور والی ډه ډه کول او مرضی کرکه درلودل، یو ډول عصبی ناروغی چې د ډېر جزئی تحریک سره سم د سره کېدو ښه غوره کوی،

Erythrophose

د سره نور ډولونه.

Erythroplakia

د سستې ودې او کاملاً څرګندو ننبو لرونکې ایریتیمیا توز ضایعه چې د مخاطی غشأپرمخ او اغلباً د خولې په جوف کې لیدل کېږی

Erythroplasia

د مخاطی غشأپرمخ ضایعه چې د ایریتیمیا توزپاپولار دانو په څېر څرګندېږی.

Erythropoiesis

د سرو کریواتو جوړېدنې اړوند پروسه ، د (**Erythrogenesis**) په انډول.

Erythropoietic

د ایریتروپوائیزس اړوند صفت.

Erythropoietin

دا یو ګلایکو پروتینی هورمون چې چې په بالغو کې له پښتورګو او جنین کې له ینې (خیګر) څخه افرازېږی او د هډوکو د ماغزو پر مورنیو حجرو باندې اغېزې کوی چې د سرو کریواتو تولید تحریک کوی.

Erythropsia

هغه حالت چې یو څوک د سره رنګ شیان لیدلای شی.

Erythroprosoplagia

د (**Erythromelalgia**) په څېر یو اختلال دئ چې د سوروالی او درد په څېر څرګندېږی.

- **Imperfecta Erythrogenesis**

هایپو پلاستیکه ولادی وینه لړې.

Erythrogenic

د سرو کریواتو جوړېدنې اړوند .

Erythroid

د سرو کریواتو ته ورته رنګ درلودنه ، سور رنګه.

Erythrokeratodrmia

د پوستکي پېړوالې (پنډېدل) او سره کېدل.

- **Variabilis Erythrokeratodrmia**

یو ډول نادره ارثي ایختیوزس چې په پراخې او مهاجرې ماکولار اریترودرمی په ذریعه پېژندل.

Erythrokinetic

د ژوندی موجود په بدن کې د سروکریواتو تخریب او جوړېدنې ډینامیک او کیفی څېړنو علم بلل کېږی.

Erythrolabe

د شبکېې په مخروطی ډوله حجرو کې هغه رنګونو د طیف په وړاندې زیات حساسیت لري .

Erythroleukemia

دا یو ډول خبیثه د وینې دیسکاریزیا بلل شوېده چې د میلو پرولیفراتیف اختلالاتو له دلې څخه شمېرل شی او په هغه کې په محیطي وینه کې اریترو بلاستونونه ، میلوبلاستونه لیدل کېږی.

Erythromelalgia

په دوه ارخیزو او مؤقتی ډول د رګونو پراخېدل چې په ځانګړې توګه په اندامونوکې رابرسېره کېږی او د سوځېدونکی درد ،د پوستکی د تودوخی درجې د زیادښت او د هغه له سوروالی سره مل وی.

Erythromycin

دا د ماکرولیدونو د کورنې څخه یو انتی بیوتیک درمل دئ چې (**Streptomyces Erythreus**) څخه لاس ته راځی او د (**Gr**) او (**Gr⁺**) باکتریاګانو باندې وژونکې اغېزی کوی چې د ریکتزیا ،سترپتوکوک ، مایکو پلازم په انتانونه ښه تر کنترول لاندې راولی.

Erythron

دوینې په دوران کې سره کریوه ، هغه پریکارسورونه او دهغه ټول عنصرونه چې د هغې په جوړښت کې ونډه لری.

Erythroneocytosis

دوینې په دوران کې د نابالغو سرو کریواتو شتون بلل کېږی.

مضر او ناروغی پیښوی او معمولاًپه غولو (غایطه) کې موندل شی

- Escherichia Coli

د ایشریشیا یو ډول دي چې په کولمو فلورا کې موندل شي دا میکروب د بولی لارې انتانات لامل،حاد اپیډیمیک نس ناستی او سیپسیس لامل ګرځېدلای شي ، د (E.Coli) په انډول.

Escherichieae

دا اصطلاح په ګډ ډول د (Shegilla, Escherichia) ارګانیزمونو لپاره پکار وړل کېږی.

Escrocin

یو قهوه ئی رنګه پوډر چې د څېړی(بلوط) څخه د مشتق شوې مادې څنې لاس ته راځی او د ملتحې او قرنیی دضایعاتو په ټاکنه کې کارېږی.

Escort Nurse

بدرګه کوونکې روغتیاپالونکې نرس چې د ناروغانو سره عملیاتخانې ته ځې او بیا ناروغ ببرته وارد (Ward) راولی.

Escutcheon

د نامه غوټی لاندې ویښتانو د خپرېدو (انتشار) طرحه.

Esidrix

د هایدروکلورتیازیډ د محصولاتو تجارتی نوم دئ.

-esis

دا یو روستاړې دئ چې د (وضعیت او حالت) معنی بشپړوي.

Esmarch

د سمارک بنداژ.

Esmolol

دا د بیتا یو (β_1) رسپتور روسته غورځونکي درمل دئ چې او د اریتمیا او فرط فشار ضد اغېزې لری او د دهلیزی فیبریلیشن په لنډ مهالی کنترول ،دهلیزی فلوټر او غیر جبران شوې سینوسي ټاکی کارډیا کې استعمالیږی.

Eso-

دا یو مختاړې دئ چې د (منځ ، دننه او داخل) معنی بشپړوی .

Esogastritis

دا د معدې مخاط التهاب ته ویل کېږی.

Esophagectasia

د مرۍ پراختیا موندنه ، په غېر عادی ډول سره د مرۍ اتساع او لوئېدنه.

Esophagism

د مرۍ د عضلاتو سپزم.

Erythrorrhexia

د سرې کریوې څیرېدنه.

Erythrosine Sodium

یوه رنګې ماده چې د غاښونو د پلاکونو د پاکولو لپاره پکارېږی.

Erythrosis

د پوستکی او مخاطی غشأ سور یا بنفشه رنګه کېدل لکه څه ډول چې په ریښتینې پولی سایتیمیا کې لېدل کېږی، د وینې جوړونکو انساجو هایپر پلازیا.

Erythrostasis

په شعریه رګونوکې د کریواتو ودرېدل لکه څه ډول چې په لور ډوله (Sickle Cell Anemia) وینه لړی کې لیدل کېږی.

ES

د اینشیټینوم عنصر لپاره کیمیاوی نوم نښه ده.

Esbach's Albuminometer

هغه ښیښه ئی ظرف چې په متیازو کې البومین اندازه کوی په (Esbach's Method) لابراتواری کتنه کې پکارېږی، د البومین ټاکنې وسیله.

Escapade

فرار ، تېښته لکه د (له رګونو یا حجرو څخه د مایع تېښته یا کار څخه تېښته) ، لګتکی یه لینګتی اچونه، ګنډکپی.

Escape

تښتېدل، بچ کېدل، وتل لکه (خبره دخولې نه). ځان بچول، تېښته کول، تېرول، تېرایستل، تېښته، وتنه ، د آزادېدلو پروسه.

- Vaginal Escape

د عمومی دموی فشار په تنظیم کې د عصبی کیمیاوی منځګړو موادو ناتوانی.

Eschar

ندبه ، تندب ، هغه داغ چې د سوځېدلی ټپ څخه وروسته په سیمه کې پاتې کېږي.

Escharotic

د تندب منځ ته راوړونکی لامل اړوند.

Escharotomy

د جراحی هغه کړنلاره چې پکې د سکار تندب برخه غوڅېږی او لاندې برخه رابنکاره کیږي دا کړنه د سوځېدلو ناروغانو کې کارول کېږی.

Escherichia

دا ګرام منفی(Gram-Negative) باکتری ده چې د انسانانو لپاره

Esophagitis

د مرۍ التهاب.

- **Acute Esophagitis**
حاد ایزوفاجیت ، د مرۍ حاد التهاب
- **Chronic Peptic Esophagitis**
د مرۍ پیپتیک مزمن التهاب، رفلوکسی ایزوفاجیت.
- **Pill Esophagitis**
د مرۍ د مجرأ څخه د ګولۍ تېرولو له کبله زېرنده ایزوفاجیت.
- **Reflux Esophagitis**
د معدې د محتویاتو د راستنېدنې له کبله د مرۍ التهاب ته ویل شي چې خینې مهال د مرۍ د (زخمونو ، تندب ، تنګوالی) لامل ګرځي.

Esophagocele

دمرۍ فتق، د مرۍ دیوې برخې اتساع، دمرۍ د عضلاتو د یوې څېرې منطقې له لارې د مرۍ د مخاط طبقې راوتل.

Esophagocoloplasty

د مرۍ د یوې برخې راویستل او دهغه پرځای دکولون د یوې برخې اینبودلو کړنلاره بلل کېږي.

Esophagodina

د مرۍ د دردونو احساس ، عسرت بلع.

Esophagoesophagostomy

د مرۍ د دوه برخو تفمم اویا ګنډلو جراحي کړنلاره.

Esophagogastric

په مرۍ او معدې پورې اړوند.

Esophagogastroduodenoscopy

د مرۍ معدې او اثناعشر د اندوسکوپ په ذریعه د کتنې کړنلاره.

Esophagogastroplasty

د مرۍ او معدې د تفمم او ګنډلو جراحي کړنلاره بلل شي.

Esophagogastrostomy

د مرۍ او معدې د اناستوموز جراحي کړنلاره.

Esophagojejunostomy

د مرۍ او جیجونوم ترمنځ د اناستوموز جراحي کړنلاره.

Esophagomyotomy

د مرۍ د عضلی طبقې دجدار د وازولو جراحي کړنلاره.

Esophagoplication

د مرۍ د یو بندشوی ځای د دیوال د تاوولو جراحي کړنلاره.

Esophagorespiratory

د مرۍ او تنفسی جهاز د اړیکو اړوند.

Esophagoscopy

د اندوسکوپ پذریعه د مرۍ د کتنې کړنه.

Esophagostenosis

دمرۍ تنګوالې، د مرۍ تضیق.

Esophagotomy

د مرۍ د وازولو جراحي کړنلاره.

Esophagus

مرۍ ، د هضمی جهاز هغه عضلی غشائي تیوب چې د بلعوم او معدې تر منځ واقع ده ، د (**Oesophagus**) په انډول.

Esosphenoiditis

د وتدی (سفینوائید هډوکی) اوستیو میالیت.

Esophoria

د باصرې د تحریک پرته د بلې سترګې لورې ته دباصرې محور انحراف.

Esotropia

متقاطع سترګې ، مخالف لورې ته د هرې سترګې دباصرې محور انحراف چې دواړه سترګې د پرتې لورې ته متوجه وی د (**Convergent Strabismus**) په انډول.

Esotropic

د ایزوتروپیا اړوند صفت.

Espundia

د لشمانیا (**Leishmaniasis**) یا کالدانې ناروغی.

ESP

له حسیت څخه پورته، ماورأ حسیت (**Extra Sensory Perception**) لپاره لنډه نښه ده.

ESR

د وینې د سرو کریواتو د رسوب سرعت ټاکل د وینې د لابراتواری کتنې کې کاریږی (**Erythrocyte Sedimentation Rate**) لپاره لنډه نښه ده.

ESRD

د پښتورګو دناروغیو وروستنۍ او د پایلې مرحله (**End-Stage Renal Disease**) لپاره لنډه نښه ده.

Essence

جوهر، تومنه، اصل، طبیعی خاصیت لکه د (وړم، عطر ، انالجزیک، انتی سپتیک) په څېر.

Essential

د جوهر، اصل، طبیعت اړوند .ضروری، اصلی، اساسی.

- **Essential Amino Acid**
اساسی امینو اسیدونه لکه (**Isoleucine**، **Leucine**، **Lysine**، **Methionine**، **Phenylalanine**، **Threonine**، **Tryptophan** او **Valine**) ته ویل کېږی.
- **Essential Dysmenorrhoea**
اساسی (لومړنی **Primary Dysmenorrhoea**) ډیسمینوریا.
- **Essential Element**
اساسی عنصرونه چې د بدن د ودې ، دندې ترسره کولو لپاره ضروري.
- **Essential Fatty Acid**
اساسی شحمی اسیدونه چې(**EFA**) یې لنډه نښه ده.
- **Essential Hyperkinesia**
په ماشومانو کې داسې حالت چې خپل فعالیتونه او حرکتونه تکراری او بیاځلی تر سره کوی.
- **Essential Hypertension**
اساسی فرط فشار. هغه د وینې لوړ فشار چې کوم ډول خاص علت ورته نه موندل کېږي.
- **Essential Oil**
اساسی طبي غوړینه مایع چې له نباتاتو څخه لاس ته راځی.
- **Essential Tremor**
اساسی رعشه ، اساسی او اصلی ډول غېر ارادی رپېدنه په زړو او معمرو خلکو کې.
- **Essential Uterine Haemorrhage**
اساسی او لومړني بڼه له رحم څخه وینه بهېدنه ، پرته له کوم لامل څخه رحمي وینه بهېدنه چې ښائی ډېره شدیده وی.

Essentially
دضرورت په ډول. اساسا ،د اړې له مخې.

EST
د بریښنائی د درملنې شاک (**Electric Shock Therapy**) لپاره لنډه نښه ده.

Ester
ایستر ، د الکهولو او اسیدونو څخه د اوبو راویستلو له کبله زېرنده مرکب ته ویل شی او یا په بل ډول ایستر(هغه کیمیاوی مواد چه دشحمی تیزابو نو او الکو لو له یو خای کېدو څخه په لاس را ځی).

Esterase
هغه انزایم چې چې په الکهولو او اسیدو باندېد یوه ایستر هایدرولایزس کتلایز س تر سره کوی.

Esthermatology
د ایسترونو اړوند د څېړنې علم او پوهه ، د (**Esteriology**) په انډول.

Esthesiolgy
د حواسو او حسی غړو اړوند د څېړنې علم او پوهې څانګه.

Esthestodic
د حسی تحریکونو په هدایت پورې اړوند.

Estrify
مشبوع کېدل، د اوبو دیو مالیکول بایلنې او استر جوړېدنې سره یوځای د الکهولو سره ترکیب کېدلو کړنه.

Estivation
هغه خوب چې د وینې د ځانګړتیاوو له مخې په حیواناتو کې لېدل کېږی.

Estolate
د پروپیونیت لاریل سلفیټ (**Propionate Laryal Sulphate**) لپاره د (**USAK**) ورکړل شوې نوم دئ.

Estradiol
ایسټرادیول ، ښځینه هورمون چې په انسانانو کې تر ټولو ځواکمن استروجن چې په درملنئیز طب کې د ایستر او یا نیمه صنعتی مشتقاتو په بڼه ورکول کېږي دا هورمون په ښځینه جنس کې ډېر جوت او څرګند دئ.

Estrange
شکول، لرې کول، پرې کول، شړل، رټل، رټه کول.

Estrin
د استروجن لپاره دوهم نوم دئ.

Estrnization
د مهبل په اپیتلیوم کې د حجروی بدلونونو منځ ته راتلل چې د فشار(سټرس) ځانګړتیا ده.

Estriol
یو نسبتاً کمزورې انسانی استروجن چې د استرادیول او استرون د میتابولیک محصولاتو څخه دئ او پریمانه اندازه په تشو متیازو کې د بلاربښت په مهال موندل شی.

Estrogen
ایسټروجن ، د استروس د منځ ته راوړونکو مرکباتو جنریک نوم دئ د ایسټرادیول ،استریول او استرون په ګډون ښځینه جنسي هورمون چې انسانانو کې دا په[هګۍ خالي، فوق الکلیوی غدې په قشر،مرغېرو (خُصیې) او په جنیني پلاسنتا] کې جوړېږی او ښځینه خواصو د رابرسېره کولو لامل ګرځي هګۍ. ته په ځلانځه (رحم) کې ځای تیاروي تر څو القاح او وکرله شي او رشیم هلته وده وکړی همدارنګه دا هورمون د (تیبونو او پروستیات غدې د تومورونو

ESU
الکتروستاټیک واحد (Electrostatic Unit) لپاره لنډه نښه ده.

ESV
د سیستول د پایلې (انتهائي) حجم (End-Systolic Volum) لپاره لنډه نښه ده.

Esylate
د ایتان سلفونیت لپاره (USAN) تجارتی نوم دئ.

Etch
خارښت ،توږل، ګرول ، ګرېدنه ، چې د یو لړ پوستکي ناروغیو په سبر کې د نښې په توګه څرګندیږی. کیندل، خوړل لکه (هغه انخورونه چه د تیزابود تر یو لو په اثر په فلز یا ښیښه کی کیندل کیږی).

Etching
ګرول ، خارښت کولو حالت.

- **Etching Rashes**
د جلدی خارښت لرونکی اندفاعات.

- **Etching Skin Disorders**
د خارښت لرونکی جلدی اختلالونه.

Ethacrynate
ایتاکرینیټ

- **Ethacrynate Sodium**
د ایتاکرینیټ سوډیمي مالګه.

- **Ethacrynic Acid**
د ایتاکرینیک اسیدی بڼه چې متیازی راوړونکې (مدرر) درمل دی او د هنلې لوپ په برخه اغېزې کوی د (زړه عدم کفائي، ریوی احتقان ، کبدی او کلیوي عدم کفایی ،د وینې لوړ فشار او اذیما) ناروغیو کې پکار وړل شي.

Ethambutol
دباکتریا ضد لکه نری رنځ (Tuberculosis) ضد درمل دی.

Ethanol
ایتانول ، دا د ایتایل ګروپ لرونکی الکهول (Ethyl Alcohol) چې خالص دئ لکه (Whisky ، Vine ، Brandy او Vodka) چې څښلو په موخه کاریږی دا محلول طبي ارزښت هم لری په مصنوعی ډول جوړیږی زیات څښل او د بلاربښت په بهیر کې او مسمومیت یې خطرناک بلل شی د (Ethyl Alcohol یا Pure Alcohol) په نامه.

Ethanolamine
ایتانول امین ،دا یو بې رنګه او نسبتاً غلیظ مایع ده چې آمونیائي بوی لری او فورمول ئې ($NH_2.CH_2.CH_2OH$) دئ په سفالیننونو او فوسفولیپیدونو کې موندل کیږی او د سیرین سرطانونو) په درملنه او بلاربښت څخه د مخنیوي په موخو کې پکار وړل شی.

- **Conjugated Estrogen**
مزدوج ایسټروجن ، د استروجنیک موادو سلفیټ ایسټرونو دسوډیمی مالګو ګډ مخلوط په ځانګړی توګه د ایسترون اکیلین مخلوط د کارېدنې ځایونه ئی استروجنونو ته ورته دي کارول د جنین لپاره خطرناک دي.

- **Esterified Estrogen**
ایسټریفایډ ایسټروجن ، د استروجنیک موادو سلفیټ ایسټرونو دسوډیمی مالګو په ځانګړی توګه د ایسترون مخلوط په ایستر سمبال ایستروجن دئ د کارېدنې ځایونه ئی نورو استروجنونو ته ورته دي کارول د جنین لپاره خطرناک دي.

Estrogenic
د ایستروجنونو اړوند صفت.

Estrolysis
په الکهولو او اسیدونو باندې د یوه ایستر هایدورولایزس او کتلایزس پروسې ته وائي.

Estrolytic
د ایسترولایزس اړوند صفت.

Estrone
ایسترون ، دا یو ډول انسانی استروجن چې او پریمانه اندازه په کجوړو زړیو ، تشو متیازو کې د بلاربښت په مهال موندل شی همدارنګه د هګۍ خالې، په جنیني پلاسنتا کې او نورو برخو کې جوړیږی په مصنوعی ډول هم تیاریږي د نوروا استروجنونو په څېر اغېزې پرېباسی.

Estrophillin
یو حجروی پروتین چې د ایستروجنی رسپتور په توګه کارکوی او په استروجنیک موخه ائیزو نسجونو او ایستروجن پورې اړوند ټوموروونو کې موندل کیږی.

Estrous
په ایستروس (Estrus) پورې اړوند صفت.

Estrual
په ایستروس (Estrus) پورې اړوند صفت.

Estrus
له انسان څخه پرته په ښځینه تي لرونکو کښې د جنسي لېوالتیا تکرارېدونکي محدودې دورې چې د شدید جنسی میل په مرسته پېژندل کیږی.

- **Ethmoidal Sinuses**

د ایتموئید اړوند سینوس.

Ethmoidectomy

د ایتموئید اړوند هډوکی د هوائي حجرو لیرې کولو او د سینوسونو تر منځ برخې غوڅولو او جراحی کړنلاره .

Ethmoiditis

د ایتموئید هډوکي التهابي ناروغیو ته وائي.

Ethmoidotomy

د د ایتموئید هډوکي وازولو او غوڅولو او سینوسونو ته لارې موندنې جراحی کړنلاره .

Ethmomaxillary

د ایتموئید او پورته ژامنې اړوند.

Ethmoturbinal

د ایتموئید او توربینونو اړوند ، د پوزې په علوي او منځنیو مناخرو (سوریو) پورې اړوند.

Ethnic

نژادي ، توکمیز ، په هغه ډلو پورې اړوند چې په ټولنیزو او تړاونو کې ونډه اخلي او ورته فزیکی ځانګړتیاوی لري.

Ethnobiology

هغه علم چې د ټولنې د مختلفو نژادونو فزیکي ځانګړتیاوو څېړنه کوی .

Ethnology

هغه علم چې د ټولنې د مختلفو نژادونو او دهغی تر منځ اړیکو ځانګړتیاوو په اړه څېړنه کوی .

Ethoheptazine

د درد ضد درمل چې د سیتریت مالګې په بڼه کارېږي.

Ethological

د ایتنولوژی اړوند.

Ethology

په ځانګړې ډول په نارمل وضعیت کې د حیواناتو د چلند څېړنه.

Ethopropazine

د پورستازین هومولوګ درمل چې د هایدرکلورایډ مالګه ئې د پارکینسونیزم په درملنه کې کارېږي.

Ethosuximide

د مېرګي (صرعې) ضد درمل دي چې د کوچنی ډول درملنه پرې کېږي.

د ډیکاربوکسیلېشن د میتابولایتونو څخه لاس ته راځي.

Ethaverine

د پاپاورین یو انالوګ چې هایدروکلورایدی مالګه ئي د سپزم ضد او د عضلاتو سست کولو په موخه کارېږي.

Ethchlorvynol

دا یو ډول آرامووونکي درمل دی چې د ($C_7H_{11}ClO$) فورمول لري.

Ethane

ایتان، د ایتایلین (**Ethylene**) په انډول.

Ether

ډای ایتایل ایتر ، یوه بېرنګه ،شفافه ، شدیداً الوتونکې اوراخیتونکې ماده ده فورمول ئي(C_2H_5-C_2H_5) دئ او د انشاق له کبله بې هوښی منځ ته راوړی نادراً استعمالیږی .

Ethereal

د ایتر اړوند صفت ، ایتر ته ورته .

Ethical

د چلند (**Ethics** یا سلوک) د اخلاقو ارزښت اړوند ، هغه درمل چې یوازي د نسخې له مخې ورکول شي

- **Ethical Committee**

دا هغه ډله متخصصین دي چې د طبی اختصاصی برخو د پرسونل کردار او کړنې څاری.

Ethinamate

یو لنډمهالي اغېز لرونکې آرامووونکي درمل چې د باربیتوراتونو له ډلې څخه ندئ خو دخوب راوړلو او ورته اغېزی کوی.

Ethinyloestradiol

دا د ایستروجن اړوند مصنوعی هورمون دئ په لږ ډوز سره اغېزی کوی هورموني درملنه کې کارېږی.

Ethmofrontal

د غربالی او جبهی هډوکو اړوند.

Ethmoid

د غربالی هډوکي (**Ethmoid Bone**) غضاریفو او نرډي انساجو، ایتموئید (**Ethmoid**) هډوکی اړوند ، د (**Ethmoidal**) په انډول.

- **Ethmoid Bone**

د مخ اړوند د ایتموئید هډوکي چې د پوزې په جوف او د حجاج جوفونو په منځ کې واقع دئ.

Ethmoidal

د (**Ethmoid**) اړوند ت صف.

مخاطی غشأ سرطان پیښوی.

- **Ethylene Dichloride**

ایتایلین ډای کلورایډ ، یوه منحله ماده چې محرکه او زهری ده . د پوستکي او مخاطی غشأ سرطان پیښوی.

- **Ethylene Glycol**

ایتایلین ګلایکول ، هغه ماده چې د یخ ضد اغیزې لری خو خوړل د عصبی سیستم د خرابېدو ،کانګې ، د وینې د فښار ټیټوالې کوما او اختلاج لامل ګرځی.

- **Ethylene Oxide**

ایتایلین اوکسایډ ، هغه ګاز چې د عضوی مرکبونو د منجمد کولو لپاره او همدغه راز د میکروب ضد ،فنګس ضد ، تعقیم کونکې مادې په توګه کارېږی او د پوستکي او مخاطی غشأ سرطان پیښوی.

Ethyidene

ایتیډین ، د دوه ولانسه رادیکال ، فورمول ئې( ) دئ او دکلورایدی مشتق ئې د انتان ضد مادې په توګه کارول شی خو ډېر زهرجن او تحریک کوونکې دئ.

Ethylestrenol

ایتالیسترینول ، دا یو ډول جوړونکې یا انابولیک ستیروئیډ (**Anabolic Steroid**) دئ.

Ethyl Nor-epinephrine

ایتایل ناراپینفرین ، یو مصنوعی ادرینرجیک مستحضر چې مالګیزه بڼه ئی د برانشیال استمأ په درملنه کې ورکول کېږي.

Ethylnodiol Diacetate

ایتایلنوډیول ډای اسیټیټ ، یوډول پروجیستین چې داستروجن سره یو ځای کېږی او د بلاربښت ضد په توګه کارول کېږی.

Ethidicaine

یو موضعی بېحسه کوونکی درمل چې د هایدروکلورایډ مالګه ئې د پوستکي د[موضعی بېحسی ،محیطی اعصابو بلاک کولو او اپیدورال او د لکی یا ذنبی (کاوډال) بلاکولو] په موخه کارول شی.

Etiolation

د کلوروفیل د نشتوالی له کبله په تیاره کې د یوه بوټي د کم رنګه او بېرنګه کېدل.د لمر د رڼا سره د نه مخامخ کېدولە کبله د پوستکی د رنګ د کمېدو پروسه.

Etiologic

د ایټیولوژي (**Aetiology**) اړوند صفت ، د (**Etiological**) په انډول.

Ethotin

د فینایل هایدانتوئین مشتقاتو څخه یو ډول چې لوي (**Major**) ډول کې په درملنه کې پکارېږی.

Ethoxzolamide

ایتوکسزولامایډ ، د کاربونیک انهایدریز د انزایم معلق کونکی عامل چې فورمول ئې ($C_9H_{10}N_2O_3S_2$) دئ او مدرر درمل بلل کېږي، د(ګلوکوم درملنې او سترګې فشار ټیټولو) لپاره کارېږی.

Ethyl

ایتایل، د (C_2H_5) یو ولانسی رادیکال دئ .

- **Ethyl Acetate**

ایتایل اسیټیت مالګه.

- **Ethyl Alcohol**

ایتایل الکهول، د ایتانول (**Ethanol**) په انډول.

- **Ethyl Aminobenzoate**

بنزوکائین ، د ایتانول (**Benzocaine**) په انډول.

- **Ethyl Chloride**

ایتایل کلورایډ ، دا یو ډول موضعی بېحسه کونکي درمل دی چې د سپرې بڼه جوړشوی دي.

- **Ethyl Oleate**

یوه بېرنګه مایع په درمل جوړولو صنعت کې کارېږی.

Ethylcellulose

یو ایتایل ایتر سلولوز چې د درملنیز ګولیو په جوړښت کې کارېږی.

Ethylene

ایتایلین ، دا یو ډول فراری او تېښتېدونکې ګاز (**Gas**) دئ چې بېهوښه کونکې اغیزې لری فورمول ئې ($CH_2 = CH_2$) دئ پخوا د انشاقی بېهوښه کونکې مادې په توګه کارول کېده.

- **Ethylene Diamine**

ایتایلین ډای امین، هغه منحل ماده چې امینوفیلین د زرق لپاره کارول شی.

- **Ethylene Diamine Tetra Acetic Acid**

ایتایلین ډای امین تېترااسیتیک اسیډ ، یو چیلیټنګ عامل دئ له کلسیوم او نورو فلزاتو سره ترکیب کېږی او د تحثر ضد مادې په توګه کارول کېږی ، په لابراتوار کې دوینې د نمونو ساتنې ،د سربو مسمومیت او هایپرکلسیمیا درملنه کې پکارېږی لنډه نښه یې(EDTA) ده .

- **Ethylene Dibromide**

ایتا یلین ډای بروماید ، یوه انتې سپټیکه ماده ده . د پوستکي او

د تریخي (صفرا) طبیعی او نورمال وضعیت ته ویل شی.

Euchromatin

دا هغه ډول کروماتین چې په ښه ډول رنګ کېږی چې د جنیتیکي له پلوه فعال او کاملاً یا نسبتاً غېر مارپیچی دي.

Eucrasia

سلامتیا ، دسلامتیا د ټاکنو د مختلفو فکتورونو تر منځ د تعادل شته والي. د درملو یا پروتینونو د هضمي لارې یت تزریقی مصرف وروسته د بدن پواسطه د نارمل غبرګون برسېره کېدل.

Eugenics

د جنیټیک ټاکنې (Genetic Selection) د ځېرنې له مخې د انسانی توکم (نژاد) اصلاح کول.

Eugenol

د غاښ د درد ضد یودرمل چې هودغه راز انتان ضد اغېزې لری او د هوګي غوړیو او نورو طبیعي سرچینو څخه په لاس راځي ، دغه ماده په مستقیم ډول یا په جزئي ډول د غاښونو ساتندویه موادو په توګه پکاریږی.

Euglobulin

د ګلوبولین هغه ډله چې په اوبو کې غیر منحل او په نورمال سالین کې منحل ده.

Eugonic

د میکروبونو د کرلو په اړه ډله ائیزه وده کول بلل شی.

Eukaryon

کاملاً تنظیم شوی او له هستوی غشأ سره نښلېدلې هسته ، د ایوکاریوت (Eyokaryote) په انډول.

Eukaryosis

دیوې ریښتینې هستې درلودل.

Eukaryolatae

د (Eyokaryote) ګڼ شمېر ته ویل شی .

Eyokaryote

ایوکاریوټ ، هغه ارګانیزم چې یوه ریښتینې او له هستوی غشأ سره نښلېدلې کروموزوم لرونکې هسته لری ، ایوکاریوتی حجرې غشأیی ارګانونو په ګڼ شمېر کې لری چې په مختلفو حجروی چاروکې ونډه لری . د عالی نباتی بوټو ، څارویو ،مرخېږیو او پروتوزواګانو حجرې دغه نوعیت لری.

Eukaryotic

د ایوکاریوت (Eyokaryote) پورې اړوند صفت.

Etiological

د ایتیولوژي (Aetiology) اړوند صفت ، د (Etiologic) په انډول.

Etiology

د ناروغیو د لاملونو د څېړنې علم او پوهه.

Etretrinate

د ټریتینوئین یو مشتق چې د (پیاوړې پسوریازس او نورو جلدي ضایعاتو) په درملنه کې پکاریږی.

Eu

دا د یوروپیوم د عنصر لپاره کیمیاوی نوم.

Eu-

دا یو مختاړی دئ او د (ښه او نارمل ، Good ، Well) معنی بشپړوی

Eubacteria

هغه حقیقی باکتریا چې شخ حجروی جدار (Rigid Cell Walls) لری

Eubacteriales

داپخوانی ډلبندی چې د شیزومایستونو یو کلاس چې ریښتینې باکتریاوي پکې ورګډ یږي.

Eubacterium

پیروپیو باکتریاسه د کورنۍ یو جنس چې په اوبو او خاورو کې د سبرفایت په ښه موندل کېږی او د انسانانو د بدن نورماله فلورا ګڼل شی.

Eucalyptol

دایوکالیپټوس (Eucalyptus) د غوړو اصلی جزء چې د نورو غوړو څخه هم پلاس راځی او د (معطري ، بلغم راوستونکي او موضعی بېحسه کونکي) مادې په توګه کارپږی.

Eucalyptus

یو ډول ونه ده چې په آسترالیا کې موندل او دهغه څخه (Eucalyptol) غوړي لاس ته راځی.

- Eucalyptus Oil

دا طبی اروماتیک غوړی چې د (Eucalyptus) نباتی ونو څخه لاسته راځی.

Eucaryotae

د (عالی نباتاتو اوحیواناتو ، مرخېږیو ، پروتوزواګانو) په ګډون ارګانیزمونو پراخه ډله ده چې د ایوکار نبات بوټی حجرو څخه منځ ته راغلی ده.

Euchlorhydria

د معدې په عصاره کې د هایدروکلوریک اسید د نورمال مقدار شتون.

Eucholia

Eulaminate
ایو لامینیټ ، د ماغزو د قشر په ځینو برخوکې د مختلفو طبقو په څېر د نارمل طبقو د تېغو درلودل.

Eumetria
ایومټریا ، د عصبی تحریک نارمل وضعیت پداسې حال کې چې یو موخه ائیزه د پام وړ ارادی حرکت ته تحقق وربخښی ، مناسبه حرکتی محدوده.

Eumycota
په ځینو ډلبندي سیستمونو کې د مرغېړیو هغه ډله چې حقیقی مرغېړی پکې ګډون لری، هغه ارګانیزمونه په ټروفیک فاز کې غېر متحرک او په تکثری فاز کې متحرک دي.

Eunuch
خصی شوې نارینه، هغه نارینه سړی چې مرغېړی تری وایستل شی ، د جراحی کړنلارې پذریعه د نارینه مرغېړیو راویستل، د (**Castrated Male**) په انډول.

Eunuchoidism
د مرغېړو (خصیتانو) ا و دهغه د افرازاتو نشتوالې چې د جنسی ناتوانیو لامل ګرځی.

- **Female Eunuchoidism**
یو ډول هایپو ګونادیزم چې په هغه کې هګی خالي د بلوغ پر مهال کار نه کوی چې دغه حالت د (شنډتوب ،د ثانوی جنسی خانګړتیاوو د رابرسېره کېدنې او د اوږدو هډوکو د ببدریغه ودې) لامل ګرځی.

- **Hypergonadotropic Eunuchoidism**
دا ډول د ګونادوتروپین د زیاتو مقدارونو سره یوځای دی لکه د کلاین فلتر سندروم.

- **Hypogonadotropic Eunuchoidism**
دا ډول د ګونادوتروپینو نو د نشتوالی سره مل وی.

Eupepsia
ښه هضم کول، د غذائي موادو مناسب هضم. د معدې د نارمل پیپسین شتون.

Eupeptic
د ایوپیپسیا اړوند.

Euphoria
د ډېرې خوشحالی او خوښی احساس.

Euphoric
د ایوفوریا اړوند صفت.

Euplastic
د انساجو د ښه ترمیم او روغېدنې اړوند صفت.

Eupnea
نورمال تنفس ، نورماله ساکښنه.

Eupnic
د ایوپنیا اړوند صفت.

Eurax
د کروتامیتون د محصولاتو تجارتی نوم دئ.

Eurythmia
د بدن د بیلابیلو غړو په وده کې متوازنه وده کولو ته وائي.

Europium
ایوروپیوم یو کیمیاوي عنصر دئ چې اتومی شمېر ئي (**63**) او سمبول ئي (**Eu**) دئ.

Eurotium
د مرغېړیو څخه یو جنس .

Eury -
دا یو مختاړي دئ او د (پلن او پراخ) معنی لری او دکلمو په پیل کې راځی.

Eurycephalic
د یوه پلن (پراخ) سر درلودل، پلن سرې کس.

Eustachian
اُستاخی ، د غوږ دننه اړوند.

- **Eustachian Canal**
اُستاخی کانال ، په غوږ کې د (**Porous Bone**) هډوکي څخه تېره لاره چې د نفیروستاخی تیوب بهرنی برخه جوړوی.

- **Eustachian Tube**
استاخی ټیوب ، نفیر استاخی، دغوږ د نفیروستاخی ټیوب ، هغه ټیوب چې بلعوم د دننه غوږ(**Middle Ear**) سره وصلوی دا ټیوب په دواړه لورو کې د هوا فشار بیلانس (انډول) سموی. دا دې برخې غوږ نوم د عالم (**Valsalva**) پذریعه په کال (**1562**) کې او بیاد (**Bartolomeo**) په ذریعه (**1574–1520**) کې د (**Eustachio**) نوم ورکړل شو.

Euthanasia
آسانه او درد نه درلودونکې مرګ، د هغه شخص اسانه مړینه منځ ته راوړل د ژوندون وروستي او کمزورې کوونکې دوره چې د یوه نه جوړېدونکې رنځ څخه کړېږی (په اسلام کی ممنوع حالت دئ) ، د (**Mercy Killing**) په انډول.

Euthanize
د هغه چا مرګ یا وژنه چې نه رغېدونکې ناروغی لری او یا دایمی کوما حالت لری.

Euthermia
مناسبه تودوخه درلودل.

Euthermic
د مناسبې تودوخې درلودلو اړوند.

Euthyroid
ایوتایرایډ ، هغه حالت چې تایرایډ (Thyroid) غده نورمال دنده تر سره کوی .

- **Euthyroid State**
د تایرایډ غدې نورماله وظیفوی حالت ، د (Euthyroidism) په انډول.

Euthyroidism
د درقي (تایرایډ) غدې روغ رمټ حقیقی وظیفوی حالت ته ویل شی.

Eutocia
نورمال ډول زېږون.

Eutrombicula
د (Trombicula) یو فرعی ډله .

Eutrophia
سمه او نورماله تغذیه.

Eutrophic
د نورمالې تغذیې اړوند صفت.

Eutrophication
د یوه ارګانیزم له حده ډېره وده او په نتیجه کې د لومړنی غړی د ببدرېغه زیاتې تغذیې له کبله د هماغه ایکوسیستم د نورو ارګانیزمونو د ودې نشتوالې

EV
د الکترون ولټ (Electron Volt) لپاره لنډه نښه ده .

Evacuant
هغه درمل او عامل چې په شخص کې تغوط (تخلیه) هڅوی او تنبه کوی.

Evacuate
د تغوط عملیه، د کولمو تشبدنه . غول کول .

Evacuation
د یو څه راویستل . لکه د غولو کول .

- **Evacuation of Retained Products of Conception**
د اتساع او کورتاژ (D & C Operation) عملیه تر سره کول وروسته له (Abortion یا Miscarriage) څخه تر څو رحم تش کړل شی لنډه نښه یې (ERPC) ده.

Evacuator
د یوه جوف څخه د تخلیی لپاره یو وسیله.

Evaluate
ارزونه لکه د یوه څه و کیفیت او یا د درملنې د نتایجو.

Evaluation
د ارزونې (ارزیابی) کړنه تر سره کول.

Eventration
د ګېډې له جدار څخه د کولمو راوتنه.

Eversion
دباندې او بهرته ته تاوېدنه. له دننه څخه بهر ته څرخېدل، بهر لورې ته تاوېدنه.

- **Cervix Eversion**
د زېږون پر مهال د رحم عنق څیرېدنې وروسته د څنډو بهر ته اوړېدنه.

Evertor
هغه عضلې چې لاسونه پښې بهر ته تاووي.

Evidence
شواهد ، شاهد ، سترګو لېدلې حال بیانوونکې .

- **Evidence -Based Medicine**
دتحقیق د شواهدو پر بنسټ درملنه. ، د تجربې پر بنسټ درملنه

- **Evidence -Based Practice**
دشواهدو له مخې تجربه کول ، د شهودو له مخې تجربه.

Evisceration
د جراحی کړنلارې پذریعه د احشاوو راکښل لکه د ګېډې د احشاوو راویستنه ، د (Exenteration) په انډول.

- **Evisceration of Eye**
د جراحی پذریعه د سترګو د ګاتې راویستل.

Evocation
د مشخصو موادو سره د تماس له لارې د ظاهری ځانګړتیاوو ښکاره او څرګندول.

Evocator
یوه کیمیاوی ماده چې د مشخصو وسائلو په واسطه د پېژندنې وړ ده چې د هغې په مرسته جنینې نسجی اجزاوې پېژندلای شو.

Evolution
یو ډول تکاملی پروسه چې په هغه کې یو ارګانیزم د بیلابیلو برخو د تمایز لا پېچلې او مغلق کېږی او څو جنېریشنونه نیسی ، یو ډول تلپاتې او پر مختلونکې بدلون چې د څرګندو

Exanthema

له دانو سره مل تبه ، د دانو هر راز ناروغی. ته ویل شی.

- **Exanthema Subitum**

یوه حاده خفیفه ویروسی ناروغی چې په ماشومانو کې لیدل شی او تبه تر (3) ورځو دوام مومي چې له تبې وروسته په بدن کې دانې ښکاره کېږی ، د (**Roseola Infantum**) په انډول.

Exanthematous

د یوه جوف د منځ ته راتلو پروسه، د (**Excavation**) په انډول.

Excavation

د یوه جوف د منځ ته راتلو پروسه، یوه تش منځه فضأ ته ویل شی.

- **Atrophic Excavation**

د بصری عصبی رشتو اټروفی (وچوالې) له کبله د باصری ډیسک ګېلاسی بڼه غوره کول بلل شی.

- **Dental Excavation**

د غاښ د وروستی برخې لېری کول او دغاښ ډکولوچارې ته د هغه چمتو کول دی.

- **Optic Disk Excavation**

دباصري ډیسک په مرکز کې ننوتلتیا.

- **Rectouterine Excavation**

هغه فضأ چې د رحم او ریکتیوم پر مخ د صفاق(پریتوان) د تاو خوړلو له کبله (ددې دواړوترمنځ) منځ ته راځی.

- **Rectovesical Excavation**

هغه فضأ چې په نارینه کې د مثانې کځوړې او ریکتیوم پر مخ د صفاق(پریتوان) د تاو خوړلو له کبله (ددې دواړوترمنځ) منځ ته راځی.

- **Vesicouterin Excavation**

هغه فضأ چې په ښځوکې د رحم او مثانې پر مخ د صفاق(پریتوان) د تاو خوړلو له کبله (ددې دواړوترمنځ) منځ ته راځی.

Excavator

جراحی سامان چې د کاچوغې په څېر ورته جوړښت لری.

Excavatum

د ټټر جوف (سینې د جوف) ، صدری جوف ، د (**Pectus Excavatum**) په انډول.

Exception

استثنأ، هغه چې د قاعدې او اصولو له مخې سم او برابر نه وی. داستثنی څیزونو تر سره کول.

Exernent

دافراز یا د تخلیې لامل ګرځېدل.

Excess

د نورمالې کچې څخه ډېر زیات اندازې موادو درونداوالې،ترشح قوانینو پر بنسټ او ساکنې قوې په وسیله منځ ته راځي.

- **Convergent Evolution**

د هغه کافی فیلو جنیټیکو څخه پرته د یوشان دندو یا بڼو درلودل چې دغه نښه توجیه کوی.

- **Organic Evolution**

د جنسونو سرچینه او تکامل موندنه.

Evulsion

د زیاتې قوې استعمال پّه ذریعه د یوځه راویستلو کړنلاره بلل شی.

Ewing's Tumour

هغه خبیث سارکوما ټومور چې د هډوکو ماغزو اړوند دئ چې دا په کال [(**1943–1866**) ییا په کال (**1922**)] کې د پتولوژی پروفیسور امریکائي عالم (**James Ewing**) پذریعه شرحه شو ، د (**Sarcoma Ewing's**) په انډول.

Ex-

دا یو مختاړې دئ او د لېرې او بهر معنی ورکوری په نورو کلمو پورې ننښلي.

Exa-

د کلیمې دغه برخه د پام وړ واحد (**10^{18}**) چنده سره په انډول مقدار دلالت کوی.

Exacerbate

د یوه حالت نور هم شدید کول، شدیدونکی لامل .لکه سړه هوا د سینې ناروغی لاپسې شدید کوی. شدت موندنه.

Exacerbation

هغه څه چې حالت نور هم ویجاړوی. هغه مرحله چې پکې حالت نور هم خرابېږی.

Examination

کتنه، آزمایل ، معاینه کول ، د کتنې ترسره کول.

- **Double Contrast Examination**

د کثیفه مادې پواسطه او یا و هوا د زرق پواسطه د یوه غړي یا برخې راډیولوژیکه کتنې څېړنه او مطالعه.

Examine

د یوځه یا یوکس په احتیاط او پام سره کتنه . معاینه کول، کتنه تر سره کول تر څو ناروغی ښه وپېژندل شي ، لکه ډاکټران چې ناروغان ګوري .

Exanthem

له دانو سره مل تبه ، د دانو هر راز ناروغی.

فزیکي یا روانی پارېدنې.

Excitatory

د پارېدنې اړوند ، پاروونکې ، متهیج کونکې ، د فعالېدنې اړوند صفت.

Excite

د یوڅه یا یو چا تنبه او پارول، د یوه عصب یا عضلې ته سیالې لېږدول، تهیج.

Excited

هیجانی شوې ، متهیج، پارېدلې.

Excitement

تهیج، د پارېدنې عمل ، د انستیزی دوهمه مرحله، په هیجان راوستل.

Exclare

د یوه ارګانیزم جلاشوې برخه.

Exclusion

شلول ، راکښل ، ببلول ، د جراحی عملی پواسطه د یوه غړی یا برخې جلا کول او جلاکول لکه د(کولمو پریکول او جلاکول پرته لدې چې له بدن څخه وایستل شی) .

- **Competitive Exclusion**

دا هغه اصطلاح ده چ معمولاً د په (**Intestine Native Bacterial Flora**) کې ساتندویه اغېزو (**Protective Effect**) شرحه کوی چې د ځېنې پتوجنونو په (**Bacterial Colonization**) محدودیت .کې رول لری د (**CE**) لنډه نښه ده.

- **Exclusion Colitis**

هغه د غټیو کولمو التهاب چې په جلا توګه څېړل شی ، د (**Diversion Colitis**) په انډول.

- **Competitive Exclusion Products**

د (**Probiotics**) په انډول.

- **Exclusion Criteria**

د ویستلو مشخصه ، د ببلولو وصف .

- **Exclusion Diet**

د هغه غذا اړوند چې د په لېست د تغذیه کې ورګډ نه وی.

- **Exclusion Enteral Nutrition**

د معدې-معائي د (**Tube Feedings**) لارې تغذیې جلاکول چې پکې ناروغ د خولې له لارې هیڅ راز مواد نه اخلی چې لنډه نښه (**EEN**) ده لکه (**Calories** ، **Minerals** او **Vitamins**) په ځېر .

- **Exclusion From Base Price**

د بنسټیز بېعې څخه سوا / جلا بنه لرونکې .

یا افراز لکه د (هورمون، د وینې شکر ، وزن او نور) زیاتوالې .

- **Antigen Excess**

د انتی باډی پر سر د ځانګړې ځای څخه په زیاته پیمانه د انتی جن شته والې ته ویل شی.

Excessive

له نورمال څخه ډېر دا صفت دئ. زیاته پیمانه موادو(افراز،اطراح ، افراغ او یا راتولېدنه) بلل شی.

Excessively

په زیاتډول ، زیاتي ، زاید ،ډېره پیمانه، د اړتیا څخه وتلې اندازه.

Exchange

تبادله ، بدلېدنه ، بدلون راوستل ، رد او بدل ،معاوضه کول.

- **Exchange Transfusion**

د وینې تبادله، د وینې معاوضه کول. لکه د لوکیمیا (**Leukaemia**) ،ماشومانو ایریتربلاستوزس(**Erythroblastosis**) په ناروغیو کښې د وینې تبادلې تر سره کول د درملنې یو ډول دئ.

- **Plasma Exchange**

د پلازما بدلول ، له وینې څخه د پلازما جلا کول او بیا هغه ناروغانو ته تېرېږی چې له هغه څخه انتی بادی ګانی او غیر ضروری عناصر راکښل کېږی او اړوند ناروغ ته ورکول شی.

Exchanger

هغه وسیله چې د هغې په مرسته معاوضه تر سره کېږی. تبادله کوونکې.

- **Heat Exchanger**

هغه وسیله چې د خارج الجسمی دموی بهیر کې اینبودل کېږی هغې په مرسته دوینې سړېدل اوبیا ګرمېدلو معاوضه تر سره کېږی.

Excipient

هغه کم یا زیاته خنثی ماده چې دیوه درمل د ښه جذب لپاره له هغه سره یوځای کېږی لکه د ګولیو (تابلیټونو) په جوړښت کې پکار ېږی .

Excise

د یو څه یا نسج قطع کول او لیرې کول .

Excision

د جراحی عملیات پذریعه د یو څه یا نسج قطع کول او لیرې کولو کړنې ته ویل کېږی لکه د د بدن دیوې توټې ،برخې او غړي غوڅول.

Excitation

متهیج کول، په هیجان راتګ ، په شور او ځوګ راتګ ، د

- **Exclusion Principle**
د بېلونې او جلاکولو اصول او اساسات .
- **Social Exclusion**
ټولنیزه بېلوالې او جلاکېدنه.

Exclusive
انحصاری ، بېل بنه ، ترلې درگه ، دربست ، منحصر ، مانعه الجمع ، اختصاصي ، خصوصي ، خاص ، ویژه.
- **Exclusive Provider Organization**
منحصر تیارووونکې سازمان او اداره .

Excochleation
د یوه جوف کورتاژ کوول، د یوې برخې توپل د (D+C) کړنلارې پذریعه لکه د رحم د جوف کورتاژ.

Exconjugant
دا د (Conjugating Pair Of Protozoan Ciliates) غړې دئ چې وروسته او مخکې له جلاکېدیو په (Mitotic Division) کې بلل شی.

Excoriate
خراش Scratch ، ګرېدنه ، څیرېدنه Tear ، یا د پوستکې یوې برخې لېری کول.

Excoriation
د یوې سطحې لکه د(پوستکی ،مخاطی غشأ) له منځه تلل یا تخریش کول لکه د(ګرولو او سوځولو پواسطه د سطحي برخې اومه کول) په څېر .

Excrement
غایطی مواد ، غول ، ډکې متیازې ، هغه مواد چې کونې له لارې د هضمي جهاز څخه بهر ته اطراح کېږی ، د (Faeces) په انډول.

Excrescence
د پوستکی لپاسه غېرنورمال نوې وده، مرضی نسجی وده کول د ناروغیو له کبله.

Excrescent
غېر نورمال راوتلې نسج.

Excreta
اطراح، اطراحی محصولات او مواد خاصتاً د غایطي موادو اطراح له بدن څخه.

Excrete
د اضافی او اطراحی محصولاتو او موادو د ویستلو کړنه خاصتاً د غایطي موادو او تشومتیازو اطراح کولو عملیه له بدن څخه.

Excretion
د د اضافی او بېکاره محصولاتو او موادو د ویستلو کړنه لکه د (غایطي موادو ، تشومتیازو او خولې اطراح کولو) عملیه له بدن څخه ده.
- **Excretion Urography**
اطراحی یوروګرافی ، د هغه ډول یوروګرافین ماده چې د بډوډو له لارې اطراح کېږی د راډیولوژیک انځور اخیستلو کړنلاره .

Excretory
اطراحی ، د اطراح اړوند صفت.
- **Excretory Duct**
اطراحی قنات ، اطراحی لاره .
- **Excretory Duct of Seminal Gland**
د منوی غدې اطراحی قنات/لاره .
- **Excretory Ducts of Lacrimal Gland**
د اشکیه غدې اطراحی قنات .
- **Excretory Ductule of Lacrimal Gland**
د اشکیه / اوښکو غدې اطراحی کوچني کانالونه یا قنیوات.
- **Excretory Gland**
اطراحیه غدې .
- **Excretory Organ**
اطراحی غړې ، اطراحی ارګانونه .
- **Excretory Urography**
اطراحی یوروګرافی ، د هغه ډول یوروګرافین ماده چې د بډوډو له لارې اطراح کېږی د راډیولوژیک انځور اخیستلو کړنلاره .

Excruciating
دا یو ډول صفت دئ چې د ډېر بې نهایته درد کولو حالت لپاره پکار ېږی لکه ډېر شدید د سر درد.

Excursion
هغه حرکت (Movement) چې پرلپسې ډول (Regularly Repeated) د یوه خاص کار تر سره کولو لپاره تر سره کېږی لکه د ژوولو پرمهال د ژامنو پرانیستل او ترلو کړنه. ګشت او دوراني ګرځېدنې ، ګردش ، تفریحي سفر ، ګشت و ګذار، ګرځېده راګرځېده .
- **Lateral Excursion**
اړخ ته د ژامنې(Mandible) حرکتونه چې پکې د غاښونو مخامخ کېدو او ترلو (Vertical Proximity) په څېر منځ ته راځی .

Excursive
د ګشت او دورانې ګرځېدنې اړوند صفت.

Excurvation
بهر لوړې ته انحنا لرونکې ، دباندینۍ لوړې ته کړه بڼه لرونکې.

Excyclophoria
یو ډول سایکلو فوریا چې په هغه کې د باصرې محور پورتنې قطب د ټیمپورال (صدغی) لورې ته کوږ وی.

Excyclotropia
یو ډول سایکلو تروپیا چې په هغه کې د باصرې محور پورتنې قطب د ټیمپورال (صدغی) ناحیې لورې ته کوږ شوی وی.

Excystation
د سیست یا کپسول څخه بهر کېدل لکه د پرازیتونو چې په کوربه کې د چاپېریال مساعد ېدو پرمهال له سیست څخه بهر ته راوځی.

Execute
اجرا کوونکې ، به کار کوونکې ، روان کوونکې ، پرمخ بیوونکې ، تر سره کوونکې ، مُجری ، اعمال کوونکې ، بشپړول، سرته رسول، خلاصول ،اجراکول، جوړول (دپلان یا نقشې له مخې) ، پرمخ بیول (دپلان له مخې).

Execution
اجرأ ، خلاصول ، بشپړونه ، اجراآت .

- **Execution Wound**
بشپړېدونکې ټپ ، اجرایوی زخم .

Executive
قوه ئی ، مجریه ، اجرائي ، تر سره کوونکې ، فرمانداره ، په اجرآ تو پورې تړلې ، مدیرانه ، کارخلاصې ، دکړنې، دبشپړتیا.

- **Executive Committee**
مجریه کمېټه ، اجرایوی پلاوی.

- **Executive Function**
مجریه دندې ، اجرایوی وظیفې .

- **Executive Information System**
اجرایوی معلوماتی سیستم .

- **Executive Letter**
اجرایوی مکتوب ، هغه اجرایوی رسمی مکاتبه چې یو لړ دندې په ګوته کوی.

- **Executive Medical Committee**
هغه کمېټه چې طبی اجرایوی دندې تر سره کوی .

- **Executive Monkey**
اجرایوی بېزو.

- **Executive Physical**
فزیکی اجرایوی اړوندچارې .

- **Executive Medical Profile**
اجرایوی دوسیې ، مجریه فایل .

Exenteration
د جراحي عملیې پذریعه د داخلی احشاوو راویستلو کړنلاره بلل کېږی، د (Evisceration) په انډول.

- **Abdominal Cavity Exenteration**
د ګېډې له جوف څخه د احشاوو راکاړل.

- **Orbital Cavity Exenteration**
د حجاج له جوف څخه د احشاوو راکاړل.

- **Pelvic Cavity Exenteration**
د حوصلې د جوف څخه دداخلی غړو (احشاوو) او مجاورو جوړښتونو راویستل.

- **Thoracic Cavity Exenteration**
د صدر له جوف څخه د احشاوو راکاړل.

Exenterative
د بدن له جوف څخه د احشاوو راکاړلو جراحی کړنلارې اړوند صفت.

Exercise
فعالیت ، ورزش ،فزیکی تمرین کول د قوت تر لاسه کولو د روغتیا او ښېګڼې ساتلو په موخه ، مانوره ، مشق کول ، کار اخیستنه، روزنه په تېره بدنی، تکرارلکه (دډرسی لوستونو یا لوستنه). روزل او مهارت تر لاسه کول، له یوڅه څخه کار اخیستل ، مشق او تمرین.

- **Active Exercise**
په ارادی ډول دیوه غړی د کنترول کوونکو عضلاتو انقباض او سست کول ، فعال تمرین کول.

- **Aerobic Exercise**
یو ډول ورزش چې د عضلاتو د اوکسیجن مصرف زیاتوي او د زړه ، رګونو او تنفسی سیستم کار ښه کوی. هوازې تمرینونه تر سره کول.

- **Cycle Exercise**
دورانی تمرین تر سره کول لکه یوڅوک چې د خونې د تلې (فرش) لپاسه پیاده ثابت ګرځی راګرځي.

- **Endurance Exercise**
یو ډول ورزش چې په هغه کې ګڼ شمېر د عضلاتو ګروپونه وننډه اخلي او هغه پذریعه د اوکسیجن مصرف زیاتوالي مومی او د زړه ،رګونو او تنفسی سیستم کار ښه کوی توان یې زیاتوالي مومی .

- **Exercise -Induced Asthma**
د مندې وهلو او تمریناتو سره مل سالنډۍ ناروغی. (Asthma) منځ ته راتګ ته ویل شی لنډه ننبنه یې (EIA) ده.

Exhalation
د هوا بهر ته ویستل لکه د تنفس په ډفیر کې، ویستل شوې هوا .

Exhale
د هوا بهر ته راویستل ، ډفیر ، سا ویستل.

Exhaust
ستړیا ، له حده ډېره ذهنی او فزیکی ستړیا ، تخلیه شوي حالت . ستړي ستومانه حالت.

Exhaustion
د ستړیا او ستومانتیا حالت ، له حده ډېره ذهنی او فزیکی ستړیا.تخلیه شوي حالت . ستړي ستومانه حالت.

- **Heat Exhaustion**
د شدیدې تودوخې سره دمخامخ کېدنې له کبله د ستومانتیا حالت چې د سرڅرخی ، سردرد ، زړه بدوالي او تیټ فشار سره مل وي .

Exhibitionism
دا یو ډول روانی پارفیلي ستونزه ده چې په هغه کې نارونځ خپل جنسي میل نورو ته د خپلو تناسلي غړو په ښودلو سره څرګندوی.

Exhibitionist
هغه کس چې (**Exhibitionism**) اخته وی.

Exo -
دا یو مختاړې دئ چې د بهرته معنی ورکوی.

Exocardial
له زړه څخه بهر واقع کېدنه.

Exocrine
د یوې مجرأ له لارې بهرته افراز ، هغه غده چې بهرته خپل افرازات اچوی لکه د پانقراص افرازاتو توئیدل اناعشر ته.

- **Exocrine Gland**
د اګزوکرین غدې لکه د (خیګر، د خولې غدې او د پانقراص او لاړو غدې) په څېر .

Exocyclic
هغه اتومونو ته اړوند حالت بلل شې چې د یوې کړۍ بهر ته پیوستون لری.

Exocytosis
د حجرې له دننه څخه بهر ته د ذرو لېږدول، د التهابی غبرګون په څیر د یوې برخې په توګه په اپیدرم کې د مهاجرو سپینو کریواتو غونډېدل.

- **Isometric Exercise**
د عضلې طول له بدلون څخه پرته د ثابت مقاومت په مقابل کې فعال ورزشونه .

- **Isotonic Exercise**
د عضلې طول له لنډېدو بدلون سره سم د عضلې په انقباضی قوه کې د واضیح او څرګند بدلون څخه پرته فعال ورزشونه .

- **Passive Exercise**
غېر فعال ورزش ، منفعله فعالیت تر سره کول ، د بل چا په مټه خوځېدل او تمرین دا اکثراً په ګوزنې وهلو غړو کې تر سره کېږی.

- **Range Of Motion Exercise**
په فعال یا غېر فعال ډول په ټوله حرکتي محدوده کې د یوه مفصل خوځول بلل شی.

- **Resistance Exercise**
مقاوم تمرین ، معند تمرین ، هغه ورزش چې د نارونځ پواسطه د مقاومت په مقابل کې تر سره کېږی، د (**Resistive Exercise**) په انډول.

- **Resistive Exercise**
د (**Resistance Exercise**) په انډول.

Exert
اچول لکه د (زور اچولو په څېر)، لګول ، په کار وړل، واردول، اجرا کول، ښکاره کول.

Exertion
فزیکی فعالیت .

Exfetation
اکټوپیک یا خارج الرحمی بلاربښت.

Exfoliation
تفلس ، دا یو ډول د پوستکی غېر نارمل حالت دئ چې پکې د بدن سطحې برسېرن طبقې نسج له لاسه ورکول شی او په پطری پطري ښېه بدن پوستکې اچوي.

- **Laminar Exfoliation of Newborn**
تفلس ماشوم ، دا یو ډول ولادی ارثي د پوستکی غېر نارمل حالت دئ چې پکې ماشوم د بدن سطحې برسېرن طبقې نسج د څرم (چرم) په څېر صفحوی او په پتری پتري ښېه بدن پوستکې اچوي چې ښایي داحالت د (**24**) ساعتونو وروسته له منځه لاړ شي او ماشوم ښه شی. تقرني پوستکې په ماشومانو کې.

Exfoliative
د (**Exfoliation**) اړوند صفت .

- **Exfoliative Dermatitis**
دا یو ډول وصفي درماتیت دئ چې پکې پوستکې سور او پتری پتری کیږی.

. اوستیو کاندروما.

- **Cartilageinea Exostosis**

غضروفی ډول اګسوستوزس یو دول اوستیوما چې د هډوکې د پریوست لاندې غضروفی وده مومی موقعیت لری

- **Ivory Exostosis**

عاج ډوله اوستیوما.

- **Multiple Exostosis**

یو ډول اختلال چې په هغه کې د لویو هډوکو د قشری برخې څخه ګڼ شمیر غضروفي هډوکیز نسجونو د بهر په لوری وده مونډنه.

- **Subungual Exostosis**

یوډول غضروفي هډوکیز اغزې چې معمولاً د پښې د غټې ګوتې په انتهایی بند کې راشین کیږي.

Exostic

د هډوکې سطحې څخه بهر ته یوه هډوکیزه راوتلې جوړښت اړوند صفت دئ.

Exothermal

د تودوخې یا انرژی آزادول ، د (**Exothermic**) په انډول.

Exotic

د هغه ناروغیو اړوند صفت دئ چې په بهرنیو ملونو کې شتون لری.

Exotoxic

د اګزوتوکسین اړوند صفت.

Exotoxin

اګزوتوکسین ، هغه زهر (سم **Toxins**) چې د باکتریاوو پواسطه د حجرې څخه بهر ته افرازیږی او د بدن پر غړو دانتان څخه په لیږې موقعیت کې اغښې پریباسی لکه د (ټیتانوس **Tetanus**، دیفتریا **Diphtheria**) باکتریاوې چې توکسین افرازوی.

- **Streptococcal Pyrogenic Exotoxin**

دسترپتوکوک تقیحی اګزوتوکسین.

Exotropia

یوډول سترابیزموس چې پکې د سترګې څخه تر بلې سترګې پورې د باصرې محور دایمی انحراف ولری د دوه لیدنې لامل ګرځی، د (**Divergent Strabismus** په انډول.

Exotropic

د اګزوتروپی اړوند صفت.

Expander

متوسع (پراخوونکې) لامل . معاوضه کونکې لامل بسط ورکونکې ، منبسط کوونکې .

Exodeviation

د بهر په لوري څرخېدل ، بهر ته انحراف لکه د سترګو انحراف.

Exodontic

دغاښونو طب هغه څانګه چې د غاښونو د ویشلو سره تړاو لری.

Exoenzyme

یو ډول انزایم چې د هغه د افرازوونکې حجرې څخه بهر اغښې کوی.

Exoerythrocytic

د سرې کریوې څخه بهر واقع کېدنه لکه د (ملاریا د پرازیت سپوروګونې او په وینه کې د سرې حجرې څخه بهر دوره) .

Exogamy

د هغه عنصرونو له لارې القاح چې د یوشان له حجراتو څخه نه وی.

Exogenous

بهرنی. منشه درلودونکي،لکه له ارګانیزم څخه بهر ته لامل یا انکشاف مونډنه .

Exomphalos

دا د نامه د غوټې ولادی فتق (چُړه) ده چې د زېږون څخه وروسته سمدلاسه د پېژندلو وړ ګرځی، د (**Umbilical Hernia**) په انډول.

Exophthalmia

د (**Exophthalmos**) په انډول .

Exophthalmic

د (**Exophthalmia** او **Exophthalmos**) اړوند صفت .

- **Exophthalmic Goitre**

هغه ډول جدره (غوَر **Hyperthyroidism**) چې پکې ستګې راوتلې بڼه غوره کړي، د (**Graves' Disease**) په انډول.

Exophthalmos

د سترګو د ګاټو بهر ته راوتلې منظره چې د غوَر (**Hyperthyroidism**) په ناروغیو کې لیدل شی.

Exoskeleton

دا په حیواناتو کې د سکلیټ څخه بهر ته د یوشه معنی لری.

Exosmosis

له دننه څخه بهرته د اوسموزس عملیه.

Exostosis

د هډوکي سطحې څخه بهر ته یوه هډوکیزه راوتلې جوړښت

ماهر طبیب (ډاکټر).

- **Expert Nurse**

ماهر نرس/ روغتیاپالونکې .

- **Expert Patient**

هغه ناروغان چې اوږد مهاله د ناروغۍ تجربه لري او د خپلې درملنې لارې چارې یې زده کړې دی.

- **Expert Surgeon**

ماهر جراح ډاکټر .

Expertize

کارشناسی. سره نظر ورکول ،کارپوهی کول ، صاحب نظر والې ، په مهارت سره کار .

- **Medical Expertize**

طبی مهارتونه .

Expertness

مهارت، استادی، تکړه توب.

- **Medical Expertness**

په مهارتی ډول سره .

Expertly

په مهارت سره ، په استاذی سره .

Expirate

ذفیر ، د ساویستلو حالت.

Expiration

د تنفس په لړ کې د ذفیر (ساویستلو) مرحله ګڼل شی، سا ایستنه ،د شهیق (ساکشولو/ سااخیستلو) برخلاف حالت ، مړینه (**Death**)، د مړ کېدو حالت(**Dying**) ته هم ویل شی، پوره کېدنه، خلاصېدنه.

Expiratory

د تنفس د ذفیر (**Expiration**) د پروسې اړوند.

Expire

ذفیر عملیه، مړینه ، د نبټې اوښتنه،تیرېدل، خلاصېدل، پوره-کېدل، سرته رسېدل، سا ایستل،ایستل ختم کېدل .

Explant

د بدن د یوې نمونې اخیستل او په لابراتوارکې د کلچر (کرلو **Culture**) په موخه په یوه مخصوص چاپېریال کې ایښودل.

Explantation

د نمونې اخیستلو کړنلاره او دهغې استول د کلچر لپاره.

Explode

چول، چاودېدل لکه د بدن د یوه غړی چې د ترضیضاتو په لړ

- **Subperiosteal Tissue Expander**

یوځانګړې چې په مؤقت دول تر پریوست لاندې ایښودل شی او پُوکول یې د پریوست د اتساع لامل ګرځی، تر پریوست لاندې نسجی متوسع (پراخوونکې) لامل ته ویل شی.

Expectant Mother

اُمیدواره ښځه ، بلاربه ښځه، سترګې په لاره مور.

Expected Date of Delivery

د زېږون د ورځې ټاکنه. دماشوم پیدا ایښت د ورځې ټاکنه و بلاربښت پر مهال.

Expectorant

مقشع ، بلغم راوستونکې درمل ، د خراشکې رابهلونکې درمل.

- **Liquefying Expectorant**

یو ډول مایع منځ ته راوړونکې مقشع درمل چې د سرینښناکتوب حالت لرې کوی.

Expectorate

د ټوخې منځ ته راوړونکې درمل تر څو بلغم (**Phlegm** یا **Sputum**)له سږو رابیل کړل شی او بهر ته اطراح کړلای شی .

Expectoration

د ټوخی پرمهال د خراشکی راویستلو کړنه او عملیه تر سره ته ویل شی.

Expel

بهر ته د یوخه لېږدول لکه د تنفس پرمهال له سږو هوا وتل.

Experiential Learning

هغه پروسه د تجرب له مخې یو څه زده کړل شی.

Experiment

آزموینه ، آزمایښت ،په طب کې تجربه تر سره کول ، تجربوی ، لکه ساینس پوهان تجربې ترسره کوي تر څو نوي څه تر لاسه کړی لکه د نوی درملو جوړول.

- **Control Experiment**

هغه آزموینه چې تر معیاری شرایطو لاندې تر سره کېږي او نورې مشاهدې او موندنې ورسره پرتله کېږی.کنترولولو لپاره تجربه. کنترولی تجربه.

Experimental

د تجربې اړوند ، تجربوی .

Expert

کارشناس ، کاردان ، کارپوه ، چارپوه ، خبره ، ماهر، د فن اهل ، متخصص، د ځانګړی مهارت خاوند کس.

- **Expert Doctor**

مخامخ شی) ، د عیب را سر ببره کول، څرګندوالی، دخطر سره مخامخ.مواجه کېدنه لکه د یوچا په کراتو سره د یوه داسی شئ (لمر وړانګو ، معدنی انشافی موادو ، سګرټو ، الکهولو) سره مخامخ کېدنه چې ضرر پېښوونکې وی ، په جراحی کې د رابرسېره کولو پروسه، لوڅول ، د یو څه په وړاندې واقع کول، نمایشی ، افشأ کول ، ښکاره کول.

- **Air Exposure**

د وړانګو هغه مقدار چې دشیان پر ځای له هوا څخه تېره شوې وی.

Express

1-فشار ورکول، لکه فشار ورکړې پواسطه د مایع راویستل او تخلیه کول لکه د (تې څخه د مروړلو پذریعه شبدي راویستل) ، د مېوې اوبه کاږل، (دیو څه څخه شیره یا غوړ راکاږل)، چلول . **2**- ددننه موادو بهر ته راویستل . **3**- بیانول کردن ، په ژبه راوستل ، ابرازول. **4**- ښکاره کول ، اظهارول.

Expression

1- مروړل او تخلیه کول لکه د د جنین او پلاسنتا د زېږون پر مهال مروړل ، دمیوې اوبه اخیستل ، غوړې راویستل. د یو څه ټیله کول ، **2**- بیانول ، په ژبه راوستل ، ابرازول ، **3**- د فزیکې یا هیجانی وضعیت بیانوونکې حالت په توګه ظاهری بڼه. ښکاروه کول او نمایانول ، څرګندول او نندارې ته سپارل .**4**- آب و تاب ، د بیان روش ، شور اوڅوګ ، حال ، صورت.

Expressivity

په جنیتیک کې د هر چا پواسطه د یوې جنیتیکې ځانګړنې رابرسېره کېدو کچه.

Expulsion

شړنه، ایستنه ، اخراج ، مو قوفونه.

- **Placental Expulsion**

د پلاسنتا (خلاخې) خارجولو کړنه تر سره کول.

Expunge

پاکول، ور کول، تو ږل، سپینول، فسخ کول.

Expurgate

تصفیه کول، تنقیح کول، دلیکنې څخه داعتراض وړ ټکی لیرې کول، سپیځلی کول، پیجوول. تر حده زیات.

Exquisite

ژور، خوند ور، زړه وړونکی، ښکُلی، ډېرې ستاینې وړ، ځیرک، مغرور – ظریف او لطیف ، په اسا نه نه قانع کې پېښېږی.

Exploration

د یوشي د تشخیص (پېژندنې) لپاره د مختلفو آزموینو تر سره کول. د جراحې کړنلارې پواسطه تشخیص ته رسېدلو کړنه. استکشافی کړنلاره تر سره کول.

Exploratory

استکشافی . د استکشاف اړوند صفت.

- **Exploratory Surgery**

استکشافی جراحی، د ناروغیو د لاملونو ، طبیعت پوهېدنې او درملنې په موخه د جراحی تر سره کول.

Explore

سپړل، لټول، لټه کول، پسې ګرځېدل، استکشاف، وازول ،د بدن د یوې برخې کتنه او معاینې ترسره کول.تر څو پېژندنه تر سره شی.

Explorer

سپړونکی، اکتشاف کوونکی، څړې.

Explosion

چاودنه، او را خیســتنه، یو ناڅاپه راڅرګند ېدنه، انفجار، انفلاق.

Explosive

چاودېدونکی، اوراخیستونکی ، چاودونکی لکه باروت (دارو) په څېر .

Explosive

چاودېدونکی بڼه ، انفجاری .

- **Explosive Sound**

چاودېدونکې غږ لکه د هغه غږ چې د غایطی مواد اطراح په مهال د ډېرې هوا تېرېدنې له امله پېښېږی (د قبضیت او جیارډیازیس اخته) ناروغانو کې ، ډه ډو زې لرونکې غږ.

Expose

را سر ببره کول، بر بنډول، لو څول، څرګندول، دهغه څه بربنډول او ښکاره کول چې پټ وی، د یوڅه په مقابل کې د بدن د یوې برخې مخامخ کول لکه د رادیوتراپی وړانګو په وړاندې واقع کېدنه.

Exposition

شرح، سپړنه، ښودنه، نمایش، دماشوم پرېښودنه، څرګندونه .

Exposure

لوڅونه، ور څېرمه کول لکه په (رادیوګرافی کی چه فلم رڼا ته ور څېرمه او

Extend
غزول، اوږدول، پراخول، ارتول، پلنول، غوړول، پرانستل، اوارول، وړاندې کول،توسعه ور کول، د یوه غړی نیغول او سمون ورکولو کړنه.

Extended
غځېدلی، پراخ، اوږد ، خپور ارت ، متوسع.

- **Extended Release**

زښت زیات آزاد شوې ، ډېر زیات او پراخه پیمانه افراز ېدنه .

Extender
متوسع کونکې لامل، هغه ماده چې د هغې په تزریق سره په اړینو پېښو کې د وینې د مایع حجم ثابت ساتلای شو.

Extension
هغه حرکت چې د هغه په بهیر کې د دوه نهایتونه یو له بله څخه لیرې کېږي ، د یوه غړی بسط د بندونو د کش پذیرعه، بسط ورکول، نېغول او سمول.

- **Nail Extension**

د یوه کسر دننه د یوې مېخې میلې د نصبولو په مرسته دهغه په بعیده (دیستال) ټوټه باندې د بسط اجرأ کول.

Extensive
ارت، لوی، پراخ، رنګی ،وسیع .

Extensively
په پراخه توګه، په لویه پیمانه.

Extensor
هغه عضله چې د یوه بند (مفصل) د پرانیستلو لامل ګرځی ، بسط ورکوونکې عضله ، پرانیستونکې .

- **Extensor Ligaments**

بسط ورکوونکې لېګامنټونه ، بسط (وازووونکې) اوتار .

- **Extensor Muscles**

بسط ورکوونکې عضلات، بسط (وازووونکې) غوښنۍ نسج چې بندونه وازوی .

Extent
میچ، اندازه،ار توالی، پراخوالی، در جه، څومره والی.

Extenuate
لړول، تېټول، کمزوری کول ، نری کول ، خوارول .

Extenuation
لړونه، لړ ښودنه، د خوارېدنې حالت منځ ته راتګ ، کمزورول.

Exterior
د یو څه بهرته ، بهرته، دباندینی، بهرنی، خارجی، ور کیدونی، بې شانه لکه (درد یا خوښی).

- **Exquisite Pain**

ډېر زیات درد ، ډېر شدید او ژور درد.

- **Exquisite Taste**

دېر زیات خوند ، په ستونزې سره خوښوونکې او منونکې ، خوش سلیقه.

Exquisitely
ژوره بڼه، خوند وره، زړه وړونکی (زړه راښکونکې) بڼه ، ډېر ښکولې، ډډیرې ستاینې وړ حالت ، د ډېرې سلیقې له مخې.

- **Exquisitely Tender**

د تماس له کبله د (شدید ،تېز او موضعی) درد منځ ته راتګ ته ویل شی، شدید ډول حساسیت او درد.

Exsanguinate
د بدن څخه د وینې درېناژ یا تخلیه.

Exsanguinations
د بدن څخه د وینې درېناژ یا تخلیه او راویستل.

Exsiccation
وچوول ، په کېمیا پوهنه کې د یوه بلوری کریستالی موادو څخه د اوبو راویستل .

Exsorption
بهر ته د حجرې له منځ څخه د موادو د خوځښت په ځانګړې ډول د کولمو د مجرا منځ ته دوینې له داخل څخه د موادو حرکت ته ویل کېږي.

Exsufflation
ډفیر، په زوره سره له بدن څخه د تنفسی هوا راایستلو ته ویل شی.

Ext
عصاره (**Extract**) ، شیره.

Extant
وتلی، نامتو، مو جود پاتې ، څرګند ، پر ځای پاته.

Extemporaneous
بی ځنډه، بی ډیله، ژرتر ژره، لاس په لاس.

Extemporary
په هما غه شیبه اجراشوی، ژرپه ژره تیار شوی، سمدلاسی ډول ویل شوی، بې ډیله وړ اندې شوی چټک ، في البدیهه.

Extempore
ناڅاپی، آنی، بی تیاری، پرته له کاغذه، سمدلاسه، نا څاپه، بې تیاری، في البدائه.

- **External Iliac Artery**
بهرنۍ ورکي (**Iliac**) ایلیاک سور رګي ، بهرنۍ ایلیاک شریان.
- **External Jugular**
بهرنۍ وداجي رګ، د وداجي رګونو بهرنۍ څانګې .
- **External Nares**
د پوزې د بهرنیو یا قدامی سوریو (**Anterior Nares**) اړوند.
- **External Oblique Muscle**
د ګېډې د قدامی پوښوونکي جدار مایل عضلات بلل شی .
- **External Otitis**
د غوږ د بهرنۍ برخې التهاب ، د (**Otitis Externa**) په انډول.
- **External Respiration**
ذفیر د تنفس هغه مرحله چې پکې هوا له سږو بهر ته خارجېږی .

Externally
به بهرنیو څانګو او برخو پورې تړلې اړوند صفت، بهرنی.

Externus
بهرنۍ ، خارجی ، د بهر اړوند . په اناټومی کې هغه غړی چې له مرکز څخه لېرې واټن کې پراته دی.

Exteroceptor
عصبی حسی پایلې چې د دباندې چاپېریال سره په تماس دی لکه د پوستکي ، مخاطي غشأ ،سترګې او غوږ عصبی نهایتونه چې د تنبې پذریعه اغېزمن کېږی.

Exteroceptive
د اکستروسپتور اړوند صفت.

Extima
تر ټولو دباندینې ، دو ینې رګونو بهرنۍ پوښوونکي طبقه.

Extinction
په روانپوهنه کې د یوه شرطي ځواب د پېښېدو نشتوالی ، هغه پروسه چې د هغه له امله دغه پېښه رامنځ ته کېږی، دیو څه ودورول او یا له منځه وړل.

Extirpate
د جراحی کړنلارې په متې د یو څه یا نسج غوڅول.

Extirpation
د جراحی کړنلارې په متې د یو جوړښت یا غړی او تومورې نسج په کامله توګه غوڅول.

Extorsion
جبر، اکراه ، په زوره سره ، غصب.

Extortion
اخراج ، بهر لورې ته اچول ، انفصال.

چینی، بهرنی شکل، ظاهری بڼه.

Exteriorisation
د (**Exteriorization**) په انډول.

Exteriorise
د (**Exteriorize**) په انډول.

Exteriorize
بهر ته راویستل لکه دبدن څخه د یوه غړی بهر ته راویستل ،د لیدل شویو شیانو د سم ذهنی تصور جوړونه ،په اروا پوهنه کې د فردی اړیکو بهر کوول.

Exteriorization
په جراحی کې د یوه غړی بهر ته راویستلو کړنلاره بلل شی لکه دبدن څخه د کولمو د ستومی تر سره کول بهر ته راویستل.

Exterminate
ویجاړول، له بیخه کښل، پوپنا کول ، ولې او جړې ایستل.

Extern
بهرنې منشه لرونکې ، یو طبی محصل چې په روغتون کې د ناروغانو څارنې او درملنې چارو کې مرسته کوی خو په روغتون کې نه پاتې کېږی .

Externa
بهرنۍ، دباندینی، خارجی، لیدل کېدونکی.
- **Otitis Externa**
دغوږ بهرنۍ برخې التهاب.

External
دباندینی، بهرنی ، خارجی، لیدل کېدونکی، دلیدو وړ، جسمانی، برسیرن، سر سیرن، پردی، د بهر پورې تړلې ،د بهرنۍ سطحې اړوند صفت، د دننه خلاف حالت.
- **External Auditory Canal**
دغوږ د اورېدنې بهرنۍ کانال.
- **External Auditory Meatus**
د (**External Auditory Canal**) په انډول.
- **External Cardiac Massage**
د زړه بهرنې مساژ ، د صدري پنجرې لپاسه د فشار واردولو پذریعه د مساژ ورکړه بلل شی.
- **External Ear**
د غوږ بهرنۍ برخه. بهرنې غوږ، د (**Outer Ear**) په انډول.
- **External Haemorrhoids**
له مقعد څخه بهر ته راوتلې بواسیر (هیمروئید **Haemorrhoids**) ته ویل کېږی.

Extortor
د بهر په لوري څرخوونکې لامل، یوه خارج العینی عضله چې د بهر په لوري سترګو د ګاتې د څرخېدو لامل ګرځي.

Extrusion
اخراج ، بهر لوري ته اچول ، انفصال ، د بهر په لوري د هرې سترګې د عمودی محور دپورتنی قطب څرخېدنه.

Extrusive
د اخراج اړوند ، بهر لوري ته اچول شوې ، انفصالی ،شړل شوې.

Extra-
دا یو مختاړې دئ چې د (بهرته ، خارج ، اضافی **Outside**) معنی ورکوی.

Extra Anatomic
هر هغه څه چې د اناټومي د علم پر بنسټ او طبیعی طریقو ولاړ نه وی، پرته له اناټومیک اصولو څخه.

Extracapsular
د کپسول څخه بهر ته. له پوښ څخه بهر برخه کې واقع کېدل.

- **Extracapsular Fracture**
هغه کسر او ماتېدنه چې هډوکی د کپسولی برخې څخه بهر ته ومنځ ته راغلې وی.

Extracellular
خارج الحجروی ، له حجرې څخه بهر ته ، د (**Outside Cells**) په اندول.

- **Extracellular Fluid**
خارج الحجروی مایع .هغه مایع چې د حجرې په ګرد چاپیر ماحول کې وی.

Extract
عصاره ،شیره ،جوهر ، هغه غلیظه شیره چې د یوه نباتی یا حیوانی مستحضراتو څخه جوړه وی لکه د ځیګر عصاره .

Extraction
راایستل ، د بهر کولو یا راویستلو پروسه لکه د (غاښ **Tooth** ویستل) ، عصاره ، شیره، استخراج ، ، تېر، اصل و نسب ، تخمه . په ولادی کې زېږون معمولاً (**Breech Presentation**) په پوزیشن کې د ماشوم راکښلو کړنه، د (هیوې و سبزیجاتو او نورو ....) څخه عصاره ، شیره اخیستل.

- **Breech Extraction**
د بریچ پوزیشن زېږون په وخت و ماشوم د راکشولو بهرته راویستلوکړنه.

- **Flap Extraction**
د سترګې د قرنې پرسر د یوه فلاپ د منځ ته راوړلو له لارې د سترګو په ګل اخته عینی عدسیې بهر کول.

- **Serial Extraction**
په یوه اوږد مهالې دوره کې د شیدو د غاښونو انتخابی ویستل.

Extractive
هغه ماده چې په نسج یا د څو مادو پّه ګډولو کې اندک مقدار کې وجود ولری او د جدا کولو لپاره یې ځانګړې طریقې پکار دی.

Extractor
هغه وسیله چې ډېرې یا اجنبی جسم (**Foreign Body**) پرې راویستل کېږی، راویستونکې آله.

- **Basket Extractor**
د پورتنې بولی لارې څخه د ډېرو راویستلو لپاره وسیله ده.

- **Vaccum Extractor**
هغه وسیله چې د زېږون په موخه د ماشوم د سر راویستلو آسانی لپاره پکار وړل شی.

Extradural
له ماغزو پردې (ډیورا) څخه پورته او بهرته ، د (**Epidural**) په اندول.

- **Extradural Haematoma**
له ډیورا طبقې څخه بهر ته هیماټوما چې معمولاً د ضرباتو (ترضیضاتو) وروسته پېښیږی.

- **Extradural Haemorrhage**
له ډیورا طبقې څخه بهر ته وینه بهېدنه او هیماټوما چې معمولاً د رګونو تخریب او شلېدنې - ضرباتو (ترضیضاتو) وروسته پېښیږی.

Extraembryonic
خارج الرشیمی ، هر هغه شئ چې د رشیم څخه په بهر کې شیانو پورې مربوط لکه خارج رحمی غشأ وې، القأ شوې هګۍ برخه، امنیون ، الانتوئیس ، کوریون.

- **Extraembryonic Membranes**
خارج رحمی غشأ ګانې چې دجنین برخه ده.

Extramedullary
دبصل النخأع څخه بهرته ، د میډولا څخه بهر ته واقع کېدل.

Extramural
خارج الجداری ، د یوه غړی له دېوال څخه بهر ته واقع کېدل.

Extranuclear
خارج الهستوی ، د حجروی هستې څخه بهر ته واقع کېدل.

Extraplacental
دپریوان څخه بهرته ، د پلاسنتا څخه بهر ته واقع کېدل، خپلواک.

Extrapleural
پلورائي طبقو څخه بهرته ، د پلورائي جوف څخه بهر ته واقع کېدل.

Extrapulmonary
دسږو نسج څخه بهرته ، د سږو څخه بهر ته واقع کېدل، خارج الریوی.

Extrapyramidal
دهرمی جوړښتونو څخه بهرته ، د (Pyramidal Tracts)پایرامیدونو سیستم څخه بهر ته واقع کېدلو اړوند صفت.

- **Extrapyramidal System**
موتور سیستم چې د هرمی جوړښتونو سیتم څخه بهرته موتور عصبی ریښې لېږدوی.

- **Extrapyramidal Tracts**
خارج الاهرامی سیستم ، د (Extrapyramidal System) په انډول.

Extrasensory
هغه احساس چې د پنځه حواسو څخه پرته د احساس وړ وی. خارج الحواسی.

Exstrastimulus
د تنبه (Stimulus) څخه بهر ، په مفرد یا دله ائیز ډول یو ببړنې تحریک چې دیوه اکسترا سیستول په لړ کې په دقیق ډول واټن کې واردېږی تر څو هغه د پای تکې ګډېږدی.

Extrasystole
د زړه اکټوپیک ډول نبضان او ټکان، دا ببړنې د زړه انقباض دئ چې د زړه د نورمال ریتم څخه مُجزأ دې او د دهلېزي غوټی له بهر څخه د زېږنده تحریک په څواب کې ایجادېږی ، د (Ectopic Heartbeat) په انډول.

- **Atrial Extrasystole**
دهلېزي (اذیني) اکسټراسیستول.

- **Atrioventricular (AV) Extrasystole**
دهلېزي–بطیني اکسټراسیستول.

- **Extranudal Extrasystole**
دبطینی اکسټراسیستول.

- **Interpolated Extrasystole**
دقطبینو اړوند (Interpolated) ضربانونو اکسټراسیستول.

- **Junctional Extrasystole**
د دهلېز – بطینی اتصال په سیمه کې د اکسټراسیستول ضربان شتون.

- **Nodal Extrasystole**
ددهلېزی - بطینی اکسټراسیستول.

- **Retrograde Extrasystole**
دببړنې بطینی انقباض چې ورپسې دهلېزی (اذینی) ببړنی ضربان رامنځ ته کېږی کوم چې پورته لورې ته د هیس بنډل دتحریکونو سرچپه لېږدله کبله وي اکسټراسیستول منځ ته راځي.

- **Ventricular Extrasystole**
د بطینی اکسټراسیستول.

Extrauterine
خارج الرحمی ، د رحم څخه بهر ته.

- **Extrauterine Pregnancy**
خارج الرحمی بلاربښت ، له رحم (فلانځي) څخه پرته په بل موقعیت (نفیرونو ، پرېتوانی جوف ، تخمدان) کې بلاربښت ، د (Ectopic Pregnancy) په انډول.

Extravasation
له رګ څخه نسج ته د وینې بهیر موندل او ورتګ ته ویل شي .کله چې له طبیعی جوړښت نسج څخه مجاور نسج وینه یا نور محتوي تېښته او لېږدونه وکاندی.

Extraversion
دا یو ډول مل اکلوژن چې په هغه کې غاښونه د نورمال وضعیت په پرتله د منځنی پانې څخه لېری پراته وی ، له داخل څخه بهرته تاوخوړل او څرخېدل، د (Extroversion) په انډول.

Extravert
بهر ته تاوېدلې او اوښتې ، هغه شخص چې بهر ته د لورې موندنې ټکل ولری ، د (Extrovert) په انډول.

Extremitas
نهایت ، اندام ، غړې ، هډ.

Extremities
د یوه اوږده غړي د بعیده نهایت یا څوکې برخه(لکه د پوزې ، دګوتو څوکې).لاس اوپښې.

Extremity
لاس اوپښې ، نهایات ، د ډېر شدت حالت.

Extrinsic
بهرنې ، له بهر څخه پر غړو اغېزناک او له بهر څخه منشه لرونکې.

- **Extrinsic Allergic Alveolitis**
بهرنې اغیزناک حساسیت منشه لرونکې د سږو د اسناخو التهاب.

- **Extrinsic Factor**
بهرنې فکټور (امل)

- **Extrinsic Ligament**
بهرنې لیګامنټ یا وتر.

Exudate
قیح ، زوپ ،چرک ، خیرې ، د داسې مادې (مایع چې چیر پوتین،حجروي پیرایس لری) تېښته د انساجو لورې ته د دفاعي میکانیزم په لړ کې د التهاباتو له کبله منځ ته راځي.

Exudation
قیح منځ ته راتګ ، زوپ جوړېدل ،چرکی کېدل ، خیرې او ناولتیا راتولېدنه ، دا حالت د داسې مادې (مایع،حجرو) تېښته د انساجو لورې ته د دفاعي میکانیزم په لړ کې بلل کېږي.

Exumbllication
د نامه غوتې. برخې په څرګند ډول راوتل، سروی فتق (چُره).

Ex Vivo
د ژوندی موجود له بدن څخه بهر ته.

Eye
سترګه ، هغه غړي چې پرې څوک یو څه وینې ،د لیدنې غړی، هغه لغت ته اړوند چې د[لیدنې **Optic** بصری ، سترګو **Ocular**، او هغه لغتونه چې په **Oculo-** ، **Ophth-** ، **Ophthalm-** ، **Ophthalmo-** مختاړی سره پیل مومی)] اړوند بلل شی.

- Black Eye
شنه سترګه ، توره سترګه ، چې دا حالت اکثراً د سترګو د برخې په چاپیرکې د ترضیضاتو وروسته منځ ته راځی.

- Compound Eye
مرکب سترګه ، د حشراتو څو مخیزه سترګه.

- Crossed Eye
تېر اوبېر سترګې، د سترابیزم یوډول دئ ازوتروپیا ورته هم ویل شی.

- Eyeball
د سترګو ګاټې .د سترګو هغه برخه چې د لیدنې دستګاه ده او د حجاج په جوف کې واقع ده.

- Eye Bank
د سترګو بانک هلته چې د دونور د سترګو بېلابېلې برخې ساتل کېږی او بیا تړې په ګرافت کې کار اخیستل شی.

- Eyebath
کوچنی دیش چې په هغه کې د سترګو د وینځلو محلول اچول شی.

- Eyebrow
وریځې،هغه ویښته لرونکې جلدی قوس چې دسترګو په پورتنی برخه کې واقع دئ .

- Eye Cup
د سترګو پیاله ، د سترګو کاسه ،د حجاج جوف، کوچنی تیوب چې په هغه کې د سترګو د وینځلو محلول تزریق لپاره یکې اچول شی، فزیولوژیک کاپ.

- Extrinsic Muscle
بهرنی عضله .

Extro-
دا یو مختاړې دئ چې د (دباندینی ، بهر، خارج) معنی لری.

Extrophia
د (**Extrophy**) په انډول.

Extrophy
د یو ارګان له داخل څخه بهر لورې ته په غېر نورمال ډول راوتل.

- Bladder Extrophy
دا یوه تکاملی انومالی ده چې پکې د ګېډې قدامی جدار د سفلی برخې شتون نلری د مثانې یا تشو متیازو کځوړې بهر ته راوتل دا یوه ولادی انومالی ده ، د (**Visical Extrophy**) په انډول.

- Extrophy of Cloaca
دا یوه تکاملی انومالی ده چې پکې د ګېډې قدامی جدار د سفلی برخې شتون نلری د کلواکا بهر ته راوتل، د بولې او هضمې جهاز د پایلې برخې د ګېډې له جوف څخه بهر ته راوتلې بڼه ، د (**Coloacal Extrophy**) په انډول.

- Coloacal Extrophy
د (**Coloaca Extrophy**) په انډول.

- Visical Extrophy
د (**Bladder Extrophy**) په انډول.

Extroversion
د یوه غړي په ولادی توګه له دننه څخه بهر ته تاوېدنه، د روانپوهنه (**Psychology**) کې هغه حالت چې یو څوک له خپل ځان په نسبت د نورو خلکو سره اوشیانو سره ډېره مینه او علاقه څرګندوی.

Extrovert
هغه حالت چې یو څوک له خپل ځان په نسبت په چاپېریال کې د نورو خلکو سره اوشیانو سره ډېره مینه او علاقه څرګندوی ، هغه شخص چې بهر ته د لورې موندنې ټکل ولری.

Extroverted
د اکسترو ورژن حالت اړوند صفت دئ.

Extrude
بهر ته په فشار سره راویستل ، دفع کول ، بهرته غورځول ، بهر ته الوتل . سوری ایستل بلل شی.

Extubation
د ټیوب راویستلو کړنه تر سره کول، لکه له شزن (توتکی) څخه د ټیوب راویستل.

Exuberant
له حد څخه زیات تولید ، ډېر زیات تکثر.

- **Eye Drops**
د سترګو لپاره طبي جوړه مایع ، د سترګو څاڅکي (څکک)، د سترګو قطره
- **Eyeglasses**
عینکې ، هغه د سترګو ښیښه (عدسیه) چې پرې رویت یا لیدنه اصلاح کېږي.
- **Eye Ground**
د سترګو جوف (ځمکه) ،د سترګو تله او بیخ چې د افتالموسکوب پواسطه لیدل کېږي.
- **Eyelash**
د سترګو بانې ، هغه ویښتان چې په سترغلو کې راخېژي.
- **Eyelid**
سترغلی ، هغه پوښ (پوستکې) چې د سترګو ګاټې پرې پټیږي او سترګه له قدام څخه ساتي ، د (**Palpebra** ، **Blepharon**) په انډول.
- **Eye Ointment**
د سترګو لپاره ملحم ، د سترګو د ناروغیو درملنې لپاره مرهم.
- **Eyepiece**
د سترګو لپاره د مایکروسکوپ یوه برخه چې یوه یا څو عدسي لري او انځور لویوي.
- **Eyesight**
د لېدلو توان . د رویت وړتیا اندازه .
- **Exciting Eye**
متهیج سترګه ، هغه سترګه چې په پیل کې ژوبله او مأوفه وي د همدغې ژوبلې سترګې تر اغېزې لاندې بله سترګه هم په سمپاتیک ډول اخته کوی ، د (**Sympathic Ophthalmia**) په انډول.
- **Klieg Eye**
کانجکټیویټ ، د سترګو د ملتحې التهاب ، د شهلا اذیما او په شدید ډول کې د نور (رڼا وړانګو) سره د مخامخ کېدنې له کبله (اوښکې بهېدل او فوتو فوبیا) شتون لري.
- **Pink Eye**
د سترګو ملتحې لېږدېدونکې او ساری التهاب، ساري کانجکټیویټ ، ګلابی سترګه.
- **Red Eye**
سره سترګه د کانجکټیوا په التهاباتو کې لیدل شی.
- **Shipyard Eye**
اپیډیمیک کېراټو کانجکټیویټ ، د سترګو اپیډیمیک د قرنیې او ملتحې التهاب .
- **Eye Socket**
حجاج ، دسترګو جوف ، د سترګو کاسه چې پکې د سترګو ګاټې ځای لري ، د (**Orbit**) په انډول.
- **Eye Specialist**
د سترګو د ناروغیو متخصص ډاکټر ، د (**Ophthalmologist**) په انډول.
- **Eye Surgeon**
د سترګو جراحی متخصص ډاکټر.

- **Eye Teeth**
د کانین غاښ ،
- **Eye Test**
د سترګو دننه آزمایښت تر سره کول.
- **Eye Tooth**
د کانین غاښ ، د جمع او ګڼ شمېر یې (**Eyeteeth**).
- **Wall Eye**
د سترګو د قرنیې لوکوما ، اګزوفوریا.

Eyestrain
د سترګو د عضلاتو د ببدرېغه کارونې له کبله د هغو ستړیا یا سترګو په محراق کې ناسمه شوې نیمګړتیا ، د (**Asthenopia**) په انډول.

- **Face Delivery**

د مخ د پوزیشن زېږونه.

- **Face Lift**

د مخ د جګولو عملیاتی کړنلاره دا جراحی کړنلاره ده چې د هغه پواسطه د مخ او غاړې غونجې (**Wrinkles**) له منځه وړل شی ، د (**Face-Lifting Operation**) په انډول.

- **Face-Lifting Operation**

د (**Face-Lift**) په انډول.

- **Face Mask**

د مخ ساتونکې او پوښونکې ماسک چې د انستیزي ورکړی کې هم پکار وړل شی. د مخ ماسک د دوړو او مکربونو د مخنیوی په موخه کارول شی.

- **Face Moon Like**

د سپوږمي ته ورته مخ (**Moon Face**) چې دکوشنګ سندروم لپاره وصفی دئ.

- **Face Presentation**

د مخ پرزنتیشن د زېږونې پرمهال.

Facet

د هډوکی پر مخ همواره سطحه او پاڼه.

- **Facet Syndrome**

هغه حالت چې پکې د فقراتو مفصلونه اوښتنه (خلع) کېږی .

Facetectomy

د یوې فقرې د مفصلی سطحې څخه د مخ لېرې کول او غوڅولو جراحی کړنلاره بلل شی.

Faci-

دا یومختاړې دئ چې د مخ معنی ورکوی.

Facial

د مخ اړوندصفت. مخنی، دمخ، مخیز. هغه مواد چه پر مخ مو ښل کیږی.

- **Facial artery**

د مخ شریان . د مخ اړوند سور رګې چې د (ددننه ثباتي شریان) یوه څانګه ده .

- **Facial bone**

د مخ هډوکي ، هغه هر یو هډوکي چې په مخ کې واقع وی.

- **Facial nerve**

د مخ عصب . وجهی عصب .د قحفی ازواجو څخه هغه عصب چې د مخ اړوند غړی او برخې تعصیب کوی.

- **Facial Paralysis**

د مخ د عصب ګوزن ، د مخ د عصب فلج بلل کېږی ، د (**Bell's Palsy**) په انډول.

- **Facial Vein**

د مخ ورید ، وجهی ورید . داهغه ورید دئ چې د مخ برخې وریدی

F,f

د انګریزی ژبې شپږم توری (حرف) دئ په طب کې اړوند ګڼ شمېر لنډیز بڼه معنی ګانې خپلوی .

F°

د فارنهایت (**Fahrenheit**) لپاره لنډه نښه ده چې د تودوخې تاکنې درجه ده.

F

د (**Female**) لپاره لنډه نښه ده .

F

د (فیتمو - **Femto**) په معنی یو مختاړی دئ.

F

د فاردا (**Farda**) لپاره لنډه نښه ده .

F

د فرټیلیتي (**Fertility**) لپاره لنډه نښه ده .

F

د لیدنې ساحه (**Field of Vision**) لپاره لنډه نښه ده .

F

د فلورین (**Florin**) لپاره لنډه نښه ده .

F

د [قوه ، قوت ،پیاوړتیا (**Force**)] لپاره لنډه نښه ده .

F1

لومړی نسل .

F2

دوهم نسل .

F /f

د [فریکانس ،تواتر (**Frequency**)]لپاره لنډه نښه ده .

Fab

د (**IgG**) د مالیکول دوه ورته برخې چې هر یو یی د (**Ag**) د اتصال لپاره ځانګړې ځای لری لدې څخه مو د مونومیر ایمیونوګلوبولینو هره یوه مټه .

Face

مخ ، د سر مخامخ برخه چې هلته چې(سترګې ، پوزه ، خوله ، وریځې) پکې موقعیت لری.

- **Face Bow**

د غاښونو طب هغه وسیله چې د صدغی او ژامنې مفصل سره د پورتنی ژامنې د قوس د وضعیتی اړیکو ثبت لپاره کارول شی .

د امریکا د نسائي – ولادی ناروغیو کالج تخصصی محصلین (Fellow of American College of Obstetricians and Gynecology) لپاره لنډه نښه ده.

FACP

د امریکا د داخلي (طبی) ناروغیو کالج تخصصی محصلین (Fellow of American College of Physicians) لپاره لنډه نښه ده.

FACS

د امریکا د جراحی ناروغیو کالج تخصصی محصلین (Fellow of American College of Surgeons) لپاره لنډه نښه ده.

FACSM

د امریکا د سپورتی – طب ناروغیو کالج تخصصی محصلین(Fellow of American College of Sport Medicine) لپاره لنډه نښه ده.

Facticial

تصنعی ، په لاس جوړ شوي، ساختګی.

Factor

فکټور ، لامل ، علت ،د کارکوونکي ، عامل ، آستازي . جوړونکي ، دلائل ، عامل نیول ، فاکتور نیول ، مضرب ، ضریب ،سنجه ، معیار، مېچ ، کچه ، په طب کې هغه څه چې اغېزناک دئ لکه د علقې بیلابېل فاکتورونه (Factor I, Factor II) بلل شی.

- **Accelerator Factor**

پنځم (V) تحثری فکټور.

- **Angiogenesis Factor**

هغه فکټور چې د نوې نرۍ رګونو د ودې لامل ګرځی دا په تیې برخو کې منځ ته راځی.

- **Antihaemophilic Factor**

دا اتم (VIII) تحثری فکټور یو محصول دئ چې د هیموفیلي په درملنه کې کارېږی، د هیموفلیا روغونکي لامل.

- **Factor II**

دویم فکټور، پروترومبین (Prothrombin) د وینې د پرن کېدنې لامل دئ.

- **Factor IX**

په پلازما کې هغه پروټین دئ چې د علقې او پرنکېدنې په پروسه کې کارېږی هغه ناروغان چې د هیموفیلیا (Haemophilia B) ډول لري په درملنه کې پکار ېږی د (Christmas Factor) په انډول.

وینه راټولوی او هغه د داخلي وداجی وریدInternal Jugular Vein) ته تویوی.

-facient

دا یو روستاړې دئ او د لامل (علت)کېدو معنی لری.

Facies

منظره ،څېره ، ظاهری بڼه ،په بعضی کسانو کې د کلینیک له پلوه د ناروغیو پېژندنې لپاره د نښې (علامې) په توګه کارول شی.

Facile

روان، جاری لکه (په خبروکی)، آسان شوی ، روښانه په خبرو وینا کې.

Facilitate

آسانول، روانول، جاری کول.

Facilitation

تسهیلات ، آسانتیاوی ، دا هغه عملیه ده چې د څو ډوله سپکو تنبهاتو په مرسته یو عصب پاروی او فعالوي، سهولت او آسانتیا راوستونکي. تسهیلګر او کارخلاصي .په روانشناسي کې د کارونو د تکرار له مخې د آسانولو کړنه.

Facilities

سهولتونه ، آسانتیاوې لکه د ناروغیو په پېژندنه کې د (وسایلو ، اوسېدنې ځای ،درملنه برابرول) تر څو خلک هوسا شی.

Facility

اسانتیا ، اسانی، اسانوونکی، استعداد ، مهارت.

Facing

د غاښ دباندینې سطحه چې په پورسلین باندې پوښل شویوی ، لېو، پراوېز، پوښ (لښ)، کف، کالر، نښان (فورم)، پتې. چه د دریشې له رنګ څخه یې رنګ بېل وی.

Facio-

دا یومختاړې دئ چې د مخ معنی ورکوی.

Faciobrachial

د مخ او مټ پورې اړوند .

Faciolingual

د مخ او ژبې اړوند.

Facioplasty

پر مخ باندې د پلاستیک جراحی سرته رسول.

Facioplegic

د مخ فلج ، د مخ ګوزن.

FACOG

- **D . Factor's**

هغه فکټور چې د فالبدو په صورت کې د سیرین استریز په څېر کار کوی او په کمپلیمنټي فرعی مسیر د (C_{3b}) څخه د (**B**) فکټور ببلوی.

- **Endothelial –Derived Relaxant Factor's**

یوه ماده چې د رګونو د لنډ مهالهآزادونکي اغېزې لری او د رګونو د اندوتلیوم حجرو څخه آزادېږی چې لنډه نښه یې (**EDRF**) ده.

- **Extrinsic Factor's**

د باندینی فکټور ، د بهرڅخه اغېزناک فکټور ، سیانوکوبالامین (**Cyanocobalamine**) په انډول.

- **F. Factor's**

پلازمید ، د القأح فکټور ، د (**Fertility Factor's**) په انډول.

- **Glucose Tolerance Factor's**

د ګلوکوز د زغمکېدنې د اندازې ټاکنې فاکتور، د بیالوژیک پلوه یو فعال مرکب دئ چې د(کروم او نیکوټینیک اسید) څخه جوړ شوی او د خپلې آخذې سره د انسولین تعامل پیاوړې کوی.

- **Granulocyte Colony Stimulating Factor's**

د پریکارسور حجرو څخه د نوتروفیلونو د تولید تحریک کوونکې فکټور چې لنډه نښه یې (**GCSF**) ده .

- **Granulocyte Macrophage Colony Stimulating Factor's**

دا یو تحریک کوونکې فکټور چې د لومړنیو حجرو او ګڼ شمېر میلوسایتونو سره نښلېدلې دی او په ګرانولو سایتونو او ماکروفاژونو باندې د هغو د تمایز لامل ګرځی چې لنډه نښه یې (**GMCSF**) ده .

- **Growth Factor's**

د ودې فکټور، د انکشاف لپاره اړین فکټور لکه د ودې هورمون.

- **Growth inhibitory Factor's**

د ودې نهی کوونکې فکټور، دا د بدن لپاره کتابولایتیک فکټورونه دی .

- **Hageman Factor's**

تحثری دوولسم (**XII**) فکټور دئ.

- **Histamine Releasing Factor's**

دا یو لمفوکائین چې د لمفوسایتونو په واسطه تحریک کېږی او بازوفیلونو څخه دهیستامین افراز تحریک کوی.

- **Insulin- Like Growth Factor's**

انسولین ته ورته د ودې فکټور په سپروم کې موجود انسولین ډوله مواد چې د انسولین له انتي باډی ګانو سره غبرګون نه ځرګندوی دغه مواد په حقیقت کې د ودې هغه فکټورونه دی چې د سوماتو مډیتونو خواص تقلید کوی.

- **Intrinsic Factor's**

داخلی فکټور، دننه فکټور ، دا یو ډول ګلایکو پروټین دئ چې د معدې غدواتو دحجرو پواسطه افرازېږی او د (**Vitamin. B_{12}**) د جذب

- **Factor VIII**

په پلازما کې هغه پروټین دئ چې د علقې او پرنکېدنې په پروسه کې کارېږی هغه ناروغان چې د هیموفیلیا (**Haemophilia A**) ډول لري په درملنه کې پکارېږی.

- **Factor XI**

په پلازما کې هغه پروټین دئ چې د پرنکېدنې په پروسه کې کارېږی هغه ناروغان چې د (**Haemophilia C**) ډول لري په درملنه کې پکارېږی.

- **Factor XII**

په پلازما کې هغه پروټین دئ چې د علقې او پرنکېدنې په پروسه کې کارېږی هغه ناروغان چې داتم فکټور هیموفیلیا ډول لري په درملنه کې پکارېږی ، د (**Hageman Factor**) په انډول.

- **Anti nuclear Factor**

دا هغه ډول فکټور دئ چې هسته باندې ضد اغېزه کوی ، هستوی ضد فکټور.

- **B. Factor**

د کمپلمنټ سیستم یو فکټور دئ چې د (**B**) حجرو په تفریق او انتي باډي په تولید کې ونډه لری.

- **B Cells Differentiation Factor's**

د (**T**) فکټورونه دئ چې د (**B**) حجرو په تفریق -تمایز او انتي باډي په تولید کې ونډه لری.

- **B Lymphocyte Stimulatory Factor's**

دا هغه فکټورونه دی چې د (**B Lymphocyte**) لمفوسیتونو د محرکو عواملو په وروستی نوم اینبودنه کې ځانګړې مقام لری.

- **Christmas Factor**

د (**Factor IX**) په انډول.

- **Clonal Inhibitory Factors**

کلونال نهی کوونکې فکټور، دا یو ډول لمفوکائین چې د ودې په حال توموری حجرو باندې مستقیم او نېغ ودرووونکې (سایتوستاتیک) اغېزی کوی.

- **C_3 Nephritic Factors**

یو ډول ګاما ګلوبولین چې د ایمیونو ګلوبولینونو له ډلې څخه دئ او په ممبرانو پرولفیراتیف ګلومیرولونفریت د اخته کسانو په وینه کې لیدل کېږی ، د (**C_3 NEF**) لنډه نښه لری .

- **Coagulation Factor's**

تحثری فکټورونه ، د پرنکېدنې (علقې) لپاره اړین دي او کمښت یې د تحثری اختلال لامل ګرځی .

- **Colony Factor's**

د ګلایکو پروټینی لمفوکائین یوه ډله ده چې د وینې د مونوسایتونو،نسجی ماکروفاژونو، لمفوسایتونو پذریع منځ ته راځي او په ګرانولوسایتونو او مونوسایتونو باندې مورني حجرو په تمیز کې ونډه اخلی .

پلازمید (Plasmid) ته ویل شی چې لنډه نښه یې (R.F) ده .

- **Releasing Factor's**

هغه ماده چې د یوه غړی په ذریعه افرازیږی او دبل غړی څخه د اغیزناکو موادو او هورمونونو د آزادېدو لامل ګرځی ، آزادونکی فکټورونه . د آزادېدو لاملونه. ددې موادو له ډلې څخه (CRH,MSHRF, PRF) بلل کېدلای شی.

- **Resistance Transfer Factor's**

د (R. Plasmid) یوه برخه چې دکانجوګېشن او ودې (تکثر) جینونه پکې ونډه لری چې لنډه نښه یې (RTF) ده .

- **Rh. Factor's = Rhessus Factor.**

د سرو کریواتو پر سطحه باندې د انتي جنونو یوه ډله چې د مور او جنین تر منځ د دې انتي جنونو عدم توافق د جنینی ایریتروبلاستوزس د ناروغی لامل ګرځي.

- **Rheumatoid Factor's**

د روماتیزم فکټور، دا یو ډول پروتین (IgM) چې په روماتوئید آرتریټ کې د ناروغانو په وینه کې د پېژندلو وړ دئ چې لنډه نښه یې (Rh.F) ده.

- **Risk Factor's**

هر ډول وضعیت چې یا مشخصه چې د یوه ځانګړی مرضی حالت رابرسېره کېدو د کچې د زیادښت سره یوځای وی ، د خطر فکټور.

- **Stuart Factor**

د تحثر لسم (X) فکټور ، د (Stuart Power Factor) په انډول.

- **Stuart Power Factor**

د (Stuart Factor) په انډول.

- **Transforming Growth Factor's**

د تغیر مونډلو حجرو څخه د افراز شویو پروتینونو له ډلې څخه څو هغه چې د نورمال حجرو د ودې لامل ګرځی چې لنډه نښه یې (TGF) ده .

Factitious

جوړ شوی، مصنوعی، کلپ (مقلب)، کوټه، کچه، کم اصل، جعلی، نقلی شئ.

Facultative

اختیاري ، په خپله خوښه، خود مختار ، پخپلسر .

Faculty

د یو څه د سرته رسولو وړتیا درلودونکې ، لاسنیونکې ، استعداد ، حس ، قوه ، توانایي ،وړتیا ، قابلیت ، استاذ ، لارښوود ، د مدرسې یا پوهنتون ښوونکی ، علمي پلاوي او هیئت.

Fad

لېوالتیا ، تلوسه، ژرتېرېدونکی، مودې ، مشغولۍ.

لپاره یې شتون اړین دئ کمښت ئې د خبیثې وینه لرې ناروغتیا پېښوی .

- **LE .Factor's**

دا یو ډول ایمیونوګلوبولین دئ چې دا د سپینوکریواتو له هستې سره غبرګون ښیي او دسیسمیک لوپوس ایریتیماتوزس اخته ناروغانو په وینه کې موندل شی.

- **Leukocyte Inhibitory Factor's**

دا یو ډول فکټور دئ چې دا د پولیمورف نوکلیر سپینوکریواتو د کډې کېدو څخه مخنیوي کوی چې لنډه نښه یې (LIF) ده .

- **Lymph Node Permeability Factor's**

د لمفاوی غدواتو څخه افرازېدونکې ماده چې د رګونو د نفوذیه خاصیت زیاتوالي لامل ګرځي چې لنډه نښه یې (LNPF) ده .

- **Lymphocyte Mitogenic Factor's**

د ځانګړو انتي جنونو پذریعه د تحریک شویو لمفو سیتونو څخه آزاد شوې ماکرو مالیۍکولونه چې د لمفوسیتونو په لیکه کې د حجروی ویش لامل ګرځی چې لنډه نښه یې (LMF) ده .

- **Lymphocyte Transforming Factor's**

دا یو ډول لمفوکائین دئ چې د لمفوسیتونو د حجروی لیکې د پراخېدو لامل ګرځی چې لنډه نښه یې (LTF) ده .

- **Myocardial Depressant Factor's**

هغه پیپټاید چې د وینې د فشار د رالوېدو په خواب کې تولیدیږی او د زړه په عضلاتی فایبرونو باندې د منفی اینوتروپیک اغېزو څېښتن دئ چې لنډه نښه یې (MDF) ده .

- **Osteoblast Activating Factor's**

د د اوستیبو بلاستونو فعالونکي فکټور ، هغه لمفوسایت څخه افرازېدونکي لمفوکائین چې د هډوکیز جذب آسانوی چې لنډه نښه یې (OAF) ده .

- **Platelet Factor's**

د پلاکټونو فکټورونه، هغه ډول چې د تحثری میکانیزم کې د اغېز ناک فکټورونه چې په صفیحاتو د اغېزو یا له هغه سره د پیوستون له لارې کار کوی.

- **Platelet Activating Factor's**

ایمیونولوژیکه واسطوی ماده چې د صفیحاتو غونډېدلو ، د هغوی د ګرانولوسایتونو د آزادېدو او هماغه راز د برونشونو د تنګېدو لامل ګرځی.

- **Platelet Derived Growth Factor's**

هغه ماده چې د صفیحاتو الفاګرانولونو کې شتون لری او دو ینې د رګونو د مصدوم جدار په تر میم کې ونډه لری.

- **Proliferation Inhibition Factor's**

یو ډول لمفوکائین چې په زرعیه محیط کې د حجروی ودې مخنیوی کوی چې لنډه نښه یې (PIF) ده .

- **R. Factor's**

Fag
ستړی کېدل، ستو مانه کېدل، ستو نځه ګالل، ستومانه کول، ستړی کول.

Fail
ناکامېدل ، نه بریالیتوب ، له کاره لوېدل، خوساکېدل، ورستېدل، مړاوی کېدل ، ډوبېدل ، ډېوالی کېدل، ډوپه کېدل، ناکامی.

Failing
بې وسی، ناتوانی، کمزوری نقصان، سهو، عیب، نیمګړتیا. د مرګ تر سرحده رسېدل.

Failure
ناکامی، نشتوالی، بې وسی خوسا توب، ورستوالی، ډوپه توب، نه بریالیتوب ، عدم کفایه، نه بسنه.

- Acute Congestive Heart Failure
دزړه حاده نه بریالیتوب،د زړه حاده عدم کفایه چې لنډه نښه یې (**ACHF**) ده.

- Back Ward Heart Failure
بکوارډ د زړه حاده عدم کفایه. دزړه یو ډول عدم کفایه چې په وریدی سیستم کې د وینې د احتقانی خځه وروسته دبطینونو د کاری اختلال په اثر منځ ته راځي چې لنډه نښه یې (**BWHF**) ده.

- Congestive Heart Failure
د زړه احتقانی عدم کفایه چې د سالنډی د اوبو او سوډیم د ناسم احتباس ، د سږو د احتقان او اذیما او د محیطی وینې اورګونو سیستم له کبله پیژندل کېږی چې لنډه نښه یې (**CHF**) ده.

- Diastolic Heart Failure
د زړه هغه عدم کفایه چې د ډیاستولیک د کار کړنې د اختلال کښې د بطینونو د نیمګړې ډکېدنې له امله پیښېږی.

- Farward Heart Failure
د زړه پرمختلونکې عدم کفایه ده چې پکې د بدن د میتابولیک اړتیاوو پّه پوره کولو کې د زړه د دهانې (**Output**) د عدم کفائي له کبله منځ ته راځی او وریسې په وریدونو کې احتقان پیښېږی چې لنډه نښه یې (**FHF**) ده.

- Heart Failure
د زړه عدم کفایه. که چېرې زړه نشی کړای چې د بدن انساجو ته داړتیا وړ وینه پمپ کړی او ددې عملیې ناتوانی ولری د کلینیک له پلوه د بطینونو د عدم کفائي او نه بریالیتوب له کبله دا ناروغی پیښېږی چې لنډه نښه یې (**HF**) ده.

- High Output Heart Failure
د زړه د ډېرې دهانې لرونکې عدم کفایه. پدې حالت کې د زړه دهانه (**Output**) زیاتوالې مومی او زړه ښه پمپ نه شی کولای .

Fade
مړاوی کېدل، رژېدل، ویلې کېدل. مړاوی کول. رژول. تنتول، خپول.

Fade away
د مړینې د پروسې پر مهال.

Fae -
دا یو مختاړې دیځ چې د [غولو ، غابطی او د (**-Fe**) په پیل کېدونکو لغاتو] معنی بشپړوی .

Faecal
غول ، ډکې متیازې ، تغوطې مواد ، غایطه موادو اړوند.

- Faecal Impaction
په ریکټوم کې د غایطی موادو کلکېدنه او کتلې جوړېدنه او هلته پاتې کېدنه چې معمولاً په هرشپرونګ ناروغی او شدید قبضیت کې پیښېږی.

- Faecal Incontinence
د غایطې موادو پخپل سر تلنه ، د کونې په معصرې باندې د کنترول د نشتوالی له کبله.

- Faecal Matter
د کلک بېکاره موادو شتون له هضمی جهاز کولمو څخه.

Faecalith
د غایطی موادو کلکېدنه او کتلې تیږه (ډبره) جوړېدنه ، د (**Coprolith** او **Faecaloma**) په انډول.

Faecaloma
د غایطی موادو کلکېدنه او دکتلې تیږه جوړېدنه ، د (**Coprolith**) په انډول.

Faeces
غایطه مواد. غول ، هغه اضافی او بېکاره مواد چې له کونې اطراح کیږی او د هغه لغاتو لپاره پکارېږی چې په (**-Sterco**) پیل مومی.

Fahrenheit
فارنهایټ . دا تودوخې او سړوخی و ټاکنې لپاره درجه ده چې د ځانګړې وسیلې پذریعه ټاکنه تر سره کېږی چې د (**32° and 212°**) ستندرد اتموسفیر فشار لاندې تاکنه کېږی او نښه یې (**°F**) ده چې دوه درښ درجې د فارنهایټ داسې (**32°F**) لیکل شي که چېرې وغواړو د فارنهایټ درجې په سلیوس درجې واړوو نو ورځخه (**32**) منفی کړو او پاتې یې په (**1.8**) ویشل کېږی . او همدارنګه فارنهایټ، داسی تر ما میتر چه په هغه کی او به په (**212**) درجو کی ایشونی (خوټېدنې) او په (**32**) درجو کی کنګل کیږی.

رونې حالت ، روښانه او ښه حالت لکه د ناروغانو .

- **Fair-faced**

ښکلی مخ لرونکې ، ښکلا لرونکې ، حق په جانبه .

- **Fair-haired**

د لوېدلو او ژړچکی وېښتانو درلودونکې ښځه .

- **Fair Minded**

رونې آنده ، د ښه فکر خاوند ،بې غرضه ، پرته له اغراضو ځخه .

- **Fair Sex**

لطیفه او نازنینه جنس ، ښځه .

- **Fair-spoken**

رونې غږېدونکې ، روانه او ثلیث غږېدونکې ، مؤدب ، با ادب ، ادب مند ،د ښه ژبې خاوند ، د آسانه بیان لرونکې .

Fairbanks' Splint

یو ځانګړی اتل یا مېزابه (**Splint**) چې په ارتوپېدی کښې د (**Erb's Palsy**) په درملنه کې کارېږی.

Fairly

په مناسبه توګه، په منصفانه ډول ، په رڼه بڼه ، په ښکاره توګه.

Faith

کروهه، عقیده، ایمان، وفا ، ویسا.

- **Faith Healing**

دا د روانی درملنی ډول دئ چې د عقیدې ، ایمان او ویسا له مخې د یو چا د ناروغیو او دردونو درملنه.

Fake

جعل کاری کول، ځان دبل په بڼه کول، کلپول، غولول. غولونه، کلپی.

Falcate

فالسیفورم (**Falciform**) په انډول.

Falcial

په لور ډوله (**Falciform**) جوړښت پورې اړوند.

Falciform

فالسیفورم،لور ډوله ، لور ته ورته

- **Falciform Ligament**

د فالسیفورم لیګامنټ . داسې یو نسج دئ چې د ځیګر دوه لوبونه (فصونه) چې د حجاب حاجز سره په تماس دئ سره ښلوی.

Falcular

د فالسیفورم (لور) پورې اړوند.

Fall

لوېدل، غورځېدل، پرځېدل، وژل کېدل لکه په (جنګ کی)، پرېوتل، پېښېدل، برابرېدل، راتلل، او ښتل،اورېدل. اوریا ، لوېده، بربادی، ، وتنه (له لمبره)، تو یېدنه، منی (خزان)،

- **Low Output Heart Failure**

د زړه د لږې دهانې لرونکې عدم کفایه پدې حالت کې د زړه دهانه (**Output**) لږوالې مومی او زړه ښه پمپ نه شی کولای .

- **Kidney Failure**

د پښتورګو عدم کفایه. پدې حالت کې د پښتورګو دهانه (**Output**) لږوالی مومی او بډوډې ښه تصفیه نه شی کولای .

- **Left Ventricular Heart Failure**

د زړه د کیڼ بطین عدم کفایه. د کیڼ زړه نه بریالیتوب د (**Left Side Heart Failure**) په انډول.

- **Renal Failure**

د پښتورګو یا بدوډو عدم کفایه. پدې حالت کې د پښتورګو دهانه (**Output**) لږوالی مومی او بډوډې ښه تصفیه نه شی کولای

- **Right Side Heart Failure**

د ښي زړه عدم کفایه. پدې حالت کې د دزړه دهانه (**Output**) لږوالی او ناکافی والې مومی چې پکې د بدن د میتابولیک اړتیاوو پّه پوره کولو کې د زړه د دهانې (**Output**) د عدم کفائې له کبله د ینې (ځیګر) لویوالې او ورپسې په وریدونو کئ احتقان له کبله انتبأئی اذیما (**Pitting Edema**) پېښېږی.

- **Systolic Heart Failure**

د زړه سیټولیک عدم کفایه.د زړه د سیستولیک کار د ناجوړی له امله زړه نشی کولای وینه په ښه توګه بهر ته پمپ کړی .

- **Failure to Thrive**

ډېر خوارېدنه ، مرسموس (**Marasmus**) په انډول .

Faint

سنکوپ ، بې هو ښه کېدل، بې سېکه، پرکال، بې زړه او ډارن، ضعیف، بې شیمې، تت شوې ، پرکاله توب، بې هوښه ، پرکاله کېدل.

Fainting Fit

بې هوښه (ېسده) کېدنه . سنکوپ ، ضعف کول ، د (**Fainting Spell** او **Syncope**) په انډول.

Faintly

په ضعیفُ ډول، په تته بڼه.

Faintness

تتوالی، پرکالتوب.

Fair

رونې ، ښکلی، ښایسته، پی مخې، پوره، ښه او مناسب، روښانه ، ژیړ ویښتان، روښان، عادل، خواخوږی، سپیځلی، ښکاره، څرګند ، بې غالو، بې کلپی. لکه (لوبه)، منځنی، ښه هوا ، مناسبه هوا ، بې طرفه، بازار، دبازار ورځ، نندارتون.

- **Fair Condition**

غېر حقیقی، غلط، خائن، درغل، بی وفا، کلپ، کوټه، بدل، مصنوعی، موقتی، امانت، بې اعتباره.

- **False Negative**

غلط منفی، یو آزمایښت چې تري منفی ځواب ترلاسه شی خو اصلاً حالت شتون لری دا ځواب ښائي د اشتباه له مخې وی.

- **False Pains**

غلط دردونه چې د زېږون څخه دمخه دوره کې وي خو د زېږون د وخت مطابق ندی.

- **False Positive**

غلط مثبت ځواب، یو آزمایښت چې پکې مثبت ځواب ترلاسه شی خو اصلاً حالت شتون نلری دا ځواب ښائي د اشتباه له مخې وی، د یوه کاذب مثبت ځواب نمونه.

- **False Pregnancy**

کاذب ډول بلاربښت، کاذب ډول د بلاربښت حالت ښودنه، هغه ځوک چې بلاربه نه وي خو د بلاربښت تمثیل کوی.

- **False Rib**

په دواړه لورو د غلطه او غیر حقیقی د پښتی (ضلعی) شتون چې مستقیماً د صدری پنجرې پورې ترلی ندی.

- **False Teeth**

تصنعی غاښونه، جوړشوی غاښونه، هغه غاښ چې اصلی ندی.

- **False Vocal Cords**

غلط صوتی حبول Vestibular Folds، غېر حقیقی د غږ تارونه.

Falsification

غلط ښودنه، غلطی ثابتونه، تحریف، درواغجن.

- **Retrospective Falsification**

د فعلی روحی اړتیاوو د همغږی کېدو لپاره د تېرو تجربو په لا شعوری ډول پکار وړل.

Falx

یو لور ډوله جوړښت ته ویل شی.

- **Falx Cerebelli**

د ډورا متر یو چین (کوت) چې د مخچې نیمې کرې سره ښلوی لور ډوله جوړښت دئ.

- **Falx Cerebri**

د ډورا متر یو چین (کوت) چې د ماغزو نیمې کرې سره ښلوی لور ډوله جوړښت دئ.

- **Falx Inguinalis**

د هینلي لېګامنټ.

Familial

په فامیل پورې اړوند. کورنی، ترلو.

- **Familial Adenomatous Polyposis**

فامیلي ارثی ډوله ادینوماتوز پولیپوزس چې په کولمو کې منځ ته ټیټېدنه، لوېدنه، ځوړه، ځړوبی، ځوړ، دلویدو واټن.

- **Fall Asleep**

ویده کېده، بیده کېده، خوب ته تګ.

- **Fall ill**

ناروغه کېدنه، د ناروغی منځ ته راتګ.

Fallen

کښېوتنه، سقوط، رالوېدنه.

- **Fallen Arches**

د پښود تلي برخې د لیندی حالت ښکته لوېدلې بڼه لری.

- **Fallen Trauma**

د رالوېدنې اړوند ترضیضا هغه ترضیض چې د سقوط له کبله منځ ته راځی.

Fallacious

ناسم، غلط، مغالطه کوونکې، د سفسطې منځ ته راوړونکې، اشتباه، ویروونکې، وهم پېښوونکې، ګمراهه کوونکې، نا اُمېده کوونکې.

Fallaciously

غولوونکې، فریبنده، د سفسطه پتوګه.

Fallaciousness

په غولوونکې توګه، اشتباهی.

Falling

رالوېدونکې، رالوېدونکې، غورځېدونکې، سقوط کوونکې، سقوط، ښکته راغورځېدنه.

- **Falling Sickness**

د (Epilepsy) په انډول.

Fallopian

پیدا شده توسط فلوپیوس کالبدشناس ایتالیایي

- **Fallopian Tube**

نفیری تیوب، هغه غوښنی تیوب، نلکه، چې د هګی څالې محصول (هګی) رحم ته رسوی، د (Oviduct، Salpinx، Salping-، Salpingo-) په انډول.

- **Fallout**

رادیواکتیف وربدنه (بارش)، لکه د اوربښت رالوېدنه، رادیواکتیف ذرې، پایله، نتیجه.

Fallot's Tetralogy

د فالوت تیترالوژی، د زړه اړوند ولادی څلورګونې نیمګرتیاوو ناروغیو ته ویل شي چې پکې زړه اړوند ستونزې منځ ته راځي دا نو په کال (1888–1911) کې د (Etienne-Louis Arthur Fallot) پذریعه ورکړ شو، د (Tetralogy of Fallot) په انډول.

False

قدرت او ریتم (Force & Rhythm) لنډه نښه ده.

Fang

داړه ، نښې ، د حیوان زهرجنه چیچونکې او داړونکې برخه لکه د زمری او مارانو غاښ یا داړه .

Fannia

د مچانو هغه ډله چې لاروا ئې د کولمو او بولی میبازس لامل ګرځی.

Fantasise

داسې تصور چې څه پېښ شوی.

Fantasy

تصوری اوخیالی د پېښو هغه ډول لړی چې د شخص له غیرشعوری هلیو سره منطبق کیږی ، فانتزی، خیال، چرت، خیال پلو، دفکر له قیده خلاص، تړېدلی، وحشی، عجیبه، سودا.

FAP

فامیلی ارثی ادینوماتوز پولیپوزس (Familial Adenomatous Polyposis) لپاره لنډه نښه ده.

FAPHA

د امریکا د عامې روغتیا د ټولنې غړی محصل(Fellow of the American Public Health Association) لپاره لنډه نښه ده.

Farad

د بریښنا ظرفیت لپاره واحد چې د هغه د خازن له ظرفیت سره انډول دئ چې د یو کولومب په مټ چارج شی د یوه ولټ په اندازه پوتانسیلی اختلاف منځ ته راوړی.

Farady

هغه بریښنایي چارج چې د آیون د یو الکترون مول یا ایکوالنټ په ذریعه لېږدول کېږی د (Columb 9.64010^4) سره معادل دئ.

Faraway

لیرې، خوبولې ،خوب وړی.

Farina

چانړ شوی اوړه، سپېرووني، برنه، نشایسته.

Farinaceous

چانړ شوی اوړه، سپېرووني، برنه، نشایسته موادو پورې اړوند صفت.

Farcy

دا یو ډول وترنری ناروغی مشمشه یې او غدوی (Glanders) چې پکې لمفاوی غدې مأوفیږی.

راځی لنډه نښه یې (FAP) ده .

- **Familial Disorder**

ارثی او فامیلی منشه لرونکې تشوشونه او ناروغی چې د فامیل په نورو وګړو کې هم لیدل شی.

Family

فامیل، کورنی، کېول، خپلخانه، پرګه، پرګنه، تو کم، سجره، پښه.

- **Family Doctor**

کورنې ډاکټر ، فامیلی طبیب .

- **Family Planning**

کورنې پلان اینبودنه چې اکثر د ماشوم زیږونې د کنترول په موخه جوړېږی.

- **Family Planning Clinic**

کورنې پلان اینبودنې لپاره ځانګړې کلینیک چې اکثر د ماشوم زیږونې د کنترول په موخه مشورې ورکول کېږی.

- **Family Therapy**

د روانی ناروغیو درملنې (Psychotherapy) یو ډول دئ چې پکې د کورنۍ غړی د اړوند ډاکټر پواسطه تر درملنې لاندې راځي

Famine

وچکالی، کاختی، سوکړه، لوږه.

Famish

په لوږه اخته کېدل، وږی کېدل، له لوږې ستړېدل.

Famotidine

فاموتیدین .هغه هیستامین چې د معدې د افرازاتو د لړوالی منځ ته راوړی د التهاباتو او قرحاتو (زخمونو) درملنه پرې کېږی.

Fanaticism

تعصب ، تنګ نظری.

Fanciful

په خیال مین، خیال پرست، خیالی، هوسی (هوسناک).

Fancifully

په خیال پرستۍ پورې اړوند.

Fanconi Syndrome

د فانکونې سندروم ، دا د پښتورګو اختلال دئ چې په متیازو کې امینواسیدونه اطراح کېږی په کال (1892) کې د (Guido Fanconi) پواسطه شرح شوه.

Fancy

مینه، خیال، تخیل، تلون، نظریه، چورت، په خیال کی ګرځول، انګیرل، خیالی، ګلالی، ښکلی، نخره ګر، تجملی.

F and R

Farmer's Lung

د بزګرانو اړوند دسړو سالنډي (Asthma) ناروغي. چې د بوسو دوړو (Rotting Hay) حساسیت له کبله منځ ته راځي.

Farsighted

دوراندیش، لیرې لیدونکی، هوښیار، پوه.

Far-sightedness

غبرګونې لیدنه، دوه ګونې لیدنه.هایپروپیا ،لیرې لیدنه ، هوښیاری.

Farrow

دخوګ چیچیان، دخنزیر بچیان، دخوګ لنګېدل یا خوګان زېږول. دخوګې زامنګی.

FAS

ماشوم الکهول سندروم، هغه میندې چې د بلاربښت پر مهال الکهول څښي دا ډول ماشومان زېږوی (Fetal Alcohol Syndrome) لپاره لنډه نښه ده.

Fascia

صفاق ، داسې یو پوښ چې د فبروزی نسج څخه جوړ دئ او د پوستکی لاندې موقعیت لری چې عضلات او د بدن نور غړی پوښوی.

- **Abdominal Fascia**
  بطنی صفاق، د بطنی عضلاتو پوښوونکې صفاق.
- **Fascia Adherence**
  نښتونکې پوښ ، د رشیمي ډیسک د حجرو د اتصالی کمپلکس یوه برخه چې اپتلیائی حجرو په مقابل کې پرته ده.
- **Aponeurotic Fascia**
  اپونیوروتیک صفاق ، هغه (پېړه، ښویه، لیفی غشائي)طبقه چې د بدن تنې او اندامونو برخو غشلاتو ته پوښ ورکوی.
- **Fascia Antebrachii**
  دانتې براخیال برخې صفاق.
- **Fascia Axillaris**
  د تخرګ برخې صفاق ، ابطی صفاق.
- **Fascia Bracket**
  براکټ صفاق.
- **Fascia Buccopharyngea**
  بوکوفرینجیال صفاق ، د غومبری او بلعوم صفاق.
- **Fascia Bulbi**
  بولبی صفاق ، هغه د منضم نسج متکاثفه بنه د صلبیې په بهرنی منظره کې د سترګو د ګاټو برخې پوښوونکې صفاق چې دا د (Narrow Cleft-like Episcleral Space) برخې سره جلاکېږی او د (Sclerocorneal Junction) کې موقعیت لری، (Vagina Bulbi ، Tenon Fascia ، Eye Capsule ،Capsula Bulbi Capsule، Vagina Oculi ، Fascial Sheath of Eyeball) په انډول.
- **Fascia Cervicalis**
  د غاړې صفاق ، دا په دوه طبقو [بهرنی طبقه (Superficial Lamina) چې خپنی غړی رانغاړی او ژوره یا قبل الفقری طبقه چې د (Vertebrae او Axial Muscles) رانغاړی] باندې وېشل کېږی
- **Fascia Cervicalis Profunda**
  د غاړې ژوره (Profunda) طبقې صفاق.
- **Fascia Cinerea**
  دا کوچنی جوړه اړیکز لیفی برخه ده چې د (Splenium of the Corpus Callosum) څخه د (Lateral Longitudinal Stria) څخه تر (Dentate Gyrus) تېرېږی ، د (Fasciolar Gyrus) په انډول.
- **Fascia Clavipectoralis**
  ترقوی–صدری صفاق، هغه صفاق چې د (Coracoid Process ، Clavicle او Thoracic Wall) جوړښتونو تر منځ ځغلېدلې ډئ او اړوندبرخې عضلات پوښوی او د (Deep Anterior Wall of the Axilla) لورې ته دوام لری ، د (Fascia Clavipectoral) په انډول.
- **Fascia Clitoridis**
  دا دلیفی نسج چې په قضیب کې موقعیت لری ورسره پرتله کېدونکې ده دا د نعوذبه نسج لرونکې ده ، د (Fascia of the Penis) په انډول.
- **Fascia Collis**
  د خصلی (هایپوګاستریوم) برخې یوې برسېرنه سطحی صفاقی (ځاړیز) طبقې ته ویل شی چې د جراحی پلوه اهمیت لری.
- **Fascia Cribrosa**
  د ورانه برخې هغه سطحی صفاق (ځآې) چې د سفینوس فوحه (سوری) پوښوی.
- **Crural Fascia**
  د ښکته اندامونو اړوند صفاق.
- **Deep Fascia**
  دا یوه لیفی نسجی طبقه ده چې د عضلاتو ګروپونجوړښتونه یو تربله سره جلاکوی ، د (Aponeurotic Fascia) په انډول.
- **Dentate Fascia**
  غاښی لرونکې صفاق ، د (Fascia Dentata) په انډول.
- **Fascia Diaphragmatis Urogenitalis Inferior**
  د تناسلی غړو د حجاب ښکته مخ صفاق.
- **Fascia Endothoracic**
  هغه صفاقی طبقه چې د مصلی (Serosa) خای لری اود صدری

پرته ده چې بدنی جوفونو برخې پوښوی لکه د پلورا او صدری جدار کې .

- **Superficial Fascia**

سطحی صفاق ، هغه صفاقی طبقه چې نېږدې تر پوستکی لاندې برخو کې پرته ده ، د (Subcutaneous Tissue) په انډول.

- **Fascia of Tendon**

د اوتارو – تیندون پوښوونکې کپسولی طبقه.

- **Fascia of Tenon**

دا هغه لیفی غشأ ده چې د (له قرنیې Cornea څخه تر Optic Nerve) برخه له ګاټې څخه تر څنډو پورې د پاکټ په څېر (Envelops) پوښوی ، د (Bonnet's Capsule ، Capsule of the Eyeball ، Fascia Bulbi) په انډول .

- **Fascia Thyrolaryngeal**

هغه صفاق چې تایروئید غده (Thyroid Gland) او کریکوئید غضروف (Cricoid Cartilage) پوښوی.

- **Transverse Fascia**

هغه صفاق چې د (Transversalis Muscle) او (Peritoneum) ترمنځ پرته ده.

- **Fascia of Trunk**

د تنې صفاق ، د جذعې اړوند صفاق .

- **Fascia Tyrrell's**

دریکتوم او وزیکال (Rectovesical Septum) برخې صفاقي طبقه، ریکتو وزیکال طبقه ، د (Tyrrell's Fascia) په انډول.

Fascial

د صفاق اړوند صفت.

- **Fascial Arthroplasty**

صفاقی آرتروپلاستي .

- **Fascial Cleft**

صفاقی درز ، صفاقی چاود .

- **Fascial Compartment**

صفاقی اړوند برخې کمپارټمنټ .

- **Fascial Compensation**

صفاقی جوړښت .

- **Fascial Graft**

صفاقی ګرافټ .

- **Fascial Hernia**

صفاقی فتق ، صفاقی چُوه.

- **Fascial Membrane Lamination**

د صفاقی غشأ مخ/ پاڼه .

- **Fascial Reflex**

صفاقی عکسه ، صفاقی غبرګون .

پنجرې (صدری قفس Thoracic Cavity) فضا پوښوی .

- **Fascia Extraplural**

د صدری دننه صفاق لړی. ځي چې وختونه د غاړې په جذر کې موندل کېږی او د غاړې د قاعدې دغږونو په اورېدلوکې تداخل ایجادوی.

- **Fascia Graft**

د ګرافټ اړوند صفاق .

- **Fascia Lata**

هغه بهرنی (Deep Fascia) صفاق چې د ورون عضلات (Thigh Muscles) پوښوی او د (Femoral Periosteum او Intermuscular Septa) تداوم دئ چې پېړه شوې وحشی طبقه یې (Iliotibial Tract) جوړوی.

- **Leg Fascia**

دا یو غېر اناټومیکه اصطلاح ده چې د لینګی برخو اړوند پوښل تر سره کوی چې تر هډوکو (Osteofascial Compartments) رسېږی .

- **Fascia Masseteric**

د (Fascia Masseteric-Parotid) په انډول.

- **Fascia Masseteric-Parotid**

هغه صفاقی طبقه چې [(Masseter) او د (Cheek Muscle) عضلاتو] برخه پوښوی چې ژامنه راټولوی ، د (Masseteric Fascia) په انډول.

- **Orbital Fascia**

حجاجی صفاق ، درې طبقې لرونکې صفاق چې عضلات د (هډوکو Bone ، سترګو ګاټی Eyeball او سترغلو Eyelids) سره نښلوی .

د (**Field of Vision**) په انډول.

Fielder
میدانی لوبغاړی لکه (په تینس او بیسبال کې).

Fierce
شدید ، کلك، ظالم، خون خوار.

Fiercely
په کلکه، په شدت، په ظالمانه توګه، په وحشیانه ډول.

Fierceness
کلکوالی، شدت، ظلم.

Fiery
اورین (اتشین)، تاوجن، پرکنده، مینه ناک، تود.

Fig
اینځر ، داینځرونه.

Fight
جګړه. جګړه کول، جنګېدل، مخه نیول، مخی ته درېدل.

جنګ کول، ددښمن د ماتولو لپاره هڅه کول.

- Flight Reaction
دا یوه تیئوری ده چې یو ارګانیزم تر تهدیدی غبرګون لاندې راشی ښائي د جګړې یاترتښتې لاندی راتګ پر مهال.

Fighter
جنګېدونکې،جنګی، جنګی الوتکه، تالنده الوتکه

FIGLU
فورمیمنوګلوتامیک اسید (**Formiminoglutamic Acid**) لنډه نښه ده.

Figurative
نمونه یې، رمزی (سمبولیک)، مجازی، کنایی، ترسیمی، صنعت لرونکی.

Figuratively
دنمونې په ډول، په مجازی تو ګه.

Figure
شکل، څېره، بڼه، رقم، نمونه، شخصیت، ، خیال، انځور، نقش، اټکلول، څیره جوړول، سکیچ، په څېرو سینګارول ، په شمېر ښودل.

- Mitotic Figure
په مایتوز ویشنه کې د کروموزومونو د اجتماع مختلفې مرحلې.

Fil -
دا یو مختاړی دئ د ریښکی، تار، ډکی اړوند معنی ورکوی.

Fila
د (**Filum**) کلیمې جمع (ګڼ) شمېر.

Filament
ریښکی، تار، ډکی، د ډنډر(ساقه) په څېر جوړښت لکه (ګلانو ډنډر).

- Actin Filament
په مایوفیبریل کې د انقباضی ظریفو مایکروفیلامنتونو څخه یو دانه فیلامنت.

- Intermediate Filament
د سایتوپلازمی فیلامنتونو هغه ډله چې اساساً د حجروی اسکلیت د ساختمانی عنصرونو یّه توګه کار کوی او د حجروی زوائدو مختلف حرکتونه رامنځ ته کوی.

- Muscle Filament
عضلی فیلامنتونه ، مایوفیلامنټ

- Myosin Filament
په یو مآیو فیبریل کې د پنډو انقباضی مایوفیلامنټونو څخه یو.

- Thick Filament
پېړ فیلامنټ ، د میوزین دوه قطبی فیلامنټونه چې په مخطط عضلاتو کې لیدل کیږی.

- Thin Filament
نرې فیلامنټ، اکټینی فیلامنټونه چې په مخطط عضلاتو کې ترویونین او تروپومیوزین سره یوځای لیدل کېږی.

Filamentous
ریښکی، تار، ډکی ، ډنډر ته ورته جوړښت، د اوږد او فیتوی شکله جوړښتونه څخه جوړ.

Filamentum
فیلامنټ ، ریښکی، تار، ډکی، د ډنډر(ساقه) په څېر جوړښت.

Filaria
یو نری د ډکې په څېر پرازیتی چینجې چې خاصتاً په لمفاوي سیستم کې موندل شي او ناروغی پېښوی او د یو ډول میاشی پواسطه انسانانو ته لېږدول شی دا الیفانتیازس (**Elephantiasis**) لامل ګرځی. د فیلاریوئیدیا د کلاس غړو پخوانی جنریک نوم.

- Filaria Bacrofti
د (**Wuchereria Bancrofti**) په انډول.

- Filaria Medinensis
د (**Dracunculs**) په انډول.

- Filaria Sanguinis-Hominis
د (**Wuchereria Bancrofti**) لغت وګوری.

Filarial
د فیلاریا (**Filaria**) اړوند صفت.

Filariasis
دا یو ډول تروپیک (**Tropical**) حاره ئي د لمفاوی سیستم ناروغي ده چې د فیلاریا پذریعه منځ ته راځی.

Filaricidal
د فیلاریسید اړوند صفت.

Filaricide
هغه لامل چې فیلاریا پرازیټ له منځه وړی.

Filarioidea
دپرازیتي نیماتوداګانو څخه یو، ددې پرازیتونو بالغ چینجی د نیماتودا بڼه لری او د بدن د نسجونو او جوفونو تر یرغل لاندې راولی.

Filbert

یو ډول امریکایی څنګلی زړی چه خوړل کیږی.

Filch

په چالاکی غلاکول، ټک وهل، ماتول.

Filgrastim

د ګرانولوساټیونو د کالونی ګانو جوړیدنې یو تحریک کونکې فکتور رکومبنیات ډول جوړ شوې وی او په هغه ناروغانو کې د مرستندویه درمل په توګه کاریږی چې د میلوئید نوعیت لرونکې خباثتونو څخه پرته د نیوپلازیا ناروغیو له کبله تر کیمیاوی درملنې راغلی وی.

Filial

د اولاد ، دزمبڅی، دلور او زوی.

Filiform

بڼه ورکړل شوې رشته.فیته ډوله ، تار ډوله ،یوه نری اوږده فلزی میله.

- **Filiform Papillae**

د ژبې پیپلاګانې چې د رشتې په ډول وی او کوم ډول د خوند (ذائقې) تبغې (**Buds**) نلری.

Filipuncture

په انیوریزم کې د وایر (**Wire**) د کښنودلو طریقه ترڅو د وینې علقه (**Clott**) جوړه شی.

Fill

ډکول، ډکېدل، بشپړول، تربسو، پریمانه، بسیا، د غاښ ډوکولو کې طریقه.لل شی چې پکې اوسپنیز مواد کښنودل شی.

Fillet

هغه فیتوی یا طنابی کړی چې پر جنین باندې د کشش د اعمالو لپاره کاږی ، په عصبی سیستم کې د عصبی فیبرونو اوږده فیته .ټرانګه، ریتاړه، ربنکی، نری ټوټه، غوښه (په پخلی کې)، ربنکی ربنکی کول، ریتاړی کول.

Filling

دډکولو مواد ، هغه مواد چې یو شئ ډک کړی، سوری بند ونکی مواد. امتلاء . ډکون. هغه جراحي کړنه چې د غاښ ډاکټر پذریعه تر سره او د غاښ تشه او سوری برخه ډکوی.

- **Comlex Filling**

د غاښ کمپلکس دیوجوف ډکوول.

- **Composite Filling**

د مرکبې رزینې مادې په مټه دکوول.

- **Compound Filling**

د غاښ ډکوول چې دوه غاښی سطحې په برکې نیسی.

- **Filling Defect**

د امتلاء نقیصه، د ډکون نیمګړتیا ته ویل شی دا و راډیولوژیک کتنې په لړ کې پکاریږی.

Fillip

ګوتړک، دګوتی ټرک، پاروونکی، پارېدل، نوشېدل. توشول، پارول.

Film

فلم، پرده، په پرده پوښل، فلم اخیستل، فلم جوړول، یوه نازکه طبقه یا پوښ ، د جلاتین یا سلولوز اسیتیت په څېر موادو یوه نازکه پاڼه چې انځور اخیستنې یا راډیوګرافی په چارو کې ورڅخه ګټه اخیستل شی.

- **Bite Wing Film**

د خولې د جوړښتونو انځور یا فیلم اخیستنې لپاره یوډول راډیوګرافیکي فیلم چې پاڼه یې د دواړه ژامنو په منځ کې اینبودل کېږی.

- **Medical Documentary Film**

طبی مستند فیلم .

- **Plain Film**

پرته له کثیفه موادو څخه د انځور اخیستنې لپاره یوډول راډیوګرافیک فیلم چې ساده راډیوګرافي پرې اخیستل کېږی.

- **Spot Film**

د وړانګو د چټکو اچولو یا د وړانګو دلوېدلو د ځای د محدودیت له لارې د یوې کوچنۍ سیمې راډیوګرافی.

- **X-Ray Film**

د راډیوګرافي اخیستنې د (**X**) وړانګو په وړاندې حساس فیلم ته ویل شي .

Filmy

پردې، پرده ئیز، دفلم، فلمی.

Filopodium

د اکټوپلازم یو ډول رشتوی کاذبې پښې.

Filopressure

د یوې فیتې پواسطه د وینې د رګ تر فشار لاندې راوړل او تخته کول.

Filoviridae

د ماربرګ (**Marberg**) او ابولا (**Ebola**) ویروسونه.

Filovirus

د فیلوویریدیا د کورنۍ د ویروسونو یو جنس چې د هیموراژیک تبې د رابرسېره کېدو لامل ګرځی.

Filter
نینول، فلټر کول، رنیول، نینیدل، چاڼیدل، چاڼول، نینوونی، فلټر، د څینو برخو لکه د :1- په یوه محلول کې د ځانګړو اندازو لرونکو ذرو ،2- د څرګندو څپو اوږدوالو لرونکو نورې وړانګو د جلاکولو لپاره وسیله.

- **Membrane Filter**
د کلوډیون ، سلولوزی استات یا نورو موادو څخه جوړ شوی نازکه پاڼه چې د متفاوتو لرونکې قطرونو ډېر کوچني سورې لري او دفلتر په توګه ورځخه کټه اخیستل کېږي.

- **Millipore Filter**
دغشائی فلټر د ډولونو څخه د هر یوه لپاره سوداګریز نوم دی.

Filter Able
د فیلټر وړتیالرونکې ، د فیلټر له سوریو څخه د تېرېدو قابلیت.

Filth
خیره، چټلی، مرداری.

Filthy
خیرن، چټلی، مردار.

Filtrate
چاڼیدونکي مواد چې د چاڼ څخه تېریږي، هغه مایع چې د فلټر څخه تېره شوېوي.

Filtration
نینونه، فلټرونه، چاڼونه ، چاڼول ، د یوه فیلټر یا داسې مادې څخه د یوې د پام وړ مادې تېرول چې د یادې شوې مادې د څینو برخو د تېرېدلو مخه ډب کوي.

Filum
یو فیتوی ډوله جوړښت.

- **Filum Terminale**
د نخاعی طناب فیتوی شکله بڼه چې د کونوس مډولاریس څخه عصعص هډوکی تر څټ پورې امتداد لري.

Fimbria
څنډې ، ریښه ، حاشیه ، منګول ، مورګه ، ګڼه شمېره یې (**Fimbriae**) بلل شی.

- **Fimbria Hippocampi**
د سپینې مادې (**White Matter**) فیته چې د هایپو کمپ د بطنی سطحې د منځنۍ زېرمې په امتداد کې پرته ده.

- **Fimbria of Uterine Tub**
هغه ګڼ شمېر منګول ډوله زایدې چې د رحمی تیوبونو د انفاندیبولوم په ډیستال برخه کې شتون لري.

Fimbriated
ریښه لرونکی ، څنډه لرونکې ، منګولیز.

Fimbriocele
هغه فتق چې محتوی یې فیمبریا ګانې وي.

Fin
دکب وزر ، دکب شاپر ، پره.

Final
وروستنی، اخرنی، دپای.

- **Final Common Pathway**
هغه عصبی اړیکې (**Linked Neurones**) چې ټول ټال سیالې (**All Impulses**) له مرکزی عصبی سیستم څخه عضلاتو ته لېږدوی.

Finastride
د (**5- α -reductase**) انزایم پېژوانوونکې د رمل دی چې د پروستاټ سلیمې هایپرپلازی په درملنه کې پکار وړی.

Finch
سایره، سارکه، هره وړه مرغی چه غاړه کوی.

Finder
مشعر ، موندونکې آله، څرګندونکې آله لکه د (کمرې یا دوربین).

Finding
موندنه، پیدا کونه، کشفونه، کشف.

- **Clinical Finding**
کلینیکی موندنې ، نارغیو اړوند کلینیکی نښې نښانو شتون .

Fine
ښه او روغ رمټ والې (**Healthy**) ، ښکلی، سپیڅلی، ډېرنری / نازک ، سوچه ، پیجو، نرم، پوست، میده، حساس، ژور، ناغه، جریمه.

- **Feeling Fine**
د ښه والی احساس ، د روغتیا احساس .

- **Fine Hair**
ډېر ښکلی او ښویه لوېدلې ویښتان .

- **Fine Sutures**
دېر نری او نازکه پرته له ترضیض پېښېدنې د جراحی ګنډلو تارونه.

Fineness
نازکی، پوستوالی، ښه والی، ګلالیتوب.

Finger
ګوته، د لاس له پنځه ګوتو څخه یوه ګوته ، پریو څه ګوته وهل ، ګوته اینبودل ، په ګوتو کې نیول، په لاس کې نیول، اداره کول.

- **Base Ball Finger**
د هرې یوې ګوتې د انتهائي بند نسبی خو تلپاتې قبض چې د پنډوس

Fireman's Lift
اور وژونکو لپاره هغه لاره چې د هغه پواسطه زخمی او ټپي کسان په اوږه اچول کېږی.

Firm
کلك، ټینګ، محکم، ځاپی ټینګ ولاړ، ټینګ نیتی، ثابت، نه بدلیدونکی لکه (نرخ). کلکول، کلکېدل، شرکت، تجارتخانه، چارځی.د ډاکترانو او مشاورینو یوه ډله په روغتون کې هغوی ټرینې ډاکټرانو ته لارښوونه کوی.

Firmness
ټینګوالی، کلکوالی، استقامت.

First
لومړی، ګړېدونکې او متلکم، رومبی. په لومړی سرکی، په سر کی ، په پیل کې .

- **First Aid**
لومړنی مرسته (دعا جلو ټپیانو او ناروغانو سره) چې سمدلاسه په ځای کې ترسره کېږی.

- **First -Aider**
د لومړنی مرستې رسونکې کس .

- **First -aid Kit**
لومړنی مرستې رسولو لپاره ټرلې صندوق یا بکس.

- **First -aid Post**
هغه ځای چې هلته لومړنی مرستې سرته رسول کېږی.

- **First-aid Station**
د لومړنیو طبی مرستو تم ځای.

- **First Born**
لومړنی اولاد ، لومړی زوکړه، مشر اولاد .

- **First -degree Burn**
لومړی درجه سوځېدنه او ټپ چې پکې پوستکې سوروالې لری .

- **First -degree Haemorrhoids**
لومړنی درجه بواسیر (هیموروئید) ناروغي چې په ریکټوم کې محدوده وي.

- **First -degree Relative**
هغه خپلوان چې (50%) سلنه د هغوی جن (Genes) په مور ،پلار ، ماشومانو او نورو کې وی.

- **First -ever Stroke**
هغه ضعف یا ستروک (Stroke) چې یو څوک یې د لومړي ځل لپاره تیروی.

- **First Intention**
لومړنې سرکې د پاک ټپ ترمیم چې هلته انساج بیا په چټکی سره پرته له کومه ندبې څخه جوړیږی.

(توپ) یا بل هر جسم د لګېدو او د اکتینسور تینډون د اتصالاتو د ځیرې کېدو له امله منځ ته راځی.

- **Clubbed Finger**
د هډوکیز بدلونونو له شته والی پرته د هرې ګوتې د وروستی بند لوئېدل.

- **Finger Food**
د ګوتو پواسطه خوراک ، هغه ډوډۍ او مړۍ چې په لاس خوړله شی او مزه لری

- **Fore Finger**
د (Index Finger) په انډول.

- **Finger-glass**
د ګوتو مینځلو لوښې/ جام .

- **Index Finger**
د نغوتې ګوته ، د لاس دوهمه ګوته ، دلاس د شهادت ګوته.

- **Little Finger**
وړه ګوته ، دلاس اړوند کوچنۍ ګوته .

- **Middle Finger**
د لاس اړوند منځنۍ ګوته .

- **Finger- nail**
د ګوتې نوک ، د لاس د ګوتو نوک.

- **Finger -Nose Test**
د ګوتو-انفی آزمایښت ، دا یو ډول د همغږۍ د منځ ته راوړلو آزمایښت دئ چې له یو چا غوښتل شی چې خپل لاسونه د سترګو په وړاندې داسې راوچت کړی او بیا خپله پوزه د شهادت ګوتې پواسطه جس کړی.

- **Finger Print**
شصت ، د ګوتې نښه ، دګوتی نښانه، ګوته لګول.

- **Ring Finger**
د لاس د ګوتمۍ اړوند ګوته.

- **Finger Stall**
د منتن ګوتې لپاره پوښ چې د لاس سره د یوې فیتې پواسطه په تماس وی.

- **Third Finger**
درېیمه ګوته ، د (Ring Finger) په انډول .

- **Finger Tip**
د ګوتې سر ، د ګوتو څوکه .

- **Webbed Finger**
د لاس د دوه یا څو ګوتو تر منځ نښتنه او پرده لرونکې بڼه.

Finny
وزر لرونکی، کب اړوند ، د کب لرونکی، له کبانو څخه ډک (سیند).

- **First -level Nurse**
د لومړني کچې روغتیا پال یا راجستر شوې نرس.
- **First-level Registered Nurse**
د لومړنی کچې راجستر شوې نرس.
- **First Class**
لومړني درجه، تر ټولو غوره، تر ټولو جګ.
- **First Rate**
دلوړې درجې دلوړ ارزښت، دجګې بیې.

Firstling
لومړنی اولاد ، لومړی نتیجه.

Fissile
دتضاعف وړتیا لرونکې، دوه پرکه کېدونکې، متضاعف، غبرګ.

Fission
انشقاق ، د حجرې د غېرجنسی وېش چې پکې حجره په دوه یا څو لورنېو حجرو ویشله کېږی ، د حجرې هستوی ویش او ماتېدنه چې د انرژی د آزادېدلو سره مل وی، سوری کېدنه، ما تېدنه، ټوټې کېدنه، درې وړې کېدنه.

Fissiparous
د حجرې درز له لارې تکثر کوول.

Fissula
یو کوچنې درز، یو کوچنی چاود.

Fissura
د فیسور (**Fissure**) په انډول ، درز ، چوله ، دبدن د پوستکی یا مخاطی غشأ برخې درز او د لیکې په څېر تخریبی برخه.
- **Fissura in Ano**
مقعدی درز ، په کونه (مقعد) کې فیسور.

Fissure
هر ډول نارمل یا غېر نارمل درز په ځانګړی ډول د مغزو په قشر کې ژور چین چې د هغه ټول ضخامت په لمن کې نغا ړی ، د غاښ مینا په سطحه کې نیمګړتیا چاود ، درز ، چوله.
- **Abdominal Fissure**
د ګېډې د جدار کې ولادی درز.
- **Anal Fissure**
مقعدی چاود ، د مقعد برخې خطی زخم.
- **Anterior Median Fissure**
د بصل النخاع او نخاعی طناب د قدامی سطحې په منځ لیکه کې اوږد (طولانی) زخم.
- **Basisyivian Fissure**
د جبهی (فرونټال) هډوکی د اوربیتالی سطحې او تیمپورال لوب تر منځ د سیلون د درز یوه برخه.
- **Fissure Of Bichat**
عرضانی یا سورور درز ، مستعرض درز.
- **Bronchial Fissure**
د برانش درز لکه د (**Bronchial Cleft**) .
- **Calcarine Fissure**
د کلکارین فیسور . د مېزابې (**Sulcus**) کې وګوری.
- **Central Fissure**
مرکزی فیسور . د مېزابې (**Sulcus**) کې وګوری.
- **Collateral Fissure**
کولاترالی فیسور. د مېزابې (**Sulcus**) کې وګوری.
- **Enamel Fissure**
د غاښ د اینامیل برخې درز او فیسور.
- **Hippocampal Fissure**
د هایپوکمپ برخې فیسور. د مېزابې (**Sulcus**) کې وګوری.
- **Horizontal Fissure**
مستعرض فیسور.
- **Oblique Fissure**
مایل فیسور .
- **Palpebral Fissure**
د دوه سترغلو تر منځ فیسور. د سترغلو اړوند فیسور.
- **Parito –occipital Fissure**
د جداری–اوکسیپیټ برخې فیسور. د مېزابې (**Sulcus**) کې وګوری.
- **Portal Fissure**
د باب ورید فیسور .
- **Posterior Median Fissure**
خلفی –اُنسی فیسور.
- **Presylvian Fissure**
د سیلوس د مېزابې د منځنې ښاخ .
- **Primary Fissure**
هغه مېزابه چې د مخچې پورتنې او ښکتنې برخې سره بیلوی.
- **Fissure of Rolando**
د مخ مرکزی مېزابه.
- **Sphino –occipital Fissure**
د سفینوئید –اوکسیپیت هډوکو د بازیلار برخې تر منځ پرته مېزابه او اړوند فیسور.
- **Sylvian Fissure**
هغه مېزابه چې د تیمپورال او فرونټال لوبونو تر منځ په کناری بڼه پرته ده او د تیمپورال او پریتال لوبون تر منځ د شا په لورې تاویږی.
- **Fissure of Sylvius**
د (**Sylvian Fissure**) په انډول.
- **Transverse Fissure**
د ډیانسفالون او مغزی نیمکرو تر منځ د مغزد عرضانې مېزابه، د پورتا هیپاټیس(**Potahepatis**) په انډول.

ماشومانو کې سمدلاسه ښایي وپیژندل شی چې د متیازو سره غایطي مواد یا میکونیوم راځي.

- **Rectovaginal Fistula**

د ریکټوم ا و مهبل تر منځ ولادی فیستول چې د نوې زېږېدلو ماشومانو کې سمدلاسه ښایي وپیژندل شی چې د مهبل څخه غایطي مواد یا میکونیوم راځي.

- **Salivary Fistula**

د لاړو د غدواتو د مجراګانو غېر نارمل بهرته تګ لاره (مسیر) منځ ته راتګ ته ویل شی.

- **Thirty's Fistula**

یو د کولمو (معایي) منفذ چې د آزمون لاندې حیواناتو کې د کولمو د عصاري لاس ته راوړنې لپاره منځ ته راوړل شی.

- **Umbilical Fistula**

د نامه برخې فیستول چې د کولمو او اوراکوس سره اړیکه لري.

- **Vaginal Fistula**

د مهبل فیستول ، د مهبل او مثانې تر منځ د یا دکړکېچن زېږون څخه وروسته پېدا مېندو کې رامنځ ته کېږی چې د سختو زېږونو له املې پېښېږی تشې متیازې د مهبل له لارې راځی او د تسلسل یوه نښه بلل شی.

- **Vaginovesical Fistula**

مثانې-مهبلی فیستولا ، د (**Vaginal Fistula**) په انډول.

Fistulatome

د فیستول غوڅولو لپاره وسیله.

Fistulization

د فیستول جوړېدنې پروسه، جراحی په واسطه د فیستول منځ ته راوړل.

Fistulotomy

د یوه فیستول غوڅول او جراحی کړنه تر سره کول دی.

Fit

1 - ځپه، حمله، غوټه، د ناروغې لرې، تشنج ،شړن ، اختلاج،
2 -د یوه بل جوړښت دننه د یوه جوړښت انطباق، سمون، مناسب، وړ، لایق، یو د بل سره جوړېدونکی ، چمتو تیار، روغ تندرست.

Fitly

په مناسبه توګه.

Fitter

انطباق ورکوونکې ،برابرونکې.

Fitting

وړګرځول، برابرول، چمتو کول، وړتوب لرل، دجوړښتونو سره وروستنه ، مناسب کول.

Fist

لاس چې ډېر ټینګه او تړلې بڼه ولري، موټې ، سوک .

Fistula

سورې، سوړه، نرۍ مجرا ، د دوه داخلی غړو او یا د غړو او بدن د سطحې تر منځ غېر نارمل اړیکېزه لاره، ددانی سپم (سوری)، هغه کوچنی لاره چې (قیح ، زوي او نوُنه) ورڅخه بهر ته را وځي.

- **Anal Fistula**

مقعدی فیستول.

- **Anocutaneous Fistula**

د مقعد او پوستکی تر منځ فیستول.

- **Arterioveinous Fistula**

د شریان او ورید تر منځ فیستول. هغه فیستول چې د هیموډیالیز په موخه د جراحي کړنلارې پذریعه منځ ته راوړل شی.

- **Blind Fistula**

هغه فیستول چې یوازې یوه پرانیستې خوله د پوستکې سطحې یا مخاطی غشأ پر مخ لری ، رېوند فیستول.

- **Branchial Fistula**

پاتې شوني او ثابت برانکیال درز.

- **Cerebrospinal Fistula**

د تحت العنکبوتیه فضأ او د بدن د یوه جوف تر منځ فیستول چې معمولاً د اُتوریا یا رینوریا په بڼه د (**CSF**) له بهېدو سره یوځای وی.

- **Craniosinus Fistula**

د مغزی فضأ او د یوه سینوس تر منځ درز چې پدې ترتیب سره (**CSF**) پزې ته داخلیږی.

- **Fecal Fistula**

د غایطی موادو راتګ د کولمو او جلدی سطحې تر منځ فیستول له کبله .

- **Gastric Fistula**

د معدې فیستول د تر څنګ غړو سره د جراحی پواسطه د معدې او پوستکی تر منځ جوړه شوې لاره.

- **Incomplete Fistula**

ناتکمیله فیستول.نیمګړې فیستول.

- **Intestinal Fistula**

د کولمو تر منځ یا د کولمو او پوستکي تر منځ فیستول.

- **Pulmonary Arterioveinous Fistula**

د سږو د شریان او وریدي سیستم تر منځ د ولادی شنټ (فیستول) په غېر نارمل ډول شتون دی چې د اوکسیجن د سوئی د توپیر د منځ ته راتلو لامل ګرځی.

- **Rectouretheral Fistula**

د ریکټوم ا و احلیل تر منځ ولادی فیستول چې د نوې زېږېدلو

Fitness
وړ والی، روغوالی. قوی کول د تمرینونو او سپورټ په مرسته.

Fix
سره وروستل، تثبیتول، سمول، ټینګول، کلکول، پر ځای کښینول، پرځای ودرول او لګول، اصطلاحاً (لا نجه، جنجال) اوراول.

Fixation
تثبیت والي ، کلک کول ، ټینګول ، یو تر بله سره ټینګښت او ترل ،د یوه ثابت شی سره د یوه شي ګنډل (ټرل، نښلول) او تثبیتول د جراحي کړنلاری پواسطه ، تثبیت شوې حالت ،په پسایکولوژی کې په یوه تکاملی مرحله کې پاتې کېدل ، په سایتولوژی کې د نمونو د ساتنې لپاره د یوې تثبیت کوونکې مادې څخه ګټه پورته کول، په اوفتالمولوژی کې په هغه وضعیت کې د کتلو لوړې (جهت) چې انځور په فوواسنترالیس ولویږی.

Fixative
هغه ماده چې د هیستولوژیک یا پتالوژیک نمونو ساتنې لپاره پکاریږی او چورښتونه په هغه ډول چې له بدن څخه جدا کېږی خوندی ساتی.

Fixator
تثبیت کوونکې څیز او وسیله چې معمولاً د هډوکو د سمون لپاره کارول شی.

Fixed
ثابت، ځای پر ځای، ټاکل شوی لکه (نبته).

- Fixed Field
ثابت ډګر ، ثابت میدان .

- Fixed Head
ثابته څوکه .

- Fixed Idea
ثابته نظریه ، تعصبی نظریه .

- Fixed Oil
تثبیت کونکې غوړ ،هغه غوړینه ماده چې په (20°C) کې ویلې کېږی له شحم او هغه نباتی غوړ چې په خوراکونو کې اچول شی .

- Fixed Point
ثابت ټکی .

- Fixed Radix
ثابت جذر ، ثابت پیلامه ئي برخه .

Fixedly
په ثابت ډول، په ثابت بڼه .

Fixedness
ثابت والی، ثابت توب .

Fixing
تثبیت کول ، ثابتول .

- Fixing Surgical Procedure
تثبتوونکې جراحی کړنلاړې.

Fixture
پاتی کېدونکی شی، پاتېدونکی شی، کوشیر شوی شی (یو شئ چې بل شی پر نصب کېږی).

Fizzle
ټسېدل، پشېدل، لکه دباروتو سر ېدل، ورانېدل، ویجاړېدل، بادکول ، نا کامه کېدل لکه په یوه کار کی چه شروع یی بڼه او پای یی خراب شی.

Flab
سست، پوست، ړنګ بنګ ، سست او تنبل.

Flabby
سست، پوست، ړنګ بنګ.

Flaccid
سست، نرم، پوست، غړند ، انعطاف منونکې ، تاوُېدونکې.

Flaccidity
نرمښت ، پوستوالي درلودل.

Flagellata
متروکیز ، فلاجیلی .

Flagellate
فلاجیل لرونکې لکه د (امیب پرازیټ او مستیګافورا پرازیتونه)، یوه وتلې برخه دیوې حجرې.

Flagellation
په بل اړخ اوښتل یا له بل څخه تاوېدل، فلاجیل منځ ته راوړل.

Flagellin
د باکتریاګانو د فلاجیلونو پروټین.

Flagellosis
د فلاجیل لرونکو پروتوزوا ګانو پذریعه منتن او اخته کېدنه.

Flagellospore
د فلاجیل لرونکو پروتوزوا ګانو سپورونه.

Flagellum
فلاجیل ، متروکه ، شلاق ،یو اوږد او متحرکه زایده چې د حجرې سطحې له قاعدې جسم څخه سرچینه اخلی او د

- **Flank Pain**

د فلانک درد ، د تشی درد .

- **Right Flank**

ښی اړخ ، ښی خوا .

- **Flank Swelling**

د تشی پرسوب

- **Flank Tumor**

د تشی تومور

Flap

فلاپ، یوه نسجی کتله چې معمولاً د پیوند لپاره په پام کې نیول شی معمولاً دهډوکی یا پوستکی یوه برخه د ګرافټ لپاره، ځوړنده ټوټه لکه د (میز پوښ څنډه چه کښته راځړیږی)، وهل، ړپېدل.

- **Bone Flap**

د هډوکی یوه ټوټه چې د ګرافت لپاره پکار وړل شی د کوپړی (قحف ،جمجمې) هډوکو د یوې برخې د لېرې کولو سره یوځای کرانیوټومی.

- **Free Flap**

آزاد فلاپ ،یو ډول فلاپ چې د بدن د یوې سیمې څخه اخیستل کېږی او د میکروسکوپي رګونو اناستوموز له لارې یوې بلې لېرې پرتې سیمې سره پیوند کېږی.

- **Jump Flap**

د ګډې څخه اخیستل شوې او په لېچه باندې اینبودل شوې او بل ځای ته لېږدول شوي فلاپ.

- **Myocutaneous Flap**

د پوستکې او عضلاتو په ګډون یو مرکب فلاپ چې کافی رګونه لری چې د تغذی لپاره اړین دی.

- **Rope Flap**

یوډول فلاپ چې له نسج څخه د یوې اوږدې فیتې په اخیستلو سره پلاس راځی دوه لوری سره نه بیلول کېږی او ژی یې سره ګنډل کېږی تر څو یو ټیوب ورڅخه جوړ شی.

- **Skin Flap**

جلدي فلاپ ، د پوستکې اړوند فلاپ،د درم ، اپې درم او تحت الجلدی نسج لرونکې فلاپ.

- **Sliding Flap**

یو ډول فلاپ چې د ښوئیدلو د تخنیکونو پکارووني سره په نوی ځای کې چمتو کېږی.

Flapper

ښورند ، خوځند.

Flare

د پوستکې سور رنګه کېدل په منتن یا اورتیکاریا (**Urticaria**)

حجري حرکتی غړی ګنډل کېږی، په ایوکاریوتی حجروکې فلاجیل یوې جوړه مرکزی مایکرو ټیوبول په شاوخوا (۹) جوړو مایکرو ټیوبولونو څخه جوړ شوی دي.

Flagyl

دمیترونیډازول مستحضر سوداګریز نوم دئ.

Flail

ډپې (هغه اله چه دجواړواو نورو شیانوداني په جدا کوی). په دبی وهل ، کوتک وهل . د څه په چاړپېر ټکول او بیا څېړل یا وهل دپرته له کنټروله او شدید حرکت سره قسماً د متړونو برخه.

- **Flail Chest**

فلیال صدر ، پدې صورت کې صدری پنجره ثابته نه وی خکه چې څو دانې پښتی (ضلعې) ماتې وي او د ساکښلو پر مهال صدر برعکس حرکت کوی .

Flair

دبوی درک کولو قوت، دشامی حس، دتمیز حس.

Flake

ټوټه لکه د (واوړې) بڅری، څپولی، خپری، پتری، پتری پتری کېدل، پتړې پتړې کول، د نسج نری ټوټه.

- **Flake Fracture**

هغه کسر چې نری برخه د هډوکو ماتېږی.

- **Flake Off**

د پتری پتری کېدلو رالوېدنه.

Flaky

طبقه طبقه ، لایه لایه ، پوستکې پوستکې ، پتری پتری بڼه، دانه دانه لکه د واوړې په څېر ، ورقه ورقه .

Flamboyant

څلند ، پرېښند ، پړکند ، چړکند ، رنګین.

Flame

د اور لمبه (شُعله ،شغله)، وکه، تپاك، تلوسه. لمبی کول، شغلی کول. د اور د لمبې په مرسته د یو څه شي تعقیم کول.

Flange

راوتلې ژی، څنډه، دڅرخ مورګه.

Flank

د ایلیوم هډوکی او پښتیو تر منځ د تنې یوه برخه، اړخ ،خوا ،جناح، مُراق، فلانک.

- **Left Flank**

کین اړخ ، کین خوا .

- **Flank Mass**

د تشی کتله .

Flatulence
هوا راتولېدنه ، نفخ ، په معده او کولمو کې د ګازاتو او هوا خورا ډېره پېمانه راتولېدنه چې ناراحتي منځ ته راوړي د (Aerophagy) له امله.

Flatulent
نفخي ، د نفخ او ګاز اړوند.

Flatus
په معدي -معائي سيستم د ګاز او هوا شته والی چې درد منځ ته راوړي.

Flav-
دا يو مختاړی دئ د ژيړ (زيړ) معنی ورکوی .

Flavin
په اوبو کې منحل زيړ رنګه دانو څخه هر يوه چې د زيات شمېر نباتاتو او حيواناتو په جوړښت کې لېدل کېږی لکه رايبو فلاوين.

- Flavin Adinine Dinucleotide
د رايبوفلاوين (5) فسفات او اډينوزين (5) فسفات څخه جوړ کوانزايم چې د پيروفسفات په تجزيه کې ونډه اخلی لنډه نښه يې (FAD) ده .

- Flavin Mononucleotide
د رايبوفلاوين (5) فسفات چې د اکسيديز کوونکي ګڼ شمېر انزايمونو د کوانزايم په توګه کار کوی له هغې ډلې څخه (NADH) ډي هايدروجنيزانزايم لنډه نښه يې (FMN) ده .

Flaviviridae
د (B) ګروپ اريوويروسونه ، د (Rna) لرونکو ويرسونو هغه ډله چې يو رشتوی جينوم ولری.

Flavivirous
د (B) ګروپ اريوويروسونه ، د فلاوی ويريديا د کورنۍ د ويروسونو يو جنس چې ګڼ شمېر يې انسانانو کې ناروغۍ منځ ته راوړی.

Flavo-
دا يو مختاړی دئ د ژيړ (زيړ) معنی ورکوی .

Flavobacterium
د شيزومايست يو جنس دئ ژيړ ، نارنجی ، سرې يا قهوه يی زيړ رنګه دانې توليدوی په خاورو ،اوبو کې موندل کېږی.

Flavoenzyme
د فلاوين نوکليوټايد (FMN) يا (FAD) لرونکې هر ډول انزايم چې د پروستتيک ګروپ په توګه کار کوی.

برخه کې لمبی کول، بلېدل، لګېدل، لمبی جګېدل، له قهره اورا خيستل ، په غوسه کېدل، خپرېدل، درنا برېښ.

Flash
ځلېدل، بريښېدل، لکه د برېښنا تيرېدل ، پرکېدل، د برېښنا په دود استول، ژراستول، دسترګو په رپ کی استول، تلګراف کول، پرک، بريښ، سيبه.

- Flash Back
د ترضيض څخه وروسته تکراری کوچنی خاطره.

- Flash Burn
د سوځېدنې احساس کله چې د بدن يوه برخه په لنډمهاله توګه د تودوخې او حرارت سره مخامخ کېږی.

Flask
يو ډول لابراتواری وسيله چې له ښيښې څخه جوړيږی نری غاړه لری ، فلاسک، ددارو درملو ګويۍ، نری غاړی بوتل، انبيق.

- Elenmeyer Flask
د نری غاړې او پلنې قاعدې څېښتن مخروطی ښيښه ئی لوښی.

- Volumetric Flask
يو ډول لابراتواری وسيله چې له ښيښې څخه جوړيږی نری غاړه لری چې د تاکل شوې کچې پکې تر اړينې اندازې پورې ګرمولای شو.

Flat
اوار (هموار) ، يو شان، پيت، پور، پټ، طبقه، يولين کوټی، اپارتمان، پنچرشوی ، رد، روک، سپين، مطلق، مثبت، سم، درست، بيخونده، له کوچ نه تيت.

- Flat Foot
د پښې د تلی د قوسونو نشتوالی ، د پښو د تلې هموار والې ، پيته پښه ، د (Pes Planus) په انډول.

- Flat Warm
د فيتوی او پلنو چينجيو څخه هر يو استازي چې وي.

Flatness
هموارتوب ، اواروالی . هغه ځانګړې غږ چې رزونانس نلری او د سختو او غبر نارمل کلکو برخو د قرعې په مهال اورېدل کېږی.

Flatten
پلنول، پيتول، اوارول، پلنېدل، پيتېدل، اواربدل، ستر شوې ، پوښل شوې.

Flatline
د مونيتور لپاسه د زړه (ECG) يا دماغ (EEG) بريښنائی کرښې ښوولو کې چې ناکامه وی .

Flavor

خوند مزه، څکه، دیوه شی خاصیت ، د (**Flavour**) په انډول.

Flavoxate

د صافو عضلاتو شل کوونکې درمل ، ددې درمل هایدروکلورایدي مالګه د بولی جهاز د عضلاتو د سپزم په درملنه کې پکاریږی.

Flaw

نیمګړتیا ، عیب، وټ کټ.

Flawless

بې عیبه، بې نقصه پرته له نیمګړتیا.

Flaxen

ژړ بخونی، ژړځکه، پیکه ژړ، کتانی، سُنډی.

Flay

پوستول، پو ستکی ځنی ایستل، لوټول، تر ټل.

Flaxseed

د (**Linseed**) لغت وګوری.

FL DR Fluidram

د مایعاتو د ټاکنې واحد چې د مایعاتو (**8/1**) اونس سره انډول دئ.

Flea

وړه، کیکه. هغه کوچې چیچونکې حشره چې وینه څښینې او لېږدېدونکې ناروغي لېږدوی.

Flecainide

دزړه اریتمیا د اصلاح لپاره یو ډول مرستندویه درمل دي.

Fleck

خال، خاپی، ټکی. خال کول، خال وهل، لیکي لیکي کول.

Fleece

یو په بل کې د پېچلو فیبرونو کتله ، نرې معناوې لکه ورګ، دپسه هغه وړی، په یوه وخت کی سکولل کیږی، هر هغه شی چه دپسه دوریو په شان بل شی پټ کړی، سکولل، شکول، پوستول. شوکول.

- Fleece of Stilling

د غاښ لرونکې هستې په شاوخوا کې د میالین لرونکي فیبرونو یو په بل کې پېچلې شبکه .

Fleetness

ګړندیتوب، چټکتیا.

Flesh

غوښه، جسم غوښنه برخه چې پوستکې ، هډوکې یا غړې نه وی همدارنګه د توکم، دسپین پوستی رنګ معناوی هم ورکوی.

- Goose Flesh

د (**Cutis Anisernia**) برخه وګوری.

- Proud Flesh

د نرم نسج ، اذیمائي او سکاری نسج مخلوط چې د سطحې ټیوبونو د ترمیم پروسه کې منځ ته راځی.

- Flesh Wound

هغه جرحې چې یوازې د بدن غوښنې برخې اخته کوی لکه د پښو د لینګې د پندی برخې ټپونه.

Fleshless

بې غوښې، ډنګر، لغړ.

Fleshy

غوښن، مزی، تیار، څرب.

Fleurette

یوډول حجره چې په رتینوبلاستوما او رتینوسایتوما کې د وښکالې بڼه لیدله کېږی او فوتو رسپتور باندی دحجرو د تمایز ښودنه کوی.

Flex

د قبض حالت ، کړېدل او تاویدل، کړول، تاوول .

Flexeril

د سایکلو بنزاپرین هایدروکلورایډ لپاره سوداګریز نوم دئ.

Flexibilitas

انعطاف منله ، د کړېدنې وړتیا لرنه.

- Flexibilitas Cerea

هغه حالت چې پکې د یوچا د مټ یا لینګو برخې کله چې وازې او لېږې کړل شی بیا هم د څه مودې لپاره په خپل حال پاتې کېږی.

- Waxy Flexibilitas Cerea

یو ډول کتالیپتیک وضعیت چې په هغه کې غړې په هر وضعیت چې قرار لری په هماغه ډول پاتې کیږی. مومی انعطاف منله .

Flexibility

نرمی، دکړېدو قابلیت، د تاوولو او نرمښت وړتیا درلودل.

Flexible

کمېدونکی، دکړېدو وړ، تاوېدونکی، ارتجاعې، هغه چه په آسانی سره تر نفوذ لاندی راځی.

Flexion

کړېدل ، قبض ،دقبض او تاوېدنې عمل بلل شی، هغه بندونه چې دقبض په حال کې وی.

Flexner's Bacillus

هغه باکتریا چې دباسیلی نس ناستې (Bacillary Dysentery) لامل ګرځی.

Flexor

قابضه ،قبض کوونکې لکه هغه بندونه چې دقبض په حال کې وی د هغوی د عضلاتو لپاره کارول شی.هر هغه عضله چې د کږېدو لامل کېږی.

Flexura

انحنا ، کوږ والې، قبض ، قبض کول ، قبض کوونکې.

Flexure

انحنا ، کوږ والې، د یوه غړی قبض حالت بلل شی. په پوستکی کې قات یا کوت (Fold) ته هم ویل شی .

- **Caudal Flexure**

د رشیم په زنبی نهایت کې قبض.

- **Cephalic Flexure**

د رشیم په رأسی (منځنې مغز) قبض.

- **Cervical Flexure**

د عنق (غاړې) د مغز او نخاعي طناب د اتصال په سیمه کې د رشیم په عصبی تیوب کې قبض.

- **Cranial Flexure**

د (Cephalic Flexure) وګورئ.

- **Dorsal Flexure**

فرش ، تلې ، ورغوې ، انګړ، غولی، پوړ، فرش کول، پرمخکه ویشتل، ماته ورکول، دبدن د تش منځو غړو د لاندینی درشیم په منځنی ظهری برخې کې قبض.

- **Duodenojejunal Flexure**

د اثناعشر او جیجینوم (صائم) کولمو د اتصالی برخو تر منځ د قبض برخه.

- **Lumbar Flexure**

د ملا د قطنی برخې د مخ په لورې قبض.

- **Mesonephric Flexure**

د میزونفریک برخې قبض.

- **Nuchal Flexure**

د نوک (Nuchal) د کانال برخې قبض، (Cervical Flexure) وګورئ.

- **Pontine Flexure**

د رشیم په مغز یا حدبې (Pontine) برخې قبض حالت.

- **Sacral Flexure**

د عجز هډوکې قبض او تاوه شوې برخه، د زنبی (Caudal Flexure) وګورئ.

- **Sigmoid Flexure**

د سیګموئید کولون برخې قبض.

Flinch

اوږه خالې کول، ځان کښدل، له درده غونجېدل ،ګنجلک کښدل ، کږېدل.

Fling

شوکارې کول، نوکارې لګول، تو غول، له واره په زور سره شړل، غور ځول،چپه کول، په لغته وهل.

Flipper

هغه پلن غړې چه د لامبو وهلو لپاره استعمالیږی لکه د (هیلی خاپوړی یا پنجالې)، لاس.

Float

لامبو وهونکې ، هر هغه شی چه داو بو پر سر ځی، دچنګک په مزی پورې کبانو ته د ښودلو دپاره اچول کیږی چه دچړپېدو په وخت کې توی نه شی، دیوه مایع پر سر درېدل، په یوه سیال جسم کې دننه یا پر سر ورو ورو ښورېدل. لامبوزن شئ.

Floater

د سترګې په زجاجیه مایع کې رسوبونه چې معلق وی احیاناً د پروتینود غونډېدلو څخه منشه اخلی ، دغه پېښه د سلیمو استحالوی بدلونو ښودونکې ده، هغه جسم چه دیوه مایع پر سر ودریږی ، د (Volitantes Muscae) په انډول.

Floating

لامبو وهونکې شئ ، هغه غړې یا اندام یا شي د لامبو وهونکی بڼه غوره کړی.

- **Floating Kidney**

لامبوزنه پښتورګې . هغه بښنورګې په نورماله بڼه تثبیت نه وی او آزاد پروت وی، سقوطی بڼودې ، د (Nephroptosis) په انډول.

- **Floating Rib**

آزاده پښتی ، آزادې اضلاع ،لکه دوارې لورو ته (11-12) پښتی چې یو سر یی د ملاتیر اوبل سر یې آزاد پاتې وی.

Floccillation

په هزیان ، مغزي زوال ، تبه او شدیده ستړیا د اختهنا روغ په واسطه د نورو له مرستې پرته د خوب د اړینو توکیو انتخاب، داسې عمل او پېښې چې په ثابت ډول څوک بستر د کالو سره په تماس وی ، داسې علامه او نښه چې څوک مرګ په طریقه پروت وی .

Floccitation

کارفولوجی (Carphology) په انډول.

Floccose

وړین ، دغه اصطلاح باکټري ګانو هغه کلچر ته ویل شی د لنډیو او کړو څنګیرونو بڼه لري او په مختلفو لورو پراته دي.

Floccular

د فولوکولوس اړوند صفت.

Folocculation

یوه کلوئیدی پښښه چې په هغه کې په چاپیریال کې انتشاری مرحله (فېز) پّه کامل ډول خپور او د لیدنې وړ دئ.

Flocculus

یو په بل کې د ننوتلو نسجونو یوه کوچنۍ کتله ، دماغزو د نیمو کرو په لاندینیو اړخونو کې یوه کوچنۍ کتله چې د ورمیس نوډول پسې ځای لري.

Flooding

په درملنیز چلند کې د فوبیا او اضطراب له منځه وړل چې له ډارونکی لامل سره د ناروغ دبیا بیا مخامخ کولو پّه بڼه صورت نیسی چې ښائي تصوري یا واقعی بڼه ولري ، ښځینه ناروغې ده چې میاشتنۍ عادت یی غیر نارمل زیاته اندازه وی ، د مینوراژي (**Menorrhagia**) په انډول .

Floor

برخې داخلی سطحه بلل شی.

Flop

نګونښېدل، ګوډ ګوډ تلل، درونډ درونډ پر لاره تلل، په انډې انډې تلل، نا کامبدل، رنګبدل، ورانبدل.

Floppy

سست ، پوست ، کمزورې .

- Floppy Baby Syndrome

په ولادی توګه د عضلاتو د مقویت لړوالې یا نشتوالی سندروم بلل شی ، د (**Congenita Amyotonia**) په انډول.

Flora

هغه باکتریاوې د بدن په یوه برخه کې په عادی بڼه شتون لري او مضر نه وی لکه د کولمو فلورا خو دا باکتریا ګانې پتولوژیک توان هم لري، د نباتی ارګانیزمونو یو غونډ ، دیوې سیمې یا تاریخي دورې بوټی.

- Flora Cutánea

د پوستکی فلورا ، جلدی فلورا.

- Intestinal Flora

هغه باکتریاوې د بدن په کولمو کې په عادی بڼه شتون لري او مضر نه وی لکه د کولمو فلورا خو دا باکتریا ګانې پتولوژیک توان هم لري.

- Flora Skin

د پوستکی فلورا ، جلدی فلورا.

Floral

فلورائي ، د فلورا اړوند صفت.

- Floral Arrangement

فلورائی تنظیم ، د فلورا ترتیب او منجمنټ.

- Floral Cup

فلورائی پیاله .

- Floral Envelope

فلورائي پاکټ.

- Floral Leaf

فلورائی پاڼه.

- Floral Tube

فلورائی نلکه / ټیوب .

Florid

په غېر روغتیائی بڼه ګلابی رنګه یا سور رنګه مغلقه غوړېدنه،مصنع، ښکلی شوی، مزین.

Florin

فلورین، دفلورانس لرغونې طلا، دانګلستان یا هالنډیوه دسپینو زرو معاصره سکه. فلورین کیمیاوی عنصر دئ.

Floss

اومه ور ینښم، جړ ورینښم ،د (**Dental Floss**) په انډول.

- Floss Cleft

د اوریو په څنډه(**Gingival Margin**) کې ژوره چې معمولاً د غاښونو په (**Mesial Or Distal Line Angle**) کې موقعیت لری هلته چې په تکرار سره (**Dental Floss**) غېر مناسب ډول سره تطبیق کېږی ، د (**Floss Cut**) په انډول.

- Floss Cut

د (**Floss Cleft**) په انډول.

- Dental Floss

د غاښونو د اومه ورېښمو سپنسی پذریعه د غاښونو پاکول .

- Floss Expanded PTFE Dental

یو د دري ډوله (**Filament-based Dental Hygiene Tools**) څخه چې د (**Waxy Artificial Chemical** چې ورته د نوم ورکړل شوي **Politetrafluoroetilene**) لرونکی وی چې د (**Resist Shredding** او **Breaking**) سره میلان لری.

- Floss Silks

د اومه ورېښمو سپنسی چې پرې د غاښونه پاکول شی .

- Floss Tape

فیتوی- پېړ بڼه فلاس ، د (**Thicker Floss**) په انډول.

پراویز.

Flounder

یودول کوچنی پلن کب، زوروهلو، لاس او پښې وهل، تپېدل، ښویېدل، په خبرو کې بندېدل ، اشتباه کول.

Flour

اوړه، پوډر ، دوړه ، ګرده .

Flourish

وده کول، لو یېدل، پرمخ تلل، بڼایالی (بڼغلې) کېدل، په ښه تو ګه تر سره کول، غوړ ېدل، ښکلول، ښایسته کول، سینګارول، پوډروته ورته .

Floury

داوړو ، پوډری.

Flow

بهیر ، بهېدل، روانېدل لکه د مایع او ګازاتو (هوا) ، وینې ، شویېدل، تو یېدل، زنګېدل، پورته کېدل بهېدنی، جریان، روانی، سلامت.

Flowmeter

د مایعاتو د ګازاتو د بهیر(جریان) د چټکتیا ټاکونکې او اندازې ټاکونکې وسیله .

Floxuridine

د فلوروپوراسیل یو مشتق ($C_9H_{11}FN_2O_5$) په فورمول سره د ویروس او خباثت ضد درملو په توګه کارول شی .

Floz

مایع اونس Fluid Ounce، د مایعاتو دظرفیت واحد چې د ($29.6\ Cm^3$) سره مساوی دئ.

Flu

د انفلوانزا (Influenza) په نامه یو ډول تنفسی او لیږد ېدونکې ډېره بد حاله ناروغی ده او(Flu) په لنډ ډول د انفلوانزا لپاره کله ناکله لیکل کېږی.

Flucloxacillin

د پنسیلین له کورنۍ څخه نیمه ترکیبی درمل د سترپتوکوکال انتاناتو او پنومونیا په درملنه کې پکاریږی . او په تېره بیا د ستافیلوکوک د درملنې لپاره پکار وړل کېږی.

Fluconazole

دا درمل د چنیاسې (Fungal) لکه د کاندیدا (Candidiasis) انتاناتو ضد اغېزې لری.

- **Thicker Floss**

د (Floss Tape) په انډول.

- **Floss Tufted Dental**

د غاښونو کُلپی ډوله سپنسی چې د هغه غاښونو لپاره چې یو تربله سره ډېره مسافه لری پکار وړله شی.

Flotation

لامبوزن کېدنه ، د اوبو او مایع پر سر پاتې کېدنه ، شناوره توب ، خپرېدنه ، هغه پروسه چې جامده مادې د هغوی د لېوالتیا له مخې د مایع په سطح واقع شی.

- **Flotation Agent**

د لامبوزن کېدنې لامل.

- **Flotation Analysis**

د لامبوزن کېدنې تحلیل.

- **Flotation Bags**

د لامبوزن کېدنې کڅوړې .

- **Flotation Bed**

د لامبوزن کېدنې بستر .

- **Flotation Constant**

د لامبوزن کېدنې ثابت ، هغه اوصاف د ترسب (Sedimentation) چې د چلند له مخې (Lipoprotein Fraction) د (Centrifugal Field) کې د یوې مناسبی کثافت (Appropriate Density) کې پلاسما ته د (Salt یا D_2O) ورزیاتولو پواسطه لاس ته راځی ، د (Negative Svedberg of Flotation.S) په انډول.

- **Flotation Device**

لامبوزن کولو وسیله د (Foam Mattress With A Gellike Pad) پواسطه چې په مرکز کې واقع کېږی تر څو د هډوکو د راوتلو برخو ساتنه د فشار وښنې د جلدی سطحې په وړاندې منځ ته راوړی.

- **Flotation Method**

لامبوزن کېدنې مېتود .

- **Flotation Process**

د لامبوزن کېدنې پروسه ، د معلق پاتې کېدنې پروسه.

- **Flotation Tank**

د لامبوزن کېدنې لپاره ټانک / لوښې ډنډ .

- **Flotation Therapy**

د لامبوزن کېدنې اړوند درملنه ، پدې مېتود کې د ترمو اوبو ډنډ جوړېږی چې پکې په ژوره توګه استرخا (Deep Relaxation) منځ ته راشی.

- **Zinc Sulfate Flotation Centrifugation Method**

د زینک سلفېټ لامبوزن کېدنې سنټرفیوژی مېتود.

Flounce

په شدت او چابکی سره تاوېدل لکه د (درده)، دلمنی حاشیه،

Fluctuate
نو سان کول، تغیر خوړل، پریوه حال نه پاته کېدل، تموج ، څپه درلودل.

Fluctuation
نوسان، تغیر، بدلون، بی ثباتی، تموج ، څپه درلودل، موجی شکله حرکت.

Flucytosine
دا درمل د چنیاسې (Fungal) لکه د کاندیدا (Candidiasis) او کریپټوکوکل انتاناتو ضد اغېزې لری.

Fludarabine
د اډینین یو انالوګ او د پیورین انتی میتابولایت چې لمفوسایتیکي مزمنې لوکیمیا په درملنه د خباثت ضد درمل په توګه پکارېږی .

Fludocortisone
یو ادرینال مصنوعی کورتیکوستیروئید چې هایدروکورتیزون او ډیاوکسی کورتیکو ستېرون ته ورته اغېزی لری.

Fluent
روان، فصیح، ساده.

Fluffy
پت داره، نرم.

Fluid
مایع، بهاند ، سیال. سیاله ماده، یو مایع ، ګازی یا پوډري ماده چې بهیر ومومی .

- **Amniotic Fluid**
د امنیوټیک مایع چې د رحم دننه د جنین شاوخوا احاطه کوی او هلته ډېری دندې تر سره کوی لکه (تغذی، ساتنه او خوندیتوب).

- **Fluid Balance**
دمایع موازنه ، د مایع انډول. دا اصطلاح د بدن ډیالیز (Dialysis) او درملنو کې پکار وړل شی.

- **Cerebrospinal Fluid**
دماغزو د بطینونو دننه ، په تحت العنکبوتیه فضأ او نخاعی طناب په مرکزی کانال کې موجود مایع دماغي-نخاعی مایع لنډه نښه یې (CSF) ده.

- **Fluid Dram**
د مایع تاکنې واحد دئ چې (1/8) د اونس مایع بلل شی .

- **Fluid Extract**
د نباتی درملو یو محصول چې الکهول لری ، ددې نباتی عصارې مایع هر ملی لیتر یو ګرام معیاری درمل لری . عصاروی مایع.

- **Fluid Imbalance**
د مایع موازنې نا انډولتیا ، په وینه کې د مایع او عناصرو د موازنې له لاسه ورکول چې د ناروغیو لامل ګرځی او درملنې په مهال پام کې نیول شی.

- **Interstitial Fluid**
بین البیني مایع ، د نسجونو تر منځ خارج الحجروی مایع چې د وینې او لمفاوی رګونو څخه بهېله ده. بین النسجي مایع.

- **Intracellular Fluid**
داخل الحجروی مایع. د حجرو دننه مایع او اوبلنه برخه بلل شی.

- **Müller Fluid**
د اناتومیکه نمونو د ساتنې لپاره مایع .

- **Fluid Ounce**
انس مایع چې د مایع یا اوبلن حجم تاکنې لپاره چې د (1/16) یوه پاینټ (Point) سره برابر دئ او په انګلیس او کانادا کې کارول شی او د (28/42 Cm³) سانتي مترمکعب سره معادل دئ .

- **Fluid rachm**
د مایع تاکنې واحد دئ چې (1/8) د اونس مایع بلل شی .فلوئید درم (Fluid Dram) بلل شی.

- **Scarpa's Fluid**
انډولمف مایع. د لمفاوی سیستم دننه مایع.

- **Seminal Fluid**
د منوی کڅوړې دننه مایع منوی مایع.

Fluke
د پلن (Trimatoda Warm) چینجیو پرازیټ چې په ځیګر (ینه) کې ځای نیسې ، دلنګر (کښتی) هغه برخه چه په مځکه کی تینګیږی، غشی، دنښنګ لکی. یا پر، تصادفی بریالیتوب.

Flumazenil
یو بنزوډیازیپین اګونیست چې عمومی بې هوښی وروسته د بنزوډیازیپین اغېزو ساتنې لپاره کارول شی.

Flumen
بهیر ، جریان و دوران.

Flumena Pilorum
د پوستکی پرمخ دفرضی لیکو تکثیر چې د بدن ویښتان وربانديې شنه کېږی.

Flumethasone
دا ګلوکوکورتیکوئید التهابی ضد درمل دي موضعی اغېزو ساده بڼه لری د درماوزونو درملنه کې کارېږی.

Flunitrazepam
دا ترانکولایزر (آرامتیا بخښونکې) درمل دي.

اندازې نیولو لپاره وسیله ده. په فلوروسکوپ پورې نښتې وسیله چې د پام وړ شئ یو ځانګړې سیورې منځ ته راوړی.په فلورمتری کې یوه وسیله چې دفلوروسانس د القأ لپاره د انرژی یوه منبع د څپو د اوږد والی د ټاکنې لپاره مونو کروماتوزونه او یو پیژندونکې خاصه لری.

Flurometholone

دا یو ډول مصنوعی ګلوکوکورتیکوئید التهابی ضد درمل دي موضعی اغېزې او ساده بڼه لری دشدیدو او حساسو درماوزونو درملنه کې کارېږی.

Flurometery

د فلور ټاکنې کړنلاره تر سره کول د فلورومتر پذریعه بلل شی.

Fluronephlometer

د ساتع شوې نوری وړانګو د اندازه کولو له لارې او یوه محلول د انالایز (تجزیې) لپاره وسیله.

Flurophotometry

د ساتع شوې نوری وړانګو د اندازه کولو له لارې او یوه محلول د انالایز (تجزیې) لپاره وسیلې پذریعه د کتنې کړنلاره بلل شی.

Fluoroscope

هغه وسیله چې ورباندې د فلوروسکوپې د (X-Ray) پذریعه د بدن د غړو انځور د (Screen) پر مخ د کتنې لپاره برابروی.

Fluoroscopy

پر هغه وسیله چې ورباندې د فلوروسکوپې د (X-Ray) پذریعه د بدن د غړو انځور د (Screen) پر مخ د کتنې لپاره برابروی دکتنې تر سره کولو کړنلاره ته ویل کېږی.

Fluorosis

هغه حالت چې د ډېرو فلورایډ مایع څښلو له امله منځ ته راځی (لکه په تېتې سویه د غاښونو بې رنګه کېدنه،او ډېرې سویې له کبله لیګامنټ تکلس کوی) .د فلورایډ محلول بې درېغه استعمال.

- Endemic Chronic Fluorosis

یو ډول اندیمیک فلوروزس چې په یوه سیمه کې د څښاک اوبوکې د ډیرې اندازې فلورین له کبله منځ ته راځی د غاښ فلوروزس ، اوستیواسکلروزس او اوستیوملاسیا لامل ګرځی.

Fluorouracil

د یوراسیل په څېر یو فعال انټي میتابولایټ درمل چې د خباثت ضد درمل په توګه پکارېږی.

Flucinolone

دا یو ډول تصنعی ګلوکوکورتیکوئید التهابی ضد درمل دي موضعی اغېزو ساده بڼه لری دشدیدو او حساسو درماوزونو درملنه کې کارېږی.

Flucinonide

فلوسینولون اسیتوئید ایستر چې التهابی ضد درمل دي موضعی اغېزو ساده بڼه لری په موضعی توګه درماوزونو درملنه کې کارېږی.

Flurescein

یوډول فلورسین رنګ چې فورمول ئې ($C_{20}H_{10}O_5$) دئ او ددې رنګ سوډیمی مالګه د قرنیې د ضایعاتو د ټاکنې لپاره پکارېږی.

Fluorescence

د نور د او وړانګود خپرېدنی خاصیت چه دنورو منابعو څخه جذب شوی وی داډول خپرې شوې وړانګی په دوهم نور باندې د لومړنی نور د لګېدو په صورت کې د جذب شوی نور څخه د خپاره نور کچه زیاتوی.

Fluorescent

د فلورسنس اړوند صفت.

Fluoridate

دفلورایدونو (Fluoride) زیاتول او اچول اوبو ته د پاکوالی په موخه.فلورایدي کول.

Fluoridation

د فلورایدونو په مرسته درملنه ، د څښاک اوبو ته د فلورایدونو زیاتول دئ چې د غاښونو د ورستېدو کمښت لامل ګرځی.

Fluoride

دا یو کیمیاوی مرکب دئ چې د فلورین ، پوتاسیوم او سوډیم څخه جوړ دئ او په غاښ کریمونو تړې کار اخیستل شی.

Fluorine

دا کیماوی عنصر دئ چې د (9) اټومی شمېره لری او (Symbol) نښه ئې (F) ده چې په غاښ او هډوکو کې موندل شی .

Fluorochrome

د فلور سانټي مرکب چې په یوه مخلوط کې د پروټینو نو شته والې مشخص کوی.

Flurometer

د ایکس وړانګې له تیوب څخه د راوتلې وړانګې د مقدار د

Fluster
پارول، مغشوش کول، تودول، وارخطا کول، پارونه، مغشوشیت، قهر. پیلی، تولکه، فلوټ، چین رده، کربنه لکه د (کالیو).

Flutter
چټک ضربان یا ارتعاش،رپیدل، اهتزاز کول، پارېدل. اهتزاز، پارېدنه، د ریتم ګډوډی (د زړه او فکر). چټک حرکت چې د زړه اذین (دهلیز) اړوند د ریتم ګډوډی پکار وړل شی.

- **Atrial Flutter**
اذینی فلوتر یو ډول د زړه اریتمی پدې ډول کې د اذینونو منظم چټک انقباضونه (**250-350 /Minute**) منځ ته راځی.

- **Flutter Device**
د فلوټر اړوند وسیله / آله لکه د (**Forced Expiratory Breathing Implement**) په څېر چې د (اهتزاز **Vibrates** منځ ته راوړی تر څو توخي آسانه **Facilitate Coughing** شی) منځ ته راوړی.

- **Diaphragmatic Flutter**
حجاب حاجزی فلوترچې د نامعلومه لاملونو له کبله د حجاب حاجز څپه ائیز فیبریلیشن منځ ته راځی.

- **Flutter Down**
د فلوټر کمښت منځ ته راتګ.

- **Flutter Echo**
د فلوټر ایکو کتنه تر سره کول.

- **Flutter Eyelashes**
د سترګو د جفنونو بانډو اهتزازی بڼه شتون حالت.

- **Fibrillation Flutter**
په متناوب ډول دفلوتر او فیبریلیشن منځ ته راتلل بلل شی.

- **Impure Flutter**
غېر خالص فلوټر ، د زړه د اذین هغه ډول فلوټر چې پکې د اذینی ریتم غېر منظم (**Atrial Rhythm Irregular**) وی.

- **Mediastinal Flutter**
د تنفس به بهیر کې د سینې د ګوګل (منصف) برخه کې غیر نارمل حرکتونه.

- **Pure Flutter**
خالص دهلیزی (اذینی **Atrial Flutter**) فلوټر چې پکې اذینی ریتم منظم (**Regular Atrial Rhythm**) وی.

- **Flutter Valve**
فلوټر دسام ، دا یو د وریدی مایع د انفیوژن وسیله ده چې د (**Fluid Chamber**) لرې چې پکې د مایع تطبیق چټکتیا اندازه په بڼه توګه کنټرولېږی.

- **Ventricular Flutter**
د بطینی ټاکې کارډیا او بطینی فیبریلیشن ترمنځ تېرېدونکې

Fluthane
د هلوتان مستحضر لپاره تجارتی نوم دئ.

Fluoxetine
دا یو ډول د انحطاط ضد درمل دي چې په دماغ کې د سېروتونین (**Serotonin**) زیاتوالې او د (**Anxiety** او **Depression**) درملنه پرې کېږی.

Fluoxymesterone
یو ډول اندروجن چې د نارینه وو د هایپوګونادیزم په درملنه کې پکاریږی او سرطانی ناروغیو د نښو نښانو د لرې والې په موخه کارول شی.

Flupenthixol
د تایو کاتین یو مشتق چې د سایکوټیکو نښو د کمښت لپاره کارول شی.

Fluphenazine
یو قوی آرامووونکې درمل دی د هایدرکلورایدی مالګې ،انانټیټ او کانوآت په بڼه د ښخوبی په درملنه کې پکاریږی.

Flurandrenolide
دا یو ډول مصنوعی ګلوکوکورتیکوئید التهابی ضد درمل دي موضعی اغېزې او ساده بڼه لری د ځینو درماوزونو او خابښتونو درملنه کې کاریږی.

Flurazepam
یو قوی آرامووونکې درمل دی د هایدرکلورایدی مالګې په بڼه د ښخوبی په درملنه کې پکاریږی.

Flurry
دهواناڅاپی بدلون، حرکت لمسون، ښورېدنه، پارېدنه، دقیمتونو ناڅاپی او مؤقتی بدلون. تحریکول، لمسول.

Flush
په یوه وار سره جاری کېدل یا بهېدل، له شرمه درنګ سور کېدل ، تشویقول، ژوندی کول. په شدت سره په او بو مینځل یا پا کول لکه دکمود: داو بوتُند جریان؛ هیجان، سوررنګ، ځلا، قوت زیات حرارت . ترځنډو ډك، پر یمانه، ژوندی، مستقیم. په یوه وارغورځېدل (لکه مرغی چه وډاریږی). یو لاس قطعي چه یو رنګ ولری.

Flushed
سور رنګه شوي.

مرکزی ، موضعی ، محراقي ، په یوه محدوده فضأ پورې اړوند.

- Focal Distance

موضعی مسافه ، موضعی واټن ، محراقي فاصله لکه هغه مسافه چې د سترګې د حدقې (**Lens**) او خلفی ټکی پورې اړوند دئ هلته چې شعاع محراقی کېږی.

- Focal Epilepsy

موضعی صرعه ، محراقي اختلاجونه چې د له یوه موضعي برخې د ماغزو څخه منشه اخلی.

- Focal Infection

موضعی انتان.

- Focal Lesion

موضعی آفتونه ، موضعی نسجی تخریب ، محراقی ناروغی.

- Focal Myopathy

د موضعی عضلاتو اړوند ناروغی.

- Focal Neuropathy

موضعی عصبی ناروغتیاوی.

- Focal Pain

موضعی درد ، هغه ډول چې نه خپرېږی .

- Focal Point

موضعی ټکي ، هغه څوک چې موضعی او مرکزی رول لری.

- Focal Symptoms

موضعی کلینیکی نښې نښانې.

Focalization

موضعی کول ، محراقی کول.

Focalize

محراقی کېدل ، موضعی کېدل.

Focus

1- فوکس، مرکز، محراق، د تقاطع ځای ، دعدسیې څخه تر هغی ټکي (نقطې) پورې فاصله چه هلته وړانګې سره یو ځای کیږی، 2- مرکزی ټکی، ذزیات فعالیت سیمه یا ټکئ منشاء مبداء، متمرکزه کول، محراق ته برابرول، فوکس کول، میزانو (دعدسیې)، ګڼه شمېره یې (**Foci**) بلل شی ، د (**Focuse**) په اړوند.

- Epileptogenic Focus

صرعوی محراق ،د ماغزو هغه محراق چې صرعوی تشنج یا اختلاج رامنځ ته کړی.

- Ghon Focus

د سږو په پارانشیم کې اولیه ضایعه چې د ماشومانو په ابتدائي نری رنځ ناروغی کې لیدله شی.

احتمالی مرحله چې په الکتروکارډیوګرام کې د بطینی انقباضونو شمېر چې (**250 /Minute**) څله ته رسېږی.

Fluttering

فلوټری کېدنه ، د فلوټر منځ ته راتګ.

Fluvastatin

فلوواستاتین ، یو ډول د کولیسترول غوړپنی مادې ضد درمل دی چې په هایپرکولسترولیمیا کې پکار وړل شی.

- Fluvastatin Sodium

فلوواستاتین سوډیمی مالګي بڼې لرونکي درمل.

Fluvoxamine

فلووکسامین .

- Fluvoxamine Maleate

فلووکسامین مالیټ مالګي بڼې طبی جوړښت چې طبی استعمال لری.

Flux

له حده څخه زیات افراز، جریان، بهېدنه، پر له پسې او ښتون، دبدن څخه په غیر عادی تو ګه دمایعاتو وتنه، یو ماده ده چه دفلزاتو اوکانی موادو دیوه له بله سره ویلیدلو دپاره مر سته کوی. کوشیر کول، سره ګډول، تصفیه کول.

Fluxion

بهېدنه، تغییر.

Fly

مچ او مچ ته ورته الو تونکی حشري (لکه غوماشه، پتنګ او داسی نور). په ماهی ګیری کی یو شی چه مچ ته ورته وی او په چنګك پورې تړل کیږی. الوتل، تښتیدل، په بیړه حرکت کول، رپول، په الو تکه کی تلل. الورول، طیاره چلول، په هوا کول، چاودل. دبیرغ ازاده برخه (بیس بال) توپ چه په هوا کی وهل شوی وی.

- Tsetse Fly

د (**Glosina Pulpalis**) لغت وګوری.

Fm

دفرمیوم (**Fermium**) عنصر لپاره کیمیاوی لنډه نښه ده.

FMN

فلاوین مونونوکلیوټایډ (**Flavin Mononuleotide**) لپاره لنډه نښه ده.

Foal

داس او داس کورنی. بیان. بیان زیږول.

Focal

- Focus Group
تر بحث لاندې ډله یا ګروپ، د ترځېرنې لاندې یوه ډله.

Focusing
محراقی کېدل، په یوه ټکی کې د موضعی کېدو او راغونډېدلو پروسه.

- Isielectric Focusing
یو ډول الکتروفوریز چې په هغه کې په یوه بریښنائی میدان کې د خو پروټینونو مخلوط اینبودل کېږی او پروټینونه د خپل (pH) پر بنسټ یو تر بله توپیر کېږی. هر پروټین په یوه داسې جیلی ډوله ماده کې چې پدې موخه چمتو شوېدئ تر هغه وخته پورې چې (pH) یې ایزوالکتریک ټکی ته نه وی رسېدلې خوځښت او حرکت نه کوی.

Foam
ځګ، کف. ځګ کول، کف کول.

Foamy
ځګن. ځګ درلودونکې.

Fodder
دحیواناتو وچه خورا که ، وچ وانبه، پروړ، بُوس، ببده.

Foe -
دا یومختاړې دئ او هغه لغتونه او کلمې چې په (Fe) پیل کېږی ورته معنی ورکوی.

Foetal
جنینی ، جنین Fetal ، د جنین اړوند صفت.

Foetor
جنینی Fetor ، رشیمي.

Foetoscope
د جنین دځېرنې او کتنې اړوند تشخیصیه وسیله ، د (Fetoscope) په انډول.

Foetoscopy
د فیټوسکوپ پذریعه د کتنې کړنلاره تر سره کول، د (Fetoscopy) په انډول.

Foetus
جنین . د ماشوم د مور په ګېډه دوره د دوه میاشتو (اته اونیو) څخه وروسته تر زېرېدنې پورې موده د جنین اصطلاح پکار وړل شی، د (Fetus) په انډول.

Fog
یو کلوئیدی سیستم په هغه کې واسطه ماده د ګاز له جنسه وی او ذرې دمایع له جنسه وی، دُمه ، دماغی اختلال ، تنول، مبهم کول.

Fogging
په اوفتالمولوژی کې په استیګماتیزم کې د نور د انکسار د ستونزو د ټاکنې لپاره طریقه ده.

Foggy
تت، مبهم، بډلی.

Fogy
زوړ خیال، زوړ فکره، دوخته څخه وروسته پاته.

Foible
اخلاقی کمزورتیا ، ناکامی، عیب.

Foil
دپره نری (نازکه) فلزی پاڼه.

Folacin
فولاسین ، د فولیک اسید (Folic Acid) په انډول.

Folate
د فولیک اسیدونو انیونی بنه روتینی موادو د ډلې لپاره کاربړی چې د ال- ګلوتامیک اسید سره مزدوجه وی.

Fold
کُنول (قات کول)، غبرګول، احاطه کول. قات، غبرګ. شپول، رمه. په شپول کی پنډول.

- Amniotic Fold
د امنیوتیک غشأ ، د امنیون څخه تاوراتاو شوې غشأ (ژی) چې جنین په ځان کې رانغاړی.

- Aryepiglotic Fold
یّه مخاطی غشأ کې چین خوړلې برخه چې په هر لوري کې د اپی ګلوټ په بهرنی ژی باندې تاوشوې او تر اریتنوئید غضروف پورې غزیږی.

- Costocolonic Fold
فرینیکو کولیک لیګامنټ ، ضلعی کولونې قات.

- Gastrid's Fold
د معدې په غشأ کې د مخاطی چینولونو ډله.

- Gluteal Fold
هغه مېزابه چې ورون له کوناټیو څخه بېلوی.

- Head Fold
د ودې په حال کې جنین (رشیم) په رأسی نهایت کې د بلاستودرمي چین شتون.

- Lacrimal Fold
د نازولاکریمال مجرأ په لاندینی منفذ کې د مخاطی غشأ چین ته ویل شی.

- Marshall's Fold
پاتې شونې (ویستیجیل) فولډ دئ.

- **Folie G'emerllaire**
په غبرګو لوټو کې دپه یوه وخت کې د سایکوز پیښېدل.
- **Folie Raisonnate**
د سایکوزونو هزیانی لرونکې بڼه.

Folium
1- پاڼه ، برګه. **2**- نری (نازکه) طبقه په ځانګړې توګه و ماغزو په قشر کې ، **3**- (هندسې له مخې) د فولیوم منحني ، پاڼیزه منحني ، پاڼې ته ورته لیندی (قوس) جوړښت .

Folk
خلك، وګړی، ډله، قوم، خپلوان،اولس، اولسی، خلقی.

Follicle
ویښتان له حجرو څخه راوتلی دی ،حجره ،کوچنی مرغړی، فولیکل یوه وړه او ګوچنی نری لاره ، د ویښته ببخ یوساک یا بند جوف.

- **Atretic Follicle**
په اتریزیا اخته فولیکل، یو تاو راتاو د هګۍ خالې فولیکل.
- **Gastric Follicle**
د معدې په مخاطی غشأ کې لمفوئیډي کتلې.
- **Graffian Follicle**
ګرافین فولیکول ، د هګۍ خالې وزیکولار فولیکل.
- **Hair Follicle**
د ویښتانو فولیکل،د اپیډرم د ټیوبی ننوتلتیاوو څخه هره یوه چې د ویښته
رېښه پکې خای لری او د ویښته ودې لامل ګرځي.
- **Intestinal Follicle**
د کولمو اړوند فولیکولونه.
- **Lingual Follicle**
د ژبې پّه رېښه د لمفوئید نسج نودولر کتلې چې ژبنی ټانسل جوړوی.
- **Lymphoid Follicle**
د لمفاوی غدواتو په قشر کې د فعالیت او تکثیر په حال کې د لمفوسایتونو ټولګه. د معدې –معائی جهاز کې په مخاطی غشأ کې لمفوئیډي کوچنی غونډې کتلې چې پّ منفرد او یا ډله ائیز ډول لیدل کېږی.
- **Mature Follicle**
د رشیمې دورې یو رسېدلې او پوخ فولیکل د شپږمه ورځ وده مومی.
- **Naboth's Follicle**
هغه سیستي جوړښتونه چې د رحم د غاړې د مخاطی غشأ د غدواتو او مجراګانو د بندښت له امله منځ ته راځی او د هغوی د اتساع څخه وروسته د افرازاتو احتباس رامنځ ته کېږی.

- **Medullary Fold**
(میډولار) فولډ ، نیورال فولد وګوری.
- **Mesonephric Fold**
یو رشیمې میزونفریک فولډ دئ په (**Ridge**) کې شرحه راځی.
- **Nail Fold**
د نوک چین، د نوک د قاعدې په شاوخوا کې د لاس د ورغوی دسطحې د پوستکی څخه جوړ دئ.
- **Neural Fold**
هغه دوه چینونه څخه هر یو چې د عصبی پاڼې په هر طرف کې خای لری او عصبی ټیوب رامنځ ته کوی .
- **Semilunar Fold of Conjunctiva**
د سترګې په داخلي زاویه کې مخاطی چین .
- **Skin Fold**
جلدی چین ، د پستکی اړوند کوتونه / قاتونه .
- **Tail Fold**
د رشیم د لکی یا پایلې برخې چین.
- **Urogenital Fold**
په جنینی دوره کې بولی تناسلی چین .
- **Ventricular Fold**
بطینی فولډ (چین).
- **Vestibular Fold**
کاذب صوتی چین .
- **Vocal Fold**
واقعی صوتی چین .

Folder
دوسیه. فولډر ، غبرګ کونکې .

Folic Acid
فولیک اسیډ ، دا یو ډول ویتامین دئ چې د (**Vitamin B Complex**) سره ګډ وي او په (شېدو ، خیګر ، تومنه او شنه سابه) کې موندل شی چې د وینې دسروکریواتو ، آمینواسیدونو او (**DNA**) جوړېدنې په لړ کې پکار ېږی د وینه لږې په درملنه کې ورکول شی.

Folie
سایکوز، لېونتوب.

- **Folie À Deux**
داسې حالت چې هغه خلکو کې ګډ ژوند کوی روانی اختلال (**Psychological Disorder**) منځ ته راځي.
- **Folie Du Doute**
په ډېرو جزئی او بې اهمیته تصمیمونو کې مرضی ناتوانی.
- **Folie Du Porquoi**
مداومه مرضی روحي پوښتنه.

Folliculin

دا یو (Oestrone) چې یو (Oestrogen) هورمون درمل دئ.

Folliculitis

د فولیکولونو التهاب خاصتاً د ویښتانو فولیکل التهاب.

- **Bar-Bar Folliculitis**

دا هغه ډول فولیکولیت دئ چې د ږیرې خریلو وروسته د ویښتانو په ببخ کې منځ ته راځی.

- **Decalvans Folliculitis**

تقیحی فولیکولیت چې د تندب(سکار) لامل ګرځی او اخته برخې ویښتان په تلپاتې ډول له منځه ځی.

- **Keloidal Folliculitis**

د دایمې سختو فولیکولی پاپولونو د جوړېدو سره مل د غاړې په خلفی سیمه کې د ویښتانو د فولیکل التهاب منځ چې د وصفی کلوئیدی پلاکونو د پیدایښت موجب ګرځی.

- **Ulerthematosar Reticular Folliculitis**

هغه حالت چې پکې ګڼ شمېر کوچنی اټروفیک سیمې چې د نریو لیکو په واسطه سره ښلیږی پر مخ باندې رابرسېره کېږی. شبکوی فولیکولیت.

- **Varioliformis Folliculitis**

د مخ ځوانکې ، دمخ اکنې .دمخ د ویښتانو د ببخ التهاب .

Folliculosis

د ګڼ شمېر لمفاوی فولیکولونو جوړېدنه.

Folliculus

فولیکولی ، د ویښته د ببخ فولیکول.

Follow

د درملنې په لړ کې د ناروغ تعقیبول، اطاعت کول، منتج کېدل، تقلید کول، منل، ځارل، درک کول.

- **Follow Up**

تعقیبول ، تقلید کول ، ځارل، د ناروغانو تعقیب کول د درملنې او اختلاطونو د اغېزو پېژندنې په موخه.

Follower

پَیرو ، شاګرد ، مرید ، تابع، تعقیب کوونکې ، ځارونکې کس.

Following

پیروان، متعلقین، لاندنی، په لاندې ډول.

- **Following -Up**

د (Follow Up) په انډول.

Foley Catheter

د فولې کتېتر ، هغه پیپ چې د تشو متیازو تخلې لپاره پکار وړل شی.

- **Nabothian Follicle**

د (Naboth's Follicle) په انډول.

- **Ovarian Follicle**

د ودې په مرحله کې هګۍ ، د هګۍ ځالې نا بالغه فولیکلونه چې په څو مرحلو باندې اوښتنه کوی او دهغې په ښاوخواکې د اپیتلیائي حجرو ناڅیزه شمېر په لمن کې رانغاړی، د (Primary Follicle) په انډول.

- **Ovarian Vesicular Follicle**

د هګۍ ځالې ویزیکولار فولیکلونه، د ګرافین فولیکل، د هغه حجروی مایع لرونکې بالغه فولیکولونه چې د فولیکولی جوف دننه هګۍ د کومولوس او فوروس حجرو په واسطه احاطه شوی، د (Vesicular Follicle) په انډول.

- **Primary Follicle**

د (Ovarian Follicle) په انډول.

- **Primordial Follicle**

د رشیمی ودې لومړنې پړاو (مرحله) فولیکل بلل شی. هګۍ ځالې فولیکولونه چې د حجروی طبقې پذریعه په واسطه احاطه شوی.

- **Primary Follicle**

د رشیمی ودې لومړنې پړاو (مرحله) څخه وروسته ابتدائي فولیکل. بدوی فولیکول.

- **Sebaceous Follicle**

د نسبتاً لویې سباسې غدې لرونکې د ویښته فولیکل.

- **Solitary Follicle**

د کولون په مخاط کې د لمفوئید نسج راغونډ پدو سیمې ، په کوچنیو کولمو په مخاط او تحت المخاط کې لمفاوی کوچنی فولیکولونه.

- **Vesicular Follicle**

د (Ovarian Vesicular Follicle) په انډول.

- **Follicle -Stimulating Hormone**

د فولیکل تنبه کونکې هورمون چې د نخامی غدې (Pituitary Gland) څخه افرازېږی او په هګۍ ځاله کې د هګۍ (Ova)او مرغېږی کې سپرم (Sperm) تولید تنبه کوی د (FSH) لنډه نښه لری.

Follicular

فولیکولی ، د فولیکول (Follicles) اړوند صفت، د (Folliculate) په انډول

- **Follicular Tumour**

فولدفولیکول اړوند ټومور.

Folliculate

فولیکولی ، حجره لرونکې ، کڅوړه (کیسه) لرونکې.

Folliculi

د فولیکول ګڼ شمېر . فولیکولونه.

Folly

حماقت، بې عقلی، دبې عقلی کار ، بې عقله مفکوره.

Foment

پارول، لمسول، تحریک کول، په تودو (ټرمو) اوبو مینځل، تود ساتل.

Fomentation

پارېدنه، تحریک، (په فزیوتراپی کې) د ګرم او تودوخی رطوبت په مرسته درملنه ، د (**Poultice**) په انډول.

Fomes

یو بې ځانه شئ چې د پتوجن عامل لېږدوی.

Fomites

یو بې ځانه شئ (**Objects**) چې د ساری ناروغیو سره د تماس وروسته د پتوجن عامل لېږدوی.

Fond

مینه ناک، لیوال، مشتاق، هغه چه یوه خبره ژرمنی.

Fondle

نازورکول، په غېږکی نیول، مینه ورسره کول.

Fontanelle

فونتانیل(**Fontanel**) ، د نوې زېږېدلی ماشومانو په سر یا کوپړی کې یوه وازه برخه (شېردهنه) چې د هډوکو د درزونو (سوچوراګانو) د تلاقی په ځای کې د پاتې شونو فضاً ګانو په ځیر نرم ځای چې دا برخه د اته لسو (18) میاشتو عمر پورې ښائي پاتې شی.

Fonticulus

فونتانیل (**Fontanel**) چې ګڼ شمېر ئې(**Fonticuli**) بلل شی.

Food

خواړه، هغه شی چه دبل شی دودې اوانکشاف دپاره استعمالیږی.

- Food Allergen

غذائي الرژی لرونکې توکي، د خوراک هغه برخه چې حساسیت پېښ کړی.

- Food Allergy

د ځانګړی خوراکی موادو په وړاندې غېرګون (حساسیت) ښودنه ده چې ښائی د ژوند تهدید کوونکې انافیلاکتیک شاک منځ ته راوړی.

- Food Canal

هضمی جهاز (له خولې څخه تر مقعده)د خوراکی موادو تېرونکی کانال هلته چې غذا هضمیږی.

- Food Intolerance

د غذا د نه تحمل حالت چې یو لړ غېرګونونه منځ ته راځی.

- Food Poisoning

غذائي مسمومیت ، د بوتولیزم باکتریا له کبله کانګې او نس ناستی ناروغی منځ ته راځی.

- Food Stuff

هر شی چه دخوړو په حیث استعمالیږی، غذایی مواد: هغه مواد چه پروتین، قند ، شحمیات او نورو لری.

Fool

بې عقل، ساده، بېړا، مسخره. بې عقله کول، غولول، خرکول، مسخره کول.

Foolish

بې عقل، ساده، بېړا ، مسخره.

Foot

پښه، د لاندینې غړی انتهائی برخه، د طول یا اوږدوالي اندازې نیولو واحد فُټ چې (12انچه) دئ ، پای یا ببخ، پښې ته ورته جوړښت ، قدم وهل، نڅاکول، نڅیدل.

- Athletes' Foot

ورزشکاره پښه .

- Club Foot

په ولادي توګه د پښې کوږوالی (**Talipes Foot**) ته ویل شی.

- Dangle Foot

د پرینیوس عصب د ضایعی له کبله د پښې د قدم برخې سقوطی بڼه درلودل چې ناروغ نشی کولای د قدم برخه د په لاره تګ پرمهال بشپړ اوچت کاندي.

- Foot Drop

د پښو پل فلج .

- Footfall

دقدم د پل غږ ، دقدم ږغ ، د پښې دربېدو غږ.

- Flat Foot

همواره پښه.د پښې صافه او همواره تله.

- Footless

بې پښو ، بې اساسه، بې اغېزی، بېړا.

- Madura Foot

د (**Maduromycosis**) ناروغی. کې د قدم برخې اخته کېدنه.

- March Foot

د پښې دردناکه پرسوب ، معمولاً د میتاتارس هډوکو له کسرونو سره یوځای په شدید ورزشونو کې منځ ته راځی.

- Pericapilar Foot

د (**Sucker Foot**) په انډول.

- Perivascular Foot

د (**Sucker Foot**) په انډول.

- **Foot Plate**
د رکابی هډوکی مسطح برخه چې د منځنی غوږ د داخلی جدار په بیضوی والف باندې خای لری.
- **Footprint**
دپښې پل ، دپښې نخش.
- **Sucker Foot**
دمرکزی عصبی سیستم د شعریه رګونو د جدار په لوړې د استروسایتونو د سایتوپلازمی بارزو انتهائی پراخوالې.
- **Talipes Foot**
د (**Club Foot**) په انډول.
- **Trench Foot**
د پښې د یخ وهلې بڼې په څېر حالت چې په اوبو کې د پوستکی د اوږد مهالی پاتې کېدو په اثر ایجادېږی.

Footing
دپښې دتکیې خای، دپښې ایښودلو دپاره خای، د چا موقف دبل په مقابل کی، موقف، وضع، جمع.

Foramen
ثقبه ،فوحه ، یو سوری ، یو کانال په خانګړی ډول د یوه هډوکېزنسج داخل ته.

- **Aortic Foramen**
د ابهر فوحه ، د ابهر شریان تېرېدنې لپاره په حجاب حاجز کې سوری.
- **Apical Foramen Of Tooth**
د غاښ د ریښې په څوکه کې یو کوچنی منفذ چې ورڅخه رګونه اوعصب تېرېږی .
- **Auditory Foramen External**
سامعوی دباندینی سوری ، د غوږ بهرنې سوری.
- **Auditory Foramen Internal**
د پتروس هډوکي له داخل د سامعوی او وجهی اعصابو تېرېدلو خای.
- **Cecal Foramen**
د (**Foramen Cecum**) په انډول.
- **Foramen Cecum**
د کریستافرونټال او کریستاګالی تر منځ ړوند منفذ .د منځنی مېزابې پرمخ د ژبې پر خلفی سطحه کې کې ننوتلتیا.
- **Cotyloid Foramen**
د اسیتابولوم د ژی او عرضانی لیګامنټ تر منځ د تېرېدلو خای.
- **Epiploic Foramen**
د پریتوانی د دوه ساکونو تر منځ رابطه سوری چې د پورتا هیپاټیس لاندې شا برخه کې دی.
- **Esophageal Foramen**
د مری د تېرېدلو لپاره په حجاب حاجز کې سوری.
- **Infraorbital Foramen**
د انفرااوربیتال شریان او عصب لپاره د تېرېدلو خای او سوری.
- **Intraventricular Foramen**
د ماغزو د(جنیی او درېیم) بطینونو تر منځ رابط سوری.
- **Intervertebral Foramen**
د رګونو او نخاع عصب تېرېدنې خای چې د ګاونډیو فقراتو (مهرو) د قاعدوې څنګونو د یو دبل په څنګ کې له خای نیولو څخه منځ ته راځی.
- **Key and Retzinous Foramen**
د ماغزو د څلورم بطین د جانبی ساکونو په نهایت کې منفذ چې د هغه له لارې د ماغزو بطینونه د تحت العنکبوتیه فضا سره اړیکه لری.
- **Lacerum Anterius Foramen**
د وتدی (سفینوئید) هډوکي د وزرونو تر منځ یو طولانی درز چې رګونه او اعصاب ورڅخه تېرېږی.
- **Magendie's Foramen**
د څلورم بطین د غولې په لاندینی برخه کې نیمګړتیا چې د ماغزو د بطینونو فضا او تحت العنکبوتیه فضا تر منځ اړیکه شمېرله کېږی.
- **Magnum Foramen**
د اوکسیپټال هډوکي د لاندینې برخې په قدام کې یو لوی سوری چې د سر د کوپرې او د ملا د تیر ترمنځ اړیکه جوړوی.
- **Mastoid Foramen**
د تیمپورال (صدغي) هډوکي د ماستوئید بارزې په څټ کې سوری.
- **Medullary Foramen**
د فقرې (مُهرې) د میلۍ ولار سوری.
- **Nutrient Foramen**
د هډوکي پر مخ د سوریو څخه هر یو چې د هډوکو د تغذیه کوونکي رګونه ورڅخه تېرېږی
- **Obturator Foramen**
د پوبیس او ایسکیوم هډوکي تر منځ لوی سوری .
- **Olfactory Foramen**
د اتموئید (غربالی) هډوکي د غلبیلی پاڼې د سوریو څخه هر یو سوری.
- **Optic Foramen**
د حجاج په جوف کې د بصری عصب او رګونو د تېریدنې لپاره سوری.
- **Ovale Foramen**
د زړه د اذینونو تر منځ جنیني منفذ ، د رګونو او اعصابو د تېرېدنې لپاره د سفینوئید هډوکي په لوی وزر کې موجود سوری.
- **Platine Foramen Anterior**
د تالو یا پلاټین هډوکي قدامی سوری.

- **Winslow Foramen**
د اپیپلوئیک سوري.
- **Zygomaticotemporal Foramen**
د زیګوماتیک هډوکي په تیمپورال سطحه باندې موجود سوري.

Forage
دغوا ګانو یاآسونو او نورو حیواناتو وانښه، داذوقی پیدا کولو هڅه په اذوقه پسی هڅه کول، اذوقه لاسته را وستل، اذوقه غلاکول.

Foramina
ګڼ شمیر سوری .

Foraminal
د سوری اړوند صفت.

Forbear
ډډه کول، ځان ژغورل،نیکه ګان، اسلاف، انا ، نیا ، نیکه، جد.

Force
هغه څه چې د حرکت لامل ګرځی نښه ئي (F) ده ، قوه، انرجی،ځواک او زور، طاعت تشدد ، اجبار ، اکراه ، قواوی ، مجبوره کول، تحمیل کول، بې پته کول، بې ناموسه کول.
- **Electromotive Force**
هغه قوه چې له یوه ټکي څخه تر بل ټکی پورې د بریښنایي بهیر برقرار کوی.
- **Force-feed**
په زور سره پرته له میل څخه غذا خوړل لکه د ټیوب پذریعه تغذیه.
- **Occlusal Force**
هغه قوه چې له یوپر بل پورتنې او لاندینی ژامنې د اینسودلو پر مهال رامنځ ته کېږی.
- **Reserve Force**
زېرمه شوې قوه، هغه اضافی انرژی د نارمل کار په تر سره کولو باندې زیاته وی په زړه کې هغه قوه چې د ورزش او فعالیت پر مهال د زړه د کار د زیاد بنت شونې کوی.
- **Van der Waals Force**
هغه نسبتاً کمزورې دلړې محدودې څخه جذبی قوه چې د اتومونو او مالیکولونو تر منځ شتون لری او یو له بل سره د غېر قطعی عضوی مرکبونو د پیوستون لامل ګرځی (هایدروفوبیک اسیډ).

Foreced
په زور سره ، زور موندلای ، فشار ی ، قوه ئي .
- **Foreced Diurase**
د زور له مخې د درملو پذریعه تشې متیازی کول بلل شی.
- **Forced Expiratory Volume**
هغه اعظمی اندازه هوا چې د ذفیر پر مهال په زوره خارجیږی لنډه

- **Platine Foramen Greater**
د تالو کانال لوی لاندینې سوري چې د تالو د دوه هډوکو د هر یې افقی پانې پر مخ لیدل کېږی او عصب او شریان ورڅخه تیریږی.
- **Petrygoplatine Foramen**
د تالو د لوی پتریګو پلاټین سوري.
- **Quadrate Foramen**
د اجوف وریدلپاره د تېرېدنې سوري په حجاب حاجز کې.
- **Rotundum Ossis Sphenoidalis Foramen**
د سفینوئید هډوکې په لوې وزر کې یو ګردې سوري چې د ترایجیمینال عصب ماګزیلاری څانګه ورڅخه تېرېږی.
- **Scarpa's Foramen**
د پورتنیو مخکینیو غاښونو په څټ برخه کې شته سوري چې د نازو پلاټین عصب ورڅخه تېرېږی .
- **Sphenoidplatine Foramen**
د تالو هډوکي د اوربیتال اوسفینوئید زوائیدو تر منځ موجوده فضأ چې د پزې د جوف د داخل ته پرانیستله کېږی او د سفینوپلاټین شریان او وریدور څخه تېرېږی .
- **Spinous Foramen**
د منځنې سحایاوی شریان د تېرېدلو د سفینوئید هډوکي وزر کې موجود سوري.
- **Stylomastoid Foramen**
د (Stylomastoid) بارزو تر منځ موجود سوري د وجهی عصب او ستآیلو مستوئید شریان ورڅخه تېرېږی .
- **Supra Orbital Foramen**
د وجهی وتدی هډوکې له داخل څخه د فوق الحجاج عصب او شریان تېریدلو ځای.
- **Thebesian Foramen**
د ښې دهلیز په جدارونو کې کوچني سوری چې د زړه د وریدونه د هغه له لارې خپله وینه ته سپاری.
- **Thyroid Foramen**
په تایروئید غضروف کې یو موقتی منفذ چې د څلورم او پنځم برانکیال غضروف د نیمګړی پیوستون ښوونه کوی.د اوبتوراتور سوري.
- **Vena Caval Foramen**
د اجوف وریدتېرېدنې لپاره په ډیافراګو کې سوري .
- **Vertebral Foramen**
د هر یوې فقری لوی او غټ سوري او نخاع ورڅخه تېرېږی .
- **Vesalius Foramen**
هغه سوري چې د سفینوئید هډوکي د بیضوی سوري په پرتله په داخلي وضعیت کې قرار لری او د کاورنو سینوس وریدورڅخه تېرېږی.
- **Veitbrecht's Foramen**
د اوږی د بند (مفصل) په کپسول کې سوري .

فورسپس.

- Keylland's Forceps
د زیږون پر مهال کارېدونکې د کیلاند کړنلاره پرې تر سره کېږی.

- Kocher Forceps
د نسجونو نیونکې د کړې منښوکې لرونکې سم او کوږ فورسپس دئ د ویني بهېدنې مخنیوی لپاره کارول شی.

- Leveret Forceps
د زیږون پر مهال کارېدونکې د د ولادی کانال د انحنا په پام کې نیولو سره یی تېغې یو څه کوږوالې لری او د زیږون کړنلاره پرې تر سره کېږی.

- Lowenberg's Forceps
د اډینوئید راویستلو لپاره کارېدونکې فورسپس.

- Major Forceps
لوی فورسپس ، د کارپوس کالوزوم وروستنې فیبرونه چې د سپیکولوم څخه تر اوکسیپُیټ لوبونو پورې غزېدلای شی.

- Minor Forceps
کوچنی فورسپس ، د کارپوس کالوزوم وروستنې فیبرونه چې د (Genu) څخه تر جبهې لوبونو پورې غزېدلای شی.

- Mosquito Forceps
داد ماشې د خولې په څېر څوکه لری او د عملیات په لړ کې د ویني بهیدنی مخنیوی لپاره کارول شی.

- Mouse-tooth Forceps
دا فورسپس چې تېغې یې د یو څو دانو غاښو درلودونکې دئ د موږک د خولې په څېر ورته دئ.

- Needle Holding Forceps
د تار لرونکې ستنې نیولو لپاره ځانګړې فورسپس دئ.

- Obstetrical Forceps
د زیږون لپاره د کانال څخه د جنین د سر راویستلو کې مرسته کوی.

- Pean's Forceps
دا یو ډول د ویني مخنیوی کونکې فورسپس دئ هیموستاز س منځ ته راوړی.

- Right angle Forceps
د کړې او ښی زاویی لرونکې فورسپس.

- Rongeur Forceps
دا ډول فورسپس د هډوکو په غوڅولو کې پکارېږی لکه د طوطی په څېر ورته منښوکه لری.

- Sequesterum Forceps
دا ډول فورسپس د هډوکو د سکویستر د راویستلو لپاره کارول شی چې قوي او پیاوړې فورسپس دئ.

- Speculum Forceps
دا ډول فورسپس اوږده بڼه لری چې د سپیکولوم له منځ څخه وردننه او تړې کار اخیستل شی.

نښه یې (FEV) ده.

Forceps

نوسی ،پنس، کوچنی انبور. یوه داسې د د دوه ژې او لاستی لرونکې وسیله چې د جراحی عملیاتونو کې تړې د انساجو نیولو کې کار اخیستل شی.

- Alligator Forceps
د بیاوړو غاښونو لرونکې ژیو څېښتن فورسپس.

- Allis Forceps
دا ډول فورسپس چې څوکه یې پلنه او غاښی لري د جراحی عملیات پرمهال کارېږی.

- Artery Forceps
د سور رګې (شریان) نیونکې فورسپس د جراحی عملیات پرمهال د وینې ودرولو لپاره کارېږی.

- Axis Traction Forceps
دا د زیږون تر سره کولو لپاره فورسپس دئ چې د حوصلې د محور په لورې کشش واردوی.

- Bayonet Forceps
اوږد نیزه لرونکې فورسپس چې تېغې یی د لاستی څخه ډېره فاصله لری.

- Chamberlen Forceps
د ولادی فورسپس یوډول چې لومړنې بڼه لرونکې فورسپس.

- Clamp Forceps
دافورسپس یوډول کلامپ دې د شریانې وینه بهیدنې د مخنیوی په موخه کارول شی.

- Dental Forceps
د غاښونو ویستلو په موخه کارېدونکې فورسپس دئ.

- Dirty Forceps
د ناپاکو څیزونو اوچتولو لپاره فورسپس چې دېر مهال په عملیات خونه کې کارېږی.

- Dressing Forceps
د پانسکمان لپاره کارېدونکې فورسپس چې د بیاتي (قیچې) په څېر د تېغو لرونکې دئ.

- Fixation Forceps
دا ډول د چې د جراحی پر مهال د یوې برخې د ثابت ساتنې لپاره پکارېږی.

- Forceps Delivery Forceps
د فورسپس پذریعه د زیږون لپاره جوړ شوې فورسپس چې د ماشوم زېږونې کې مرسته کوی.

- Intestinal Forceps
د کولمو د غوڅولو پر مهال د کولمو خاص ډول کلامپ دئ.

- Kidney Forceps
د بڼوډې (پښتورګې) نیولو او غوڅولو پر مهال کارېدونکې کوږ

- **Sponge holding Forceps**
دا ډول چې د خپلو تېغو په پایله کې دانګریزی اته (8) په څېر کړی لری او د عملیات څخه د مخه د عملیاتې برخې په انتي سپټیکو پذریعه سفنج یا ګاز بریښنیول شی اود پاکولو په موخه کاریږی .
- **Tenaculum Forceps**
دا ډول چې د خپلو تېغو په پایله کې یوه تېرَه (تېزه) کړی لری.
- **Tissue Forceps**
د انساجو نیونکې فورسپس د وینې بهېدنې مخنیوی لپاره پکاریږی .
- **Torsion Forceps**
دا ډول د وینې بهېدنې مخنیوی لپاره د شریان د تاوولو په موخه پکاریږی .
- **Vossela Forceps**
د نیولو او تخته کولو لپاره یو ډول فورسپس چې په خپلو تېغو کې ګڼ شمېر غاښونه لری.
- **Willett Forceps**
دا ډول فورسپس د پلاسنتا پریویا په حالت کې د وینې بهېدنې مخنیوی لپاره د شریان لپاسه د فشار راوستلو په موخه پکاریږی .

Forcepate
د فورسپس په څېر بڼې لرل.

Fore
دمخه، مخکینی، مخ ته، په مخکی. مخ.

Fore -
دا یو مختاړې دئ او د قدام (مخکې) معنی ورکوی.

Forearm
لیځ، لیځه. د لاس د څنګل څخه تر مړوند پورې برخې ته ویل شی.
- **Forearm Bones**
د لېځې هډوکي د زند (**Ulna**) او کعبرې (**Radius**) هډوکي.

Forebear
انا ، نیا ، نیکه، جد.

Forebode
دیوې پېښې له پېښېدو دمخه خبرېدنه یا خبرونه ،د (**Foreboding**) په اټکل.

Forebrain
د ایمبریو د دماغ قدامی برخه . د دماغ هغه برخه چې د ماغزو تر ټولو قدامی درې ګونو وزیکولونو څخه ډیانسفالون او تلانسفالون جوړوی ، دماغزو د لومړنیو دریو وزیکولونو تر منځ تر ټولو مخکې برخه.

Foreconscious
د پریکانشیوس (**Preconscious**) حالت.

Forefather
نیکه، جد.

Forefinger
په غټه (ټته، کټه **Thumb**) ګوته پسی دوهمه ګوته. د لاس لومړی ګوته (شهادت) ګوته.

Forefoot
د څارویومخکینی پښوڅخه یوه پښه ، د پښې مخکې برخه.

Forefront
دهر شی تر مخ را وتلې برخه وړاندینی برخه.

Foreground
د کلښنیکی تظاهراتو د صحنې هغه برخه چه لومړی ځل دسړی تر ستر ګو کیږی (پیش منظر).

Foregut
د رشیمی اندودرمال کانال چې د زیږې کڅوړې د ساقې د اتصال د ځای په پرتله په رأسی وضعیت کې ځای لری او د (بلعوم ، سږی ، مری ، معدې ، یني او کوچنیو کولمو د یوې برخې لویی برخې) په څېر جوړښتونه منځ ته راوړی.

Forehead
تندی، ټنډه، وچولی.د سر مخکینی برخه.

Foreign
دباندینی، خارجی، ورچنی، پردی، دبل وطن.

Foreleg
څارویو مخکینی پښه (دځلور بولو).

Forelock
پېکی، بوچکی، کاکل.

Foremost
لومړنی، او لین، ډېرلوړ، لومړی لمبو، خوراښه.

Forensic
عدلی، دبحث وړ، په قانونی چارو پورې اړوند ، قضائي .
- **Forensic Medicine**
عدلی طب څانګه .

Foreplay
شهوت پارونکې لویی او خوځښتونه چې د مقاربت تر مخه تر سره کېږی.

Forequarter
دحلال شوی غویی یا پسه ټټر یامخکینی برخه.

Fore skin
پریپیوس (Prepuce)، د قضیب د پوښونکي پوستکي هغه برخه چې د زیږون پر مهال موجود وی او تر هغه وروسته د سنتی پواسطه غوڅېږی.

Forewarn
پخوا له خطره خبرول سریزه، مقدمه، دیباچه.

Formula
فورمول ، په کیمیايي ډول سره هر ډول تعامل کې د فورمول له مخې (شمېرو او تورو د ترکیب او اټومول لکه H_2SO_4) څرګندونه کېږی ، قاعده، طریقه چې درمل د هغه له مخې جوړېږی، اصل، اصول، لاره ، د ګڼ شمېر لپاره يې (Formulas یا Formulae) لیکل شی.

- **Chemical Formula**
کیمیاوی فورمول، د تورو او شمېرو څخه جوړ سمبول چې د یوه درمل د یوې کېمیاوی مادې د اټومولیز جوړښت یا د یوې پایلې د لاس ته راوړنې د پروسې ښوونه کوی.

- **Dental Formula**
د غاښونو د ځانګړو نښو یّه کارولو سره په ژامنو کې د غاښونو د قرار نیولو په طرز کې د هغو د شمېر ښوونه کوی . هغه توری چې د ببلابېلو غاښونو د ډولونو ښودنه کوی لکه د (I2/2C1/1P2/2M3/3) چې هر عدد په پورتنۍ شمېر د پورته ژامنې شمېره او ښکتنۍ شمېر يې د غاښونو شمېر په ښکته ژامنه کې څرګندوی .

- **Empirical Formula**
یو ډول کیمیاوی فورمول چې په یوه مرکب کښې د موجود هر عنصر ځانګړنې ښیي.

- **Molicualr Formula**
یو ډول کیمیاوی فورمول چې د پام وړ مادې په مالیکول کې د عنصرونو د هر اټوم شمېر د هغه د عناصرو تر منځ د رابطې د ډول له ښودلو پرته ښیي.

- **Spatial Formula**
یو ډول کیمیاوی فورمول چې داتومونو دشمېر لپاره ، د تر منځ د رابطې نوعیت ، او یو دبل په پرتله د اتومونو د فضائی قرار نیونې وضعیت ښیي.

- **Stereochemical Formula**
د (Spatial Formula) په اټومول.

- **Structural Formula**
یو ډول کیمیاوی فورمول چې د هر عنصر د اتومونو شمېر جوړښت څرګندوی او دهغوی د قرار نیونې وضعیت او د پام وړ مادې یوه مالیکول کې د هغوی تر منځ د رابطو نوعیت ښیي.

- **Vertebral Formula**
د ملا د تیر په هره ناحیه کې د مهرو (فقراتو) د شمېر ښودنه د انسان د ملاتیر فورمول ($C_7T_{12}L_5Sd_4=33$) دئ.

Formulary
د فورمولونو د ډولونو ډله یا کتاب چې اکثراً د طبی نومونو لپاره پکار وړل شی.

- **National Furmolary**
د ملی فورمولونو ډله.

Formulate
دفارمول په شکل را وړل، پراصولو برابرول، په فارمول برابرول، په فارمولی ډول لنډول، برابرول، په فورمولی بڼه بیان او سمول.

Formulation
فارمول جوړونه، قانون جوړونه ، فارمول.

- **American Law Institute Formolation**
د امریکا د قانون جوړولو د انیستیټوټ یوه برخه چې وائي ، که چېری یو شخص د ذهنی ناروغی یا هر ډول داسې نیمګړتیا له کبله په یوه جنایت پوري کړي چې د جنائي کار د ناسموالی څخه د شخص د خبرتیا مخه ډب کوی ، د قضأ له پلوه د تر سره شوی جرم مسؤلیت پر غاړه نلری.

Formyl
د فارمیک اسیډ یا آزاد راډیکال (H.C:O-, HCO).

Fornication
زنا ، غووه، بد لمنتوب، کاسیر توب (دمجرد پاره پکار وړل شی).

Fornix
یولینډی ته ورته جوړښت یا ورڅخه زېرنده ګنبذي فضأ، مغزی فورنیکس ، د مقوس فیبرونو له دوه ډلو څخه هر یو چې د کارپوس کالوزوم لاندې سره نښلی او دوه ستونونه رامنځ ته کوی، مهبلی فضأ فورنیکس چې د رحم سرویکس او مهبل تر منځ وی.

- **Fornix Cerebri**
مغزی (White Matter)فورنیکس ، د مقوس فیبرونو له دوه ډلو څخه چې د (Hippocampus) او (Hypothalamus) تر منځ پرته ده.

Forsake
پرېښښوول، تر کول، خوشی کول، لاس اخیستل (له) اېله کول.

Fortification
پیاوړي کول ،استحکام، تیاری، ټینګوالی، سنګر نیونه، څو کی نیونه.

ننوتلتیا.

- Digital Fossa

تروکانټیریک جوف،فخذی کړی، د ګېډې په منځني جدار کې ننوتلتیا چې د جانبی ثروی غونجې (چین) په پرتله په وحشی (جنبی) وضعیت کې ځای لری.

- Doudenojejunal Fossa

دهغه دوه صفاقی فضاګانو څخه هر یوه چې د اثناعشر د سفلی چین په څټ کې او بله د یوه د علوی چین په څټ کې ځای لری.

- Ethmoid Fossa

د ایتموئید (غربالی) هډوکی په غلبیلی پانه کې میزابه چې د شاموی پیاز د ځای په ځای کېدو سیمه ده.

- Hyaloid Fossa

د عدسیې د شته والی له کبله د زجاجي مایع په قدام کې ننوتي برخه.

- Hypophysal Fossa

په وتدی (سفینوئید) هډوکی کې شته نوتلتیا چې د هایپوفېز (نخامي) غدې ځای بلل شی. د سیلاتورسیکا ژوره.

- Iliaca Fossa

د ایلیاک برخې حفره د ګېډې جدار په ویشنه کې. یوه مقعره سطحه چې د ایلیوم د وزرونو لو یه برخه یې خان ته خانګړې کړیده او د ایلیاک عضلاتو د اتصال ځای دی.

- Incisive Fossa of Maxilla

د مخکینیو غاښونو برسېره د پورتنی ژامنې په قدامی سطحه کې یوه کوچنی ننوتي ژوره حفره بلل شی.

- Intraspinatus Fossa

د کتف (سکاپولا) د خلفی سطحې دسپینا بارزې لاندې موجوده نسبتاً مقعره لویه سطحه ده.

- Intratemporal Fossa

د زایګوماتیک لیندی (قوس) پر مخ یوه نامنظمه ژوره.

- Ischioanal Fossa

د حوصلی ډیافراګم او لاندې پوستکي تر منځ یوه بالقوه فضأ . دیورجنیتال حجاب او حوصلی ډیافراګم تر منځ د یوه متحول واټن لرونکې منځنی فضأ .

- Ischiorectal Fossa

د (**Ischioanal Fossa**) په انډول.

- Jobert's Fossa

په پوپلیتیال سیمه کې یوه ژوره چې لویه اډکتور (شېدې کوونکې) فوسا ده چې (ګراسیلین عضله او سارتوریوس عضله) یې احاطه کړې ده.

- Lacrimal Fossa

د اوښکو (اشکیه) د ځای نیولو لپاره ننوتي کوچنی ژوره چې د اوربیت په چت کې موقعیت لری.

- Mandibular Fossa

په صدغی (تیمپورال) هډوکې ننوتي ژوره چې د لاندینی ژامنې

- Fortification Figures

د رنګونو د روښانه بڼه چې د نیمسری (**Migraine**) ناروغی کې د حملې څخه دمخه (**Aura**) یوه منظره جوړوی.

Fortified

قوی شوې، پیا و ړی ، ډبل شوی، دفاع ته چمتو ، سمبالول شوې.

Fortify

قوی کول، پیا و ړی کول، زور ور کول، دفاع ته چمتو کول، تیاری نیول، سمبالول، محکمول.

Fortitude

تحمل، زغم، ثابت، ودرېدنه.

Foscarnet

یو ویروس ضد او پېزوانونکې (معلق ساتونکی) درمل چې چې سوډیمي ملګیزه بڼه د معافیتي نیمګړتیا (**AIDS**) اخته کسانو کې د (**CMV ,Herpes Viruses**) ناروغی اخته خلکو چې د (**Acyclovir**) په وړاندې مقاوم دی د درملنې په موخه کارېږی.

Fossa

حفره، یو ژور غالی یا کانال ، په اناتومیک نوم ایښودنه کې په پوستکي او هډوکو کې یو ژوره یا دننه ننوتي فضأ.

- Acetabular Fossa

د اسیتابولوم د جوف په غولی کې یوه غېر مفصلی سیمه.

- Adipose Fossa

د بڼځو په تیبانو کې تحت الجلدی فضأ چې شحمی نسج لری.

- Condyar Fossa

د هغه دوه کوچنیو ننوتي برخو څخه هریوه چې د اوکسیپوت هډوکي په بهرنی سطحه کې وجود لری.

- Condyloid Fossa

د (**Condyar Fossa**) په انډول.

- Cranial Fossa

د سر د کوپرې هډوکو په قاعده کې (قدامی منځنی خلفی) قحفی حفره چې ماغزه په ځان کې ځای ورکوی.

- Fossa Cranium Anterior

د سر د کوپرې هډوکو په قاعده کې قدامی قحفی حفره.

- Fossa Cranium Medius

د سر د کوپرې هډوکو په قاعده کې منځنی قحفی حفره.

- Fossa Cranium Posterior

د سر د کوپرې هډوکو په قاعده کې خلفی قحفی حفره .

- Digastrics Fossa

د لاندینی ژامنې دهډوکي دننه سطحې پر مخ ننوتلتیا چې د ډای ګاستریک عضلې د قدامی بطن د اتصال ځای بلل شی، د ماستوئید

Fossil
فوسیل، دلرغونې زمانې دحیواناتو او نباتاتو پاته شونی (بقایاوې).

Fossilize
په فوسیل بدلېدل یا بدلولو دځېرنې لپاره دفوسیلونو لټول.

Fossula
یو کوچنی جوف. کوچنی ننوتلې برخه.

Foster
روزل، وده ور کول، تغذیه کول، تر ویج ور کول، حما یه کول او پر مخ بیول. روزونکی، روزل شوی، هغه کو چنی چه بل چا روز لی وی، هغه سړی چه پردی او لاد روزی.

- **Foster Children**
هغه کسان چې ماشومان روزی خو د هغوی والدین ندی . هغه کو چنی چه بل چا روزلی وی.

- **Foster Parent**
هغه ښځه اونارینه چې ماشوم بل والدینو ته ورکوی. هغه ښځه او سړی چه پردی او لاد روزی.

Fothergill's Operation
دا هغه جراحی عملیات دئ چې د رحم پرولاپس درملنه پرې کوی چې د جرمنی عالم (**W. E. Fothergill**) پذریعه او بیا پکال [(**1865–1926), British Gynaecologist.**] تر سره شو .

Foundation
هغه جوړښت یا بنسټ چې دهغه پر سر یو شئ جوړیږی.

- **Denture Foundation**
د فمی جوړښتونو او نسجونو یوه برخه چې له مصنوعی غاښونو څخه ساتنه کوی.

- **Foundation Hospital**
په انګلستان کې هغه ډول روغتون دئ چې په سیمه ائیزه بڼه روغتیائي–مالی چارو کښې ناپیلې وی.

Fourchette
د مهبل د شونډو د فرج برخې خلف کې هغه د پوستکی فولد (فرینولوم) برخه بلل شی.

Fovea
یوه ډېره کوچنی ژورتیا (کوچنی ټکی) ، دغه اصطلاح اغلباً د شبکې (**Retina**) د مرکزی ننوتلتیا په ځای کې پکاریږی.

- **Fovea Centralis**
مرکزی ژوره ، د شبکې د ماکول په مرکز کې یو کوچنی ټکی چې تر ټولو څرګند تصویر پکې ایجادیږی پدې ټکی کې د شبکې مختلفی طبقې څنګ ته کېږی او نور مستقیماً په مخروطی حجرو باندی لګېږی.

کونډیل پکې ځای نیسي.

- **Nasal Fossa**
د پوزې (سپړمی) جوف، د پوزې د جوف هغه برخه چې دمنځنی میاتوس په دام کې ځای لری.

- **Navicalar Fossa**
د پوډنډال شونډو د فرینولوم (ملتقا) او مهبل د سوری تر منځ مهبلی ویستیبول (دهلیز) ،د حشفې په ناحیه کې د احلیل د مجرا جانبی اتساع ، د وتدی هډوکي په داخلی پټریګوئید بارزه کې ننوتلې ژوره.

- **Ovalis Cordis Fossa**
د زړه د بښي دهلیز په جدار کې ننوتلې حفره چې د جنین د ژوندون د بیضوی سوری پاتې شونې څرګندوی.

- **Ovarian Fossa**
د رحم پلن لیګامنټ په شاتنی سطحه کې ژوره چې هګی ځالې پکې پرتې وی.

- **Rhomboid Fossa**
د ماغزو د ځلورم بطین غولې چې د بصل النخاع د له خلفی سطحې او مغزی پُل څخه رامنځ ته کېږی.

- **Right Iliac Fossa**
دښي لورې ایلیاک برخې حفره د ګېډې په ویشنه کې.

- **Rosenmuller's Fossa**
په بلعوم کې (**Pharyngeal Recess**) بلل شی.

- **Subarcuate Fossa**
د تیمپورال هډوکی او د پتروسی برخې په داخلی سطحه کې ننوتلتیا.

- **Subsigmoid Fossa**
دسیګموئید د فلیګسور او نزولی کولون تر منځ پرته ژوره.

- **Supraspinatus Fossa**
د کتف هډوکې سپینا پر سر برسپره ننوتلتیا.

- **Sylvian Fossa**
د دماغی ماغزو د سیلوین مېزابه.

- **Tibiofemoral Fossa**
د قصبی او شظی هډوکو د مفصلی سطحو تر منځ فضا چې شبکوی هډوکی د لاندینې قطب په نسبت په داخلی یا باندینی وضعیت کې قرار لری.

- **Urachal Fossa**
د اوراکوس او هایپوګاسټریک شریان تر منځ د ګېډې په داخلی جدار کې ننوتلتیا.

- **Waleyer's Fossa**
یو له بل سره په ګډه دوه د اثناعشر جوفونه.

- **Zygomatic Fossa**
تحت الصدغی ننوتلتیا ، انفراتیمپورال حفره .

Fossett
یوه کوچنی او حقیقی ننوتلتیا. د قرنیې ژور خو کوچنی ټپ.

- **Submandibular Fovea**
د لاندینی ژامنې دهډوکی په داخلی سطحه کې ننوتلتیا چې د تحت الفکی غدې یوه برخه پکې ځای لری.

Foveation
د پوستکی پر مخ د کوچنی ننوتلتیا ایجادونه.

Foveola
یوه ډېره کوچنی ننوتلتیا.

Fox
ګیدړه، مکارسړی، چلی.

- **Fox Glove**
یوډول ګل دی.

Foxy
دګیدړ په شان، مکار، سوربخن، نسواری.

Fr
د فرانسیوم د عنصر لپاره کېمیاوی نښه.

Fraction
فراکشن ،کسر، ماتیدنه، درز، برخه، ټوټې ، ډله.

- **Bone Fraction**
د هډوکی کسر.

- **Cell Fraction**
حجروی ماتېدنه.

Fractional
کسری، جزئی، ډله ائیز.

Fractionation
په رادیولوژی کې په کوچني مقدار ونو باندې د وړانګې د کامل ډوز ویش او پلان شویو وختونو کې ورځخه ګټه اخیستل ، په کیماوی لحاظ د ایشولو یا کریستالیزه کولو لارې یوه مرکب تجزیه کوول په خپلو جوړونکې عنصرونو باندې ، په هیسالوژی کې د سنترفُیوژ په طریقه د ژوندیو حجراتو جلاکول او استحصال.

Fracture
کسر ، ماتېدل ، ماتوالې ، چاود ، درزی کېدل ، ماتوالې پېښېدل ، دا اصطلاح د هډوکو د ماتېدو لپاره په طب کې کارول شی.

- **Avulsion Fracture**
د هډوکی د قشر ځخه د یوه لیګامنټ یا تیندون د اتصال په سیمه کې د یوې کوچنی ټوټې جلاکول. ځیری شوي کسرونه د کشش یا (**Traction**) واسطه رامنځته کیږي په دې صورت کې عظمی پارچه معمولاً د یوه رباط یا وتر په واسطه جلاکیږي.

- **Axial Fracture**
له حد ځخه زیات عمودی فشار له کبله د فقراتو کسر چې د فقراتو ټوټې په دواړه لورو حرکت کوی .

- **Barton's Fracture**
د لاس د مړوند په مفصل کی د راډیوس هډوکی په ډیستال نهایت کې ماتوالې.

- **Bennett's Fracture**
د میتاکارپ هډوکی د قاعدې ماتوالې او د کارپ او میتاکارپ د مفصل داخل ته د هغه ښوئېدل.

- **Blow Out Fracture**
د ټپ د واردونکې لوی قوې له کبله د فوق اربیتال فشار د ناڅاپې زیادښت له کبله د اربیت د غولی ماتوالی ، د اربیت د محتویاتو د مګزیلار سینوس داخل ته فتقی کېدل په داسې ډول چې د کسر په ځای کې سفلی تبغې عضلې او سفلی مایلې عضلې ځینی وختونه راګیرېږی او د دوه لیدلو د پیدا ینښت لامل ګرځي.

- **Burst Fracture**
محوری فشاری کسر ، چاودلې کسر معمولاً په لنډو هډوکو کې لکه د ملا مهره کې رامنځته کیږي چې د قوې مستقیم فشار له کبله پېښېږی، د ملا په مهرو کې دا کسر معمولاً د (**Impaction Disc**) په نتیجه کې رامنځته کیږي .

- **Capillary Fracture**
د ویښته په ځېر په راډیوګرافی کی د نری خطی کسر شتون بلل شی چې اکثر د کوپرې هډوکو کې وی.

- **Colles Fracture**
د لېچې د راډیوس (زند) هډوکې په ښکتنی نهایت کې ماتوالی چې لاندینی ټوټه د شالوړ ته بیځایه وی. کهچېرې لاندینی ټوټه مخې ته بیځایه شی نو د معکوس کولیس کسر په نامه یادیږی.

- **Comminuted Fracture**
یو ډول کسر چې پکې هډوکې ټوټه ټوټه کېږی، ټوټه ټوټه کسر هغه کسر ته ویل شې چې کسر د یوه هډوکې په دوام کې قطعې یا ماتېدو د ټوټې ټوټې په ځیر ته وایې.

- **Complete Fracture**
کامل ټوټه شوې کسر چې پکې د هډوکې ټولې مقطې نیسي.

- **Complicated Fructure**
په ټولو کسرونو کې رخوه انساج تخریب کېږی لیکن کله چې مهم انساج لکه (اعصاب، اوعیې اویا داخلی اعضاوې) تخریبیږی نو دغه ډول کسر ته اختلاطی کسر ویل کیږي کله هم د هډوکې نهایات د نرمو انساجو لکه عضلاتو په واسطه سره جلا کیږي چې داحالت ممکن پیوند وځنډوي.

- **Compound Fracture**
پرانیستې کسر ته ویل شی ، مرکب کسر کله نا کله د عضویت د داخلی سطحې سره ارتباط پیدا کوي مثلاً د حوصلی په کسر کې د

- **Infected Fracture**

منتن کسر ، خلاص کسرونه په قوي ګمان سره د انتاناتو د مداخلې له کبله منتن کیږي او جدي پاملرنې او تدرملنې ته اړتیا پیدا کیږي.

- **Insufficiency Fracture**

بې کفایته کسر ، یو ډول ستړسی کسر چې پر هغه د نارمل فشار منځ ته راتلو له امله پېښېږي چې غیر نارمل ډول یې خپل کثافت له لاسه ورکړی وی بلل شی.

- **Interperiosteal Fracture**

د ناکامل کسر لکه د ونې د شنې لښتې په څېر ماتوالې.

- **Intra uterine Fracture**

د رحم دننه د جنین د هډوکو ماتوالې بلل شی.

- **Jefferson's Fracture**

د اطلس هډوکی ماتوالې .

- **Lead Fracture**

د هډوکی قشر په یوه لوري کې وتلتیا او په بل لوري کښې یو څه نتوتلتیا لري چې لدې سره یو خای د هډوکي پر مخ یو ظریف درز منځ ته راځي.

- **Le Fort's Fracture**

د پورتنۍ ژامنې د هډوکی دوه اړخیزه افقی کسر بلل شی.

- **Monteggia Fracture**

د اولنا هډوکی د جسم د نیم ښکته برخې کسر چې د رادیوس د هډوکی سر برخې خلع په څنګل کې ورسره وی.

- **Open Fracture**

خلاص کسرونه عاجل واقعات دي په Closure تړل معمولاً د خیاطی په واسطه تر سره کیږي او یا هم د Skin Graft یا مختلفو میتودو سره.د تړلو صحیح طریقه د کسر د تداوي په طریقې پورې اړه لري، نو ځکه د کسر د تداوي او د جراحي د تړلو پرېکړې باید یو خای وشي.

- **Parry Fracture**

د (Monteggia) کسر وګوری.

- **Pathologic Fracture**

د خباثت ، اوستیوملاسی او اوستیو میلیت په څېر ناروغیو له کبله د هډوکو د کمزورتیا پورې اړوند کسر.

- **Sagittal Slice Fracture**

د فقرې هغه کسر چې دنخاعی طناب د افقی بېخایه کېدنې سره یوخای وی او اغلباً د پاراپلیجي لامل ګرځي.

- **Silver –Fork Fracture**

د کولیس کسر .

- **Smith's Fracture**

تړلې کسر . د مړوند برخې د کولیس برعکس ډول پېښېدونکې ترضیض له کبله منځ ته راځی.

- **Spiral Fracture**

یو ډول کسر چې د ماتو شویو ټوټو له څرخېدنې سره مل وي، پېچې ریکتم د ریچر سره او د ضلعی کسر ممکن سږی ته نفوذ وکړي .

- **Crush Fracture**

په اسفنجی هډوکي کي د متراکم کېدونکي قوې په نتیجه کي رامنځته کیږي.

- **Depressed Skull Fracture**

دا د کوپړۍ د هډوکو دننه لوري ته انحطاطی یا چت شوي کسر بلل شی.چت (پیت)شوی کسر د فشار له کبله.

- **De Quervain's Fracture**

د لونیت هډوکي د ورغوی له ننوتلتیا سره یوځای د ناویکولار هډوکي ماتوالې.

- **Direct Fracture**

مستقیم کسر ، د هډوکی د ګوزار(ترضیض) خوړلې برخه کې د کسر شته والې .

- **Dislocation Fracture**

مفصل ته نږدې د هډوکې ماتوالې چې د بند خلع (اوښتنه) هم ورسره مل وی.

- **Dupuytren's Fracture**

د پوتز (Pott's Fracture) کسر.

- **Duverney's Fracture**

د لاندیني منځنی اغزی لاندې د ایلیوم کسر.

- **Fissre Fracture**

د فیسور په څېر د هډوکي کسر چې د هډوکي ټول قطر (مقطع) نه نیسی.

- **Freeze Fracture**

کنګل شوي کسر ، محدود شوي کسر.

- **Gleasea Fracture**

دا د لیچې اړوند د اولنا هډوکی کسر دئ چې پکې د هډوکې د جسم برخه ماتېږی او د رادیوس د رأس خلع لیدل شی ، د (**Monteggia Fracture**) په انډول.

- **Green Stick Fracture**

د شنې لښتې په څېر ماتېدنه، دا ډول کسر په کوچنیانو کي رامنځته کیږي، په کومو کي چې هډوکي نرم او ضربې ته تسلیمیدونکي وي .هډوکي کږیږي، پرته له دي څخه چې په مکمل ډول مات شي او د هډوکي قشر (پریوستیوم) په مقعر طرف کي سالم وي.

- **Hungman's Fracture**

د اکسیس (د رقبی دوهمه فقره) د پډیکولونو کسر چې د دوهمې یا دریمې رقبی فقرې د خلعې سره مل وی لیدل کېږی.

- **Impacted Fracture**

دا ډول کسر کې د هډوکي یوه ټوټه د بلې ټوټې دننه ننوتلې بڼه لري.

- **Incomplete Fracture**

نا تام کسر،هغه ډول کسر چې د هډوکي ټولې مقطعی سطحه نه نیسی او نیمائی برخه ئې ماته وی.

- **Fragility of Blood**

د وینې د حجراتو ماتېدنه.

- **Capillary Fragility**

د شعریه رګونو د جدارونو د رنګېدنې او ماتېدنې د خطر په معرض کې واقع کېدل.

- **Erythrocyte Fragility**

د هایپو ټونیک سالین محلول سره د مخامخ کېدو یا د میخانیکی ګوزارونو سره د ټکر په صورت کې د هیمولیز رابرسېره کېدو کې د سره کریواتو چمتووالي ، د سرو حجراتو ماتېدونکي حالت.

Fragment

ټوټه ، پارچه ، هغه برخه چې ماته شوې وی.

Fragmentary

له ټوټو څخه جوړ شوی، نیمګړی، مات.

Fragrance

خوش بوی ،د (**Fragrancy**) په انډول.

Frail

نازك، په آسانۍ ما تېدونکی،سُست، کمزوری، فانی.

Frambeisa

د (**Yaws**) ناروغۍ کې لیدل شی .

- **Frambesia Tropica**

د (**Yaws**) ناروغۍ کې لیدل شی .

Frambesioma

د (**Mother Yaws**) ناروغۍ کې لیدل شی .

Frame

په جوکار، دبدن اسکلیټ ، مزاج ،چوکاټ ، بنسټ ، اساس .شبکه ، د بدن د یوې برخې ببحرکته کولو یا استناد لپاره ټینګ او محکم جوړښت بلل شی .

- **Balkan Frame**

د ورانه د هډوکی د مختلفو برخو د ماتو ډولونو په درملنه کې د کشش د راپېښېدو لپاره وسیله ده.

- **Bohler-braun frame**

د قصبی (ټیبیا) یا ورانه (فخذ) هډوکو د کسرونو د ببحرکته ساتلو لپاره وسیله ده.

- **Bradford Frame**

د ملاتیر یا ورانه (فخذ) د ببحرکته ساتلو لپاره وسیله ده.

- **Frame Fixation**

د فریم وسیلې پواسطه د ثبیت کړنلاره ده.

- **Quadriplegic Standing Frame**

هغه وسیله چې د څلورو هډونو په فلج (ګوزن) اخته ناروغانو کې د تنې د ببحرکته او ولاړه بڼه کې ساتي.

یا مایل کسر دا کسر معمولاً د یوې داسې توندې یا ضربی له کبله رامنځته کیږي چې د یوې فاصلې څخه دکسر په طرف کې انتقالیږی.

- **Spontanous Fracture**

په خپل سر کسر ،د پتالوژیکو پیښو په لړ کې منځ ته راځی.

- **Sprain Fracture**

له هډوکو سره د اتصال په برخه کې د یوی عضلې د ټینډون جلا کېدنه چې د ورانه له هډوکې ډیوې ټوټې د شلېدو سره مل وی.

- **Stieda'sFracture**

د ورانه(فخذ) د هډوکی د داخلی کونډیل کسر.

- **Stress Fracture**

د اوږد مهالی فشار واردېدنې له امله په هډوکو کې کسر ته ویل شی.

- **Transverse Maxillary Fracture**

هغه اصطلاح چې ځینې وختونه د علوی ژامنې د هډوکی د عرضانی (سوروړ) کسر په ځای کارولە کېږی.

- **Trophic Fracture**

د تغذوی اختلال له کبله د هډوکی کسر.

- **unstable fracture**

نا ثابته کسرداسې یو کسر دې کوم چې بې ځایه شوې وي یا دا توانایې ولري چې بې ځایه شي.

- **Wedge Compression Fracture**

د فقری د قدامی برخې د تخته کیدو (فشار) سره مل کسر چې فقري ته یو ډول (**Wedge Compression**) بڼه ورکوی.

Fragile

نازك، ژرماتېدونکی، کمزوری،نحیف، لطیف لکه چې د سپین ږیرو کسانو هډوکی د ځوانانو په پرتله په آسانه ماتېږی.

- **Fragile -X Syndrome**

دا یو ارثی لېږدېدونکې سندرومی ناروغی ده چې د (**X-chromosome**) محدودیت پذریعه منځ ته راځی او د روانی اختلال لامل کېږی.

Fragilitas

ماتوالي ، کسر ، کمزورتیا .

- **Fragilitas Crinium**

د ویښتانو ماتوالي .

- **Fragilitas Ossium**

د ایمپرفکټ اوستیوجنیزس ناروغی.

- **Fragilitas Umguium**

د نوکانو غېر نارمل ماتولي .

Fragility

نازکی، کمزوری، د ماتېدو د خطر په وړاندې واقع کېدل ، یا د خپل قوم په ساتنه کې پاییښت نلرل.

- Stryker Frame
هغه وسیله چې د د تنې د بېحرکته بڼې ساتني تر څنګ ناروغ ته په طولی محور باندې د تاوېدو امکان برابروی.

- Trail Frame
د نور د انکسار د نیمګړتیا د سمون لپاره د سترګو د لنز ونو د چمتو کولو لپاره وسیله.

Framework
اساسی هډوکی چې د بدن جوړښت ته سمون او ټینګښت وربخښی.

Framycetin
دایو ډول انتی بیوټیک درمل دی.

Francisella
د مایکروارګانیزمونو هغه جنس چې (**F.Tularensis**) پکې کوم چې د تولاریمیا منځ ته راوړونکې لامل دئ ګډون لری .

Francium
یو کیمیاوی عنصر چې اټومي شمېره یې (**87**) او نښه یې (**Fr**) ده.

Frantic
دقهر، د درد او تشویش څخه عصبی شوی.

Frantically
دلیونی په شان، دعصبانیته.

Fraternal
دوروری، دوروڼو په شان.

- Fraternal Twins
د دوه زایګوټ (**Dizygotic Twins**) څخه منځ ته راغلې غبرګون زېږونه.

Fraternity
ورور ګلوی، دورور ګلوی ټولنه، دیوی طبقې، حرفی یا ذوق خاوندان.

FRCP
د انګلستان د رویال (سلطنتی) پوهنځی تخصصی داخلې طب محصل ډاکټر (**Fellow of the Royal College of Physicians**) لنډه نښه ده.

FRCS
د انګلستان د رویال (سلطنتی) پوهنځی تخصصی جراحی طب محصل ډاکټر (**Fellow of the Royal College of Surgeons**) لنډه نښه ده.

Freak
هوس، بوالهوسی، وسواس عجیب، غیر طبیعی غیر عادی سړی یا شی.

Freckle
کوچنی نصواری رنګه خالونه چه پر مخ او دبدن پر نورو برخو پیدا کیږی (مګسی). خالداره کول، خالداره کېدل دا ډول حالت اکثر په هغه کسانو کې چې سور پوستې او ښویه ویښتان لری لیدل شی ، د (**Lentigo**) په انډول.

- Melanotic freckle of Hutchinson
د (**Lentigo Maligna**) حالت ته پاملرنه وکړی.

Freckled
هغه پوستکې چې نصواری رنګه خالداره شوېوی.

Freemartine
خنثی خوسکې ، خسی شوې خُسکې. هغه ښځینه خُسی چې د نر صفات لری او شنډه شوې وي.

Freeze
دا اصطلاح دبدن د بېحسه (کرخت) شوې برخې ته ویل شی، بې هوښه شوي برخه، په یخی بدلول، کنګل کول یخی کېدل، رسمی وضع کول، یخ وهل، یخ وهلی، یخ هنه، دهوا سوړوالی: غمجنی.

- Freeze Drying = Freeze Dry
د نسج یو ډول آماده کوول چې په هغه کې د پام وړ نمونه لومړی منجمده کېږی او بیا په ټیټه تودوخه او زیاته خلاء کې ډیهایدریشن کېږی. په چټکه توګه د (**Vacuum**) پذیرعه وچول دی.

- Freeze - Etching
هغه طریقه چې د الکترون مایکروسکوپ په وسیله د نا ثابتو حجرو د څېړنې لپاره کارول کېږی پدې طریقه کې نسج په (**20%**) ګلایسرول کې اینبودل کېږی تودوخه یې تر (**100 °C**) ته رسول کېږی او بیا په همدې درجه کې ساتله کېږی.

- Freeze Fracturing
هغه طریقه چې د الکترون مایکروسکوپ په وسیله ده مشاهدې لپاره د حجرو د چمتو کولو لپاره یوه طریقه لومړی. د نمونې تودوخه تر (**150 °C**) پوری رسوله کېږی بیا د میکروتوم په مرسته نمونه کښل کېږی ، د پلاتین او کاربن یو پوښ وربانديې غوړول کېږی او بیا منجمده شوی نمونه تر کتنې لاندې نیول کیږی.

- Freeze Substitution
دنسج د آماده کوولو یو طرز چې د نسجی نمونې د منجمد کولو لپاره د کنګل پر ځای د الکهولو او او نورو موادو څخه ګټه اخیستله کیږی. د کنګل معاوضه کول.

Freiberg's Disease
د ودویم میتاتارس د رأس (**Second Metatarsus**) اوستیوکاندریت چې په کال (**1869–1940**) کې د امریکائی

کول شی.

Frenoplasty

په جراحی ډول د یوه غږ نارمل فرینوم (Frenum) د پیوستون اصلاح کول.

Frenotomy

د جراحی پذریعه د فرینوم د وازولو او ټیرلو کړنلاری تر سره کول.

Frenulum

د جلدی یا مخاطی غشأ کوچنی ګونځه (چین خوړلې) چې د یوه غړی یا د یوه برخې د حرکت محدود کوی.

- Frenulum of Clitorius

د بذر (کلایتوریس) برخې فرینولوم.

- Frenulum of ileocecal Valve

د کولمو د ایلیو سیکال دسام برخې فرینولوم د مصلی طبقې څخه منځ ته راځی.

- Frenulum of lip

د شونډو (شفتان) برخې فرینولوم چې د مخاطی غشأ څخه جوړیږی او شونډه و وریو سره نښلوی.

- Frenulum of Prepuce of Penis

د نارینه د تناسلی غړې قضیب و پوستکې په منځنی کرښه کې د لاندینی مخ چین (ګونځه) چې د ګلانس برخې پورې د خوټلنګ څخه ادامه لری.

- Frenulum of Pudendal Labia

د بذر د کوچنیو شونډو د خلفی پیوستون ځای چې دخلفی اربطې په قدام کې ځای لری ،د (Frenulum of Pudendi) په انډول.

- Frenulum of Pudendi

د (Frenulum of Pudendal Labia) په انډول.

- Frenulum of Superior Medullary Velum

د لاندینیو کولیکولوسونو سره د اتصال په سیمه کښې په بصل النخاع کې مبشت باندې.

- Frenulum of Toungue

د ژبې لاندینی مخ د مخاطی غشأ عمودی چین د خولې له غولی سره د ژبې د اتصال سبب ګرځی.

- Frenulum of Veli

د لاندینیو کولیکولوسونو سره د اتصال په سیمه کښې په بصل النخاع کې مبشت باندې. د (Frenulum of Superior Medullary Velum) په انډول.

Frenum

تر ژبې لاندې د هغه فولډ (چین) چې د مخاطی غشأ او یا هم د بذر (Clitoris) برخه کې منځ ته راځي اناټومیک جوړښت دئ.

جراح (Freiberg) پذریعه د (Albert Henry 1914) څخه وروسته شرحه شو.

Frei Test

دا یو ډول آزمایښت دئ چې د زهروی ناروغی (Lymphogranuloma Inguinale) حالاتو کې تر سره کیږی چې د لومړی ځل لپاره په (1925) کې د (Wilhelm Siegmund Frei) پذریعه او بیا وروسته د جلدی عالمانو په جرمنی (Berlin,Germany) پذریعه پکال (1885–1943) کې شرحه او وکارپده شو.

Fremitus

یو ډول اهتزاز چې د ځینو ارګانونو د لمس او (Stethoscope) په مټه حس کیږی.

- Friction Fremitus

د بدن د دوه وچو سطحو څخه د تماس پر مهال منځ ته راتلونکې اهتزاز ته ویل شی.

- Hydatid Fremitus

دهایداتید سیسټ لپاسه د تریل (Thrill) جس او احساس بلل شی.

- Rhonchal Fremitus

د مخاط څخه د ډکو شویو هوائي لارو له داخل څخه د هوا له تېرېدو څخه زېرنده د لمس وړ اهتزازونه چې د ناروغ له خو د خبروکولو پر مهال د سینې دقفس په جدار باندې د لاس د اینبودلو په ذریعه دجس وړ وي.

- Tactile Fremitus

لمسی اهتزاز ، هغه د لمس وړ اهتزازونه چې د ناروغ له خو د خبروکولو پر مهال د سینې دقفس په جدار باندې د لاس د اینبودلو په ذریعه دجس وړ وي.

- Tussive Fremitus

د لمس وړ اهتزازونه چې د توخلې پر مهال د سینې دقفس په جدار باندې د لاس د اینبودلو په واسطه دجس وړ وي.

- Vocal Fremitus

د ګېډې څخه تر لاسه کېدونکې اهتزازونه چې د اصغأ له لارې د ارزېنې وړ وی.

French letter

په غږ رسمي بڼه پوښ (کانډوم Condom) ته ویل شی.

Frenectomy

د (Frenum) غوڅول او لیری کول د جراحي کړنلارې پذریعه.

Frenkel's Exercises

یو ډول تمرین چې په (Locomotor Ataxia) کې ناروغانو ته د لاس او پښو د عضلی همغږی رامنځ ته کولو په موخه ورزده

موښل، سولول، مغشوش کول، په قهر کول، خپه کول، مغشوش کېدل، خپه کېدل، مشوش کېدل. خپګان، لمسون، تزئینی نقشه چه دعمود او مستقیم خطو څخه جوړه شوی وی، دکوفی خط په شکل نقشه، یوډول ګلاباتو نیجال چه ښځی خپل ویښتان پکی اچوی، منبت کاری.

Fretful

غم ځپلی، غمجن، اندیښناک ، هغه ماشومان چې ژاړی او نارامه وی او کری. شپه خوب نلری، غضبی او قهرجن.

Fretfully

په قهر سره، په بد خلقی سره.

Freudian

دا اصطلاح د فراود (Freud's Theories) نظریې له مخې چې د انسان جنسی اړوند د بل چا پاملرنه د (Methods of Psychoanalysis) له پلوه راڅوی د همدې نظرئی پلوي بلل شی.

Friable

په ساده بڼه ماتېدونکی. په آسانی سره نرم او پوډری کېدنه.

Friar's Balsam

د ببلابېلو نباتاتو څخه ګډ جوړ غوړینه مایع (Plant Oils) چې (Benzoin او Balsam) پکې ورګډ یږی او په طب کې د (Bronchitis یا Congestion) د له منځه وړلو په موخه ورځخه کار اخیستل شی.

Friction

مښود، موښنه یا موښل ، د دوه سطحو اصطکاك، تصادم، د نظر ببلوالی.

- Friction Fremitus

د ګرېدنې داسې یو احساس کله چې لاسونه د هغه چا په صدر باندې کېږدو چې د (Pericarditis) ناروغی ولری.

- Friction Murmur

هغه سوفل (مرمر) چې د دوه مصلی غشأ ګانو د یوبل سره د ښوئېدنې له کبله د ستاتیسکوپ پذریعه د (Pericarditis یا Pleurisy) حالاتو کې اورېدل شی.

Frictional

اصطکاکی، اختلافی. و موښلو وړ تیا لرونکې. د فریکشن اړوند صفت بلل شی.

Friedländer's Bacillus

د (Klebsiella Pneumoniae) باکتریا له کبله منځ ته راتلونکې پنمونیا بلل شی چې د (Carl Friedländer) پذریعه کال (1882)

Frenzied

هیجانی، لیونی، عصبی.

Frenzy

هیجان، داعصابو شدیده پاریدنه

Frequency

فریکوینسی، وار وار پیښیدنه، تکرار، سرعت، په برق کی دبرېښنا دجریان ددوران شمیر چه دمتناوب جریان در لودونکی ماشین په ذریعه په یوه ثانیه کی واقع کیږی ، په فزیك کی اهتزاز اتو شمیر دوخت په یوه واحد کی. په احصایه کې د وخت په یوه واحد کې یا د ټولنې په منځ کې د یوې پېښې د منځ ته راتلو کچه ټاکی.

- Urinary Frequency

د متیازو کولو په کراتو سره راتګ چې پرته د غوښتنې او دا ښائی دمتیازو د حجم زیادښت یا مثانې د ظرفیت لږوالی له کبله وی.

Frequent

مکرر، عادتی، ډېر پېښېدونکی. په وار وار یا کراتو سره دعادت له مخه یوه ځای ته ورتلل.

Frequently

په واروار، په مکرر ډول.

Fresh

تازه، بې مالګی، خالص او سوړ، تند باد ، بی تجربې ، هو سا ، نوی، عصری.

- Fresh Air

تازه هوا ، وازه هوا ،د آزادې فضأ پاکه او له ککړتیا پرته هوا.

- Fresh Blood

تازه وینه .

- Fresh Frozen Plasma

د پلازما یخه (کنګل) بنې ته ویل شی چې د وینې بانک کې ساتل شی چې لنده نښه یې (FPP) ده.

- Fresh Water

په خوږواوبو کی او سیدونکی، بې تجربې، تازه اوبه.

Freshen

تازه کول، جوړول، سړول، تازه کېدل.

Freshly

دښځو په مقابل کی جسور او زړه ور.

Freshman

مبتدی (په تیره بیا دپوهنځی دلومړی کال محصل) ، پېل کوونکې .

Fret

Frigolabile
د سړوخی پواسطه په آسانی سره اغیزمن کیدل یا له منځه تلل.

Frigostable
د تیټو تودوخي درجو یا سړوخي په وړاندي مقاوم.

Frisky
خوشاله، ژوندی، بشاش، شوخ.

Frit
د ښیښې او چینی جوړونې څیزه، هغه څیزه چې د چینی مصنوعی غاښ په جوړولو کې ورڅخه کار اخیستل شی.

Frizzle
جزجز کول لکه (خواړه چه سره کیږی)، ویښتان چنګ چنګ (کلونجی) کول.

Fro
له، شا.

Frog
چونګښه، دستونی بارسوب، داور ګاډی متقاطع پټلی (ریل) چه پر هغه ځای ګاډی له یوه خط بل خط ته اوړی. ملاوستنی (کمر بند).

- Frog Plaster
د پلستر کولو یو ډول دئ چې پکې دواړه پښې او لینګې واز پرینبودل شی تر څوی فخذی د حرقف خلع اصلاح شی.

Fröhlich's Syndrome
فرولیش سندروم ، دا سنډروم چې پکې ناروغ کس څربه ، او تناسلی غړی وده نلری چې د نخامی غدې (Pituitary Gland) ادینوما له کبله منځ ته راځی چې د لومړی ځل لپاره د عالم (Alfred Fröhlich) پواسطه په (1953 – 1871) کالونو کې (Vienna, Austria) فارمکولوزی پوهنتون کې شرحه شو.

Frolement
یو خش خش غږ چې اغلباً د پریکاړیت ناروغانو کې اورېدل شی.

Frond
پاڼیز نباتی ډنډر ، ساقه ډوله پاڼه لکه دخرما، سرخس او داسی نور.

Frons
ټنډه ، تندئ ، جبین.

Front
مخ، دمخ برخه، دمخ کنار، داو بو څنډه، هغه شی چه دبدن کې جرمنی (Friedrichshain Hospital, Berlin, Germany) پتالوجستانو پواسطه تثبیت ، معرفی او کارول شوه او دا کرنه وروسته (1887–1847) څخه دتر څېړنې لاندې راغلې ده.

Friedman's Test
دا آزمایښت د پلازبښت ټاکنې په موخه تر سره کېږی، چې په کال (1903) کې د (Maurice H. Friedman) په ذریعه په امریکا کې معرفی شو.

Friedreich's Ataxia
دا یو ډول ارثی لېږدېدونکې عصبی ناروغی ده چې پکې نخاعی طناب ، (Club Foot) او د تګ بېموازنه ګی او د خبرو کولو ستونزې شتون لری چې په کال (1863) کې د (Nicholaus Friedreich) او بیا وروسته په جرمنی کې د اناټوموپتولوجی او درملنیز پتالوجی عالم د (Würzburg) پذریعه په (1825–82) کالونو کې شرحه شوی ، د (Dystrophia Adiposogenitalis) په انډول.

Frigid
یخ، وچ او رسمی یا تشریفاتی سړی، بې مهره، بې عاطفې.

Frigidity
سوړوالی، بې عاطفګی، بې مهری، بې مزې، د جنسی اړیکو بېخونده او سړښت سره مل تجربه لرل.

Fringe
حاشیه، چرمه، سجاف، پیکی. حاشیه ورکول، چرمه پرایښوول.

- Fringe Medicine
دا یوډول درملنې تجربه ده چې په طب پوهنځی یا هومیوپتیک کې نه لوستل شي لکه د (Acupuncture) درملنه.

Fright
ناڅاپی ببره، خطر، ترهه.

Frighten
وېرول، په وحشت کی اچول ، وېرېدلې کس.

- Frighten Face
ویره وهلې او سپین تښتېدلې مخ.

Frightful
وېروونکی، بېمناک.

Frightfulness
له وېرې ډک، وحشتناک، ویروونکې ، له هیبت څخه ډک.

Frigidity
سوړوالی، بې عاطفګی، بې مهری، بې مزې.

بهرنی انساج ګانګرین چې د غوڅولو (Amputation) کړنلارې ته اړتیا پریوځی.

Froth

ځګ، سپک او بې اهمیته شی، بې معنا خبره.

Frottage

د یوه بل داسې شخص د بدن دلمسولو څخه جنسی خوند اخیستل حال دا چې هغه لدې چارې څخه هیڅ خبر نه وي او معمولاً د جنسی تماس څخه پرته وی.

Frotteur

هغه شخص چې د (Frottage دبل موټیل) په عمل اخته وی.

Frowzy

ګډوډ، بد بویه، چټل، کرغیړن.

Frozen

کنګل شوی، یخ شوی، د (Freeze) درپیم حالت.

- **Frozen Shoulder**

د اوږې درد، شخوالې چې د اوږې د بند د غشأوو د ترضیضی التهاب وروسته عدم حرکت منځ ته راځی چې تینډون هم التهابی کیږی.

- **Frozen Watchfulness**

د ماشوم پرمخ د ویرې او ترهې اظهار چې د هغه څخه ناوړه (Abused) ګټه اخیستل شوېوی.

Fructivorous

مېوه خوړل.

Fructofuranouse

د فرکتوز ترکیبی او فعاله بڼه.

Fructokinase

دا یو ډول انزایم دئ چې فرکتوز ته د (ATP) څخه د یوه فوسفیټی ګروپ لېږد کتلایز کوی او پّه کولمو، ینې او پښتورګو قشر کې موجود دئ کمښت یې د فرکتوزیوریا سبب ګرځی.

Fructose

د یو ډول قند دئ چې په شاتو (ګبین) او بعضی میوجاتو کې موندل شی چې ورسره په ګډه بڼه (Sucrose) هم شتون لری کیماوی فورمول یې ($C_6H_{12}O_6$) دئ.

Fructose 1.6 –Biphosphatase

هغه انزایم چې په ینه، پښتورګو کې د ګلوکونیوجنیز په تګلوري کې ونډه اخلی او ددې انزایم لږوالې د اپنې، هایپروینټیلیشن، هایپوګلایسیمي، کیتوزس او لاکټیک اسیډوزس لامل ګرځی د نوې زیږېدنې پرمهال د مړینې لامل پر مخکینی برخه اغوستل کیږی، مخامخ کېدل، په مخ کی کېدل.

Frontad

د مخ په لوري.

Frontal

مخکینی برخه لکه د تندی هډوکی، د ټنډې اړوند.

- **Frontal Bone**

د تندی هډوکي، جبهی هډوکي، د کوپړی هډوکو قدامی کلک هډوکي.

- **Frontal Lobe**

جبهی لوب، جبهی فص، د ماغزو د نیمکړي تندی برخې لوب دواړه لورو ته.

- **Frontal Lobotomy**

د ماغزو د نیمکړي تندی برخې لوب دواړه لورو ته د جراحی پذریعه د وازولو کړنلاره.

- **Frontal Sinus**

جبهی سینوس، د تندي سینوس د سترګو څخه پورته او د پوزې لپاسه او نږدې برخه کې پروت دئ.

- **Front Passage**

قدامی د پسارۍ لاره لکه د (احلیل او مهبل).

Frontalis

د تندي (جبهی) هډوکی اړوند.

Frontomaxilary

د جبهی – مګزیلار اړوند، د تندی – پورنتی ژامنې هډوکو پورې اړوند.

Frontotemporal

جبهی – صدغی هډوکو اړوند.

Frost

پرخه، یخ، شبنم، یخ وهل.

- **Urea Frost**

د یورهایدروزس په ناروغی کې د خولو د تبخیر له کبله د پوستکی پر مخ د مالګو د کریستالونو رابرسېره کېدل.

Frosty

یخ وهلی، ډېرسوړ، یخی شوی.

Frostbite

د ډېر سړښت او یخنی له کبله کنګل شوی انساجو صدمه چې یو ډول سوځېدنه هم بلل شی.

Frostbitten

د یخنی وهلو له کبله د (پوزې څوکې، لاس-پښو ګوتو، غوږونو) برخو

Fuchsin
له سور رنګ څخه تر بنفش رنګ پورې رنګونه.

- Acid Fuchsin
اسیډی فوسین چې په مختلفو رنګونو جوړولو کې تري کار اخیست شی.

- Basic Fuchsin
د (قلوی فوسین ، پاراروزانیلین ، روز انیلیم مګنیتا) څخه جوړ هستولوجیک رنګ چې د موضعی انتان ضد مادې کې تري کار اخیستل شی.

Fuchsinophilia
د سره څخه تر بنفش رنګ پورې د رنګونو په مټ درنګېدلو ځانګړتیا.

Fuchsinophilic
د سره څخه تر بنفش رنګ پورې د رنګونو په مټ درنګېدلو ځانګړتیاپورې اړوند صفت بلل شی.

Fucose
یو مونوسکرایدچوې د ال- فوکوز په بڼه په یو شمېر اولیګوسکرایدونو کې شتون لری او د ځینو موکوپولي سکرایدونو او ګلایکو پروټینونو کاربوهایدریټی پرخه جوړوی.

∞-L- Fucosidase
هغه انزایم چې د فوکوزیدونو څخه د فوکوز د بقایاوو (پاتې شونو) تجزیه کتلایز کوی ددې انزایم کمښت د فوکوزیدوزس لامل ګرځی.

Fucosidosis
یو ډول لایزوزومی ذخیروی ناروغی ده چې د فوکوزیدیز د انزایم د کمښت او په نسجونو کې د فوکوز سره د غونډو شویو موادو راټولېدو له کبله منځ ته راځی .چې پکې دسایکو موتور احتلالات ، د ودې ځنډېدل او لړوالی ، هیپاتو سپلینومیګالی ، کارډیو میګالی او تشنج لیدل کیږی.

Fuel
دسوند مواد. دسوځېدلو مواد برابرول.

Fugacity
له یوه فېز(مرحلې) څخه بل فېز ته دوې مادې حرکت لهوالتیا د ټاکنې معیار ، یا د هماغه فېز یوې بلې برخې ته د یوې مادې د حرکت میلان د ټاکنې معیار.

-fugal
دا یو روستاړې دئ چې د لېرې کولو یا اطراح معنی لری.

Fugax
د اماوروزس فیوګاس (Amaurosis Fugax) په انډول.

ګرځېدلای شی.

Fractosemia
په وینه کې د فرکتوز شته والې چې د فرکتوز په ارثی عدم تحمل او اولیه فرکتوز یوریا کې لیدل کېږی.

Fructosuria
د فرکتوز(Fructose) شتون او اطراح په متیازو کې.

- Essential Fructosuria
د کاربوهایدرېټونو په میتابولیزم کې یو ارثی سلیم اختلال چې د فرکتوکاینیز د انزایم د کمښت په اثر په وینه او ادرار کې دفرکتوز د شته والی په مټ پېژندل کېږی.

Fructosyl
د فرکتوز آزاد راډیکال.

Fruit
مېوه، حاصل، نتیجه، ګټه ثمره مېوه ورکونه، حاصل.

Fruitful
ګټور، نتیجه لرونکی، مفید.

Frusemide
دا یو ډول دیوریټیک دی ، د (Furosemide) په انډول.

Frustrate
بې اثره کول،بې نتیجی کول، باطلول، زړه ور ماتول.

Frustration
ناامیدی، ماته ، محرومیت.

FS
د فولیکل تنبه کوونکې هورمون (Follicle –Stimulating Hormone) لپاره لنډه نښه ده.

FSH
د فولیکل تنبه کوونکې هورمون (Follicle –Stimulating Hormone) لپاره لنډه نښه ده.

FSH/ LH-RH
د فولیکل تنبه کوونکې هورمون او لیوتینایزنګ هورمون آزادوونکې هورمون(Follicle –Stimulating Hormone And Lutenizing Hormone Releasing Hormone) لپاره لنډه نښه ده.

FSH-Rh
د فولیکل تنبه کوونکې هورمون آزادونکې هورمون (Follicle –Stimulating Hormone Releasing Hormone) لپاره لنډه نښه ده.

Fuchsia
فیوشا ، یو بوټی چه ګلابی سره اوارغوانی ګلان لری.

-fuge
دا یو روستاړې دئ چې د لېرې کولو یا اطراح معنی لري.

Fugue
داسې حالت چې پکې یو څوک خپله حافظه او فکر له لاسه ورکوی، دا یو ډول انفکاکی غبرګون دئ پکې هېره او ترهه د هغه څه څخه د فزیکي تېښتې سره یو ځای او په معمولی ډول یې د ناروغ شاو خوا نیولې وی.

Fulgurate
چټک تګ او راتګ ، د زیات فریکانس لرونکی برېښنائي ستنې بهیر څخه زېرېنده ضایعه.

Fulguration
د یوې ودې غوڅول لکه د[یوې زخې (Warts) سوځول د برېښنائي ستنې پواسطه] ، د (Electrodesiccation) په انډول .

Fulfilment
اجرا ، سرته رسونه، تکمیل.

Full
پنډول، پیړول، ډک، بشپړ، مفصل، اکثر حد ، اعظمی حد ، په بشپړه توګه.

- Full Fontanela
ډک او اوچت فونتانیل چې د دماغی –نخاعی فشار لوړ والی په حالت کې شتون لري.

- Full-length
په ټول اوږدوالی سره.

- Full Organ
ټول ټال غړې ، کامل غړې ، پوره ارګان.

- Full Stomach
ډکه معده ،په مړینت سره .

- Full Term
بشپړه بلاریښت موده (48 Weeks) اونۍ، په مودې پوره ماشوم د مور په نس یا زېرېدلې .

- Full Thickness
په بشپړ پیړوالی (ضخامت) سره د پوستکي سوځېدنې حالت ، د (Deep Dermal Burn) په انډول .

- Full Treatment
کامله درملنه ، بشپړه درملنه .

Fuller
هغه سړی چه نوی ټوکر مینځی لنډوی یې او پدې توګه یې پنډوی.

Fullness
ډکوالی، مړینت موړوالې، د (Fulness) په انډول .

- Stomach Fullness
ډکه معده ،په مړینت سره .

Fulminate
چاودل، لوړ ږغ کول، غورېدل، تهدیدکول، او راخیستل ، غندل.

Fulminant
داسې یوه خطرناکه او وېرونکې ناروغۍ چې چټګ ډول وده کوی لکه د (Pneumococcal Infection) انتاناتو تظاهرات په (Meningitis ، Septicaemia ،Sickle-Cell Disease او Pneumonia) ناروغېو کې ، د (Fulminating) په انډول .

Fulsome
زړه وهونکی، کرکه راوستونکی، تریخ، غلیظ، زیږ.

Fumble
هری خواته لاس او پښې اچول، لالهانده کېدل. لاله هاندی کول ، هری خواته لاس او پښې اچونه.

Fumes
ګاز Gas یا دود ،لُوګي ، بخار ، دود (لوګی Smoke) ایستل یا اچول، په قارېدل، خپه کېدل.

Fumigate
د دود اوتبخیر کولو په ذریعه ضد عفونی کول، خوشبویه کول ، بخار شیندل چه حشرات مړه شی.

Fumigation
تدخین، لوګی اچونه. بخار شیندل چه حشرات مړه شی.

Function
وظیفه، دنده، خاص مقصدمراسم، ماموریت، مسلك، کارکول، د یوې ځانګړې دندې اجراکول.

Functional
د قطنی برخې عصبی عقدې .

- Meckel's Ganglion
د (**Petrygoplatine Ganglion**) انډول.

- Meissner's Ganglion
په مایسنر (**Meissner's**) شبکه کې د عصبی حجرو له کوچنیو غوټو څخه هره یوه.

- Mesonteric Ganglion Inferior
یوه سمپاټیک عصبی عقده چې د پورتنی میزانټریک شریان چلا کېدنې په سیمه کې پرته ده.

- Mesenteric Ganglion Superior
هغه سمپاټیک عصبی عقدو څخه یوه یا څو چې د علوی میزانټریک شریان لاندې یا شاو خوا په سیمه کې پرتې دی.

- Otic Ganglion
یوه پارا سمپاټیک عصبی سیستم عقده چې متصلاً د (**Ovale**) سوری لاندې ځای لری ددې عصبی غوتې بعدالعدوی عصبی ریښې (رشتې) د پاروټید غدې ته عصب ورکوی.

- Parasympathetic Ganglion
د پارا سمپاټیک عصبی سیستم پورې اړوند عقده چې دکولینرجیک عصبی حجروی جسمونو له ټولنو څخه هر یوه چې د غړو د جدارونو دننه یا هغه ته نږدې وجود لری.

ګانګلیونی قنزعه ، ګانګلیونی کریستا ، ګانګلیونی مورګه/ څنډه

- **Ganglionic Cyst**

ګانګلیونی سیسټ .

- **Ganglionic Glioma**

ګانګلیونی ګلیوما ټومور .

- **Ganglionic Layer**

ګانګلیونی طبقه .

- **Ganglionic Layer of Cerebral Cortex**

د دماغی قشر اړوند ګانګلیونی طبقه .

- **Ganglionic Layer of Optic Nerve**

دبصری عصب ګانګلیونی طبقه .

- **Ganglionic Neuroma**

ګانګلیونی نیوروما ټومور .

- **Ganglionic Ridge**

ګانګلیونی څنډه.

- **Ganglionic Saliva**

ګانګلیونی لاړې ، ګانګلیونی لیاړې (د خولې لعاب) .

Ganglionitis

ګانګلیونی التهاب .

- **Ganglionitis, Acute Posterior**

خلفی حاد ګانګلیونی التهاب .

Ganglioneuroma

د بالغو عقدوی حجراتو او عصبی رشتو څخه جوړ یو ډول سلیم نیوپلازم .

Ganglionopathy

د ګانګلیون هر ډول التهابی ناروغی .

Ganglionostomy

د جراحي عملی پواسطه د یوه اپونیوروز یا یوه ټینډوني غلاف د سیستیک ټومورمنځ ته د یوه سوری رامنځ ته کول.

Ganglioplegia

د سمپاټیک او پاراسیمپاټیک عصبی عقداتو ګانګلیونی فلج .

Ganglioplegic

په هغه عواملو پورې اړوند چې په سمپاټیک او پاراسیمپاټیک عصبی عقدو کې د تحریکونو لېږد پّه ټپه ودروي. د عقدو د فعالیت فلج کوونکې لامل.

Ganglioradiculitis

د سمپاټیک او پاراسیمپاټیک عصبی عقداتو څخه د وتلی عصبی څانګو التهاب .

Ganlioside

د هر هغه ګلایکوسفینګولیپیډونو څخه هر یو چې په مرکزی علوی عصبی عقده ، د هغه دوه عصبی عقدو څخه یوه چې له جګولار سوری څخه د ژبنې –بلعومی عصب د وتلو پر ځای کې د هغه د وتلو په مسیر کې پرتې دی، د واګوس عصب په مسیر کې یوه کوچنی عصبی عقده چې د جګولار سوری څخه د هغه د وتلو پر ځای کې قرار لری.

- **Superior Ganglion**

- **Sympathetic Ganglion**

د سمپاټیک عصبی سیستم پورې ترلې اړوند ادرینرجیک نیورونونو حجروی جسمونه .

- **Trigeminal Ganglion**

د ترایجمینال عصب ګانګلیون چې د لومړی خل لپاره د اناټومی پروفیسور (**Johann Laurentius Gasser**) په کالونو (**1723–1765**) کې په (**Vienna, Austria**) کښې په کارول شوېده ، د (**Gasserian Ganglion**) په نامه یاد.

- **Trigeminal Nerve Ganglion**

د ترایجیمینال عصب عقده په مخ کې چې د پنځم مغزي عصب پر مخ د صدغی هډوکی د پتروزا برخې په قدامی سطحه باندې د ډورامتر په درز کې ځای لري اوفتالمیک ، ماګزیلاری اعصاب او د منډیبولار عصب یوه برخه ورځخه په مسیر کې بهلیږی.

- **Tympanic Ganglion**

صماخی ګانګلیون ، د لسانی – بلعومی عصب څخه د صماخی(تیمپانیک یا طبلی) برخې څانګې بهلیږی.

- **Vagal Ganglion**

ښکته (**Inferior Ganglion**) (سفلی) عصب په انډول او د (**Superior Ganglion**) عصب په انډول .

- **Ventricular Ganglion**

د (**Bidder's Ganglion**) عصبی عقدې پّه انډول .

- **Vestibular Ganglion**

د ماغزو اتم زوج عصب د تعادلی برخې حسی عصبی عقده چې د غوږ د داخلی سوری په جانبی انتهائی علوی برخه کې پرته ده.

- **Wrisberg's Ganglion**

دزړه (قلبی) عصبی عقدې .

- **Wrist Ganglion**

د لاس د مړوند برخې په څټ کې د یوه ټینډوني پوښ سیستیک ډوله اتساعي بڼه جوړښت. د مړوند عصبی عقده.

Ganglionectomy

د یوې عصبی عقدې راویستلو جراحي کړنلاره .

Ganglionic

د ګانګلیون اړوند لکه (**Postganglionic**) تر ګانګلیون وروسته.

- **Ganglionic Branches of Maxillary Nerve**

د پورتنی ژامنې (مګزیلا) عصب اړوند ګانګلیونی څانګه.

- **Ganglionic Crest**

منځ ته راځی ، په بدو اوښتی ټپ، لچن کانګرین.

- **Diabetic Gangrene**

د شکري (ډیابټ) ناروغی له کبله ګانګرین.

- **Dry Gangrene**

وچ ګانګرین، هغه ګانګرین چې پکې مکروبونه مداخله نه کوی اومړه نسجونه پاڼه پاڼه ایزه بڼه وچه بڼه لری.

- **Embolic Gangrene**

آمبولیک ګانګرین ، هغه حالت چې د آمبولي د شته والی په اثر د وینې د جریان د پریکون/ انسداد له کبله منځ ته راځی.

- **Fournier Gangrene**

فورنایر ګانګرین ، دا د تناسلی غړو (**Genitalia**) د نکروزی صفاقی (**Necrotizing Fasciitis**) بڼې کلښنیکی ناروغی ده چې پکې د ورون او ګډې لورې ته غځېږی پرمختګ کوی او ښائی ژوند تهدیدوونکي بڼه د سلولیټ منځ ته راوړی او په هغه کسانو کې چې د (**Local Trauma** د **Perineum** او هغه ناروغان چې د شکري **Diabetes Mellitu**) ولری په وصفی ډول لیدله کېږی دا ناروغی لږمړی ځل د (**Jean Alfred Fournier, French Dermatologist**) پواسطه چې په (**1832–1915**) کالونو کې اوسېده معرفی شوه ، د (**Fournier Disease**) په انډول.

- **Gas Gangrene**

یوه حاده او شدیده دردناکه ناروغی چې پکې تحت الجلدی نسج او عضلات د ګاز او سیروزیتی- قیحی اګزودات څخه ډکیږی دغه حالت د غېر هوازی باکتریائي ارګانیزمونو (کلوستریډیوم) په ذریعه د ټپونو د ککړتیا او منتن کېدو له کبله رامنځ ته کېږی.

- **Hospital Gangrene**

روغتونی ګانګرین ، د (**Necrotizing Fasciitis**) په انډول.

- **Idiopathic Gangrene**

نامعلومه لامل لرونکي ګانګرین.

- **Inflammatory Gangrene**

التهابی ګانګرین چې د (**Acute Infections** او **Inflammation**) سره مل وی .

- **Internal Gangrene**

داخلی ګانګرین ، په مختنق ډول فتق (**Strangulated Hernia**) کې د بندوشویو کولمو د شریانی وینې انسداد له کبله ګانګرین پېښېږی همدارنګه د مېزانټیریک شریان ترومبوز (**Mesenteric Artery Thrombosis**) کې بطنی احشاوې لکه اړوند کولمې (**Intestine**) ګانګرین کوی او کېدای شی چې د (په **Pneumonia** کې د **Lung Abscess**) له کبله هم د اختلاط په توګه نادراً پېښ شی .

- **Moist Gangrene**

نمجن یا لُوند ګانګرین .پدغه ډول ګانګرین کې د میکروبونو عصبی سیستم کې موندل کېږی او اصلی جوړښت ئې سرامید – ګالکتوز –ان –استایل نورامینیک اسید څخه رامنځ ته شویوی .د (**GM1**) ډول ئې په ګانګلیوزیدوزس (**GM1**) کې په نسجونو کې راټولیږی همدغه چاره په ګانلیوزیوزس (**GM2**) د (**GM2**) په باب هم رامنځ کېږی.

Gangliosidosis

د هغه لایزوزایم ذخیروی ناروغیو یوه ډله چې د ګلایزوزومي هایدرولایزونو د کمښت له کبله د (**GM1**) او (**GM2**) ګانګلوزیدونه راټولیږی او اغلباً په کوچنیوالی کې پیل مومی.

- **GM1 Gangliosidosis**

هغه ګانګلیوزیدوزس چی د لایزوزومی بېتا - ګالاکتوزېډیز انزایم د فعالیت د کمښت له امله پېښېږی او د (**GM1**) ګانګلیوزیډ ، ګلایکو پروټین او کراتان سلفېټ د راغونډېدو سره مل وی .

- **GM2 Gangliosidosis**

هغه ګانګلیوزیدوزس چی د هګزو امینیدیز د خاصو ایزوانزایمونو د وظیفوی اختلال له امله منځ ته راځی او د (**GM2**) ګانګلیوزیډوز او اړوند مواد و د راغونډېدو سره مل وی .دغه ناروغی په دریو مختلفو بیوشیمیکو بڼو لکه د (**Sand Hoff**) ناروغی او د (**Tay Sachs**) ناروغی رابرسېره کېږی.

- **Gangliosidosis Type I**

لومړي ډول ګانګلیوزیدوزس.

- **Gangliosidosis Type II**

دوهم ډول ګانګلیوزیدوزس.

Gangliosympathectomy

د سمپاتیک عصبی ګانګلیونونو پرې کول.

Gangolphe

ګانګولف.

- **Gangolphe Sign**

ګانګولف نښه / علامه .

Gangosa

ګانګوزا .

Ganirelix

ګانیریلکس ،دا یو کېمیاوی مرکب دئ چې طبی استعمال لری.

- **Ganirelix Acetate**

ګانیریلکس استېټ کېمیاوی مرکب دئ چې طبی استعمال لری.

Gangrene

ګانګرین د نسجونو مړینه چې معمولاً د پام وړ نسجی کتله په بر کې نیسی او عموماً د وعائي تغذیي د قطع کېدو یا له منځه تللو له کبله د مکروبونو او زویو د تولید څخه وروسته

د (Amelobast) انډول.

Ganser State

دا لکه د ګاذب تخریب (Pseudodementia) په څېر ورته حالت دئ دا د لومړی ځل لپاره د (Ganser Sigbert Joseph Maria) په کال (1853–1931) کې په جرمنی روانی (Munich او Dresden) کې وکارپدله.

Gantrisin

د سولفی سوکسازول د یوه مستحضر سوداګریز نوم دئ

Ganrene

ګانګرین ،لچن کېدل، په بدواو ښتل، خص مار کېدل، دبدن دیوې برخې خرابېدل چې خصوصاً دمنا سبو خوړو دنه رسېدلو څخه پیدا کیږی.

Gap

منفذ ، سوری ، سوړه ، چوړاخ، چاک، درز، فاصله نخره، کوتل، غابنی، په یوه وخت کې د نا اشغال شوې فضأ په کچه فاصله

-Air Bone Gap

د صوتی هوائی او هډوکیزو تحریکاتو د غږ ټاکنې (سنجې) او ښودونکو تر منځ فاصله چې د غږ د هډوکیز لېږد د کمښت د کچې ټاکنې لپاره د شاخص په توګه تر کار اخیستل کیږی.

-Anion Gap

انیونی درز ، پلازمائي انیونی غلظت چې د لابراتواری اندازه ګیریو په مټه د انیونونو او کتیونونو ترمنځ د اختلاف په پام کې نیولو سره پرتله او محاسبه کېږی.

-Ausculatory Gap

هغه فاصله چې په هغه کې د وینې د فشار داندازه ګیری په سامعوی طریقه کې هیڅ راز غږ نه اورېدل کېږی.

-Interocclusal Gap

د (Distance) په لغت کې وګوری.

Gape

خوله وازه پاته کېدل لکه (دتعجب په وخت کې) اړېمی. کښل.

Gargle

غړغړه کول، دستونی مینځل، دوا (Antiseptic) غړغړه کول. دستونی دوا.

Gargoylism

د هورلر سندروم (Hurler's syndrome) انډول .دا یوه ولادی او له له موره زېرېدلی حالت چې پکې د میتابولیزم اختلال له کبله د شحم (Fat Cells) او پولی سکرایډ (Polysaccharides) په بدن کې ذخیره کېږی چې روانی اختلال ، د ځیګر پړسوب ، دفعالیت له کبله د پروتیولایتیک اغېزې په څرګند ډول لیدل کېږی.

- Primary Gangrene

لومړنی ګانګرین ، هغه ډول ګانګرین چې په یوه برخه پرته له دې چې پخوانی التهابی ناروغي منځ ته راغلې وی پېښ شی.

- Secondary Gangrene

ثانوی ګانګرین ، هغه ډول ګانګرین چې په یوه برخه کې چې پکې پخوانی التهابی ناروغي منځ ته راغلې وی پېښ شی.

- Segmental Gangrene

سګمنټی ګانګرین . قطعه ئي ګانګرین ، هغه ډول ګانګرین چې په یوه غړی کې په برخه برخه بڼه منځ ته راشی.

- Symmetric Gangrene

متناظر ګانګرین ، د وازوموتور اختلالاتو (Vasomotor Disturbances) له امله په دواړو لور کې د ګانګرین منځ ته راځی چې د (Raynaud Disease او Buerger Disease) اوصافو لرونکې وی .

- Traumatic Gangrene

ترضیضی ګانګرین دا ډول په (Serious Injuries) لکه د (Compartment Syndrome یا Crush Injury) کې لیدل شی.

- Wet Gangrene

نمجن یا لُوند ګانګرین (Moist Gangrene) په انډول .

- White Gangrene

سپین ګانګرین دا هغه ډول دئ چې د وینې بهیر په موضعی تخریب (Local Impairments) کې منځ ته راځی .

Gangrenosis

ګانګرین منځ ته راتګ.

Gangrenous

د ګانګرین پورې تړلې او اړوند صفت.

- Gangrenous Appendicitis

ګانګرینی اپنډیسیټ .

- Gangrenous Cellulitis

ګانګرینی سلولیټ .

- Gangrenous Necrosis

ګانګرینی نکروزیس .

- Gangrenous Pharyngitis

ګانګرینی فارینجیټ (بلعومی التهاب) .

- Gangrenous Pneumonia

ګانګرینی پنومونیا (ریوی التهاب) .

- Gangrenous Stomatitis

ګانګرینی ستوماټیټ (د خولې مخاطی غشأ التهاب) .

- Gangrenous Vulvitis

ګانګرینی فرجی التهاب .

Ganoblast

Gash
ژور اوږد قاطعه ټپ چې د یوې تېرې او غوڅونکې آلې پذریعه تصادفی ډول منځ ته راشی لکه د ګیلاس د ماتیدو وروسته د بدن د یوې برخې غوڅېدنه، پرهر، ټپ، چوړاخ (چړاخ) چاود ،چړاخول، چول.

Gaskin
د آس ورون.

Gasp
سلګی. وهل ،تیګاوهل، هسکی کول، ژر ژرساه اچول، ژرژر ساه ټرل، ستمېدل، سیلېدل، ساکښل، ارزوکول، د ژوندانه وروستی مرحلې (آخری سلګی).

Gaseous
ګازداره. ګاز درلودونکی ،نفخی ، له ګازاتو ډک.

Gaster
معده ، ژرنده ، هغه برخه د هضمی کانال چې پکې خوراکی مواد میده او هضم ته تیاریږی او د مری څخه تر اثناعشر پوری پرته ده.

Gaster-
دا یو مختاړې دئ چې د[معدې -Gastro] معنا ورکوی.

Gastero-
دا یو مختاړې دئ چې د [معدې -Gastr] معنا ورکوی.

Gasterophilus
دغوماشیو یو ډول دئ چې لارواګانې ئې دآسونو په هضمی جهاز کې بشپړتیا مومی او په انسان کې د عفونت موجب ګرځی.

Gastr-
دا یو مختاړې دئ چې د[معدې -Gastro] معنا ورکوی.

Gastradinitis
د معدې د غدواتو التهاب.

Gastralgia
د معدې (ژرندې) درد.

Gastrectomy
د معدې اویا د معدې د یوې برخې غوڅول او راویستل د جراحي کړنلارې په واسطه

Gastric
د معدې پورې تړلې یا اړوند صفت.

- **Gastric Absorption**
معدوی جذب لکه په معده کې د الکهولو جذب.

او ګورس منظره (Coarse Features) منځ ته راځی.

Garlic
ووږه، هوږه. یو ډول نبات دې چې په لوړ فشار او کولسټرول راټیټولو درملنه کې پکاریږی.

Gas
تراس، ګاز، غاز. هغه ماده چې لکه (نایتروجن ، کاربن ډای اکسایډ ، هوا) پکې ورګډ وی چې نه مایع او نه جامده بڼه ولری ،ګڼه بڼه ئې (Gases) ده ، هغه هوا چې په معده او هضمی کانال کې راټولېږی او درد منځ ته راوړی.

- **Alveolar Gas**
سنخی ګاز ، د سږو د اسناخو په فضأ کې موجود ګاز چې د وینې او سږو ترمنځ د ګازونو په لېږد کې ونډه لری.

- **Gas and Air Analgesia**
د ګاز او هوا انالجزیا ، د ګازاتو او هوا په مرسته او کارولو سره د دردونو له منځه وړل دا د زېږون پرمهال کارول شی.

- **Gas Chromatography**
دا یو ډول کړنه او میتود دئ چې پکې کیمیاوی مواد د ګاز محیط ته نفوذ ورکول شی او چې پدې کې تجزیه او مرکبات رابېلول شی.

- **Cool Gas**
سوړ ګاز ، یو ډول زهرجن ګاز چې د کاربن مونو اکسایډ (CO) د شته والی له مخې زهر جن شوېدی او د ډېرو سکارو د کاربن د ناخالص سون څخه منځ ته راځی.

- **Gas Exchange**
د ګازاتو تبادله ، هغه پروسه ده چې په سږو کې د هوا څخه وینې ته د اوکسیجن تبادله کیږی او کاربن ډای اکسایډ ورڅخه راویستل شی او وینه تصفیه او پاکیږی.

- **Gas Gangrene**
ګاز ګانګرین ، دا یوکلینیکي پېښه ده چې د (Clostridium Welchii) باکتریا په مټه منځ ته راځی او تېښونه منتن کیږی تر پوستکی لاندې هوائي حبابونه او سیروزیتي مایع راټولیږی دا برخه نسج په نکروز او ګانګرین اخته کوی.

- **Laughing Gas**
خندا رواستونکی ګاز ، نایتروا کسایډ.

- **Gas Pain**
هغه درد چې د ډېرو زیاتو ګازاتو راټولېدنې د شتون له کبله په معده او کولمو کې منځ ته راځی ، د (Flatus) په انډول.

- **Gas Poisoning**
هغه مسمومیت چې د کاربن مونو اکسایډ او نورو سمی ګازاتو د راټولېدنې او انشاق له کبله منځ ته راځی.

- **Tear Gas**
اوښکې بهونکې ګاز. هغه ګاز چې د ملتحې د تحریک په مټه په پیاوړی ډول د اوښکو بهېدو لامل ګرځی.

معدوی اړیکه .

- Gastric Bypass Surgery

د معدې بای پاس جراحی عملیاتی کړنلاره چې د مړی د جراحی پلاستیک جراحی کې تر سره کیږی .

- Gastric Digestion

معدوی هضم .

- Gastric Fever

معدوی تبه .

- Gastric Flu

د خفیف اختلال او ناروغیو منځ ته راتګ.

- Gastric Juice

معدوی عصاره، د معدی شیره چې د (**Hydrochloric Acid** ، **Pepsin** ، **Intrinsic Factor** او **Mucus**) څخه جوړه او منځ ته راغلې وی او په هضم کې رول لری.

- Gastric Lavage

معدوی پرېمینځل ، معدوی لواژ ، د معدې لواژ او مینځلو کړنلاره چې د بېلابېلو لاملونو د راویستلو په موخه تر سره کیږی ، د (**Stomach Washout**) په انډول.

- Gastric Mill

معدوی ژرنده .

- Gastric Pit

هغه ژور تش منځې برخه چې معمولاً د معدې په مخاطی غشأ کې جوړیږی .

- Gastric Reflux

معدوی رفلوکس .

- Gastric Remittent Fever

معدوی راجعه تبه .

- Gastric Smear

معدوی نمونه .

- Gastric Ulcer

معدوی قرحه ، د معدې ټپ ، د معدې زخم ، د معدې د ټپ ناروغی لنډه نښه یې (**GU**) ده.

- Gastric Vein

معدوی ورید ، د معدې ورید یا د معدې شین رګ.

Gastricsin

یو پروتیولایټیک انزایم چې د معدې له عصارې څخه جلا کیږی ددې انزایم پریکارسور پیپسینوجن دئ او د مولیکول وزن او د انتهائی (**N**) امینواسیدونو له مخې له پیپسین سره توپیر لری .

Gastrin

ګاسټرین ، یو پولي پیپټاید هورمون چې په پیلوریک

- Gastric Acid

د معدې تېزاب ، هغه اسیډ چې د معدې د جداری (پاریټال) حجرو پواسطه افرازېږی .

- Gastric Acid Stimulation Test

د یوې تنبهی پروسې څخه وروسته د معدوی موادو اوعصارې تجزیه او تحلیل کې د معدوی تېزابو تاکنې آزمایښت .

- Gastric Acidity

د معدې تېزابیت .

- Gastric Adenocarcinoma

د معدې اډینوکارسینوما ټیومور .

- Gastric Alcohol Dehydrogenase

معدوی الکهولی ډیهایدروجنېز انزایم .

- Gastric Algid Malaria

معدوی الجیډ ملاریا ، دا د فالسیفورم ملاریا (**Falciparum Malaria**) اړوند ده چې په اساسی ډول سره(معده ، هضمی جهازکرلمې **Gut** او نورې بطنی حشوې غړی **Abdominal Viscera**) نیسی چې پکې[په معند ډول سره کانګې (**Persistent Vomiting**)] منځ ته راځی ، د (**Algid Malaria**) په انډول.

- Gastric Alkalosis

معدوی الکلوزیس .

- Gastric Analysis

د معدوی موادو اوعصارې تجزیه او تحلیل .

- Gastric Analysis and Gastric Acid Stimulation Test

د معدوی موادو اوعصارې تجزیه او تحلیل کې او په هغه د تنبهی پروسې څخه وروسته د معدوی تېزابو تاکنې آزمایښت .

- Gastric and Duodenal Ulcers

د معدوی اواثناعشر کولمې قرحې (ټپونه) .

- Gastric Ansa

دا یو ډول مطلق اصطلاح ده چې پکې د مستعرض کولون د مصلی سطحې (**Serosal Surface**) او معدې غټې انحنا (**Stomach Greater Curvature**) ترمنځ اړیکه د لوی ثرپ (**Greater Omentum**) پواسطه څرګندېږی .

- Gastric Antacid

د معدوی تېزابو ضد ، د معدې هایدرو کلوریک اسیدونه چې د اسید تولیدوونکو حجرو پواسطه افرازېږی.

- Gastric Artery

معدوی شریان، د معدې شریان چې د سلیاک جذعې (**Coeliac Trunk**) یوه څانګه ده.

- Gastric Balloon

معدوی بالون .

- Gastric Band

د کاذبې غشأ لرونکې ګاسټریت چې دا غشأ د پلاکونو په بڼه جوړیږی.

- **Superficial Gastritis**

سطحی ګاسټریټ ، چې د معدې د لمینا پروپریا مزمن التهاب چې د معدې د مخاط د خارجی ۳/۱ برخې پواسطه محدویږی.

- **Toxic Gastritis**

یو ډول ګاسټریټ چې د سمي او مخرب عواملو په اثر منځ ته راځی.

Gastro-

دا یو مختاړي دئ او د معدې معنا لری .

Gastroanasthomosis

د معدې –معدې ترمنځ تفمم چې د (Gastrogastrostomy) په نامه هم یادږی.

Gastrocele -

بهر ته د معدې چُره ډوله راوتلې برخه ، دمعدې فتق (Stomach Hernia) په انډول.

Gastrocnemius

د عضلاتو لښتلیک ، د پُنډی عضلاتو کتله.

Gastrocoele

د (Archentron) په انډول .

Gastrocolic

د معدې او کولون اړوند صفت .

- **Gastrocolic Artery**

د معدې او کولون شریان .

- **Gastrocolic Ligaments**

د معدې او کولون لېګامنټونه .

- **Gastrocolic Lymph**

د معدې او کولون لمف .

- **Gastrocolic Reflex**

د معدې او کولون رفلوکس چې پکښې دکولون سمدلاسه پریستالتیزم په لوړې او تشه معده کې چېرې ډوډۍ و خوړل شی منځ ته راځی .

- **Gastrocolic Vein**

د معدې او کولون ورید .

Gastrocolitis

د معدې ا وغټوکولمو التهاب .

Gastrocolectomy

د معدې او کولون برخو غوڅولو جراحي کړنلاره.

Gastrocolostomy

د معدې او کولون غوڅولو جراحي کړنلاره.

غدواتو کې د ځانګړو حجرو څخه افرازیږی او د معدې د اسید او پیپسین د افراز د تحریک لامل ګرځي او تر یوه حده پورې د پانکراس د انزایمونو او صفراوی کڅوړې د انقباض د پاڅېدنې لامل هم ګرځی.

Gastrinoma

د ګاسترین د افرازونکو ټاپوزمو حجرو تومور معمولاً په پانکراس کې وجود لری دغه تومور د زولینجر –الیسون سندروم یو شایع علت دئ چې ډېر زیاته پیمانه اسید افرازیږی .

Gastritis

د معدې التهاب .

- **Acut Gastritis**

د معدې حاد التهاب .

- **Atrophic Gastritis**

د معدې د مخاطی غشأ ضمور (اټروفیک) التهاب . په ټوله ارتفاع د مخاطی غشأ کښې حجروی ارتشاح او مزمن ګاسټریت شتون لری

- **Catarrhal Gastritis**

د مخاطی افرازاتو له زیادښت سره یوځای د معدی مخاط ضخامه او التهاب شتون لری .

- **Chronic Gastritis**

د معدې مزمن التهاب ، ټوله ارتفاع د مخاطی غشأ کښې حجروی ارتشاح او مزمن ګاسټریت شتون لری .

- **Eosinophilic Gastritis**

یو ډول ګاسټریت چې پکې د انټروپیلور جدار کې د پام وړ اذیما او ائیوزینوفیلیک ارتشاحات شتون لری.

- **Erosive Gastritis**

د معدې د مخاطی غشأ د اپیټلیوم طبقې د ګرېدلې (شړېدلی) ډول ټپ شتون د معدې د التهاب له امله.

- **Exfolliative Gastritis**

د (Erosive Gastritis) په انډول.

- **Giant Hypertrophic Gastritis**

د معدې شدید ډول د جیانت حجرو ارتشاح التهابی بڼه چې پکې د معدې جدار ضخامت د زیادښت لامل ګرځی.

- **Hypertrophic Gastritis**

د معدې التهاب چې پکې د معدې د غدواتو ضخامه او لوئېدنه منځ ته راغلې وی ، ضخاموی ګاسټریت.

- **Polypous Gastritis**

د معدې التهاب چې پکې د معدې د مخاطی طبقی پولیپوئید راوتلتیا سره مل د غدواتو ضخامه او لوئېدنه منځ ته راغلې وی ، پولیپي ضخاموی ګاسټریت.

- **Pseudomembranous Gastritis**

مزمن ډول ګاستروانتیریټ .

- Canine Hemorrhagic Gastroenteritis

کانین وینه بهیدونکي ګسټروانټریټ ، دا ي حاد سنډروم دئ چې پکې (کانګې **Vomiting** ، وینه لرونکي نس ناستې **Bloody Diarrhea** چې د ډیهایدریشن **Dehydration** او وصفی ډول ویني تراکم **Hemoconcentration**) که درملنه یې ونشی د دورانی عدم کفائي (**Circulatory Failure**) لامل ګرځی چې په لنډه موده کې مرګ پیښوی .

- Eosinophilic Gastroenteritis

ایوزینوفیلی ګستروانټریت ،دا هغه ډول ګستروانټریت دئ چې پکې په ځانګړې ډول غذائی موادو سره د نه زغملو حالت شتون له کبله د [(نری کولمو **Small Intestine** او معدې **Stomach**) مخاطی غشا کې د ایوزینوفیلی ارتشاح **Infiltration Eosinophils** ، اډیما **Edema** خو د رګونو التهاب **Vasculitis** نشتوالي پکې وی] منځ ته راتلګ سره مل وی چې د (ارتشاح له کبله منځ ته راځی .

- Epidemic Viral Gastroenteritis

اپیډیمیک ویروسی ګسټروانټریټ.

- Gastroenteritis Infectious

انتانی ګسټروانټریټ.

- Gastroenteritis Noninfectious

غیر انتانی ګسټروانټریټ.

- Norwalk Gastroenteritis

نوروواک ګسترو انټریټ .

- Norwalk Virus Gastroenteritis

د (**Norwalk Virus**) پواسطه د نوروواک ګسترو انټریټ پیښېدنه .

- Transmissible Viral Gastroenteritis of Pigs

په خوګانو کې لېږدېدونکي ویروسی ګسترو انټریټ .

- Viral Gastroenteritis

د (روټا **Rotaviruses** او نوروواک **Norwalk Virus**) ویروسی لامل له کبله ګسترو انټریټ .

Gastroentero Anastomosis

دمعدې او کولمو ترمنځ تفمم او بیا ګنډل د جراحی کړنلارې پواسطه

Gastroenterologist

د معدې او کولمو د ناروغیو متخصص او کارپوه ډاکټر.

Gastroenterology

د معدې او کولمو سیستم داړوند تشوشاتو او ناروغیود څېړنو او تحقیق علم ته ویل شی.

Gastroenteropathy

د معدې او کولمو سیستم داړوند تشوشاتو او ناروغیو هره یوه ناروغی ته ویل شی .

Gastrocutaneus

د معدې او پوستکی اړوند حالات او پروسیجرونه .

Gastrocystoplasty

د مثانې د کځوړې د کچې اوسایز زیادښت په موخه د معدې د یوې برخې څخه ګټه اخیستل د جراحې کړنلارې په مټه.

Gastrodiaphany

د معدې په جدارونو باندې د یوه کوچني څراغ د وړانګو د اچولو په مټه د معدې کتنه او معاینه کول.

Gastrodiscoides

د تریماتودا له کورنۍ څخه یو جنس چې د هضمی جهاز پرازیت ګڼل کېږی.

Gastroduodenal

د معدې او اثناعشر کولمې اړوندصفت .

- Gastroduodenal Artery

د معدې او اثناعشر شریان چې د پانکریاس لوړې ته غزېدلې.

Gastroduodenitis

د معدې او اثناعشر برخو التهاب .

- Eosinophilic Gastroduodenitis

هغه راز اختلال اوالتهاب چې پکې د ځینو خوراکونو نه زغمل مل وی او د اثناعشر د مخاط د ارتشاح –اډیما (پرتەلەواسکولیت څخه) او په محیطی وینې کې د ایوزینوفیلیا تثبیت شتون لری.

- Norwalk Gastroduodenitis

د نوروواک (**Norwalk**) له ویروس څخه زېرنده د معدې او اثناعشر التهاب.

Gastroduodenoscopy

د معدې او اثناعشر د اندوسکوپیک کتنې کړنلاره.

Gastroduodenostomy

د معدې او اثناعشر ترمنځ د (**Bypass**) جراحی عملیات پذریعه د تفمم کړنلاره تر څو بنده برخه اصلاح شی.

Gastroenteritis

د معدې او کولمو التهاب چې د ویروسونو له امله پېښیږی نس ناستې او کانګې منځ ته راوړی.

- Acute Gastroenteritis

حاد ډول ګاستروانټیریټ .

- Bacterial Gastroenteritis

باکترېائی ګستروانټریټ چې د باکتریائی انتاناتو د توکسینونو (**Bacterial Toxin**) له امله په (**Salmonella**، **Shigella** او **Campylobacter**) ګستروانټریت پېښو کې لېدل شی.

- Chronic Gastroenteritis

Gastrogavage
هغه ټیوب له لارې مصنوعی تغذیه چې معدې ته ننویستل کېږی.

Gastrografin
د هغه مادې تجارتی نوم دئ چې په (**Enema**) کې کارول شی او د هضمی جهاز (**Bowel X-Rays**) وروسته د هغې ورکولو څخه اخیستل شی.

Gastrohepatitis
د معدې او ځیګر ګډ التهاب.

Gastroileac reflex
دا هغه ډول عکسه (**Reflex**) ده چې پکې په اتومات ډول د ایلیوسیکال والف (**Ileocaecal Valve**) کله چې غذائی مواد په معده کې وي دا دسام وازیږی او استرخأ کوی.

Gastroileitis
د معدې او ایلیوم برخې التهاب.

Gastrointestinal
د معدې او کولمو اړوند. هضمی جهاز ، معدی معائی سیستم ، چې لنډه نښه یې د (**GI**) په انډول.

- Gastrointestinal Bleeding
د معدې او کولمو څخه وینه بهېدنه، هضمي خونړیتوب.

Gastroileostomy
د معدې او ایلیوم تر منځ د جراحي کړنلارې سرته رسولو پذیرعه پیوند ورکول.

Gastrojejunocolic
د معدې جیجینوم او کولون اړوند.

Gastrojejunostomy
د معدې (**Stomach**) او جیجینوم (**Jejunum**) ترمنځ تفمم او ګنډلو جراحی کړنلاره.

Gastrolienal
د معدې او طحال (توري) اړوند.

Gastrolith
په معده کې ډبره (**Calculus**) جوړېدل. د معدې تیږه.

Gastrolithiasis
د معدې د تیږو ناروغی.

Gastrology
د معدې او اړوند ناروغیو څېړنو علم ته ویل شی.

Gastrolysis
د معدې وازول او آزادولو(تسلیخ) جراحی کړنلاره تر سره

- Allergic Gastroenteropathy
د معدې او کولمو سیستم دالرژی او حساسیت اړوند تشوشاتو او ناروغیوته دا نوم ورکول چې پکې په وینه کې ایوزینوفیلونه د تثبیت وړ وی او همدا رنګه نور توکې هم لیدل شی په ځانګړې توګه (دغوا د شیدو په وړاندې حساسیت) سره مل وی.

Gastroenterostomy
د معدې او کولمو ترمنځ د تفمم چې په جراحی عملیه باندې تر سره کېږی.دا (**Bypass**) عملیه د معدې او اثناعشر په (**Peptic Ulcer**) پېښو کې سرته رسیږی.

Gastroenterotomy
د معدې او کولمو غوڅول او وازولو کړنلاره ده چې د جراحی عملي پذیرعه تر سره کېږی.

Gastroepiploic
د معدې او ثرب کبیر (**Greater Omentum**) اړوند برخې پورې تړلې.

- Gastroepiploic Artery
د معدې او ثرب کبیر (**Greater Omentum**) اړوند برخې پورې تړلې شریان یا سور رګې ته ویل شی چې (**Gastroduodenal Artery**) د (**Splenic Artery**) سره نښلوی.

Gastronmy
د نښه خوړولو فن، په ډوډۍ خوړولو کې دعلمی اساساتو رعایت.

Gastrpod
هغه ژوی چې پښې یې په خپټه کې وي (لکه دآسمان څکالی یا مانبام څکلکی) ماشامك (چرمی شو پرك).

Gastroesophagitis
دمعدې او مری التهاب.

Gastrofibroscope
د معدې دکتنې او معاینې لپاره فیبرواندوسکوپیک ځانګړې وسیله.

Gastrofibroscopy
د معدې کتنه او معاینه فیبرواندوسکوپ پواسطه.

Gastrogastrostomy
دمعدې او معدې تر منځ پیوند (تفمم) د معدې د یوې برخې غوڅولو وروسته.

Gastroschisis

د معدې په جدار کې په ولادې (مورزېږه) درز شتون چې ور څخه د ګېډې احشأ (کولمې ، ینه) بهر ته راوتنه کوی.

Gastroscope

هغه اندوسکوپیک وسیله چې د معدې فضأ د کنټې لپاره پکارولې شی.

Gastroscopic

د ګستروسکوپ اړوند .

Gastroscopy

هغه کړنلاره ده چې د اندوسکوپیک وسیلې پذریعه د معدې دننه فضأ کتل کېږی .

Gastroselective

هغه ماده چې د معدې د حرکتونو د تنظیم کوونکو معدوی رسپتورونو لپاره ځانګړي شویدی.

Gastrospasm

د معدې تشنج ، د معدې شخوالې ، د معدې د حلقوی عضلاتو د راټولېدنې پذریعه د سپزم منځ ته راتګ بلل شی.

Gastrostaxis

د معدې له مخاط څخه د وینې راتوئېدنه.

Gastrostogavage

د معدې د فیستول له لارې تغذیه.

Gastrostolavage

د معدې د فیستول له لارې د معدې مینځلو کړنه .

Gastrostomy

د معدې دننه ته د یوه مصنوعی سُوری (منفذ)منځ ته راوړل ،معدې د لارې ایستلو جراحی کړنلاره او دود بلل شی او معدې د همدغې لارې تغذیه تر سره شی.

Gastrotomy

د معدې وازول د جراحی کړنلارې پواسطه. د معدې په جدار باندې شق ترسره کول.

Gastrotonometer

د معدې د دننه (داخلی) فشار ټاکنې لپاره وسیله ده.

Gastrotropic

په معده باندې د پارونکو اغېزو درلودل.

Gastrotympanites

د هوا په ذریعه د معدې پراخېدل.

Gastrula

له بلاستولا څخه وروسته دوره کې د رشیم (**embryo**) کول بلل شی.

Gastromalacia

دمعدې د جدار نرموالې (پوستوالې، نرمښت).

Gastromegaly

د معدې د جوف لویوالې.

Gastromycosis

د معدې د چنیاسې (فنګسونو) ناروغی.

Gastromyxorrhea

په معده کې د مخاط له حده ډېر افراز.

Gastro -oesophageal Reflux

د معدې – مری رفلوکس ، دا هغه ناروغی ده چې پکې له کارډیا معصرې څخه معدوی مواد مری ته بېرته وردا خلیږی. د (**GER**) په انډول

- **Gastro-oesophageal Reflux Disease**

د معدې – مری رفلوکس ناروغی .

Gastropathy

د معدې هر ډول ناروغی. ته ویل شی.

Gastropexy

د معدې د تثبیت جراحی کړنلاره د ګېډې د جدار سره.

Gastrophilus

معدې ته ورته (**Gastrophilus**) .

Gastrophrenic

د معدې او حجاب حاجز اړوند.

Gastroplasty

د معدې د اصلاح جراحی کړنلاره.

Gastroplication

د معدې د جدار یوتربله سره د ګنډلو جراحی کړنلاره. د معدې د جدار چین ورکولو جراحی عملیه.

Gastroptosis

د معدې سقوط ،د معدې راغورځېدل او ځوړند پاتې کېدل.

Gastropylorectomy

د معدې (ژرندې) د پیلور (بواب) برخې د غوڅولو دجراحی کړنلاره بلل شی .

Gastrorrhagia

د معدې څخه وینه بهېدنه.

Gastrorrhoea

د معدې د مخاطی غشأ د غدواتو څخه د حده وتلې ډول افرازاتو (**Gastric Juices**) راتوئېدنې بهیر بلل شی.

جذبېدونکي ګاز ،چې د اوکساید شوی سلولوز څخه جوړېږی .

-Absorbent Gauze

جذب کونکي ګاز چې وینه او مایع په ځان کې جذب کوی.

-Petroleum Gauze

هغه استریل سپینه ماده چې د نفت په متې د زېښونکي استریل ګاز د مشبوع کولو څخه لاسته راځی .

-Zinc Jalatin Ompregnated Gauze

هغه جاذب زېښونکي استریل ګاز چې جستی – جلاتین وربانديې زیات شوی وی.

-Gauze dressing

د ګاز پذریعه پانسمان کول .

Gavage

دهغه ټیوب له لارې چې معدې کې اینبودل شوېوی تغذیه کول ، اجباری (فشاری) تغذیه کول .

Gay

خوشحاله، ورین، ښاد، ځلاند، ژوندی. د جنسی فعالیت اړوند په عین جنس خلکو کې .

Gayly

په خوشالی، په خوښی.

Gaze

ځیرځیر کتنه. ځیرکېدل،په ثابت ډول یوې لورې ته کتنه .

-Conjugate Gaze

- د سترګو د شبکې پر مخ د یوه انځور د پېښونې په موخه په یوه لورې باندې بنفسهی د دواړو سترګو طبیعي حرکت

Gazelle

غزال، هوسی.

G-CSF

د ګرانولو سایټي کالونی ګانو جوړونکي محرک فکټور د (**Granulocute Colony Stimulating Factor**) لپاره لنډه نښه ده .

Gd

د ګاډولینیوم (**Gadolinium**) د عنصر لپاره کېمیاوی نښه ده .

GDC

د غاښونو عمومی ټولنه (**General Dental Council**) لپاره لنډه نښه ده .

Ge

د جرمنیوم (**Germanium**) عنصر کېمیاوی نښه بلل شی.

.

وضعیت ، د ژوند تر ټولو ساده بڼه چې دوه طبقې لری (اکتودرم او اندودرم) او د رحم د مخاط د داخل پلوته نفوذ کوی .

Gate

لوی ور (لکه دکور) ور، خوله (مدخل)، دروازه: وت، چورګه.

Gathering

داسې یو پرسوب چې له خیري او نو (**pus**) څخه ډک وی . ټولونه، غونډونه: غونډه، ټولنه.

Gating

د یوې داسې دروازې له لارې چې د ځانګړو بریښنائي تحریکونو انتخابی تېرول چې یوازې د ځانګړو معیارونو په پام کې نیولو سره د تېرېدلو اجازه ورکاندې ، دروازه کېدنه.

Gauche

کین لاسی، بې ډوله، بې نزاکته.

Gaucher's disease

د ګوشر ناروغی.په کال (**1854–1918**) کې د فرانسوی طبی عالم (**Philippe Erness Gaucher Charles**) پذریعه شرحه شو . داسی د انزایم اړوند ناروغی ده چې د هغې کبله شحمی مواد د لمفاوی غدې ، توري او ځیګر کې راټولېږی او وینه لرې ، پرسېدلې طحال (توري) او د پوستکي توروالي منځ ته راوړی او دا ناروغی ښائي په ماشومانو کې وژونکې وی .

Gauge

پرتله کول، اندازه کول، میچول. میچه، اندازه (ګیج).

Gaunt

ډنګر، بدوکری، ګورملی، تریو.

Gauntlet

لاس ماغو، اوږدې دستکشی. هغه بنداژچې لاس ، ګوتې دیوه د لاسپوښ په څېر پوښی.

Gauss

په (**CGS**)سیستم کې د مقناطیسی بهیر د شدت ټاکنې لپاره واحد چې (10^{4}) تسلا سره معادل دئ لنډه نښه ئې (**G**) ده .

Gauze

نازکه جالی، ململ، ګاز، فلزی جالی. یونری. ډول شبکوی ټوکر چې ببلابېلو ډولونو جوړېږی او د پانسمان کولو لپاره کارول شی.

-Absorbable Gauze

چې د هایدرولایز وروسته لاس ته راځی، دا یوه سرښنا که ماده چې دمیکروبونو دکرلو ، په عکاسی کې او د درملود کپسولونو په جوړولو صنعت کې تړې کار اخلی : جلی.

- Zinc Gelatin

هغه محصول چې د جلاټینی مادې جستی اکسایډ ، ګلایسرین او خالصو اوبو څخه ترلاسه کېږی.

Gelatinous

جلاټیني اړوند صفت، له جلاټین څخه جوړ او لاسته راغلې جوړښت.

Gelation

په جیلي(**Jelly**) باندې د سول (**Sol**) حالت بدلون.

Geld

د مرغۍږیو (خوټو/ خصیيو) راویستل په ځانګړې توګه په آسونو کې .

Gemella

د هوازي یا انتخابی غیر هوازی کوکسی ګانو یو جنس چې په منفرد یا غبرګ ډول لیدل کېږی ، دغه میکروبونه د تی لرونکو لپاره پرازیتي بڼه لری.

Gemellology

د غبرګلونودځېړنې علم او پوهه.دغبرګون د څېړنې علم .

Geminate

غبرګ لونی ، جوړه ، غبرګون

Gemation

جوانه وهل ، د یوې حجری څخه د جسم د یوې برخې څخه راوتلې برخه او بیا دېبلېدو او نوې حجرې د جوړېدلو په بڼه غیر جنسی تکثر بلل شی

Gemmule

د جوانه (غوتی) وهلو لومړنې محصول ، دیوه نیرون په دندرایټونو باندې د اغزی ډوله څو بارزو څخه هره یوه .

- gen

د تولیدونکي عامل ، مؤلد ، دا یو روستاړې دئ او تولیدونکې مانا ورکوی لکه (**Hematoge, Carcinogen..etc**).

Genal

په خوله او غومبوری پورې اړوند.

Gender

(ګر) جنس (بڼځینه، نارینه اومخنث) ، هغه ډله چې یوکې یو شخص د خپل جنسیت له مخې ونډه ولری .

Gegenhalten

د غیرمنفعله (پاسیف) حرکتونو په وړاندې ارادی مقاومت چې ښائي د ماغزو د قشر د ضایعاتو کې ولیدل شی.

Gehrig's Disease

امایلوټروفیک جنبی سکلروزس بلل شی ، د (**Amyotrophic Lateral Sclerosis**) لپاره لنډه نښه ده.

Geiger Counter

دا اصطلاح د لومړی ځل لپاره د (**Hans Geiger**) له خوا په کال (**1882–1945**) چې د جرمني (**German physicist**) چې د (**Rutherford at Manchester University, UK**) استاذ وؤ شرحه شوه او دا یوه وسیله ده چې د وړانګو او تشعشع (**radiation**) اندازې ټاکنې په موخه کارولې شی.

Gel

یو سخت کلوئید چې د ټاکلې مایع لري ، جلاټینی بڼه کې یو کلوئیډ.جیلی ته ورته کلکه مایع .

- Alumnium Carbonate Gel ,Basic

دالمونیوم هایدروکسایډ او المونیوم کاربونیت یو جیلی مایع چې د اسید ضد مایع په څېر کارول شي او همدغه راز په کلیوی عدم کفایه کې د هایپر فسفاتیمیا او د فاسفیټی بولي ډبرو د جوړېدنې په مخنیوی کې کاریږی.

- Alumnium Hydroxide Gel

دالمونیوم هایدروکسایډ او المونیوم هایدریت اوکساید سسپنشن مایع چې د معدې او اثناعشر ټیونو (زخمونو) په درملنه کې د اسید ضد مایع په څېر کارول شي او همدغه راز د فاسفیټی بولي ډبرو د جوړېدنې په درملنه او مخنیوی کې کاریږی.

- Alumnium Phosphate Gel

دالمونیوم فاسفیټ یو اوبلن - جیلی ډوله مایع چې پکې خوندور مواد ور اضافه کېږی د اسید ضد مایع په څېر کارول شي او د غایطی موادو فاسفیټ د اطراح د کمونکې مادې په توګه پکاریږی.

- Sodium Fluride Phosphoric Acid Gel

د فلورایډ او کاربوکسی متایل سلولوز څخه جوړ اوبلنه ماده چې د غاښونو د وروسته والی څخه د مخنیوی لپاره په موضعی ډول پکاریږی.

Gelasmus

هیستیریک خندان کس.

Gelatin

جیلاټین، هغه پروټینی ماده چې اوبو کې منحل او په (کولاجن نسج ،پوستکي، منظمی نسج او حیواناتو هډوکو) کې موندل شی

هغه جین چې د ارګانیزم د مرګ لامل ګرځی اویا داچې د ژوندون اجازه یوازې د ځانګړو شرایطو په شته والي کې ورکوی.

- **Mutant Gene**

هغه جین چې په میوټیشن اخته شوېوی .

- **Operator Gene**

هغه جین چې دیوه جنیټیکي کوډ د لوستنې لپاره د پیل ټکی دی او له ځانه سره یوځای د ساختمانی جینونو د فعالیت د کنټرول لامل ګرځی .

- **Recessive Gene**

مغلوب جین، هغه جین چې یوازې په هغه صورت کې چې د هوموزایګوټ شکل کې قرار ولری خپل ظاهری اغېز (فینوټایپ)څرګندوی .

- **Regulator Gene**

تنظیم کوونکي جین، په جنیټیکي تیوری کې دغه اصطلاح دهغه جین کارولە کېږی چې ریوی پروسې د معلق کوونکي مادې د جوړښت عامل وی یا داچې د (**Operator Gene**) سره ددې جین د اغېز تداخل د ساختمانی جینونو د فعالیت مانع (خنډ) ګرځی،هغه جین چې د نورو جینونو دفعالیت د کنټرول په بڼه خپل اغېز ښکاره کوی.

- **Repressor Gene**

معلق ساتونکي (پېزوانونکي) جین. د (**Regulator Gene**) په انډول.

- **Sex linked Gene**

په جنس پورې تړلي جین ، هغه جین چې په جنسی کروموزوم کې په ځانګړې توګه په (**Y**) هغه باندې پروت وي.

- **Split Gene**

هغه جین چې په ګڼ شمېر کې اګسونونه (**Axons**) او لږ تر لږه د یو اینترون ولری.

- **Structural Gene**

هغه جین چې په یوه پولی پیپټایډ ځنځیر کې د امینو اسیدي لړیو ترتیب مشخص کړی .

Genealogical

د شجرې اړوند ، د نسب نامې اړوند

Genealogy .

نسب نامه، شجره اړوند علم او پوهه .

Genera

جنس ، ډول ، طبقه ، اصلیت ، نسب ،ذات.

General

عمومی ، تېوائیزه بڼه .

- **General Amnesia**

په عمومی ډول سره ناڅاپه او کامل ډول د شعور یا عقل له لاسه

- **Gender Identity Disorder**

هغه حالت چې پکې یو شخص د خپل ځان نارامې او زورېدنه جنسیت له مخې وګڼي .

- **Gender Reassignment Surgery**

د جراحي کړنلارې هغه ډول کړنه چې پکې د یوچا جنسیت ته بدلون ورکول شی .

- **Gender Reorientation**

ددرملو یا جراحی کړنلارې کړنې پذریعه چې پکې د یوچا په جنسي حالت کې تغیر او بدلون منځ ته راوړل .

Gene

د ارثیت بیولولوژیک د (**DNA**) واحد چې د کروموزومونو پرمخ په ځانګړو سیمو (ناحیې) او لوکوس کې پروت دئ او د اوصافو ښودونکې وی .

- **Allelic Gene**

الیلی جنونه ، هغه جینونه چې په یوه جوړه کروموزومونو پر مخ په ورته سیمو (په یوه لوکوس **Locus**) کې ځای لری .

- **Chimerical Gene**

یو ډول مصنوعی جن چې یو دبل په څنګ کې د (**DNA**) د مالیکول د بېلابېلو مختلفو ټوټو یا د جینونو د نااړونده ټوټو د ځای نیونې څخه منځ ته راځی .

- **Complementary Gene**

غېر الیلي جینونه دوه غېر تړاولرونکي جوړې چې هیڅ یو ئي د بل له شته والي پرته د خپلو ارثی ځانګړتیاو ای‌جادولو توان نلری ، بشپړونکي جینونه ،تکمیلی جینونه .

- **Dominant Gene**

بارز جینونه ، غالب جینونه ، هغه جینونه چې د هوموزایګوټ په بڼه یا د هیتروزایګوټ له ځان څخه خپل ظاهری اغېز (فینوټایپ) څرګندولای شی.

- **H.g . Gene = Histocompatibility Gene**

هغه جینونه چې د نسجونو انتي جنی ځانګړنې (نسجی توافقی انتي جینونه یا) راڅرګندوی یا په بل ډول د همدوی په لوړې پام او توجه دی چې د نسجی توافق یا نه توافق تر ارزونې لاندې نیول کېږی.

- **Holandric Gene**

هغه جینونه چې د (**Y**) کروموزوم په نا هومولوګ سیمو کې پراته دي.

- **Immune Response(Ir) Gene's**

معافیتی غبرګون ښونکی جن، هغه نسجي توافق کونکي ټولګي (**MHC**) اصلی جینونه چې په ایمیونوجن کسانو کې معافیتی غبرګون پېښ کاندې .

- **Is Gene's**

هغه جینونه چې ځوړند (معلق) ساتونکي (**T. Lymphocyte**) د ټي لمفوسایت د جوړښت لړۍ او پروسه رهبری کوی.

- **Ethal Gene**

- **Generalised Anxiety Disorder**
عمومی پریشانی ګډوډي. عمومی اظطرابی تشوش (اختلال).

Generally
په عمومی ډول: جنرال

Generate
زیږول، تولیدول. نسل منځ ته راوړل.

Generation
نسل ، د تکثر پروسه ، هغه ټولګه چې داسې کسان پکې شامل وی چې د ورته پلرونو او نیکونو څخه منځ ته راغلی وی او خپلو نیکونو ته ورته والی ولری .

- **Alternate Generation**
متغیر نسل ،په هلابهلو حیوانی او نباتی ډلو کې په جنسی او غیر جنسی ډول تکثر بلل شی.

- **Asexual Generation**
غیر جنسی تکثر ، د ګامیټونو د القاح پرته د نوي ارګانیزم پیدا ہښت او تکثر کول.

- **First Filial Generation**
د دوه والدینوڅخه زیږنده لومړني نسل . لنډه نښه یې (**F1**) ده . لومړني پیدا کېدونکې نسل.

- **Second Filial Generation**
دویم پیدا کېدونکې نسل ، د دوه والدینوڅخه زیږنده دوهم نسل . لنډه نښه یې (**F2**) ده .

- **Parental Generation**
هغه نسل چې جنیتیکي ځېرنه ورڅخه پیل کېږی لنډه نښه یې (**P1**) ده .

- **Sexual Generation**
جنسی تکثر ، د ګامیټونو د القاح څخه وروسته د نوي ارګانیزم پیدا ہښت او تکثر کول.

- **Spontaneous Generation**
بنفسهی تکثر ، د غیر ژوندیو موجوداتو څخه د نوي ژوندی ارګانیزم پیدا ہښت او تکثر کول.

Generative
زیږوونکی، تولیدوونکی. نسل منځ ته راوړونکې .

Generator
زیږوونکی، تولیدوونکی عامل ، مؤلد ، هغه ماشین چې میخانیکی ځواک په بربښنائي میتر اړوی.

- **Pattern Generator**
د عصبی حجرو یوه ډله چې حرکي پېچلي شکلونه لکه ژوول او په لاروتلل کنټرول کوی.

- **Pulse Generator**
د زړه په پسمیکری سیستم کې د ځواک سرچینه چې معمولاً د یوې ورکول دی، دا چې سمدلاسه یو ځوک هر څه هېروی او هیڅ هم په یاد نلری حتی دا چې خپل نر توب او ښځینتوب هم نه پېژنی .

- **General Anaesthesia**
عمومی بېهوښي ، عمومي بېسده کېدنه، یو چاته د بېهوښی درملو ورکړې وروسته په عمومي بڼه د حسیت له منځه تګ ته ویل شی .

- **General Anaesthetic**
د عمومي بېهوښی اړوند.

- **General Dental Council**
د غاښونو عمومی ډله (انجمن) لپاره لنډه نښه **GDC** ده.

- **General Hospital**
عمومی روغتون ، داسې روغتون چې اختصاصی د یوه سیستم لپاره نه وی .

- **General Physician**
عمومی طب ډاکټر ، عمومی طبیب.

- **General Surgeon**
عمومی جراح متخصص ، هغه څوک چې د عمومی پروګرام یې بشپړ کړې وی ړ

- **General Medical Council**
د عمومی طبی ټولنه چې لنډه نښه یې (**GMC**) ده .

- **General Optical Council**
عمومی بصری ټولنه .

- **General Practice**
عمومی عملی بڼه کار کړنه.هغه عمومی طبی تجربه /پرکتس چې په لړمړی سرکې یې ډاکتران تر سره کوی .

- **General Practitioner**
عمومی طبی تجربه کونکي ډاکټر ، دناروغیو عمومی طبی معالج ډاکټر . لنډه نښّه یې (**GP**) ده.

- **Gene Replacement Therapy**
د جین (**Gene**) تعویض کونکي درملنه . پدې کې د تخریب شوی یا غلط شوی جینونو تعویضی درملنه کېږی کېدای شی چې د (**Thalassaemia, Cystic Fibrosis**) او نورو جنیټیک اختلالی ناروغیو در ملنې لپاره پکار یوړل شی. د (**Gene Therapy**) په انډول.

- **Gene Therapy**
د جین(**gene**) د تعویض درملنه. د (**Gene Replacement Therapy**) په انډول.

Generalise
عمومی بڼې ته اوښتنه. عموماً خپرېدنه. د (**Generalize**) په انډول.

Generalised
عمومی بڼې ته اوښتې .د موضعی ډول پر ضد بڼه. د (**Generalized**) په انډول.

چې د جینونو (**Genes**) د اوصافو اړوند څېړنه پکې تر سره کېږی. د وراثت علم.

- **Biochemical Genetics**

بیو شیمیک جنیټیک ،دکیمیاوی او فزیکي ماهیت او همدغه راز د جینونو د هغه میکانیزم څېړنه چې د هغو له لارې د هر ارګانیزم بشپړتیا او بقأ شونې کېږی.

- **Clinical Genetics**

کلینیکي جنیټیک ، د جنېټیکي عاملونو څېړنه چې د مرضی حالتونو پېښېدل تر اغېزی لاندې راولی.

- **Genetic Screening**

هغه پروسه چې پکې ګڼ شمېر خلک څېړل کېږی تر څو قسماً جنیټیک اختلال (تشوش) ومومندل شی

Genetotrophic

په تغذیه او جنیټیک پورې تړلي پوهنه ،په هغه تغذیوي ستونزو پورې تړلې چې ارثی ځانګړنې لری او په ارثي ډول لېږدول شی .

Gene Tracking

د هغه میتود کارول چې د یوې کورنۍ د غړو په منځ کې د داسی ارثی جین چې د (**Cystic Fibrosis Or Huntington's Chorea**) لامل کېږی ترڅو د د پېژندنې له مخې د جنیټیک اختلال ومومندل شی.

Genial

ورین، خوشحال، مهر بانه، د واده پورې تړلې ، په واده پورې اړوند. د (**Mental**) سره په انډول.

Genially

په خوشحاله ډول

Genic

د جینونو پورې اړوند ، د جینونو پواسطه منځ ته راغلې.

-genic

دا یو روستاړې دئ د لغت پایله کې راځی او د نشئت (منشه) موندلو یا لمل ګرځېدلو په معنی دئ

Genicular

د زنګون **knee** اړوند د ګونډې په بند پورې اړوند ، ګونډه ایېز.

Genicularis

د زنګون پورې اړوند صفت بلل شی.

Geniculate

د زنګون (ګونډې) په څېر ورته .

لیټیومي بطری له لارې تأمین کېږی دغه ځواک (پوتانشیال) د الکترودونو له لارې د عضلې ته استول کېږی او د هغې په مرسته د زړه حرکتونو ته یو ثابت ریتم یا د ضرورت په مهال یو متغېر ریتم وربخښلای شو.

Generic

جنسی، نوعی، اصلی ، عمومی.

Genesis

لرغونی پیدایښت، خلقت، د جین (**gene**) پورې اړوند ، د درملو غېر تجارتی (اصلی) نوم چې د کیمیاوي جوړښت له مخې ټاکل شی.

-genesis

دا یو روستاړی دئ چې د شکل نیونې او تکامل (ودې) کولو مانا ورکوی.

Genetic

د جین (**gene**) اړوند. ارثی

- **Genetic Code**

د حجرې د (**DNA**) کرکټر یا اوصاف دئ چې کله هم بله حجره له هغې څخه منځ ته راشی د والدینو خواص د خانه سره لېږدوی.

- **Genetic Counseling**

خلکو ته سپارښتنه کول تر څو پدې پوه شی چې که دوي کوم تشوش اوجنیټیک اختلال لری نو د هغو ماشومانو ته لېږدونه کولای شی.

- **Genetic Disorder**

جنیټیک تشوش او اختلال چې د جین پذریعه لېږدول شی.

- **Genetic Engineering**

جنیټیکي تغېر منځ ته راوړل . د (**Genetic Modification**) په انډول.

- **Genetic Fingerprint**

د ګوتې جنیټیکی نښه .. د (**DNA fingerprint**) په انډول.

- **Genetic Fingerprinting**

د ګوتې جنیټیکی نښه اخیستلو چې دا میتود په جنائي پېښو کې پکاروړل شی . د (**DNA fingerprinting**) په انډول.

- **Genetic Modification**

د جنیټیک موادو یوځای کول د بېلابېلو منابعو څخه ترڅو ارګانیزم په متغیر بڼه اوصافو جوړ کړل شی.. د (**Genetic Manipulation**) په انډول.

Geneticist

هغه څوک چې اختصاصی زده کړی په جنیټیک (**Genetic**) څانګه کې بشپړې کړېوی . جنیټیک علم پوه ډاکټر.

Genetics

د جنیټیک (**Genetic**) اړوند څېړنې او پوهې علم بلل شی

کروموزومونو په یوه هیپلوئیډ ډله باندې ځای ولري .

Genomic

د جینوم اړوند صفت .

Genotype

د یوه شخص جنیټیک تکامل جزؤ نه او جوړښت اړوند ، په کروموزومونو باندې په یوه څو ځایونو کې پراته الیلونه ، د یوه جنس بېلابېل او مختلف ډولونه .د فینوټایپ (**Phenotype**) سره په پرتله چې ظاهری بڼه ټاکی .

Genotypic

د جینوټایپ اړوند صفت.

-genous

د سرچپنې اخیستنې او پایلې ته رسېدلو منتج کېدنې مانا لری او یو روستاړې دئ.

Gentamicin

د آمایتوګلایکوسیدونو له ډلې یو ډول انتي پیوټیک دې چې پر ګرام منفی باکټریاوو باندې اغېزناک درمل ګڼل شویدی معمولاً دزرقی لارې ورکول شی او ملحم بڼه هم لری .

Gentian

د (**Gentian Lutus**) د بوټې وچې شوې څانګې او ریښې چې د (**Bitter Tonic**) په توګه تري کار اخیستل شی

-Gentian Violet

د چنیاسې او باکټریاوو او چینجیو ضد انتی سپټیک درمل دي چې بانجانی رنګ (**Blue Dye**) جوړوی او د پوستکی د بېلابېلو ناروغیو (**Skin Infections**)درملنه کې پکاریږی. د (**Crystal Violet**) په انډول .

Genitianophilic

هغه ارګانیزم چې په جنشن ویولټ رنګ په مټه رنګ اخلی .

Genitianophobic

هغه ارګانیزم چې په جنشن ویولټ رنګ په مټه رنګ نه اخلی . د جنشن ویولټ رنګ نه منونکې ارګانیزم .

Genu

زنګون ، ګونډه ، هر ډول د زنګون په څېر جوړښت ته ویل شی. د (**Knee**) په انډول .

-Genu. Extrorsum

کا ږه لینګي ، (**Bowlegs**) په انډول.

-Genu. Introrsum

ټکېدلې زنګون (**Knock-knee**) په انډول.

-Genu. Recurvatum

Geniculum

د اناټومي له پلوه دغه اصطلاح ګونډه ډوله (زنګون)ته ور ته کړو جوړښتونه ته ویل کېږی .

Genie

پیرې، جن . پیران .

Genit (O)-

د تکثری (جنسی) غړو اړوند.

Genital

د تکثری (جنسی) غړو اړوند.

- Genital Organs

د تکثری (جنسی) غړي. هغه غړی (**Organs**) چې جنسی (تکثری) دندې پرمخ بیایی لکه (**Penis** ، **Testicles** ، **Vulva**) .

- Genital Wart

د تناسلی غړو او مقعدی برخو زخې(**Wart**) چې د جنسی یوځای کېدنې څخه د هغې ویروسونه لېږدول شی.

Genitalia

تکثری (جنسی) غړي. د (**Genital Organs**) په انډول.

Genitals

تکثری غړي. د (**Genitalia**) په انډول.

Genito-

دا یو مختاړې دئ او د جنسی سیستم معنی ورکوی

Genitography

د سینوسی منفذ له لارې د کثیفه مادې تر تزریق وروسته د تناسلی داخلی جوړښتونو او یوروجنیټال سیستم راډیوګرافي اخیستل بلل شی.

Genitourinary

بولی – تناسلی ، د تکثری او تشومتیازو غړو اړوند . چې لنډه نښه یې (**GU**) ده.

Genitourinary system

بولی تناسلی سیستم . بولی – تناسلی ، د تکثری او تشومتیازو غړو د جهاز ته ویل شی.

Genius

نابغه ، دقوي او ذهین دماغ څېښتن ، ژنی ، اصیل.

Genodermatosis

د پوستکې جنیټیکي ضایعه چې معمولاً (جنیرلایز) عمومی بڼه لری.

Genome

د جینونو بشپړه لړۍ او مجموعه یا هغه ارثي عاملونه چې

غایطي موادو کې موندل شی .

Geotropism

د ځمکې په لوري د ودې او یا حرکت په لوري لېوالتیا لرل ، د ودې پر کچې باندې د ځمکې د جاذبې اغېز درلودل .

Geratic

د زړو (عمرخوړلو) کسانو پورې اړوند ، د سپین ږیرتوب او زړښت عمر پورې تړلې .

Geratology

د د زړو (عمرخوړلو) کسانو پورې اړوند د څېړنې علم او پوهه ، د سپین ږیرتوب او زړښت پورې تړلې عمر د مطالعې او څېړنې علم .

Gereology

د د زړو (عمرخوړلو) کسانو د څېړنې علم او پوهه ، د سپین ږیرتوب او زړښت پورې تړلې عمر د مطالعې او څېړنې علم .

Geri -

دا یو مختاړې دئ او د زړو (عمرخوړلو) کسانو عمر ، د سپین ږیرتوب او زړښت عمر معنی ور کوی. د (**Old Age**) په انډول .

Geriatric

سپین ږیرتوب او زړښت عمر پورې تړلې، سپین ږیرتوب او زړښت پورې تړلې عمر درملنو اړوند اختصاصی څانګه.

Geriatrician

هغه متخصص ډاکټر چې د سپین ږیرتوب او زړښت پورې تړلې عمر پورې اړوند ناروغیو درملنې پر غاړه لري.

Geriatrics

هغه علم چې د سپین ږیرتوب او زړښت پورې تړلې عمر کې ناروغۍ څېړي .

- Dental Geriatrics

هغه علم چې د زړښت عمر د غاښونو ناروغیو اړوند څېړنې کوی . د (**Geriodontics**) په انډول .

Geriodontics

هغه علم چې د زړښت عمر د غاښونو ناروغیو اړوند څېړنې کوی .

Germ

هغه کوچنۍ زره بینی مایکروارګانیزم چې ناروغۍ پېښوی لکه (باکتریا**Bacterium** اویا **Virus**) . هغه ژوندۍ موجود چې د بل ژوندی موجود په یوه غړی کې د ودې او بشپړتیا توان لری ، او تخم ، منبع .

د زنګون د بند څخه وتلې بسط . د مفرط بست حالت په زنګون کې .

- Genu. Valgum

ضربه شوې او ټکېدلې زنګون (**Knock-knee**) په انډول.

- Genu. Varum

کا ږه لینګې ، (**Bowlegs**) په انډول.

Genual

د زنګون اړوند .

Genucubital Position

هغه پوزېشن اوحالت چې یو څوک د خپل زنګون او لېچو پواسطه څملې او ویده کېږی .

Genupectoral Position

د سجدې وضعیت ،هغه حالت چې یو څوک د صدر پورته برخه د زنګون په پرخه راولی.

Genus

جنس ، ډول ، طبقه . د ژوندي ارګانیزم پورې تړلې کټه ګوری او ډلبندی ته ویل شی چې تر لاندې نورې ببلابېلی ډلې (**Species**) راځي او ګڼه بڼه یې (**Genera**) بلل شی .

- **Genu Valgum**

د ټکېدلې بڼې په څیر د زنګون برخو کوږوالي بڼه . د (**Knock-knee**) په انډول .

- **Genu Varum**

کمان ته ورته کاږه لېنګی ، د (**Bow Legs**) په انډول .

Ge(o)-

د ځمکې د کُرې او خاورې په معنې دئ چې یو مختاړې دئ.

Geode

یوه پراخه لمفاوی فضأ.

Geographical

جغرافیائی ، سېمه ائېز ، د ېوې سیمې اړوندُ ، نقشه ئی.

Geomedicine

د طبي علم هغه څانګه چې په روغتیا باندې د موسمی شرایطو اغېزې تر څېړنې لاندې نیسی .

Geotrichosis

کانډیډیازس ته ورته انتان چې د (**Geotrichum Candidium**) په اثر منځ ته راځی او په قصبانو ، سږو او خوله او هضمی جهاز کې ناروغۍ منځ ته راوړی .

Giotrichum

خمیره ، خمیر مایه ، خمیره ئي چنیاسي یو جنس چې (**Geotrichum Candidium**) پکې ګډون لری او په

Ger(o)-

دا یو مختاړي دئ او د زړښت یا د زیات معنی ورکوی.

Geroderma

د پوستکی او تناسلی غړو ډیستروفی چې شخص ته د زړښت بڼه ورکوی.

Gesrodontic

د جیرودانټیک علم اړوند صفت.

Gesrodontics

دغاښونو طب علم هغه څانګه چې په څانګړي توګه د عمر خوړلو کسانو د غاښونو د ستونزو سره سر او کار لری.

Gesticulate

په لاسو خبری کول، دخبرو په وخت کې په لاس او پښو سره اشاری کول.

Gesticulation

دخبرو په وخت کې په لاس پښو او سر اشاره کول بلل شی.

Gestur

اشاره کول، لاس او پښې شورول.

Gesture

دلاس پښو او نورو غړو ښورونه،اشاره نمایشي خبرې یا عمل.

Geromarasmus

ډنګرتوب او کمزورتیا چې د کهولت د دورې له څانګړنو څخه شمېرل شی.

Geromorphism

مقدم یا ژر منځ ته راغلې زړښت.

Geront (o) -

دا یو مختاړي دئ او د عمر زیاتوالي (زړښت) معنی ورکوی.

Gerontologist

د جیرانتولوژي(**Gerontology**) د علم پوه ډاکټر او متخصص ته ویل شی.

Gerontology

هغه علم چې د زړښت او عمر د ډېرېدنې پروسې سره سم د اړوند ناروغیو څېړنې او درملنې پرې تر سره کېږی.

Gerontopia

د (**Senopia**)سره معادل او اړول.

Grontotheraputics

د زړښت د زیاتو ستونزو د لېرې کول او دهغوی د درملنې ، مخنیوی د طرز علم او پوهه بلل شی.

- Dental Germ

د غاښونو میکروب.

- Enamel Germ

د غاښ د اینامل برخې میکروب.

Germanium

دا یو کیمیاوي عنصر دئ چې اټومي شمېره یې (**32**) او نښه یې (**Ge**) بلل شی.

German Measles

روبېلا ویروس ، جرمنی شرې. د (**Rubella**) په انډول.

Germ cell

هغه حجره چې ددې توان لری چې (**Spermatozoon** سپرماتوزون او یا هګی(**Ovum**) ته وده ورکړلای شی او همدا رنګه (**Gonocyte**) یې هم بولی.

Germicidal

د میکروبونو وژونکي موادو اړوند ، هغه عامل چې وکړای شی میکروبونه له منځه یوسی.

Germicide

میکروب وژونکی مواد.

Germinal

جنینی ، د مور په ګېډه د وودې په حال ماشوم بلل شی د هغه لپاره صفت دئ په یوې جرمینال حجرې پورې اړوند. د (**Embryo**) په انډول.

- Germinal Epithelium

د هګی خالې (تخمدان) بهرنی طبقه (پوښ) ته ویل شی.

Germinate

راشین کېدل، ټوکېدل، نښې وهل.

Germination

د یوې غوټې (جوانې) جوانه وهل او راوتل،ټوکېدنه.

Germinoma

هغه جرمینال حجرو تومور چې لوېې ګردی حجرې او رګیزه (وعائي) هسته لری او معمولاً په تخمدان ، اختفائي خصیه ، او پینایل غده کې لیدل کېږی . دغه تومور په نارینه کې سیمینوما او ښځینه جنس کې ډیسجرمینوما پنوم یادیږی.

Germ layer

د دوه یا درې طبقوحجرو څخه دحیواناتو په جنین کې جوړه برخه ده چې بیا له هغه څخه د بدن غړی (**Organs of the Body**) منځ ته راځی.

حصول ، حاصلول ، برم موندل.

- **Get Around**

ځای ته رسېدل ، ځای ته خوځېدل.

- **Get Better**

بیا ښه والي موندل . د ناروغیو د شدت ځخه د لرېدنې مرحله.

- **Get Dressed**

کالي اغوستل ، ناروغانو ته کالی اغوستنه .

- **Get On With**

د یوځه ځځو تر سره کول ، د ناروغانو د ښه والی په موخه د یو ځه کار (کتنو) ترسره کول.

- **Get Over**

د ناروغیو ځخه خلاصون موندل ، ښه والي.

- **Getting On**

زېښت ته رسېدل لکه د (پلرونو او میندو) زېښت.

- **Get Up**

ودرېدل ، له بستر ځخه بهرته راپاځېدنه او راوتل.

- **Get Well**

ښه والي موندل .روغتیا ترلاسه کول.

Gev

یو میلیارډ الکټرون ولټ .د (**Giga Electron Volt**) لپاره لنډه نښه ده

GFR

د پښتورګو د ګلومیرولونو د تصفیې کچه . د (**Glomerular Filtration Rate**) لپاره لنډه نښه ده

GH

د ودې او انکشاف هورمون . د (**Growth Hormone**) لپاره لنډه نښه ده

Ghon's focus

دا هغه کوچنۍ رټه (**spot**) ده چې په سږو کې د نرۍ رنځ (**tuberculosis bacillus**) باسیل پذیرعه منځ ته راځي د لومړۍ ځل لپاره په کال (**1936–1866**) کې د (**Anton Ghon**) پذیرعه ونومول شو .

Ghost

یو سوري چې واقعی نه وی ، شبح، روح، دمړي اروا(وائی چې دژوندی جسم په توګه څرګندیږی).

- **Red Cell Ghost**

د سري کرښوي غشأ چې له هیمولایز ځخه وروسته سالمه پاتې کېږی.

Ghostly

داروا په ډول. روح ته ورته .

Gerontoxon

د (**Arcus Corneae**) سره معادل او انډول.

Gerstmann's Syndrome

دا هغه سنډروم دئ چې په هغه ناروغ نشی کولای خپل کین اوښی لوري او یا هم خپلې ګوتې د ډېر عمر لپاره په یاد وساتی او د هغوی توپیر وکړای شی .

Gesell's Developmental Chart

هغه چارټ (**chart**) چې په ماشومانو کې حرکی ودې او انکشاف د غبرګونونو نمونې ښوول کېږی.

Gestagen

هغه هورمون چې د پروجسټرونی فعالیت ولری .

Gestaltism

په روانپوهنه کې هغه نظریه چې د هغې له مخې ټول ذهنی کارونه د نه تجربه کېدونکو پېښو په ښې چې په مختلفو برخو یې د ویش امکان وجود نلری جوړېږی .

Gestate

هغه مرحله چې دماشوم د القأ (**Conception**) ځخه تر زېږون پورې داخل الرحمی حیات په بر کې نیسی.

Gestation

بلاربښت،حاملګی ، امیدواری ، هغه مرحله چې د جنین د جوړښت او ودې (تکامل) دوره بلل شی چې د هګۍ د القأح ځخه تر زېږون پورې دوام مومی .

- **Gestational Age**

د جنین عمر ، د مور د حیض د ورکېدنې ځخه تر زېږون پورې ګڼل شوی دوره.

- **Gestational Diabetes**

د بلاربښت د دورېدشکري ناروغي.

- **Gestational Period**

د بلاربښت دوره ، چې عموماً (**266 days**) ورځې کېږی د القاح ځخه تر زېږون پورې تاکل شوې ده . د (**Pregnancy**) په انډول .

Gestodene

د خولې خوراک له لارې د بلاربښت ضد درمل.

Gestosis

په بلاربښت کې هر راز د پرې ایکلامپسیا نښې نښانې شتون ته ویل شی.

Get

اخیستل، تر لاسه کول، ګڼل، بُودَول، نیول. بری موندل، اماده کېدل، تر نفوذ لاندې راوستل، یو ځای ته رسېدل ،

GH-RH

د ودې د هورمون آزادوونکې هورمون . د (**Growth Hormone Releasing Horm**) لپاره لنډه نښه ده

GI

د معدې او کولمو اړوند . د (**Gastrointestinal**) لپاره لنډه نښه ده

Giant

دیو، غټ او پیاوړی (سړی، حیوان یانبات) . عظیم جثه . بې حده غټ ، دیب .

- Giant Cell

غټه حجره لکه (**Osteoclast Or Megakaryocyte**).

- Giant-cell Arteritis

د غټې حجرو درلودونکې داسې ناروغی چې معمولاً د انسانانو د (**Scalp**) شریانی رګونه اخته کوی .

- Giant Hives

د جبهی فص تلفیف چې د (**Precentral**) او (**Central**) ژورو لیکو ترمنځ پرته ده اوکورټکس حرکتی اولیه سیمه شمېرله کېږی .

- **Gyrus Rectus**

د جبهی فص په اوربیتالی سطحه کې مغزی تلفیف .

- **Supramorgagnal Gyrus**

د جبهی فص تلفیفونو یوه برخه چې د سیلون د ژورې لیکې د علوی نهایت په شاو خوا کې ځای لری.

- **Temporal Gyrus**

د صدغی فص هر یو تلفیف [سفلی(لاندینی) ، منځنی ، بهرنې او علوی (سورنی)].

- **Gyri Transitivi Cerebri.**

د مخ د سطحې کوچنی ګڼ شمېر تلفیفونه چې ځانګړې نوم ورته په پام کې ندې نیول شوې.

- **Central Gyrus Posterior**

د (**Postcentral Gyrus**) تلفیف په انډول.

- **Cerebral Gyri**

مغزی تلفیفونه ،د مغزو د نیمکرو چین خوړلو څخه چې د قشر ننوتلتیاوو له امله منځ ته راځی.

- **Cingulated Gyrus**

د کورپوس کالوزوم پر سر پرته لور ډوله تلفیف .

- **Gyrus Descendens**

دلورسنټ د ژورې لیکې په قدام او د اوکسی پیټ علوی سفلی تلفیفونو په څټ کې سیمه.

- **Gyrus Fomicatus**

د ماغزو دقشر مورګې ته څېرمه (حاشیوی) برخه چې د نیمکرو په داخلی سطحه کې پرته ده او سینګولیت او پاراهایپوکامپ تلفیفونه پکې پراته دي.

- **Frontal Gyrus**

د جبهی فص له څلوروتلفیفونو (لاندینی ، منځنی ، دننی او برنی) څخه هر یو.

- **Fusiformis Gyrus**

د نیمکرو په لاندینی صدغی تلفیف او پاراهایپوکامپ لاندې پروت دئ او دننه (داخلي) او بهرنی (خارجی) برخې لری.

- **Gyrus Geniculi**

د کارپوس کالوزوم په قدامی نهایت کې یو نباتی تلفیف.

- **Intracalcarine Gyrus**

د (**Lingula Gyrus**) تلفیف په انډول.

- **Interlocking Gyrus**

د منځنی ژورې کرښې په متقابلو جداورنو کې کوچنی تلفیفونه چې یو په بل کې ننوتې (تداخلی) بڼه لری.

- **Lingula Gyrus**

په اوکسیپیټ لوب کې پروت مغزی تلفیف چې د کلکارین ژورې لیکې لاندې ژی جوړوی او د کونیوس له تلفیف سره یوځای باصری کورټکس منځ ته راوړی.

- **Longus Gyrus**

په اوکسیپیټ لوب کې پروت مغزی اوږد تلفیف چې د انسولا په لورې غځېدلای دئ.

- **Occipital Gyrus**

په اوکسیپیټ لوب کې دوه ډوله تلفیفونه (پورتنی او لاندینی) څخه هر یو چې وی .

- **Occipitotemporal Gyrus Lateral**

د فوزیفورم د تلفیف دباندینی برخه .

- **Occipitotemporal Gyrus Media**

د فوزیفورم د تلفیف دننی برخه.

- **Orbital Gyri**

تودوخی درجه.

Habit -forming

د یو چا عادتی کول ، په یو چا کې د اعتیاد منځ ته راوړل. د یو چا روږدول.

Habit-forming Drug

هغه درمل چې عادت پیښوی . اعتیادی درمل.

Habitat

د یو ډول حیوان یا بوټی طبیعی خانګړنې او عادتونه.

Habitual

د عادت له مخې ، عادتی ، د روږدې توب له مخې .

- **Habitual Abortion**

عادتی زیان ، عادتی سقط.

- **Habitual Activity**

عادتی فعالیت ، هغه حرکتونه چې یو څوک یې د عادت له مخې تر سره کوی.

- **Habitual Centric**

عادتی مرکز ، د عادت مرکز اړوند .

- **Habitual Centric Occlusion**

عادتی مرکزی بندښت .

- **Habitual Criminal**

عادتی جرم ، هغه جرمونه چې یو څوک یې د عادت له مخې تر سره کوی.

- **Habitual Dislocation**

عادتی بېځایه کېدنه ، عادتی مفصلی خلع.

- **Habitual Fever**

عادتی تبه ، هغه تبه چې یو چا کې د په کراتو سره لکه عادت له مخې منځ ته راځی.

- **Habitual Hyperthermia**

عادتی د تودوخې لوړه درجه .

- **Habitual Occlusion**

عادتی بندښت ، عادتی انسداد.

- **Habitual Pitch**

عادتی پچ ، عادتی زیر او بم غږونه چې په اساسی ډول په ګړیدا [غږیدا (**Speaking**)] کې پکار وړله شی چې د (**Vocal Pathology**) له امله پیښېږی ، د (**Modal Pitch**،**Modal Frequency**) په نامه ډول.

Habituate

عادت ، هغه فعل چې په تکرار ډول د یوچا پواسطه تر سره کېږی چې د (**Physiological** یا **Psychological Habituation**) لامل ګرځی.

Habituated

پیښ شوې عادتونه .

H ,h

دانګلیسي ژبې دالفبا اتم توری دئ او په طب کښې د یو لړ نومونو لپاره لنډه نښه ده .

H

د (**Hydrogen** ، **Henry**او **Hyperpia**) لپاره لنډه نښه ده .

h

د (**Hecto**) او (**Hour**) لپاره لنډه نښه ده.

H_2-receptor Antagonist

داسې ډول انتی هیستامینیمک درمل چې د (**H_2-Receptor**) د نهی له لارې د معدې د تېزابو (**Stomach Acid**) افراز نهی کوی او د هضم او معدې زخمونو (**Gastric Ulcers**) پروسې ته لړ وربخښی.

Ha

د (**Hahnium**) عنصر لپاره کېمیاوی نښه ده.

HA

روغتیائي صلاحیت لرونکې پلاوی (**Health Authority**) لنډه نښه ده .

HAA

د هیپاتیت لرونکې انتی جن (**Hepatitis –Associated Antigen**) لنډه نښه ده.

Habena

په اناټومی کې هرډول تسمه ائیز جوړښت.

Habenal

د (**Habena**) صفت .

Habenar

د (**Habena**) صفت .

Habenula

یو ډول تسمه ائیز جوړښت لکه د غوږ په حلزون کې لیدل شی . د خلفی اربطې په منځ کې د تلاموس په خلفی وسطی سطحه باندې یوه کوچنی راوتلتیا.

Habenular

د (**Habenula**) اړوند صفت.

Habit

عادت ، اعتیاد ، عادت نیول ، هر هغه کار چې په اناټومیک ډول سره د تنبه او غبرګون په توګه بیا تکرار لیدل شی. د یو څه د تر سره کولو منظم تکراری اجراء بلل شی. د بدن د

Habituates

ګڼ شمېر عادتونه .

Habituating

عادت تر سره کول .

Habituation

عادت کول ، روږدي کېدل ، دېهرنی شرایطو او چاپیریال تر روانی (Psychological) اغېزو لاندې حالاتو سره انطباق او یو لړ درملو (Drug ، Alcohol) او نورو توکو سره عادت نیول.

Habitus

میل ، علاقه ، د عمومی فزیکی منظرې او بڼې (بنیې او وضعیت) پورې اړوند.

Habronema

د آسونو په کولمو کې د نیماتودا د پرازیتونو یو جنس ، ددې پرازیت لاروا په پوستکی کې د درماتیت یا یو ډول ګرانولوم د ایجاد لامل ګرځی په ستر ګو ملتحه کې دغه ګرانولوم منځ ته راوړی .

- Habronema Incertum

دا په (Proventriculus او Gizzard of Companion Birds) الوتونکو کې موندل شی چې د هضمی جهاز مزمنو نارامی او نس ناستی (Chronic Digestive Upset او Diarrhea) لامل ګرځی چې ښائی د ناڅاپه مړینې لامل شی د (Spiroptera Incerta) په انډول.

- Habronema Khalili

دا د فیلانو (Elephant او Rhinoceros) په غټو کولمو کې موندل شی

- Habronema Majus

دا د هابرونېما یو ډول دئ چې د (Habronema Microstoma) ته ورته والې لری.

- Habronema Megastoma

د (Draschia Megastoma) په انډول.

- Habronema Muscae

دا یو ډول هابرونېما دئ چې د (Horse ، Mule ، Ass یا Zebra) په معده کې موندل شی منځنۍ کوربه یې (Common Housefly ، Musca Domestica یا Related Flies) دئ.

Habronemiasis

په هابرونېما باندې د آسونو اخته کېدنې ناروغتیا .

- Conjunctival Habronemiasis

د هابرونېما له امله د ستر ګو د منضمې (Conjunctiva) د نسج ګرانولومائی آفتونو (Granulomatous Lesions) منځ ته راتګ .

- Cutaneous Habronemiasis

د هابرونېما لاروا (Habronema Larvae) له امله د ستر ګو د منضمې (Conjunctiva) د نسج ګرانولومائی آفتونو (Granulomatous Lesions) منځ ته راتګ ، د (Summer Sore ، Bursati ، Granulardermatitis او Jack Sores) په انډول.

- Gastric Habronemiasis

معدوی هابرونېما ، د هابرونېما له امله د معدې د مخاطی غشأ (Gastric Mucosa) د نسج ګرانولومائی آفتونو (Granulomatous Lesions) د (Draschia Megastoma Larvae) پواسطه منځ ته راتګ.

HAC

د (Health Advisory Committee) لنډه نښه ده .

HAC

د (Hepatic Arterial Chemotherapy) لنډه نښه ده .

HAC

د (Human Artificial Chromosome) لنډه نښه ده .

HAC

د (Hydroxyapatite Cement) لنډه نښه ده .

HAC

د (Hyperadrenocorticism) لنډه نښه ده .

HACCP

د (Hazard Analysis Critical Control Point) لنډه نښه ده .

HACEK

د (Haemophilus ، Actinobacillus ، Cardiobacterium ، Eikenella ، او Kingella ، مایکروارګانیزم چې د Infective Endocarditis سره مل وی) لنډه نښه ده .

Hachimijiogan

یو طبی فورمول چې چې د اته ډوله یونانی (Chinese Medicine) چینائی درملو څخه جوړ دئ او معمولا د ساد (Cataracts) په درملنه کې پکار وړی.

Hacking

دا د مساژ کولو (Chopping Stroke) یو ډول دئ چې د لاسونو پواسطه تر سره کېږی.

- Hacking Cough

ضعیف او لنډ ډول متداوم وچ ټوخې کول دی چې د حنجرې تخریش له کبله چې د پوزې دننه د ځاڅکو ورتګ له کبله منځ ته راځی . د (Productive Cough) په انډول.

HAD

د (HIV-Associated Dementia) لنډه نښه ده .

Hadephobia

له دوزخ اور (Hell) څخه په وژونکی ډول سره وېره لرل . د

Haemagglutinin

هیموا ګلوټینین .

Haemagogus

هیما ګوګوس .

Haemamoeba

هیما آمیوبیا .

Haemangioma

هیمانجیوما ، یو ډول سلیم یا بې ضرره د رګونو ډک تومور دئ چې د وینې رګونو څخه جوړ دئ او په پوستکی کې لکه د زیږېدلې نښې (Birthmark) په څېر رابرسېره کېږی ، د (Hemangioma) په انډول.

Haemaphysalis

د سخت او کلک بدن لرونکې وږږو یو جنس چې ځینې وختونه دناروغیو د لېږد لامل ګرځی .

Haemarthrosis

هغه پرسوب او درد چې په بندونو (مفصلونو) کې د وینې راټولېدنې له امله منځ ته راځی، د (Hemarthrosis) په انډول.

Haematemesis

هغه حالت چې یو څوک وینه په ګرځون کې راګرځوی ، وینه لرونکې کانګې کول ، دا ښائي د داخلي وینه بهېدنې له کبله په ګرځون (قې) کې وینه بهر ته کانګې شی، د (Hematemesis) په انډول.

Haematic

د وینې د هیم (Haem) اړوند صفت، د (Hematic) په انډول.

Haematin

هغه توکې یا مواد چې هیموګلوبین (Haemoglobin) د وینه بهېدنې پر مهال منځ ته راوړی .وینه جوړونکې عامل.

Haematinic

هغه درمل چې د وینې د هیموګلوبین د تولید کچه زیاته کاندې او د وینه لړی (Anaemia) په درملنه کې کارول شی. د وینې تقویه کوونکې توکی لکه اوسپنه.

Haemato -

دا یو مختاړې دئ او د وینې معنی بشپړوی .

Haematochezia

د هضمی جهاز د ناروغیو له امله که چېرې د ریکتوم له لارې تازه وینه دغایطه موادو سره تېره شی نو دغه اصطلاح نومول کېږی .

(Stygiophobia) په انډول.

Haderup Dental Nomenclature

دا یو اروپائی ډول نوم ایښودنې ته ویل شی چې د غاښونو څانګې اړوند پکار وړل شی.

Hadfield Procedure

دا د (Radical Subareolar Duct Excision) اړوند یو پروسیجر دئ چې د (Excess Nipple Discharge) لپاره پکار وړل شی چې د تیښونو د دانې (Breast Abscess) لامل ګرځی.

Hae-

دا یو مختاړې دئ د[- He) چې د وینې د اوسپنې] په انډول معنی بشپړوی .

Haem

هغه مالیکول چې د اوسپنې (Iron) چې دهیموپروتین د پروتین سره اړیکه لری لکه د (Haemoglobin) او (Myoglobin) په څېر.

Haem -

دا یو مختاړې دئ او [Hem- ،Haem- ، Haemo-] د هغه مالیکول چې د اوسپنې (Iron) چې دهیموپروتین د پروتین سره اړیکه لری لکه د (Haemoglobin) او (Myoglobin) په څېر معنی بشپړوی.

Haemacytology

هیماتوسایتولوژی .

- **Haemacytology Index**

د هیماتوسایتولوژی اړوند انډېکس .

Haemadipsa

دسپړو او ورګو (Leeches) یو جنس دئ.

- **Haemadipsa Ceylonica**

دا د (Land Leech) یو ډول دئ چې په (Sri Lanka) کې شتون لری چې د څارویو او انسانانو په پوستکی کې ژوند کوی او د وینه لړی لامل ګرځی .

Haemadromograph

هیمادرموګراف .

Haemagglutination

هیموا ګلوټینیشن ،د سره کریواتو یوه کتله ، معمولاً یو آزمایښت دئ چې د انتی باډی ګانو (Antibodies) تثبیت لپاره کارول شی.

- **Haemagglutination Pregnancy Test**

د بلاربښت اړوند هیما ګلوټینیشن ازمایښت دئ.

په انډول.

Haematospermia

په منی کې د وینې راتولېدنه ، د سپرم مایع کې د وینې شتون.

Haematozoon

هغه پرازیت چې په وینه کې ژوندون کوی .او د ګڼ شمېر یې (Haematozoa) بلل شی.

Haematuria

په متیازو کې د وینې شتون په ماکروسکوپیک یا مایکروسکوپیک ډول سره چې د بولی سیستم په ناروغیوکې لیدل شی.

Haemin

هیمین ، هغه مالګه چې د هیموګلوبین څخه لاس ته راځی او د (Porphyria) په درملنه کې پکار ېږی.

Haemo -

دا یو مختاړې دئ او د[وینې (-Haem)]معنی بشپړوی .

Haemobartonella

د (Bartonellaceae) له کورنۍ څخه یو جنس چې ځینې ډولونه یې د پرازیتونو او اولیه بوټو له ډلې څخه شمېرل کېږی.

Haemochromatosis

دا یو ډول ارثی لېږدېدونکې ناروغی ده چې پکې په بدن کې ډېره زیاته اندازه اوسپنه جذب او ذخیره کېږی او ځیګر سیروزی د تکمش (Liver Cirrhosis) لامل ګرځی او د پوستکی رنګ تور اړوی او ورته د (Bronze Diabetes) هم ویل شی.

Haemoconcentration

د وینې په بهیر کې د سره کریواتو د حجرو د سلنه (فیصدی) زیاتوالې لدې کبله چې د پلازما حجم لږوالې مومی د هیمودایلوشن (Haemodilution) برعکس بلل شی.د وینې د حجرو تراکمې کېدل او ټینګوالې.

Haemocytoblast

هیموسایتوبلاست حجري ،د هډوکو د ماغزو یا مُخ عظم (Bone Marrow) کې د ایمبریونیک وینې حجري چې ورڅخه د وینې (سري ، سپینې کریوې او پلاټلیټونه) وده مومي .

Haemocytometer

داسې یو ښیښه ئي ظرف چې پکې د وینې نمونه نری اورقیق کېږی او حجري شمېرل کېږی.

Haemodialyse

هیموډیالېز ، د وینې څخه د ناکاره موادو (Waste Matter) د هیمو ډیالېز ماشین په ذریعه لېرې کول او راویستل بلل شی.

Haematocoele

هغه پرسوب یا تورم چې د په یو جوف کې دوینې لیکاژ او راټولېدنې له امله پېښېږی معمولاً د سفن په برخه کې د وینې راټولېدنه ، د(Haematocele) په انډول.

Haematocolpos

هغه حالت چې په کوس (مهبل) کې د وینې راټولېدنې له امله پېښېږی او ډکوالې منځ ته راځی لکه د حیض پر مهال کله چې د بکارت پرده (Hymen) نه وی وازه شوی اوترلې پاتې وی.

Haematocrit

د وینې دعناصرو او حجراتو برخه ،د وینې د (Packed Cell) برخه بلل شی.

Haematocyst

هغه سیسټ چې پکې وینه راټوله شوې وی.

Haematogenous

وینه منځ ته راوړونکې ، د وینې له لارې منځ ته راغلې

Haematological

د هیماتولوژي اړوند صفت.

Haematologist

هغه ډاکټر چې د وینې د ناروغیو اړوند پوهه او تخصص لری.

Haematology

هغه علم چې د وینې اړوند ناروغیو څېړنې تر سره کوی او معلومات ورکوی، د(Hematology) په انډول.

Haematoma

د وینې د علقې (پرې) څخه جوړه کتله چې تر پوستکی لاندې یا یو جوف منځ کې منځ ته راغلې وی، د(Hematoma) په انډول.

Haematometra

په رحم کې په ډېره پیمانه د وینې راټولېدنه چې د هیماتوکلپوس (Haematocolpos) له امله پېښېږی.

Haematomyelia

هغه حالت چې وینه په نخاعی طناب کې دننه راټوله شوېوی.

Haematopoiesis

وینه جوړونکې پروسه ، هغه پراوونه چې پکې وینه جوړېږی او منځ ته راځي، د(Haemopoiesis) په انډول.

Haematoporphyrin

هغه پورفایرین (Porphyrin) چې د وینې د هیمګلوبین څخه جوړشوېوی.

Haematosalpinx

په نفیرونو کې د وینې راټولېدنه بلل شی، د(Haemosalpinx)

هدوکې ماغزه نشی کولای وینی معاوضه وکاندی.

- Haemolytic Disease of Newborn

داسې حالت چې پکې د نوی زېږېدلی ماشومانو هیمولایتیک ناروغی د مورنی وینې انتی باډی ګانو په وړاندی منځ ته راځی .

- Haemolytic Jaundice

د هیمولایزس له امله د ژیړی (یرقان) ناروغی منځ ته راتګ چې ورته د (Prehepatic Jaundice) هم وائی .

- Haemolytic Uraemic Syndrome

د هیمولایزس د ناروغی له امله هغه سندروم منځ ته راتګ چې پکې د پښتورګو نسجی نه لړی او یوریمیا حالت په ګډه توګه لیدل شی.

Haemopericardium

هیموپریکارډیوم ، د زړه د پریکارد طبقاتو په جوف چې د وینې راټولېدنه بلل شی.

Haemoperitoneum

هیموپریتونیوم، د پریتوااان په جوف کې د وینې شتون بلل شی .

Haemophilia

هیموفلیا ، د وینې تشوش دئ چې دیو لړ فکتورونو چې د مخفی جن (Recessive Gene) د (X-Chromosome) پورې چې د وینې علقې (Blood Clots) اړوند ناروغې منځ ته راځی دا جن د مور څخه نارینه ماشوم ته تېرېږی او په ماشومانو کې معمول ده.

- Haemophilia A

دا ډول ډېر معمول د (Haemophilia) دئ چې پکې د اتم فکټور (Factor VIII) سنتیزس کې ناتواني منځ ته راځي او د وینې علقه (پرېکېدنه) ډېره په کراره وی.

- Haemophilia B

دا ډول لړ معمول د (Haemophilia) دئ چې پکې د علقی فکټور سنتیزس ناتوانی شتون لری دا هغه پروتین دئ چې د وینې علقه کېدنه پرمختګ کوی نوکه چېرې دا نوی پرېکېدنه په ډېره کراره بڼه وی ورته د (Christmas Disease) نوم هم رکړل شوېدئ.

Haemophiliac

هغه څوک چې په هیموفیلیا ناروغی اخته وی. هیموفلیائي.

Haemophilic

د هیموفیلیا اړوند صفت بلل شی.

Haemophilus

د باکتریاګانو یو ډول (Genus) چې د داسې ځانګړو ګکتورونو ته اړتیا لري چې په وینه کې وده وکړی.

- Haemophilus Influenzae

هیموفیلوس انفلوانزا ، زکام ، رېزش ، انفلوانزاء ، هغه باکتریا چې

- Haemodialysed Patient

هغه ناروغ چې د هیموډیالېز کړنه ورته تر سره شوېوی.

Haemodialysis

هیموډیالېزس، د هیموډیالېزس د کړندود تر سره کول بلل شی ورته د (Kidney Dialysis) نوم هم ورکول شوېدئ .

Haemodilution

د وینې د پلازما نری کېدنه ، د وینې په پلازما کې د حجرو د سلنې (فیصدي) کچې لړوالې او د پلازما حجم زیاتوالې چې د (Haemoconcentration) برعکس بلل شی.

Haemoglobin

هیموګلوبین ، یو سور تنفسی صباغ (Respiratory Red Pigment) چې د هیم (Haem) او (Globin) څخه په سره حجره کې منځ ته راځی او وینې ته سور رنګ وربخښی دا حجرې په سږو کې اوکسیجن جذب کوی او هغه انساجو ته لېږدوی او هلته یې بایلی همدارنګه ننبه ئي (Hb) بلل شی.

- Carboxyhaemoglobin

د کاربن دای اکساید پواسطه مشبوع هیموګلوبین.

- Oxyhaemoglobin

د اکسیجن پذریعه مشبوع هیموګلوبین.

Haemoglobinaemia

هغه حالت چې په وینه پلازما کې هیموګلوبین وموندل شی.

Haemoglobinopathy

هیموګلوبینوپتي ، په ارثی بڼه هغه ډول ګروپ ناروغی چې د وینې د هیموګلوبین د تخریب څخه په ببلابېلو ډوولونو منځ ته راځی لکه د [(Sickle-cell Anaemia) او نورې.....] په څېر.

Haemoglobinuria

هیموګلوبین یوریا ، هغه حالت چې په متیازو کې هیموګلوبین د لابراتوری کتنو په لړ کې تثبیت کړ ل شی.

Haemogram

د وینې د پایلې (نتیجې) چاپ شوې بڼه.

Haemolysin

هغه پروټین چې د وینې سرې کریوې تخریب کړلای شی.

Haemolysis

د وینې د حجراتو د تخریب پروسه بلل شی.

Haemolytic

وینه تخریب کونکې ، د وینې د سرو کریواتو تجزیه کوونکې عامل لکه د مارانو زهر چې یو اجنبی پروټین بلل شی .

- Haemolytic Anaemia

هغه وینه لړې (کمخونې) چې د هیمولیز په نتیجه کې منځ ته راځی او

د هیموروئید یا بواسیرو غوڅول د جراحی کړنلاری پذریعه.

Haemorrhoids

بواسیر ، هیموروئید ، هغه پرسېدلې ورید چې د مقعدی برخې (Anorectal Passage) کې منځ ته راځی او ورته (Piles) نوم هم ورکول شوېدئ.

Haemosalpinx

په نفیرونو (Fallopian Tubes) تیوبونو کې د وینې راټولېدنه.

Haemosiderosis

هغه ډول ناروغه تشوش چې پکې په پراخه پیمانه اوسپنه (Iron) په انساجو کې ذخیره شی چې د وینه بهېدنې او وینې حجراتو تخریب له امله پېښېږی.

Haemostasis

هیموستاز ، هغه پروسه چې پکې وینه بهېدنه ودرېږی.

Haemostat

هغه وسیله چې په وینه بهېدنې ودرلو کې تري کار اخیستل شی لکه کلامپ (Clamp) .

Haemostatic

وینه ودرونکې عامل یا درمل ،د هیموستاز لامل.

Haemothorax

د پلورا په جوف (Pleural Cavity) کې د وینې راټولېدنه.

Hafanium

یو کیمیاوی عنصر دئ چې اټومې شمېره ئی (72) اوکېمیاوی لنډه نښه ئې (Hf) ده.

Hageman

دا د وینې علقه کوونکې دوولسم فکتور (Factor XII) دئ .

Hahnium

یو کیمیاوی عنصر دئ چې اټومې شمېره ئی (105) اوکېمیاوی لنډه نښه ئې (Ha) ده.

HAI

د روغتون څخه کسبی انتانات (Hospital Acquired Infection) لنډه نښه ده.

Hair

ویښته ، داسې یونري تار ډوله جوړښت چې د اپیدرم د ضمایمو څخه دئ او په تي لرونکو حیواناتو کې شتون لری لکه د سر ویښتان او همدارنګه هغه لغات چې په (Pilo-, Trich-, Tricho-) مختاړی په څېر پیل مومی د ویښته معنی ورکوی.

په روغ ستونی کې ژوند کوی او ښائی چې پنومونیا منځ ته راوړی.

- Haemophilus Influenzae Type B

هغه هیموفیلوس انفلوانزائی د (B) ډول باکتریا چې د مننجیت (Meningitis) لامل ګرځی او لنډه نښه ئې (HIB) ده.

Haemophthalmia

په سترګو کې هغه حالت چې د سترګو پّه (Vitreous Humour) کې وینه ومونډل شی.

Haemopneumothorax

هیموپنوموتوراکس ، د پلورا په جوف کې د وینې او هوا موجودیت ثابت شی. ، د (Pneumohaemothorax) په انډول.

Haemopoiesis

د هډوکو پ ماغزو کې په متداومه توګه دوینې د حجراتو دپلاټلټونو تولید بلل شی چې ورته وینه جوړېدنه (Blood Formation) هم وائي .

Haemopoietic

د هیموپوائزیس اړوند صفت.

Haemoptysis

هیموپتایزس ،هغه حالت چې یو څوک د ټوخي سره له سږو څخه بهر ته راوغورځوی و ډېروشدیدو ناروغیو لکه (Anaemia، Pneumonia، Tuberculosis یا Cancer) کې منځ ته راځی.

Haemorrhage

وینه بهېدل ، وینه کېدل، خونړیزی ، داسې حالت چې پکې د وینې رګونو شلېدنې له امله وینه ډېره ضایع کېږی، د (Bleeding) په انډول.

Haemorrhagic

وینه ورکونکې ، د وینې کېدو اړوند صفت .

-Haemorrhagic Disease of Newborn

د نوی زېږېدلی ماشوم وینه ورکونکې ناروغی لکه د مؤقت ډول (Prothrombin) فقدان له امله .

-Haemorrhagic Disorder

وینه بهونکی تشوشات ، د خونړیزی اختلالات لکه هیموفیلیا.

-Haemorrhagic Fever

وینه بهونکې تبه هغه ویرسی ناروغې چې منتشر ډول د کپیلري برخې وینه بهېدنه پېښه کاندې لکه د (Dengue اویا Ebola) حالات.

-Haemorrhagic Stroke

هغه ضعف (Stroke) چې د رګونو د وینې بهېدنې له امله پېښ شی.

Haemorrhoidal

د بواسیر (Haemorrhoids) اړوند صفت

Haemorrhoidectomy

- Hair Ball
ترایکوبیزور (**Trichobezoar**) ، په معده کې د ویښتانو او وړیو او نرۍ ریښو څخه جوړه کتله چې پنډوس ته ورته والې لري.

- Bamboo Hair
د (**Trichorrhexis Nodosa**) په انډول .

- Beaded Hair
هغه ویښته چې په خپل اوږدوالی کې پرلپسې نرۍ والې ولري لکه د (**Monilethrix**) په حالت کې .

- Burrowing Hair
هغه ویښته چې په سوره وره (عرضانی) ډول تر پوستکې لاندې وده کوی.

- Hair Cell
هغه رسپتور حجره چې د مایع فشار ته د غوږ عصب په برخه کې عصبی سیالې په بڼه بدلون او تغیری اوښتنه ورکوی .

- Hairy Cell Leukaemia
د وینې د سرطان هغه ډول چې پکې د وینې سپین کریوات ډېر نرۍ او ظریف ډول راوتلې استطالې (**Projections**) لری.

- Club Hair
هغه ویښته چې د کراتینایز شوی حجراتو د یوې کتلې په واسطه احاطه شوېوی.

- Hair Follicle
هغه نسجی برخه چې د ویښته جذر ښخ یې احاطه او ویښته ورځخه منشه اخلی. د ویښتانو فولیکول.

- Hair Line Fracture
د نرۍ ویښته په څېر په هډوکو کې ماتوالې چې جروحاتو له امله وی.

- Ingrown Hair
هغه ویښته چې له پوستکی څخه راتلې وی او بیرته پوستکی ته ننوتلې وی او بیا ئې وده کړیوی.

- Lanugo Hair
هغه نازک او نرۍ ویښتان چې د جنین او نوزاد د پوستکی سطحه یې پوښلی وی.

- Hair Papilla
د ویښتانو حلیمه د پوستکی هغه برخه چې د وینې رګونه لری او ویښته ته وینه ورکوی.

- Resting Hair
هغه ویښته چې پرته بڼه لري .

- Sensory Hair
د حسی اپیتلیوم لپاسه هغه ویښته ډوله بارزې دي چې حسی ویښته بلل شی،حسی ویښته.

- Tactile Hair
هغه ویښته چې د لمس پورې تړاولری او ډېر حساس دی.

- Taste Hair
هغه ویښته ډوله جوړښتونه چې د کوچنیو ذغابو څخه او خوند (ذایقې) دنده په ژبه کې تر سره کوی. ذایقی ویښته.

- Terminal Hair
هغه ویښته چې د بلوغ په دوره کې د بدن د مختلفو سیمو منځ ته راځي ډېل او پنډ ویښتان دی.

- Twested Hair
هغه ویښته چې د خپل محور په چاپېر (**180 °**) زاویې په اندازه څرخېدلې وی.

Halation
د شیانو د انځورونو په پېژندنه نه توانېدل دی چې د هغه لورې څخه د نورې وړانګو د لوېدلو په اثر ایجادیږی چې د پام وړ شئ پکې ځای لری .

Halazone
د (**C7h5cl2 No4s**) په فورمول سره د اوبو انتی سپټیک ماده ده.

Halcinonide
یو ډول مصنوعی کورټیکوسټروئید چې موضعی ډول د التهاب ضد او خارښت ضداغېزې لرونکې درمل په توګه کارول شی.

Half
نیم ، نیمائی ، په برابرو دوه برخو ویشل شوې .

- Half -life
نیمایي عمر، دا هغه عمر دی د مادې او درملو د تراکم (**Concentration**) څخه دمخه نیمایي اندازه یې په وینه کې د تطبیق څخه وروسته په اغېزمنځ بڼه موندل شی، هغه وخت چې په هغه کې د یوې راډیو اکتیف مادې نیمایي ذرې له منځه ځي ، لنډه ننبه (**T½**) او یا (**T ½**) ده.

- Antibody Half-life
هغه وخت چې پکې انتی باډی مولیکولونه جوړېدای شی چې معمولاً دبدن څخه د ایمیونوګلوبولینونو د نیمایي اطراح لپاره د اړین وخت سره مساوی دئ.

- Biological Half-life
هغه وخت چې په هغه کې یو ژوندئ ارګانیزم خپل نیمایي راډیواکتیف مواد (چې معمولاً هغه ته تلقیح شویوی) اطراح کوی.

- Half-value
طبقه ، لایه ، ول ، د (**Layer**) په انډول. نیمه ارزښت .

- Half-way House
هغه څارونکې کس چې په لنډ مهاله توګه تر هغه وخته چې ناروغ له بستر څخه رخصت کېږی د هغه پاملرنه او څارنه کوی .

Halisteresis
د اوستیوملاسیا (**Osteomalacia**) په انډول.

Halisteretic
د (**Halisteresis**) اړوند صفت .

Halitosis
د خولې څخه د بد بوی شتون، د ساه بد بویه کېدنه. چې دا د یو لړ ناروغیو لکه (Infection Of Gums ، Caries In Teeth او د Diabetes Mellitus او Uraemia) کې منځ ته راځي . د (Bad Breath) په انډول.

Halitus
د ذفیری هوا بهر کول.

Halluces
د (Hallux) ګڼ شمېره .

Hallucinate
په ناروغانو کې د وهم ، ډار حالت شتون بلل شی. ویره او ترهه درلودل.

Hallucination
برسام ، په روانی ناروغانو کې په خیالی بڼه داسې فکرکول چې یوڅه اوری او حقیقت لری ، په ناروغانو کې په خیالی ډول د وهم ، ډار حالت شتون بلل شی، ویره او ترهه درلودل یو ډول حسی درک دئ.

- **Hepatic Hallucination**
کبدی هلوسینیشن ، د ځیګر په ناروغیو کې د هلوسینیشن شتون ، د (Tactile Hallucination) په انډول .
- **Hypnagogic Hallucination**
هغه ډار چې د ویښې او خوب پر مهال منځ ته راځی.
- **Olfactory Hallucination**
شاموی ډار.
- **Tactile Hallucination**
لمسی حسی ډار.

Hallucinatory
د هلوسینیشن راپونکی درملو اړوند صفت.

Hallucinogen
هغه درمل او مواد چې برسام (Hallucinations) منځ ته راوړی لکه د (Cannabis Or LSD) په څېر. دبرسام عامل.

Hallucinogenic
د برسام موادو (Hallucinogen) اړوند صفت .

Halocinosis
هر ډول پسایکوزس چې له ډار او برسام سره مل وی.
- **Organic Halocinosis**
دا یو ډول مغزی (ارګانیک سندروم) چې د ځانګړو ارګانیکو فکتورونو څخه د زېرنده برسامو په پېښېدو سره پېژندل شی.

Hallux
د پښې غټه ګوته ، د پښې لویه ګوته.
- **Hallux Dolorosus**
د پښې غټې ګوتې درد.
- **Hallux Flexus**
د پښې غټې ګوتې قبض حالت چې د شخی سره مل وی.
- **Hallux Malleus**
د څټکی ګوتې په وضعیت د پښې د غټې ګوتې اخته کېدل.
- **Hallux Rigidus**
د پښې غټې ګوتې درد ناکه قبض حالت چې د میتا تارسو فلانجیال مفصل کې د حرکت له محدودیت سره یو ځای وی د درد او شخی سره مل وی.
- **Hallux Valgus**
د پښې د نورو ګوتو په لوري د غټې ګوتې انحراف حالت .
- **Hallux Varus**
د پښې د نورو ګوتو څخه د غټې ګوتې د لېرې کېدنې انحراف حالت بلل شی.

Halmatogenesis
له یوه پښت یا نسل څخه بل هغه ته د یوې نوعې ناڅاپې بدلون بلل شی.

Halo
یوه نورانی کړی، هغه رنګینې کړی، ته ورته ده چې په ګلوکوم کې منځ ته راځی، هغه نورانی کړی چې په افتالموسکوپی د ژیړې لکی پر شاو خوا لیدله کېږی، د زجاجیه مایع پرمخ د پاپه ائیزو بارزو سیوري .
- **Fick's Halo**
هغه رنګینه کړی، چې هغه کسان یې د نورانی سرچینې په شاوخوا وینې چې د تماسی عدسی څخه ګټه اخلی.
- **Halo Glucomatous**
د کسی د شاوخوا اټروفی چې شدید یا مزمن ګلوکوم کې لیدل شی.
- **Senile Halo**
د کسی د شاوخوا د ببلابېل پنډوالې لرونکې کړی، چې په زاړه او عمر خوړونکو کسانو کې د تصبغی اپیتلیوم د اټروفي په نتیجه کې منځ ته راځی.

Haloduric
د مالګې څخه په غنی محیط کښې د ژوند د ادامې توان.

Halofantrine
دا د فالسیفارم او وایواکس ډولونو ملاریا ضد درمل دی چې د مالګیزې بنې څخه یې پّه درملنه کې کار اخیستل شی.

Halogen
د دورانی جدول د اووم ش ګروپ د غېر فلزي عناصرو څخه

Hamertia
د بشپړتیا د پروسې په بهیر کې د نسجونو په ترکیب کې د نیمګړتیا شتون والی ته وایي.

Hammer
د څټک ، چکش ، هغه وسیله چې سر یې په جسمونو باندې د ګوزار لپاره جوړه شوېوی ، د (Malleus) په انډول.

- **Hammer Toe**
د څټک په څېر د پنې غټه ګوته ، هغه حالت چې پکې د پنې غټه ګوته ښکته لورې ته په دایمی ډول تاوه شوېوی.

Hamster
موږک ته ورته ژوونکی چې په لابراتواری څېړنو کې تر ټولو کار او ګټه اخیستل شی، لابراتوری تجربوی حیوان.

Hamstring
یو ډوله تینډونونه (Tendons) چې د زنګون (Knee) تر شا واقع دی چې د ورن عضلې د ښکته لینګې په هډوکو پورې نښلوی او ټینګښت وربخښي.

- **Hamstring Muscles**
هغه ډله عضلې ورون په خلف کې واقع دی چې زنګون ته د قبض حالت منځ ته راوړی او تر (Gluteus Maximus) پورې غځېدلې دی.

- **Inner Hamstring**
د ګراسیلیس ،سارتوریس او د پنې د پنډې د دوه نورو عضلې تینډون.

- **Outer Hamstring**
د فخذ (فیمور) دوه سري عضلې قابضې عضلې تینډون .

Hamular
د (Hamulus) اړوند صفت .

Hamulus
هر ډول چنګکی ډوله بارزه.

Hand
لاس ، د لاس پنجه ، منګول ، د پورتني اندام هغه برخه چې لاس (مړوند ،8 د کارپ ،میتاکارپ، لاس ګوتو هډوکی) پکې شامل دی او دیو څه د رانیولو لپاره کارول شی.

- **Ape Hand**
هغه لاس چې غټه ګوته یې له حده وتلې لویه شوی بڼه لري.

- **Claw Hand**
چنګالی لاس. هغسې منګول لرونکې لاس چې د شاهین مرغه د منګول (چنګال) په څېر ورته وي.

- **Cleft Hand**
چاک (درز لرونکی) لاس ، یو ډول نیمګړي وده یا انومالی ده چې پکې د ګوتو فاصله د میتاکارپ تر هډوکو غځېدلې وی.

هر یو چې (کلورین،آیودین،برومین ،فلورین او استاتین) پکې شامل دی.

Halometer
د باصرې هالو لپاره د څېړنې وسیله ، د سروکریواتو د هالو د اندازې کولو له لارې د سروکریواتو د اندازې د ارزوونې لپاره وسیله ده.

Haloperidol
دا یو ډول آرامتیا بخښونکې (Tranquilliser) درمل دي چې د روانی ناروغیو (Schizophrenia , Gilles Della Toarette ,Mania Syndrome او Psychoses) درملنې لپاره تر ټولو کار اخیستل شی او د کانګې او فرط فشار او تودوخې لوړ والی ضداغېزی درلودونکی دئ.

Halophillic
په مالګه پورې اړوند ،د مالګې لورې ته لېوالتیا درلودنه ، هغه ارګانیزم چې د ودې لپاره ډېرې اندازې مالګې ته اړتیا لري.

Halprogin
یو مصنوعی ډول موضعی چنیاسو (فنګس) ضد درمل دی چې پک توب (الوپسي) درملنه کې کارول شی.

Halo Splint
دا د غاړې –سر د تثبیت لپاره وسیله ده تر څو رېکورې په بڼه توګه منځ ته راشی.

Halothane
دا یو ډول انشاقی(Inhalation) تطبیق له لارې د عمومی بېهوښی لپاره انستیتیک مواد دی.

Hamamelis
جادوګره بڼځه چې پدې عقیده وی چې دجادوئی قدرت یو شېطانی قوت دئ او د قهوه ئي سور رنګه سترګو خاونده وی او له شنه ونو څخه چې (Corylus چې د Birch کورنۍ څخه ده) له جنسه وی او فندوقی بلل شی په جادوئی کارونو کې کار اخلی، د (Witch Hazel) په انډول.

Hamartoma
هغه سلیم تومور چې د هر ډول غړو انساج ولري .

Hamate
څټکې هډوکې ، یو د اته هډوکو څخه چې مړوند په کارپ هډوکو پورې اړوند دئ او همدا رنګه ورته د (Unciform Bone) نوم هم ورکړل شوېدئ،د (Hamate Bone) په انډول.

-Club Hand
دلاس یو ډول نیمګړي وده یا انومالی ده چې پکې لاس دننه لوري ته په غېر نارمل بڼه تاوه شوېوی .

-Drop Hand
د لاس ځوړند بڼه درلودل، لوېدلې لاس .

-Hand , Foot and Mouth Disease
په ماشومانو کې د (خولې، لاس او پښو) کې د ویروسی انتاناتو له کبله د کوچنۍ تناکو (Blisters) منځ ته راتګ .

-Lobster-Claw Hand
د (Cleft Hand) په انډول.

-Hand Pices
د غاښونو په طبابت کې هغه وسیله چې د غاښونو ډاکټر یې په لاس کې نیسی او خپل کار پرې تر سره کوی. د غاښ انبور.

-Hand-Schüller Christian Disease
په ماشومانو کې د کولسترول د میتابولیزم تشوش دئ چې پکې د[ناروغۍ په سر(Skull) کې (Membranous Bone) ، سترګو راو تلې Exophthalmos، بې مزې ډېابېټ Diabetes Insipidus) او دیوستکې ژیړ – تصواری رنګ] کیدل بلل شی. دا د لومړی ځل لپاره د (Christian او بیا د Alfred Hand Jr) امریکایي ماشومانو متخصص پروفیسور پذریعه په کال (1920-1949) کې معرفی شو .

-Writing Hand
په اجیتان فلج اخته کسانو کې د لاس هغه وضعیت لکه چې یو څوک قلم په لاس کې د لیکلو په موخه نیسی.

H and E
هیماتوګسیلین او آئیوزین (Hematoxillin and Eosin) لپاره لنډه نښه ده.

Handedness
په مختلفو کارسره ونو کې تر کولو کې د یوه لاس کارونې ته ارزښت ورکول .

Handicap
عیبی ډله ، هنډیکپ ، هر ډول (فزیکی ، ذهنی ، ولادی، اکتسابی) نیمګړتیا چې شخص په ورځنیو چارو په تر سره کولو کې له ستونزې او محدودیت سره مخامخ کاندی.

Handicapped
هغه څوک د ناتوانی عیب ولری اړوند صفت.

Hangnail
د نوک دارڅونو برخه کې د پوستکی څیرې شوی توټه بلل شی،دنوک په جانبی (ږغ) یا پروګزیمال چین باندې د اپونیخیوم یوه برخه.

Hangover
هغه حالت چې کله چې یو څوک په پراخه پیمانه الکهول وځښي او ډیهایدریشن په پښتورګو کې د (Antidiuretic Hormone) هورمون دنهی له کبله چې د(سردرد ، د شورماشور نه زغم دردل ،دلاسونو لرزه) ورسره مل لیدل کېږی .

Hansen's Bacillus
هغه باکتریائی باسیل چې د خوراړې (جذام Leprosy) لامل ګرځی او (Mycobacterium Leprae) هم بلل شی د لومړی ځل لپاره د (Gerhard Henrik Armauer Hansen) په ذریعه په کال (1873) کې دناروی هیواد طبیب پواسطه چې په (1841–1912) کالونو کې اوسېده وپېژندل او شرحه شو.

Hansen's Disease
د خوراړې (جذام Leprosy) ناروغی بلل شی .

Hantavirus
د (Bunyaviridae) د کورنۍ ویروس یو جنس چې د اپیډیمیک هیموراژیک تبې یا پنومونیا لامل ګرځی پدې جنس کې (Hantaan,Pumala او Seonl) ویروسونه هم ورګډ پرې.

Haploid
د هغه کروموزومونو د نیمائی کچې شته والې چې د هر ارګانیزم په جسمی حجرو کې وجود لری چې دغه اصطلاح د ګامیتونو په هکله کارولە شی کوم چې یو له بله سره یوځای کېږی او دیپلوئید حجره منځ ته راوړی، هغه حجره چې یوازې د هومولوګ کروموزومونو د جوړې یو غړې لری په انسانوکې دهیپلوئید کروموزومونو شمېر (23) دئ.

Haploidentical
په یوه کرموزوم کې یوبل ته نژدې جینونو کې د یو شان الیلونو شته والې.

Haploidentity
د هیپلوئیدی والی په حالت کې.

Haploscope
دباصر محور یو د څېړنې لپاره ډول استریوسکوپ.

Haplotype
د جوړه جینونو الیلونو یوه ډله چې له هر والد څخه یې د (Hla) مجموعه په میراث وړی وی.

Hapt - apten
دا یومختاړې دئ چې د تماس درک معنی بشپړوی.

Hapten
هیپټین ، نسبی انتی جن،یو ډول غیر پروتینی ماده ده چې په یوازې ډول د انتی باډی د جوړښت د پروسې په پارونه کې توان

لکه د (Rickets) په ناروغانو کې ، د (Harrison's Groove) په اندول.

Harris's Operation

د پروستاټ غدې د راویستلو لپاره جراحی عملیه ده چې په (1880–1936) کالونو کې د آسترالیالیائي جراح (S.H. Harris) پذریعه شرحه شو.

Hartmann's Solution

رینګر د هارتمن محلول ، دا یوکیمیاوی د الکترولایټونو لرونکې محلول چې په بدن کې د دیهایدریشن د اعادې په موخه د زرق و څاڅکی په توګه ورکول شی او د (Alexis Frank Hartmann) ماشومانو متخصص طبیب امریکائی عالم په (1898–1964) کالونو کې شرحه شو.

Hartnup Disease

دا یو ارثی لېږدیدونکې حالت چې د امینواسیدونو د میتابولیزم اغیزمن کوی چې پیړ پوستکې او عقلی – روانی ناروغیو سره مل وی.

Harvest

د یوه دونر (Donor) شخص څخه د نسج یا څه اخیستل او د پیوند لپاره یی ساتل ګنل شی لکه د (Graft Or Eggs For IVF).

Hashimoto's Disease

دا د جاغور (غور) یو ډول دئ په منځنی عمر ښځوکې پېښیږی پکې د مخ پوستکې پرسېدلې او ژیړ اوښتې وی. په کال (1912) کې د جاپانی جراح (Hakuru Hashimoto) پذریعه معرفی شو.

Hashish

چرس ، د (Cannbis Sativa) نارسېدلې بوټې د پاڼو یو محصول چې له وچو لو وروسته څکول یا ژوول شی او نشه منځ ته راوړی دا د (Marihuana) څخه قوي ماده ده . د (Cannabis) په اندول.

Haustelum

یوه تش منځې نلکه (ټیوب) چې د هغه په وسیله ځینې حشرات لکه میاشی او وریږې له خپل مېزبان سره ځان نښلوی او وینه څښښی ، نېش.

Haustra

د هاوسټروم (Haustrum) ګڼ شمېر ته ویل شی .

Haustration

د هاوسټروم د جوړیدلو پروسه .

نلری خو که چېری د یو لېږدونکی پروټین سره یوځای شی معافیتی سیستم پاروی او د غبرګون لامل ګرځی .

Haptenic

د هیپټین اړوند صفت .

Haptics

د لامسی حس د مطالعې او څېړنې پوهه او علم بلل شی.

Haptoglobin

یوپلازمائی ګلایکو پروټین چې د الکتروفوریز په الفا ستون کې ځای لری او په نه ببلېدونکی ډول له هیموګلوبین سره یوځای کېږی او د متیازو له لارې دهیموګلوبین د اطراح مانع ګرځی دوه ډوله هیپټوګلوبین شتون لری (Hp_1 ، Hp_2) .

Hard

کلک ، سخت ، منډلې کتله ، منځ ډکې نسجی جوړښت. په طبابت د ستونزې شتون بلل شی.

- Hardening of Arteries

اتیروسکلروزس Atherosclerosis ، د شریانی رګونو تنګوالي.

- Hard of Hearin

کونږوالې ، دهغه چا چې اوربدنه تخریب شوېوی ، د (Hearing-Impaired) په اندول.

- Hard Palate

کلک تالو ، د خولې د کلکه برخه پّه تالو کې د پورتنې ژامنې غاښونو تر منځ غوښنه برخه. و خولې جوف د بام (چت) برخه.

Harelip

د شونډې درز ، په ولادی توګه د شونډې درز (چاک) حالت. د (Cleft Lip) په اندول.

Harm

مضر ، ضرر پېښونکي ، ویجاړونکې لامل ، ناوړه اغیزې لکه د درملو ، تاوان رسونکې.

Harmful

له ضرر څخه ډک. ضرر پېښونکې لامل. زخمی کونکې .

Harmless

بې ضرره ، هغه څه چې خطر او ضرر نه پېښوی، مصئون شئ.

Harrison

دا یو طبی عالم وؤ ګڼ شمېر طبی نظریې لری .

- Harrison's Groove

د (Harrison's Sulcus) په اندول.

- Harrison's Sulcus

هغه مېزابه او تشه (Hollow) د ژورتیا حالت چې په دواړه لورو د صدر کې په هغه ماشومانو کې چې د تنفس ستونزه لری منځ ته راځی

Haustrum

هغه کځوړه چې د کولون بهرته منځ ته راځی ګڼ شمېر یې (Haustra) بلل شی .

HAV

د (A) ډول ویروسی هیپاټیټ (Hepatitis A Virus) لنډه نښه ده.

Haversian

د انګلیسی جراحی نامتو عالم د (Clopton Havers) پنامه چې ګڼ شمېر طبی نظریې لری.

- Haversian Canal

هاورسین کانال ، دا یو کوچنې کانال دئ چې په عمودی بڼه د (Haversian Systems) په (Compact Bone) هډوکو دننه سپر لری د وینې رګونو او لمفاوی اوعي قناتونه لری په کال (1689) کې د انګلیسی جراحی عالم (Clopton Havers) پذریعه شرحه شو .

- Haversian System

هاورسین سیستم ، د اوږدو (Compact Bone) هډوکو یو واحد دئ چې د (Haversian Canal) کانال دننه چاپیریال کې واقع دئ او د هډوکو طبقاتو لړی څخه جوړ دئ چې یو سلینډر (Cylinder) جوړښت منځ ته راوړی او ورته (Osteon) هم وایي.

Hay Fever

د پوزې د سوریو او سترګو التهاب دئ چې د ګلانو (Plant Pollen) په وړاندې د الرجیک غبرګون له امله (Allergic Rhinitis) منځ ته راځي .

HAZ

د روغتیا عمل زون (Health Action Zone) لنډه نښه ده.

Hb

هیموګلوبین (Haemoglobin) لنډه نښه ده.

HBV

د (B) هیپاټیټ ویروس (Hepatitis B Virus) لنډه نښه ده.

HB cAg

د (B) هیپاټیټ ویروس کور (Core) انټی جن (Hepatitis B Core Antigen) لنډه نښه ده .

Hb CV

د هیموفیلوس انفلوانزا (B) ډول کانجوګیټ واکسین (Haemophilus Influenzae B Conjugate Vaccine) لنډه نښه ده.

Hb PV

د هیموفیلوس انفلوانزا (B) ډول پولي سکرایډ واکسین (Haemophilus Influenzae B Polysacharide Vaccine) لنډه نښه ده.

HB eAg

د (B) هیپاټیټ ویروس (E) انټی جن (Hepatitis B e- Antigen) لنډه نښه ده.

HBs Ag

د (B) هیپاټیټ ویروس دسطحې (Surface Antigen) انټی جن (Hepatitis B Surface Antigen) لنډه نښه ده.

HBV

د (B) هیپاټیټ ویروس (Hepatitis B Virus) لنډه نښه ده.

HC

یو روغتیتائی مرکز چې هلته څو تنه د خلکو د روغتیا په موخه کار کوی ، روغتیا سمبالوونکې ډله (Hospital Corps) لنډه نښه ده.

hCG

انسانی کوریونیک ګونادوتروپین هورمون (Human Chorionic Gonadotrophin) لنډه نښه ده.

HCHS

روغتیائي او ټولنیزو خدمتونو څانګه (Health and Community Health Services) لنډه نښه ده.

HDL

د لوړ کثافت لرونکې لایپوپروتین چې د کولسترول یوډول دئ په هایپرکولستریمیا کې لیدل شی د (High Density Lipoprotein) لنډه نښه ده .

He

دا یو کېمیاوی عنصر دئ د هلیوم (Helium) لنډه نښه او کېمیاوی سمبول دئ.

Head

کوپړی ، رأس ، سر ، د بدن ګردی برخه چې په پورته کې واقع چې (سترګې ، مخ ، پوزه، خوله ،غوږونه او د کتوخې دننه ماغزه) پکې واقع دی.او همدارنګه ټول هغه لغات چې د (Cephal-, Cephalo-) مختاړو پذریعه پیل کوی د سر معنی بشپړوی،همدا ډول د اوږدو هډوکو هغه برخې چې ګردې دی او پورته کې واقع دي لکه د فخذ او عضد هډوکو رأس.

- Head Ache

سرخوږې، د سر درد ، هغه درد چې د بېلابېلو تغیراتو له امله په سر برخه کې منځ ته راځی او ورته (Cephalalgia)هم وي شی یو لړ لاملونه یې (ترضیضونه، ببخویی ، دسترګو ناروغۍ ، د سینوسونو انتانی علتونه ، عصبی روانی ناروغۍ او نور) بلل شی .

- Big Head

لوي اوغټ سر.

(قرحاتو او منتن زخمونو) په صورت کې چې په کراره ښه والي مومی او دایمی تندب (Permanent Scar) نسج پرېږدی د ګرانولیشن نسج و منځ ته راتلو وروسته ښه والي مومی.

Health

روغتیا ، صحت، د (رواني، فزیکی، ذهني او ټولنیزې) بشپړې سلامتیا حالت بلل شی.

- **Public Health**

عامه روغتیا ، هغه ځانګه چې د ټولنې د روغتیائي چارو منځ ته راوړلو او روغتیائی چارو سمبالولو سره سروکار لری .

- **Privet Health**

خصوصی روغتیائی ځانګه . هغه ځانګه چې د ټولنې د خصوصی او شخصی روغتیائي چارو منځ ته راوړلو او روغتیائی چارو سمبالولو سره سروکار لری .

- **Health Maintenance Organization**

د روغتیا ساتنې ټولنه چې لنډه نښه یې (HMO) ده.

- **Health Action Zone**

په انګلستان کې هغه ساحه چې حکومت هغه ځانګړی عملونو ته بسپنه ورکوی چې د مزخرف او بېهوده روغتیائي ضد مسائلو په وړاندې مبارزه کوی چې لنډه نښه یې (HAZ) ده.

- **Health And Safety At Work Act**

په انګلستان کې د پارلمان هغه اعمال دی چې کارکونکود خوندیتوب د کمپنیو لخوا د روغتیا ساتنی قواعدجوړوی او سمبالوی .

- **Health And Safety Executive**

په انګلستان کې د حکومت هغه مسؤله سازمانونه چې د روغتیا – امن ساتنې نظارت د کارګرانو لپاره په غاړه لری .

- **Health Authority**

ستراتیژیک روغتیائي چارواکو ډله .

- **Strategic Health Authority**

ستراتیژیک روغتیائي چارواکو ډله .

- **Health Education**

روغتیائي تعلیمات ، روغتیائي ښوونه او روزنه، صحی تعلیمات.

- **Health Education Authority**

روغتیائي پرمختګ د ښوونې او روزنې (تعلیماتو) لپاره حکومتی آژانس او پلاوي چې لنډه نښه یې (HEA) ده.

- **Health Food**

روغتیائي خواړه ، هغه خواړه چې بدن اوروغتیا ته ګټه ور دی او ضرر لکه اعتیاد نه پیښوی.

- **Health Inequality**

روغتیائي عدم تساوي ، روغتیائي نابرابری.

- **Health Information Service**

د روغتیائی معلوماتو سرویس چې لنډه نښه یې (HIS) ده.

- **Head Cold**

خفیف ډول ناروغی چې دالتهاباتو له امله (پرنجبدو او پوزې مخاطی افرازاتو) حالت سره مل وی.

- **Head Louse**

یوه کوچنۍ چیچونکې حشره د (Pediculus Genus) څخه چې په سر (Scalp) برخه کې ژوند کوی او وینه زیښې او د (Pediculus Capitis) نوم هم ورکړل شوېدی ، سپېره .

Headache

سردرد ، د ماغزو درد ، د کوپړۍ درد.

- **Cluster Headache**

خوشه ئي سر درد ، نیم سري ته ورته ستونزه چې د درد د پیاوړو حملو او په سترګو او ټنډه باندې په پورتنیو برخو کې د یو طرف درد او د پوزې او سترګو څخه د اوښکو اوبو د بهېدلو په مرسته چې دا درد یوساعت وخت نیسی پېژندل شی.

- **Exertional Headache**

هغه سرخوړې چې د تمریناتو او ورزش څخه وروسته منځ ته راځی.

- **Histamine Headache**

د (Cluster Headache) په انډول.

- **Migraine Headache**

نیم سری درد ، هغه سر دردی چې په نیم اړخ د سر کې منځ ته راځی.

- **Post-Coital Headache**

د جنسی مقاربت څخه وروسته د سر درد چې په ځانګړې توګه په نارینه وو کې منځ ته راځی.

- **Sick Headache**

د (Cluster Headache) په انډول.

- **Tension Headache**

هغه ډول سر درد چې د ډېرو شدیدو کارونو او روانی ستونزو او فشارونو له امله منځ ته راځی او د اوکسیپیتال برخه نیسی.

Heaf Test

د توبر کولین زرق ته د نری رنځ ناروغی پېژندنې لپاره ویل شی او د انتوکس تست (Mantoux Test) په انډول.

Heal

ترمیم ، جوړېدنه، روغېدا ، د روغتیا لورې ته ورتګ ، ښه والي ، وغتیائی ښه کېدنه ، د ټپونو ښه کېدنه.

Healing

د ترمیم او روغېدنې پروسه.

- **Healing by First Intention**

په لومړی مرحله کې پرته د ګرانولېشن نسج منځ ته راتلو څخه د ټپونو روغتیا او ښه کېدنه هغه ټپونه (پرهرونه) چې پاک دي په چټکی سره ښه والي مومی .

- **Healing by Second Intention**

په دوهمه مرحله کې هغه ټپونه چې د انتاناتو د شتون له امله

څوک چې بشپړ روانی –فزیکی ، ذهنی او ټولنیز روغتیالری او د مقایسې لپاره ورته د (Healthier –Healthiest) صفاتو څخه کار اخیستل شی .

Hear

د غږ اورېدل ، د ږغ احساس ، اورېدنه چې د ویونکې لخوا ورته د (Hearing– Heard) افعالوڅخه ورته کار اخیستل شی .

Hearing

د اورېدنې پروسه ، اورېدل، د غږونو د ودرک کولو حس ، د غږونو د موندنې توان ، د غږ اورېدنې وړتیا درلودنه او همدارنګه ټول هغه مختاړی لغات چې په (Audi-, Audio-) پیل مومی دا معنی بشپړوی .

- Hearing Aid
یوه کوچنۍ بریښنائی وسیله ده چې په غوږ کې کېښودل شی او د غږ اورېدنې آواز ته سمون ورکوی . غږ لوړونکې وسیله.

- Color Hearing
یو ډول کروم استریا چې په هغه کې د غږ رنګ یو ډول حس منځ ته راځی.

- Hearing -Impaired
د او رېدنې اړوند تخریبی حالت ، د کونوالې درجه.

- Hearing Loss
د اورېدنې کمښت ، د اورېدنې نسبی یا بشپړ نشتوالې ، کونوالې.

- Alexander's Hearing Loss
د حلزون په اپلازیا پورې اړوند ولادی کونوالې چې عمدتاً د کورتی غړی او ګاونډی ګانګلیونې حجرې تر اغېزې لاندې راولی.

- Conductive Hearing Loss
لېږدونکې (انتقالی) کونوالې ، یو ډول سامعی کمښت دئ د باندنی او منځنی غوږ په اوږدو کې د غږ د څپو د هدایت دنیمګړتیا له امله منځ ته راځی .

- Pagetoid Hearing Loss
د سر د کوپرې د هډوکو له غېر نارملتیا څخه زېږنده سامعوی کمښت .

- Paradoxic Hearing Loss
یو ډول سامعی کمښت دئ د هغې په بهیر کې په زیات شور ماشور کې ښه اورېدنه تر سره کېږی.

- Sensori Neural Hearing Loss
حسی – عصبی سامعوی کمښت ، یو ډول سامعی کمښت دئ چې په داخلی یا سامعوی عصب کې د نیمګړتیا له امله منځ ته راځی .

- Transmission Hearing Loss
د (Conductive Hearing Loss) په انډول.

Heart

زړه ، قلب ، د زړه او رګونو سیستم کې پمپ کوونکې غوښنه

- Health Insurance
روغتیائي بیمه ، صحی بیمه.

- Health Ombudsman
د روغتیائی سرویس کمیشنر . دروغتیائی خدمتونود کمیسیون غړی.

- Health Promotion
روغتیائی پرمختګ.

- Health Protection Agency
د روغتیا ساتنې سازمان آستازېتوب او نمایندګی چې خلکو ته د خطرونو څخه د ژغورنې خدمتونه تر سره کوی .

- Health Service
روغتائي خدموتونه ، صحی خدمات.

- Health Service Commissioner
د روغتیائی سرویس کمیشنر، دروغتیائی خدمتونود کمیسیون غړی ، د (Health Service Ombudsma) په انډول.

- Health Service Manager
د روغتیائی خدمتونو تر سره کوونکې مدیر او سمونکې کس لکه د روغتون رئیس ، روغتیائی چارومسؤل کس .

- Health Service Ombudsma
د (Health Service Commissioner) په انډول.

- Health Service Planning
د روغتیائی خدمتونو پلان جوړولو پروسه.

- Health Visitor
روغتیایی سیلانې ، راجستر شوې نرس چې ددې وړتیا ولری چې میندې او ماشومان په کور کې ویزیت کوی او یو لړ د مخنیوی لپاره درمل ورکوی.

Healthcare

روغتیا پال ، روغتیا ساتونکی ،هغه ډله خلک چې طبی ستونزو درملنه خصوصاً د مخنیوی اړوند چارې سمبالوی.

- Healthcare Assistant
هغه څوک چې د روغتیائي متخصص سره همکار وی او تر هغه وروسته د ناروغانو څارنه کوی.

- Healthcare Delivery
د روغتیائی مراقبت تسهیلاتو او خدمتونو تر سره کولو څانګه.

- Healthcare Professional
یو مسلکي څوک چې وکړای شی مسلکی روغتیایی خدمت تر سره کړی لکه نرس.

- Healthcare System
د روغتیائي چارو د خدمتونو سیستم.

- Healthcare Centre
روغتیائي مرکز،یو عام ودانی چې پکې یوه ډله د ډاکټرانو راټوله وی او روغتیائی خدمتونه تر سره کړی .

Healthy

روغه ، روغ رمټ ، سلامت ، د سلامتیا درلودونکې ، هغه

- Heart Failure
د زړه عدم کفایه ، د زړه نه بریالیتوب ، هغه حالت چې پکې زړه نشی کولای په کافی اندازه وینه پمپ کړی او په کفایت ټوګه فعالیت تر سره کړی ښائي دواړه لوري اخته کړی او ممکن احتقانی بڼه ولری لکه (**Congestive Heart Failure**) .

- Congestive Heart Failure
د زړه احتقانی عدم کفایه، د (**Heart Failure**) په انډول.

- Fatty Heart
هغه زړه چې شحمی استحاله باندې اخته وی.

- Fibroid Heart
د زړه د مایوکارډ عضلې یوه برخه په فیبروزی نسج باندې اوښتنه کوی لکه په مزمن مایوکارډیت کې .

- Horizontal Heart
د زړه په برښنائی محور کې د ساعت د ستنې د حرکت د لورې پر خلاف څرخېدنه.

- Irvitable Heart
عصبی دورانی کمزورتیا ، د (**Neurocirculatory Asthenia**) په انډول.

- Left Heart
کین زړه ، دا برخه یو اذین او یو بطین لری شریانی وینه لېږدوی .

- Heart-lung Machine
د زړه او سږو لپاره رغوونکې ماشین .

- Heart -lung Transplant
د زړه او سږو ترانسپلانټ جراحي کړنلاره بلل شی.

- Heart Massage
د زړه مساژ ، د بیا رغاونې د در ملنې یوه طریقه ده چې کله چې زړه ودرېږی د مساژ ورکولو پذریعه بیا په کارکړنې پیل کوی .

- Heart Murmur
د زړه سوفل ، د زړه غیر نورمال او اضافی غږونه داسې چې د یو بوتلی یا نلکې څخه د وینې بهیر تېر شی چې په والونو (دسامی) ناروغیو کې اوریدل شی .

- Heart Rate
د زړه د ضربان (ټکان) شمېر په یوه دقیقه کې ګڼل شی.

- Right Heart
ښې زړه ، دا برخه یو اذین او یو بطین لری وریدی وینه لېږدوی .

- Soldier's Heart
عصبی دورانی کمزورتیا ، د (**Neurocirculatory Asthenia**) په انډول.

- Heart Sounds_
د زړه آوازونه ، د زړه غږونه چې د (**Lubb-Dupp**) په بڼه اوریدل شی .

- Stone Heart
ډېرین زړه ، د کانۍ زړه ، په یوه هایپرټروفیک زړه کې د پنډ نکروزی باندې پېښېدل چې کومه عارضه نلری خو د زړه د جراحی اصلی عارضې په توګه په پام کې نیوله شی او داسې برېښی چې د (**ATP**) د اندک کچې او کلسیوم له حده څخه وتلې زیادښت سره تړاو لری .

وسیله چې د هر پمپ په نتیجه وینه انساجو ته لېږدوی او برعکس دا غږې د صدر په کین اړخ کې پروت دئ او دوه برخې د اذین او بطین پنامه لری و دمایوکارډیوم په نامه عضلې څخه جوړ دئ ، همدارنګه ټول هغه مختارې لغات چې په (**Cardi-** ، **-Cardio**) پیل مومی د زړه معنی بشپړوی.

- Arrested Heart
ودرېدلې زړه ، متوقف زړه ، ولاړ زړه چې چې فعالیت نلری.

- Artificial Heart
مصنوعی زړه، داسې ماشین چې د زړه د ضربان کچه د زړه د وینې فشار او دهانه دوه برابره کوی .

- Athletic Heart
د دسامونو د اختلال پرته د زړه د عضلې ضخامه په ورزشکارانو کې لیدل شی.

- Heart Attack
د زړه حمله ، د زړه ودرېدنه او تم کېدنه ، د میوکارد عضلې د ایسکیمیا له کبله د احتشأ او زړه ودرېدنې حالت .

- Heart Beat
د زړه ټکان ، د زړه درزا ، د زړه ضربان ، نبضان ، یو بشپړ د زړه کړې، (سیکل) چې د هغې د برېښنائي بهیر تر خپرېدو وروسته د مایوکارډ انقباض منځ ته راځي .

- Heart Block
د زړه بلاک، د زړه د برېښنائی بهیر د هدایت اختلال چې د زړه فعالیت په کراره کوی څکه چې سیاله د (**Sinoatrial Node**) څخه تر بطین پورې ځنډېږی او یکې ځنډ منځ ته راځي چې د زړه د اذینې او بطینی بلاک په بڼه منځ ته راځي او درې درجې لری (**First Degree Block** ، **Second Degree Block** او **Complete Heart Block**) .

- Heart Burn
زړه سوې ، د سینې د ستېرنوم په څټ کې د سوځېدنې احساس شتون چې د غاړې په لوری خپرېدنه کوی ، د معدې سوې چې کله ناکله د معدې اسیدې عصاره خولې ته رادرومی .

- Heart Bypass
د زړه د شریانونو بای پاس جراحی تر سره کول ، د زړه د شریانی ګرافټ کړنلاره د (**Heart Bypass Graft** ، **Coronary Artery Bypass Operation**) په انډول .

- Heart Bypass Graft
(**Coronary Artery Bypass Operation**) په انډول .

- Heart Disease
د زړه هر ډول عمومی ناروغی بلل شی.

- Extra-corporal Heart
مصنوعی زړه، داسې ماشین چې د زړه د ضربان کچه د زړه د وینې فشار او دهانه دوه برابره کوی او له بدن څخه بهر وینې ته د اکسیجن د لېږدونې دنده تر سره کوی.

ځخه ضایع کېږی ، ضعف (**Stroke**) حالت .

- Prickly Heat

د ملاریا روبرا (**Miliaria Rubra**) په انډول.

- Heat Rash

د تودوخې له کبله سره مخه، د پوستکی په برخه کې د تودوخې له امله د کوچنیو سرو دانو منځ ته راتګ ، د (**Miliaria**) په انډول.

- Heat Spots

هغه کوچنی سره داغونه (**Red Spots**) اوخاپې چې د ډېرې تودوخې له امله د مخ په پوستکی کې منځ ته راځی او لیدل شی.

- Heat Stroke

د تودوخې له امله ضعف چې پکې د ډېرې تودوخې له امله د چا دبدن د تودوخې درجه ډېره لوړېږی او د سر درد د معدې کرمپونه او بعضاً بیهوښی هم پېښېږی.

- Heat Therapy

د تودوخې پذریعه درملنه چې ورته د (**Thermotherapy**) هم ویل شی.

Heaves

په آسونو کې مزمن ریوی آمفزیما.

Heavy Period

د ښځو میاشتنې عادت (حیض) چې پکې ښځې په ډیره پیمانه وینه ضایع کوی او کله ناکله هم دردناک وی او بعضاً د روغتیا لپاره ستونزه منځ ته راوړی لکه د (**Fibroids**) یا (**Hypothyroidism**) په حالاتو کې، ستونزمنه مرحله ، درنده دوره.

Hebephrenia

هبفرینیا ، هغسې حالت چې یو څوک معمولاً د بلوغ سره سم د یو لړ ننبنو نښانو (برسام ،هذیان ویلو، ویرې او ترهې ، د شخصیت او کرکتر بدلون او په عمومی بڼه د نا آشنا عمل ترسره کولو) ښکار سره د پېژندنې وړ ګرځی.

Hebephrenic

د (**Hebephrenia**) اړوند صفت دئ.

- Hebephrenic Schizophrenia

هیبفرینیائی سیزوفرینی ډول.

Heberden's Node

یوه کوچنې عظمی کتله چې د لاس د ګوتو په آخری او پایلې بند کې د اوستیوآرتریتس له امله وده مومی چې د لومړی ځل لپاره د انګلستان در روماتیک ناروغیو متخصص عالم (**William Heberden**) پذریعه په کال (**1802**) کې شرحه شو.

Hebetic

د بلوغ دورې پورې اړوند.

- Heart Stoppage

د زړه ودرېدنه ، د زړه توقف، د زړه د ضربان نشتوالې .

- Heart Surgeon

د زړه دجراحی متخصص ډاکټر ، هغه جراح چې د زړه جراحی عملیاتونه تر سره کوی .

- Heart Surgery

د زړه جراحی کړنلارو سرته رسولو اړوند.

- Heart Tamponade

د زړه تیمپوناد ، په زړه باندې فشار شتون ، د (**Cardiac Tamponade**) په انډول.

- Heart Transplant

د زړه ترانسپلانت جراحی کړنلاره تر سره کول.

- Tri-chamberd Heart

د درې جوفی زړه ، یو تکاملی غېر نارمل نیمګړی د زړه وده ده چې زړه له درې جوفونو څخه جوړوی .

- Heart Water

وژونکې راشیتیزمی ناروغی چې په (غوایانو ،پسونو او وزو) کې یرغل کوی او په پریکارد او پلورا جوف کې د مایع په راغونډېدلو سره پېژندل شی.

- Water-bottle Heart

د پریکارډ د ایفیوژن راډیوګرافیکه ننبنه چې په هغې کې پریکارډ یال سوری پراخ شوی وی او فلاسک یا د بوتل بڼه یې خپله کړیوی .

- Heart Worm

د (**Dirofilaria Immitis**) ډولونو څخه هر یو .

Heat

تودوخه، حرارت ، دتودوخې د درجې حرارت زیاتوالې. د تودوخې درجې د زیادښت څخه زېږنده انرژی لنډه ننبنه یې (**Q** یا **Q**) ده ، د (**Estrus**) په انډول.

- Conductive Heat

د ګرم او سکروټه شوی شی سره د مستقیم تماس له لارې د تودوخی لېږدېدل.

- Connective Heat

د هوا یا اوبو په څېر د منځګړی عامل پواسطه د تودوخې لېږدېدل

- Conversive Heat

د راډیو اکتیف وړانګې تېرېدلو په واسطه په نسجونو کې د تودوخې رابرسېره کېدل.

- Heat Cramp

حروری کرمپونه،هغه کرمپونه چې په بدن کې د مالګې اطراح له امله په ډېره تودوخې او ګرمی کې منځ ته راځی.

- Heat Exhaustion

د تودوخې ضایع چې د فزیکی تمریناتو له امله په ډېرو تودوخې حالاتو کې د کولاپس عامل ګرځی چې پکې مالګې او اوبه له بدن

Hebetude
بې احساسه توب.داحساس ورکوالې د تبې پرمهال چې یو څوک د چاپیریال سره بې علاقه کوی او د تنبهاتو په وړاندې ځواب نه ورکوی.

Hectic
منظم بیاتکرار ، منظم عود ، هغه حالت چې په منظم ډول سره بیا عودت وکاندې لکه د سرطانی ناروغیو عودت.

- Hectic Fever
عودتی تبه ، د تبې یرغل چې په یوچا کې په تکراری ډول سره منظم هروه ورځ منځ ته راځی (د ملاریا تبه او نری رنځ تبه چې هره ورځ تکرار شی) حالاتوکې.

Hecto -
دا یو مختاړې دئ چې د سلو(سل چنده) معنی بشپړوی.

Hedonism
له دنیوی خوندونو سره له حده د پر وتلې تړاو.

Heel
پونده ، د پښې پل تر تولو شاتنی برخه.

- Cracked Heel
د (Pitted Keratolysis) په اندول.

- Heel Bone
هغه هدوکې چې د پوندې برخه جوړوی د (Calcaneus) هډوکې .

Hegar's Sign
د هیګر علامه ،دا یو کلینیکې نښه (علامه) ده چې د ګوتو پواسطه د رحم لپاسه د فشار راوړلو پذریعه چې بل لاس په حوصله کې د رحم د عنق برخه کې کېښودل او د رحم د بلاربښت پېژندنې په موخه تر سره کېږی چې په کال (1830) کې د جرمني نسائي ولادی عالم (Hegar) پذریعه شرحه شوه.

Height
ونه ، د بدن د اوږدوالی اندازه، قد .

- Height of Contour
① دغابښ په شاوخوا کې محیطی لیکه (کربنه) چې د هغه تر تولو لوی محیط ښیی . ② هغه خط چې دغابښ د چاپیریال په لړه یا زیاته عرضانی بڼه پروت دئ او د غابښ تر تولو لوی ښاخ څخه تېرېږی . ③ هغه خط چې دغابښ د چاپیریال دقطر په تر تولو لویه ناحیه کې پروت دئ.

Heimlich Manoeuvre
هیملیش مانوره ، دا یوه بېړنې درملنه ده چې په خفه کونکې حالت کې د اوچتولو کړنلاره ده چې پکې د سینې (ټټر) د پنجرې هډوکی کله چې دننه د صدر لورې ته ننوتې وی او د کولاپس لامل شویوی او په هوائي نلکه یې فشار راوړې وی تر سره کېږی دا هډوکې اوچتېږی.

Helco -
دایو مختاړې دئ اود ټپ یا پرهر (زخم) معنی بشپړوی .

Helcoid
د یوه ټپ (زخم) په څېر ورته .

Helcoplasty
د جراحی کړنلاري پواسطه د زخم په برخه کې د پوستکي ګرافت پذریعه د ټپ پوښل چې تر څو ژر ترمیم تر سره شی.

Helical
د یوه مارپیچ په څېر .

Helicine
مارپیچې ډوله ، د مارپیچ پوري اړوند.

Helicobacter Pylori
هغه د (Spirillaceae) کورنۍ څخه ګرام منفی مایروایروفیلیک باکتریا چې د معدې د ناروغیو (التهاباتو ، زخمونو او کارسینوما) سره د مله پتوګه په معدې عصاره کې تثبیت کېږی.

Helicopter -Based Emergency Medical Services
هغه څانګه او سرویس چې د بېړنی طبی خدمتونه د چورلکې (هلوکوپتر) پذریعه تر سره کوی چې لنډه نښه یې (HEMS) ده.

Helicotrema
د صماخی زینې او دهلېزی زینې ترمنځ ریښتینې سوري.

Helio -
دا یو مختاړې دئ او د لمر معنی بشپړوی.

Heliotherapy
د لمر وړانګو(Sunlight یا Sunbathing) په ذریعه درملنه.

Helium
هیلیوم ، دا یو کېمیاوی عنصر دئ چې اټومی شمېر (2) او نښه یې(He) ده دا د طبیعي ګاز پتوګه شتون لری په ځانګړې توکه په ځینو سالنډی (استما) اوتنفسی انسدادی ناروغیوکې د انستیټیک او اوکسیجن ګازونو سره یوځای د هغوی د نری کولو په موخه ورکول کېږی.

Helix
سُره ئي ، حلزونی ، د غوږ د صیوان انحنائی بهرنی څنډه (مورګه) ، مارپېچی ډوله جوړښت.

- α-Helix

د پروټینی مولیکولونو یو ډول جوړښت چې په هغه کې یو ساده پولیپیټاید ځنځیر یوښی چورلیزه مارپیچ (Alpha Helix) رامنځ ته کوی چې دغه مارپیچ د هایدروجنی رابطو په مټه ټینګښت مومی.

- Double Helix

مضاعف مارپیچه جوړښت . د (Dna) ځنځیرونه لری او دغه دوه ځنځیرونه کاملاً یود بل په وړاندې اختصاصی شوېدي ،د (Watson-Crick Helix) په انډول.

- Watson-Crick Helix

د (Double Helix) په انډول.

Heller's Operation

د مری د اکلازیا ناروغۍ جراحی درملنې لپاره د (Cardiomyotomy) جراحی کړنلاره ده پکې د مارډیا معصرې حلقوی عضلات غوځېږی چې دا کړنه د (Cardiomyotomy) پنامه هم یادېږی په کال (1877) کې د جرمنی جراح (E. Heller) په ذریعه معرفی او شرحه شو.

Heller's test

هیلر آزمایښت، هغه آزمایښت چې د لومړی ځل لپاره د (Austrian Physician) عالم (Johann Florenz Heller) پذریعه په کال (1813) کې په متیازو کې د پروټین تثبیت په موخه تر سره او شرحه شو.

Hellin's law

داسې یو قانون چې د هغې له مخې په یوه ایالت کې په هر (90) ژوندیو زېږېدنو یو غبرګ Twins دوه ګونې ، په هر (8,100) ژوندیو زېږېدنو یو Triplets درې ګونې او په هر (729, 000) ژوندیو زېږېدنو یو Quadruplets څلورګونې او هر (65, 610, 000) ژوندیو زېږېدنو یو Quintuplets ډېر یا څوګونې زېږونې منځ ته راشی .

HELLP syndrome

دا د پریایلامپسیا (Pre-eclamptic) شدید ډول اختلال دئ چې پکې پلاربښت ته پایله ورکول شی چې پکې (Haemolysis - Elevated Liver Enzymes–Low Platelet Count Syndrome) ډول شتون لری.

Helminth

پرازیتی چینجې، د فیتوی اوږده چینجې (Tapeworm یا Fluke) بلل شی.

Helminthagogue

د چینجی ضد ماده او درمل.

Helminthemesis

په کانګو کې د چینجیانو شتون، چینجې لرونکې قی.

Helminthiasis

د چینجیانو په پرازیت اخته ناروغه کسان.

Helminthology

د چینجیانو پرازیتونو اړوند علمی څېړنو او پوهې علم.

Heloma

مېخک، کلک Corn جوړښت چې ډېرې مهال د پښو په تل کې منځ ته راځي.

- Heloma .Durum

کلک مېخک . سخت مېخک .

- Heloma Molle

پوست مېخک ، نرم مېخک .

Helotomy

د جراحي عملیات پذریعه د مېخک راویستلو کړنلاره.

Helper

مرستندویه ، همکار ، شاګرد ، داوطلب کارکونکې،دستیار.

Helper T-cell

د وینې په بهیر کې د سپینوکریواتو یو ډول چې د داسې حجرو د تولې د و تنبه لامل ګرځی چې دانتی‌جن د تخریب لامل ګرځی او په معافیت منځ ته راوړلو کی رول لری .

Hemacytometer

د وینې د سروحجرو د اندازه کولو وسیله د (Hemocytometer) په انډول.

Hemadsorbent

د هیموابزورپشن اړوند صفت.

Hemadsorption

د یو بل سره د وینې د سرو کریواتو پیوستون او نښتنه.

Hemagglutinin

یوډول انتی باډی چې یو له بل سره د سروکریواتو پیوستون لامل ګرځی.

- Cold Hemagglutinin

هغه هیماګلوتینین چې یوازې و (4°c) په شاو خوا تودوخه کې اغېزه لری .

- Warm Hemagglutinin

هغه هیماګلوتینین چې یوازې و (37°c) په شاو خوا تودوخه کې اغېزه لری .

Haemagogus

د میاشو هغه ډول چې د (Yellow Fever) لپاره ناقل وی.

Hemal
①د وینې یا دوینې د رګونو پورې اړوند.②د ملا تیرد محور په پرتله قدام یعنی په هغه ځای کې چې زړه او لوی رګونه پراته دی.

Hemalum
د هیماتوکسیلین او آلوم مخلوط چې د هستوی رنګ پتوګه پکاربړی.

Hemanalysis
د وینې تجزیه ، د وینې تحلیل ، د لابراتوری کتنو له مخې د وینې د عناصرو او اړوند بیوشیمیک کتنو تر سره کول.

Hemangi-
دا یو مختاړې دئ او د وینې رګ معنی بشپړوی.

Hemangio-
دا یو مختاړې دئ او د وینې رګ معنی بشپړوی.

Hemangioameloblastoma
د رګونو ځخه په ببدربغه ډول سره غنی املوبلاستوما تومور ته ویل شی.

Hemangioblast
یوه مېزوبلاست حجره چې د وینې د رګونو په اندوتلیوم او د وینې په پرېکورسرې حجرې د بدلون توان لری.

Hemangioblastoma
په مخچه ، نخاعی طناب یا شبکیه کې د رګونو ځخه ډک جوړ سلیم تومور چې د تکثر په حال کې د وینې رګونو حجرې او آنجیوبلاستونه لری.

Hemangioendithelio-blastoma
د میزانشیمال سرچینې لرونکې تومور چې حجرې یې د وینې رګونو د اندوتلیالی حجرو د پېښېدنې په لوړې لېوالتیا لری او د وینې رګونواندوتلیال حجرې او آنجیوبلاستونه لری.

Hemangioendithelioma
د وینې رګونو د سر چینې لرونکې حقیقی تومور چې له رنګ ځخه بهر او دننه اندوتیلیوم د حجرو په تکثر سره پېژندل کېږی ځینې وخت دغه تومور د هیمانجیوسارکوما په نوم یادېږی.

Hemangioendithelio- sarcoma
هیمانجیواندوتیلیو سارکوما، د وینې رګونو د سر چینې لرونکې حقیقی تومور چې له رنګ ځخه بهر او دننه اندوتیلیوم د حجرو په تکثر سره پېژندل کېږی ،د (هیمانجیوسارکوما) په انډول.

Hemangioma
هیمانجیوما ، ① یو سلیم تومور چې د وینې رګونو منشه لری په جنیني دوره کې د وینې رګونو د جوړونکی نسج د غبر نارملتیا او د پرېمانه رګونو ځخه منځ ته راځی په ماشومانو کې هلکانو کې ډېر شیوع لری . ②.یو سلیم یا خبیث ډول تومور چې د وینې رګونو منشه لری په هر عمر کې رابرسېره کېدای شی.

- Ameloblastic Hemangioma
د (**Hemangioamelo Blastoma**) په انډول ، د رګونو ځخه په ببدربغه ډول سره غنی املوبلاستوما تومور ته ویل شی.

- Capillary Hemangioma
کپیلری هیمانجیوما ، دا یو تر ټولو شایع هیمانجیوما ده چې د ډېرو کوچنیو شعریوی رګونو د راغونډېدلو ځخه پېښېږی ، د (**Strawberry Hemangioma**) په انډول.

- Cavernous Hemangioma
سوري سوري (کهفی) هیمانجیوما، یو سور –آبی رنګه اسفنجی تومور چې د منضمې نسج اولویو وعائي فضا ګانو ځخه په وینه کې جوړ شوېدی.

- Sclerosing Hemangioma
تصلبی هیمانجیوما ، د فیبروزی هیستوسایتوما سلیمه بڼه چې هیستوسایتیک اوفایبروبلاستیک عناصر او پرېمانه د وینې رګونه لری او د هیموسیدرین رسوب پکې وی.

- Strawberry Hemangioma
یو مخروطی ډوله کلک او تک سور رنګه هیمانجیوما چې د زېږون یا ماشومتوب له پیل سره سم رابنکاره کېږی معمولاً په(اغاړه ،ورمېږ ،مخ ، تندی او سر) کې لیدل شی په چټکه توګه وده کوی خو معمولاً له هیڅ ډول عارضې پرته پخپل سر ښه والې مومی،وعائي خال.

- Venous Hemangioma
وریدی هیمانجیوما ، یو ډول اسفنجی د وریدی رګونو ځخه جوړ هیمانجیوما چې په هغه کې آزاد شوی رګونه سخت فیبروزی جدار لری.

Hemangiopericytoma
هیمانجیوپیریسایتوما، د غنی وعائی شبکې لرونکی او اغزی ډوله حجرو ځخه جوړ تومور دئ.

- Hemangiopericytoma of Kidney
په پښتورګو کې د جوکستاګلومیرولار حجرو ځخه جوړ تومور بلل شی.

Hemangiosarcoma
هیمانجیوسارکوما ،د وینې رګونو د سر چینې لرونکې حقیقی خبیث تومور چې بهر او دننه اندوتیلیوم د حجرو په تکثر سره منځ ته راځی.

Hemapheresis

هر هغه پروسه چې د هغې په بهیر کې له بدن څخه وینه ایستل کېږی او یوه برخه یې بېلېږی او پاتې برخه بیرته بدن تېرېږی او ببله شوې برخه بل اخیستونکې ناروغ ته تزریق کېږی.

Hemarthrosis

د یوه بند (مفصل) د ساینویال مایع دننه وینه بهېدنه.

Hematemesis

دموی کانګې ، وینه لرونکې کانګې .هغه حالت چې د کانګو سره مل وینه بهر ته کانګې شی.

Hemathermous

د (Homothermic) په اندول.

Hematic

په وینه پورې اړوند صفت.

Hematidrosis

د وینه لرونکو خولو افراز. دموی خولېجن حالت.

Hematin

①هیم هایدروکساید، ②دا هیماتین د هیموګلوبین جوړښت تنبه کوی او د پورفایرین جوړېدل په شا تمبوی و نهی کوی او د سایتوکرومونو او پراوکسېدیزونو یو جزء بلل کېږی ،③د (Hemin ، Haematin) په اندول.

Hematinic

د هیماتین (Hematin) اړوند صفت .

Hematinuria

په متیازو کې د هیماتین شتون بلل شی .

Hemat-

دا یو مختاړې دئ او دوینې معنی بشپړوی .

Hemato-

دا یو مختاړې دئ او دوینې معنی بشپړوی .

Hematocele

په یوه فضأ کې د وینې راټولېدل په ځانګړې توګه مرغېږیو په تونیکا وجینالیس طبقه کې و دینې راغونډېدل.

- Parametric Hematocele

د رحم د پارامتریوم برخې هیماتوسل ، د (Pelvic Hematocele یا Retrouterin Hematocele) .

- Pelvic Hematocele

حوصلې هیماتوسل.

- Retrouterin Hematocele

د رحم خلف ته هیماتوسل.

- Spotanous Hematocele

بنفسهې ډول منځ ته راغلې هیماتوسل چې و ینې اختلال ناروغیو کې لیدل شی.

- Traumatic Hematocele

د ترضیض څخه وروسته هیماتوسل.

Hematochezia

په غولو (غایطه مواد) کې د وینې شتون .

Hematochyluria

د تشو متیازو له لارې د وینې او کایل اطراح د (Wachereria Bancrofti Disease) میکروبی ناروغي په لړ کې.

Hemtocoelia

د هیماتوسل (Hematocele) په اندول.

Hematocolpometra

د رحم او مهبل په بر خو کې د حیضی وینې راټولېدنه د بکارت پردې نه وازېدو او سوری کېدو له امله.

Hematocolpos

په د مهبل په بر خو کې د حیضی وینې راټولېدنه د بکارت پردې د بندوالی له امله.

Hematocrit

د ټولې وینې د سروکریوانو د حجم سلنه (فیصدی) .

Haematocrya

هیماتوکریا .

Haematocyte

دوینې حجره .

Haematocytoblast

هیماتوسایتوبلاست .

Hematocyturia

په تشو متیازو کې د وینې د سرو کریواتو شتون.د (Hematuria) په اندول.

Hematogen

د وینې له لارې ، د وینې بهیر اړوند او ترلې .

Hematogenic

د وینې بهیر اړوند او ترلې صفت ، دموی ، د وینې له لارې خپرېدل

- Haematogenic Constitution

د وینې له امله پېښ شوې بنسټیز جوړښتونه یا هغه نصواری رنګه عنبیه (Brown Iris) چې په (Pseudoscience of Iridology) کې په هغه کسانو کې چې په اوینه لږی Anaemia، Cardiovascular Disease، Hepatitis، Hepatobiliary Disease، Pancreatic Insufficiency، Malabsorption And Diabetes] اخته وی منځ ته راځی .

- Haematogenic Oxidation Therapy
د وینې اړوند اوکسیډ پشنی درملنه.

Hematogenous
د وینې بهیر اړوند او تړلې صفت ، دموی.

- Hematogenous Embolism
د (Intravascular Embolis) په انډول.

- Hematogenous Spread
د وینې له لارې خپریدنه.

Hematoidin
هغه ماده چې دکهمیاوی له پلوه بیلی روبین ته ورته ده او په نسجونو کې او د هیموګلوبین څخه په لاس راځی.

Hematology
د وینې د عنصرونو او د وینې د جوړونکو نسجونو اړوند ناروغیو د څېړنې علم او پوهه.

Hematolymphangioma
د وینې – لمفاوی رګونوګډ ډول انجیوما سلیم تومور.

Hematolysis
د وینې تجزیه کېدلو کړنلاره.

Hematolytic
د هیماتولایزس اړوند صفت.

Hematoma
په یو (غړی ،فضا ،نسج) کې د وینې راټولېدنه.

- Cephal Hematoma
دماغزو برخې هیماتوما چې دزېږون وروسته تر سترګو کېږی.

- Epidural Hematoma
د ماغزو د ډیورا طبقې څخه پورته (بهر) د کوپړې هډوکو لاندې د وینې راټولېدنه ، د (Extradural Hematoma) په انډول.

- Extradural Hematoma
د ماغزو د ډیورا طبقې څخه پورته (بهر) د کوپړې هډوکو لاندې د وینې راټولېدنه.

- Intracranial Hematoma
د ماغزو د نسج دننه په لوبونو کې د وینې راټولېدنه.

- Scalp Hematoma
د سر د (Scalp) طبقاتو لاندې د وینې راټولېدنه.

- Subdural Hematoma
د ماغزو د ډیورا طبقې څخه دننه لورې کې د کوپړې هډوکو لاندې د وینې راټولېدنه.

- Subperiosteal Hematoma
د هډوکو دپریوست طبقې څخه لاندې د وینې راټولېدنه.

- Scrotal Hematoma
د د سفن (خوټلنګ) دننه طبقاتو کې د وینې راټولېدنه.

Hematomediastenium
د ګوګل (منصف) دننه و دینې د راټولېدنې حالت بلل شی.

Hematometra
په ځلانځې (رحم) کې دحیضی وینې راټولېدنه.

Hematometry
د هیموګلوبین د اندازې تاکنې او دکچې شمېرنې ارزونه بلل شی.

Hematomyelia
د نخاعی رسی (حرام مغز) دننه د وینې راټولېدنه.

Hematomyelitis
د نخاعی رسی (حرام مغز) دننه د وینې راټولېدنې له کبله د حاد میلیت التهاب شتون بلل شی.

Hematomyelopore
د نخاعی رسی (حرام مغز) دننه د وینې بهېدنې له کبله د کانالونو منځ ته راتګ.

Hematopathology
د وینې د ناروغیو اړوند د څېړنو او مطالعې پوهه اوعلم بلل شی.

Hematophagia
د وینې څښل، وینه خوړل ، د وینې څښښل ،په وینه باندې تغذیه او د ژوندون تداوم.

Hematophagous
د (Hematophagia) اړوند صفت.

Hematopoiesis
د وینې د حجروجوړېدل او وده کول ، د وینې حجرو د منځ ته راتګ پروسه بلل شی.

- Extramedulary Hematopoiesis
د هډوکو له ماغزو څخه بهر په بل ځای کې (توري،ینه او لمفاوی غدې) کې د وینې حجرو جوړېدل او منځ ته راتګ.

Hematopoietic
د (Hematopoiesis) اړوند صفت.

Hematoporphyrin
د هیم د اوسپنې څخه پرته یو مشتق چې د هیموګلوبین د تجزیې له محصولاتو څخه شمېرل کېږی.

Hematorrhachis
د نخاعی طناب (حرام مغز) دننه د وینې راټولېدنه.

Hematorrhea
له حده وتلې ډول وینه بهېدنه.

Hematosalpinx
په رحمی ټیوبونو (نفیرونو) کې د وینې راټولېدنه.

Hematospermatocele
په منوی مایع کې د وینې شتون ، وینه لرونکې سپرماتوسل.

Hematosteon
د هډوکي د ماغزو دننه وینه بهېدنه او راټولېدنه.

Hematotoxic
د وینې د سمیت پورې اړوند ، د وینې او وینه جوړونکی سیستم لپاره زهرجن والې .

Hematotropic
په وینه یا د وینې په حجرو باندې د یوې ځانګړې اغېزې منځ ته راتګ بلل شی.

Hematoxylin
د (Hematoxylon Campechianum) ځخه زېرنده یوه اسیدی رنګه ماده.

Hematuria
هیماچوریا ، په متیازو کې د وینې حجراتو شتون بلل شی.

- **Endemic Hematuria**
پولی شیستوزومیازس ، اندیمیک ډول هیماچوریا.

- **Enzootic bovine Hematuria**
د غوایانو په منځ کې یوه ناروغي ده چې په متیازو کې وینې حجرې شتون لري چې غواګانو ته وینه لږې (کمخونی) پېښوی.

- **Essential Hematuria**
اساسی هیماچوریا ، هغه ډول چې ځانګړې علت یې وپېژندل شی ،

- **False Hematuria**
کاذبه هیماچوریا ، د سور رنګه غذائی موادو خوراک ځخه وروسته په متیازو کې سور رنګ رابنکاره کېږی.

- **Initial Hematuria**
د متیازو په لومړی سر کې دوینې راتګ چې د احلیل ټیونو او ناروغیو له امله وی.

- **Renal Hematuria**
د متیازو په ټوله مرحله کې له سر تر پایه وینه شتون لری دا د پښتورګو ناروغیو له امله وی.

- **Total Hematuria**
د متیازو په ټوله مرحله کې له سر تر پایه وینه شتون لری دا د پښتورګو ناروغیو له امله وی.

- **Terminal Hematuria**
د متیازو د پایلې په مرحله کې د وینې شتون لری دا د مثانې ناروغیو له امله وی.

- **Uretheral Hematuria**
احلیلی هیماچوریا ، د متیازو په لومړی سر کې دوینې راتګ چې د احلیل ټیونو او ناروغیو له امله وی.

- **Vesical Hematuria**
مثانی هیماچوریا ، د متیازو د پایلې په مرحله کې د وینې شتون لری دا د مثانې ناروغیو له امله وی.

Heme
د اوسپنې لرونکې پروتوپورفایرین چې د هیموګلوبین د مولیکول رنګه برخه یا پروتین لرونکې برخه جوړوی چې شته والې یې هیموګلوبین ته اوکسیجن د لېږدونې توان وربخښی.

Hemeralopia
د ورځې له خوا ړوندوالې . د رڼا پرمهال ځه نه لیدل چې معمولاً ولادی بڼه لری ، د (Day Blindness) په انډول.

Hemi -
دا یو مختاړې دئ او دنیم یا نیمائی(Half) معنی بشپړوی.

Hemiachromatopsia
دا یو بصری اختلال دئ په یوه یا دوه باصری ډګرونو کې به انډولېزه توګه نیمائی برخو کې د رنګ ړوندوالې .

Hemiageusia
د ژبې په یو لوړې کې اګیوزیا (Ageusia) شتون بلل شی.

Hemiamyosthenia
د بدن په نیمائی برخه کې د عضلی فعالیتونو د تر سره کولو د توان له منځه تلل بلل شی.

Hemianalgesia
د بدن په نیمائی لوړې برخه کې د درد د حس توان له منځه تلل بلل شی. نیمائی لوړې بېحسی .

- **Crossed Hemianalgesia**
د مخ په نیمائی لوړې برخه کې دبېحسی شتون چې دبدن په نیمائي لوړې کې د درد و د تودوخې د حس توان له منځه تللو سره مل وی بلل شی. نیمائی لوړې بېحسی ، د (Hemianalgesia Cruciata) په انډول.

Hemianopia
نیمائي ړوندوالې، داسې حالت ته وائي چې د یوې سترګې یا دواړه سترګو د باصری ډګر په نیمائي کې ړوند والې او د لېدلو نیمګړتیا شتون ولری .

- **Absolute Hemianopia**
مطلق نیمائي ړوندوالې ، د باصری ډګر په نیمائي کې دا (رنګ ، نور او شکلونو (بڼو)) په لېدلو کې ړوند والې او د لېدلو د کمښت نیمګړتیا شتون ولری .

- **Binasal Hemianopia**
داسې حالت چې یکې د دواړو سترګو په پوزې (انفی) لوړې لېدنې باصری نیمګړتیا شتون ولری.

- **Bioccular Hemianopia**
حقیقی (True Hemianopia) نیمائی ړوندوالې .

بڼه چې د بدن یوه لورې پرې اخته او په عمده په پاسنی اندام کې رابرسېره کېږی.

Hemibladder

دا د مثانې د ودې یو ډول نیمګړی وده بلل شی چې په هغه مثانه په دوه برخو ویشلې وی او هربرخه د خپل حالب سره اړیکه لری .

Hemiblock

نیمه بلاک ، د هیس بنډل (**Hiss Bundle**) د کین دوه څانګو کې په هر یوه کې د زړه برېښنائی بهېر په هدایت کې د نیمګړتیا شته والې .

Hemic

په وینه پورې اړوند.

Hemicardia

دا یوډول دزړه ولادې غېر نارملتیا ده چې د زړه د یوې نیمائی په شته والی سره پېژندله شی، نیم زړه.

Hemicentrum

د ملاتیر د مرکز اړخیزې دوه نیمائی ګانې.

Hemichorea

هغه کوریه چې یوازې د بدن یوه نیمائی لورې اخته کاندې.

Hemichromatopsia

د باصری ډګر په یوه نیمائی کې د رنګ رووالې .

Hemicolectomy

دا د جراحی کړنلاره ده چې پکې دکولون نیمائی برخه غوڅه او راویستل کېږی .

Hemicranias

یو اړخیز سرخوږې ، نیمګړې انانسفالې .

- Chronic Paroxysmal Hemicranias

خوشه ئي سردرد چې د لړې مودې لپاره دوام مومی د ورځې څو ځله تکرارېږی او کلونه پاتې کېږی. مزمن یواړخیز سردرد.

Hemicraniosis

د سر او مخ د هډوکو د یوې نیمائی هایپراستوزس.

Hemidesmosome

د دیسموزوم(**Desmosome**) د جوړښت نیمائی چې د اپیتلیومی حجرو په قاعده سطحه کې لیدل کېږی.

Hemidiaphoresis

د (**Hemihyperidrosis**) په انډول.

Hemidysesthesis

د بدن په یوه لورې کې د حسی اختلال شته والې .

- Bitemporal Hemianopia

دا د دواړه سترګو دیه صدغی لورې کې دباصری ډګر په نیمګړتیا پورې اړوند ده.

- Complete Hemianopia

کامل ډول نیمائی رووالې ، بشپړ ډول نیمائی رووالې، داسې حالت چې دیوې سترګې د باصری ډګربشپړه نیمائی برخه ئی نیسی.

- Congruous Hemianopia

داسې حالت چې دیوې سترګې د باصری ډګر نیمګړتیا دبلې سترګې په څېر شتون لری .

- Crossed Hemianopia

د (**Hetronymous Hemianopia**) نیمائی رووالې .

- Hetronymous Hemianopia

دا هغه ډول هیمی انوپیا ده چې دا د دواړه سترګو دباصری ډګر انفی یا صدغی نیمائي برخې اخته.

- Homonymous Hemianopia

دا هغه ډول هیمی انوپیا ده چې دا د دواړه سترګو دباصری ډګر انفی نیمائي او د بلې هغې د باصری ډګر صدغی نیمائي برخې اخته کړی.

- Nasal Hemianopia

دا هغه ډول هیمی انوپیا ده چې دا د دواړه سترګو د باصری ډګر داخلی (انفی) نیمائي برخې اخته.

- Quadrant Hemianopia

د (**Quadrantic Hetronymous** ، **Auadrantopia**) په انډول .

- Temporal Hemianopia

دا هغه ډول هیمی انوپیا ده چې دا د دواړه سترګو د باصری ډګر بهرنی (صدغی) نیمائي برخې اخته.

Hemiaprexia

د بدن په یوه نیمائی لورې کې د (**Aprexia**) شتون.

Hemiarthroplasty

د یوه بند (مفصل) د نیمائی یا یوه مخ د سطحې معاوضه د (مصنوعی موادو معمولاً فلزی موادو) جراحی پذرېعه بلل شی .

Hemiataxia

د بدن په یوه لورې کې اتاکسیا.

Hemiathetosis

د بدن په یوه لورې کې اتیتوز.

Hemiatrophy

د بدن د یوې برخې (یوې لورې) د غړو ضمور (اټروفي).

Hemiaxial

نیمه محوری ، د بدن د طولانی محور په نسبت هر ډول مایله زاویه.

Hemiballismus

د (**Basal Ganglia**) د ناروغی له امله د ډیسکنیزی یوه شدیده

Hemiepilepsy

یو ډول پیران نیولې (میرګي یا صرعه) حملې چې یوازې د بدن یوه لوړې نیسي.

Hemifacial

نیمائی مخ، د مخ په نیمائی لوړې اغیز کول او د هغه پورې اړوند.

Hemigastrectomy

د نیمائی معدې (ژوندې) لېرې کول د جراحی کړنلارې پذیرعه.

Hemigeusia

د (**Hemiageusia**) په انډول.

Hemiglossectomy

د ژبې د یوې لوړې لېرې کول.

Hemiglositis

د ژبې د یوه طرف التهاب.

Hemihidrosis

دبدن په یوازې یوه نیمائی کې د خولې (تعرق) شته والې.

Hemihypalgesia

د بدن په یوه لوړې کې د درد په مقابل کې د حساسیت لږوالې (کمښت).

Hemihyperesthesia

د بدن په یوه لوړې د لامسې حس د حساسیت زیاتوالې.

Hemihyperidrosis

دبدن په یوازې یوه نیمائی کې د خولې (تعرق) شته والې.

Hemihypertrophy

دبدن په یوازې یوه نیمائی کې د حده وتلې وده او لویوالې.

Hemihypesthesia

د بدن په یوه لوړې د لامسې حس د حساسیت لږوالې او کمښت.

Hemihypotonia

بدن په یوه لوړې د عضلاتی کتلې کمښت ، د مقویت لږوالې

Hemi-inatension

یو اړخیزه هېرونه.

Hemilamenectomy

د ملاتیر د فقراتو د یوه اړخ د لامینا غوڅول او لېرې کول د جراحې کړنلارې پذیرعه.

Hemilaryngectomy

د حنجرې د نیمائی برخې غوڅول او لېرې کول د جراحې کړنلارې پذیرعه.

Hemilateral

د بدن نیم اړخ ، د بدن په نیمائي اړخ باندې اغیز کول.

Hemimelia

دا یو ډول ولادې نیمګړې وده ده چې پکې د یو چا د لاس او پښو برخو هېڅوکو وده ډېره لږه وی او دا هډوکې لنډ پاتې وی.

Hemin

د اوسپنې د (**Porphyrine Chelate**) چې د سروکریواتو څخه پلاس رائې ، د هیم کلورایډی بڼه، هیماتین.

Hemineprectomy

د جراحې پذیرعه د پښتورګو د نیمائی برخې غوڅول او راویستلو کړنلاره.

Hemiopia

د (**Hemianopia**) په انډول.

Hemiopic

د (**Hemiopia**) په اړوند صفت .

Hemiparaplegia

د بدن نیمائی ګوزنې (فلج) په لاندینی نیمائی کې د پښو برخه. د پاراپلیجی په انډول.

Hemiparesis

د بدن په یوه لوړې کې د عضلاتو فلج.

Hemiparetic

د (**Hemiparesis**) اړوند صفت. هغه څوک چې په هیمی پاریزیس (**Hemiparesis**) اخته وی.

Hemiplacenta

نیمائی پلاسنتا ، نیمائی پرېوان، د (کوریون، ژېړې کڅوړې او معمولاً د الانتوئیز) څخه جوړ غړی چې کڅوړه لرونکې نوزاد په لنډ مهاله ډول د مور له رحم سره په تړاو کې وی او ماشوم نیمایی د پلاسنتا پذیرعه تغذیه کېږی.

Hemiplegia - Diplegia

نیم فلج ، نیمائی ګوزنې وهلې څوک ، یو اړخیزه فلج چې د مرکزی عصبی سیستم تخریباتو له امله وی .

- Alternate Hemiplegia

متناوب نیم فلج . د یوه لوړې او د بدن بل مقابل لوری فلج .

- Cerebral Hemiplegia

یو اړخیزه فلج چې د مرکزی عصبی سیستم تخریباتو له امله وی .

- Facial Hemiplegia

د مخ د نیمائی برخې فلج .

- Spastic Hemiplegia

متشنج یا شخ فلج چې د عضلاتو د شخی له امله او تیندونونو رفلکسونو د زیادښت سره مل وی.

HEMS
د چورلکې (هلوکوپټر) په بنسټ د بېړنیو طبی خدمتونو سرویس اوشانګه (Helicopter-based Emergency Medical Services) لپاره لنډه نښه ده.

Hemoblast
د هیموسایتو بلاست (Hemocytoblast) اړوند صفت.

- Lymphoid Hemoblast of Pappenheim
د (Pronormoblast) په انډول.

Hemocatheresis
د سرو کریواتو تخریب او له منځه تګ.

Hemocatheretic
د (Hemocatheresis) اړوند صفت.

Hemoccult
د ګایاک د آزموینې لپاره سوداګریز نوم دئ چې په غایطه موادو کې د پټې وینې د شته والی د ټاکنې په موخه کارول شی.

Hemochorial
یو ډول پلاسنتا چې په هغه کې د مور وینه د کوریون سره په مستقیم ډول تماس لری.

Hemochromatosis
د اوسپنې د میتابولیزم یوه ناروغی چې په نسجونو کې د اوسپنې د(رسوب ، د پوستکې د برونزي صباغی کېدنې ، کبدی سیروزس او خوږ ډیابت) په بڼه رابرسېره کېږی.

Hemochromatotic
د (Hemochromatosis) اړوند صفت.

Hemoconcentration
د وینې د مایع برخې لږوالي چې په پایله کې د وینې حجرې اوغېر حجروی اجزاوو غلظت زیاتوالي مومی.

Hemoconia
کوچنې ،ګردي او میلې ډوله جسمونه د (Brownian Movement) حرکتونه لری او مایکروسکوپی مطالعې کې د وینې په صفیحاتو کې د تورې پانې په څېر لیدل شی.

Hemocyanine
د مسو لرونکې تنفسی رنګه دانې چې آبی رنګ لری او د حلزونونو او آرتروپوداګانو په وینه کې لیدل کېږی.

Hemocyte
د وینې حجره.

Hemocytoblast
- Spinal Hemiplegia
یو اړخیزه فلج چې د نخاعی طناب د تخریباتو له امله وی .

Hemiplegic
د نیمائي فلج اړوند صفت. په نیمائی طرف فلج اخته کېدنې پورې تړلې.

Hemiptera
وزر لرونکې یا له وزر څخه پرته د حشراتو یوه ډله چې وږې پکې ونډه لری او خوله ئی د نښې او زېښاک لپاره ځانګړې جوړښت لری.

Hemirachischiasis
د ملاتېر په هډوکو کې په ولادی بڼه د درز شتون چې ښائی له هغه څخه نخاع راوتلې او یا هم نه وی راوتلې.

Hemisection
دوه برخیز ، په دوه مساوی برخو ویشل. دوه نیمائی شوې.

Hemispasm
د بدن د نیمائی برخې سپزم او عضلاتو شخی.

Hemisphere
نیمکری ، د یوه کرې (Sphere) شکله جوړښت نیمائی.

- Cerebellar Hemisphere
د مخچې د نیمائی کره ، د مخچې د دوه لوبونو څخه هریو چې د ورمیس په دواړه اړخونوکې ځای لری.

- Cerebral Hemisphere
د مخ نیمائی کرې ، د هغه دوه متناظروجوړښتونو څخه هر یو چې د انسان ماغزه جوړوی او جنبی بطینونه پکې ځای لری.

- Dominant Hemisphere
غالبه نیمه کره ، هغه نیمه کره چې په حسی موندنو او رکوونو او ارادی چارو په تر سره کولو کې زیاته ونډه لری.

Hemispherium
د ماغزو د نیمکرو څخه هر یو.

Hemivertebra
یو ډول تکاملی غېر نارملتیا چې په هغې کې دفقری د هډوکې یو اړخ په کامل ډول جوړ شوې دئ.

Hemizygosity
هغه حالت چې په هغه کې یوازې یوه الیل جوړه یو ځانګړې صفت لېږدوی.

Hemizygous
د (Hemizygosity) اړوند صفت.

Hemo-
دا یو مختاړې دئ چې [وینې(-Haemo)] معنی بشپړوی.

Hemoendothelial
یو ډول پلاسنتا چې په هغې کې د مور وینه د کوریونی رګونو اندوتیلیوم سره تماس لري .

Hemofiltration
د ځانګړو فلترونو څخه د وینې دتېر ېدلوپه مرسته له وینې څخه د زیاتو موادو راویستل ، د وینې تصفیه کول.

Hemoflagillate
هر یوفلاجیل لرونکې ژوې چې د وینې د پرازیت شمېرل کېږی دغه اصطلاح د (تریپانوزوم او لشمانیا) په اړه کارول شی.

Hemofuscine
یوه قهوه ئی ژیړ رنګه دانه چې له هیموګلوبین تجزیې څخه پلاس راځی دغه رنګه مواد متیازو ته سور رنګ وربخښی.

Hemoglobin
هیموګلوبین **Haemoglobin** ،دوینې د سروکریواتو اوکسیجن لېږدونکې رنګه موادچې هډوکوپه ماغزو کې جوړېږی دا یو سور تنفسی صباغ (**Respiratory Pigment Red**) چې د هیم (**Haem**) او ګلوبین (**Globin**) څخه په سره حجره کې منځ ته راځی او وینې ته سور رنګ وربخښی دا حجرې په سږو کې اوکسیجن جذب کوی او هغه انساجو ته لېږدوی او هلته یې بایلی همدارنګه ننبه ئي (**Hb**) بلل شی.

- Fetal. Hb
جنیني هیموګلوبین .هغه هیموګلوبین چې د جنینی دورې د نیمائی په بهیر کې د هیموګلوبین د نیمائی څخه زیاته برخه جوړوی په بالغوکسانو کې ددې هیموګلوبین کچه ډېره ناڅیزه دي او د ځینو دموی اختلالاتو کې په غېر طبیعی ډول زیادښت مومی .

- Muscle. Hb
د مایوګلوبین (**Myoglobine**) په اندول.

- Reduced .Hb
یو ډول هیموګلوبین چې د اوکسیجن سره نه وی یوځای شوې ، ارجاع شوي هیموګلوبین .

Hemoglubinemia
کله چې په وینه کې و هیموګلوبین کچه و نورمال حده واوړی لکه د ملاریا په ناروغې کې .

Hemoglubinolysis
د هیموګلوبین تجزیه اوتخریب حالت بلل شی.

Hemoglubinometer
د هیموګلوبین د اندازه کولو لپاره وسیله .

Hemoglubinopathy
د هیموګلوبین اړوند ټولوناروغیوته ویل شی دموی اختلال هغه اولیه حجره چې معلومیږی د وینې ټولې حجرې ورڅخه منځ ته راځی.

Hemocytoblastoma
هغه سایتوبلاستوما تومور اولیه حجره چې معلومیږی د وینې ټولې حجرې ورڅخه منځ ته راځی. غیرمتمایزه حاده لوکیمیا.

Hemocytocatheresis
د هیمولایزس په اندول.

Hemocytometer
د وینې د حجرو د شمېرنې لپاره وسیله.

Hemocytometery
د وینې د حجرو د شمېرنې د وسیله په ذریعه د حجرو د اندازه کولو کړنلاره .

Hemocytotripsis
د فشار تر اغېزې لاندې د سرو کر یواتو تخریب.

Hemodiagnosis
دوینې د کتنو ترسره کولو او آزموینې پذریعه د ناروغیو پېژندنې طریقه.

Hemodialysis
د یوې نیمه قابل نفوذیه پردې له لارې د خپرېدنې(انتشار) په چاره کې د موادو د مولیکولونو د چټکتیا د توپیر څخه په ګټه اخیستنې له وینې څخه د ځانګړو عنصرونو بېلول او تصفیې تر سره کولو کړنلاره بلل شی.

Hemodialyzer
هغه وسیله (ماشین) چې د هغه پذریعه د هیموډیالیزس پروسه ترسره کېږی .

Hemodilution
د وینې د مایع برخې زیاتېدل چې د عنصرونو برخې ته رقیق کېدنه وربخښی .

Hemodynamic
د هیموډینامیزم اړوند صفت.

Hemodynamics
په بدن کې د وینې د حرکت (**Hemodynamism**) او په هغې د اغېز منو ځواکونو د میکانیزم د څېړنې او مطالعې علم بلل شی.

Hemodynamism
په بدن کې د وینې د حرکت او په هغې د اغېز منو ځواکونو د میکانیزم د څېړنې او مطالعې علم بلل شی.

Hemomediastenum

د بین الصدری منفی فضأ کې د وینې راټولېدل په منصف (ګوګل) کې وینه راټولېدنه.

Hemometra

په رحم کې وینه راټولېدل.

Hemopathology

د وینې د ناروغیو اړوند ،د وینې پتولوژی.

Hemopathic

د وینې ناروغی اړوند صفت ، هیموپتیک.

Hemopathy

د د وینې ناروغی ، هیموپتي.

Hemopericardium

د زړه د پریکارډ په طبقو فضأ کې د وینې راټولېدنه.

Hemopexin

سیرمی ګلایکوپروتین چې د هیم له مالیکول سره نښلی.

Hemophagocyte

هغه فاګوسایت چې د وینې حجرې تخریب کوی

Hemophil

هغه ارګانیزم چې په وینه کې وده کوی.

Hemophilia

هیموفیلیا ،دا یوه ارثی لېږدېدونکې ناروغی ده د تحثری (پرنکېدنې) فکټور د کمښت یا نشتوالی له امله منځ ته راځی.

- Hemophilia A

کلاسیک ډول هیموفیلیا ، په (X) کروموزوم پورې اړوند یو مغلوب جنیتیکی اختلال چې نارینه پرې اخته کېږی او د (VIII) تحثری فکټور د کمښت له امله پېښېږی.

- Hemophilia B

دا هیموفیلیا د (IX) تحثری فکټور د کمښت له امله پېښېږی.

- Hemophilia C

دا هیموفیلیا د (XI) تحثری فکټور د کمښت له امله پېښېږی.

- Classic Hemophilia

دا هیموفیلیا (Hemophilia A) ده او د (VIII) تحثری فکټور د کمښت له امله پېښېږی.

- Vascular Hemophilia

د (Vonwilberand Disease) ډول په انډول.

Hemophilic

د وینې په لوړې لېوالتیا ، په باکتریولوژی کې په وینه لرونکې زرعیه محیط کې غوره ګڼل او وده کول، په هیموفیلیا پورې اړوندصفت.

دئ چې وینې لاېراتواری کتنو په ذریعه پېژندل شی.

Hemoglubinuria

په تشو متیازو کې د هیموګلوبین شته والې بلل شی.

- Bacillary Hemoglubinuria

د یو لړ بسیلونو (Clostridium Hemolyticum) پورې اړوند انتانی توکسیک ناروغی چې اکثر غوایان پرې اخته کېږي او د تک سور ادرار ، وینه لړی او هیموګلوبینیوریا په ځېر ښکېږي ورسره وی

- March Hemoglubinuria

د ډېر بېحده ورزش کولو وروسته هیموګلوبین یوریا.

- Paroxysmal Nucturnal Hemoglubinuria

د وینې د حجرو اکتسابی اومزمنه ډیسکاریزیا چې د وینې د رګونو دننه د هیمولایزس پرغلونو او وریدی ترومبوزس له مخې پېژندل شی چې لنډه نښه یې (PNH) ده.

- Toxic Hemoglubinuria

د ببلاببلو زهرو له خوړلو اوزرق وروسته د هیموګلوبین یوریا منځ ته راتګ.

Hemoglubinuric

د هیموګلوبین یوریا اړوند صفت.

Hemohistoblast

دا هغه لومړنی (اولیه) حجره چې د وینې ببلاببلو ډولونو حجرې منځ ته راوړی.

Hemokinesis

په بدن کې د وینې بهیر.

Hemolymph

د وینې او لمف وینې ته ورته مایع د پرانیستې دموی –رګونو سیستم په لرونکو غېر فقاریه ژویو کې لیدل شی.

Hemolysin

هغه ماده چې د وینې سرې کریوي جوړښت ورانوی او ورځخه هیموګلوبین راوباسی.

Hemolysis

د وینې تخریب او هیموګلوبین آزادېدل او په پلازما رابرسېره کېدل بلل شی.

-Immune Hemolysis

د سروکریواتو سره د ځانګړې انتی باډی ګانو تر پیوستون وروسته د کمپلمنټ سیستم پواسطه د سروکریواتوتخریب او هیمولایزس منځ ته راتګ بلل شی.

Hemolytic

د هیمولایزس اړوند صفت.

Hemolyze

د لېز (تخریب) کېدو د پروسې زغمل.

Hemophilioid
له کلښنیکی پلوه کلاسیکه هیموفیلیا ته ورته حالت، چې د دغه اصطلاح د هغه ارثی یا اکتسابی اختلالاتو لپاره کارول شی چې د (Hemophilia A) سره او د (Viii) فکتور کمښت سره چندان تړاو نلری.

Hemophilus
د (Haemophilus) په انډول.

Hemopneumopericardium
د پریکارډ په طبقو فضأ کې د وینې او هوا راتولېدل بلل شی.

Hemothorax
هیموتوراکس ،په پلورا په طبقو کې د وینې راتولېدنه.

Hemopsonin
هغه اپسونین چې سره کریوات د فاګوسایتوز لپاره چمتو کوی.

Hemoptysis
وینه لرونکې بلغم ، د تیوخی پر مهال د خراشکی سره د وینې شتون بلل شی.

- **Parasitic Hemoptysis**
د (Paragonimus) د جنس په ریوی چینجیانو پورې اړونده ریو ی انتانی ناروغی چې د(تیوخی ،وینه لرونکي بلغم او عمومی وضعیت د خرابوالی) په مټه پېژندل شی.

Hemorrhage
وینه بهېدنه، خونریزی، وینه تلل ، نزف .

- **Capillary Hemorrhage**
د کوچنیو رګونو د کپیلری برخې څخه وینه بهېدنه .

- **Cerebral Hemorrhage**
د ماغزو نسج دننه وینه بهېدنه .

- **Concealated Hemorrhage**
دننه وینه بهېدنه ، داخلي نزف .

- **External Hemorrhage**
بهرنۍ وینه بهېدنه، خارجی نزف.

- **Fibrinolytic Hemorrhage**
د فیبرینولایتیک سیستم اړوند وینه بهېدنه.

- **Internal Hemorrhage**
دننه وینه بهېدنه ، داخلی نزف.

- **Nasal Hemorrhage**
د پوزې څخه وینه بهېدنه ، انفی نزف.

- **Petichial Hemorrhage**
د ټکي ټکي خاپو په څېر تحت الجلدی وینه بهېدنه.

- **Postpartum Hemorrhage**
تر زېږون مرحلې وروسته وینه بهېدنه.

Hemorrhagin
یو ډول سایتولایزین چې د مار په زهرو کې وي او د رګونو د اندوتلیائی حجرو د تخریب لامل ګرځی.

Hemorrhea
د وینې بهېدنه ، د (Hematorrhea) په انډول.

Hemorrheology
په مایکروسکوپیک او ماکروسکوپیک ډول د وینې د حجروی او پلازمائي برخو او د وینې درګونو ساختمانی ځانګړنو څېړنه.

Hemorrhoid
بواسیر ، هیموروئید تنۍ د شبکې د لاندینیو او پورتنیو وریدونو وریسي پرسوپ او اتساع.

- **External Hemorrhoid**
د مقعد څخه بهر ته راوتلې بواسیر تنۍ چې د شبکې د لاندینیو وریدونو وریسي پرسوپ او اتساع له کبلې وی د (Pectinate) کرښې څخه ښکته پېښېږی.

- **Internal Hemorrhoid**
دننه لورې ته د ریکتوم او انوس برخې شبکې د پورتنیو وریدونو وریسي پرسوپ او اتساع له کبله د (Pectinate) کرښې څخه پورته پېښېږی.

- **Prolapsed Hemorrhoid**
پرولاپس شوې بواسیر چې د (Pectinate) کرښې څخه لاندې راکښته شوېوی او کونې له سورې څخه راوتلې وی.

- **Strangulated Hemorrhoid**
مختنق ډول بواسیر چې د پرولاپس او اختناق له امله شین –تور اوښتې وي.

- **Thrombosed Hemorrhoid**
مختنق ډول بواسیر چې د ترومبوز او اختناق له امله شین –تور اوښتې وي او پرنې یا لخته وینه پکې راټوله وی.

Hemorrhoidectomy
د جراحي کړنلارې په مرسته د بواسیر غوڅولو طریقه بلل شی.

Hemosedrine
داوسپنې نه حلېدونکې ذخیروی بڼه چې د ځینو ځانګړو رنګونو په مرسته یا پرته له هغې د مایکروسکوپه مټ د پېژندلو وړ ګرځی.

Hemosidrosis
د نسجی تخریب پرته د اوسپنې د موضعی یا عمومی یا عمومی نسجی زېرمو زیادښت.

- **Pulmonary Hemosidrosis**
د سږو په بین البینی نسج کې دوینې په بهېدلو پورې اړوند په سږو کې د هیموسیدرین د غېر نارمل اندازې رسوب.

Hemostasis
د وینې بهېدنی ودرېدنه.د رګونو د انقباض اوتحثری سیستم یا دجراحی عملیات پذریعه و وینې بهیدنی مخنیوی او ودرولو کړنلاره.

Hemostat
د وینې بهېدنی ودرېدنې وسیله .د رګونو د انقباض اوتحثری سیستم یا دجراحی عملیات پذریعه و وینې بهیدنی مخنیوی او ودرولو لپاره یوه کوچنې جراحی کلامپ ، د وینې بهیدنې ضد عامل.

Hemotherapy
د ناروغیو درملنې کې د وینې یا د هغې د محصولاتو څخه ګټه اخیستلو ته ویل کېږی.

Hemothorax
هیموتوراکس .د صدر په په جوف (پلورا) کې د وینې راټولېدنه

Hemotoxic
د (Hematoxic) په اندول.

Hemotoxin
دموی توکسین ، یو ډول بهرنې زهر چې هیمولایزس پېښوی او پېژندل شی.

Hemotroph
د غذائی موادو هغه ټولګه چې جنین یې د مور له وینې څخه تر لاسه کوی.

Hemotrophic
د (Hemotroph) اړوند صفت.

Hemotropic
په وینه باندې اغېزه لرونکې عامل.

HEMS
د چورلکې (څرخی الوتکې) پر بنسټ د ېېړنیو طبی خدوتونو تر سره کول (Helicopter-Based Emergency Medical Services) لنډه نښه ده.

Henry
د بریښنائی هدایت واحد چې په هر امپیر کې د یو وبر سره معادل دئ لنډه نښه ئې (H) ده.

Henderson's model
د ا یو ډول د نرسنګ او ناروغ اړیکو پر (14 Basic Principles) اساسی بنسټونو ولاړ موډل دئ چې امکان تر حده نرس د ناوغانو د ښه والی لپاره کار کوی.

Henle's loop
و هنلې لوپ (Loop Of Henle) چې د پښتورګو د نفرون یوه برخه جوړوی د لومړی ځل لپاره د جرمنی اناټومی پروفیسور (Friedrich Gustav Jakob Henle) پذریعه په (1862) کال کې شرحه شو.

Henoch-Schönlein Purpura
دا یو ډول د وینې ناروغی ده چې پکې د وینې ډېر کوچنی رګونو د التهاب او نفوذیه قدرت ډېروالې مومی او په پوستکې کې وینه بهېدنه منځ ته راځی چې د سوروالی (Rash) حالت منځ ته راځی چې ورته (Purpura) وائي او په (معده کې دردونه ، د بندونو درد ،کانګې او بعضاً نس ناستې) حالات منځ ته راوړی په ماشومانو کې د تنفسی انتانات تر (2 - 11) کلنې کې ډېر لامل بلل شی.دا حالت د لومړی ځل لپاره د جرمنی ماشومانو پروفیسورانو (Schönlein And Henoch) په ذریعه په کال (1865) کې شرحه شو د (Henoch's Purpura) په اندول.

Hep
د هیپاټیت(Hepatitis) معنی ورکوی.

HEP
هیپاتو ایریتروپوائټیک پورفایریا (Hepatoe Erythropoietic Purphyria) لنډه نښه ده.

Hepadnaviridae
د هیپاتیت (B) ویروس په څېر ویروسونه د (Dna) لرونکې ویروسونه چې مزمن ناروغی حتی سرطانونه پېښوی.

Hepadnavirus
د هیپاتیت (B) ویروس په څېر ویروسونه د (Hepadna Viridae) کورنۍ ویروسونه چې جنس یې په د کبدی حجرو په هسته کې تکثر کوی مزمن هیپاتیت ناروغی حتی سرطانونه پېښوی.

Hepar
کبد ، ینه ، ځیګر ،جیګر ، په بدن کې هغه غړې چې وینه تصفیه ا پاکوی او نورې دندې هم لری د (Liver) په اندول.

Heparan
یو ډول ګلایکوز امینوګلایکان چې د ډېرو حجرو په حجروی غشأ کې شتون لری او ګلوکوز امین یوه بدلېدونکې برخه یوه د یورنیک اسید برخه لری دغه ماده ښائی استایلی یا سولفیټی بڼه ولری.

Heparin
یو ډول ګلایکوز امینوګلایکان یا یو مختلط مرکب چې د

سوري (Opening) منځ ته راوړل بلل شی.

Hepatic Phosphorylase

دا یوانزایم دئ چې ددې انزایم د کمښت له کبله د حجرو دننه د یو ډول د ګلایکوجن د زېرمه ائیز ناروغی لامل ګرځی.

Hepatis

پورتا هیپاټیس Porta Hepatis ، کبدی باب، هغه ورید چې کبد ته له کولمو څخه وینه لېږدوی.

Hepatitis

د هیپاټیت ناروغي ، دکبد التهاب.

- Hepatitis A

د هیپاټیت ناروغی د (A Viral Hepatitis) له املې چې د خوراکی توکو، اوبو له لارې لېږدول شی.

- Hepatitis A Virus

د هیپاټیت ناروغی د (A Virus) له املې چې د خوراکی توکو، اوبو له لارې لېږدول شی ننډه ننبسه یې (HAV) ده.

- Hepatitis B

د هیپاټیت ناروغی د انتی جن (B Viral Hepatitis) ویروس له املې چې دوینې منتن کېدو اوزرق له لارې لېږدول شی.

- Hepatitis B Virus

د هیپاټیت ناروغی د انتی جن (B Virus) ویروس له املې چې دوینې منتن کېدو اوزرق له لارې لېږدول شی ننډه ننبسه یې (HBV) ده.

- Hepatitis C

د هیپاټیت ناروغی د انتی جن (C Viral Hepatitis) ویروس له املې چې دوینې منتن کېدو اوزرق له لارې لېږدول شی معمولاً ورته (Non-A، Non-B) هیپاټیټ ویل شی معمولاً پرته له اعراضو وي خو خبیث ډول بلل شی.

- Hepatitis C Virus

د هیپاټیت ناروغی د انتی جن (C Virus) ویروس له املې چې دوینې منتن کېدو اوزرق له لارې لېږدول شی ننډه ننبسه یې (HCV) ده.

- Cholangiolithic Hepatitis

د (Cholestatic Hepatitis) په انډول.

- Classical Heptitis

د هیپاټیت ناروغی د (A Viral Hepatitis) له املې چې د خوراکی توکو، اوبو له لارې لېږدول شی.

- Cholestatic Hepatitis

انسدادی زېړي سر مل د کبد صفراوی مجراګانو التهاب .د استروجن او کلورپرومازین درملو خوراک له املې کبدی غبرګونیز التهاب او کولیستازس.

- Hepatitis Delta

د (Delta Hepatitis) هیپاټیت. د (D) هیپاټیت په ویروس ککړتیا چې د (B Hepatitis) سره یوځای کله ناکله یوځای وی و شدید ډول منځ ته راوړي.

(Mast Cells) او (Basophills) څخه افرازېږی او پام وړ تحثر ضد (Anticoagulant) اغېزی لری په (ینه او سږو) کې موندل شی او دترومبوز (Thrombosis) درملنه کې کارول شی.

Heparinize

د هیپارین په مرسته د وینې د پرن کېدو څخه مخنیوی.

Hepatalgia

د ینې درد ، کبدی دردونه.

Hepatatrophia

د ینې اټروفی ،دکبد ضمور، د کبد کوچنی کېدنه د استحالوی ناروغیو له املې.

Hepatectomy

د کبد د یوې برخې غوڅول و جراحی کړنلاړې پذیرعه.

Hepatic

د ینې (ځیګر) اړوند صفت.

- Hepatic Artery

کبدی شریان ، هغه سوررګ چې ینې ته وینه رسوی.

- Hepatic Cell

کبدی اپیتلیال حجرې.

- Hepatic Duct

کبدی قنات چې کبد د اثناعشر سره ننبلوی اوغزېدلې.

- Hepatic Flexure

د کولون هغه راتاو شوې د (Ascending او Transverse کولون ترمنځ) وصلی برخه چې د کبد په مجاورت کې ده.

- Hepatic Portal System

د باب –کبدی سیستم ، د وریدونو ګروپ او ډله چې (Portal Vein) جوړوی چې وینه له (پانکراس،توری، تریخی) څخه راتولوی.

- Hepatic Vein

کبدی ورید ، د ځیګر شین رګ چې وینه له کبد څخه سفلی اجوف ورید ته رسوی.

Hepatico-

دا یو مختاړی دئ او دکبدی مجرا معنی بشپړوی.

Hepaticoduodenostomy

د کبد مجرااو اثنا عشر تر منځ د جراحی پیوند کړنلاره بلل شی.

Hepaticogastrostomy

د کبد مجرااو معدې تر منځ د جراحی پیوند کړنلاره بلل شی.

Hepaticolithotomy

د کبدی مجرا (قناتونو) غوڅول او دصفراوی ډبرو راویستل.

Hepaticostomy

په کبدی مجرا کې د جراحی کړنلاړې په ذریعه د خولې او

ډئ ښایي چې خبیث تحول هم ولري چې په کوچنیانو او هلکانو کې لیدل کېږي او د (Epithelial-Type Cells) او ایماچور غضروف او رشیمی عظمی نسجونو حجرې لري .

Hepatocarcinoma

د کبدی مجرا (قناتونو) کارسینوما.

Hepatocele

کبدی فتق، هغه چُړه (فتق) چې محتوی یې د کبد یوه برخه وی.

Hepatocellular

د کبدی حجراتو اړوند صفت.

- Hepatocellular Jaundice

دکبدی حجرو اړوند ژیړی هغه ژیړی چې د ځیګر حجراتو د تخریب له امله پیښ شوېوی.

Hepatocholangiocarcinoma

د کولانجیوهیپاتوما په څېر تومور.

Hepatocirrhosis

کبدی سیروزس Cirrhosis ، کبدی تکمش.

Hepatocolic Ligament

هغه لیګامنت (وتر) چې صفراوی کڅوړه او ښې کبدی لوب د کولون سره نښلوی.

Hepatocyte

کبدی حجره ، د ینې حجره چې د صفراوی موادو جوړولو اوذخیره کولو دنده تر سره کوی .

Hepatogastric

په معده او کبد پورې اړوند.

Hepatogenous

هغه څه چې د کبد څخه منشه اخلی ، د ځیګر له اصله حالت لکه د کبدی ژیړې.

Hepatogram

په سفیګموګرام کې د کبدی نبض ښودونکې . د ینې (ځیګر) راډیوګرافی ، هیپاتوګرام ،د ینې انځور.

Hepatoid

ینې ته ورته ، د ځیګر په څېر ، شبه کبدی

Hepatojugular

په کبد او وداجی ورید پورې اړوند ، کبدي-وداجی.

Hepatolenticular

کبدی – عدسیي .

- Hepatolenticular Degeneration

د کبد یوعدسي ډوله استحالوی حالت دئ چې (Wilson's Disease) هم ورته ویل شی.

ته راوړی ، د (Delta Hepatitis یا H.D) په انډول .

- Hepatitis E

د (E Hepatitis) هیپاتیت. د انتی جن لرونکې (E) هیپاتیت په ویروس د اوبو –خوراکی موادو ککړتیا دخولی له لارې لېږدول شی د مزمن ډول یې نادر دی خو په بلاربو ښځو کې د ناروغی حاده بڼه ښائي وژونکې وی.

- Entericaly Transmited Non A ,Non B Hepatitis

د (E Hepatitis) هیپاتیت په انډول . د انتی جن لرونکې (E) هیپاتیت په ویروس د اوبو –خوراکی موادو ککړتیا دخولی له لارې لېږدول شی د مزمن ډول یې نادر دی خو په بلاربو ښځو کې د ناروغی حاده بڼه ښائي وژونکې وی.

- Infectious Hepatitis

انتانی هیپاتیت ، د (A Hepatitis) هیپاتیت په انډول

- Infectious Necrotic Hepatitis of Sheep

د (Black Disease) په انډول .

- Lupoid Hepatitis

فعال مزمن هیپاتیت چې د اوتو ایمیون ځرګندونو سره مل وی.

- Neonatal Hepatitis

ناڅرګند عامل لرونکې هیپاتیټ چې د زېږون څخه وروسته سمدلاسه لیدل شی او کبدی سیروزس منځ ته راوړلای شي .

- Non A ,Non B Hepatitis

د ویروسی حاد هیپاتیت چې د (A , B) څخه پرته سیرولوژیک ځرګندونې لري لکه د (Hepatitis C او Hepatitis E) ډول پکې شتون لري.

- Post transfusion Hepatitis

د وینې تېرېدنې (نقل الدم) څخه وروسته منځ ته راځی چې معمولاً د (Hepatitis C) ډول د لېږد څخه وروسته منځ ته راځي.

- Serum Hepatitis

د (B Hepatitis) په انډول .

- Transfusion Hepatitis

د (Transfusion Hepatitis) په انډول .

- Vascular Hepatitis

وعائی هیپاتیټ ، رګیز هیپاتیټ .

- Viral Hepatitis

ویروسی هیپاتیټ.

Hepatization

کبدی ډوله کتله باندې بدلېدنه په ځانګړې ډول په لوبر پنومونیا کې د سږې متراکم شوې حالت، کبدی کېدنه.

Hepato -

دا یو مختاړې دئ او د کبد معنی بشپړوی.

Hepatoblastoma

د کبد د رشیمی نسج په ګډون د داخل الکبدی سلیم تومور

Hepatolith

په ینه کې د صفراځخه جوړه ډبره.

Hepatolthiasis

د ینې په صفراوی مجراګانو کې ډبرو شته والې.

Hepatologist

هغه ډاکټر چې د ځیګر ناروغیو اړوند اختصاصی او ځانګړې زده کړې بشپړې کړېوی ، دځیګر ناروغیو متخصص.

Hepatology

هغه علم چې د ینې د ناروغیو اړوند څېړنې او مطالعه تر سره کوی.

Hepatolysin

یوډول سایتولایزین چې د ینې په حجرو باندې اغېزی کوی.

Hepatolysis

هپاتولایزس.د کبدی حجرو تخریب کوونکې.

Hepatolytic

د هیپاتولایزس اړوند صفت.

Hepatoma

یو خبیث ډول تومور چې د کبدی پخوحجرو(**Mature Cells**) څخه منځ ته راځی او په سیروزس اخته ناروغانو کې لیدل شی.دکبدی حجرو کارسینوما تومور.

Hepatomegaly

د کبد ضخامه ، د ینې غټوالې ، د ځیګر لوئېدنه.

Hepatomelanosis

د کبد ملانوزس.

Hepatomphalocele

داد ولادی فتقونو څخه د صروی فتق یو ډول دې چې پکې کبد راګېر شویوی.

Hepatopexy

د کبد د تثبیت کړنه د جراحی په مرسته.

Hepatopneumonic

کبدی- ریوی ، په ځیګر او سږی پورې اړوند یا د اغېزو ښندل.

Hepatoportal

په کبد او باب سیستم پورې اړوند.

Hepatorenal

په کبد او پښتورګی پورې اړوند.

Hepatorrhexis

د کبد څیرې والې ، کبدی تمزق.

Hepatosis

د کبد د کارکړنې هر ډول ستونزه.

- Serous Hepatosis

د کبد د وریدی انسداد ناروغی.

Hepatosplenitis

د کبد او طحال التهاب، د ینې او توری التهابی ناروغی.

Hepatosplenomegaly

د ینې او توري لوئېدنه چې په (**Leukaemia** یا **Lymphoma**) کې منځ ته راځی، کبدی-طحالی ضخامه.

Hepatotoxic

په کبد زهرجن اغېز لرونکې ، د ځیګر حجرو ویجاړونکې اغېز لرونکې مواد.

Hepatotoxin

د کبد زهرجن اغېز لرونکې توکسین (**Toxin**) ، هغه توکسین چې د ځیګر حجرو ویجاړونکې اغېز لرونکې وی.

Hept-

دایومختاړې دئ او د [اوه (**-Hepta**)] شمېر معنی بشپړوی.

Hepta-

دایومختاړې دئ او د [اوه (**-Hept**)] شمېر معنی بشپړوی.

Heptachromic

د اوه رنګونو لرونکې ، هغه رنګه طیف چې اوه رنګونو د تشخیص توان ولری.

- heptaene

دا یو روستاړې دئ او د هغه کیمیاوی مرکبونو لپاره کارول کېږی چې اوه مزدوج اړیکې ولری.

Heptonate

د(**Enanthate**) په انډول .

Heptose

هغه قند چې مولیکول ئې اوه اتومه کاربن ولری.

Herald patch

یوه کوچنی سره خاپه (**Spot Rash**) چې په (**Pityriasis Rosea**) کې بعضاً د اصلی سرې مخې پر ځای تظاهر کوی.

Herb

نباتی ، شنه بوټی چې نری ډنډر لری اولرګې نه جوړوی په ځانګړې توګه هغه بوټی چې په درملو جوړولو کې ورڅخه کار اخیستل شی.

Herbal

د نبات اړوند صفت.

- **Herbal Medicine**
نباتی طبابت، هغه سیستم دئ چې په طبی درملنه کې د نباتی شیرې څخه کار اخیستل کېږی.
- **Herbal Remedy**
هغه درمل چې نباتی منشه لری .

Herbalism
نباتی طبی علم ، نباتی طب ، یونانی طبابت (**Herbal Medicine**) په انډول.

Herbalist
هغه طبیب چې ناروغی د نباتی طبی درملو پذریعه درملنه کوی . یونانی طبیب.

Herbivorous
په بوټو باندې ژوند کول.

Herd Immunity
یوه ډله خلک چې د ځانګړې ناروغیو په وړاندې مقاوم دي ځکه چې دغه راز خلک د ځانګړو مایکروارګانیزمونو په وړاندې معافیت لری.

Hereditary
ارثی ، دجنونو (**Genes**) له لارې له پلرونو –میندو څخه ماشومانو ته لېږدېدونکې خواص.
- **Hereditary Immunity**
یوه ډله خلک چې ارثی معافیت لری.
- **Hereditary Spherocytosis**
ارثي سفیروسایتوزس ، د (**Acholuric Jaundice**) په انډول.

Heredity
هغه پروسه چې جنیتیکی کنترولی اوصاف چې له پلرونو – میندو څخه ماشومانو ته لېږدېدل شی ، د وګړو جنیتیکی ماهیت

Heredofamilial
د ځانګړو شرایطو تر اغیزې لاندې په ځینې کورنیو کې د یوه ځانګړی صفت راپیښېدل چې ارثی بنسټ ولری.

Herellea
په پخوانیو ډلبندیو کې د باکتریا ګانو هغه جنس چې نن د (**Acinetobacter**) تر سرلیک لاندې ډلبندی اوتصنیف شوېدی.
- **Herellea Vaginicola**
د (**Acinetobacter Calcoacetius**) په انډول.

Hering-Breuer Reflexes
هغه عکسي(رفلکسونه) چې معمولاً د سږو (انبساط**Inflation** او انقباض**Deflation**) ریتم په انډول کې ساتی.

Heritability
د ارثی ماهیت لرل، د جینونو پذریعه د یوه صفت د لېږد د شونتیا ارزیابی کوونه.

Hermaphrodite
هغه څوک چې نرښځینه او نارینه دواړو اوصافو درلودونکې وی.

Hermaphroditism
نرښځي ، ایجرا ، هیجرا ، نرښځنګي نارینه، هغه حالت څوک چې نرښځینه هګۍ خالي(تخمدان) او نارینه مرغېړی (خصیې) دواړو اوصافو درلودونکې وی او ظاهراً یې جنسیت نامعلومه وی.
- **Bilateral Hermaphroditism**
هغه نرښځي چې هګۍ خالي او مرغېړی دواړو نسجونه او اوصافو درلودونکې په دواړه لوروکې ولری.
- **False Hermaphroditism**
کاذب ډول نرښځي او ایجراتوب.
- **Lateral Hermaphroditism**
داسې نرښځي یا ایجرا چې په یوه لوري کې نارینه مرغېړی او په بل لوري کې هګۍ خالي لری.
- **Transverse Hermaphroditism**
داسې نرښځي یا ایجرا چې په بهرنی تناسلی غړی د یوه جنس او ګونادونه یې د بل جنس پورې ترلې وی.
- **True Hermaphroditism**
حقیقی نرښځي ، اصلی (**Hermaphroditism**) ته ویل شی.

Hermetic
د هوا لپاره غېر قابل نفوذیه.

Hernia
فتق ، چُره ،د بدن په غړوانساجو او جدارنو لرونکو برخوکې د یو غیر نارمل ځیرې او ضعیفې برخې څخه د یوه غړی یا یوې برخې راوتل بلل شی چې په ببلابیلو برخو کې د هماغه سیمو پنامه نومېدلای شی.
- **Abdominal Hernia**
د ګېډې د جدار اړوند فتق.
- **Barth's Hernia**
د ګېډې جدار د مصلی او وتیلین مجراً په منځ کې چُره.
- **Beclard's Hernia**
د سفینوس سوري په سیمه کې فخذی چُره.
- **Bochdalek's Hernia**
د حجاب حاجز (ډیافراګم) پردې اړوند ولادی چُره چې یکې د پلورائی – صفاقی سوری نیمګړتیا شتون لری.
- **Hernia of Cerebri**
د سر د کوپرې له هډوکو څخه د مغزی نسج راوتلتیا .دماغی چُره.

- Cloquet's Hernia
د (**Crural Hernia Pectineal**) په انډول.

- Complete Hernia
بشپړه ځُره، کامل فتق چې په هغه کې فتقیه کڅوړه او د هغې محتویات د فتقیه سوری څخه تېر شوېوی.

- Diaphragmatic Hernia
ډیافراګماټیګ فتق، ټول حجاب حاجزی فتقونه (بوکدلک،مورګګني او هیاتل) ډولونه .

- Diverticular Hernia
د کولمو ولادی ډایورټیکول راوتل.

- Epigastric Hernia
شرسوفی فتق، د نامه غوټی څخه پورته برخه کې فتق.

- Extravascular Hernia
سلایډنګ فتق په انډول.

- Fat Hernia
شحمی فتق، د ګېډې له جدار څخه د صفاقی وازدې ځُره.

- Femoral Hernia
فخذی فتق ، د فخذی کانال برخی ځُره.

- Gastroesophageal Hernia
د حجاب حاجز یو ډول فتق چې په هغه کې د مری بعیده برخه او د معدې یوه برخه د سینې قفس ته لاره مومی .

- Hesselbach's Hernia
د غلبیلی صفاق د کڅوړې له شته والی پرته فخذی ځُره.

- Hiatal Hernia
د حجاب حاجز یو ډول فتق چې په هغه کې د مری د سری له لارې د ګېډې غړو برخه د سینې قفس ته لاره مومی ، د (**Hiatus Hernia**) په انډول.

- Holthouse's Hernia
یو ډول مغبنی ځُره چې د ورانه د کشالې بهر لوري ته ځر خېدلې وی.

- Incarcerated Hernia
بیرته نه ستنېدونکې ځُره بنده ځُره، د فتق یو اختلاط دئ چې راوتلې محتوی بیرته دننه نه ارجاع کېږی .

- Incisional Hernia
د پخوانی جراحي عملیات پر ځای باندې د ضعیف جدار له امله ځُره منځ ته راتګ بلل شی.

- Incomplete Hernia
نابشپړه ځُره، ناکامله فتق پدې ډول کې محتوی کامل توګه د سوری څخه نه تېرېږی.

- Inguinal Hernia
د سپوغزې برخې فتق، مغبنی ځُره.

- Intermuscular Hernia
یو ډول بین البینی ځُره(**Interparital Hernia**) چې د ګېډې د عضلاتی پانو تر منځ ځای ولری.

- Interstitial Hernia
یو ډول بین البینی ځُره چې د ګېډې د جدار صفاقی طبقو(پانو) تر منځ شتون ولری.

- Ischiatic Hernia
د ساکر وسیاټیک سوری له لارې ځُره.

- Labial Hernia
د مهبل د لویو شونډو داخل ته ځُره.

- Litter's Hernia
هغه فتق چې محتوی یې میکل دایورټیکلوم وی.

- Mesocolic Hernia
دا یو ډول ولادی نیمګړتیا ده چې پکې کوچنی کولمې د غټو کولمو د میزانټیر دننه ورننوزی او راګېر پاتې کېږی.

- Middle Hernia
هغټې ډول فتق چې پکې کولمی د انګریزی توری (**W**) په څېر د فتقیه برخې کې ننوتې وی او بند پاتې وی.

- Obturator Hernia
د ابتوراتور سوری له لارې د احشأو راوتل.

- Paraduodenal Hernia
د (**Mesocolic Hernia**) په انډول.

- Paraesophageal Hernia
دا یو ډول حجاب حاجزی فتق دئ چې پکې د مری د سوری له لارې د معدې یوه برخه د سینې قفس ته ننوزی.

- Paraumblical Hernia
د صروی برخې څخه په چاپیر کې برخو کې ځُره.

- Properitoneal Hernia
دا ډول فتق د جداری صفاق او عرضی صفاق تر منځ ځای لری.

- Reducible Hernia
ارجاع کېدونکې فتق، بېرته ستنېدونکې فتق.

- Retrograde Hernia
د کوچنیو کولمود دوه کړیو چفره کېدل په داسې ډول چې د کولمو د جدار یوه برخه په برکې ونیسی.

- Richter Hernia
هغه مختنق ډول فتق چې د کولمو د جدار یوه برخه په کې راګېره شوېوی او ټول لومن د کولمو بند نه وی .

- Scrotal Hernia
سفنی فتق، هغه مغبنی فتق چې خوټلنګ (سفن) ته یې لاره موندلې وی.

- Sliding Hernia
د سیکوم فتق په ښی لوري او سګموئید کولون په کین لوري کې د فتق دننه وننوزی او د ځُرې یوه برخه جوړوی او پاتې برخه یې جداری پریتوان منځ ته راوړی.

- Sliding Hiatal Hernia
د معدی د پورتنی برخې د مری سوری له لارې د سینې (صدر) دننه ته ورننوتل بلل شی.

Heroin
هیروئین ، دا (نارکوټیک نشه او خوب راوړونکې) درمل چې سپین پوډر لري او له اپین (کوکنارو شیرې) څخه لاس ته راځي ډای استایل مورفین مستحضر دئ چې کیمیاوی ترکیب یې ($C_{21}H_{23}NO_5$) دئ.

Herpangina
یو ډول انتانی تبه لرونکې ناروغی ده چې د (Coxsackie Virus) په ککړتیا سره منځ ته راځی او د بلعوم او پوست تالو برخوکې ویزیکولار قرحې منځ ته راوړی او پېژندل شی ماشومان اخته کوی.

Herpes
هرپس ناروغی ، د پوستکی او مخاطی غشأ پرمخ هرډول التهابی ضایعه چې د ګڼ شمېر ګډیو په بڼه د کوچنیو ویزیکولونو په شته والی سره پېژندله کېږی او هرپس ویروس له امله پېښېږی.

- Herpes Fibrilis
دردناکه تناکې د تبې هرپس (Type I) ، چې د خولې وخکی برخه کې تناکې وروسته له تبې منځ ته راځی او هرپس لبیال او (Cold Sore) یې هم بولی معمولاً د جنسی مقاربت په لړ کې پېښېږی.

- Genital Herpes
د تناسلی جهاز هرپس چې معمولاً د جنسی مقاربت په لړ کې پېښېږی او د هرپس زوستر له امله منځ ته راځی.

- Herpes Genitalis
د (Genital Herpes) په انډول.

- Herpes Gestational
یو ډول هرپیتی فورم درماتیت چې یوازې د بلاربې ښځې اخته کوی او وروسته له بلاربښت څخه له منځه ځی.

- Herpes Progenitalis
د تناسلی جهاز هرپس چې معمولاً د جنسی مقاربت په لړ کې پېښېږی او د هرپس زوستر له امله منځ ته راځی.

- Herpes Simplex
دردناکه تناکې د تبې هرپس (Type I) ، چې د خولې وخکی برخه کې تناکې وروسته له تبې منځ ته راځی او هرپس لبیال او (Cold Sore) یې هم بولی معمولاً د جنسی مقاربت په لړ کې پېښېږی.

- Herpes Virus
د هرپس ویروس (Herpesvirus Type I) چې (Chickenpox) منځ ته راوړی او (Genital Herpes) د (Herpesvirus Type II) پذریعه منځ ته راځی.

- Herpes Virus Hominis
دغه ناروغی په دوه ډوله وجود لري چې (هرپس ، زونا شرې) او په انسان کې د سایتومیګالو انکلوژنی ناروغیو عاملونه پکې شامل دی.

- Strangulated Hernia
زندی شوې چُره، غرغره شوی فتق، مختنق فتق ، هغه فتق چې د محتوی اروا (شریانې-وریدی) بهیر ئی بند شوی وی او محتوی یی ګانګرین وکړی.

- Synovial Hernia
د مفصلی کپسول له فایبری طبقې څخه د سینویال غشأ د داخلی طبقې راوتل بلل شی.

- Umbilical Hernia
صروی فتق، د نامه د غوتې د برخې فتق.

- Hernia Uteri Inguinale
د پرسستینټ مولرین ډکټ سندروم په انډول.

- Vaginal Hernia
مهبلی فتق.

- Ventral Hernia
بطنی چُره ، دګېډې د جدار فتق.

Hernial
د فتق اړوند صفت.

- Hernial Sac
فتقیه کڅوړه ، فتقیه کیسه.

Herniated
هغه غړې چې د فتق له لارې راړوتلې وی ، متفتق، چُره شوی غړی.

- Herniated Disc
بېځایه شوې داخل الفقری ډیسک.

Herniation
د چُرې منځ ته راتګ او وده موندل ،چُره کېدل.

- Herniation of Intervertebral Disk
د مرکزی هستې بین الفقری ډیسک د محیطی فتق پوښ راوتل چې عصبی رشتې تر فشار لاندی راوستلای شی.

- Herniation of Nucleus Pulposus
د نخاعی رسی په لوړې د بین الفقری ډیسک د مرکزی هستې په لوړې څیرې کېدل.

Hernio -
دا یو مختاړې دئ او د فتق (چُرې) معنی بشپړوی.

Hernioplasty
جراحی کړنلاره ده چې د فتق جراحی ترمیم پرې کېږی په معمرو لویانو کې معمول ده.

Herniorrhaphy
جراحی کړنلاره ده فتقیه کڅوره راویستل کېږی چې د فتق جراحی ترمیم پرې کېږی په لویانو کې معمول ده.

Herniotomy
جراحی کړنلاره ده فتقیه کڅوره راویستل کېږی چې د فتق جراحی ترمیم پرې کېږی په ماشومانو کې معمول ده.

- **Herpes Zoster**

د هرپس ویروس له امله د حسی اعصابو التهاب دئ چې د د عصب د مسیر برخه کې درد منځ ته راوړی او د پوستکی برخې تناکې (**Blisters**) معمولاً د ګډې –تنې شاته برخې اومخ اخته کوی ورته (**Shingles, Zona**) هم ویل شی.

- **Herpes Zoster Ophthalmicus**

د سترګې برخې هرپس زوستر ناروغی چې بصری عصب نیسی ارتیاتوز ویزیکولاردانو سره د عصب په مسیر کې یوځای کېږی چې شدید درد لری .

- **Herpes Zoster Otticus**

د غوږ برخې هرپس زوستر ناروغی چې د (**Ramsay Hunt Syndrome**) په انډول دئ.

Herpetic

د هرپس (**Herpes**) اړوند .

Herpetiformis

هرپس ته ورته درماتیت (**Herpetiformis Dermatitis**) په انډول .

Hersage

په جراحی ډول د یوه رشیمی نسج څخه د یوه محیطی عصب د عصبی رشتو جلاکېدل.

Hertz

هرتز ، په یوه ثانیه کې د یوه دور د تواتر لپاره واحدلنډه نښه یې (**Hz**) ده.

Hesperidin

د مالټې او لیمو اصلی رنګه ماده.

Hetacillin

دا یو ډول نیمه ترکیبی پنسیلین دئ چې بدن کې په امپسیلین بدلیږی او هغه ته ورته اغیزې لری.

Hetericious

هغه پرازیت چې د ژوند پّه مختلفو مرحلو کې بېلابېل کوربه (میزبان) لری.

Heteristhesia

په پوستکې کې یو له بل سره په ګاونډیو ناحیو کې حسی بدلون.

Heterergic

دبیلا بېلو اغیزو لرل.

Hetero -

دا یو مختاړې دئ چې د اختلاف او تفاوت (بېلابېل) معنی بشپړوی .

Heteroagglutination

د یوجنس څخه د لاس ته راغلو اګلوتینینو په مرسته د یویل جنس د ځانګړو انتیجنونو اګلوتینیشن.

Hetroantibody

بیلابېل ډول انتی باډی.متنوع انتی باډی. یو ډول انتی باډی چې دبل جنس د سرچینی لرونکی انتیجنونو سره غبرګون ځرګند کړی.

Heteroantigen

بیلابېل ډول انتی جن.متنوع انتی جن. د انتی باډی جوړونکې جنس څخه پرته د بل جنس د سرچینې انتی جن.

Heteroblastic

د بېلابېلو نسجونو څخه سرچینه اخیستل.

Heterocellular

د بېلابېلو او مختلفو حجرو څخه جوړ شوې .

Heterochromatin

هغه حالت چې کروماټین پکې د جنیټیکی پلوه غبرفعال او شدیداً تاو خوړلې وی.

Heterochromia

هغه حالت چې پکې د سترګو عنبیې (**Irises**) بېلابېل رنګونه ولری،په هغه برخه کې د رنګونو تنوع چې په پکار ده په پوره رنګ سره په نارمل ډول پاتې شی.

- **Heterochromia Iridis**

د سترګو عنبیو (**Irises**) دوه رنګه والې .

Heterocrine

د (یوې غدې یا حجرې) په واسطه له یوه ډول مادې څخه د زیاتو موادو افراز .

Heterocyclic

د مختلفو عنصرونو د اتومونو په ګډون د یوې کړۍ لرل.

Heterocytotropic

د مختلفو جنسونو د حجرو پورې د لېوالتیا لرل.

Heterodermic

د یوه بل جنس کس ته د پوستکی پیوند کول .

Heterodont

د نښې ،طواحنو او داسې نوروغاښونو په څېر د مختلفو بڼو لرونکو غاښونو درلودل.

Heterodromous

په څټ (سرچپه) حرکت کول ،معکوس خوځښت، عکس العمل یا نظم موندل، پلټ کېدل .

Heteroerotism

دبل کس په لورې جنسی لېوالتیا.

Heterogametic
د هغه ګامیټونو(Gametes) تولیدچې د مختلفو جنسی کرو موزومونو لرونکی وی لکه په ټولو نارینه انسانانو کې.مختلف ګامیت لرونکی، د (Heterogamety) اړوند صفت.

Heterogamety
مختلف ګامیت لرونکی، دجنسی کرموزومونو د پاملرنې پرته دیوه جنس تکثر.

Heterogamous
د (Heterogamy) اړوند صفت.

Heterogamy
د ببلابېلو اندازو او اوجوړښت لرونکو ګامیټونو د پیوستون له لارې تکثر.

Heterogeneous
د (ترکیب ،کیفیت او جوړښت) له پلوه د بیلابیلو کیفیتونو د همغږې نشتوالې اومختلفو خواصو درلودونکی حالت.

Heterogenesis
په پرلپسې نسلونو کې تفاوت ، غیر جنسی تکثر.

Heterogenous
له ببلابېلو سرچینو څخه لاس ته راغلې.

Heterogenetic
د هیتروجنیوس(Heterogenous) پورې اړوند صفت.

Heterogeusia
یو ډول ذایقوی اختلال چې په هغه کې دوه ډوله خوندونه په یو ډول حس کېږی.

Heterogony
د (Heterogenesis) په اندول.

Heterograft
اختلافی ګرافت ، د یونوع څخه د پیوندی نسج اخیستل او په بل ډول نوع پورې ګرافت کول د(Homograft) په پرتله برعکس، د (Xenograft) په اندول.

Hetrohemoagglutination
د بل جنس څخه د پېښ شوی اپی ګلوټینین په واسطه د یوه جنس دسروکریواتو اګلوتینیشن.

Heterohemolysin
هغه هیمولایزین چې د یوه جنس سرې کریوات تخریب کوی خو د بل جنس له څناورو څخه پلاس راځی دغه هیمولایز په طبیعی ډول یا ایمیونوزیشن څخه وروسته تولید ېږی.

Heteroimmune
د هیتروایمیونیتی (Heteroimmunity) اړوند صفت.

Heteroimmunity
①په بل حیوانی جنس پورې اړوند حجرو د تغیر له لارې د یوه کس د معافیت پېښونه .② هغه حالت چې په هغه کې د پردیو انتی جنونو په وړاندې معافیتی ځوابونه د ناروغی بدلونونو لامل ګرځی.

Heterokeratoplasty
په بل حیوانی جنس پورې اړوند کس د قرنیې پیوند جراحی کړنلاره.

Heterokinesis
د یوه هیتروګامیت ارګانیزم د ودې او ا نکشاف په حال ګامیت کې د جنسی کروموزومونو متفاوت انتشار.

Heterologous
ببلابېل ډولونه .هترولوګ ، ①دهغه نسج څخه جوړ شوی چې د پام وړ ناحیې لپاره نارمل ندی .②د (Xenograft) په اندول .

Heterolysis
په بل جنس پورې اړوند د لایزین په واسطه د یوه کس د حجرو ویجاړېده او تخریب پروسه بلل شی.

Heterolytic
د (Heterolysis) اړوند صفت .

Heteromeric
د نخاعی طناب (رسی) بل لورې ته د سپینې مادې (White Matter) د رابطې له لارې د عصبی زوائدو استول.

heterometaplasia
هیترومیتاپلازیا ، د منځ ته راغلې سیمې په وړاندې په اجنبی (ناپېژانده) ډول د نسج جوړېدل.

Heterometropia
هغه حالت چې پکې په دواړه سترګو کې د نور انکسار متفات وی .

Heteromorphosis
دنوې جوړېدنې د پروسې د بهیر اړوند غړی د تکامل په داسې ډول چې نوې جوړه شوې برخه د پاېللې نسج سره توپیر ولری.

Heteromorphous
یو غیر طبیعی جوړښت یا شکل .

Heteronomous
① په بیولوژی کې د ودې د مختلفو قوانینو تر اغېزې لاندې راتلل. ② په روانپوهنه کې د نورو د تر اغېزې لاندې راتلل.

Heteronymous

په مخالف لوري (جهت) کې واقع کېدل.

Heteroosteoplasty

د هغه هډوکی سره د هدوکی پیوند چې د بل جنس له حیوان څخه اخیستل شوېوی .

Heterophagosome

د حجري دننه واکیول چې دلایزوزوم سره د فاګوسایتوزی مادې د اتصال په نتیجه کې منځ ته راځی ،پدې شرایطو کې د واکیول دننه مواد د هضموونکو انزایمونو سره مخامخ کېږی.

Heterophagy

د فاګوسایتوزی یاپینوسایتوزس ډول د بهرنیو موادو واردېدل او بیاد لایزوزومونو سره تر پیوستون وروسته هضمېدل.

Heterophil

① یو ډول ګرانولار سپین کریوه چې په انسانانو کې د نیوتروفیل جزء شمېرل شی خو په نوروتي لرونکو کې متفات رنګ او اندازه یی هم متفاوت ګرانول ده .② د (**Heterophilic**) په انډول.

Heterophillic

د (**Heterophil**) اړوند صفت.

Heterophoria

دباصری تحریک له لېری کولو وروسته په موازی ډول د باصری محورونو په پاتې کېدو کې نیمګړتیا شتون لری یا هغه حالت چې پکې کله چې سترګې وپوښل شی او د کوږوالی (**Squint**) ته لېوالتیا لری.

Heterophoric

د (**Heterophoria**) اړوند صفت .

Heterophthalmia

د دواړه سترګو څخه د هریوې په دوه رنګونو یا د باصری محورونو په لوری (جهت) کې توپیر لرل.

Heterophyes

دکوچنیو تریماتودا چینجیانو یو جنس د کبانو (ماهی) خوړونکو د تی لرونکو پرازیت شمېرل کېږی.

Heteroplasia

د غېر طبیعی او غېر نورمال نسج پواسطه د نورمال نسج ځای ډکېدل.

Heteroplastic

د (**Heteroplasia**) اړوند صفت.

Heteroplasty

د جراحی بیا رغونی پلاستیک کړنلاره ده چې د (**Heterograft**) انډول ده . د (**Hetrotransplantation**) په انډول.

heteroploidy

د کروموزوم د غېر نورمال شمېر شته والې.

Heteropsia

داسې یوحالت دئ چې پکې دوه سترګې ببلابېل (مختلف) ډول لیدنه کوی ، په دواړه سترګو کې د مساوی لېدنې حالت نشتوالې.

Heteropyknosis

①د متفاوت کثافت درلودل .②د کروموزومونو په پنډ والی کې تفاوت یا داچې دیوه کروموزوم په ببلابېلو سیمو کې دضخامت تفاوت شته والې .

Heteropyknotic

د (**Heteropyknosis**) اړوند صفت .

Heterosexual

① دا یو ډول حالت دئ چې پکې یو څوک د مخالف لوري جنس (نارینه یا ښځینه) وی د زړه راکښنې (توجه جلب) لېوالتیا څرګندوی او د (**Bisexual, Homosexual**) حالتونو په پرتله کې راځی .② په مخالف جنس پورې اړوند.

Heterosexuality

د (**Heterosexual**) حالت صفت بلل شی.

Heterosis

له ځان څخه د مخکینې نسل په یوه نسل کې د ودې د قوې زیادښت (د نژاد یا توکم اصلاح).

Heterosporous

د داسې دوه ډوله سپورونو لرل چې په غېر جنسی ډول تولید شویوی.

Heterosuggestion

په خپله د شخص له تصور سره مغایر تصور ،له تصوره مخالف انځور.

Heterotonia

دټونیسیتي (مقویت) اختلاف،هغه حالت چې پکې مقویت تغیر لری.

Heterotonic

د (**Heterotonia**) اړوند صفت.

Heterotopias
هغه حالت چې کې د یوه نسج ځای د بدن د غړو ناسم تقرر او په غیر نورمال وضعیت کې واقع شی غیر معمول او بې شکله جوړښت منځ ته راوړی .

Heterotopic
د (Heterotopias) اړوند صفت .

Heterotransplantation
هغه کس چې د نسجونو یا حجرو ځخه پیوند یی د بل حیوان جنس پورې تړاو ولری.د بل جنس ځخه پیوند کولو جراحي کړنلاره.

Heterotrophic
دغه اصطلاح د هغه مایکروارګانیزمونو په اړه استعمالیږی چې د انرژی تأمین په ارجاع شوی بنه د موادو د سنتیزس لپاره کاربن ته اړتیا لری .

Heterotropia
د بدن د غړو ناسم تقرر، په غیر نورمال وضعیت کې د یوه نسج ځای نیول، د (Strabismus)سترګو کوږوالي په انډول.

Heterotypic
په یوې متفاوتې نوعې پورې اړوند .

Heterotypical
د (Heterotropia) په انډول اړوند صفت.

Heteroxenous
د ژوندانه د څرخ د بشپړ تیا لپاره له یوه کوربه ځخه د زیاتو کوربانو په لوړې اړتیا لرل.

Heterozygosity
د کسب شوی ځانګړی (Specific Gene) صفت په پام کې نیولو پرته د مختلفو الیلونو درلودل.

Heterozygous
د (Heterozygosity) اړوند صفت .

Heuristic
د څېړنو پرمختیا ،د حقیقت موندنې په لوړې هدایت او لارښوونه

Hex-
دا یومختاړې دئ او د[شپږ -Hexa] معنی بشپړوی.

Hexa-
دا یومختاړې دئ او د شپږ معنی بشپړوی.

Hexachlorophene
یو باکتری ضد درمل چې په ګرام مثبت باندې اغیزې لری او د موضعی ملحمو په څېر کارول شی.

Hexad
① د ورته عنصرونو شپږونې ډله، ② یو شپږ ولاتسه عنصر.

Hexadactily
شپږ ګوتې ،په یوه اندام کې د شپږ ګوتو شتون.

Hexamethonium
ګانګلیونی بلاک کوونکې عامل دئ چې دوینې فرط فشار درملنه کې کارول شی.

Hexan
یو ډول مشبوع شوې هایدروکاربن چې د خامو تېلو (نفت) له تقطیر ځخه پلاس راځی.

Hexavitamin
د شپږ ویټامینونو لرونکې (ویټامین A او D ،ویټامین سیC ، رایبوفلاوین ، ویټامین ب B او ویټامین اماید په ګډون یو ګډ محصول دئ

Hexobarbital
د لنډې اغېزې لرونکې باربیتورات چې آرام بخښونکې او خوب راوړونکې درملو او سوډیمی مالګه یی د عمومی بېهوښې لپاره پکاریږی.

Hexocyclium Methyl Sulphate
یو انتی کولینرجیک درمل چې د (افراز اوسپزم) ضد اغیزې او د پیپټیک زخمونو او نورو هضمی جهاز ناروغیو درملنه پرې کېږی.

Hexokinase
هغه ډول انزایم چې د هګزوز ته د انرژی ځخه د غنی فاسفیټ ګروپ کتلایز او ماتوی په ټولو نسجونو کې د مختلفو ایزوانزایمونو په بنه چې ببلابېل خواص لری شتون لری.

Hexosmine
دهغه هګزوز له ډلې ځخه چې هر یو چې په هغو کې د هایدروکسیل د ګروپ پر ځای یو ګروپ امین وجود لری.

Hexosaminidase
① هغه انزایم چې د ګانګلیوسیدونو یا ګلایکوسیدونوځخه هګزوز امینو ته یا استایل هګزوز امینونه جلاء کوی . ② یوډول ځانګړې هګزوز امینایدیز چې په کراتو سلفات او (Gm2) ګانګلیوزید باندې اغېزې کوی.

Hexose
دشپږ اتومو کاربن لرونکې مونوسکرایډ.

Hexuronic acid
د یوه هګزوز د اکسیدیشن ځخه پلاس راغلې یورونیک اسید.

Hexylresorcinol
یو ډول فینایل چې باکتری وژونکي اغیزی لری د خولې منځلو مادې په څیر میکروبی ضد ډول کارول شی.

Hexylcaine
موضعي بې حسه کوونکي درمل چې د هایدروکلورایدی مالګې بڼه یې کارول شی.

HF
دا د (Hageman Factor) لنډه نښه ده .

Hf
دا د (Hafnium) لنډه نښه ده .

HFEA
د انسانی تکثر او ایمبریولوژی عالی صلاحیت لرونکې کمیټه (Authority Human Fertilization and Embryology) لپاره لنډه نښه ده.

Hg
د سیمابو د عنصر لپاره لنډه نښه ده .

Hgb
د هیموګلوبین (Hb) لپاره لنډه نښه ده .

HGH
انسانی د ودې هورمون (hGH ، Human Growth Hormone) لنډه نښه ده.

HGPRT
دایوډول انزایم دئ (Hypoxanthine Guanine Phosphoribosyl Transferase. او HPRT) لپاره لنډه نښه ده .

HHS
د بشری خدمتونو روغتیائی څانګه او ټولنه (Department of Health and Human Services) لپاره لنډه نښه ده .

HI
د اورېدنې د له منځه تللو حالت (Hearing-impaired) لپاره لنډه نښه ده .

Hiatal
د هیاتوس (Hiatus) اړوند صفت.

Hiatus
یو (درز، منفذ او سوری) ته ویل شی .

- Aortic Hiatus
د ابهر سوري ، د ابهر شریان د تېرېدنې لپاره په حجاب حاجز کې سوري.

- Esophageal Hiatus
د مری سوري ، د مری نلکی او واګوس عصب د تېرېدنې لپاره په حجاب حاجز کې سوري.

- Hiatus Hernia
دمری هیاتوس څخه د چُرې شتون چې ورځخه معده صدر ته تېرېږی د (Hiatal Hernia) په انډول .

- Saphinous Hiatus
د غلبیلی (غربالی) صفاق په شاوخواکې د فاسیا لاټا ننوتلتیا چې د همدې سیمې لوی سفینوس وريد ورځخه تېرېږی.

- Semilunar Hiatus
نیمه هلالی هیاتوس ، په اتموئید هډوکي کې یوه ژوره او ننوتلې لیکه چې د هغه له لارې د اتموئید هدایتی حجرې د پورتنی ژامنې سینوس او ځینې وخت فرونټونزال مجرا د اتموئید قیف دننه ته تشبېږی.

Hib
د (Haemophilus Influenzae Type B) لپاره لنډه نښه ده .

Hibernation
د ځینو حیواناتو ژمنې خوب چې د (نارکوزیس ،تودوخې د درجې رالوېدو او د بدن د میتابولیزم په کمېدو) سره د پېژندلو وړ ګرځی ، د یوه غړی په کارکړنې کې دلنډ مهالې کمښت شتون بلل شی.

- Artifitial Hibernation
مصنوعی هایبرنیشن چې د بدن د غړوپه میتابولیزم کار کړنې کې لنډ مهالې کمښت.

- Myocardial Hibernation
د زړه د راستنېدو او سمېدو وړ مزمن اختلال او تشوش چې د مایوکارډ مزمن ایسکیمیا له امله پېښېږی.

Hibernoma
د یوه نرم نسج سلیم او نادر تومور چې د توربخنې وازدې څخه سرچینه اخلی دغه تومور کوچنې –لوبولار او غېرحساس دئ او معمولاً په منصف سیمه کې او یا اوږده هډوکو دننه کې منځ ته راځی.

Hib vaccine
یو ډول واکسین چې معمولاً د (Haemophilius Influenzae) باکتریوم تلقیح (Inoculate) پر ضد پکاریږی د مننجیت مخنیوی کوی.

Hiccup
هټکی ، د ګلوټ او حجاب حاجز له سپزم سره یوځای تنفسی تېز غړونه ، هیککک (Hiccough یا Singultus یا Hiccups) په انډول.

Hickman Catheter
د هیکمن کتیتر ، د (Hickman Line) په انډول.

Hickman line
دا یو ډول پلاستیکی نلکه ده چې غټ ډول ورید کې د درملو او زرقی موادو تېرولو په موخه تېرول شی.

Hidr -
دا یو مختاړې دئ اود خولې (خولېجن حالت ، عرقیه) معنی بشپړوی.

Hidradenitis
د خولې (عرقیه) غدې التهاب ته ویل شی.

- **Suppurative Hidradinitis**
عرقی غدې مزمن ، قیحی او شدید التهاب.

Hidradinocarcenoma
د عرقی غدې ادینوکارسینوما تومور.

Hidradeniod
دعرقی غدې په څېر د عنصرونو درلودل.

Hidradenoma
د عرقی غدې تومور ، عرقی ادینوما سلیم تومور چې د عرقی غدې د اپیتلیوم څخه راولاړېږی او ببلابېل ډولونه لری چې د حجرو له پلوه پېژندل شی.

Hidro-
دا مختاړې دئ او د خولې (عرقیه) معنی بشپړوی.

Hidroacanthoma
د ایکرین غدې سلیم ډول تومور.

Hidrocystoma
① د عرقې غدې احتباسی کیست. ② د (**Syringocytoma**) په انډول.

Hidropoiesis
د خولې جوړېدنې پروسه .

Hidropoietic
د (**Hidropoiesis**) پورې اړوند صفت.

Hidroschesis
د (**Anhydrosis**) په انډول.

Hidrosis
د ډېر خولو توئېدل ، ډېره اندازه خولې کېدل.

Hidrotic
د خولې کېدولامل ګرځېدلو او یا د تعرق پروسې اړوند صفت ته ویل شی.

Higginson's syringe
یو سورنج د ربړې پوښاکې سره چې په مرکزی برخه کې بهیر ته اجازه ورکوی معمولاً د امالې ورکولو لپاره پکار وړل شی چې د انګریزی جراحی عالم (**Alfred Higginson**) پذریعه په کال (**1808–84**) کارول او معرفی شوېدی.

High
اوچت ، لوړ ، جګ ، پورته، په عالی ټکې پورې اړوند ،مرتفع ، هسک ، دنګ .

- **High -Altitude Sickness**
د لوړې ارتفاع ناروغی ، د (**Altitude Sickness**) په انډول.

- **High Blood Pressure**
د وینې لوړ فشار ،فرط فشار ، د (**Hypertension**) په انډول

- **High -Calorie Diet**
د لوړ ځواک کالوری درلودونکې خوراک چې د (**4000 Calories Per Day**) څخه پورته اندازه دورځې کالوری انرژی تولېد کړای شی.

- **High -Density Lipoprotein**
د لوړ کثافت درلودونکې لایپوپروټین چې د ټینټه کچه د (**Cholesterol**) کولسترول لری چې لنډه نښه یې (**HDL**) ده.

- **High -Energy Food**
د لوړې کچې انرژی لرونکې (شحم یا کاربوهایدریټ) چې د میتابولیزم پر مهال تولید یږی.

- **High -Fibre Diet**
د لوړې کچې رشتو (**Fibre**) لرونکې خوراکونه لکه (شنه سابه او میوې او دانې)

- **High -Protein Diet**
هغه خوراکی مواد چې ډېره اندازه پروټین ولری لږه اندازه کاربوهایډریت او مشبوع شحم لری .

- **High -Risk**
ډېر خطره لرونکې ناروغی لکه سرطانونه او خپرېدونکې ناروغی.

- **High -Risk Patient**
د لوړې کچې خطرې سره مخامخ ناروغ لکه (انتانی او پرمختلونکې) ناروغی.

Hilar
د نامه غوټی پورې ترلې ، د صُرې یا سُرې (**Hilum**) اړوند .

Hilitis
د سُرې التهاب ، نامه غوټی التهاب .د هیلیوم برخې د ستر شوې غشأ التهاب ته ویل شی .

Halitosis
دناوړه تنفس(**Bad Breath**) په انډول .

Hilum
هغه تشه ژوره برخه چې ورځخه یوه غړی لکه (پښتورګې ،سږې) ته رګونه او عصبی ریښې تېرېږی ګڼ شمېر یې (**Hila**) بلل شی.

Hilus
صُره ، سره ، د نامه غوټی ،د (**Hilum**) په انډول.

- **Hind Brain**
دماغزو هغه برخه چې ورځخه د رشیم (ایمبرین) پرمهال امډولا اوبلانګاتا(**Medulla Oblongata**) حدبه (**Pons**) او مخچه (**Cerebellum**) ناځاپه وده کوی ، د (**Rhombencephalon**) په انډول .
- **Hind Foot**
د پښې ښاتنی برخه چې د تالوس او کلکانیوس هډوکي پکې شامل دی
- **Hind Gut**
د رشیمی جوړښت چې د کولمو وروستي برخه په ځانګړی ډول غټې کولمې او ریکټوم ورځخه منځ ته راځی.
- **Hinge Joint**
لوله ئي بند ، ښوئېدونکي مفصل**Ginglymus** ،لولې ته ورته بند.

Hip
د ورانه مفصل ، حرقفی فخذی بند، دا بند د ورون هډوکی او حوصلې هډوکی داستابولوم جوف په برخه کې منځ ته راځی.
- **Hip Bone**
دا هغه برخه ده چې د درې هډوکو (ایسکیوم **Ilium** ورکی **Ischium** ,او عانې **Pubis**) د فیوز کېدو له امله منځ ته راځی چې د حوصلې چاربند او کړی یوه برخه جوړوی او ورته د (**Innominate Bone**) نوم هم ورکړل شوېدی .
- **Hip Fracture**
د حرقفی فخذی هډوکو ماتېدنه اوکسر .
- **Hip Girdle**
حوصلې کړی **Girdle Pelvic** ، حوصلی حلقه .
- **Hip Joint**
د حرقفی فخذی بند ، د ورانه مفصل. د هانش (**Hansh**) مفصل.
- **Hip Replacement**
د د ورانه مفصل د برخې تعویضی جراحی کړنلاره چې پکې مصنوعی بند ځای پرځای کېږی.
- **Snapping Hip**
د ورانه مفصل ښوئېدل چې ځینې وختونه د لمس وړ دی.

Hippel-Lindau
دا یو سندروم یا مجموعة الاعراض دئ د (**Von Hippel-Lindau Syndrome**) پنامه بلل شی.

Hippo
د (**Ipecac**) په انډول .

Hippocampal
د هاېپوکمپ (**Hippocamp**) اړوند صفت.
- **Hippocampal Formation**
هغه کړې ټوټه ټوټه (**Curved Pieces**) برخې د قشر دننه چې په هر یو برخې د سرېبیلوم کې منځ ته راځی او شتون لری .

Hippocampus
د ماغزو جنبی بطین د لاندینې ځانګې په غولی کې راوتلتیا چې د لیمبیک سیستم له وظیفوی جزؤنو څخه شمېرله کېږی، اوږدې ګردې رااوچت شوې استطالې د ماغزو دجانبی بطین دننه شتون لری.

Hippocrates
هاېپوکرات ، سقراط، له میلاد ځخه پنځه پېړۍ دمخه یونانی ډاکټر چې د طب علم پلار بلل شی.

Hippocratic
د سقراط(هاېپوکرات) اړوند .
- **Hippocratic Face**
د هاېپوکرات مخ ټنبه او علامه ده چې د سیپټیک شاک او پریتونیت لپاره یوه ټنبه بلل شی چې د مخ عضلې او شحم ویلی شوی او خوار شوېوی سترګې ننوتې بڼه لری ناروغ ضعیف او تبجن حالت لری.
- **Hippocratic Oath**
دا یواخلاقی کود دئ چې د ډاکټر پذیرعه کتل شی او د ناروغ درملنه په مساوی ډول کېږی او ناروغ په بېوزلو ناروغانو کې بستر کېږی خو ناروغ ته آزاد ډول ټول معلومات نه ورکول کېږی.

Hippuria
په تشو متیازو کې د هاېپو یوریک اسید د کچې زیاتوالې

Hippuric
د (**Hippuria**) اړوند صفت .
- **Hippuric Acid**
هاېپو یوریک اسید ، یو کریستالی کاربوکسیلیک اسید د ځینو حیواناتو او انسانانو په متیازو کې شتون لری .

Hippus
د سترګو د کسی (**Pupil**) د پرلپسې چټک ډول بدلون (انقباض او انبساط) شدت موندنې حالت چې د سترګو له نوری تحرک سره تړاو نلری .

Hirci
هغه ویښتان چې په تخرګ (ابط) کې راپېدا کېږی د (**Hircus**) ګڼه بڼه ده.

Hircus
د (**Hirci**) مفرده بڼه بلل شی.

Hirschsprung's Disease
هرشپرونګ ناروغی ، دا یوه ولادی ډول د ماشومانو د کولون او ریکتوم کولمو د یوې برخې اتساع منځ ته راتلنې پېښه ده چې د عصبی رشتو حجرو د نشتوالی پورې اړوند بلل شی دغه برخه پرستالتیزم نلری او اخته برخه په تنګ او

غبرګون لپاره مسؤل دی او د (H₂ Receptors) په معده کې د معدې افرازاتو لپاره.

- Histamine Test

دهیستامین په ذریعه د معدې د عصارې د اسیدیتي ښودنې آزمایښت بلل شی.

Histaminic

د هیستامین اړوند صفت.

- Histaminic Headache

د هیستامین اړوند د سردرد منځ ته راتګ سندروم ته ویل شی، د (Horton's Syndrome) په انډول.

Histidine

هغه ډول آمینو اسید چې ورځخه هیستامین لاس ته راځی.

Histiocyte

د منضم نسج (Connective Tissue) ماکروفاژ چې په معافیت کې ونډه لری.

Histiocytoma

د هیستوسایت(Histiocytes) ماکروفاژ څخه جوړ تومور ته ویل شی.

- Benign Fibrous Histiocytoma

سلیم فیبروزی هیستوسایتوما چې په پوستکي کې منځ ته راځی کله ناکله د درماتوفیبروما لپاره هم کارول شی.

- Malignant Fibrous Histiocytoma

خبیث ډول فیبروبلاست حجرې لرونکې هیستوسایتوما نیوپلازم دئ.

Histiocytosis

په وینه کې په غیر نورمال بڼه د (Histiocytes) شتون حالت بلل شی.

- Histiocytosis X

دایوزینوفیلی ګرانولوم، هغه هیستوسایتوزیس چې نا معلوم لامل لری Letter Siwe Disease د ناروغۍ او د Hand-Schuller- Christion ناروغۍ په څېر ناروغیو لپاره عمومی سرلیک بلل شی.

Histiocytogenic

د (Histiocytogenous) په انډول.

Histo -

دا یو مختاړې دئ او د نسج معنی بشپړوی.

Histoblast

دنسج جوړونکې حجره.

Histochemistry

د نسج پېژندنې هغه ځانګه چې د حجرو او نسجونو دندې ،کیمیاوی خواص او ځانګړتیاوې څېړی.

سپستیک بڼه پاتې کېږی د لومړی ځل لپاره جرمنی عالم ماشومانو جراحی پروفیسر (Harald Hirschsprung) په کال (1888) کې شرحه کړه.

Hirsute

د ډېرو ویښتانو درلودونکې کس اړوند صفت.

Hirsutism

دا هغه حالت دئ چې پکې یو څوک ډېر زیات ویښتان ولری خصوصاً په ښځو کې د چې ډېر ویښتان په بدن او مخ کې راوځی.

Hiridicidal

د (Hirudicide) اړوند صفت.

Hirudicide

د ورږې (Leeches) د له منځه وړنې عامل.

Hirudin

د ورږې (Leeches) د فمی افرازاتو فعاله او اصلی ماده چې د ترومبین ضد اغېزې لرلو له کبله د وینې د تحثر مانع ګرځی.

Hiridinea

د کړیزو (حلقوی) چینجیانو یوه ډله.

Hirudo

د (H. Medicinalis) په ګډون د ورږو (Leeches) یو ډول چې د بدن څخه د وینې څېښلو لپاره په پراخ ډول تر ې کار اخیستل شی.

HIS

د روغتیائي معلوماتی خدمتونو ځانګه (Health Information Service) لنډه نښه ده.

Hist -

دا یو مختاړې دئ چې د[نسج (Histo-)]معنی بشپړوی.

Histamine

یو ډول آمین(Amine) دئ چې کېمیاوی فورمول ئی ($C_5H_9N_3$) دئ او د هیستېډین د ډیکاربوکسیلیشن څخه پلاس راځی هدارنګه د (Mast Cells) د تخریب پر مهال آزادېږی او د وینې رګونو د اتساع او نفوذیه قدرت زیاتوالی لامل ګرځی او معدې د افرازاتو زیاتوالې منځ ته راوړی د الرژی لپاره غوره لامل بلل شی.

- Histamine Headache

د هیستامین له امله د سر درد، د (Horton's Syndrome) په انډول.

- Histamine Receptor

د هیستامین رسپتورونه .هغه حجرې چې د هیستامین په ذریعه تنبه کېږی د (H_1 Receptors) رسپتور د وینې په رګونو کې دالرژیک

د بدن په نسجونو کې خوځښت او حرکت .

Histologic

د هیستولوژی علم اړوند صفت .

Histological

د هیستولوژی (Histology) علم اړوند صفت .

- **Histological Grade**

د هیستولوژی سیستم اړوند د تومورونو د تصنیف اړوند درجه بندی چې د تومورونو د خباثت درجه څرګندوی .

Histology

نسج پېژندنې علم ، د طب هغه څانګه چې د نسجونو (دنده ، جوړښت Structure او مایکروسکوپي ترکیب) تر څېړنې لاندې نیسی .

- **Pathologic Histology**

د هیستولوژی اړوند هغه څانګه چې ناروغی پتالوژیک حجرې پېژندنې تر سره کوی.

Histolysis

د نسجونو تخریب او له منځه تلل، د نسج تجزیه او تحلیل

Histolytica

انتاآمیبا هیستولایتیک (Entamoeba Histolytica) د پرازیتونو یو ډول دئ چې ډیزانتری (نس ناستې) منځ ته راوړی .

Histomonas

د چرګانو د بدن په(سیکوم ،ینه او نورو نسجونو) کې د پرازیتی پروتوزواګانو یو جنس دئ

Histomoniasis

په (Histomonas) باندې منتن او اخته کېدنه .

Histone

دا دپروټینو یو ساده ډول پروټین دئ چې په اوبو کې منحل دئ او امونیا کې غېر منحل دئ د اسیدی مالګو په ښه موندل شی لکه د هیموګلوبین پورې نښتې ګلوبین یا نوکلیک اسید پورې نښتې پروټین دئ

Histophysiology

د حجراتو او انساجو فزیولوژی،دانساجو د مایکروسکوپیک ډول جوړښت نسجی دندې تر سره کولو تر منځ داړیکو څېړنې علم ته ویل شی .

Histoplasma

د (H. Capsulatum) په ګډون د چنیاسو یو جنس چې په انسان کې د هیستوپلازموزس عامل شمېرل شی.

Histoplasmin

د (H. Capsulatum) دودې دمحصولاتو څخه یو چې

Histochemical

د (Histochemistry) لپاره اړوند صفت دئ

Histoclinical

د نسج پېژندنې او کلینیکی ارزوونې ګډ ډول ته ویل شی.

Histocompatibility

د دوه انفرادی اشخاصو د انساجو د انتیجنونوترمنځ رقابت ته ویل چې د ترانسپلانټ (Transplants) لپاره اهمیت لری.

Histocompatible

①دهغه انساجو اړوند چې د دوه بېلابېلو انفرادی کسانو تر منځ د انتی جنونو تر منځ رقابت پورې اړوند وی . ② د (Histocompatibility) اړوند صفت .

Histodiffrentiation

①د انساجو توپیر کول .② دحجروی ګروپونو پذریعه د نسجی څانګړتیاوو منځ ته راوړل.

Histogenesis

په رشیمی (Embryological Germ Layer) دوره کې د د ناتفریقی شویو حجرو انساجو څخه د یوه نسج دجوړېدنې او انکشاف پروسې ته ویل شی .

Histogenetic

د (Histogenesis) اړوند صفت .

Histogenous

له نسج څخه جوړ شوې او منځ ته راغلې جوړښت .

Histogram

①هغه چارټ چې په هغه کې ارقامی څېړنې د عمودی لیستونو په بڼه وي، ② هغه لاره چې پکې د فریکونسي ارزښتونه لکه (Columns) چې د لوړې درجې پېښې په یوه ګروپ خلکو کې دنسجې حالت څرګندونه په بېلابېلو اندازو څرګندوی.

Histoid

① د څانګړی نسج څخه وده موندلې. ② لکه د یو ډول ستندرد نسج څخه جوړ ③ هغه غړې چې د یو ډول څخه منځ ته راغلې وي. ④ د بدن د یوه نسج په څېر.

Histoincompatibility

نسجی عدم توافق ، نسجې نه سمون درلودل د غړو او نسج د پیوند په جراحی کې .

Histoincompatible

د (Histoincompatibility) اړوند صفت .

Histokinesis

د ګونادو تروپینونو د آزادونکی هورمون یو صنعتی محصول چې د اسیټیت ایستر ېې د ښپرنی بلوغ په درملنه کې کار وړل شی.

Histrionism

لېونتوب راوستونکې چلند ، هیجان راوړونکې ، پارونکې چلند .

Histrionic

د (Histrionism) اړوند صفت.

HIV

د انسان د معافیت د فقدان راوستونکې ویروس (Human Immunodeficiency Virus) چې د (AIDS) لامل ګرځی چې دري ډوله ېې پېژندل شویدی لکه (HIV-1, HIV-2 and HIV-3).

- **HIV-Negative**

د (HIV) منفی ډول کسانو ته ویل شی.

- **HIV-Positive**

د (HIV) مثبت ډول کسانو ته ویل شی.

Hives

حساسیت یورتیکاریا ، د (Urticaria) اړوند حالت.

H^+, K^+ ATP Ase

دا د (ATP) انزایم دئ یو غشائی انزایم دئ د معدې په جانبی حجرو باندې پروت دئ او د (ATP) د تجزېې څخه آزادشوی انرژی د غشأ د دواړه اړخونو د آیونونو په تعویض او معدې د اسیدونو په افراز کې کاریږی .

HI

د مخفی ډول هایپروپیا (Latent Hyperopia) لپاره لنډه نښه ده.

HLA

انسانی د لوکوسایت انټی جن (Human Leucocyte Antigen) لپاره لنډه نښه ده.

- **HLA System**

هغه د (HLA Antigens) چې د حجرو سطحې کې واقع دئ او اړتیا لری (Histocompatible) اجازه ورکړی تر څو ترانسپلانټ تر سره شی او تر ټولو مهم انټی جن د ترانسپلانت رد کولو لپاره بلل شی.

HM

ظاهر او آشکار ډول هایپروپیا(Manifest Hyperopia) لپاره لنډه نښه ده.

HMO

دروغتیا ساتنې ټولنه یا سازمان (Health Maintenance Organization) لپاره لنډه نښه ده.

هیستوپلازموز د تشخیص لپاره په داخل الوریدی بڼه تزریق کېږی.

Histoplasmoma

د سږی ګردی او ګرانولوماتوز تراکم چې د (H. Capsulatum) د انتان له کبله منځ ته راځی او په راډیوګرافی کې د سکه ئې ډوله ضایعی لامل ګرځی او لیدل شی.

Histoplasmosis

په (Histoplasma. Capsulatum) فنګسی انتان د سږو اخته کېدنه او ککړتیا ،دغه منتن کېدنه معمولاً کومه نښه نلری خو دحاد پنومونیا په څېر

- **Ocular Histoplasmosis**

د سترګو اړوند د هیستوپلازموزس ناروغی. منتشر ډول کروئیدیت چې د باصری عصب ته نږدې په فونډوس محیط کې د تندب پیدا کېدو لامل ګرځی او د مکولا د سیمې د پاڼیزې ضایعې نښې سره پیژندل شی.

History

تاریخچه ، تېره یادونه، د یوې ناروغۍ اړوند معلوماتو راټولول په ناروغانو کې بلل شی.

- **Case History**

دیوې ناروغۍ پېښې تاریخچه .

- **Medical History**

طبی تاریخچه .

- **Patient's History**

دناروغانو اړوند تاریخچه.

Histothrombin

هغه ترومبین چې د منضمې نسج څخه ویستل شوې وی.

Histotomy

دنسج غوڅول ، د نکروټومی.

Histotoxic

د نسج لپاره زهرجن توب، نسجی زهری اومسموم کونکې مواد.

Histotroph

ټول هغه غذائی مواد چې د ماشوم زېږونکی حیوان جنین تغذیه کوی ، د مور د وینې د تغذیې څخه پرته سرچینې.

Histotropic

د نسج جوړېدو په پروسه کې د چټکتیا او پرمختګ ، په هیستو ټروف پورې اړوند.

Histretin

Ho

د (Holmium) عنصر لپاره کیمیاوی نښه.

Hoarse

دهغه غږ چې زیږ او درشت (Harsh & Rough) بڼه لری .

Hoarseness

هغه غږ چې زیږ اوناست (ټیټ) بڼه لری او په د ستونې حنجرې التهاب (لارینجیت Laryngitis) نارغې کښې شتون لری.

Hobnail Liver

ضموری کبدی سیروزس، هغه ډول کبدی سیروزس چې پکې ینه کوچنیوالې مومی د (Atrophic Cirrhosis) په اندول.

Hock

خنګرې،د تارسال بند یا د آس او غوائی د پنډې شاتنی برخه.

Hodgkin's Disease

د هوجکن نارغې ، یو ډول سرطانی نیوپلاستیک نارغی ده چې خبیثه بڼه لری پکې لمفاوی غدې غټوالې مومی او د (کبد، طحال، عظمی مُخ) برخه د اندازې له پلوه غټوالې مومی که چېرې چتیک ډول درملنه نشی وژونکې دئ په کال (1832) کې د انګلیسي عالم (Thomas Hodgkin) پذریعه شرحه شوېدئ.

Hodoneumere

د اعصابو د هغه ځانګو په ګډون چې د رشیمی جسم یوه برخه ګڼل شی.

Hoist

هغه وسیله چې د نارغ د چپرکټ پورته او ښکته کېدو لامل ګرځی .

Holandric

د مذکر جنس له لارې د ارثی ځانګړنو لېږد ، د (Y) کروموزوم په ذریعه د جینونو له لارې د صفتونو –ځانګړتیاوو لېږد.

Hole

د نقیصه ، سوري ، لاره .

- **Heart Hole**

د زړه نقیصه ، د زړه سوري لکه د (Septal Defect) په څېر .

Holger-Nielsen Method

دا یوډول مصنوعی د تنفس ورکولو میتود دئ چې د نارغ پرشا فشار راوستل شی او او دلاس متې ئي شاته پورې وهل شی.

Holism

د یوه واحد په توګه دانسان ځنه یوه عمومی (دماغی ، فزیکی ، تولنیزو) حالاتو انځور تیوری ته ویل شی چې د نارغیو په درملنه کې په پام کې لرل شی .

Holistic

د (Holism) لپاره صفت دئ.

- **Holistic Care**

د خلکوهغه درملنه چې پرته له طبی اعراضو ځنه په پام کې لرل شی.

Holmium

دا یو کیمیاوی عنصر دئ چې اتومی شمېره ئی (67) ده او کیمیاوی نښه ئي (Ho) ده.

Holo -

دا یو مختاړې دئ او بشپړ ، کامل او ټول معنی بشپړوی.

Holoblastic

په بشپړ ډول د تخمې حجرې د تجزیې محصول ، په بشپړ ډول ببل کېدل .

Holocrine

یو ډول افراز چې په هغه کې د افرازی مواد لرونکې ټوله افرازی حجره په بشپړ ډول ببلیږی او په افرازاتوکې لیدل کېږی.د هغه غدې اړوند چې افرازات یې د هغې غدې د ناهمګونه حجرو په ذریعه منځ ته راځی.

Holodiastolic

د ډیاستول په ټولې دورې پورې اړوند.

Holoendemic

د یوې ځانګړې جغرافیائی سیمې په ټولو وګړو اغېزې لرل.

Holoenzyme

هغه فعال مرکب چې د کوانزایم او اپوانزایم ځنه پلاس راځی.

Holography

د لایزر وړانګې په مرسته د فیلم پر درې بعدی انځورونو ثبت.

Holophytic

په نباتی ډول غذا تر لاسه کول ، دغه اصطلاح د پروتوزواګانو په اړه پکاریږی.

Holoprosencephaly

د جنینی دورې په منځنی لیکه کې د مخ د تکامل سره مل د پروزنسفال جلاکېدونکې تکاملی نیمګړتیاچې په شدیدو ډولونو د کې د سایکلوپیا سره یوځای وی دغه ضایعه ځینې وختونه په (13-15) ترایزومی کې لیدل شی.

Holorachischisis

د نخاعی طناب په ټول اوږدوالی کې د درز شتون .

Holozoic

د حیواناتو د تغذیې ځانګړنې لکه (د پروټین موادوهضم) درلودل.

موادو په کارونې سره د ناروغۍ د رابرسېره کېدو مخنیوی یا درملنه.

Homeothermic

د (Homeothermic)اړوند صفت بلل شی

Homeothermy

د چاپېریال تودوخې د کچې له بدلون سره سره بیا هم د بدن د تودوخې درجې ثابت پاتې کېدنه.

Homergic

ورته اغېزې درلودل ، دغه اصطلاح د ورته اغېزولرونکو دوه درملو په اړه کارول شی.

Homo

دا د (H. Sapiens) د نمونې په ګډون د پریماتونو یو جنس دئ.

Homo-

دا یو مختاړې دئ د هغه کېمیاوی مختاړې چې د یوه میتان (CH₂) ګروپ په زیاتولو سره په اصلی مرکب دلالت وکړی او دا د انسان معنی بشپړوی.

Homobiotin

هومولوګ بیوتین چې د خپل مالیکولی ځنځېر په یوه لورې کې د (CH₂) یو اضافی ګروپ لری او د بیوتین سره انتاګونیست په ځېر اغېزې لری.

Homocarnosine

د ګاما امینو بیوتایریک اسید او هیستیډین په ګډون یو ډآی پېپتایډ دئ ، دغه ماده د انسان د ماغزو په نسج کې موندله کېږی.

Homocysteine

د ګوګړو (سلفر) لرونکو آمینواسیدونو څخه چې د سیستین هومولوګ دئ او د میتیونین د ډی میتایلیشن څخه منځ ته راځی دغه ماده په سیستین یا متیونین بدلېدلای شی.

Homocystinuria

د هوموسیستین له حد څخه ډېره اندازه اطراح ته په تشو متیازو کې ویل شی چې علتونه یې ځینې وختونه جنیټیکي بلل شی او کله هم دسیستا تیونین ببتا سنتیز انزایم د فعالیت کمښت بلل کېږی.

Homcytotropic

د ورته حیواني جنس د حجرو په لورې د لېوالتیا درلودل.

Homodromous

په عادی لورې (جهت) باندې حرکت یا اغېز.

Homaluria

په طبیعی ډول د تشو متیازو تولید او افراز.

Homans' Sign

د هومان علامه ،د لینګیو په برخه کې د شا لورې ته د پښې تاوېدنې او کشېدنې له امله منځ ته راتګ چې د (ژور وریدی ترومبوز) ناروغۍ کې منځ ته راځی د لومړی ځل لپاره د امریکائي جراحي عالم (John Homans) پذریعه په کال (1941) شرحه شو.

Homatropine

دمندلیک اسید اتروپیني ایستر چې ورته انتی کولینرجیکی اغېزې لری خو تر اتروپین کمزورې دی.

Homaxial

د ورته (هُم) اندازې محورونو درلودل.

Homeo -

دا مختاړې دئ او د (کټ مټ ،مشابه ،ورته او بې تغیره) معنی بشپړوی.

Homeopathic

هومیو پتیک Homoeopathic ، د (Homeopathy) اړوندصفت.

Homeopathist

هغه ډاکټر یا څوک چې د (Homeopathy) اړوند عملی کړنې تر سره کوی د (Homoeopathist) په انډول.

Homeopathy

د هغه حالاتو درملنه او یو درملنیز سیستم چې د درملو په ناچیزه مقدار ونو ولاړ وی چې په سالمو کسانو کې د ناروغ ډوله نښو د ایجاد ولاړ وی، د (Homoeopathy) په انډول.

Homeoplasia

د یوه داسې نوی نسج جوړېدل چې د هماغه برخې د نارمل نسج په ځېر وی.

Homeoplastic

د (Homeoplasia) اړوند صفت.

Homeostasis

هغه حالت د یوه ارګانیزم یا حجرې د کېمیاوی او وظیفوی وضعیت د ثبات ساتنې په لورې لېوالتیا لرل حتی که چېری بهرنی حالت په ډېره پیمانه توپیر وکړی.

Homeostatic

د (Homeostasis) اړوند صفت.

Homeotherapy

هومیو درملنه ،دناروغۍ د منځ ته راوړونکی عامل په ځېر د

چې د بعدی عنصر سره د (CH_2) د ګروپ په اندازه توپیر لری .

Homolysin

یو ډول لایزین چې د هماغه حیوانی جنس له یوه غړی څخه د پیښ شوی انتیی جن تر زرق وروسته منځ ته راغلې وی.

Homonomous

دغه اصطلاح د سومیتونو په څېر د یوې هومولوګ لړی د غړو لپاره پکار وړل شی.

Homonymous

① د ورته نو یا غړو (ډګ) لرل ، ② د دوه سترګود باصری ډګرونو په عمودی ورته نومونو دوه نیمائی ګانو پورې ا روند ،③ په دواړه سترګو یو ډول اغیزی لرل.

- **Homonymous Hemianopia**

داسې یو حالت چې په دواړه سترګو کې ورته نیمائی برخو کې د لیدنې وړتیا له لاسه ورکول.

Homophilic

یوازې د یو ډول ځانګړتیاوو انتیی جن سره غبرګون ښودنې اړوند صفت .

Homoplastic

د (**Homoplasty**) اړوند صفت

Homoplasty

① د غه اصطلاح د الوتونکو مرغانو او حشراتو د وزرونو په څېر غړو یا برخو اړوند څېړنه کوی او د ساختمانی او دندو له پلوه سره ورته دی خو د منشې او تکامل له مخې توپیر لری ، ② د جراحی کړنلاره چې ورته نسج تغویضی ګرافت بل چا ته تر سره کیږی.

Homopolysacharide

د یو ډول مونوسکرایډ د تکرارېدونکو واحدونو په ګډون پولي سکراید.

Homorganic

د یوه غړی یا ورته غړیو په وسیله تولېد شوې.

Homosexual

①همجنس ګرا ،② په نارینه او ښځینه جنسونو دواړو کې همجنس باز کس ، ③د ورته جنسیت لرونکی کس په لوړې لېوالتیا او میل لرل.

Homosexuality

د ورته جنسیت لرونکی کس په لوړې لېوالتیا او میل لرلو اړیکو صفت بلل شوېدې.

Homoeo-

دا یو مختاړې دئ او د (کټ مټ ،مشابه ،ورته او بې تغیره **Homeo-**) معنی بشپړوی.

Homogametic

په انسان کې د مونث جنس په څېر د جنسی کروموزومونو په پام کې لرلو سره یوازې د یوه ډول ګامېټ (**Gamete**) لرل.

Homogenate

په هومو جنېزیس(**Homogenesis**) طریقې لاس ته راغلې مواد بلل شی.

Homogenous

د ورته (کېفیت ، جوړښت او ترکیب) درلودل .

Homogenesis

په هماغه نسل کې د ورته طریقې له لارې تکثر او وده موندل.

Homogenetic

د (**Homogenesis**) اړوند صفت .

Homogenize

د یو څه یو ډول طبیعت درلودل ، د هوموجنېز (**Homogenesis**) لرکېدل ، د (**Homogenize**) په انډول.

Homogenistic

د یو کولو او ورته جوړولو ځانګړنو لرل .

- **Homogenistic Acid**

یو معطر هایدروکاربن چې تایروزین او فنایل الانین د میتابولیزم واسطوی محصول دئ او د الکاپتونیوریا په ناروغی کې په متیازو کې موندل شی.

Homograft

د (**Allograft**) په انډول ، د ډونور د ورته جوړښت لرونکی نسج ګرافت او پیوند تر سره کول بل چاته ، ورته نسجی پیوند.

Homoi-

دا یو مختاړې دئ او د (کټ مټ ،مشابه ،ورته او بې تغیره **Homeo-** **Homoe-** =) معنی بشپړوی.

Homolateral

د بدن د هماغه لورې پورې ترلې ،هماغه لورې ، عین طرف ، یوې لورې ته جهت لرل، د (**Ipsilateral**) په انډول.

Homologous

هماغه ډول ، د (جوړښت ، وضعیت ، سرچینې) له بلوه یو ډول، د هغه کروموزوم پورې ترلې چې یوه جوړه منځ ته راوړی . د (**Allogenic**) په انډول .

Homologue

① هر هومولوګ غړې یا برخه ، ② په کېمیا کې یو لړ مرکبونه

Hordeolum
د بنو او لېمو د سیباسې غدې التهابی چرکی موضعی مکروبی ناروغی ده بدې صورت کې د لېمو د څنډې او مورګې (حاشیې) پرسوب چې د پوستکی دباندې او دننه د ملتحې د مخاطی غشأ پرمخ منځ ته راځی او موضعی درد او سوروالې هم لری ، د (Stye) په انډول.

Horizon
د جنین په اناټومیک تکامل کې یوه ځانګړې مرحله چې د القاح څخه پیل او د جنینی مرحلې په پیل سره پای ته رسیږی.

Horizontal
د (Horizon) اړوند صفت، افقی ډول پروت ، د عمود په پرتله لوړدلې او هموار پروت بڼه لرل.

- **Horizontal Fissure**
افقی درز، هغه افقی ژوره چې د سږو د پورتنی او وسطی لوبونو تر منځ پرته ده.

- **Horizontal Plane**
افقی پلان ، مستعرض پلان ، هغه فرضی غوڅه مقطع چې په افقی ډول سره د غږو څخه تېرېږی، د (Horizontal Plane) په انډول.

- **Horizontal Section**
افقی مقطع.

Hormonal
د هورمون اړوندصفت.

Hormone
هورمون ، هغه کېمیاوی ماده چې په بدن کې جوړېږی لکه (اندوکرین، اګزوکرین ،اپوکرین) اود بدن په غږو او حجرو دندو تر سره کولو باندې په خاصو ډلو ځانګړې اغېزې کوی .

- **Adrenocortical Hormone**
دا هغه کورتیکوستروئیددئ چې د فوق الکلیوی غدې د قشر څخه افرازیږی مهم ډولونه ئې ګلوکورتیکوئید دی او ځینې (اندروجنونه ، پروجیسترونونه اوایستروجنونه) هم پکې ونډه لری.

- **Adrenocorticotropic Hormone**
د (Corticotropine) په انډول .

- **Adrenomedulary Hormone**
هغه هورمون چې د ادرینال غدې له مرکز ی برخې څخه افرایږی لکه د (اپی نفرین او نور اپی نفرین) هورمونونه.

- **Androgenic Hormone**
اندروسترون او تستوستیرون.

- **Antiduretic Hormone**
د متیازو اطراح ضد هورمون ، وازوپرسین په انډول. ادرار ضد هورمون.

Homotopic
د بدن په هماغه سیمه کې قرار نیول یا پېښېدل.

Homotype
ورته نوعیت لرل، د بدن د هر هغه برخه چې د بدن په لورې کې د ځان په څېر د برخې سره تناظر لری لکه لاس یا پښه.

Homotypic
د (Homotype) اړوند صفت.

Homovanillic Acid
یو بولی میتابولایټ چې له (ډوپا ، ډوپا آمین او نوراپي نفرین) څخه منځ ته راځی.

Homozygosis
د یوې تخمینی حجرې جوړېدل چې د هغه ګامیټونو له پیوستون څخه منځ ته راځی چې یو یا څو ورته الیلونه لری.

Homozygous
د ورته دوه ډوله پېژندګلوی د ځانګړی خاصیت جن (Gene) لرونکې.

Hoof Bound
د آس د ګوښې وچوالې او انقباض چې د نګوښېدلو لامل ګرځی.

Hook
چنګک، یوه کړه د جراحی وسیله چې د یوه نسجی جوړښت د رانیولو اوکش کولو لپاره پکار وړل شی.

- **Hookworm**
دا یوډول د پرازیتونو څخه دئ چې چینجې ئی چنګک بڼه لری . چنګک لرونکې چینجې ، د انسان او نورو فقاریه ژویو په کولمو کې یو ډول پرازیتی نیماتودا د (Ancylostoma Duodenalis) او (Necator American) څخه عبارت دئ چې شدیدې او خطرناکې ناروغی پېښوی.

- **Hookworm Disease**
د چنګکی پرازیتی چینجیو پورې اړوند ناروغی. لکه د (Ancylostomiasis) په څېر .

- **Palate Hook**
هغه چنګک چې په شاتنې رینوسکوپی کړنلاره کې د تالو پورته ساتنې لپاره پکار وړل شی.

- **Tyrrell's Hook**
یو ډول ظریف چنګک چې د سترګو په جراحی کې پکار وړل شی.

Hoose
یوه ځانګړې ریوی ناروغی چې په (غوایانو ،پسونو او سرکوزی) کې د نیماتودا پذریعه منځ ته راځی.

له هایپوفیزقدامی لوب څخه افرازېدونکي ګوناډتروپیک هورمون چې د (FSH) سره یوځای کارکوی او د رسېدلی فولیکول د هګۍ اچونې لامل ګرځي .دغه هورمون د (ټېکا او ګرانولوزا) حجرو څخه د استروجن هورموون پاروونکي په څېر عمل کوی او (LH) د ژېړ جسم په جوړښت کې هم احیاناً اغېزې لری او په نارینه کې (LH) د بیض البیني حجرو ودې او له هغوی څخه د تستوستېرون افراز او پارونې لامل ګرځی .

- Luteinizing Hormone – Releasing Hormone

له قدامی هایپوفیزڅخه افرازېدونکي ګلایکوپروټینی هورمون چې د رګونو د اندوتلیالي حجرو ځواکمن میتوجن دئ اوپه نسجونو کې د رګونو جوړښت تنظیم کوی.

- Melanocyte Stimulating Hormone

دهغه څوپیپټایدونو څخه یو چې د انسان په قدامی هایپوفیز کې افرازېږی او د ملانینین د رنګه موادو جوړېدل او په ټول بدن کې د هغوی توزیع کنترولوی ، دغه هورمون د(چنګښو ،کبانو او نوروخزندګانو) په پوستکی کې د رنګ بدلون لامل ګرځی ، د (**Melanophore Stimulating- hormone**) په انډول.

- Neurohypophysial Hormone

د خلفی (شاتنی) هایپوفیز هورمونونه.

- Ovarian Hormone

د هګۍ ځالې هورمون، هغه هورمون چې د هګۍ ځالی په واسطه افرازېږی لکه استروجن.

- Parathyroid Hormone

پاراتاېراید هورمون، هغه پولی پیپټایډ چې هورمون چې د پاراتایرایډ غدواتو پذریعه افرازېږی او د کلسیوم او فاسفورس میتابولیزم او دهډوکی جوړېدل کنترولوی.

- Placental Hormone

پلاسنتائی هورمونونه ، هغه هورمونونه چې د پلاسنټا غدواتو پذریعه افرازېږی کله د (پلاسنټائی ګوناډوتروپین، ریلاګسین اونور) چې استروجنی او پرجسترونی او ادینوکورتیکوئیدی خواص لری .

- Plant Hormone

د (**Phytohormone**) په انډول ، نباتی هورمون .

- Posterior Pituitary Hormone

د هایپوفیز شاتنی (خلفی) هورمونونه لکه اوکسی توسین او وازوپرسین.

- Progestational Hormone

پروجسترونی هورمونونه، پروجسترون.

- Sex Hormone

جن سی هورمونونه لکه د پروجسترون چې د ښځینه هورمون او اندروجن چې دنارینه هورمون اغېزې لری.

- Somtotrophic Hormone

د (**Growth Hormone**) په انډول.

- Corpus Luteum Hormone

هغه هورمون چې د ژېړ جسم په واسطه افرازېږی لکه (پرجسترون).

- Cortical Hormone

د ادرنال غدې د قشر څخه ازادېدونکي هورمون .

- Corticotropin - Releasing Hormone

د کورټیکوټروپین آزادوونکي هورمون چې د هایپوتلاموس منځنې راوتلتبا څخه افرازېږی چې لنډه نښه یې (**CRH**) ده.

- Ectopic Hormone

هغه هورمون چې د خبیث نسج یا له روږدیز ځای څخه بهر د حجرو څخه افرازېږی .

- Eutopic Hormone

هغه هورمون چې د عادی نسج یا له نېوپلازم ځای څخه افرازېږی .

- Fibroblast Growth Hormone

له ادینوهایپوفیزڅخه افرازېدونکي پیپټایډی هورمون چې د رګونو د اندوتلیالي حجرو ځواکمن میتوجن دئ اوپه نسجونو کې د رګونو جوړښت تنظیم کوی.

- Folicol-Stimulating Hormone

له هایپوفیزقدامی لوب څخه افرازېدونکي ګوناډتروپیک فولیکول پاروونکي هورمون چې د هګۍ ځالي کې د ګرافین فولیکول وده پاروی اود او په نارینه کې د سپرماتوجنیزس پارونې لامل ګرځی .

- Follicle-Stimulating Hormone-Releasing Hormone

هغه هورمون چې له هایپوتلاموس څخه افرازېږي او (**FSH**) پارونې لامل ګرځی چې لنډه نښه یې (**FSH-RH**) ده.

- Gonadotropic Hormone

د (**Gonadotropin Hormone**) په انډول .

- Gonadotropin Releasing Hormone

د (**LH-RH**) په انډول ، هر هغه فکتور هایپو تلاموس څخه چې د (**FSH**) او(**LH**) افراز پاروی.

- Growth Hormone

د ودې هورمون ، هغه هورمون چې د هایپوفېز غدې څخه افرازېږی او د بدن د ودې موندنې مسؤل بلل شی چې لنډه نښه یې (**GH**) ده.

- Growth Hormone-Releasing Hormone

د ودې هورمون آزادونکي او پاروونکي فکتور ، هغه فکتور چې د هایپوتلاموس غدې څخه افرازېږی او د بدن د ودې موندنې دهورمون د پارېدنې مسؤل بلل شی چې لنډه نښه یې (**GN-RH**) ده.

- Interstitial Cell -Stimulating Hormone

د (**Luteinizing Hormone**) هورمون په انډول.

- Lactation Hormone

د [(**Prolactine**) هورمون او (**Lactogenic Hormone**)] په انډول.

- Lactogenic Hormone

د [(**Prolactine**) هورمون او (**Lactogen Hormone**)] په انډول.

- Luteinizing Hormone

Horny

د ښکری نسج (Horny Tissue) لپاره اړوند صفت دئ او هغه لغتونه چې د (Kerat-,Kerato-) پذرېعه پیل مومی دغه اصطلاح ورته پکار وړل شی.

Horopter

د هغه توکو ټولګه چې د سترګو د ثابتوالی په حالت کې د دوه سترګو رپ یا سترګې لید له لارې لیدل شی.

Horror

ترهه ، وېره، ډار ،وحشت.

- **Horror Autotoxicus**

د (Self-tolerance) پخوانې نوم.

Horse

آس ،اسپ ، هغه حیوان چې ډېر قوی دئ ځلور پښې لری او تري د بار وړلو ، آس سورېدنې او وزلوبې او نورو مقصدونو لپاره کار اخیستل شی.

- **Horse Pox**

یو ډول خفیفې تناکې چې آسونه پرې اخته کېږی.

- **Horseshoe Kidney**

هغه ډول بڼودي چې په ولادی ډول غېر نارمل وی ببڅایه او دواړه یو د بل سره نښتی یا وصل بڼه لری چې د آس د پښو د نوک (بوتانو) بڼه غوره کوی.

Horton's Syndrome

شدید ډول د سر درد چې معمولا ثابت او دیوې سترګې په چارچېر کې وی هغه مهال چې څوساعته وروسته له هغه سړې خوب ته ځی منځ ته راځی چې معمولاً د (Histamine) دآزادېدنې له امله منځ ته راځی او د امریکائی عالم (Bayard Taylor Horton) پذرېعه په کال (1895) کې شرحه شو.

Hose

اوږد ربړ یا پلاستیک تیوب ، د (Support Hose) په انډول.

Hospice

هغه روغتونونه چې د دردونو او حمایتی مراقبت په ډېرو شدېدو او پایلې د (مرګ په انتظار) ناروغانو ځارنه پکې کېږی.

Hospital

روغتون ، هغه ځای چې ناروغیو درملنه هلته تر سره کېږی.

- **Hospital -Acquired Infection**

د روغتونونو کسبی انتانات.

- **Hospital Activity Analysis**

د روغتون د فعالیتونو تحلیل.

- **Somatotropin –Releasing Hormone**

د (GH-RH) په انډول.

- **Thyroid Hormone**

د تایرایډ غدې افرازېدونکی هورمونونه.

- **Thyrotropic Hormone**

د (Thyrotropin Hormone) په انډول.

- **Thyrotropin-Releasing Hormone**

دا یو هایپوتلاموسی ترای پیپتایدی هورمون چې د هایپوفېز له غدې څخه تایروتروپین نوې جوړېدنه پاروی. په انسانانو کې د غه هورمون د پرولاکټین په څېر کارکوی او ګریوز (Graves) او هایپرتایرایډیزم ناروغیو پېژندنه کې پکار ېږی.

- **Hormone Replacement Therapy**

دا د درملنې یوه کړنلاره د هغه چا لپاره چې د هغوی اندوکرین غدې راویستل شوې وی. د مینوپاوز د دورې د اعراضو د کمښت په موخه چې پکې د (Osteoporosis) خطر وی د استروجن(Oestrogen) پذرېعه درملنه بلل شی ،د (Hormone Therapy یا HRT) په انډول.

Hormonogen

د (Prohormone) په انډول ، د هورمونو لومړنی مادہ ده چې په هورمون اوړی.

Horn

ښکر ، په انسانانو کې د غړی څخه بهر ته نسجی وده بلل شی. د انسان د (Grey Matter) د اطرافوپه (H-Shaped) لېدل په د نخاع په قطع (Cross-Section) کې بلل شی ، دانسانو د غاښونو د (Pulp Chamber) برخې توسعه د (Cusp) لورې ته.

- **Cicatricial Horn**

د یوه زخم د اثر (نښې) په څېر ښکر سخته او وچه وده معمولاًتفلس لری

- **Cutaneous Horn**

جلدی ښکر، یوه تقرنی راوتلې وده چې معمولاً په سر یا مخ کې وی چې ښائې خبیثه بڼه ولری .

- **Horn of Pulp**

د غاښ د رېښې د ژور غالی د غولی په لورې د د غاښ د رېښې پراختیا موندل.

- **Horn of Spinal Cord**

د نخاعی ښکر، د نخاعی طناب د عضلاتی برخې کې په منځنی یا شاتنی سطحه کې د نخاعی طناب د شاتنی ستون پواسطه جوړېږی.

Horner's Syndrome

هغه حالت چې د (Sympathetic Nerve) پرالایزیس له کبله د غاړې په یوه لورې کې منځ ته راځی اود سترګو سترغلی (Eyelids) ځوړند او حدقې متقبض(Pupils Contract) پاتې کېږی د لومړی ځل لپاره په کال (1869) کې د (Switzerland) د سترګو عالم (Johann Friedrich Horner) پذرېعه شرحه شو.

- Hospital Bed
یو ځانګړې ډول بستر چې یوازې په روغتونو کې پکار وړل شی او ناروغان پکې هوسا وی ،د روغتون هغه برخه چې پکې ناروغان بستر پاتې کیږی.

- Hospital Care
د روغتون دننه د ناروغانو ځارنه او مراقبت.

- Hospital Chaplain
هغه مذهبی وزهر چې روغتونونه د ناروغبو ځارنې او د ناروغانو فامیلونو سره د خواخوږی په موخه د اړتیا په صورت کې په تماس وی.

- Hospital Corner
د روغتون دننه د ډهر بستری ګڼې ګوڼې په یوه ګوښه کې مخنیوی کوی او په ګوټ ګوټ کې انډول ساتی.

- Hospital Doctor A
د روغتون ډاکټر.

- Hospital Gangrene
د روغتون دننه د روغتون د ککړتیا له امله د ګانګرین منځ ته راتګ ته ویل شی.

- Hospital Infection
د روغتون دننه انتان چې د ناروغانو دبستر په مهال ناورغیو کې اختلاط کوی ، کسبی انتان په روغتون کې.

- Lying-In Maternity Hospital
د نسائی ناروغانو ځخه د ځانګړې پاملرنې لپاره روغتون.

- Open Hospital
واز روغتون ، د هغه روحی رنځونو روغتون چې دناروغانو د ناروغیو د مخنیوی اړوند تل خلاصې دروازې لری .

- Hospital Orderly
هغه ځوک چې د روغتون دننه ډهر درانه کارونه تر سره کړی لکه (ناروغان د عملیات خونې کې لېږدوی اویا درانه وسائل انتقال کړی) .

- Self-Governing Hospital
د (Hospital Trust) په انډول.

- Teaching Hospital
رونیز او د زده کړو لپاره روغتون ،تدریسی روغتون .

- Hospital Trust
د یو لړ مرستندویه ټولنو پواسطه او په خپل توان چلیدونکې روغتون ته ویل شی، د (Self-Governing Hospital) په انډول.

- Voluntary Hospital
داوطلب روغتون ،د محدوده امکاناتو څښتن خصوصی هغه روغتون چې د خپلو مراجعینو لپاره ناخیزه آسانتیاوی برابرې کړلای شی.

Hospitalisation
په روغتون کې بستر کېدنه ،د روغتون بستری ، د (Hospitalization) په انډول.

- Partial Hospitalization
قسمی روغتون ، دهغه ناروغیو لپاره یو اروآ درملیز پروګرام چې په روغتون ېې بستري کېدوته اړتیا د ځانګړو درملیز شونتیاوو د ترلاسه کوونې په موخه روغتون ته مراجعه کوی.

Hospitalize
بستر کېدنه، د یوچا لېږل روغتون ته د بستر کېدنې په موخه

Host
کوربه ، مېزبان ، انسان یا حیوان چې پکې دپرازیت ژوند کولو لپاره محیط برابر وی.

- Accidental Host
تصادفی مېزبان ، هغه انسان یا حیوان چې پکې د پرازیت د مېشت او ژوند کولو لپاره په تصادفی ډول محیط برابر وی.

- Definitive Host
اصلی کوربه ، انسان یا حیوان چې پکې دپرازیت د جنسی تکثر یا بلوغ دورې ژوند تېروی.

- Intermediate Host
منځګړې کوربه ، انسان یا حیوان چې پکې دپرازیت ژوند کولو لپاره لاروا یا غېر جنسی دوره تېر وی.

- Paratenic Host
انسان یا حیوان چې دیوه پرازیتی دواسطوی کوربه ځای نیسي معمولاً دغه چاره د اصلی کوربه تر خولې وروسته پېښېږی .

- Primary Host
لومړنې کوربه ، د (Definitive Host) په انډول.

- Reservoir Host
مخزنی کوربه ، د هغه کوربه چې د ذخیرې یا مخزن په څېر وی.

Hot
د تودوخې لرونکي ، ګرم ، تود ، د لوړی درجې د تودوخی لرونکې حالت ته ویل شی.

- Hot Flush
هغه د مینوپاوز (Menopausal) حالت چې پکې ښځه دېره (تودوخه، خوله او معمولاً د پوستکې سوروالي) سره مل وی .

- Hot Line
هغه ډاکټر چې خپله تخصصی دوره یې بشپړه وی او د ببړنیو (عاجل) ناروغانو رسېدلو ته هره لحظه د تیلفون تماس په انتظار وی .

- Hot Pack
د دردونو او شخی د درملنې او لړ کولو په موخه د ټوکر یا جیلی لرونکی ګاز ځخه د ټکور په څېر کار اخیستل بلل شی.

- Hot Wax Treatment
د تودې او ګرمې مایع او موم (Hot Liquid Wax) ځخه د بندونو درملنې په موخه کار اخیستلو ته ویل شی.

Hourglass
شګلنه ګېنټه ، شګلن ساعت .

- Hourglass Contraction
د شګې ساعت (Hourglass) په څېر تقلص لکه هغه حالت معده چې په منځنۍ برخه کې متقلصه وي.

- Hourglass Stomach
د معدې داسې بڼه نیول چې د ټپله کېدو له امله په دوجوفی برخو (Cardiac او Pyloric) باندې ویشل شوېوی . د شګې ساعت ډوله معده.

- Hourglass Sign
شګلنه علامه چې دا یوه د سی ټی سکن ننبنه ده چې په (هایدروسفالوس او هلوپروزنسفالی او نورو) دماغی ولادی ناروغتیاوو کې لیدله شی.

Hourly
په هره ګړۍ (ساعت) کې پېښېدونکې حالت.

Houseman
کورنۍ سړې (House Officer) ، ستاژر ډاکټر .

House
کور ، حویلی ، انګړ لرونکی د اوسېدنې ځای .

- House Dust Mite
د (Mite) په انډول.

- House Physician
کورنۍ ډاکټر ، د راجستر شویوکورنیو اړوند ډاکټر.

- House Mite
کورنۍ ورګه، یو ډول کوچنۍ حشره چې په بستروکې ژوند کوی او انسانان چیچی او الرژیک غبرګون منځ ته راوړی ، د (House Dust Mite) په انډول.

- House Officer
امریکایی نوم دئ د هغه ډاکټر لپاره چې د پوهنځي وروستي کال یې وي په روغتون کې کارکوی او لکه د عمومی طب ډاکټر په څېر راجستریشن او طبی ټولنې له خوا ورته جواز ورکړل شوې وی ، د (Intern) په انډول.

HP
کورنۍ ډاکټر (House Physician) په انډول، د راجستر شویوکورنیو اړوند ډاکټر.

HPLC
یو ډول کروماتوګرافیک کتنه ده (High Performance Liquid Chromatography) لنډه ننبنه ده .

HPRT
دا یو ډول د انزایم فقدان ناروغی په ماشومانو کې ده چې هغه هلکان اخته کوی چې په (Lesch-Nyhan Disease) اخته وی چې د (Hypoxanthine Phosphoribosyl Transferase) لپاره لنډه ننبنه ده.

HGPRT
دا یو ډول د انزایم فقدان ناروغی په ماشومانو کې ده چې هغه هلکان اخته کوی چې په (Lesch-Nyhan Disease) اخته وی چې د (Hypoxanthine Guanine Phosphoribosyl Transferase) لنډه ننبنه ده.

HPV
د انسانانو (Human Papiloma Virus) ویروس لنډه ننبنه ده.

HRCT
یو ډول کمپیوټید توموګرافی (High Resolution Computed Tomography) لنډه ننبنه بلل شی.

HRIG
دا دلبونی سپې پرضد د انسانو لپاره جوړ معافیتی ګلوبولین دئ (Human Rabies Immune Globulin) لنډه ننبنه ده .

HRT
د هورمونونو معاوضوی درملنې کړنلاره ده د (Hormone Replacement Therapy) لپاره لنډه ننبنه ده.

HSV
د هرپس سیمپلکس ویروس (Herpes Simplex Virus) لپاره لنډه ننبنه ده .

HTLV
د یو ډول ویروس لپاره چې په اسانانو کې سرطان پېښوی (Human T-Cell Leukemia Lymphoma Virus) لنډه ننبنه ده .

Huhner's Test
دا یوډول آزمایښت دئ چې د جنسی نښډې کېدو څخه څو ساعته ورسته د سپرم (Spermatozoa) د شمېر او تحرکیت ټاکنې په موخه تر سره کېږی او دامریکائي یورولوجست (Max Huhner) په ډریعه په (1873–1947) کلونوکې شرحه شو.

Hum
برنګس ، یو (بیت ،تلپاتې او اوږدمهالې) غږ ته ویل شی .

- Venous Hum
یو کړنګ لرونکې مداوم سوفل چې د ولاړې یا ناستې پر مهال د وداجی (جوګولار) ورید لپاسه اورېدل شی که چېرې دغه غږ په کړېدو –فشار راوړلو په اثر له منځه لاړ شی داځرګندوی چې نورمال دئ.

Human
انسان ،آدمی زاد ،بشر ،خلک ،وګړی ، په انسانانو پورې تړلې لکه (بښه ، نارینه ، ماشومان) په څېر .

- Human Anatomy
انسانی اناټومی ، هغه علم چې د انسانانو د (جوړښت، بڼې او دندې ترسره کولو) د څېړنو اړوند بحث وکړی.

- Human Being
انسانیت ، د انسانی خواصو اړوند ، د وګړو د صفاتو اړوند او تړلی . یو کس ، یو انسان .

- **Aqueous Humor**

زلالیه مایع ، هغه مایع چې په سترګه کې جوړېږي او د عدسې قدام او دهغې په پیوستونونو کې پرته وی او د (**Anterior Chamber**) او **Posterior Chamber**) مسافی برخه ډکوی چې دا له سترګې راوځی او لمفای (**Lymph**) مایع تخلیه کوی چې دا لمف مایع له نورو برخولمف سره توپیر لری.

- **Ocular Humor**

دسترګې د منځ هره مایع لکه د سترګې (زلالیه **Humors Aqueous** او یا زجاجیه **Vitreous**).

- **Vitreous Humor**

د سترګو زجاجیه جسم (**Vitreous Body**) مایع برخې (**Fluid Portion**) ته ویل شی.

Humoral

د انسان دبدن د مایع لکه د وینې د دسپروم د یوې برخې اړوند صفت بلل شی.

Humour

په بدن کې مایع ، د (**Humor**) په انډول.

Hump

ګردی راوتلې برخه ، ګردی راوتلتیا ، کړوپ شوې بڼه.

- **Dowager's Hump**

د ملاتیر د کوږوالی کیفوز لپاره عامه اصطلاح.

- **Hump Back**

شاتونګې ، د ملا کړوپ ډول ته ویل شی.

Hunch Back

د ملا د کیفوز (کړوپ **Kyphosis**) بڼې حالت ته ویل شی.

Hunger

لوږه ، د خوړو لپاره لېوالتیا ، وږې کېدنه.

- **Air Hunger**

هوا ته لېوالتیا لرنه ، په بیاوړی ډول سالنډی چې په یرغلیز (حملوی) ډول رامنځ ته کېږی.

- **Hunger Pains**

د (Hyperopia او Longsightedness) په انډول ، په لږې لیدنه اخته حالت ناروغی ، هغه څوک چې د لږی څخه شیان ښه او

- **Hyperostosis Corticalis Deformans Juvenilis**

د اندامونو د ماتوالی ، کوږوالی اود جمجمی د هډوکو د (ډبل والی ،اوستیوپوروزس او د سیرومی الکالین فاسفتېز او د متیازو د هایدروکسی پرولین) د کچې زیاتېدو په ښه یو ارثی اختلال.

- **Hyperostosis Crani**

د سر د کوپرې په هډوکی کې یو هایپراوستیوزس.

- **Hyperostosis Frontalis Interna**

د تندې (تندی) هډوکي د داخلی پاڼې پنډیدل چې ښائي د ویښتانو د زیادښت او او چاغوالي سره یوځای وی.

- **Hyperostosis Corticalis Generlisata**

یو ارثی اختلال دئ چې د بلوغ پر مهال پیل کېږي او د (سر د کوپرې، د هډوکو د لاندېنۍ ژامنې ،ترقوي ، پښتیو او اوږدو) هډوکو د ډیافېز په اوستیوسکلروزس او په وینه کې د د الکلین فاسفتېز د کچې په لوړېدنې سره پېژندل شی.

- **Hyperostosis Cortical Infantile**

په ډېرو لږ عمر خاوند ماشومانو کې یو ډول ناروغی چې د ماؤفه هډوکو دپوستکی نسج د پرسوب، تبې،زیاتې تحریک کېدنې او خاموشه او بر بنډو دورو (مرحلو) په مرسته پېژندل شی.

Hyperostotic

د (**Hyperostosis**) اړوند صفت.

Hyperoxaluria

په متیازوکې د اوګزالاتو د زیاتې کچې اطراح.

- **Enteric Hyperoxaluria**

دجراحي کړنلارې پذریعه د الیوم کولمې د پراخې اندازې د قطع وروسته د په غټو کولمو کې د ډېرې زیاتې پیمانې اګزالات جذب له امله په تشومتیازو کې زیاته پیمانه اطراح کېږي.

- **Primary Hyperoxaluria**

یو ډول ارثي میتابولیک اختلال دئ چې د اګزالات د (ډېر زیات مقدار دتشو میتیازو له لارې اطراح ، دبولې ډېرو د جوړېدلو ، ددېوډو عدم کفایې د بېړنۍ پېلېدنې او د کلسیوم اګزالات د میتابولیزم د نیمګړتیا) له امله منځ ته راځی.

Hyperoxia

په یوه سیستم کې د موجود اکسیجن د کچې زیادښت.

Hyperoxic

د (**Hyperoxia**) اړوند صفت.

Hyperparasite

هغه پرازیت چې په بل پرازیت کې ښکار کوی.

Hyperparasitic

د (**Hyperparasite**) اړوند صفت.

Hyperparathyroidism

د پارتایراید د غدې فرط فعالیت ، دا د غدې د هایپرپلازې نه سمېږی.

- **Axial Hyperopia**

دا یو ډول لېرې لیدنه ده چې د سترګې د ګاټې قدامی-خلفی قطر د لنډوالی له کبله منځ ته راځی.

- **Facultative Hyperopia**

هغه ډول لېرې لیدونکې کس ناروغی چې د انطباق په مرسته سمون مومی او اصلاح کېږی.

- **Latent Hyperopia**

د هغه ډول لېرې لیدونکې کس ناروغی چې د هغه درجه د پاڼیزې عضلې د فزیولوژیک انقباض په مرسته سمېږی او یوازې د سایکلوپلیجیک کتنې (معاینې) په مرسته پېژندله شی.

- **Manifest Hyperopia**

د هغه ډول لېرې لیدونکې کس ناروغی چې د هغه درجه د پاڼیزې عضلې د فزیولوژیک انقباض په مرسته نه سمېږی او د سایکلوپلیجیک کتنې (معاینې) په مرسته پېژندله شی.

- **Relative Hyperopia**

د (**Facultative Hyperopia**) په اندول.

- **Total Hyperopia**

د (**Manifest Hyperopia**) او د (**Latent Hyperopia**) ترکیب ته په ګډه ویل شی.

Hyperopic

د (**Hyperopia**) اړوند صفت.

Hyperorchidism

د مرغېږیو (خصیو) له حد څخه ډېر فعالیت شتون حالت ته ویل شی.

Hyperorexia

له حد څخه وتلې د اشتها لېوالتیا حالت.

Hyperornithinemia

په وینه کې د اورنیتین د کچې زیاتوالې.

Hyperorthocytosis

د سپینو کریواتو د مختلفو د مختلفو ډولونو تر منځ د نارمل نسبت سره یوځای د سپینو کریواتو د شمېر زیاتوالې.

Hyperosmolality

دبدن د مایعاتو د ډېر زیاتې کچې اوسمولالیتي لرونکې حالت.

Hyperosmolarity

دیوې مادې د اوسمولار غلظت غېر نورمال ډېر زیاتې کچې لرونکې حالت.

Hyperostosis

هډوکښزه هایپرټروفی . د هډوکې په بهرنۍ سطحه باندې د اضافی ودې شتون لکه د تندی (**Frontal Bone**) په برخه کې.

د نخامیه غدې د اختلالونو مجموعه چې د غېر نورمال زیادښت له کبله منځ ته راځی .د هایپوفیز (Pituitary Gland) غدې مفرط فعالیت بلل شی.

Hyperplasia

هایپرپلازه ، د یوه غړی د یا نسج د حجرو د شمېر غېر نورمال زیاتوالي چې د هغه برخې د حجم د زیادښت لامل ګرځی.

- **Benign Prostatic Hyperplasia**

د عمر د زیادښت له کبله د پروستیات د غدې سلیم ډول پرسوب او ضخامه بلل شی .

- **C-Cell Hyperplasia**

د تایروئید غدې میدولاری کارسینوما چې د فامیلی بڼې د د پیدایښت په پرو سه کې د خبائث څخه دمخه مرحله چې د پارافولیکولر حجرو (C-Cell) د څو محراقیزو صفحو په مرسته پېژندله شی.

- **Congenital Adrenal Hyperplasia**

د کوتیزول د جوړېدو په پروسه او بهیر کې د ولادی اختلالاتو یو ډله چې د کورتیکوتروپین د زیات افراز په نتیجه کې د فوق الکلیوی غدې هایپرپلازیا چې د اندروجنونو بې درېغه تولید او رنګارنګ کلېنیکی نښو نښانو منځ ته راتګ لامل ګرځی لنډه نښه یې (CAH) ده.

- **Cutaneous Lymphoid Hyperplasia**

د جلدی سلیمو ضایعاتو یوه ډلګی چې د کلېنیکی نسج پېژندنې له پلوه خبیث ملانوما ته ورته والي لری.

- **Focal Nodular Hyperplasia**

محراقی نودولار هایپرپلازیا. په کبد کې یو سخت غوټه ډوله او له رګونو څخه ډک تومور چې سیروز ته ورته دئ.

- **Intravascular Papillary Endothelial Hyperplasia**

دا یو سلیم ډول وعائی تومور دئ معمولاً په (سر،غاړه/ورمېږ، ګوتو) کې د منفرد ډول تومور په بڼه رابرسېره کېږی او د انجیو سارکوما ته ورته والي لری .

- **Malignant Hyperplasia**

خبیث ډول توموری هایپرپلازیا .

- **Nodular Hyperplasia of the Prostate**

د (Benign Prostatic Hyperplasia) په انډول .

- **Verrucous Hyperplasia**

د خولې په مخاطی غشأ کې د یوه سپین رنګه سطحی هایپر پلازیا ضایعه چې چې په عمر خوړلو کسانو کې منځ ته راځی.

Hyperplastic

د (Hyperplasia) اړوند صفت.

Hyperplasmia

د وینې د حجرو په نسبت د وینې د پلازما د کچې زیادښت ، د پلازما د جذب کېدو له امله د سرو کریواتو د کچې زیاتوالي.

یا خباثت له امله منځ ته راځی د یو لړ خطر ناکو ناروغیو (د هډوکیزو حجرو ، د کلیوی تیوبولونو ، هضمی جهاز د مخاطی حجرو) د وظیفوی بدلون لامل ګرځی .

Hyperperistalsis

په کولمو کې د پریستالتیزم حرکتونو د ډېرې اندازې فرط فعالیت شتون بلل شی.

Hyperphagia

د اوږدې مودې لپاره په ډېره پیمانه خوراک حالت ته ویل شی.

Hyperphlangism

په ګوتو کې د ډېرې اضافی بندونو شتون والي.

Hyperphnylalaninemia

د فینایل الانین د لوړې کچې شتون په وینه کې چې د هایدروکسیلیشن په مسیر کې د څو ډوله ارثی اختلالونو په نتیجه کې منځ ته راځی .

Hyperphnylalaninuria

په متیازو کې د فینایل الانین د زیاتې پیمانې د غېر نورمال شتون او اطراح ته ویل شی.

Hyperphonesis

په اصغأ یا قرع کې د غږ پیاوړتوب.

Hyperphoria

پورته لوړې ته د باصرې تحریک له شته الی پرته د یوې سترګې د باصری محور د دنحراف حالت.

Hyperphosphatesemia

په وینه کې د الکالین فوسفتېز انزایم د کچې لوړوالي .

Hyperphosphatasia

د (Hyperphosphatesemia) په انډول.

Hyperphosphatesuia

په متیازو کې د الکالین فوسفتېز انزایم د لوړې کچې اطراح ته ویل شی.

Hyperphrenia

له حد څخه زیاته اندازه ذهنی تحرک او فعالیت.

Hyperpiesia

د وینې فرط فشار (Hypertension) په انډول.

Hyperpiesis

د وینې فرط فشار ، د وینې جګ فشار .

Hyperpigmentation

د پوستکې د رنګه موادو د غېر نورمال زیادښت.

Hyperpituitarism

Hyperploidy
د غیر معمولی لړیو په بڼه د معمول حد څخه د زیات شمیر کروموزومونو درلودل لکه د څه ډول چې د (Down Syndrome) په سندروم کې وجود لري.

Hyperpnoea
په ژوره او چټکه بڼه د تنفس غیر نورماله زیاتوالي لکه چې په تمرین څخه وروسته مرحله کې وی.

Hyperpnoeic
د (Hyperpnoea) اړوند صفت.

Hyperpolerization
دهره اندازه قطبی کېدنه، د حجروی غشأ د دوه لوریو تر منځ د برېښنایي چارج د توپیر د کچې زیاتوالي ، د غشأیي پوتانشیال د کچې زیادښت.

Hyperponesis
د ماغزو د قشر د حرکتی او قبل الحرکتی سیمو (ناحیې) د اکشن پوتانشیال د دهانې د چې زیاتوالي.

Hyperponetic
د (Hyperponesis) اړوند صفت.

Hyperposia
د لنډ مهالې مودې لپاره د مایعاتو د کارولو غیر نارمل زیادښت.

Hyperpotassemia
د نورمال حالت څخه د وینې د پوتاسیوم عنصر د سویی او کچې لوړوالي ، د هایپر کالیمیا په اندول.

Hyperpraxia
غیر نارمل د ذهنی فعالیت زیادښت ، د ستړیا نه احساسول.

Hyperprebetalipoproteinemia
د نورمال حالت څخه د وینې د (VLDL) بېتا لایپوپروتینونو د سویی او کچې لوړوالي.

Hyperproinsulinemia
د نورمال حالت څخه د وینې د پرو انسولین یا ورته موادو د سویی او کچې لوړوالي.

Hyperprolinemia
د امینواسیدونو د استقلاب د اختلالاتو سره مل د نورمال حالت څخه د وینې د مایعاتو کې پرولین د کچې لوړوالي. د وینې د مایعاتو کې پرولین د سویی او کچې لوړوالي.

Hyperprosxia
د شخصی او فردی عقایدو او پارونو په اړه ذهنی مصروفتیا.

Hyperprosteosis
هغه حالت چې په غذائي رژیم کې د پروتین د کچې له زیادښت سره تړاو لري.

Hyperpyrexia
کله چې د بدن د توخې درجه د (Above 41.1°C) څخه واوړی ، ډېره کچه تبه لرل.

- Malignant Hyperpyrexia
خبیث بڼه تبه لرل چې نه راتیتېږی او دوامدار ډول د اوږدې مودې لپاره شتون ولری.

Hyperpyrexial
د ډېرې لوړې کچې تبې اړوند صفت.

Hyperpyretic
د ډېرې لوړې کچې تبې اړوند صفت.

Hyperreactive
ډېر اندازه غبرګون ښودنه بلل شی. د تحریکونو په وړاندې له حد څخه د زیات ځواب ښودل.

Hyperreflexia
د تحریکونو او پارونو په وړاندې ځواب کې اختلال چې د له حد څخه د زیات رفلکسونو ښودنې له مخې پېژندل شی.

- Autonomic Hyperreflexia
په یرغلښ (حملوی) ډول د وینې د فشار زیادښت چې د [براډی کارډیا ، تعرق ،سرخوږی ، د پوستکی دچاودېدلې (دمثانې او ریکتوم د اتساع له کبله) او ضایقوی اعصابو د علوی برخې] د ضایعاتو سره یوځای وی.

- Detrusor Hyperreflexia
د مثانې د دیتروسور (Detrusor) عضلی انقباضی فعالیت زیادښت چې بولی بې واکی لامل ګرځی.

Hyperreninemia
په وینه کې د رینین (Renin) د کچې زیادښت چې دالدوسترونیزم او دوینې د فشار زیادښت لامل ګرځی.

Hyperresonance
د قرعې پر مهال د وضاحت (ریزونانس) زیادښت.

Hypersalivation
له حد څخه ډېره اندازه د لاړو (لیارو) افراز ته ویل شی.

Hypersarcosinemia
د (Sarcosinemia) په اندول.

Hypersecretion
له حد څخه ډېره اندازه د موادو افرازاتو شتون ته ویل شی.

Hypersensitive
د انتی جن په وړاندې د ډېر اندازې حساسیت شتون ته ویل شی. فرط حساسیت اړوند صفت.

Hypertension

فرط فشار ،د وینې لوړ فشار ، د وینې په بهیر کې د ببلابېلو لاملونو له کبله د فشار زیادښت، د (Hyperpiesia) په انډول.

- **Accelerated Hypertension**

د وینې د فشار پرمختلونکې زیادښت چې پرته د سترګې په غور کې د خبیثو وعائی فشاری تغیراتو سره مل وی.

- **Adrenal Hypertension**

د وینې د فشار یو ډول زیادښت چې د فوق الکلیوی غدې د ادینوم ځخه د کورټیکو سټروئید د افرازونکی تومور سره مل وی.

- **Borderline Hypertension**

د وینې د فشار یو ډول زیادښت چې په ځینو وختونو کې په نورمال محدوده او په ځینو وختونو کې له نارمل حد ځخه زیاتوالې لری.

- **Essential Hypertension**

اساسی ډول د وینې د فشار زیادښت چې د نورونارو غیو سره تړاو نلری.

- **Goldblatt Hypertension**

د وینې د فشار یو ډول زیادښت چې د (Goldblatt) پښتورګو له امله منځ ته راځی.

- **Idiopathic Hypertension**

نامعلومه (آیډیوپټیک) لامل له کبله د وینې دفشار زیادښت بلل شی.

- **Labile Hypertension**

د (Borderline Hypertension) پّه انډول.

- **Malignant Hypertension**

خبیث ډول د وینې دفشار زیادښت بلل شی.دا د د وینې دفشار شدید ډول زیادښت دئ چې (د حلیمې یا پاپیل اذیما، د سترګو دغور وعائی ضایعاتو ، شریانچو او کوچنیو شریانونو د بندبدلو، د کینې بطین ضخامه) ناوړه انذارو سره مل وی.

- **Ocular Hypertension**

د ګلوکوم د نښو نښانو شته والی ځخه پرته د سترګو د داخلی فشار مداوم زیادښت چې دغه وضعیت په ساده او مزمن ګلوکوم بدلېدلای شی.

- **Portal Hypertension**

دباب د ورید د وینې دفشار غېر نورماله بڼه زیادښت.

- **Pulmonary Hypertension**

دسږو (ریوی) د شریان د وینې دفشار غېر نورماله بڼه زیادښت.

- **Renal Hypertension**

دکلیوی شریان د وینې دفشار غېر نورماله بڼه زیادښت چې د پښتورګو نارو غیو او ضایعاتو سره مل وی.

- **Renovascular Hypertension**

دکلیوی ورید - شریان د وینې دفشار غېر نورماله بڼه زیادښت چې د پښتورګود رګونو د نارو غیو له امله منځ ته راځی.

- **Systemic Venous Hypertension**

د عمومی وریدی دموی فشار زیادښت چې د وداجی (جیګولار) وریدونو د برجسته کېدنې په لېدنې سره پېژندل شی.

Hypersensitivity

د هغه حالت په وراندې د حساسیت زیادښت چې په هغه کې بدن د باندینیو عواملو پّه (Allergic Substance) وراندې له حد ځخه په زیاتو پیمانه ایمیولوژیک ځواب ښیي.

- **Contact Hypersensitivity**

تماسی فرط حساسیت، د کېمیاوی موادو سره چې انتې جنی خواص ولری تر تماس وروسته شدېد غبرګون او حساسیت منځ ته راتګ.

- **Delayed Hypersensitivity**

ځنډنی (تأخیری) فرط حساسیت، د (T) حجرو پواسطه معافیتی حساسیتی ځواب چې د خانګړو انتې جنونو په ځواب کې په تدریجی او ځنډنی بڼه پیاوړتیا مومی لکه د پیوندونو په رد کولو سره د اوتو ایمیون ناروغیو کې لېدل کېږی.

- **Immediate Hypersensitivity**

سمدستی (فوری) فرط حساسیت ، دا ډول د انتې باډی په منځګړتیا سره د حساسیت زیادښت چې د چټک ډول حساسیت زیاتوالې چې د مسټ (Mast Cells) حجرو ځخه د کیمیاوی منځګړیو په آزادېدلو د [رګونو د نفوذیه قدرت په خاصیت د زیاتېدو ،اذیما ، د ښویه (صافو) عضلاتو انقباض] لامل ګرځی پېژندل کېږی پدې وضعیت کې د انافیلاکسی او اتوپی شته والې لری.

Hypersomnia

د خوب د اختلالاتو یوه ډله چې په (24) ساعتونو کې د خوب دکچې په زیاتوالې سره پېژندل شی.

Hypersomolence

د (Hypersomnia) په انډول.

Hypersplenism

د توري لویوالې ، طحالی ضخامه، هغه حالت چې پکې [د طحال (توری) پذریعه سږ کریوي په زیاته پیمانه ویجاړېږی یا د هیمولایتیک فعالیت زیادښت سره چې د محیطی وینې د حجروې عنصرونو د کمښت ، د هډوکو د ماغزو حجرو زیادښت] له کبله طحال لویوالې (ضخامه) مومی.

Hypersthenia

له حد ځخه په زیاته پیمانه عضلاتی توان او ټونیسیټی.

Hypersthenic

د (Hypersthenia) اړوند صفت.

Hypertelorism

د بدن د دوه غړو (Organs) یا دوه اندامونو (Parts) تر منځ ډېر واټن شتون بلل شی.

- **Ocular Hypertelorism**

د دوه سترګو تر منځ د فاصلې (واټن) زیاتوالې.

- **Orbital Hypertelorism**

د دوه سترګو تر منځ د فاصلې (واټن) زیاتوالې.

Hypertensive
هغه حالت چې د وینې دفشار په زیادښت سره پېژندل کېږي، د فرط فشار پېښونکې اړوند صفت.

- **Hypertensive Headache**
هغه سر درد چې د فرط فشار اړوند وی.

- **Hypertensive Retinopathy**
د فرط فشار له کبله د شبکې (رتینا) ناروغی او تغیراتو منځ ته راتګ ته ویل شی.

Hyperthecosis
د هګۍ ځالې (تخمدان) د سټروما طبقې د حجرو له حد څخه زیاته هایپر پلازی او لوټینایز کېدل.

Hyperthetia
د تی د څوکو شته والې.

Hyperthermalgesia
د تودوخې په وړاندې غېر نورمال حساسیت.

Hyperthermal
د (**Hyperthermia**) اړوند صفت ، د (**Hyperthermic**) په انډول.

Hyperthermia
له حد څخه زیات د تودوخې درجې زیادښت.

- **Malignant Hyperthermia**
خبیث ډول د تودوخې درجې زیادښت. دا یو ارثی اختلال دئ چې د عمومی انستېزی په حالت کې رابرسېره کېږی او د بدن تودوخې د درجې چټک او ناڅاپی زیادښت.

Hyperthymia
له حد څخه ډېره اندازه هیجان شته والې.

Hyperthymism
د ټایموس غدې له حد څخه ډېره اندازه فعالیت شته والې.

Hyperthyroid
د (**Hyperthyroidism**) اړوند صفت.

Hyperthyroidism
د ټایرایډ غدې له حد څخه ډېره زیاته اندازه هورمونی فعالیت شته والې چې د (بدن د اساسی میتابولیزم په زیادښت ، خولې کولو ، چټک د زړه ټکانونو، اتومات عصبی سیستم اختلال او د کراټین میتابولیزم د اختلال) نښو نښانو په مرسته پېژندل شی، د (**Thyrotoxicosis**) په انډول.

Hypertonia
عضلی شخې ،د اسکلیټي عضلاتو د توان او مقویت زیاتوالی حالت ،د غېر فعاله حرکتونو په وړاندې د عضلاتو د مقاومت زیادښت.

Hypertonic
د محلولونو اړوند چې د زیاتې اندازې اوزموټیک (**Higher Osmotic**) فشار څېښتن وی. هغه عضلاتو اړوند چې ډېره اندزه لوړ فشار او مقویت درلودونکې وی، د (**Hypertonia**) اړوند صفت.

Hypertonicity
د هایپرټونیک والي وضعیت لرونکې.

Hypertrichosis
د یو چا په بدن کې د ویښتانو له حد څخه زیاته وده کول.

Hypertriglyceridemia
د وینې بهیر د ترایګلایسرایدونو د سویې زیاته کچه شتون.

Hypertrophic
د ضخامې او پرسوب لرونکې ، د (**Hypertrophy**) اړوند صفت.

- **Hypertrophic Rhinitis**
هغه رینیت چې دپوزې د مخاطی غشأ پېړوالی او ضخامی سره مل وی.

Hypertrophy
ضخامه ، پرسوب، پېړوالې ، هایپرټروفی د یوه غړی یا یوې برخې اندام له حد څخه زیاته اندازه لوئېدنه چې پکې د حجرې اندازې (**Size**) اویا شمېر (**Number**) له پلوه زیاتوالې مومی .

- **Asymmetrical Hypertrophy**
غېر متناظر ضخامه ، دغه اصطلاح ځینې وخت د بین البطیني تېغه کې د موضعی ضخامې لپاره پکار وړله شی.

- **Ventricular Hypertrophy**
د زړه د بطین د میوکارډ عضلي ضخامه د وینې مزمن ډول لوړ فشار له امله منځ ته راځی.

Hypertropia
دا یو ډول سترابیسموس دئ چې په هغه کې د یوې سترګې د باصرې محور انحراف پورته لوري ته تلپاتې (دایمی) بڼه لری ، د (**Hypermetropia**) په انډول.

Hypertyrosenimia
د وینې د بهیر تایروزین غلظت د کچې له حده وتلې لوړوالې.

Hyperuricemia
د وینې د بهیر یوریک اسید غلظت د کچې له حده وتلې لوړوالې.

Hyperuricemic
د (**Hyperuricemia**) اړوند صفت.

Hypervalinemia
د امینواسیدونو د میتابولیزم د اختلال له امله چې په پازما

او متیازو کې د والین (Valine) د کچې زیاتولې منځ ته راځی.

Hyperventilate

ډېر چټک ډول سا اخیستل ، ډېره پیمانه تنفس.

Hyperventilation

د سږو (ریوی) تهویې غېر نارملتیا ډول زیادښت چې د کاربن ډای اکساید د فشار د کمښت او په اوږد مهال کې د الکلوزیس لامل ګرځی . چټک ډول تنفس د سرځرخی او تیتانی سره مل.

Hypervescosity

د وینې په څېر د د یوې مایع د لزوجیت (Vescosity) سرېښناکی. زیادښت ته ویل شی.

Hypervitaminosis

هغه حالت چې د ډېرې اندازې ویټامینونو یې دریغه خوراک او مصرف لکه (Vitamins A & D) له امله راپېښه ناروغی. ته ویل شی.

Hypervitaminotic

د (Hypervitaminosis) اړوند صفت.

Hypervolemia

په غېر نارمل بڼه د وینې د پلازما د حجم د کچې زیاتوالې بلل شی، د (Hypervolaemia) په انډول.

Hypesthesia

د (Hyposthesia) په انډول.

Hypha

د رشتوی چنیاسو د ایجادوونکو رشتو څخه یوه، هغه څانګې چې ځینې باکتریاوی یې د ودې پرمهال منځ ته راوړی

Hyphaema

د سترګو د قدامی چمبر (Chamber کوټه ګی) دننه وینه بهېدنه .

Hyphal

د (Hyphaema) اړوندصفت.

Hyphedonia

د خوند د حس کمښت.

Hyphemia

د (Hyphaema) په انډول.

Hyphedrosis

ډېر لږ اندازه خولې ، لږه پیمانه تعریق.

Hyphomycetes

رشتوی چنیاسې.

Hyphomycosis

د (Phaeophomcosis) او د (Hyalophyphomycosis) په انډول.

- Hyphomycosis Detruens Equi

د (Pythiosis) په انډول.

Hypn -

دا یومختاړی دئ او د خوب (Sleep) معنی بشپړوی.

Hypnogogue

په خوب پورې اړوند ، یا خوب راوستونکی درمل یا عامل.

Hypnalgia

د خوب پرمهال درد.

Hypno -

دا یو مختاړې دئ او د ویده یا بیده ، خوب ،استراحت او ارام معنی بشپړوی.

Hypnoanalysis

د روانی درملنې یوه طریقه ده چې د روانی در ملنې– خوب درملنې له پیوستون څخه په ګډه کار اخیستل شی.

Hypnodontics

د ستوماتولوژیکو درملنېزو طریقو په ترسره کولو چې د ویده کونکو –بېحسه کونکو طریقو څخه کار اخیستل شی.

Hypnogenic

خوبجن ، ویده کېدل ، خوب کول.

Hypnoid

د خوب دحالت په څېر، پرکالی ، خوب راوستونکو ته ورته.

Hypnolepsy

د (Narcolepsy) په انډول.

Hypnology

د خوب او ویده کېدنې اړوند څېړنو علم او پوهه ، هیپنوتیزم.

Hypnosis

① مصنوعي خوب منځ ته راوړل چې یو څوک وکړلای شی خپلې تېری پېښې په خاطر راوړی او هغه کس څه چې (Hypnotist) ورته وایی هغه تر سره او ومني، ② مصنوعی القأ شوې حالت چې د هغې په بهیر کې لارښوونو او امرونو په وړاندې تابعیت او او ځواب ورکولو کې زیادښت منځ ته راشی.

Hypnotherapist

هغه څوک چې خوب درملنه (Hypnotherapy) پذریعه درملنه تر سره کوی.

Hypnotherapy

د خوب او بېده کولو طریقې له مخې د یولړ ناروغیو لکه اعتیاد (Addictions) درملنه تر سره کول.

Hypnotic
د (Hypnosis/Hypnotism) اړوند صفت. د هغه درملو اړوند چې خوب راوړونکی وی، د (Hypnotik) په انډول.

Hypnotise
په هیپنوټیزم حالت کې د یوکس ساتل او هغه څه د (Hypnotist) له خوا ورته ویل شی هغه تر سره کړی. د هیپنوټیزم فعل تر سره کول، د (Hypnotize) په انډول.

Hypnotism
هغه کړنلاره او طریقه چې پرې هیپنوټیزم (Hypnosis) منځ ته راوستل شی.

Hypnotist
هغه ماهر یا متخصص چې هیپنوټیزم حالت په خلکو کې منځ ته راوړی. د هیپنوټیزم متخصص.

Hypnotize
په هیپنوټیزم حالت کې د یوکس ساتل او هغه څه د (Hypnotist) له خوا ورته ویل شی هغه تر سره کړی. د هیپنوټیزم فعل تر سره کول.

Hypo-
دا یو مختاړي دئ چې د (لږ ،کوچنی ، ټیټ،لاتدیني-Hyp) معنی بشپړوی.

Hypoacidity
د اسیدونو لږ اندازه شتون خصوصاً په معده کې.

Hypoacusis
د سامعوی حس ناچیزه کمښت.

Hypoadrenalism
د ادرینال (فوق الکلیوی) غدې د وظیفې کمښت لکه څه ډول چې د اډیسون په ناروغۍ کې لیدل شی.

Hypoadrenocorticism
د ادرینال (فوق الکلیوی) غدې د قشری برخې وظیفې کمښت.

Hypoaesthesia
هغه حالت چې پکې بعضې کسان د تماس په وړاندې د حسیت کمښت منځ ته راځی.

Hypoalbuminosis
د البومین دمقدار غیر نارمل کمښت.

Hypoalimentation
ناکافی تغذیه.

Hypoallergenic
د الرجی یا حساسیت منځ ته راوړونکی لامل کمښت اړوند صفت.

Hypoallergic
د الرجی یا حساسیت کمښت اړوند صفت ، د (Hypoallergenic) په انډول.

Hypoalfalipoproteinemia
په وینه کې د (HDL) نوعیت لرونکی د الفا لایپو پروتین ټیټه کچه شتون. د تانجیل (Tangier) ناروغی په انډول.

Hypoazoturia
په متیازو کې د نایتروجن (Azot) موادو کمښت.

Hypobaric
د نارمل کچې په پرتله د یوه شی د وزن یا فشار کمښت دغه نومونه د هغه ګازونو په اړه چې د اتموسفیر له فشار څخه کم فشار لری کارپږی.

Hypobarism
هغه حالت چې د بدن د داخلي فشار په پرتله د اتموسفیریک هوا د فشار د کمښت له کبله منځ ته راځی.

Hypobaropathy
په لوړو ارتفاع ګانو کې په هستوګنه پورې اړوند اختلالات چې د هوا د فشار د کمښت له کبله منځ ته راځی.

Hypoblast
د انډو درم رشېمی پریکارسور حجره.

Hypoblastic
د (Hypoblast) اړوند صفت.

Hypocalcemia
د وینې د سپروم د کلسیوم عنصر د کچې کمښت له نورمال کچې څخه چې د (عمقی تېندونی رفلکسونو د شدت په زیادښت ، دشاک دنښې ، عضلاتی کرمپونو او کارپو پدال سپزم) له مخې پېژندل شی ، د (Hypocalcaemia) په انډول.

Hypocalcaemic
د (Hypocalcaemia) اړوند صفت.

Hypocapnia
په وینه کې د (CO_2) کاربن ډای اکسایډ د کچې کمښت.

Hypocapnic
د (Hypocapnia) اړوند صفت.

Hypocarbia
د (Hypocapnia) په انډول.

Hypochloremia
په وینه کې د (Chlorine Ions) کلورین آیون د کچې کمښت، د (Hypochloraemia) په انډول.

یوه د دوه هایپوکاندریوم سیمو څخه چې د ګېډې په پورتنۍ برخه کې پرته ده .

Hypochromasia

له نورمال حالت څخه د کم رنګ درلودل ، د نارمل کچې په پرتله د سرو کریواتو د هیموګلوبین د کچې کمښت او په نتیجه کې د هغوی د رنګ الوتنه.

Hypochromatic

د (Hypochromasia) اړوند صفت.

Hypochromatism

د حجرې په هسته کې د کروماتین یا رنګه موادو کمښت .

Hypochromatosis

د حجروی هستې تدریجی ورکېدل او اصلاح .

Hypochromia

د (Hypochromatism) او (Hypochromasia) په اندول.

Hypochromic

د (Hypochromia) اړوند صفت . د وینې د هغې حجرې یا بدن نسج اړوند چې معمولاً لږ اندازه صباغ (Pigmentation) جذب کوی لکه د (Hypochromic Scars) په څېر.

- Hypochromic Anaemia

د هایپوکرومیک ډول وینه لرې (انیمیا) .چې پکې (Haemoglobin) کمښت مومي او سرې کریوې هم رنګ اوتې ښکاری

Hypocomplementia

په وینه کې د کمپلمنټ سیستم د اجزاؤ کمښت ته ویل شی.

Hypocorticism

د هایپو ادرینوکورټیسیزم په اندول .

Hypocyclosis

دسترګو نا کافی تطابق.

Hypocythemia

په وینه کې د سروکریواتو دشمېرکمښت.

Hypodermiasis

په انسانانو او غوایانو کې د دپوستکی د دانو ناروغی چې د (Hypoderma) د حشرې دلاروا په واسطه منځ ته راځی.

Hypodermic

تر پوستکی لاندې واقع شوې تزریق او پېچکاری کول.

- Hypodermic Injection

تر پوستکی لاندې د درملو پېچکاری یا زرق کول، د (Subcutaneous Injection) په اندول.

- Hypodermic Needle

تر پوستکی لاندې واقع شوې تزریق لپاره ستن.

Hypochloremic

د (Hypochloraemia) اړوند صفت.

Hypochlorhydria

د معدې د عصارې د کلوریک اسید کمښت یا نشتوالې .

Hypochlorite

د هایپوکلورس اسید هر ډول مالګه چې د انتی سپټیک مادې پتوګه پکار وړل شی.

Hypochlorization

په غذائي رژیم کې د خوړو مالګې (Nacl) د کچې کمښت.

Hypochlorous Acid

یو ناثابت مرکب چې د میکروب او انتان ضد اغېزې لری.

Hypocholestremia

د وینې د سېروم د کولسترول د کچې ټیټه اندازه.

Hypocholestremic

د (Hypocholestremia) اړوند صفت.

Hypocholestrolemia

دغه (Hypocholestremia) اصطلاح په اندول ده او د وینې د سېروم د کولسترول د کچې ټیټه اندازه.

Hypocholestrolemic

د (Hypocholestrolemia) اړوند صفت.

Hypochondria

دهایپوکاندریوم (Hypochondrium) په کلمې ګڼ شمېر ده ده ، او د (Hypochondriasis) په اندول. همدارنګه هغه حالت چې یو څوک د خپل ځان د روغتیا په هکله تشویش ولری او داسې انګېری چې هغه ناروغه دی.

Hypochondriac

د (Hypochondria) اړوند صفت .

- Hypochondriac Region

د هایپوکاندریوم سیمې (ناحیې) اړوند چې د ګېډې پورتنۍ او اپیګاستریوم (Epigastrium) دواړه اړخونو ته تر پښتیو لاندې پرته سیمه ده.

Hypochondriacal

د (Hypochondria) اړوند صفت .

Hypochondriasis

په (Hypochondria) باندې اخته کېدنه ، د هغه چا د سلامتیا په اړه مرضی اضطراب چې مختلفی نښې نښانې چې په مختلفو غړو پورې تړاو لری پېژندل کېږی.

Hypochondrium

- Hypodermic Syringe
داسې یو ستنه لرونکې سورینج (Syringe) چې پکې د تحت الجلدی تزریق اړوند درمل ځای پرځای وی او په تاکلې موده کې هغه تطبیق کېږی.

Hypodermis
تحت الجلد نسج، غېرفقاریه حیواناتو د بدن تر پوستکی لاندینی طبقه چې کورتیکولار خارجي اسکلیت جوړوی.

Hypodermoclysis
تر پوستکی لاندې د دمایع ترزیق.

Hypodipsia
د تندې د حس د غېر نورمال کمښت.

Hypodontia
د (Partial Anodentia) په انډول.

Hypodynamia
د توان او قوت غېر نارمل کمښت.

Hypodynamic
د (Hypodynamia) اړوند صفت.

Hypoeccrisia
د ترشح یا تعرق د کچې غېر نارمل کمښت.

Hypoeccritic
د (Hypoeccrisia) اړوند صفت. په سونوګرافی کې د لړاکودرلودل ، دغه اصطلاح

Hypoechoic
په سونوګرافی کې د لړه کو درلودل، دغه اصطلاح دهغه نسجونو یا جوړښتونو په اړه کارېږی چې لږ اولتراسونو ګرافیک وړانګې له ځان څخه تېروی.

Hypoergia
د حساسیت پېښوونکی موادو په وړاندې د حساسیت کمښت.

Hypoergic
د (Hypoergia) اړوند صفت.

Hypoesophoria
کښته او دننه (داخل) لوري ته د باصري محور انحراف منځ ته راتګ.

Hypoesthesia
د لامسې د حس او یا په عمومی ډول د حساسیت غېر نارمل کمښت.

Hypoesthetic
د (Hypoesthesia) اړوند صفت.

Hypoexophoria
کښته او بهر (خارج) لوري ته د باصري محور انحراف منځ ته راتګ.

Hypoferremia
په وینه کې د اوسپنې د سویې کمښت.

Hypofertile
د (Hypofertility) اړوند صفت.

Hypofertility
د تکثری (زېږندې) اړوند فعالیت د توان کمښت.

Hypofibrinogenaemia
د وینې د فبرینوجن(Fibrinogen) د کچې کمښت چې ارثی یا ډېرې کچې وینې ترانفیوژن له امله منځ ته راځی،

Hypogalactia
د شېدود افراز کمښت.

Hypogalactous
د (Hypogalactia) اړوند صفت.

Hypogammaglobulinaemia
هغه حالت چې یو ډول د معافیتی سیستم نیمګړتیا د ټولو ګاماګلوبولینونو په کمښت او د انتان په وړاندې د مستعد والی له کبله کېږي .دغه عارضه ارثی یا اکتسابی کېدای شی او حتی کېدلای شی په فزیولوژیک ډول راپېښېدونکی چې پدې صورت کېد تېرېدونکې نوعیت ځښتن شمېرل کېږی.

- Common Variable Hypogammaglobulinaemia
د (Immune Deficiency) په انډول.

Hypogammaglobulinaemic
د (Hypogammaglobulinaemia) اړوند صفت.

Hypoganglionosis
د غټو کولمو په ډېستال برخه کې د معاېې ګانګلیونونو د حجرو د شمېر کمښت چې د قبضیت لامل ګرځی او د ولادي مېګاکولون یو ډول بلل شی.

Hypogastrium
خصلی برخه ، د سپوغزې (عانې) برخه چې د ګېډې تر ټولو ټیټه (ښکتنی) برخه ګڼله کېږی. د اناټومیک وېشنې پر بنسټ تر معدې لاندې واقع برخه.

Hypogastroschisis
د هایپوګاستریک برخې ولادی درز. خصلی ولادی فیسور.

Hypogenesis
د رشیمې ودې (تکامل) په پروسه کې نیمګړتیا ته ویل شی. په حیات رحمی دوران کې دجنین لړه اندازه وده موندنه .

Hypogenetic
د (Hypogenesis) اړوند صفت.

Hypogenitalism
د تناسلي غړو لړه اندازه وده موندل، د (Hypogonadism) په انډول.

Hypogeussthesia
د (Hypogeusia) په انډول.

Hypogeusia
د خوند (ذایقوی) حس غیر نارمل ډول کمښت.

Hypoglossal
تر ژبې لاندې برخې اړوندصفت،د (Hypoglossal Nerve) ژبې لاندې عصب اړوندصفت.

- Hypoglossal Nerve
د تر ژبې لاندې عصب چې د دوولسم قحفی زوج چې د ژبې عضلې تعصیب پر غاړه لری.

Hypoglucagonemia
په وینه کې د ګلوکاګون هورمون د سوپې تېټه کچه بلل شی.

Hypoglycemia
د وینې په سېروم کې د شکرې (Glucose) د سوپې تېټه کچه بلل شی.چې پکې (بدن دتودوخې درجې کمښت ، سردردی ، ګنګسټیا او ځینې وخت کوما) حالت منځ ته راځی، د (Hypoglycaemia) په انډول.

Hypoglycemic
د (Hypoglycaemia) اړوند صفت.

- Hypoglycemic Coma
هغه کوما یا بېهوښی (لاشعوری) حالت چې د (Hypoglycaemia) له کبله منځ ته راځی او کله چې د شکرې ضد درمل لکه (Insulin) په لوړ ډوز مصرف یا وخوړل شی منځ ته راتلای شی.

Hypoglycorrhachia
په غیر نارمل ډول سره د دماغی –نخاعی مایع د ګلوکوز د سوپې تېټه کچه ګڼل شی.

Hypogonadism
د ودې هورمون د کمښت له امله د جنسی غړو (غدواتو) د تکامل نیمګړې ته ویل شی چې پکې ګونادو نه (مرغېړې یا هګۍ خالې او بهرنې غړی) بشپړه وده نکوی او جنسی فعالیت کمښت لری.

Hypogonadotropic
د ګونادوتروپیک هورمون کمښت ایجادوونکې یا په هغه پورې اړوند حالت بلل شی.

Hypohidrosis
د خولې (تعرق) افراز غېرنارمل کمښت.لړه اندازه خولې کول، د (Hypoidrosis) په انډول.

Hypohidrotic
د (Hypoidrosis) اړوند صفت.

Hypoinsulinism
د پانکراص غدې د لاتګرهانس حجرو د اختلال له امله د انسولین هورمون د کافی اندازی نشتوالې په بدن کې بلل شی بدن د ګلوکوز د استقلاب لپاره اړینه اندازه انسولین نلری.

Hypokalaemia
د (Hypokalemia) په انډول.

Hypokalemia
د وینې په سېروم کې د پوتاسیوم غیر نارمل کچې تیتوالې بلل شی چې عصبی –عضلاتی او کلیوی اختلال لامل ګرځی په زړه ګراف کې اړوند غیر نارمل حالت تثبیت کېږی او ورته په انډول توګه (Hypopotassemia) هم ویل شی، د (Hypokalaemia) په انډول.

Hypokalemic
د (Hypokalaemia) اړوند صفت.

Hypokinesia
د د حرکتی فعالیت یا خوځښت او دندې غیر نارمل کمښت

Hypokinetic
د (Hypokinesia) اړوند صفت .

Hypolactasia
په کولمو کې د لکتېز (Lactase) انزایم فعالیت کمښت بلل شی.

Hypoleydigism
د لایډیګ (Leydig) حجرو په واسطه د اندروجنونو د افراز د کچې غیر نارمل کمښت ته وایي.

Hypolipidemia
د وینې په سېروم کې د شحمیاتو (وازدو) غیر نارمل کمښت ته وایي.

Hypolipidemic
د (Hypolipidemia) اړوند صفت . هغه عامل یا فکتور اړوند چې د وینې په سېروم کې د شحمیاتو (وازدو) غیر نارمل

Hyponatremia

د وینې په سېروم کې د سوډیم (Sodium) عنصر غېر نارمل کچې کمښت ، د (Hyponatraemia) په انډول.

Hyponeocytosis

په محیطی وینه کې سپینو کر یواتواومه (نابالغه) حجرو سره مل د دسپینو کریواتو د کچې کمښت ته ویل شی.

Hyponychial

د (Hyponychium) اړوند صفت.

Hyponychium

د نوک د دیستال نهایت لاندې پنډ شوې اپیدرم.

Hypo-Ortho-Cytosis

د سم تناسب له پاللو سره یوځای د وینې د سپینوکریواتو کمښت ته ویل شی.

Hypoparathyroidism

هایپو پاراتایرایډیزم ، د پاراتایرایډ غدې دفعالیت دکچې کمښت دې چې د جراحی پواسطه د غدې ویستلو ،شدید ډول د دندې نیمګړتیا په اثر ایجادیږی (عضلی شدید سپزم او هایپوکلسیمیا) حالاتو شتون په مرسته د پېژندلو وړ ګرځی.

Hypoperfusion

د پرفیوژن لږېدنه ، د یوه غړی لوړې ته د وینې د بهیر کمښت لکه په (شاک) کې چې حیاتی غړو ته وینه کمښت مومی او غړی ښه کار نه کوی او دمرګ لامل ګرځی.

Hypopharynx

د (Laryngopharynx) په انډول. د بلعوم (Pharynx) هغه برخه ده چې د (Hyoid Bone) او (Cricoid Cartilage) تر منځ پرته ده ګڼ شمېر یې (Hypopharynxes Or Hypopharynges) بلل شی.

Hypophonesis

د اصغأ یا قرعې پر مهال د غږ د کچې کمښت.

Hypophonia

د صوتی عضلاتو د نه تطابق څخه زېږنده د غږ کمزوری او تیټوالی حالت ته ویل شی.

Hypophoria

کښته لوړې ته د باصرې د تحریک له شته والی پرته د یوې سترګې د باصری محور کوږوالی او انحراف.

Hypophosphatasia

په میتابولیزم کې د یو ولادي اختلال چې د الکان فاسفتیز انزایم د فعالیت یا سېرومی کچې د غېر نارمل کمښت او د فاسفیتو ایتانول امین په بولی اطراح سره پېژندل شی.

کمښت منځ ته راوړی.

Hypomagnesemia

د وینې په سېروم کې د مګنیزیوم عنصر غېر نارمل کمښت ته وایې چې د عصبی عضلی پارونې په مرسته پېژندل شی.

Hypomania

د تیټې یا متوسط کچې مانیا (Mania) حالت ته ویل شی چې پکې ډېره اندازه هیجانی کېدل منځ ته راځي چې د (Manic-Depressive Cycle) یوه برخه بلل شی.

Hypomanic

د (Hypomania) اړوند صفت.

Hypomenorrhoea

د ښځود میاشتنې عادت وینې بهېدنې یا (حیض) د تولید او کچې کمښت ته ویل شی.

Hypomer

① د یوه مایوټوم جانبی – بطني بر خه چې د یوه نخاعی عصب د منځنۍ څانګې په مرسته تعصیب کېږی .② د مېزودرم جانبی پاڼه کې چې د بدن د جدارونو داخلی لورې ته رخنه (لاره) پیدا کړی.

Hypometria

یو ډول اټاکسیا چې په هغه کې د یوه شی تر لاسه کوونې لپاره د حرکتونو لمن د اړین کچې په پرته کوچنۍ کوی.

Hypometropia

د (Myopia) په انډول. هغه حالت چې پکې دنېږدې لیدنې وړتیا کمښت مومی.

Hypomnesis

په حافظه کې نیمګړتیا.

Hypomorph

① هغه کس چې په ولاړ حالت کې د ناست په پرتله کوچنۍ ښکاری ، ② په جنیتیک پوهنه کې یو میو تیشن شوي جین(Gene) چې په نسبی نیمګړتیا اخته وی .

Hypomorphic

د (Hypomorph) اړوند صفت.

Hypomyxia

د مخاط (Mucous) د افراز د کچې کمښت ته ویل شی.

Hyponasality

د غږ هغه کیفیت چې په هغه کې د پوزې له لارې د هوا د خپرېدنې په بشپړ ډول له منځه تللی وی او شخص د خبرو کولو پرمهال زکام نیولې په څېر غږ وباسی. په پوزه کې بوګنېدل.

Hypophosphatemia
د وینې په سېروم کې د فاسفېټونو د کچې کمښت لکه په راشیټیزم او اوستیوملاسیا کې لیدل شی.

- **Familial Hypophosphatemia**
فامیلی ډول هایپوفاسفیتیمیا لکه رکتس کې.

- **X-Linked Hypophosphatemia**
د فامیلی ډول هایپوفاسفیتیمیک راشیتیزم یو ډول.

Hypophosphatemic
د (هایپوفاسفیتیمیا) اړوند صفت.

Hypophosphorous Acid
د فاسفورس اسید د کچې کمښت دې چې دغه یو زهرجن او ببزی اسید چې پیاوړې ارجاع کوونکی خواص لری چې فورمول یې (H_3PO_2) دئ دغه اسید د هایپو فاسفېدونو څخه په لاس راځی.

Hypophrenia
ذهنی وروسته پاتې والي.

Hypophrenic
د (**Hypophrenia**) اړوند صفت.

Hypophyseal
د هایپوفېز (**Pituitary Gland**) اړوند صفت.

- **Hypophyseal Cerebri**
د هایپوفېز غده.

- **Hypophyseal Gland**
د هایپوفېز غده.

- **Pharyngeal Hypophyseal**
د بلعوم په جدار کې یوه کتله چې د هایپوفېز غدې په څېر جوړښت لری.

- **Hypophyseal Secration**
د هایپوفېز غدې افرازاتو ته ویل شی.

- **Hypophyseal Stalk**
دا قیف ته ورته (**Funnel-Shaped**) ډنډر (ساقه **Stem**) ده چې د (**Pituitary Gland**) غده د (**Hypothalamus**) سره نښلوی.

Hypophyseoportal
د باب او هایپوفېز اړوند ،دغه اصطلاح د هایپوفیز غده کې د د باب ورید سیستم دموی بهیر ښوونه کوی پدې سیستم کې د هایپوتلاموسی ورید چې د هایپوفیز د غدې د منځنی برخې له شعریوی رګونو سره تړاو لری.

Hypophyseoprivic
دهایپوفېز غدې هورمونو نو د افراز په کمښت پورې اړوند.

Hypophysis
نخامیه غده ، هایپوفېز غده ، د (**Pituitary Gland**) په انډول.

- **Hypophysis Cerebri**
دماغی هایپوفېز غده ، د (**Pituitary Gland**) په انډول.

- **Pharyngeal Hypophysis**
د بلعوم په جدار کې یوه کتله چې د هایپوفېز غدې په څېر جوړښت لری.

Hypopiesis
د فشار ډېره کچه ټیټوالي ، په غېر نورماله توګه د وینې د فشار رالوېدنه بلل شی.

Hypopietic
د (**Hypopiesis**) اړوند صفت.

Hypopituitarism
دهایپوفېز غدې (**Pituitary Gland**) هورمونو نو د غدې د منځنی لوب د فعالیت او افراز په کمښت پورې اړوند.

Hypoplasia
هایپوپلازیا ، د یوه غړی دانساجو د ودې ناسمه او لږه کچه وده او غېر نارمل جوړېدنې ته ویل شی. د یوه غړی نیمګړې وده.

- **Enamel Hypoplasia**
دغابښ د اینامل برخې نیمګړې وده چې ارثی او اکتسابی کېدلای شی.

- **Oligomeganephronic Renal Hypoplasia**
د (**Oligomeganephronia**) په انډول.

Hypoplastic
د (**Hypoplasia**) اړوند صفت.

- **Hypoplastic Left Heart**
د کین زړه شدید ډول هایپوپلاستیک د ودې اختلال چې په شپږ اونیو کې پرته له جراحی درملنې د مرګ لامل ګرځي.

Hypopnoea
د تنفس د شمېر او او ژور والی غېر نارمل کمښت.

Hypopnoeic
د (**Hypopnoea**) اړوند صفت.

Hypoporosis
د هډوکی ترماتېدو وروسته د کالوس په جوړېدنې کې نیمګړتیا.

Hypopotassemia
د وینې د سېروم د پوتاسیوم د سویې غېر نورمال ټیټوالي.

Hypoproteinaemia
د وینې د سېروم د پروټینونو د کچې غېر نورمال ټیټوالي.

Hypoprosody
د خبرو کولو د (ریتم ،لوړوالی او فشار) کمښت.

Hypoprothrombinaemia
د وینې د سېروم د پروترومبینونو(**Prothrombin**) د کچې غېر نورمال تیټوالې چې د وینې بهېدنې لامل ګرځي.

Hypopselaphesia
د لامسې د حس پخېدنه ، دلامسې د حسیت کمښت.

Hypoptylism
د لاړو د افراز د کچې غېر نورمال کمښت.

Hypopyon
د سترګو په منځنۍ کورګوټۍ(**Aqueous Humour**) کې د خیرې (قیح) راټولېدنه.

Hyposalivation
د لاړو د افراز د کچې غېر نورمال کمښت.

Hyposecration
د افراز د کچې غېر نورمال کمښت.

Hyposensitise
د حساسیت په درملنه کې د یو چا دحساسیت د کچې راتیټولو کړنلارې ته ویل شی، د (**Hyposensitiz**) په انډول.

Hyposensitive
د معمول څخه دحساسیت غېر نارمل لړوالې او کمښت، لږ حساسه بڼه درلودل.

Hyposensitivity
د الرجنونو (**Allergens**) پذریعه د تنبه (**Stimuli**) په وړاندې د حساسیت د کچې تیټوالی بلل شی.

Hyposmia
د شاموی حس د شدت کمښت.

Hyposomatotropism
د ودې د هورمون (سوماتوتروپین) د افراز کمښت چې د ونې لنډوالی اوتیټوالی لامل ګرځي.

Hyposomnia
د خوب د وخت کمښت.

Hypospadias
هایپوسپدیاز ،دا د احلیل یو ډول ولادی نیمګړتیا ده چې پکې د احلیل بهرنۍ خوله په خپل ځای کې نه وازېږی او بې ځایه په لنډه فاصله کې د قضیب په بطنی وجه کې وازېږی.

- Coronal Hypospadias
د قضیب د کرونا برخې هایپوسپدیاز .

- Glanular Hypospadias
د قضیب د ګلانس برخې هایپوسپدیاز .

- Female Hypospadias
د ښځینه ډول هایپوسپدیاز .

- Penile Mid Shaft Hypospadias
د قضیب د منځنۍ برخې هایپوسپدیاز .

- Perineal Hypospadias
د عجان د برخې هایپوسپدیاز .

- Scrotal Hypospadias
د خوټلنګ (سفن) برخې هایپوسپدیاز .

Hyposplenism
د طحال د فعالیت کمښت چې چې د محیطی وینې د حجروی عنصرونو د کمښت لامل ګرځي .

Hypostasis
د بدن په یوه غړی یا هډ کې د ناڅیزه وینې بهیر.

Hypostatic
د (**Hypostasis**) هایپوستازس اړوند صفت. د غېر نارمل ثبات وضعیت ته ویل شی.

- Hypostatic Eczema
هغه اکزیما چې هایپوستاتیک یا وریکوز اړوند وی، د (**Varicose Eczema**) په انډول.

- Hypostatic Pneumonia
هغه پنومونیا(سینه بغل) چې هایپوستاتیک او د اوږدې مودې بستر او زړه کارکړنې کمزورتیا اړوند وی.

Hyposthenia
د بدن غېر معمول ضعیفتیا ، کمزوری ، ناتوانی.

Hypostypsis
د منځنی شدت لرونکې قبضیت .

Hypostypic
د (**Hypostypsis**) اړوند صفت.

Hyposynergia
د (**Dyssynergia**) په انډول . د ساینرجیزم نشتوالې لکه د بدن د دوه غړو یا دوه درملو ترمنځ د تقویوی بڼې نشتوالې .

Hypotelorism
د بدن د دوه غړو(هډونو) یا دوه اړخونو ترمنځ د واټن غېر نارمل کمښت ته ویل شی.

- Ocular Hypotelorism
د دوه سترګو ترمنځ د واټن غېر نارمل کمښت ته ویل شی.

Hypotension
تفریط فشار ، د وینې د فشار تیټوالې او غېر نورمال کمښت.

Hypotensive
د د وینې د فشار تیټوالې اړوند حالت درلودونکې بلل شی.

Hypothalamic

د (Hypothalamus) اړوند صفت.

- **Hypothalamic Hormone**

د هایپوتلاموس هورمون د (Releasing Hormone) په څېر ، د (Hormone Releasing) په انډول.

Hypothalamus

هایپوتلاموس د دماغ د ډیانسفلون هغه برخه چې د (Pituitary Gland) لپاسه واقع او د درېیم بطین د جانبی جدار غولي او یوه برخه جوړوی او نخامیې غدي (Pituitary Gland) هورمونونو تولېد او د بدن مهمې دندې لکه (لوږه ، تنده، خوب) تنظیم کوی ګڼه شمېره یې (Hypothalmi Or Hypothalamuses) بلل شی ، د (Hypothalmus) په انډول.

Hypothenar

①د لاس ورغوي د اولنار څنډې غوښنه راوتلتیاد کوچنی ګوتې ترڅنګ .② هر هغه شئ چې پدې راوتلتیا پورې تړلې وی.

- **Hypothenar Eminence**

د لاس ورغوي د اولنار څنډې غوښنه راوتلتیاد کوچنی ګوتې ترڅنګ غونډارې کتله ائیزه برخه.

Hypothermal

د (Hypothermia) اړوند صفت.

Hypothermia

هایپوترمی ، د نورمال کچې څخه د بدن د تودوخې کمښت په طبی استعمال کې کله چې دا درجه (35°C) څخه راټیټه شی دا د (اوبو ، سړې هوا) سره چې د بدن د میتابولیزم او په نتیجه کې اکسیجن ته اړتیا کموی د مخامخ کېدو په اثر د بدن د تودوخې درجه ټیټوالې مومی.

Hypothermic

د (Hypothermia) اړوند صفت.څوک چې د هایپوترمی لاندې وي په فزیکی کتنه کې دهغه څوک چې د مقعدی تودوخې درجه یوازې (29.4°C) وی بلل شی.

- **Hypothermic Perfusion**

تر هایپوترمی شرایطو لاندې پرفیوژن دا اصطلاح هغه مهال پکار یږی چې د (Donor Organ) پداسې محلول کې وساتل شی چې ټیټه درجه د تودوخی ولری ساتل کېږی.

Hypothesis

یوه فرضیه چې د مختلفو پروسو په اړه توضیحات وړاندې کړی چې دغه چاره ددلیلونواو تجربو پر بنسټ ولاړه وي ترڅو نور اصلاحات پکې راوستل شی.

- **Biogenic Amine Hypothesis**

یوه فرضیه چې دستړیا او پرکالی د کاتکول امینونو په خانګړې ډول نار اپې نفرین له کمښت سره یوځای بولی دغه ماده د ماغزو کې خانګړې دندې لرونکې آخذې لری چې نشتوالې په ماغزو کې د امینواسیدونو لامل ګرځی.

- **Jelly Roll Hypothesis**

یوه فرضیه چې د اعصابو د میالین جوړېدو څرنګوالې بیانوی.

- **Lattice Hypothesis**

یوه فرضیه چې د انتی جن او انتی باډی ترمنځ تعادل د ترسره کېدو ډول بیانوی.

- **Lyon Hypothesis**

یوه فرضیه چې د رشیمی بشپړتیا په هره یوه مرحله کې د تي لرونکو په حجروکې د یوه (X) کروموزوم ناڅاپی او ثابت غېر فعال کېدنه په مونث جنس کې د پلرنی او مورنی (X) کروموزومونو د موزائېزم لامل ګرځی .

- **One Gen –One Polypeptide Chain Hypothesis**

یوه فرضیه ده چې له مخې یې د (Dna) هره جنسی لړۍ د یوه پولیپیپټایدی څنځیر د تولید لپاره څانګړې شوې وی.

- **Response –To –Injury Hypothesis**

ددې فرضیې له مخې د شریان دننه صفیحات جوړېدلو پروسه د شریان د دیوال (جدار) د پوښونکو اندوتیلیائي کړنلارې د اختلال لامل ګرځی پیل کېږی.

- **Sliding –Filament Hypothesis**

یوه فرضیه ده چې له مخې په هر عضلاتی فایبر باندې کشش د ګاونډیو عضلاتی واحدونو تر منځ د پلونو له لارې ټوله عضله تثبیت کېږی.

- **Wobble Hypothesis**

یوه فرضیه چې د (DNA) پواسطه د مختلفو کوډونو د ژباړې او د RNA (m) د جوړښت څرنګوالې بیانوی .

Hypothemia

د هیجانونو غېر نارمل کمښت.

Hypothemism

دتایموس د غدې د فعالیت کمښت.

Hypothyroid

د هایپوتایرایدیزم اړوند صفت.

Hypothyroidism

دتایرایډ د غدې د فعالیت کمښت چې په کاهل کسانو کې د (میتابولیزم د کچې د کمښت ، ستړیا او کمزوتیا) په مټه پېژندل کېږی .

Hypotonia

د مقویت لږوالې ، د اسکلیټي عضلاتو دقوت او زور (Tone) کمښت .

Hypotonic
د (Hypotonia) اړوند صفت . هغه محلول چې د هغه اوزموټیک فشار (Osmotic Pressure) تر پلازما ټیټ ټاکل شوې وی.

- **Hypotonic Solution**
هایپوټونیک محلول .

- **Hypotonic Muscles**
د اسکلیټي عضلاتو دقوت او زور (Tone) کمښت اړوند .

Hypotrichosis
له نورمال کچې څخه په کم مقدار کې د ویښتانو شته والې ګڼ شمیر بڼې ته یې (Hypotrichoses) ویل شی.

Hypotrophy
د (Abistriphy) په انډول .

Hypotropia
یو ډول دسترګو کوږوالې(Squint) چې پکې د یوې سترګې د باصری محور ښکته لورې ته انحراف ولری.

Hypotympanotomy
د جراحی په مرسته د هایپوتیمپانوم جوف پرانیستل.

Hypotympanum
په صدغی هډوکی کې دمنځنی غوږ د جوف لاندینی برخه.

Hypouricemia
د وینې په سېروم کې د یوریک اسید د کچې کمښت چې په متیازو کې د ګزانټیین له زیادښت سره مل وی.

Hypoventilation
د تنفس د کچې د شمېر اندازې غېر نورمال کمښت ، دسږو هوائی کڅوړو ته د ننوتل کېدونکې هوا د کچې کمښت.

- **Primary Alveolar Hypoventilation**
دتنفسی فعالیت په اتومات کنترو کې ستونزه چې د خوب پرمهال د اپنې لامل ګرځی.

Hypovitaminosis
په بدن کې د ویټامینونو کمښت .

Hypovolemia
د حجم کمښت ، په بدنی پلازما (دورانی مایع) کې د حجم غېر نارمل کمښت.

Hypovolemic
د (Hypovolemia) اړوند صفت

Hypovolia
د اوبو یا مایع د حجم کمښت د ببلګې په توګه د خارج الحجروی مایع اړوند.

Hypoxaemia
د شریانی وینې د اوکسیجن اخیستنې د کچې کمښت، د (Hypoxemia) په انډول.

Hypoxaemic
د (Hypoxemia) اړوند صفت.

Hypoxanthine
یو پیورینی بېز چې د پیورینونو او پیورینې نوکلیوزیدونو د تخریب او د یوریک اسید د تولید پروسه کې یوه منځګړې ماده شمېرل کېږی له رایبوز سره ددې مادې پیوستون اینوزین نومېږی.

- **Hypoxanthine Phosphoribosyl Transferase**
دا یوانزایم دئ چې له رایبوز سره ددې مادې پیوستون څخه اینوزین جوړولو کې رول لری لنډه نښه یې (HPRT) ده.

Hypoxemia
د شریانی وینې د اوکسیجن اخیستنې د کچې کمښت.

Hypoxemic
د (Hypoxemia) اړوند صفت.

Hypoxia
هایپوکسیا ، په شریانی وینه د اوکسیجن د سویې کمښت چې نسجونو ته په کمه کچه وینه رسول کېږی ، د (Hypoxaemia) په انډول.

- **Anemic Hypoxia**
د هیموګلوبین د کمښت له امله د وینې د اوکسیجن سویه ټیټوالې مومی یا هر ډول وینه لرې چې د هایپوکسیا لامل شی.

- **Histotoxic Hypoxia**
یو ډول هایپوکسیا چې د نسجونو پواسطه د اکسیجن په مصرفونو کې د ستونزې له کبله منځ ته راځی.

- **Hypoxic Hypoxia**
یو ډول هایپوکسیا چې وینې ته د اکسیجن رسېدونکی کچې د کمښت د ستونزې له کبله منځ ته راځی.

- **Stagnant Hypoxia**
یو ډول هایپوکسیا چې د وینې د ناکافی بهیرموندنې د اکسیجن دناکافی لېږد د ستونزې له کبله منځ ته راځی.

Hypoxic
د (Hypoxia) اړوند صفت .

Hypokinesis
ه ولاړې حالت کې په شا لوېدل چې په فلج وهلو کسانو کې ، د ویلسون په ناروغانو او ورته حالتونو کې لیدل شی.

Hyster-

دا یو مختاړي دئ او دځلانځي (رم-Hystero) معنی بشپړوی

Hysteralgia

د رحم درد (Uterus Pain)ته ویل شی.

Hysterectomy

د رحم غوڅولو او راویستلو ته د جراحي په واسطه ویل شی چې د کانسرونو او فیبروئیدونو درملنه کې پکار وړل شی.

- **Abdominal Hysterectomy**

د ګېډې جدار وازولو په ذریعه هسترکټومی کړنلاره تر سره کول .

- **Cesarean Hysterectomy**

د ګېډې جدار وازولو په ذریعه د سیزارین وروسته د هسترکټومی کړنلاره تر سره کول .

- **Complete Hysterectomy**

د ګېډې جدار وازولو په ذریعه بشپړه هسترکټومی کړنلاره تر سره کول . کامله هیسټرکټومی .

- **Partial Hysterectomy**

د ګېډې جدار وازولو په ذریعه ناکامله (ناتامه) هسترکټومی کړنلاره تر سره کول چې پکې عنق (سرویکس) نه راویستل کېږی .

- **Radical Hysterectomy**

جذری هیسترکټومی . د ګېډې جدار وازولو په ذریعه هسترکټومی کړنلاره تر سره کول چې رحم برخې او اجزاوی راویستل کېږی.

- **Subtotal Hysterectomy**

د ګېډې جدار وازولو په ذریعه ناکامله (ناتامه) هسترکټومی کړنلاره تر سره کول چې پکې عنق (سرویکس) نه راویستل کېږی .

- **Total Hysterectomy**

د ګېډې جدار وازولو په ذریعه کامله هسترکټومی کړنلاره تر سره کول چې رحم برخې او اجزاوی راویستل کېږی.

- **Vaginal Hysterectomy**

د مهبل له لارې هسترکټومی کړنلاره تر سره کول .

Hysteresis

د سره اړونده دوه پېښو تر منځ زمانی واټن لکه دعلت او معلول ترمنځ ، دغه نومونه د د زړه د ضربان پېښوونکی ماشین په اړه د پلان شوی کچې څخه په لږه کچه کې د دقیقې له مخې د ضربان شمېرنه.

Hystereurysis

درحم د سوریو ارتوالې ، د رحم د سوری پراخوالې.

Hysteria

هیستیریا ، دا اصطلاح د روانپوهنې (Psychiatry) کې تمارض کول یعنې دا چې ناروغ کې اصلاً ناروغی شتون نلری خو د ناروغی ورته پېښې تمثیل کوی.

- **Anxiety Hysteria**

اضطرابی ډول هیستیریا. یو ډول هیستیریا چې د اضطراب له راستنېدونکو یرغلونو سره مل وی.

- **Classical Hysteria**

یو ډول کلاسیک بڼه لرونکې هیستیریا چې ډېر وصفی څرګندونې لری .

- **Conversion Hysteria**

د راستنېدلو اړوند هیستیریا .

- **Dissociative Hysteria**

تجزیه کوونکې راستنېدونکې هیستیریا ، د (Conversion Hysteria) په انډول.

- **Fixation Hysteria**

یو ډول هیستیریا چې دعضوی ناروغیو څخه زیږنده ننېښې لری.

- **Hysteria Major**

یو ډول هیستیریا چې د (خوبوړې ، نیمه کوما او فلج) په ناڅاپی پیل سره پېژندل شی.

- **Neurosis Hysteria**

عصبی منشه لرونکې هیستیریا.

- **Personality Hysteria**

د شخصیت اړوند بدلونونو هیستیریا

Hysteric

.د هیستیریا اړوند صفت.

Hysterical

هغه غبرګون اړوند چې هیستیریا څرګنده کړی.

- **Hysterical Personality**

هغه روانی حالت چې شخص غېرثابت او معمول احساس نشتوالې او په نورو وعدو (تعهداتو) پورې تړلې بلل شی.

Hysterically

د هیستیریا له لارې ،د هیستیریا په بڼې .

Hysterics

د هیستیریا یرغل (حمله) بلل شی.

Hystericus

د نه کنټرولېدونکې غصې او هیجان لپاره نومونه.

- **Globus Hystericus**

کروی رحم ،ګرد رحم ،ګردی ورته بڼه رحم ،دکوچنیو ګردیو کټلو لرونکې رحم .

Hystero-

دا یو مختاړي دئ او د رحم معنی بشپړوی.

Hysterocele

په چُړه کې د رحم شتون ، د (**Metrocele** او **Uterocele**) په انډول.

Hysterocleisis

په جراحی ډول سره د رحم د سوریوبندول.

Hysteroepilepsy

د پېرانو نیولی (میرګی، صرعی) ته ورته تشنجونو سره یوځای پیاوړې هیستیریا.

Hysterography

د رحم د انقباضی قدرت ګرافیکه ثبت.درحم ته د رنګه موادو په ذریعه دتېرولو وروسته راډیوګرافیک انځور .

Hysteroid

هیستیریا ته ورته .

Hysterolith

رحمی ډبره.

Hysterolysis

د رحم د پیوستونونو پرانیستل.

Hysteromyoma

رحمی لایومایوما ټومور بلل شی.

Hysteromyomectomy

د رحم څخه د میوم توموری کتلې د جراحی راویستلو کړنلاره.

Hysteromyotomy

د رحم د جدار وازول د جراحي کړنلارې په مرسته.

Hystero -Oöphorectomy

د (رحم ، نفیرونو او هګۍ خالو) د راویستلوجراحی کړنلاره.

Hysteropexy

د رحم تثبیتولو جراحی کړنلاره لکه د رحم پرولاپس درملنه کې.

Hysteroptosis

د رحم سقوط ، د رحم پرولاپس او له مهبل څخه بهر ته راوتل.

Hysterorrhaphy

د رحم ګنډلو جراحی کړنلاره تر سره کول.

Hysterorrhexis

د رحم څېرې کېدنه ، د (**Meterorrhexis**) په انډول.

Hysterosalpingectomy

د (رحم او نفیرونو) د راویستلوجراحی کړنلاره .

Hysterosalpingo- Contrast Sonography

د التراساوند په مرسته د (رحم ،تیوبونو) کتنه او معاینه، د (**Hycosy**) په انډول.

Hysterosalpingography Uterosalpingography

د (**X-Ray**) وړانګو کتنې مرسته د رحم او نفیرونو دننه د رنګه موادو (**Radio-Opaque Material**) تېرولو وروسته انځور اخیستنه بلل شی.

Hysterosalpingostomy

دا یوه جراحی کړنلاره بلل شی چې پکې نفیرونه د رحم دننه د بیا ننویستل د عقامت ستونزو درملنې په موخه تر سره کېږی.

Hysteroscope

د رحم دننه د لیدنې – کتنې یوه وسیله ده.

Hysteroscopic

د (**Hysteroscope**) اړوند صفت .

Hysteroscopy

د رحم دننه د لیدنې – کتنې یوه وسیلې (**Fibrescope** یا **Hysteroscope**) په مرسته د رحم جوف کتنه تر سره کول دي .

Hysterospasm

د رحم تشنج او شخوالي .

Hysterotomy

د ګېډې له لارې د رحم د(ځیرلو ، وازولو یا پرانیستلو) جراحی کړنلاره بلل شی لکه (**Caesarean Section**) پې یو ډول دئ.

Hysterotrachelorrhaphy

د رحم د عنق د ګنډلو جراحی کړنلاره.

Hysterotrachelotomy

د رحم د سرویکس (عنق) ځیرل یا غوڅول.

Hysterotubography

د (**X-Ray**) وړانګو کتنې مرسته د رحم او نفیرونو دننه د رنګه موادو (**Radio-Opaque Material**) تېرولو وروسته انځور اخیستنه بلل شی.

Hz

هرتز ، لنډپز، د فیزیك یو واحد برابر دئ د یوه دوره د ثانیې کې ، دا د هرتز هاینریخ رودلف هرتز (دآلماني فیزیك دان) پذریعه معرفی شوېدئ، د (**Hertz**) په انډول لنډه نښه ده.

(Irritable Bowel Syndrome) ته ویل شی.

Ibuprofen

دا یو غیر سټروئیدی د التهاب ضددرمل چې د درد او تبې ضد اغیزې لري د (Arthritis او Rheumatism) په درملنه کې پکارړي.

IC

د کولون تخریشی ناروغی (Irritable Colon) اړوند لنډه نښه.

IC

تنفسی ظرفیت (Inspiratory Capacity) لپاره لنډه نښه.

ICD

د ناروغیو بین المللی تصنیف (International Classification of Diseases) لپاره لنډه نښه.

ICD

د رحم دننه تقلصی وسیله (Intrauterine Contraction Devices) لپاره لنډه نښه

Ice Bag

د کنګل (یخ Ice pack) څخه جوړه کتله چې په یوه توکر کې پېچلې وی او په تپی برخه باندې کېښودل شی تر څو منځ ته راغلې پرسوب او درد لرې والې وموسی.

Ichthamol

یوه سرینښناکه توربخنه سره مایع چې یو د ډول قیری پانه ائیزه ډبرو څخه په لاس راځی خفیف ډول انتی سپټیک - انالجزیک اغیزې لری او د پوستکی ناروغیو موضعی انتان ضد عامل په توګه پکار وړل شی.

Ichthy(o)-

دا یومختاړې دئ او د کب (ماهی) معنی بشپړوی د کلمې یوه برخه ده.

Ichthyoid

کب ته ورته، د ماهی په څېر.

Ichthyology

د کبانو (ماهیانو) د څېړنې اړوند علم او پوهه بلل شی.

Ichthyosarcotoxin

یو ډول چې د ځینو زهری کبانو څخه لاس ته راځی.

Ichthyosarcotoxinism

د زهرجنو کبانو د خوراک له کبله زېړنده مسمومیت چې د هضمی او عصبی ستونزو سره یوځای وی.

Ichthyosis

ارثی ډوله د پوستکې اړوند یوه ناروغی ده چې (تقرن ،تفلس ،

I, i

د انګریزی ژبې نهم توری دئ په طب کې د ګڼ شمېر لغتونو لپاره لنډه نښه جوړوی.

I

د نبش (لشکې Incisor) غاښ .

I

آیوډین (Iodine) عنصر لپاره مخفف نښه ده .

I

د اینوسین (Inosine) لپاره اړوندلنډه نښه ده.

-ia

دا یو روستاړې دئ او د وضعیت او حالت معنی بشپړوی.

IAEA

د اټومیک انرژی بین المللی اداره (International Atomic Energy Agency) لنډه نښه ده.

-iasis

دا یو روستاړې دئ او دوضعیت او حالت معنی بشپړوی د ناروغیو د کلمې یوه برخه جوړوی لکه (Amoebiasis) په څېر.

Iatr-

دا یو مختاړې دئ چې د طب او ډاکټر معنی بشپړوی.

Iatro-

دا یو مختاړې دئ چې د طب او ډاکټر معنی بشپړوی.

Itroc

د طب یا طبیب پورې اړوند.

-iatrics

دا یو روستاړې دئ او د (طبی ،درملئیز) معنی بشپړوی او دکلمې برخه جوړوی.

Iatrogenesis

هغه حالت چې د ډاکټر اونورو طبی مسلکی کارکوونکو له امله د عمل په نتیجه کې ناوړه حالت منځ ته راځی.

Iatrogenic

هغه حالت اړوند صفت چې د ډاکټر اونورو طبی مسلکی کارکوونکو له امله د عمل په نتیجه کې ناوړه حالت منځ ته راځی. د (Iatrogenesis) اړوند صفت.

- iatry

دا یو روستاړې دئ او د طبی درملنې معنی بشپړوی.

IBS

د کولمو تخریشی اوتوایمیون سندروم

Icterohepatitis
د هیپاتیټ سره مل ژېړي بلل شی، یرقانی هیپاتیت.

icterus
ژیړي ، زېړي jaundice ، زېړغون کېدنه ، هغه حالت چې پکې د بلیروبین

- **Icterus Gravis Neonatorum**

هغه ژېړي چې د (Erythroblastosis Fetalis) سره مل وی.

Ictus
ضعف Stroke ، اختلاج Fit ، سیبیان ، شړن، جټکه ، ټکان.

ICU
د جدي څارنې څانګه [(واحد) Intensive Care Unit] لپاره لنډه نښه ده.

ID_{50}
انتانی منځنې ډوز (Medium Infective Dose) لپاره لنډه نښه ده.

Id^1
په روانپوهنه (اروا‌پوهنه) کې د شخصیت(اولیه ، غریزې او نا هوشمندانه اړخ) چې د خوند پر بنسټ ولاړ وی. په (Freudian psychology) هغه اساسی غېر شعوری مشتق یا استنباط کول چې په یو شخص کې په مخفی ډول شتون لری.

Id^2
یوه جلدی ستېریلی ضایعه چې د بدن په یوه بل ځای کې د اولیه انتان په وړاندې الرژیک غبرګون شمېرل کېږی.

Idarubicin
د انتراسکلین د خباثت ضد درمل چې (حاد ډول میالوسایتیک لوکیمیا) په درملنه کې پکار‌یږی.

IDD
د انسولین پورې تړلې د شکرې ناروغی(Insulin –Dependent Diabetes) لپاره لنډه نښه ده.

-ide
ناروغی. هغه کچې ته ویل شی چې ناروغ په خپله روحي او دماغي وضعیت باندې خبر دئ، دننه لیدنه ، له دننه څخه بینش ، هوښیاری.

Insignia

نښه، نښانه، نښان.

Insignificant

بی اهمیته بی ارزښته ، جزئی، کم، بی معنی.

Insipidus Diabetes

د پرته له خوړې شکرې د ډیابت ناروغی، د (**Diabetes Insipidus**) په انډول.

insitu

په خپل نارمل ځای کې.

Insolent

بدغونی، سپک خولی، سپین سترګی، په ژبه یا عمل کې ظالم.

Insoluble

نه ویلی کېدونکې، نه حل کېدونکې، غیر منحل.

- **Insoluble Fibre**

هغه رشتې یا فایبر لرونکی خواړه چې د هضم وړتیا نلری.

Insomnia = sleeplessness

بېخوبې ، په غیر نارمل توګه د خوب نشتوالې، په ویده کېدو کې د توان نشتوالې.

insomniac

د (**Insomnia**) اړوند صفت.

Insonate

د ماورأ بنفش وړانګې لوېدل یا شاېع کېدل.

Insorption

د وینې دننه د یوې مادې د حرکت په ځانګړې ډول د هضمی جهاز څخه دوینې د بهیر دننه ته.

Inspection

کتنه، پلټنه ، تفتیش ،د کلینیکی فزیکی کتنې یو ډول کلاسیکه بڼه ده چې د ناروغ کتنه په سترګو تر سره کېږی.

Inspector

پلټونکی، کتونکې ډاکټر.

Inspersion

د پوډر په څېر د یوه شی شیندل ، د پوډر په څېر د یوه شی پاشل.

Inspiration

شهیق ، ساکښل ، د سږو دننه ته هوا وردننه کولو کړنلاره.سا اخیستل. ساه ننه ایستنه، پارونه، الهام.

Insecticide

حشره وژونکې مواد یا درمل /محلول.

Insectivorous

خوګی خور،حشره خوړونکی.

Insemination

د سپرم ننوتل او وردننه کول مهبل ته ، د مهبل یا سرویکس دننه ته د مني تویول.

- **Artificial Insemination**

په مصنوعی توګه د مهبل یا سرویکس دننه ته د مني تویول.

Insensate

بی زړه سویه ، په زړه کلک، بی عاطفی،بی حسه.

Insensibility

بی حسی ، بی سدی ، د عاطفې نشتوالې.

Insensible

بې سده ، نا محسوسه، بی علاقی، بی خواړی، د پنځه حسونو په ذریعه نه درک کېدونکی. د حس یا هوښ نشتوالې.

Inseparables

نه بېلېدونکی، نه جلا کېدونکی.

Insert

ور اچول، ننه ایستل او ځایول ،ددو شیانو په منځ کی دبل شی اینبودل لکه د مثانې کتېتر اینبودل په مثانه کې.

Insertion

دننه ننه ایستنه ، ځایه ونه ، ځای پر ځای کول ، د نصبولو بهیر ،د پیوستون یا اتصال ځای لکه د عضلاتو اتصال پر هډوکی باندې. په کروموزومونو کې د جنونو نصبول.

- **Velamentous Insertion**

له جنینی پردو سره د نامه غوټی د بند د پیوستون ځای.

Insides

دننه غړې په ځانګړې توګه (معده او کولمې) ، دننه پکښی،دننه لورې، دننه خوا ، درونی ، داخلی.

Insidious

په آرامتیا سره پرمختګ ، تدریجاً پرمختیا ، له غږ غوږ څخه پرته پېښېدل، ناڅاپه منځ ته راتګ او پېښېدل ، ټګ ، دوره ګر ، چلی ، بی ایمانه ، خائین.

- **Insidious Disease**

ناڅاپه پېښېدونکې ناروغی. چې پخوا یې کوم ډول څرګندونه شتون ونلری.

Insight

ځیرکی ، پوهه ، بصیرت ، په روانپوهنه کې د غه اصطلاح د

- **Death Instinct**
داروا پوهني یا روانپوهني له مخې په ځانګړې ډول دمرګ په پېښو کې غریزې بڅړکی.

- **Herd Instinct**
په یوه ډله کې د ونډې لرلو په لوړې او د هماغه ډلې د ځانګړو معیارونو د ترلاسه کولو په لوړې لېوالتیا.

Instinctive
د غریزې اړوند صفت ، غریزه ئی ، سرشتي ، جبلي ، دننه انګیزه ئی، نا زده کړې ډول، اوتوماتیک یا غیر شعوری او پرته له پلان کولو څخه.

Institute
بنسټ ایښودل ،تاسیسول، ټولنه، موسسه، انېستېتیوټ.

Institution
بنسټ ایښودنه، منل شوی قانون یا رواج، تعامل تاسیونه، ټولنه، موسسه چې هلته خلک تر څارنې لاندې نیول شی لکه (روغتون ، کلینیک ، روانې روغتبائی مرکز).

Institutional
بنیادی ، بنسټیز ، د بنسټ پورې تړلې صفت.

- **Institutional Neurosis**
بنیادی نیوروزیس.

Institutionalization
په یوه رسم یا سنت صورت سره راوړل ، مرسوم کول ، متداول کول ، ، عرف او عادت په بڼه راوستل،د درملنې یا ساتنې – او څارنې په موخه یوې موسسې یا زندان او نورو ته سپارل. هغه حالت چې یوڅوک د ژوندانه کولو او سمون لپاره په یوه مؤسسه (انیستیتیوت کې) تر روزنې لاندې نېول کېږی چې ورته ژوندون په بهر کې ناممکن وی، اساسی کول ، د روانی – عصبی ناروغیو اساسی درملنې لاندې نیول.

Institutionalise
روزنیز کول ، درملنیز کول ، زنداني کول ،بندیوانول ،اساسی کول . د یوچا اساساتو او لارو ته برابرول ، د (**Institutionalize**) په انډول.

Institutionalize
د (**Institutionalise**) په انډول.

Instruct
ښول، لارښوونه کول، پوهول، هدایت ورکول ، رهنمائی کول ، ښودنه ، خبرول.

Instructions
ښوونه، لارښودنه، پوهونه، خبرونه، ، حکم او امر کول ،

- **Inspiration Air**
شهیقی هوا ، هغه اندازه هوا چې سږو ته د شهیق ر پرمهال وردننه کېږی.

- **Inspiration Period**
شهیق دوره ، هغه موده او مرحله چې پکې د شهیق اړوند \روسه تر سره کېږی.

Inspiratory
د شهیق اړوند صفت دئ.

Inspire
انشاق ، هوا یا ګاز ننویستل سږو ته ،سانینه ایستل، الهام ورکول، لمسول، زړه ورکول ، زړه راکښنه ، جلب د توجه.

Inspirit
ژوندی کول، روح پکښې پوکل، پیاوړی کول، پرغیرت راوستل.

Inspissated
سخت او وچ شوې مثلا (د تبخیر له لارې د اوبو له لاسه ورکول) غلیظ کول یا تغلیظ چې د یو شی مایع برخه لرې کړل شی.

Inspissation
غلیظ کول ،قوام منځ ته راوړل ،سختي او کلکوالې موندل ،قوام ، غلظت ، غلیظ کول (تغلیظ) چې د یو شی څخه د مایع برخه (اوبه برخه) تبخیرول او لرې کړل شی.

Instability
ناکراری، بې ثباتی، هردم خیالی، سستی.

Instar
دپوستکی اچونې په منځ کې د آرتروپودا د ژوندون د مرحلو څخه یوه مرحله (پراو) بلل شی.

Instantaneous
سمدلاسه، آنی ، ناڅاپه .په ببړه ، په چټکی سره پېښه ، په تلوار.

Instep
د پښې د لیندی (قوس) ظهری برخه . دپښی دننه برخه چې دپوندې او ګوتو ترمینځ پرته ده، دبوټ هغه برخه چې دپښې دغه برخه پټوی.

InstIllition
تدریجی ډول، په څاڅکی څاڅکی ډول د یوې مایع وریدی تجویز.

Instinct
غریزه ، شعور. په هر ډول حیوان کې د نا ښودل شوې ځانګړنو یوه ټولګه ده چې د زېږون څخه ورته چا نه دی ښودلی لکه له خطرې ځان ژغورنه یا جنسی نر د ېکښدنه.

لیکلې معلوماتي لارښوود ، هدایتنامه ، هدایت سپارل ، د درس موضوع لپاره لیکلې – شفاهی ښوونیز رهنمود.

Instructive

د (پوهوونکی، هوښیار وونکی، تعلیمی) اړوند صفت .

Instructor

ښوونکی، خبروونکی ، هدایت ورکوونکې .

Instrument

اسباب، آله ، افزار ،سامان، وسیله لکه د (جراحی او تشخیصیه) لپاره سامان ، رسمی سند لکه (وصیت نامه) .

instrumental

د آلی یا اسباب په دود ، استعمالیدونکي آلی، ګټه ور (مفید) . د استعمالی وسائلو پذرېعه اړوند صفت.

- Instrumental Delivery

د سامان لکه (فورسپس) پذرېعه زېږونه ، وسیله ائیز ولادت .

Instrumentality

وسیله ئی ، د وسیلې پورې تړلې صفت.

Instrumentation

1. په طبی ابزارو او سائلو په ځانګړې توګه علمي ابزارو مجهز کول یا د وسائلو پکار وړل، ابزار جوړول ،وسیله ئی توب ، په تجهیزاتو او وسائلو سمبالول (ابزار آرایی). 2. پهموسیقي کې د ارکستر تنظیم لپاره ، په ساز ونو سمبالول ،3. د ابزارو یا آلاتو مجموع د وسائلو او آلاتو څخه ګټه اخیستل چې پکار وړل شی.

Insudate

هغه ماده چې د بدن په نسجونو کې راغونډ پرې.

Insudation

په پښتورګو کې له وینې څخه د رابېلو شویو موادو په څېر د موادو راټولېدل او غونډېدل.

Insufficiency

نیمګړتیا، کمالې، بې کفایتی ، عدم کفایه ، نه بریالیتوب، هغه څه ونشي کړای د یوې دندې ترسره کولو لپاره په معمول او قوی بڼه شتون ولری .د مناسب کار تر سره کولو کې ناتوانی .

- Adrenal Insufficiency

د فوق الکلیوی غدې نه بریالیتوب،د هایپوادرنالیزم په انډول .

- Aortic Insufficiency

د ابهر سور رګې د والف (دسام) نه بریالیتوب.

- Cardiac Insufficiency

د زړه اړوند نه بریالیتوب.د (**Heart Failure**) په انډول .

- Coronary Insufficiency

د اکلیلی رګونو نه بریالیتوب، د زړه په اکلیلي رګونو کې د وینې د بهیر د کچې کمښت.

- Insufficiency of the Externi Occuli

دسترګو د بهرنیو عضلاتو د قدرت کمښت چې د ازوفوریا لامل ګرځی.

- Ileocecal Insufficiency

د کولمو د ایلیوم داخل ته له سېکوم څخه د موادو د راستنېدو په مخنیوی کې د ایلیو سیکال دسام نه بریالیتوب.

- Insufficiency of the Interni Occuli

دسترګو د داخلی عضلاتو د قدرت کمښت چې د اېګزوفوریا لامل ګرځی.

- Mitral Insufficiency

د زړه د مایتېرال دسام (والف) وظیفوی عدم کفایه چې په بندېدلو کې د همدې والف له نیمګړتیا او په پایله کې د وینې له شا تمبېدو سره یوځای وی.

- Pulmonary Insufficiency

د زړه د ریوی دسام (والف) وظیفوی عدم کفایه چې په بندېدلو کې د همدې والف له نمګړتیا او په پایله کې د وینې له شا تمبېدو سره یوځای وی.

- Renal Insufficiency

د پښتورګو عدم کفایه ، چې پدې حالت کې د پښتورګو ګلومیرولونه د دې وړتیا نلری چې وینه ښه تصفیه کاندې او په پایله کې یوریا او کریاتینین په وینه کې لوړوالې مومی .

- Thyroid Insufficiency

د (**Hypothyroidism**) په انډول.

- Tricuspid Insufficiency

د زړه د ترای کسپید دسام (والف) عدم کفایه چې په بندېدلو کې د همدې والف له نمګړتیا او په پایله کې د وینې له شا تمبېدو سره یوځای وی.

- Valvular Insufficiency

د زړه د دسامونو (والفونو) د نه بریالیتوب حالت چې په بندېدلو کې د همدې والف له نمګړتیا او په پایله کې د وینې له شا تمبېدو سره یوځای وی چې د اړوند اخته والف نوم پرې ایښودل شی.

- Velopharyngeal Insufficiency

د تالو (کام) د (جوړښتیزې نیمګړتیا ، عضلاتی وظیفوی ستونزې او داسې نورو) له املې د (**Velopharyngeal**) په ترل کېدو کې نیمګړتیا چې د خبرو کولو د اختلال لامل ګرځی .

- Venous Insufficiency

د وریدونو تخلیې له ستونزې سره یوځای وریدی عدم کفایه چې پکې روګرنه د دې وړتیا نلری چې وینه د بدن د نساجو څخه راټوله او زړه ته پمپ کاندی او د غړو پرسوب لامل ګرځی .

- Vertebrobasilar Insufficiency

د فقراتو شریان او قاعدوی شریان د بندښت له املې د مُخیخ او مغزی تنې ژر (چټکه) تېرېدونکې ایسکیمی .

Insufficient
نیمګړې، غیر کافی، بې وسه، بې کفایته، ناوړه .

Insufflate
د (ګاز او بخار یا پوډرو) انشاق دننه سړو یا د بدن بلې برخې ته وردننه کولو ته د درملنې په موخه بلل شی.

Insufflations
د (ګاز او بخار یا پوډرو) انشاق دننه سړو یا د بدن بلې برخې ته وردننه کولو عملیې ته د درملنې په موخه بلل شی.

- **Perirenal Insufflations**
د فوق الکلیوی غدې د راډیولوژیک څېړنې لپاره پښتورګو شاوخوا کې د هوا تزریق.

- **Tubal Insufflations**
د رحم نفیرونو د راډیولوژیک څېړنې لپاره نفیرونو دننه ته د هوا تزریق. د (**Rubin's Test**) په نامه.

Insula
تاپو ډوله جوړښت ، د ماغزو په قشر کې یوه مثلثی ډوله سیمه چې د مغزی جوف د جانبی بطین غولې جوړوی چې د یوه میزانې فولډونو (**Folds of the Sulcus**) پذریعه پوښل شی.

Insular
د (**Insula**) اړوند صفت بلل شی، تاپو (جزیره) یا دهغه اوسیدونکی ته منسوب، تنګ نظره.

Insulate
جلاکول، بیلول، پوښول، تاپوځنی جوړول.

Insulation
جلاوالی، بیلوالی ، د تاپوجوړپدنې عملیه .

Insulator
د برېښنا بېلوونکی ، عایق، هغه چې برېښنا ځنی نه تیریږي.

Insulin
انسولین ، هغه دوه ځنځیر درلودونکې پروټینی هورمون چې د پروانسولین په بیټه له پانکراس د لانګرهانس د تاپوګانو له بیتا حجرو څخه تولید ېږی دغه هورمون چې د بدن د میتابولیزم د تنظیموونکې هورمونونو سرکښ دئ په وینه کې د ګلوکوز یا امینواسیدونو د کچې د زیادښت په خواب کې افرازېږی . انسولین د(ګلوکوز د زېرمه کېدو د امینواسیدونو د جذب ، د وازدو او پروټینونو جوړښت د زیادښت او لایپو لایزیس او ګلونیوجنیزس) د نهی کېدو لامل ګرځی د انسولین ستړیلی محصول د خوږ ډیابټ په درملنه کې پکار وړل شی.

- **Insulin Dependence**
د انسولین پورې تړلې . هغه ډول د ډیابت (شکري) ناروغی چې د انسولین زرق پور ې تړلې وی.

- **Insulin -Dependent Diabetes**
د انسولین پورې تړلې د شکري ناروغې (**Type - I Diabetes Mellitus**). هغه ډول د ډیابت (شکري) ناروغی چې د انسولین زرق پور ې تړلې وی.

- **Globin Insulin**
یو ډول د منځنی کچې اغېز لرونکې انسولین چې زینک کلورایډ او ګلوبین لری.

- **Isophane Insulin**
یو ډول (طبیعی ، کریستالوئید او منځنی کچې اغېز لرونکې) انسولین چې زینک پروتامین لری د (**NPH Insulin**) په نامه .

- **Protamin Zinc Insulin**
د پروتامین او زینک کلورایډ سره یوځای انسولین.

- **Regular Insulin**
منظم انسولین ، د غوائی او پسونو په حیواناتو د پانکراس اصلی او فعاله ماده چې ستړیلی محصول یې تر ګټې لاندې نیول شی.

- **Insulin -Resistant**
هغه ډول ډیابټ چې عضلات او نور نسجونه د نا مناسب اندازې انسولین سره مقاوم وی او ورته (**Type- II Diabetes**) نوم هم ورکړل شوېدئ .

- **Insulin Shock**
د انسولین د زرق او تطبیق پورې اړوند شاک چې (شدید ډول هایپوګلایسیمیا ، سرځرخی ، ډېرخولېجن حالت، ریېدا او کوما) پکې منځ ته راځي

Insulinase
هغه انزایم چې د انسولین هورمون ټوټه کوی .

Insulinogenesis
د انسولین جوړېدنه او آزادېدنه د بېتا لانګرهانس تاپوګانو پذریعه بلل شی.

Insulinoma
د لانګرهانس تاپوګانو د بېتا د حجرو تومور چې سلیم ګڼل شی او د هایپوګلایسیمیا اصلی لامل شمېرل شی.

Insulinopenic
د وینې په بهیر او دوران کې د انسولین کمښت یا پدې کمښت پورې اړوند.

Insulitis
په لانګرهانس تاپوګانو کې حجروی ارتشاح چې احیاناً د انتانی عواملو په یرغل پورې تړلې وی.

Insuloma
د (**Insulinoma**) په نامه.

Insult
فزیکی ترضیض او پرهر ، هغه څه چې د فزیکی ترضیض او زخمی کېدا لامل شی، توهین ، اهانت ، خوارګڼل ، توهین

ته راوړل ، همبندی ،توحید ، د نژادی او مذهبي تبعیض برطرف کول و عمومي کول، په روان شناسي کې پیوستون ، د شخصیت یو والی منځ ته راوړل.

Integrative

توحیدی ، همغږی ، یو شوي ،پیوسته.

- Integrative Medicine

یو شوی درمل ، یو شوي درملنه چې یو د بل تکمیل کوونکي وی.

Integrin

د هیټروډایمری رسپتورونو له ډلې څخه هر یو چې (α او β) دوه ځنځیرونه لری او پّه بین الحجروی او دحجري دننه او بهر موادو تر منځ غبرګونونو کې ونډه اخلی ، تمامیت ، کامل صورت ، کمال ، یو والي ، ټولو ته خلاص او د لاس رسی وړ ، بې عیبي ، بې نقصي ، بې کاستي ، استحکام ، پیوستون ، درنښت (بزرګواری) ، درستي ، صداقت.

Integrity

توأمیت ، یو والي ، پیوستون ، بشپړتیا، تمامیت، سپیڅلتوب، سپین توب (دژړه)، صداقت، ایمانداری

Integument

خور، پوښ ، پوستکی، پوټکی ، پوښوونکي طبقه.

Inegumentary

نه کش کېدونکي ، غیرقابل ارتجاعیت ، انعطاف نه منونکي ، بې کششه ، کشش نه منونکي.

Integumentum

پوستکي ، جلد .

Intellect

پوهه، هوښیار توب، عقل، ددرک قوه ، تفکر ، د ښه ذهن لرونکي کس بلل شی.

Intellectual

پوه، هوښیار، عاقل، ځیرک، روښان فکر.

Intellectually

په هوښیاري سره ،د تعقل له مخې.

Intellectualization

یو ډول ذهنی بهیر چې په هغه کې یو شخص د ځوروړنکو هیجاناتو او روحی فشارونو په وړاندې د دفاع په لاره کې د توجیهاتو څخه ګټه اخلی ، تعقل ، عقلی کېدنه. په عقل و هوښیاری سره سمون ورکول.

Intelligence

ځیرکي، پوهه، خبرتیا ، استخباریه، د درک توان او وړتیا لرونکی.

کول ، اهانت کول ، حمله ،تېري ، ناڅاپه یرغل ، مغرورانه چلند کول ، ښکنځل کول، سپکاوی، سپکول، ښکنځل، رټل، توهین کول، تیری کول ،

Insuperable

نه لاټدې کېدونکی، نه مغلوبېدونکی.

Insupportable

نه زغمل کېدونکی، سخت ، دتحمل وړتیا نلرونکي.

Insurmountable

نه لاټدې کېدونکی، نه مغلوبېدونکی، له منځه نه وړل کېدونکی

Insusceptibility

تر اغېزې لاټدې د نه راتلو حالت / خوندیتوب.

Intact

روغ رمټ، بشپړ، هغه شی چې لاس نه وی په لګېدلی ، بې کم و کاسته ، صحیح او سالم ، سالم ، بې عیبه او بې نقص.

Intake

هغه مواد چې د بدن پواسطه اخیستل کېږی او تر کارونې نیول کېږی لکه (اوبه خور ، خوراک ، مایعات) ، ورځ، د لوګی موری، دود کښ، په کان کښې دهوا کڅوړه .

Intal

د (Cromolyn Sodium) جوړښت لپاره سوداګریز نوم دئ.

Intangible

نه لمس کېدونکی، نه حس کېدونکی، نغښتی، پیچلی.

Integral

غونډ، جامع، مکمل، صحیح، بې کسره، بشپړونکی.

Integrate

یولاس کول، یوځای کول، غونډول، بشپړول، متحد کول.

Integrated

یولاس کړل شوي ، یوځای شوي، راغونډشوي ، بشپړشوي، متحد کړل شوي.

- Integrated Service

د پراخې پیماني روغتیائی خدمتونو تر سره کولو ګډ عمل کوونکي ځانګه.

Integration

په فعالیت کې همغږې ونډه اخیستنه ، د یو والي له مخې دنده تر سره کول ، بشپړونه ،کامل کول ، تکمیل ، هماهنګي ، یوپارچه کول ، د پیوستون (همبستګي) منځ ته راوړل ، تلفیق ، سره یو کول ، ادغام ، الحاق ، ترکیب ،اتحاد ، ګډون منځ

شدت، سختی، جدیت.

Intensify

ډیرول، سختول، شدیدول پیاوړی کول، قوی کول، سختیدل.

Intensity

سختی، زیات والی. - شدت ، حاد ، تند او تیزی ، شوراو ځوګ لرونکې ، جوش و خروش لرونکې ، هیجانی ، ستوغ

Intensive

ډیروونکی، تشدیدوونکی، پیاوړی کوونکی، متمرکز (ګر) تأکیدی.

- **Intensive Care**

جدی ځارنه ، جدی مراقبت ،په یو روغتون کې په متداوم او متواتر ډول د شدیدو ناروغانو درملنه ترسره کېدو ځای بلل شی.

- **Intensive Care Unit**

د جدی ځارنې خونه ، جدی مراقبت ځانګه ،په یو روغتون کې داسې یو ځای چې هلته په متداوم او متواتر ډول د شدیدو ناروغانو درملنه ترسره کېږی دابرخه په طبی وسائلو سمبال وی.

Intensively

په سختی، په شدت ،په ټُندی، په جدیت سره.

Intention

د روغتیا ساتنې څرنګوالې ، د یو څه د ترسره کولو لپاره پلان. هدف ، وروستی موخه.

- **Intention Tremor**

د دماغی ناروغیو له امله د لاسونو رپېدنې (رعشې) حالت چې د یو ارادی کار تر سره کولو پر مهال پېښېږی.

Inter-

دا یو مختاړې دئ چې د (منځ ، ښځول ،میان) معنی بشپړوی.

Interaction

څرنګوالې ، کیفیت، متقابل عمل، معامله، متقابله اغیزه، د دوه شیانو تر منځ د تعادل بهیر حالت، یو پربل اغیزه لرل.

- **Drug Interaction**

د درملو متقابل عمل ، د یوه درمل داغیزې کچې اندازه پر بل ډول درملو باندې.

Interatrial

بین الاذینی.

- **Interatrial Septum**

د زړه د اذینونو (دهلیزونو) تر منځ حجاب ، د زړه د کینې او ښې اذینونو تر منځ د غشأ (پرده) شتون بلل شی.

Interbrain

د دماغ نسج تر منځ ، د (Thalamencephalon) په انډول ، د (Diencephalon) په انډول.

- **Intelligence Quotient**

د ذهن د وړتیا کچه ،د عقل او هوښیارتیا د اندازې او کچې ټاکل د عمر له مخې د (Intelligence Test) پواسطه د عمر په ببلابېلو مرحلو کې بلل شی مختصراً ورته (IQ) هم ویل شی.

Intelligent

ځیرک، ذکي ، با ذهنه.

Intelligently

په ځیرکي، په ذکاوت سره.

Intelligible

دپوهیدو وړ، څرګند ، ښکاره، واضیح.

Intemperance

بې اداره ګی، بې پوهی، بې اعتدالی، افراط.

Intemperate

افراط کوونکی، بې اعتداله.

Intend

نیت کول، ټکل کول ، اراده کول، توجه کول، په نظر کې نیول، خیال درلودل.

Intendant

څارونکې ، ناظر، په خارج کې دحکومت نماینده.

Intent

پاملرنه، توجه، مقصد ، مرام، مطلوب ، ځیر متوجه، چوپړ، نوکر بوخت، مشغول.

Intention

د روغتیا ساتنې څرنګوالې ، هدف ، ورستنی موخه ، تصمیم، مقصد ، غایه، پای پاملرنه، منظور.

Intentionally

قصداً، عمداً، اراده ئی.

Intentness

پام، توجه، نوکري.

Intense

ډیرسخت، متمرکز، شدید پیاوړی، قوی، جدی، ډیرزیات ستوغ حاد، سخت ، تند او تیز، سوځوونکې ، له صمیمیت څخه ډک ، پر زور، ژور ، تېره – له احساساتو ډک ، له تودوخې (حرارت) ډک ، د ځوګ او شور سره ، ، جوش لرونکې ، له فعالیته ډک ، مهیج.

Intensely

په کلکه، په شدت.

Intensification

- Sex intercourse
د جنسی اړیکې او مقاربت تر سره کول ، جنسی مقاربت ، د دوه کسانو تر منځ هر ډول فزیکی تکر چې د یوه یا دواړه کسانو د جنسی غړو د تحریک سره یوځای وی د (**Sexual Intercourse**) په انډول .

- Sexual intercourse
د (**Sexual Intercourse**) په انډول

Intercricothyrotomy
د کریکوتایرایډ د غشأ له لارې د حنجرې غوڅول، لاندینی لارینجکټومی .

Intercitical
د یوه ناروغی د دورې په بهیر کې د بلې ناروغی یا وضعیت رامنځ ته کېدل او د لومړنی هغې د ټګلارې (مسیر) بدلون.

Intercurrent
هغه درده چې د یوې ناروغی د بریدونو په منځ کې شتون لری .

- Intercurrent Disease
د داسې یو چا ناروغېدل یا منتن کېدل چې په ځان کې بله ناروغی هم لری .

- Intercurrent Infection
د (**Intercurrent Disease**) په انډول.

Intercusping
د یوې ژامنې د غاښونو د تاج او دبلې هغې د غاښونو پر مخ له ننوتلتیا سره یوځای وی.

Interdental
په یوه اوری کې د مجاورو غاښونو د پرګزیمال سطحو تر منځ

Interdentum
انټر پروګزیمال فضأ / چاپیریال.

Interdependence
یوپه بل باندې تکیه، یو پر بل پورې تړلې .

Interdependency
متقابله اتکأ ، وابستګې ، یو پر بل پورې تړاو لرل.

Interdependent
تله راتله، ګډون، امیزش یوپر بل ولاړ، یوپه بل تکیه، یو په بل پورې تړلی .

Interdict
منع کول، مخه نیول ،نه پریښـودل ، جلوګیری /مخنیوې ، ممنوع ګڼل ،نهي کول ، حرام ګڼل ، ممانعت کول ، د ممانعتي عملیات تر سـره کول ، محروم کول ،ممنوعیت ، غیرقانوني ګڼل .

Intercalary
د دوه شیانو تر منځ پروت ، د دوه جوړښتونو تر منځ واقع شئ.

intercalated
د دوه نسجونو تر منځ تزریق او ننویستل.

- Intercalated Disc
هغه ډیسک ته ویل شی چې د (**Cell Membranes**) ډېر نږدې تطبیق د (**Adjacent Cells**) حجرو د پایلې په برخه د زړه د عضلی طبقې په منځ کې چې د مستعرض کرښو (**Transverse Lines**) په څېر ښکاری.

Intercartilagenous
د دوه غضروفونو ترمنځ ځای نیول یا یوله بل سره د دوه کرپندوکو (غضروفونو) ننښلول بلل شی.

Intercede
مینځګړتوب کول، سره پخلاکول، ګوابس کول .

Intercellular
په یوه نسج کې د حجراتو تر منځ، بین الحجروی .

Interception
پریکونه، مخه نیونه، غوڅونه ، هائل کېدا ، جلوګیری ، مخنیوې.

Interchange
بدلول، الینول، مبادله کول، راکړه ورکړه (داد وګرفت) ، تناوب ، زنګېدل ، معاوضه کول ، عوض او بدل کول ، متناوب کول ، یو په بل کې ننویستل .

Interchangeable
د مبادلې وړ. د مبادلې قابل ، د معاوضې وړتیا لرونکې ، تبادل منونکې ، دبدلې وړ .

Intercostals
بین الضلعی ، د دوه پښتیو تر منځ ، د سینې د پنجرې د پښتیو ترمنځ واقع لکه بین الضلعی عضلات .

- Intercostals Artery
د سینې د پنجرې د پښتیو ترمنځ واقع شریان .

- Intercostals Muscle
د سینې د پنجرې د پښتیو ترمنځ واقع بین الضلعی عضلات.

- Intercostals Nerve
د سینې د پنجرې د پښتیو ترمنځ واقع بین الضلعی عصب.

- Intercostals Vein
د سینې د پنجرې د پښتیو ترمنځ واقع بین الضلعی ورید.

Intercourse
جماع ، مقاربت ، د جنسی اړیکې او مقاربت تر سره کول ، دوه اړخیزه مبادله ، ددوو تنویا ملکو ترمینځ راکړه ورکړه.

Interdiction
ممانعت، جلوګیری، مخنیوي ، ممنوع ګڼل،نهي کول ، حرام ګڼل.

Interdigital
د دوه ګوتو تر منځ فاصله ، د ګوتو تر منځ واټن، دګوتو ترمنځ اړوند صفت.

Interdigitation
د دوګوتو په واسطه د شیانو رانیول ، د ګوتو ډوله ګډاګانو ځخه یو.

Interdisciplin
د دوه ډوله ډیسپلینونو اړوند.

Interdisciplinary
میان رشته ای ، ددوه یا څو رشتو زده کړو اړیکې (آمیزش) پورې تړلې ، د طب ببلابیلو ډیسپلینونو لکه د (داخلي ډیسپلین او جراحي ډیسپلین) پورې اړوند.

Interest
ګټه، سود ، مینه، برخه زیاتوالی، علاقه، دلچسپی ، لېوالتوب.

Interesting
په زړه پورې، خوندور ، دتوجه وړ.

Interior
دننه ، داخلي ، د یوه جوړښت په منځ کې دننه پورې اړوند صفت.

- **Interior Layer**
دننه طبقې ، داخلی طبقات.

- **Interior Organ**
دننه غړی ، دننه اعضاً.

Interfere
مداخله کول، یو په بل کې ننوتل (تداخل)،دخالت کول ،فضولي کول ، لاسوهنه کول ، ننوتلتیا ، د یوڅه سره برخورد کول ، مختل کول، اختلال پیښول ،مانع کېدل.

Interface
د دوه سیستمو یا مرحلو تر منځ ګډه پوله ، سرحدی سیمه ، (هغه سطحه چې ددوه فضا یا مادو تر منځ پوله (حد فاصل) جوړوی .

Interfascicular
د ګاونډیو ګډیو تر منځ پروت .

Interfemoral
د ورنونو (فخذونو) تر منځ پرته سیمه .

Interferon
اینټرفیران ، یوډول ګلایکو پروټین چې د حجرو پذرېعه جوړېږی معمولاًد ویروسونو په وړاندې د غبرګون له امله چې په پایله کې د ویروسونو د خپرېدو څخه مخنیوی کوی . یو ډول د ویروسونو ضد درمل دی چې د داخل الحجروی غېرویروسی پرازیتونو د ودې مخه نیسی .

Interictal
هر هغه حالت چې د ناروغی د دوه بریدونو په منځ کې منځ ته راځی.

Interkinesis
هغه مرحله چې د میوزس د لومړنی او دوهم ویش تر منځ وی.

Interleukin
هغه عمومی اصطلاح چې د څو کاریو سایتوکینونو د یوې ډلې لپاره کارولە کېږی کوم چې د ایمیون سیستم د ځینو لمفوئیدی او غېرلمفوئیدی حجرو په واسطه تولید پرې دغه پروټینی مواد په لمفاوی –ایمیون سیستم باندې اغېز څرګندوی .

- Interleukin -1 - IL-1
دا ډول انټر لوکین چې د (T-cell) حجرو پواسطه د انتی جنی یا میتوجنی تحریک په ځواب کې منځ ته راځی چې دا پروټین چې د ځانګړو (T-cell) حجرو تولید او ګاما –اینټرفیران پاروی چې د خباثت درملنه کې کارول شی د لوړې درجې تودوخې لامل ګرځی .

- Interleukin -2 -IL-2
دا ډول انټر لوکین چې د (T-cell) حجرو پواسطه د انتی جنی یا میتوجنی تحریک په ځواب کې منځ ته راځی چې دا پروټین چې دا پروټین چې د ځانګړو (T-cell) حجرو تولید او ګاما – اینټرفیران پاروی چې د خباثت درملنه کې کارول شی.

Interlobitis
د سږو د لوبونو (فصونو) تر منځ التهاب (پلورېزی) ، د ریوی لوبونو په منځ کې د پلورائی مایع راټولېدل.

Interlobar
د دوه لوبونو (فصونو) تر منځ اړوند صفت.

- Interlobar Artery
هغه شریان چې د دوه چې د لوبون ترمنځ واقع دئ او د پښتورګو د هرم (Renal Pyramid) دواړه لورته د قشر په لوري ځغلی .

Interlobular
د دو لوبولونو (فصیصونو) ترمنځ .

- Interlobular Artery
هغه شریانونه چې د پښتورګی د ګلومیرول په لوري ځغلی.

Internal

داخلي ، دننه، دروني ، په فطرت یا باطن پورې تړلې (وابسته) باطني ، ذاتي ، نهادی ، سرشتي ، محرمانه ، ناڅرګند ، د بدن دننه پورې اړوند صفت .

- Internal Auditory Meatus

دننه سمعی خوله (فوحه) چې (Auditory Nerve) د (Temporal Bone) ته چینلی لاره ورکوی .

- Internal Bleeding

دننه وینه بهېدنه ، داخلی خونرېزی .

- Internal Capsule

دننه پوښ ، داخلی کپسول ، هغه د رشتو بنډل چې دماغی قشر (Cerebral Cortex) د دماغ نورو برخو سره نښلوی.

- Internal Cardiac Massage

د زړه دننه واز میتود مساژ کولو کړنلاره ترسره کول تر څو زړه پخپله په تقلص او نبضان پیل وکړی .

- Internal Carotid

دننه ثباتی شریان چې په بصری شریان او همدا رنګه په قدامی او منځنی دماغی شریان باندې ویشل کېږی .

- Internal Derangement of the Knee

د مینیسک (Meniscus) د ځیرېدو له کبله د زنګون مفصل مناسب کار نشی کولای او دنده ترسره ورته سخت وی لنډه نښه یې (IDK) ده.

- Internal Ear

دننه غوږ ، متوسط اذن چې د غوږ د پردې (Eardrum) وی او د (Semicircular Canals ، Vestibule او Cochlea) درلودونکې وی .س

- Internal Haemorrhage

د بدن دننه وینه بهېدنه .داخلی خونرېزی .

- Internal Haemorrhoids

د مقعد څخه دننه برخې کې بواسیر ، داخلی بواسیر .

- Internal iliac Artery

داخلی ایلیاک شریان چې له بطنی ابهر څخه منشه اخلی او د حوصلې لورې ته درومی .

- Internal Injury

داخلی جرحه ، دننه صدمات ، داخلی ترضیض له کبله د داخلی غړو ټپی کېدنه.

- Internal Jugular

داخلی وداجی ورید ، په غاړه کې تر تولو ستر او غټ ورېد چې په (Brachiocephalic Veins) اوږی او ختمیږی .

- Internal Medicine

داخلي طب ، د اخلي ناروغیو اړوند درملنې تخصصی څانګه.

- Internal Nares

د پوزې دننه لورې ۲ ته په بلعوم کې سوری،انفی خلفی فوحې (Posterior Nares) په انډول .

Intermediate

منځګړې ، د دوه څیزونو تر منځ ، واسطه ، هغه ماده چې د یوه کېمیاوی بهیر په اوږدو کې تولید شی او تولید ئی د دې بهیر د وروستی محصول د منځ ته راتلو لپاره اړین اوضروری وی. میان مرحله ئی ، په وسط کې ، در میان ، میانه ،بین البینی ، وسطي.

- Intermediate Care

منځګړې څارنه او مراقبت.

- Intermediate Layer

منځګړې طبقه.

- Intermediate Medical School

د منځنیو طبی زده کړو ښوونځي/ فاکولته.

Intermedin

د میلانوسایټ پرووونکې هورمون .

Intermedius

واسطوی ، په اناټومی کې هغه جوړښت چې د داخلي او خارجی مخونو په منځ کې پروت وی، د (Vastus Intermedius) په انډول.

- Vastus Intermedius

منځنی وسعت ، منځنی پراختیا .

Intermenstrual

د حیضونو دورو تر منځ ، د دوه حیض دورو تر منځ اړوند صفت.

Intermittent

متناوب ، په وقفوی ډول سره ، د وقفې درلو دونکې .

- Intermittent Claudication

د شریانونو ناروغی له کبله شدید درد په متناوب ډول ګوډتوب دې چې لو اندازې تګ وروسته ګوډوالې منځ ته راځی ، متناوب بڼه ګوډ ګوډ په لاره تلل .

- Intermittent Fever

متناوبه تبه ، هغه تبه چې منظم ډول لوړوالې او ټیټوالی سره سم پېښېږی لکه په ملاریا کې .

- Intermittent Self-Catheterisation

متناوب ډول خپل ځان ته پخپله د مثانې کتېتر تېرول بلل شی لنډه نښه یې (ISC) ده .

Intern

ستاژیر ډاکټر ،د کلینیکی دورې هغه محصل ډاکټر چې د لایسنس یا جواز اخیستنې څخه دمخه په روغتون کې طبی پرکتیس کوی ، د (House Officer) په انډول.

Interna

د (Otitis Interna) په انډول.

- Otitis Interna

د دننه غوږ التهاب.

- متخصص.

Internodal

د دوه غوټو یا غدواتو (Nodes) ترمنځ اړوند صفت دئ.

Internship

هغه دوره چې یو اینترن (ستاژر ډاکټر) یې په روغتون کې تېروی.

Internuncial

د دوه ځانګړ برخو تر منځ د تحریکونو لېږد اړوند صفت.

- **Internuncial Neurone**

هغه نیورن چې د دوه نورو عصبی حجرو پورې نښلی.

Internuclear

د دوه هستو یا دشبکې دشبکې دهستوی طبقو په منځ کې پروت.

Internus

داخلی ، په اناټومی کې د هغه برخې لپاره پکار وړل شی چې د یوه غړی مرکز ته نږدې وی. لکه د سترګو په ګاټو پورې اړوند اُنسی سمه عضله (Medial Rectus Muscle) بلل شی.

Interocclusal

د اوری د غاښونو د اکلوزال سطحو په منځ کې پروت.

Interoceptor

د احشأوو پرمخ پروت یوعصبی نهایت چې له احشأوو څخه تحریکونه عصبی مرکزونو ته لېږدوی.

Interoceptive

د (Interoceptor) اړوند صفت.

Interosseous

د هډوکو دننه ، د دوه هډوکو ترمنځ اړوند صفت.

Interparietal

د سر د کټوخې (کوپړۍ) دوه جداری هډوکو (Parietal Bones) تر منځ ، د برخو جدارونو تر منځ.

- **Interparietal Bone**

د سر په خلف کې دري زاویوی (مثلثی) هډوکې دوه جداری هډوکو (Parietal Bones) تر منځ چې نادراً په انسانانو کې موندل شی.

- **Interparietal Satura**

د سر د کټوخې (کوپړۍ) دوه جداری هډوکو (Parietal Bones) تر منځ درز ته ویل شی.

Interpeduncular

انټر پنډیکولا دماغی برخه.

- **Interpeduncular Cistern**

دا یو تحت العنکبوتیه (Subarachnoid Space) واټن/مسافه ده چې د دوه دماغی نېمکرو تر منځ د (Midbrain او Hypothalamus) تر څنګ پرته ده.

- **Internal Oblique**

دننه (داخلي) مایله عضله چې د ګېډې جدار منځنی طبقه ده او د (External Oblique) تر څنګ پرته ده او د جدار یوه برخه جوړوی.

- **Internal Organ**

د بدن داخلی غړی.

- **Internal Respiration**

دننه تنفس ، داخلی تنفس ، چې پدې لړ کې وینه اوکسیجن له لاسه ورکوی او کاربن ډای اکساید له انساجو راټولوی.

International

نړیوال ، بین المللی، جهانشمول ، جهانی، دملکونو تر منځ

International Committee of the Red Cross

د سره صلیب نړیواله کمیټه چې د ناوړه او نابېره پېښو پرمهال بشری او طبی خدموتونه تر سره کوی لنډه نښه یې (ICRC) ده.

International Council of Nurses

د نرسانو نړیواله شورا . چې په (1899) کال کې جوړه او اوس مهال (120) زیات شمېر ملکونه یې غړیتوب لری او په ګډه توګه خدمتونه تر سره کوی لنډه نښه یې (ICN) ده.

International Nonproprietary Name

نړیوال نامشخصه (غیر مناسب) نوم ، د هر (8,000 names) نومونو څخه ټاکل شوې یو نوم چې د نړیوال روغتیائی سازمان (W HO) له خوا په قانونی توګه د (Generic Names) فارمسیتیک تولید لیبل لرلو ته اړتیا لری چې په اکثر ممالکو کې دغه نوم باندې پېژندل شی لنډه نښه یې (INN) ده.

International Unit

نړیواله ځانګه/ واحد ، بین المللی واحد لنډه نښه یې (IU) ده، دا هغه ستندرد قبول شوې نړیوال د فارمسی لپاره د اندازه کولو معیار دئ چې پرې درمل او هورمونونه او نورې کچې ټاکل کېږی.

Internatal

د دوه کوناټیو تر منځ.

Interneurone

هغه نیورون چې لنډ استطاله (Short Processes) لری لکه د دوه حسی یا حرکی نیورونونو د لارو (Pathways) تر منځ اړیکه یا واسطوی وجوړوی. هغه نیورون چې استطالې ئې تر یوې خانګړې سیمې لکه شاموی لوب پورې بشپړ ډول محدودې وی.

Internist

د داخلي ناروغیو ماهر او متخصص ډاکټر، د داخلي

Interphalangeal

د فلانکسونوتر منځ.

- **Interphalangeal Joint**

د لاسونو د ګوتو د فلنګسونو تر منځ بندونو ته ویل شی لنده نښه یې (**IP joint**) ده.

Interphase

د حجروی ویشنې د پراونو د دوه وېشنو په منځ کې واټن چې په بهیر کې یې د کروموزومونو افتراق لاهم نه وی شوې.

Interpubic

بین العانی ، د دوه عانې (**Pubic Bone**) هډوکو د غضروف ټوټه چې دواړه برخې سره نښلوی ورته د عانی اتفاق (**Pubic Symphysis**) نوم هم ورکړل شوېدئ.

Interruptus

وقفوی ، مقطعی.

- **Coitus Interruptus**

مقطعي مجامعت او جنسی نړدې کېدنه.

Interplant

د نسجونو جراحی پیوند ، د لیدل شویو مقدارونو پر بنسټ په یو لړ شیانو یا موادو کې د واسطوی مقدارونو ټاکنه.

Interpolation

د جنینی مرحلې د رُشیم د بدن هغه برخه چې د بل رُشیم د ودې لپاره چمتو شوې بل محیط ته لېږل کېږی.

Interpretation

توجیه ، تفسیر، توضیح ، ګزاره ، تعبیر، ترجمانی ، برداشت، شفاهي ترجمه ، په مشرح توګه له یوې ژبې څخه بلې ژبې ته اړول ، تفسیر او اجرا دواړه یو مهال ، د طب په روانپوهنه کې د درملنې هغه ډول بلل شی چې د خبرو کولو توضیح په ذریعه د ناروغی درملنه کېږی.

Interproximal

د دوه ګاونډیو سطحو په منځ کې.

Intersectio

په دوه برخو ویشل ، په دوه نیمائی برخو سره جلاکول، دوه پرکه کول

- **Intersectio Tendinea**

یوه فیبری فیته چې د یوې عضلې له ګډې څخه تېرېږی او هغه په دو برخو ببلوی او ویشی.

Intersection

هغه سیمه چې یو جوړښت پکې له جوړښت څخه تېرېږی ، دو نیمائی کول ، له منځه څخه د غوڅولو کړنه (میانبُری) ، دوه پرکه کول ، له منځ څخه پرې کول ، د دوه یا څو خطونو یا لارو یا کوڅود تقاطع ځای او محل ، څلور لارې چهارراهی (دوه لاره یا څولاړې)، مقطع ، تقاطع.

Intersex

دوه جنسه ، مخنث ، ایجړا ، هغه څوک / حیوان چې دواړه (نارینه او ښځینه) اوصافو لرونکې وی. هغه څوک چې په (**Intersexuality**) اخته وی.

- **Female Intersex**

ښځینه کاذب هرمافروډیت.

- **Male Intersex**

نارینه کاذب هرمافروډیت.

- **True Intersex**

حقیقی هرمافروډیت.

Intersexual

د (**Intersex**) اړوند صفت.

Intersexuality

د (فزیکی بڼې ، تکثری نسجونو او داسې نورو) په څېر ابعادو کې د دواړو جنسونو د ځانګړنو لرل چې رشیمی دورې د اختلالاتو له املې منځ ته راځی چې د (**Klinefelter's Syndrome** او **Turner's Syndrome**) سندرومونو کې لېدل شی.

Interspace

د دوه ورته جوړښتونو تر منځ واټن (فضا) بلل شی.

Interstice

د بدن په یوه نسج یا جوړښت کې د یوه کوچنی درز (فاصلې) شتون ته ویل شی.

Interstitial

بین النسجی مسافه اړوند صفت ،په یوه نسج کې د په بین البینی واټنونو (فضاګانو) یا برخو پورې اړوند.

- **Interstitial Cell**

بین النسجی حجره ، د تستوسټیرون (**Testosterone-producing**) مؤلد حجره چې د مرغېږیو په ټیوبولونو کې واقع دی ورته (**Leydig cell**) نوم هم ورکړل شوېدئ.

- **Interstitial I Cell Stimulating Hormone**

د بین النسجی حجرې تحریک کوونکې هورمون چې د (**Pituitary Gland**) غدې پذریعه تولیدېږی او د (**Corpus Luteum**) د جوړېدنې تنبه په ښځو ا و نارینه کې د تستوسټیرون تنبه منځ ته راوړی ، د (**Luteinising Hormone**) په نامه.

- **Interstitial Cystitis**

بین النسجی مثانی التهاب، غېر باکتریائی معند د مثاني التهاب (درد او فریکونسی) سره مل دئ او د (**Hunner's Ulcer**) سره مترافقاً لېدل کېږی.

Intertransverse
د فقراتو د مستعرض زوائدو تر منځ .

Intertransversus
د فقراتو د مستعرض زوائدو تر منځ اړوند صفت .

Intertrigo
د پوستکی تخریش او سوروالي (ایریتیماتوزی دانې) چې د بدن د پوستکی د کوتیزې (جیونو) برخو لکه (تخرګ او کوناټیو) په منځ کې لیدل شی.

Intertubercular Plane
د دوه تویرکولونو تر منځ پلان (تېره شوې کرښه) ، د (Transtubercular Plane) په انډول.

Interureteral
د دوه حالبونو تر منځ اړوند صفت .

Interureteric
د دوه حالبونو تر منځ اړوند.

Intervaginal
د دوه پوښونو تر منځ ، د مهبل د منځ او دننه پورې ترلې .

Interval
د دوه شیانو / څیزونو تر منځ (فضایافاصله) واټن ، د دوه پېښو ترمنځ زمانی واټن. وقفه Intermission ، موده ، میانځای ، د مودې مینځ ، مکث ، تفریح ، د دوه حالتونو تر منځ وقفه ، فرق ، تفاوت.

- **Atrioventricular Interval**
د زړه دهلېزی – بطینی سیستولونو تر منځ وقفه چې په زړه په برېښنائی ګراف کې تثبیت کېږی چې د اذینی –بطینی فاصلې سره معادل دي.

- **Cardioarterial Interval**
د زړه د ذروې (څوکې) د ضربې او شریانی نبض تر منځ زمانی واټن ته ویل شی.

- **Coupling Interval**
د یوه بې ځایه ضربان او تر هغه وروسته د یوه دهلېزی ضربان تر منځ واټن .

- **Escape Interval**
د یوه بېرنی ضربان (ټکان) او د ورپسې نورمال ضربان تر منځ وقفه.

- **Interdischarge Interval**
په یوه عضلاتی رشتې (فایبر) کې د اکشن پوټانسیال د الکټریکی دوه تخلیو تر منځ زمانی فاصله .

- **Interpotential Interval**
په یوه حرکتی واحد کې د دوه عضلاتی فیبرونو د اکشن پوټانسیال د برېښنائی تخلیو ترمنځ فاصله/ واټن.

- **Lucid Interval**
د عصبی سایکوز او سر دماغی ترضیض وروسته د بېهوښی پسې هغه د ښه والی (ښېګړې) نښو نښانو لنډ مهالې زمانی واټن ته ویل شی چې ناروغ وروسته له هغې بیا دبېهوښئ لورې ته ځی.

- **Pacemaker Escape Interval**
د ضربان پېښونکې ماشین په واسطه د منځ ته راغلی لومړنی ضربان او د زړه د بنفسهی فعالیت تر منځ زمانی واټن .

- **P-P Interval**
تر بلې د (P) څپې پورې د (P) د څپې د پیل تر منځ زمانی واټن چې د یوې قلبی دورې له اوږدوالی سره انډول لری.

- **P-R Interval**
د (QRS) د کمپلکس (ټولګې) تر پیل پورې د (P) د څپې د پیل تر منځ زمانی واټن .

- **QRS Interval**
د (S) د څپې تر پای پورې د (Q) د څپې له پیل څخه زمانی واټن چې د بطینی ډیپولرایزیشن د وخت سره انډول لری .

- **QRST Interval**
د (Q) د څپې له پیل څخه (S) څپې تر پای پورې زمانی واټن چې د بطینونو د الکټریکی فعالیت د وخت (Q-T Interval) سره انډول لری.

- **Systolic Time Interval**
هغه وخت چې د بطینونو د کار (دندې) د قابلیت د ارزونې لپاره په پام کې نیول شی په ځانګړی ډول د (کینې بطین د تخلیې وخت ، میخانیکی برثبنائی سیستول وخت او د تخلیې څخه دمخه مرحلې وخت) بلل شی لنډه نښّه یې (STI) ده.

- **V-A Interval**
د بطینی تحریک او د ورپسې اذینی تحریک تر منځ واټن.

Intervention
مداخله، مینځګړتوب ، درملنه ، په یوه چاره کې د مداخلې –لاسوهنې بهیر ، هر هغه ګام چې د یوې ناروغۍ د بهیر د بدلون او یا د روغتیا د سمون په لاره کې اخیستل کېږی.

- **Crisis Interventional**
یو لنډ مهالې روانی –درملنیزه چلند چې د ناروغ په شاو خوا محیط کې د تشخیصی بحرانونو د لېرې کولو سره مرستې په موخه تر سره کېږی ، هر هغه ګام چې د یوې ناروغۍ د بهیر په عاجل /بېړنی حالت د سمون لپاره اخیستل کېږی.

- **Interventional Radiology**
مداخلوی راډیولوژی. هغه برخه د طبابت چې پکې د درملنې په موخه د (X-rays) ،همدا رنګه د التراساونډ ، (Computer Assisted - Tomography) په مرسته د بدن بېلابیلو برخو ته یو رهنمود تېرېږی او (Biopsies ، Draining Fluids) او رګونو توسع ورکولو ترسره کولو لپاره د دغه وسائلو څخه کار اخیستل شی.

- **Interventional Surgery**
مداخلوی جراحی کړنلاره تر سره کول.

Interventricular

د بطینونو تر منځ ، دزړه یا دماغ د بطینونو تر منځ اړوند صفت.

- Interventricular Foramen

د دماغ د جنبی او دریم بطیناتو تر منځ وازه فوحه چې ورځخه دماغی –نخاعی مایع تېرېږی .

- Interventricular Septum

د زړه د کیڼ او ښی بطینونو تر منځ غوښنه طبقه او غشأ .

Intervertebral

د ملا تیر د فقراتو تر منځ.

- Intervertebral Disc

یو ګردي قاب ډوله غضروف چې دفقراتو دوه هډوکی د ملاتیر کې سره ښلوی ، د (**Vertebral Disc**) په انډول .

- Intervertebral Foramen

د ملاتیر د فقراتو په منځ کې تشه مسافه . فقری فوحه

IntervIllous

د کولمو ذغابو په منځ کې، د ذغابو په منځ کې .

Intestinal

د کولمو اړوند ، د کولمو پورې تړلې.

- Intestinal Anastomosis

د کولمو تر منځ تفمم (د ګنډلو کړنلاره) چې یوه برخه د بلې سره ترمیم او بیا رغاول شی.

- Intestinal Flora

د کولموفلورا ، مفیده باکتریاوی چې تل په کولمو کې شتون لری .

- Intestinal Glands

د کولمو غدوات ، تیوبولی غدوات چې د مخاطی غشأ په طبقه کې خصوصاً د ویلی(**Villi**) په قاعده کې شتون لری ورته د (**Lieberkühn's glands** او یا **Crypts of Lieberkühn**) نوم هم ورکړل شوېدئ .

- Intestinal Infection

د کولموانتانات ، د کولمو میکروبی کېدنه.

- Intestinal Juice

د کولمو عصاره ، د کولمو ځخه افرازېدونکې قلوی ماده چې په هضم د غذائی موادو کې رول لری .

- Intestinal Obstruction

د کولمو بندښت ، د کولمو انسداد ، د کولمو بندېدنه .

- Intestinal Villi

د کولمو په جدارونو کې په مخاطی غشأ کې استطاله ئي جوړښت چې په هضم او جذب کې رول لری .

- Intestinal Wall

د کولمو جدار ، د کولمو دېوال ، د کولمو جدار د (مخاطی غشأ ، تحت المخاط ، عضلی او مصلی) طبقو ځخه جوړه برخه بلل شی.

Intestine

کولمې ، امعأ ، معائی برخه د هضمی جهاز چې پکې د هضم او جذب پروسه تر سره کېږی او د دمعدې د پیلور - اثناعشر ځخه تر مقعد پورې اوږدوالې لری. غټې او کوچنی کولمې ، همدارنګه اصطلاح ګانې چې د (**-Entero**) مختاړی پّه کلمو پیل کېږی.

- Intestine Circulation

د کولمو اړوند اروأ ، د کولمو د وینې بهیر.

- Large Intestine

غټې کولمې ، غلیظه امعأ ، دا برخه بعیده کولمې چې[(**5 Feet**) یا (**1.5 m**)] اوږد والې لری او د (سیکوم ، صاعده کولون ، مستعرض کولون ، نازله سیګموئید کولون ، ریکتوم او ممقعدی کانال) ځخه منځ ته راځی .

- Loop of Intestine

د کولمو لوپ.

- Intestine Innervation

د کولمو تعصیب.

- Intestine Obstruction

د کولمو بندښت.

- Small Intestine

وړې کولمې ، نری کولمې ، دا برخه قریبه کولمې دی چې شاوخوا[(**20 Feet**) یا (**6 m**)] اوږد والې لری او دمعدې د پیلور ځخه تر سیکوم پورې غځېدلې او د (اثنا عشر ، جیجینوم او ایلیوم) برخې پکې شامل دی.

- Intestine Ulceration

د کولمو تقرح ، د کولمو ټپونه.

Intestinum

کولمې ، د (**Intestine**) په انډول.

Intima

په رګونو کې تر ټولو دننه طبقه ، د شریان او ورید داخلی طبقه.

- Tunica Intima

د انتیما طبقه ، دننه طبقه په ځانګړې توګه په رګونو کې.

Intimal

د (**Intima**) اړوند .

Intimitis

د رګونو د انتیما طبقې التهاب.

Into

دننه ، د یوه تش منځې ځیز په منځ کې .

Intolerable

نه زغمل کېدونکې، نه ګالل کېدونکې، سخت زړی

Intolerably

په نه زغمیدونکی توګه

Intoxicant
مسموم کوونکې ، سمی ، نشه راوړنکی شیان ، هغه مواد چې مسمومیت او انتوکسیکیشن حالت منځ ته راوړی لکه د الکهولو خوراک له امله .

Intoxicate
نشه کول، مستول ، هغه فعل چې یو څوک ونشی کړای ځان کنترول کړی .

Intoxication
نشه ، هغه حالت چې یو څوک د ډېر اندازې موادو څښاک یا خوراک له کبله په نشه اخته شی ، مسموم کېدل ، مسمومیت.

- **Alcohol Idiosyncratic Intoxication**
د الکهولو د لږ اندازې څښاک په وړاندې غېر نارمل چلندیز عدم تحمل او بدلونونه چې د الکهولو څښاک له امله پېښېږی .

- **Pathological Intoxication**
د (Alcohol Intoxication) په اندول .

Intra-
دا یو مختاړې دئ او د دننه معنی بشپړوی .

Intra -abdominal
د ګېډې دننه ، داخل البطنی ، د ګېډې د جوف دننه کې .

Intra -articular
د بند دننه ، داخل المفصلی ، د مفصل د جوف دننه کې .

Intracapsular
د کپسول د جوړښت دننه ، کپسولی شوې ، د پوښ دننه شوې.

Intracanalicular
د کوچنیو مجراګانو منځ ، د کانالیکولونو دننه منځ .

Intracardiac
د زړه دننه ، داخل القلبی ، د زړه په منځ پورې تړلې –اړوند.

Intracellular
د یوې حجرې منځ کې ، د حجرې جوړښت دننه اړوند صفت.

Intracerebral
د ماغزو دننه ، داخل الدماغی ، د ماغزو په نېمکرو منځ کې.

- **Intracerebral Haematoma**
د داخل الدماغی وینه بهېدنه او هیماټوم جوړښت ، د ماغزو په نېمکرو منځ کې د وینه بهېدنې له امله د هیماټوم جوړښت او منځ ته راتګ .

Intracervical
د رحم د سرویکس (عنق) کانال په منځ کې .

Intolerance
په نه زغمیدونکی توګه ، بې تحمله ، نا زغمه ، تعصب ، هغه حالت چې د درملو او خوراکی موادو په زغملو نه توانېدل لکه د پنسیلین د نه زغملو .

- **Congenital Intolerance**
د (Sucrose Intolerance) په انډول.

- **Drugs Intolerance**
د درملو د زیاتې کارولو له امله در درملو په وړاندې عدم تحمل .

- **Disaccharide Intolerance**
د نس ناستی ، یا د (ګېډې درد او پرسوب) په بڼه د هضمی علایمو یوه مجموعه چې د یوه ډای سکرایډ د کمښت په اثر منځ ته راځی خو په جذب کې ستونزې اونورو لاملونو له امله هم پېښېږی.

- **Heridatory Fructose Intolerance**
ارثی ډوله د فرکټوز په وړاندې عدم تحمل ، چې د فرکتوز په میتابولیزم کې ارثی ستونزه په انزایمی نیمګړتیا تړاو لری په ماشومتوب کې پیلیږی او د (نس ناسی ، هایپوګلایسیمی ، فرکتوزیوریا ، فرکتوزومیا ، بې اشتهائی ، استفراغ ، د ودې ستونزې ، د طحال ضخامې او فرکتوزی موادو خوراک نه زغم) له مخې پېژندل شی.

- **Lactose Intolerance**
د پولې سکرایدونو نیمګړې ډول د لاکتوز یو ډول عدم تحمل دئ معمولاً د کولمو په مخاط کې د لاکتیز د انزایم دفعالیت د کمښت له امله منځ ته راځی او د زېږون څخه سمدلاسه وروسته د (کانګې ، بې اوبی ، وده ائیز ستونزې ، ډای سکرایډیوریا ، د سترګې ګل) پذربعه پېژندل شی.

- **Lysine Intolerance**
د لایزین تجزیې اوماتېدنې په بهیر کې یوه ارثی ستونزه چې د [کانګې ، عضلاتی شخوالې ، په وینه کې د امونیا زیاتې کچې د لایزین او ارجینین د زیاتو شویو کچو،] په مټه پېژندل کېږی ، د (Congenital Intolerance) په انډول.

- **Lysinuric Protein Intolerance**
یو ډول میتابولیزمی ارثی اختلال چې د اساسی آمینواسیدونو ل لېږد پکې خرابېږی او د [د ودې کمښت ، عضلاتی شخوالې تشنج ، په وینه کې د امونیا دوخت ناوخته زیاتې کچې) ذهنی شاته والې او طحال ضخامه ، عضلی کمزورتیا او د اوستیوپینیا] په مرسته پېژندل شی.

- **Sucrose Intolerance**
د ډای سکرایډونو یو ډول عدم تحمل چې تر سکروز پورې ځانګړې دي او د سکراز –مالتیاز د انزایمی مجموعی په ولادی کمښت پورې تړاو لری ، د (Congenital Intolerance) په انډول.

Intolerant
بې زغمه، نه ګالونکی، بې تحمله، متعصب .

Intorsin
د مخ د منځنی لیکې (کرښې) په لوري د دواړه سترګو څخه د هرې یوې د عمودی محور د پورتنی قطب مخ په دننه څرخېدنه ده.

Intracranial
د قحف دننه ، د سر کوپړۍ د کتوخې دننه لومنۍ کې اړوند صفت.

- Intracranial Pressure
د تحت العنکبوتیه فشار چې د تحت العنکبوتیه مایع له امله د دماغی او قحفی مسافی د ډکوالی سبب ګرځی،داخل الدماغی فشار ، داخل القحفی فشار لنډه نښه یې (**ICP**) ده.

Intracrine
یو ډول هورمونی کار چې په هغه کې د حجرې دننه یو تنظیموونکې عامل داخل الحجروی رسپټورونو سره د پیوستون له لارې خپل کار تر سره کوی.

Intractable
د ښېګړې او د درملنې په وړاندې مقاوم ، نه ایلیدونکی، سرکښ، کلک، سخت ، نه قابو کېدونکې .

Intracutaneous
د پوستکی د طبقاتو تر منځ ، داخل الجلدی .

- Intracutaneous Injection
داخل الجلدی زرقیات لکه د الرژی آزمایښت او نورو لپاره .

Intracystic
د مثانې د کڅوړې دننه ، د یوه سیسټ دننه اړوند صفت .

Intradermal
د پوستکی د طبقاتو تر منځ ، داخل الجلدی اړوند صفت.

- Intradermal Test
د پوستکی د طبقاتو تر منځ آزمایښت ، داخل الجلدی تست لکه د (**Mantoux Test**او یا **Allergy Test**) په څېر آزمایښتونه .

Intradermic
د پوستکی د طبقاتو تر منځ ، داخل الجلدی ، د (**Intradermal**) په انډول .

Intradural
د ډیورا متر (**Dura Mater**) دننه. د ډیورا متر په منځ کې اړوند.

Intrafat
د غوړین (شحمی) نسج دننه پروت . داخل الشحمی .

Intrafusal
د یوه عضلاتی دوک دننه په مخططو فیبرونو پورې اړوند.

Intralobular
د یوه لوبول (فصیص) دننه.

Intramedullary
نخاعی طناب، دبصل النخاع دننه ،د هډوکو د ماغزو په منځ کې.

Intramural
دیوه غړی د دیوال (جدار) په منځ کې لکه د کولمو د عضلی جدار.

Intramuscular
د عضلاتو په منځ کې. د عضلی جدار منځ کې، داخل العضلی.

- Intramuscular Injection
د عضلی دننه تزریق ، داخل العضلی پیچکاری .

Intranasal
د پوزې دننه ، داخل الانفی ، د پزې دننه .

Intraocular
د سترګو ګاټو دننه، داخل البصری.

- Intraocular Lens = IOL
د د سترګو ګاټو دننه غمې ، داخل البصری عدسیه چې په مصنوعی توګه جوړ او اینسودل کېږی

- Intraocular Pressure
د سترګو ګاټو دننه فشار ، داخل البصری فشار که چېرې ډېر لوړ وی د ګلوکوما (**Glaucoma**) لامل ګرځی.

Intraoperative
د عملیات دننه ، د جراحی کړنلارې تر سره کولو په منځ کې.

- Intraoperative Management
د عملیات کولو پر مهال منجمنت.

- Intraoperative Pain
د عملیات کولو پر مهال درد .

- Intraoperative Period
د عملیات پرمهال دوران .

- Intraoperative Ultrasound
د عملیات پرمهال او دوران کې د التراساوند تر سره کول لنډه نښه ئې (**IOUS**) ده.

Intraorbital
د سترګو د ګاټو د جوف دننه ، د سترګو د اوربیت دننه.

Intraosseous
د هډوکو دننه ، د هډوکو د ماغزو دننه.

Intraparietal
د ماغزو د پاریتال برخې اړوند ، د سر د کتوخې جداری هډوکو تر منځ، د (**Intramural**) په انډول.

Intrapartal
د (**Intrapartum**) په انډول.

- Intrapartal Hemorrhage
د زېږون پر مهال د وینې بهېدنې پېښه .

Intrapartum
د زېږون پر مهال پېښه .

Intrapsychic
هر هغه پېښه یا بهیر چې په ذهن کې منځ ته راشی.

Intraspinal
د ملاتیر دننه . د دوه (Spin) تر منځ اړوند صفت .

Intrathecal
د یوپوښ دننه ، د تحت العنکبوتیه فضأ او د نخاعی طناب د تېکا تر منځ واټن کې ، د ډیورا متر مسافی منځ کې .

Intratracheal
د توتکی (شزن) دننه ، د سږو د غټې نلکې ترخیا په منځ کې ، د (Endotracheal) په انډول.

Intratubercular
د توبرکولونو ترمنځ .

- **Intratubercular Plane**
د دوه کریستا ایلیاک توبرکولونو(Tubercles) څخه تېرېدونکې سهمی پلان چې ښی زاویی ته څېرمه

Intratympanic
د صماخی پردې منځ اړوند صفت .

Intrauterine
د رحم د جوف دننه . د ځلانځې په منځ کې .

- **Intrauterine Contraceptive Device**
هغه د رحم دننه د بلاربښت مخنیوې کوونکې وسیله چې پلاستیک حلقې یا بله بڼه لري او په رحم کې کېښودله شی چې لنډه نښه یې (IUD ، IUCD) ده.

- **Intrauterine Device**
د رحم دننه د بلاربښت مخنیوې کوونکې وسیله ، د (Intrauterine Contraceptive Device) په انډول.

- **Intrauterine Hemorrhage**
داخل الرحمی وینه بهېدنه.

- **Intrauterine Life**
د جنین دوره ، داخل الرحمی دوره ، د بلاربښت لومړې ورځې څخه تر د ماشوم زېږون پورې د جنین د ودې دوره او ژوند موده بلل شی.

Intravasation
د رګونو دننه ته د بهرنیو موادو ننوتل.

Intravascular
د رګونو دننه برخې اړوند ، داخل الوعائی اړوند صفت.

- **Intravascular Bleeding**
د رګونو دننه وینه بهېدنه .

- **Intravascular Blood**
د رګونو دننه وینه .

- **Intravascular Cloting**
د رګونو دننه علقه (پرې).

- **Intravascular Coagulopathy**
د رګونو دننه دعلقې کېدنې ستونزې.

- **Intravascular Valum**
د رګونو دننه حجم .

Intravenous
داخل الوریدی، وریدی دننه چې لنډه نښه یې (IV) ده، د وریدله لارې ، د وریدپورې اړوند صفت.

Intravenous Catheter
وریدی زرقیاتو لپاره وریدی کتېتر.

- **Intravenous Drip**
د وریدد دننه له لارې په څاڅکی څاڅکی ډول د سږوم او نورو مایعاتو تزریق او تدریجی تطبیق بلل شی .

- **Intravenous Feeding**
د وریدله لارې تغذیه ده چې وریدته د یوې کنولا تېرولو وروسته ناروغانو ته تغذیه ورکول شی.

- **Intravenous Fluid**
وریدی زرقیاتی مایعا ت.

- **Intravenous Injection**
وریدی زرقیات ، وریدی پیچکاری (درمل او نور مواد) .

- **Intravenous Nutrition**
د (Intravenous Feeding) په انډول.

- **Intravenous Pyelogram**
وریدته و یوروګرافین حاجب (رنګه ښکاره کېدونکې) مادې تېرولو وروسته د فلم (X-ray) اخیستلو میتود دې چې پکې د بولی سیستم اناټومیک جوړښت او دنده تر سره کول تثبیت کېږی لنډه نښه یې (IVP) ده.

- **Intravenous Pyelography**
وریدته و یوروګرافین حاجب (رنګه ښکاره کېدونکې) مادې تېرولو وروسته د فلم (X-ray) اخیستلو میتود کړنلارې تر سره کول دې چې پکې د بولی سیستم اناټومیک جوړښت او دنده تر سره کول تثبیت کېږی.

- **Intravenous Urogram**
د (Intravenous Pyelogram) په انډول.

- **intravenous Urography**
د (Intravenous Pyelography) په انډول.

Intraventricular
دزړه یا دماغی بطینونو دننه په منځ کې .

- **Intraventricular Catheter**
داخل البطینی کتېتر .

- **Intraventricular Pressure**
داخل البطینی فشار .

Intravital
د ژوندون په بهیر کې د یوې پېښې رامنځ ته کېدل.

Intravitam

د ژوندون دورې په بهیر کې .

Intrinsic

ذاتی، طبیعی، اصلی، حقیقی ، داخلی ، د یوې برخې یا د یوه غړی دننه ځای پر ځای شوې پورې اړوند صفت.

- **Intrinsic Causes**

دننه لاملونه ، داخلی اسباب .

- **Intrinsic Factor**

داخلی او ذاتي فکتور.

- **Intrinsic Ligament**

دننه یا داخلی لیګامنټونه چې د یوه بند د کپسول دننه واقع وی.

- **Intrinsic Muscle**

دننه – داخلی عضلې ، لکه د یوه غړی (طرف) دننه عضلات.

- **Intrinsic Pathway**

داخلی تګلاره ، دننه پتوہی.

Intrinsically

په ذاتی توګه، په طبیعی ډول

Intro-

دا یو مختاړې دئ او د دننه - داخلې معنی بشپړوی.

Introduce

ورپیژندل (معرفی کول)، دو دول (رواجول)، لارښوونه کول . یو او بل سره معرفی کول ، د وردننه کولو کړنه ، ننباسل ،کښنودل ، ځای پر ځای کول.

Introduction

پیژند ګلوی، سریزه ، معرفت ، د کښنودنې او ځاپرځای کولو کړنه تر سره کول .

Introductory

مقدماتی، دپیژندګلوی ، د سریزې په توګه.

Introitus

د یوه غړی د جوف یا تش منځې ارګان مدخل ، د یوې محفظې د ننوتلو خوله .

Introjections

یو ډول ذهنی بهیر چې په هغه کې بهرنی عاشقانه موضوعات په لا شعوره ډول د یوه کس دننه ځای نیسی او دهغه تر اغېز لاندې راځی.

Intromission

یوې برخې ته د بلې برخې ورتلل یا په بل کې ددوه موضوعګانو ننوتل.

Intron

د یوه جنین د دوه کوډ لرونکو لړیو تر منځ یوه نا کوډه لرونکې لړی چې د (m RNA) د جوړښت په بهیر کې حذف کېږی.

Introspection

خپلو اعمالو اوفکاروته کتنه ،خپل ځانته ځیرېدنه ، د شخصی احساساتو او افکارو په اړه ځیر او چُرت کول، ځانته پاملرنه.

Introspective

د (Introspection) اړوند صفت.

Introsusception

تغلف ، د یوې کولمې یو په بل کې ننوتنه، د (Intussusception) په انډول.

Introversion

دننه ته تاوېدنه ، په بشپړ یا نیمګړی ډول دننه لورې ته دیوه غړی تاوېدنه ، په روانپوهنه کې داسې حالت بهرنی نړی ته د لاپامی اوخپل شخصی ستونزوته د پام په بنه ذهنی ډېره زیاته بوختېدنه .

Introvert

د روان پوهنې له مخې دننه ګرایش ، درون ګرایي کول، دننه لورې ته ټیټ (خم ،کروپ) شوې ،، دننه کروپ کول ، دننه او داخلی پیچل لکه (لوله مانند اندام) ، درون پیچه.ډېره پرځان باندې بوختیا.

Introverted

دننه لورې ته تاو شوې بنې لرونکې غړی، ځان لورې پام اړول شوې.

- **Introverted Intestine**

دننه تاو شوې کولمې .

- **Introverted Uterus**

د رحم دننه تاوېدنه.

Intubate

د یوه غړی دننه ته د ټیوب دننه کول ،د (Catheterise)کتېټر تیرول په انډول.

Intubation

د یوه غړی کانال دننه ته د ټیوب دننه کولو کړنلاره لکه د شزن دننه د ټیوب تېرول ، د (Catheterisation)کتېټر تیرولو په انډول.

- **Endotrachial Intubation**

د بېهوښی منځ ته راوړلو پرمهال د شزن دننه دټیوب تثبیت کول.

- **Nasal Intubation**

هضمی یا تنفسی جهاز ته د پوزې دننه د ټیوب ننوېستلو کړنلاره.

(تبری) کول ، لاسوهنه ، هجوم راوړل ، مختل کېدا ، نقص کول ، بې اجازې ننوتل ، یرغل کول، حمله کول، تعرض کول لکه د ماېکروارګانیزمونو یرغل له املهنارو غی پېښېدل.

Invader

یرغل کوونکی لکه مېکروبونه.

Invagination

تغلف ، انتوسوسپشن (Intussusception) ، د تغلف په میتود سره ارجاع کولو کړنلاره.

Invalid

ناروغه، معیوبه، بې وسه ، ناتوانه ، ضعیف ، باطل، بې اعتباره .هغه کس چې ناروغی یې کاملاً ریکوری (بېنه والې) موندلې نه وی او دایمی عیب یې پېښ کړېوی.

Invalidate

باطل کول، هیڅ کول، بی اثره کول.

Invalidism

زړه او اوږده ناروغی.

Invalidity

هغه حالت چې معیوبیت څرګندوی.

Invasion

چپاو ،د ناروغی یرغل ، د ناروغی د حملې پیل ، د رنځ د پېښېدنې څخه دمخه د بدن په نسجونو کې د باکتری ګانو ځای نیونه ،مجاورو نسجونو ته د تومورونو تخریب کوونکو حجرو ارتشاح موندل.

Invasive

یرغلګر، مهاجم ، تهاجمی کېفیت لرل ، هر هغه ارګانیزم یا نسج چې ددې توان ولری چې پربل نسج باندې اغېز او یرغل وکړی د مهاجم په نامه یادېږی.

- Invasive Bacteria

مهاجم باکتریاوی.

- Invasive Tissue

مهاجم نسج.

- Invasive Tumor

مهاجم تومور.

Invassiveness

مهاجمیت ، بدن ته د داخلېدو او هلته په نسجونو کې د خپرېدو لپاره د میکروبونو توان.

Inverse Care Law

هغه تئوری چې هغه خلک چې دېرې څارنې او خدمت ته اړتیا لری لږه اندازه د لاسرسی توان لری.

- Oral Intubation

د خولې له لارې هضمی یا تنفسی جهاز ته د ټیوب د داخلولو کړنلاره.

Intumescence

د یوه غړی پرسوب ، د پرسېدنې بهیر.

Intumescent

د (Intumescence) اړوند صفت.

Intumescentia

د (Intumescence) په انډول.

Intussusception

تغلف ، د هضمی کانال د یوې برخې دننه ته د ګاونډی برخې ننوتلو کړنلاره بلل شی لکه چې د کولمو مقدمه برخه د ورپسې کولمې دننه ورننوزی او انسداد او اختناق لامل ګرځی.

Intussusceptum

متغلف شوې ، د کولمې هغه برخه چې د بلې برخې داخل ته یې پرولاپس کړېوی او یا دننه ورننوتې وی.

Intussuscipiens

تغلف موندلې ، د کولمې هغه برخه چې داخل ته یې د بلې برخې کولمه پرولاپس کړېوی او یا دننه ورننوتې وی او پکې ځای پرځای وی.

Intuition

شعور، حس، بصیرت،ادراک

Intuitive

شعوری، حسی.

Inulin

یو ډول نشایسته چې په ځینو بوټو کې موندله کېږی له هایدرولایز څخه یې فرکټوز په لاس راځی او د پښتورګو په وظیفوی آزموېنه کې کارولې شی.

Inunction

د بدن یوې برخه باندې د مرحم (ملحم) موښل ، هغه ملحم چې د لاتولین څخه جوړ شوېوی.

Inure

آموخته کول، عادت ورکول.

In utero

په رحم کې دننه ، داخل الرحمی ، د رحم داخل.

In vacuo

په تشیال کې ، په یوه تش منځې فضاً کې.

Invade

یرغل ، تر تاخت و تاز لاندې راتلل ، ،پّه نظامي کې تجاوز

پتالوژیک څېړنه.

Investigative

د تحقیق وړتیا لرونکې ، څېړنیز.

- **Investigative Surgery**

تحقیقی جراحی څېړنې.

Investigator

پلټونکی، تحقیق کوونکی

Invidious

کرکه پیدا کوونکی،نفرت راوستونکی

Invigorate

پیاوړی کول، غښتلی کول، قوی کول، ژوندی کول.

Inviolate

هغه چه لاس یې نه وی خوړلی، سپیڅلی، خوندی، مصئون، مقدس ساتل شوی.

Invisibility

ناڅرګند توب.

Invisible

نه لیدل کېدونکې ، نه ښکاره کېدونکې، نا څرګند ، نامرئی.

In Vitro

دا یو ډول لاتینې فقره ده چې په [یوه شیشه کې) ، (**'In a Glass'**) کې معنی بشپړوی لکه د (**Test Tube**) یا دهغه ظرف چې په لابراتوار کې کارول شی.

- **In Vitro Activity**

په (**In Vitro**) کې فعالیت .

- **In Vitro Experiment**

د لابراتوار په (**In Vitro**) کې تجربه .

- **In Vitro Fertilisation**

د لابراتوار په (**In Vitro**) کې د یوه هګۍ (**Ovum**) القاح ، د آزمایښتی ټیوب دننه ماشوم لنډه ننښه یې (**IVF**) ده، د (**Test-Tube Baby**) په انډول.

In Vivo

د ژوندی موجود بدن دننه ،دا یو ډول لاتینې فقره ده چې په (یوه ژوندی نسج کې) یا (**'in living tissue'**) کې معنی بشپړوی لکه د یوه ژوندی جسم لپاسه تجربې لپاره کارول شی.

- **In Vivo Experiment**

په یوه ژوندی جسم باندې تجربه تر سره کول لکه لابراتواری حیوان.

Involucrum

یو پوښ یا غلاف ، دیوه نوی هډوکی پوښل چې د یوې ناروغۍ په لړ کې منځ ته راغلې وی.

Inversion

په لټه اوښتل،دننه لورې څرخېدل ، سر چپه کېدل، اوښتې بڼه نیول ، اړونه ، بدلونه .

- **Inversion of the foot**

د پښې اوښتنه ، د پښو څرخېدلې بڼه نیول.

- **Inversion of The Uterus**

د رحم یو ډول تاوېدنه چې د رحم غور(فوندوس) د رحم پر عنق فشار راولی او هغه له خپل ځاېه څخه بې ځایه کړی ښائی د زېږون پرمهال پېښ شی.

- **Visceral Inversion**

په بښی او کېڼ لوری کې د بطنی ارګانونو تعویضی ځای پر ځای کېدنه.

Invert

اړول، سرچپه کول، نسکورول

Invertase

په کولموکې هغه انزایم چې سکروز (**Sucrose**) تجزیه کوی.

Invertebrate

غېر فقاریه ، بې شمزی، هغه چه دملاتیرنه لری، هغه حیوان (ژوی) چه ستون فقرات نه لری .

Invest

رسماً مقرروول، واک، صلاحیت ورکول، رتبه ورکول ، پانګه اچول، سرمایه ګذاری کول ، پر موډل باندې چاپ ویستل .

Investment

هغه موډل چې دهغه پرمخ د مصنوعی غاښونو چاپ ویستل کېږی.

Inverterate

محدود او مزمن ، هغه حالت یا ناروغی چې اوږد مهالې (مزمنه) وی او د درملنې په وړاندې مقاومه وی. پخوانی، زوړ، لرغونی، عادت شوی، معتاد .

Investigate

پلټل،څېرل، سپړل .

Investigation

پلټنه،څېړنه، سپړنه ، تحقیق ، د کتنو (معایناتو) تر سره کول دی تر څو د یوې ناروغۍ لاملونه وموندل شی.

- **Clinical Investigation**

کلینیکی څېړنه .

- **Histopathologic Investigation**

هستوپتولوژیک څېړنه .

- **Laboratory Investigation**

لابراتواری څېړنه .

- **Pathologic Investigation**

Involuntarily
جبری، په زوره، نارضا، بی اختیاره.

Involuntary
په جبری توګه، په نارضایی سره ، غیر ارادي توګه ، په اوتوماتیکه بڼه تر سره کول ، نا غوښتې بڼه.

- **Involuntary Action**
لاشعوره او نا غوښتې عمل ، بې ارادي عمل ، د بې تصمیمه عمل تر سره کېدا.

- **Involuntary Functions**
غیر ارادی دندې.

- **Involuntary Movement**
غیر ارادی حرکتونه.

- **Involuntary Muscle**
غیر ارادی عضله ،د هغه عضلې اړوند چې غیر ارادی عمل تر سره کوی چې اعمال یې د (**Autonomic Nervous System**) یا خود کاره عصبی سیستم پذیرېعه کنترول کېږی لکه د زړه عضله.

Involution
دننه لوړې ته څرخېدل ، د یوه غړی خپل اصلی اندازې ته بیرته راګرځېدل لکه د رحم راټولېدل خپل حال ته د زېږون څخه وروسته ، په ډېرو حیواناتوکې د ګاسترولېشن د بهیر یوه مرحله ، خپل لومړنی حالت ته سمبدونکې بدلون ، د نسجونو تدریجی تخریب چې د عمر د زیادښت په پایله کې منځ ته راځی. (پزشکي) بازګشتي اوښتنه او دګرګوني ، پس ګشت .

Involutional
د (**Involution**) اړوند صفت.

- **Involutional Melancholia**
هغه انحطاط (**Depression**) چې په خلکو کې بېرته د سمبدو لوړې ته اوړی لکه د منځنی عمر ښځو کې بدلونونه چې د اندوکریني افراز له امله منځ ته راځی.

Invulnerable
اغیزه نه منونکی، اثر نه قبلوونکوی، له یرغل څخه خوندی، هغه چه هیڅ اثرنه پر کیږی، هغه چه د صدمې اوضرر څخه خلاص وی.

Inward
دننه خوا، دننه لوری، داخلی برخه ، دننه.

Inwards
امعاء، لری اوکولمي، زړه اوځیګر ،واردشوی.

Iocetamic Acid
په اوبوکې منحل کېدونکې آیونایزی کثیفه ماده چې د (**X-rays**) وړانګې په مټه په انځور اخیستنه کې ورڅخه ګټه اخیستل شی.

Iodic Acid
د (**HIO_3**) په فورمول د مونوبیزېک اسید چې د نایتریک اسید په مټه د آیودین د اکسیدیشن څخه لاسته راځی او اسیدی یا پیاوړې ارجاع کوونکې اغېزې او خواص لری.

Iodide
دا مرکب د آیودین پنامه یو کېمیاوی جوړښت دئ چې د بل یوه مرکب سره ګډ ېږی.

Iodination
له آیوډین سره د یوې بلې مادې ترکیب کېدل.

Iodine
آیوډین ،یو کېمیاوی عنصر دئ چې اټومی شمېره یې (**53**) او کېمیاوی نښه یې (**I**) ده دغه ماده د بدن د اړینوغذائی موادو څخه شمېرله کېږی او د تایروکسین او ترای آیودوتایرونین د هورمونونو د جوړښت لپاره په تایروئید کې اړینه ده. د آیودین محلول د موضعی انتان ضد مادې په توګه کارول شی په غذاکې یې کمښت د جُدرې (غور **Goitre**) پنامه ناروغی منځ ته راوړی.

- **Protein-bound Iodine**
هغه آیوډین چې په سختی سره په سېروم کې له پروټین سره یوځای کېږی او اندازه ګیری ئې د تایرایډ غدې دندې (وظیفې) د ټاکونکو آزمایښتونو څخه شمېرله کېږی.

- **Radiactive Iodine**
د رادیوآیوډین په انډول.

Iodinophilous
په آسانی سره په آیوډین باندې رنګېدل.

Iodipamide
دا یوه کثیفه ماده چې کېمیاوی فورمول یې (**$C_{26}H_{14}I_6N_2O_6$**) دئ چې د مګنیزیومی او سوډیمی مالګو په بڼه په کولیسیستو ګرافی کې کارولې شی.

Iodism
د آیوډین یا آیوډایډونو پذیرېعه مزمن مسمومیت دئ چې د (پزې څخه د اوبو د بهېدو ، اوښکې بهېدو ، د لاړو زیاتېدو ، سرخوږ، کمزوتیا او جلدی دانو) په بڼه تظاهر کوی ،د آیوډین مسمومیت.

Iododerma
د آیوډین په مرسته د مسمومیت څخه زېږنده هر ډول جلدی اندفاعات او ضایعات بلل شی.

Iodoform
د (**CHI_3**) فورمول لرونکې موضعی انتی سپټیک ماده ده .

Iodohippucrate

د آیوډین لرونکي مرکب چې فورمول یې ($C_2H_{14}I_6N_2O_6$) دئ کوم چې په پیلوګرافی د ښکاره کېدونکي (کثیفه) مادې په توګه کارولے کېږی چې د رادیواکتیف آیوډین په متہ کہ په نښہ شی د پښتورګو د دندې په ټاکنه کې پکار وړی.

Iodomethylnor cholesterol

د کولسترول په نښہ شوې یو ډول انالوګ چې فوق الکلیوی غدې د قشری برخې څخه په انځور اخیستنه کې کاریږی؟

Iodophilia

د توکسیمیا او پیاوړې وینه لړی (کمخونی) په څېر مزمن حالتونو کې د سپینوکرېواتو یو ډول غبرګون دئ چې په بهیر کې یې څو هستوی سپین کرېوات د(آیوډین یا آیوډایډ) په ذرېعه د درملنې په لړ کې قهوه ئی رنګ خپلوی.

Iodopsine

د روښنائی او نور په وړاندې حساسې بنفش رنګه دانې چې د څینو حیواناتو د شبکې په مخروطی حجرو (Cone Cells)کې موندل کېږی چې د رنګونو په لیدنه کې غوره رول لری.

Iodquinol

دای آیودوهایدروکسی کېنولین، د آیود درلودونکې د کېنولین د مشتقاتو څخه درمل دی چې د (کولمو د آمیبیازس او ترایکوموناس وجینالیس زېږنده واجینیت) په درملنه کې پکاریږی.

Iohexol

د ټیټې کچې اوزمولالیټي څښتنه ، په اوبوکې منحله غېر آیونایزی ښکاره کېدونکي (کثیفه) ماده ده.

IOL

د سترګو د ګاټي دننه ځای پر ځای کېدونکي عدسیه د (Intraocular Lens) لپاره لنډه نښه ده.

Ion

آیون، هغه اټوم یا مالیکول چې برېښنائیز چارج لری ، هغه اټوم یا مالیکول چې یو یا څو الکترونونه یې تر لاسه کړې وی ورته مثبت (Positive Charge یا Cations) چارج لرونکی او یا یې بایللی وی چې ورته د منفی چارج (Negative Charge یا Anions) لرونکی ویل کېږی .

Ionamin

د فین ترمین د محصولاتو لپاره سوداګریز نوم دئ.

Ionic

آیونی ، ایون ته منسوب ،دیونانی معماری اوسبک ته منسوب، د آیون لپاره اړوند صفت.

Ionise

آیونی کول ، د یوه اټوم یا مالیکول ته د الکټرون ورکول یا د هغه څخه د الکټرون خارجول ، د یوه اټوم یا مالیکول چارجی بڼه اختیارول ، د (Ionize) په انډول.

Ioniser

آیونایز کونکي ماشین ، هغه ماشین چې د یوه اټوم یا مالیکول آیونی بڼه (Negative Ions یا Positive Ions) منځ ته راوړی د (Ionizer) په انډول.

Ionization

د څو آیونو په بڼه په یوه محلول کې د یوې مادې تجزیه ، د آیونتوفوریزس (Iontophoresis) په انډول.

Ionize

د (Ionise) په انډول.

Ionizer

د (Ioniser) په انډول.

Ionophore

د یوه درمل په څېر هر ډول مالیکول چې د یوه آیون په وړاندې د حجروی غشأ د نفوذیه خاصیت د لوړېدلو لامل وګرځی .

Ionophoresis

آیونوفورېزیس ، د (Ionophore) عمل تر سره کول.

Ionophoretic

د (Ionophoresis) اړوند صفت.

Ionosond

فضائی آیون سنجوونکي وسیله ، هغه دستګاه چې دهغه پذرېعه فضائي آیون ضخامت اندازه ګیری کېږی.

Ionotherapy

بدن به د آیونی عناصرو د ننوتلو کړنلارې پذرېعه د ناروغیو درملنه ، د برېښنائیز بهیر له لارې د ناروغیو درملنه.

Iontophoresis

د برېښنائي بهیر له لارې د بدن داخل ته د منحلو مالګینو آیونونو ننویستل . د بیولوژیک موادوپه منځ کې د آیونی خوځښت (حرکت) منځ ته رواړل کله چې برېښنائی بهیر پکې تېر شی، د آیون تیرولو کړنلاره.

Iontophoretic

د (Iontophoresis) اړوند صفت.

Iopanoic Acid

آیوپانوئیک اسید ، یوه حاجب (ښکاره کېدونکي کثیفه) ماده چې په کولیسیتوګرافی کې ورڅخه کار اخیستل شی.

کولیسیټوګرافی کې پکار وړل شی.

IPPB

د متناوب مثبت فشار لرونکی تنفس د (International Positive Pressure Breathing) لپاره لنډه نښه ده .

IPPV

د متناوب مثبت فشار لرونکی تنفس ورکول د (Intermittent Positive Pressure Ventilation) لپاره لنډه نښه ده .

Ipratropium

دا یو ډول عضلی استرخا (رخاوت ، پُستونکی) منځ ته راوړونکې درمل دی چې تنفسی لارې په استرخاً کې (Asthma ، Bronchitis او Emphysema) ناروغیو کې مرستندویه اغیزه پرېږدی.

- Ipratropium Bromide

ایپراتروپیوم بروماید .

Ipsi-

دا یو مختاړي دئ او د بخپله او هماغه معنی بشپړوی.

Ipsilateral

په هماغه لوري کې واقع کېدل ، د هماغه لوري اغیزمن کېدل ، او همدا رنګه د (Homolateral) نوم هم ورکول شوېدئ.

IQ

د ذکاوت ضریب ، هغه ضریب چې ورباندې د ذکاوت اندازه ټاکل کېږی د (Intelligence Quotient) لپاره لنډه نښه ده .

Ir

ایریډیم د (Iridium) لپاره لنډه کېمیاوی نښه ده ، (درووند ، ماتېدونکې او سپین رنګه) کېمیاوی فلزی عنصر چې په پلاټینی کاني خاورو کې موندل شی ، اټومي وزن 2.192 ، اټومي شمېره (77) ، د ویلې کېدنې ټکې یې (2410°C) او د غلیان (جوش) ټکې یې (4130°C) دئ.

Irascible

قار کوونکی،ژرخوابدی کېدونکی،هغه څوک چه په هېڅ څه له واکه ووزی او په قهر کېږی.

Irate

قارشوی،خوابدی شوی ، ترله وتلی کس ، قهر شوې څوک.

IRDS

دماشومانو اړوند دیسترس سندروم د (Infant Respiratory Distress Syndrome) لپاره لنډه نښه ده .

Ire

قهر ، قار، خوابدتیا، ترله واکه وتنه ،غوسه ، غضب ، خشم

Iophedylate

آیوفدایلیټ ، یوه حاجب (ښکاره کېدونکې کثیفه) مالګېزه ماده چې په میلوګرافی کې ورڅخه کار اخیستل شی.

Iothalmate

آیوتالمیټ مالګه ، یوه حاجب (ښکاره کېدونکې کثیفه) ماده چې په آنجیوګرافی او یوروګرافی کې ورڅخه کار اخیستل شی.

IOUS

د جراحی عملیات په لړ کې د التراساونډ (Intraoperative Ultrasound) کتنې لپاره لنډه نښه ده .

Ioxaglate

آیوګزاګلیت ، دا یوه حاجب (ښکاره کېدونکې کثیفه) ماده ده چې ټیټه اوزمولالیتي لري چې د میګلومینی یا سوډیمی مالګې په بڼه کارولې شی.

IP

داخل الپریتوانی ، د ګېډې د پریتوانی جوف طبقې تر منځ د (Intraperitoneal) لپاره لنډه نښه ده .

IP

ایزو الکټریک ټکي د (Isoelectric Point) لپاره لنډه نښه ده .

IPAA

د روانی ناروغیو تحلیل (شننې) نړیواله ټولنه (انجمن) د (International Psychoanalytical Association) لپاره لنډه نښه ده.

IPAV

متناوب ډول مثبت دتنفسی لارې تنفس د (Intermittent Positive Airway Ventilation) لپاره لنډه نښه ده .

Ipecac

د (Cephaelis Ipecacnanka , Cephaelis .Acuminata) بوټی د وچې شوې څانګې او ریښې چې [د کانګې راوستونکې او خراشکې (بلغم) راوشلوونکې] مادې په څېر په درملو کې پکارېږی.

Ipecacuanha

د (Cephaelis Ipecacnanka , Cephaelis .Acuminata) د امریکائی بوټی د وچې شوې څانګې او ریښې چې [د کانګې راوستونکې ، ټوخی ضد او خراشکې (بلغم) راوشلوونکې] مادې په څېر په درملو کې پکارېږی.

IP joint

د فلنکسونو تر منځ بند ، بین الفلنکس مفصل د (Interphalangeal Joint) لپاره لنډه نښه ده .

Ipodate

یوه کثیفه کاده چې د کلسیومی مالګې په بڼه په

Iridium

ایریډیم د (Iridium) لپاره لنډه کېمیاوی نښه ده ، (درووند ، ماتېدونکې او سپین رنګه) کېمیاوی فلزی عنصر چې په پلاټینی کاني خاورو کې موندل شی ، اټومي وزن (2.192) ، اټومي شمېره (77) ، د ویلې کېدنې ټکې یې (2410°C) او د غلیان (جوش) ټکې یې (4130°C) دئ.

- Iridium ^{192}

دا یو ډول رادیو اکتیف ایزوتوپ چې نیمائی عمر یې (75) ورځې دئ او په رادیوتراپي کې کارول شي.

Irido-

دا یومختاړې دئ او د سترګې د عنبې (Iris) چې یوه رنګه کړی، ده معنی بشپړوی.

Iridoavulsion

دشاوخوا جوړښتونو څخه په بشپړ ډول د عنبیې بېلېدل.

Iridocele

د قرنی له لارې د عنبیې د یوې برخې د فتق (چورې) په ډول راوتل.

Iridocoloboma

کلوبوما ، د عنبیې ولادی ډول درز.

Iridoconstrictor

د عضلاتی یا درملیز عنصر چې د کسی د انقباض لامل ګرځی.

Iridocyclitis

د (عنبیې (Iris) ، پاڼه ائیز جسم او د هغه د چاپېر اړوند نسج) التهاب بلل شی.

- Hetrochromic Iridocyclitis

د عنبیې یو ډول یو اړخیز او ضعیف التهاب چې د مآوفه عنبیې د رنګ بدلون لامل ګرځی.

Iridocystectomy

د عنبیې د یوې برخې ویستل او د مصنوعی کسی کېښودل.

Iridodesis

د (Iridesis) په انډول.

Iridodialysis

د عنبیې د مجاور او ګاونډیو ارتکازی نسجونو څخه د عنبیې د نښتنو یا پیوستونو بېلېدل یا سست کېدل.

Iridodilator

یوعضلاتی یا درملنیز عنصر چې د کسی د انبساط لامل ګرځي

Iridodonesis

د سترګې د حرکتونو پرمهال د عنبیې لړزېدل چې د سترګې ، عصبانیت ،غبظ ، غُوسه.

Ireful

قار جن ، له غُوسې نه ډک کس ،غضب ناک.

Irid -

دا یومختاړې دئ او د سترګې د عنبې (Iris) چې یوه رنګه کړی، ده معنی بشپړوی.

Iridauxesis

د سترګو د عنبیې پنډېدل او پړسوب.

Iridectomesodialysis

د سترګو د عنبیې د داخلی ژیو د شاوخوا پیوستونونو لېرې کول او غوڅول.

Iridectomy

د جراحی کړنلارې پذرېعه د سترګو د عنبیې د یوې برخې (سیمې) لېرې کول او غوڅول.

Iridectropium

دسترګو دعنبیې بهر لورې ته تاوېدل.

Iridemia

له سترګو عنبیې څخه وینه بهېدنه ، عنبیې خونړېزی.

Idencleisis

د جراحی عملیات پذرېعه د سترګو په ګلوکوما (Glaucoma) ناروغی کې د زلالیه مایع د ویستلو لپاره د قرنیې یا د سترګو لیمبوس پرمخ درېناژ له لارې د عنبیې د یوې طبقې لېرې کول.

Identropium

د سترګو د عنبیې دننه (داخل) لورې ته تاوېدنه /څرخېدنه.

Irideremia

دسترګو د عنبیې په ولادی ډول نشتوالي.

Irides

د (Iris) د کلیمې ګڼه (جمع) حالت.

Iridescence

د روښنائی یا نور د رنګ بدلېدنې سره په مخامخ کېدو کې په باصری ډګر کې د نورانی سپرغیو په څېر راپېښېدونکې حالت.

Iridescent

د (Iridescence) اړوند صفت.

Iridesis

د قرنیې یا د لیمبوس د درېناژ او وازولو له لارې د عنبیې د یوې برخې د تثبیت کولو له لارې د کسی د ځای بدلول.

Iridic

د عنبیې (Iris) پورې اړوند صفت.

د جراحی کړنلارې په مرسته د عنبیې غوڅولو کړنلاره.

Iris

عنبیه ، د قرنیې خلفی رنګه حلقوی غشأ چې په منځ کې یې د کسی سورې (Aperture in a Camera) ځای لری ، دکسی چاپیره رنګینه برخه ، یوډول بوټی دتوری په شان دی اوښکلی ګلان لری (زنبق بوټی) .

Iritis

د عنبیې التهاب ، د عنبیې د نسج التهابی کېدنه.

- Serous Iritis

مصلی ډوله اګزودات سره مل د عنبیې التهاب .

Iritic

د عنبیې التهاب (Iritis) اړوند صفت .

Iritoectomy

د عنبیې پرمخ د موجود و کدورتونو لېرې کول چې د عنبیې د غوڅولو او د نوی کسی د کېښودلو سره یوځای وی .

Iritomy

د (Iridotomy) په انډول .

Iron

اوسپنه ، داکېمیاوی عنصر دئ چې اټومی شمېره یې (26) او نښه یې (Fe) ده او د (سروکرېواتو، هیموګلوبین ،سایتوکروم او تنفسی انزایمونو) اصلی عنصر دئ په غذائي موادو لکه (ښه ، غوښه او هګۍ) کې په ډېره کچه شتون لری کمښت یې د اوسپنې د کمښت وینه لړی ناروغي پېښوی ، قوت ، داوسپنی سامان (په جمع ګڼه کی) څنګیرونه زوراتوان .

- Iron -deficiency Anaemia

هغه ډول وینه لړې چې وینې پّه سره کرېواتو کې د اوسپنې نشتوالی –کمښت اړوند لامل ولری .

- Iron Lung

اوسپنیز سږې ، هغه ډول تنفسی آله چې د لامبوزنو (غواصانو) سره د اوبو په تل کې شتون لری د (Drinker Respirator) په انډول.

Irotomy

د (Iridotomy) په انډول .

Irradiance

وړانګیزه خپرېدنه ،ځلا -ځلېدل (درخشش) ، د وړانګو لوېدنې شدت .

Irradiate

د راډیواکټیف په مرسته دناروغیو درملنه .

Irradiation

رڼا، ځلا ، تشعشع ، وړانګې خپرول ، هغه پروسه–بهیر چې د عدسیې د نیمه ننوتلتوب څخه سرچینه اخلی .

Iridokertitia

د عنبیې او قرنیې دواړو په ګډه سره التهاب .

Iridokinesis

د (Iridokinesis) په انډول .

Iridokinesis

د عنبیې انقباض او انبساط .

Iridokinetic

د (Iridokinesis) اړوند صفت .

Iridoleptynsis

د عنبیې نری ښه (نازکه ښه) کېدل ، د عنبیې ضمور (اټروفی) .

Iridomalacia

د عنبیې نرمېدل (پستېدل) .

Iridomesodialysis

په جراحی ډول د عنبیې د داخلی ژۍ د پیوستونونو سستول.

Iridomotor

د عنبیې د حرکتونو پورې اړوند.

Iridoncus

د عنبیې تومور ، د عنبیې پرسوب ، د عنبیې تورم .

Iridoperiphakitis

د سترګې د عدسیوې کپسول التهاب .

Iridoplegia

د عنبیې د عضلاتو فلج ، عنبیې فلج ، عنبیې ګوزڼ .

Iridoptosis

د عنبیې پرولاپس ، د سترګې د قرنیې د ټپ څخه د عنبیې بهر لورې ته ټپله کېدل او راوتل.

Iridorhexia

د عنبیې څیری کېدل ، د عنبیې شلېدل .

Iridoschesis

د عنبیې د میزوډرمل استروما دوه لایه (طبقې) کېدنه په داسې حال کې چې قدامی طبقه په زلالیه مایع د لامبو وهنې ښه خپله کړی .

Iridosteresis

په بشپړ ډول یا تولې عنبیې یا د هغې د یوې برخې لېرې کول ، کامل یا قسمی ډول د عنبیې راویستل د جراحی په مرسته .

Iridostasis

په ګلوکوما کې په جراحی ډول د عنبیې کلکول .

Iridotomy

Irresistibly
په نه منع کېدونکی ډول.

Irresponsible
مسئولیت نه منونکی، د مسئولیت څخه سرغړوونکی، غیرمسئول.

Irretrievable
لاس ته نه راتلونکی ،نه رغیدونکی، نه تلافی کېدونکې، چاره نه کېدونکې

Irrevocable
نه راګرځېدونکی، نه راستنید ونکی، نه راغبر ګېدونکی.نه راستنېد ونکی، نه راغبرګېدونکی، نه اوښتو نکی، تغیر نه منونکې.

Irrigable
داو بو وړ ، دخړوب وړ.

Irrigate
اوبول، خړوبوول، پتول اوبه پر لګول ، دبدن د جوفونو وینځل او په اوبو پاک کول.

Irrigation
اوبونه ، پنه ، د خړوبوولو او دبدن د جوفونو وینځل او په اوبو پاک کولو کړنلاره .

Irritability
تخریشیت ،پارېدنه ، تر له وتنه ، په قار یدنه ، تحریک مننه

- **Myotatic Irritibility**
د ماتوالی په وړاندې څواب کې د انقباض پېښوونه کې د یوې عضلې ناتوانی –کمزوری.

Irritable
تو غمنا ک ، ژړپه قهرېدونکی، هغه څوک چه ژرترله وزی، تندمزاجه ، مخرش ، تحریک مننونکې ، ژر پارېدونکې یا د یوې پارونې په وړاندې د څواب ورکړې توان ، بې زغمه .

- **Irritable Bowel Syndrome**
د کولمو پارېدنې –تخریشی سندروم لنډه نښه یې (**IBS**) ده ، د (**Mucous Colitis**) په انډول.

- **Irritable Colon**
مخرش کولون ، مخاطی کولیت . مخاط اطراح کوونکې کولونی التهاب ته ویل شی ، د (**Mucous Colitis**) په انډول.

- **Irritable Hip**
هغه د حوصلې بند (**Hip**) حالت چې پکې د (**Hip**) بندونو د برخې د (**Synovium**) پرسوب شتون لری او درملنه یې د بدنی استراحت ، ترکشن او التهابی ضد درملو ورکړې پذرېعه تر سره کېږی.

پکې د یوه مرکز څخه خپرېدل منځ ته راځي لکه عصبی سیاله ، د وړانګو په ذرېعه د ناروغانو درملنه او له باکتریا ګانو څخه د خوراکی توکو –او موادو پاک کول ، وړانګیزه لویوالی ښودنه.

Irreconcilable
نه پخلا کېدونکې موافقه نه کوونکی

Irrecoverably
په نه را ګرځیدونکې ډول،

Irreducible
د ارجاع وړتیا نلرونکې ، غېر ارجاع لکه د(فتق ، کسر ، کېمیاوی موادو) اړوند پکار ېدونکې اصطلاح ده .

- **Irreducible Hernia**
غیر قابل ارجاع فتق چې محتوی (ارګانونه) یې ېبرته نه ارجاع کېږی.

- **Irreducible Fracture**
غیر قابل ارجاع کسر چې د هډوکو د کسری برخې څوکې یو دبل سره ېبرته نه ارجاع کېږی.

- **Irreducible Materials**
غیر قابل ارجاع کېمیاوی موادې مالیکولی او اټومي جوړښت یې ېبرته نه ارجاع کېږی.

Irregular
بې قاعدی ، غیر رسمی، بې ترتیبی، نامنظم (لیس) ، بې نظمه (**Not Regular**) ، غېر منظم ، غېر نورمال بڼه درلودونکې.

- **Irregular Bowel Movements**
غېر منظم د کولمو پرستالتیک حرکاتو شتون.

- **Irregular Breathing**
غېرمنظم تنفس.

- **Irregular Pulse**
غېر منظم نبض لکه د ناروغانو غېر نورمال نبض.

Irregularity
بی تر تیبی، بی قاعد ګی .

Irregularly
په بی ترتیبی، په غیر منظم ډول سره .

Irrelevance
بې ربطی،بې ربطه ، بې مناسبه ،نه تطبیق کېدونکی د (**Irrelevant**) په انډول.

Irreparable
نه جوړ ېدونکی، نه تلافی کېدونکی .

Irrepressible
نه سیمیدونکی، نه راګرځېدونکی،ترفشا رلاندی نه راتلونکی.

Irritably
په تغمناکی، په قار ، په قهر اوغضب . د تُندی او تېزی له مخې ، تند مزاجی له مخې ، د ژر غضبی کېدنې له مخې .

Irritant
لمسوونکی، تخریش پیدا کوونکی ماده ، په قارولو ځواک لرونکې شی ، لمسوونکی مواد ، پاروونکي ځیزونه.

- Irritant Dermatitis
تخریشی درماتیت .تماسی درماتیت ، د (**Contact Dermatitis**) په انډول.

Irritate
لمسول ، خشم کول ،سور اړول ، انګاری کول ، تحریک کول ، خپه کول ،اذیت کول ، آزارووول ، د یوې عضلې یا غړی پرسول او د دردناکه غبرګون منځ ته راوړل ،تخریش کول.

Irritation
قارېدل ، کا کول ، کاښت کول ، خارښت ، حسا سیت. د تحریک کېدنې احساسول،د تحریک منلې بهیر ، د ارونو په وړاندې غبر نورمال حساسیت ، د عصبانیت په ښودلو توانا/ قادر.

Irritative
د (**Irritation**) اړوندصفت .

Irruption
نابېره ، یر غل، غورځنګ، چپاو ، فوراً پېښېدل ،ناڅاپه / ناګهانی ایجاد.

IRV
د تنفس ریزرف حجم د (**Inspiratory Reserve Volume**) لپاره لنډه ننبه ده.

ISC
متناوب ډول خپل ځانته د کتېتر تېرول د (**Intermittent Self-Catheterisation**) لپاره لنډه ننبه ده .

Isch-
دا یو مختاړې دئ چې د ډېر لږ (کوچنی) معنی بشپړوی .

Ischaemia
د بدن یوغړی یا برخې انساجو ته د وینې د بهیر بندښت او لږوالي چې د رګونو د انقباض یا د بهیر د بندښت له امله منځ ته راځی ، د (**Ischemia**) په انډول.

- Silent Ischaemia
د درد یا نورو ننبو څخه پرته قلبی ایسکیمیا ، پټه (خاموشه) ایسکیمیا .

Ischaemic
د (**Ischaemia**) د وینې د بهیر کمښت یا بندښت اړوند صفت دئ.

- Ischaemic Brain Disease
د دماغ ایسکیمیک ناروغی چې د دماغی شریانونو دوینې عدم کفایې او ترومبوز له کبله پېښېږی.

- Ischaemic Heart Disease
د زړه ایسکیمیک ناروغی چې د اکلیلی شریانونو دوینې عدم کفایې او ترومبوز له کبله پېښېږی چې لنډه ننبه یې (**IHD**) ده .

Ischi
د ا یو مختاړې دئ او د ایسکیوم (**Ischium**) معنی بشپړوی.

Ischi-
د ا یو مختاړې دئ او د ایسکیوم (**Ischium**) معنی بشپړوی .

Ischia
د ایسکیوم (**Ischium**) ګڼ شمېرې ته ویل شی.

Ischial
د (**Ischium**) هډوکی او یا هم د (**Hip Joint**) اړوند صفت دئ .

- Ischial Tuberosity
د ایسکیوم هډوکې راوتلې برخه چې د ایسکیوم حلقه (**Ring of the Ischium**) جوړوی .

Ischiatic
د (**Ischium**) هډوکی او یا هم د (**Hip Joint**) اړوند صفت دئ.

Ischio-
دا یو مختاړې دئ او د (**Ischium**) هډوکی اړوند صفت معنی بشپړوی .

Ischiocapsular
په ایسکیوم او ورانه د مفصل په کپسولی پورې اړوند.

- Ischiocapsular Ligamentum
په ایسکیوم او ورانه د مفصل په کپسولی لېګامنت پورې اړوند.

Ischiocavernosus
د ایسکیوم او کورنوس اړوند.

- Ischiocavernosus Muscle
د عجان (**Perineum**) په یوې لورې کې اړوند عضلات دی.

Ischiococcygeal
د ایسکیوم او عصعص هډوکو / عضلاتو پورې اړوند.

Ischiodynia
د ایسکیوم درد .

Ischiopagus
هغه ډول ولادی نیمګړې زېږونه چې پکې دوګونی غبرګولی د ملا تیر د فقراتو او نخاع اړخه سره نښتې بڼه لری.

Ischiopubic

د ایسکیوم او پوبیی پوري اړوند صفت .

Ischiorectal

د ایسکیوم او ریکټوم اړوند صفت.

- **Ischiorectal Abscess**

د ایسکیوم او ریکټوم برخې دانې ، د ایسکیوم او ریکټوم اړوند خراج (ایسې) بلل شی.

- **Ischiorectal Fossa**

د ایسکیوم او ریکټوم تر منځ مسافه چې د ریکټوم ښکته پایلې او انال کانال کې دواړه لور ته واقع ده.

Ischium

ایسکیوم ، په حوصلی هډوکو کې د (**Hip Bone**) ښکتنې برخه ده چې ګڼه بڼه یې د (**Ischia**) پنامه یادېږي .

Ishihara Colour Charts

دا هغه چارت دئ چې هغه کسان چې د سترګو دلبدنې د رنګونو اختلال لري (**Colour-Blind**) نشی کولای د رنګونو تفریق وکړی .

Ishihara Test

هغه آزمایښت چې د (**Ishihara Colour Charts**) پذرېعه تر سره کېږی.

Ischuria

د تشو متیازو بندښت .

Ischuretic

د (**Ischuria**) اړوند صفت .

Iseikonia

د (**Isoiconia**) په انډول .

Iseikonic

د (**Iseikonia**) اړوند صفت

Isethionate

د (۲- هایدروکسی ایتان سلفونیت) لپاره (**USAN**) له وړاندیز شوې نوم دئ .

Island

ټاپو،جزیره، دیوه نسج د ځانګړو شوو حجرو مجموعه یا دهغه نسج یوه ځانګړې شوې برخه .

- **Blood Island's**

د رشیم په انجیوبلاست کې د میزانشیمال حجرو راغونډېدنه چې وروسته بیا په دموی حجرو او د رګونو په اندوتیلیوم بدلېږی .

- **Bone Island's**

د ترابیکولار هډوکې په په منځ کې د بالغ قشری هډوکی یو سلیم محراق چې په رادیوګرافی کې خیال ورکوی .

- **Island's of Langerhans**

د لانګرهانس جزېرې .

- **Island's of Pancreas**

د پانکریاس د لانګرهانس جزیرې .

- **Island's of Riel**

د (**Insula**) په انډول.

Islet

کوچنی ټاپو ، ټا پو، جزیره .

- **Islets Cell**

د (**island's of Langerhans** یا **Islets of Langerhans**) په انډول.

- **Islets of Langerhans**

هغه د پانکریاس غدې مایکروسکوپیک حجرې چې د الفا او بېتا ډولونه لري او اندوکرینی هورمونی افرازات لکه (**Insulin Glucagon** او **Gastrin**) هورمونونه افراز کوی د لومړی ځل لپاره په کال (**1869**) کې د جرمنی عالم د پتالوژی پروفیسور (**Paul Langerhans**) پذرېعه معرفی شوي د (**Island's of Langerhans** یا **Islet Cells**) په انډول.

- **Islets of Langerhans**

د لانګرهانس جزیرې .

- **Islets of Pancreas**

د پانکریاس جزیرې .

Iso-

دا یومختاړې دئ چې د ورته (مشابه ، معادل) معنی بشپړوی .

Isoagglutination

یو ډول ایزو انتی جن چې د یوه اګلوتینین په څېر کار کوی.

Iso Allele

یو الیلی جین (**Gen**) چې نارمل ګنل کېږی خو د فینوټایپ په رابرسېره کېدنه کې د توپیر له مخې د بل الیل په توګه پېژندل شی.

Iso Antibody

یو ډول انتی بادي چې پخپله د یوه کس په واسطه جوړېږی او دهماغه جنس د اړونده بل کس د ایزو انتی جنونو سره غبرګون څرګندوی ګڼه شمېره یې (**Isoantibodies**) یادېږی.

Iso Antigen

یو ډول انتی جن چې بېلابېل ډولونه لری نو لدې کبله د یوه داسې چا بدن ته د هر یوه ډول داخلېدل یې معافیتی ځواب راپاروی چې همدغه ډول انتی جن نلری لکه د وینې ګروپونه

Isobar

هغه یوه یا دوه کېمیاوی عنصرونه چې یو شان اټومی وزنونه لری خو اټومی شمېره یې توپیر لری.

Isocarboxazid
د مونو امین اکسیدیز یو نهی کوونکي درمل چې د اضطراب ضد درملو په توګه کارېږی.

Isocellular
هغه نسج چې د ورته حجرو څخه جوړښت موندلای وی .

Isochromatic
د ورته (مشابه) رنګ لرل.

Isochromosome
یو غېر نارمل کروموزوم چې مرکزی سنټرومیر یې او دوه ورته متې لری دغه کروموزوم د سورور (عرضانی) وېش په پایله کې (د نارمل وېش پرخلاف چې طولانی دی) رامنځ ته کېږی.

Isochronic
د (**Isochronous**) په اندول .

Isochronous
د یوشان موې (وخت) درلودل ، دغه اصطلاح هغه خوځښتونو یا اهتزازونو په اړوند پکار وړل کېږی چې د وخت له مخې سره یوشان وی .

Isocitrate
د ایز وسټریک مالګه .

Isocitric acid
یوه واسطوی اسیدی ماده چې د ترای کاربوکسیلیک په کړۍ کې د اګزالواستیک اسید څخه پلاس راځی او په کنوګلوتاریک اسید بدلېږی.

Isocoria
د سترګو ورته کسی (حدقې) ، د دواړه کسو (حدقو) د اندازې یوشانوالې .

Isocortex
د (**Neocortex**) په اندول ، ورته نوې قشر .

Isocytolysin
یو ډول ایزوانتی جن چې د یوه سایتولایزین په بڼه اغېزه کوی.

Isocytolysis
د حجرو د اندازې یوشانوالې په ځانګړی ډول د وینې د سرو کریواتو ټاکنې اړوند .

Isodactylism
د ګوتو اندازې یوشان والې.

Isodose
یو ډول ډوز ، د بدن په مختلفو ټکو کې د راډیو اکتیف وړانګو د مساوی مقدارونو (کچې) اچونه .

Isoelectric
په برېښنائی پوتانشیال کې د بدلون نشتوالې .

Isoenergetic
د یوشان انرژي درلودل .

Isoenzyme
د (**Isozyme**) په اندول .

Isoetharine
د یو ادرینرجیک درمل چې د هایدروکلورایدی یا مسیلائی مالګې په بڼه د سالنډی (براشیال استما) یا برونکوسپزم په درملنه کې پکار وړی .

Isoflurophate
یو انتی کولین ایستریز درمل چې په موضعی ډول د کسی د تنګوونکې درملو په توګه کارول شی.

Isogametic
د (**Isogamety**) اړوند صفت .

Isogamety
د جنسی کروموزوم د نوعیت څخه پرته د جنسی یوه ګامیټ څخه د بچی منځ ته راتلل.

Isogamy
د پروتوزواګانو په څېر د دوه داسې ګامیټونو د پیوستون له لارې تکثر چې د اندازې اوجوړښت له مخې سره ورته دی.

Isogamous
(**Isogamy**) اړوند صفت .

Isogeneic
د (**Syngeneic**) په اندول ،د یوځای کېدنې پذېرېعه تولید مثل ، ورته زېږونه او تکثر اړوند صفت .

Isogenesis
د تکامل د بهیر ورته والې ، تکاملی مشابهت .

Isogenic
د (**Syngeneic**) په اندول ،د یوځای کېدنې پذېرېعه تولید مثل ، ورته زېږونه او تکثر اړوند صفت .

Isograft
د ورته او مشابه (**Identical Twin**) دوه ګونو دنسج څخه جوړشوی ګرافټ ، د (**Syngraft**) اړوند صفت.

Isohemogglutinin
یو ډول ایزوانتی جن چې سره کرېوات منعقد کوی.

Isohemolysin
یو ډول ایزوانتی جن چې هیمولایز (دوینې تجزیه) رامنځ ته کوی.

چې پکې ډېر ګرانبها او قیمتي شیان کېښودل او ساتل کېږی ، سوړه ، پنجره یا قفسه ، جعبه.

Isolecithal

د هګۍ یو ډول چې ژیړ یې په ټول سایتوپلازم کې خپاره (تیت) شوېوی .

Isoleucine

هغه اساسی آمینو اسید چې د فیبرین او نورو پروتینونو له هایدرولایزس څخه پلاس راځی په ماشومانو کې د مناسبې ودې او لویانو کې د نایتروجن تعادل د برقرارېدولپاره ګټه ور او اړین دی.

Isologous

د یوشان جینوتایپ درلودل .

Isolysin

یو ډول لایزین چې په هغه حیوانی حجروکې اغیزې کوی چې د هماغه حیوانی جنس څخه د غه لایزین پلاس راغلې وی.

Isomaltase

د (α-Dextrinase) په انډول.

Isomer

هر ډول مرکب چې د ایزومریزم ځانګړنه ولری .

Isomeric

د ایزومیر اړوند صفت .

Isomerase

د انزایمونو هغه لویه ډله چې چې د ایزومرایزیشن بهیر کتلایز کوی .

Isomerism

هغه حالت چې پکې دوه یا څو مختلف مرکبونه ورته فورمولونه – یو شان اټومونه او یو شان عنصرونه لری خو د ځای نیونې ترتیب یې بدلون مومی .

- Geometric Isomerism

هغه هندسی ایزومریزم چې اپتیک پلوه خنثي ګڼل کېږی .

- Optical Isomerism

یو ډول سټریو ایزومریزم چې په هغه کې مولیکولونه د پولرایزی نور په وړاندې بېلابېلی اغېزی له ځان څخه څرګندوی.

- Structure Isomerism

یو ډول ایزومریزم چې په هغه کې مرکبونه ورته مالیکولي فورمولونه خو بل ډول جوړښتیز فورمول لری او د اتومونو تر منځ رابطه یې سره توپیر لری .

Isomerization

هغه بهیر چې په لړ کې یې یو ایزومیر په بل هغه بدلېږی چې

Isoiconia

هغه حالت چې په هغه کې د یوه شی تصویر په دواړه سترګو کې یوشان وی.

Isoiconic

د (Isoiconia) اړوند صفت.

Isoimmunisation

د ایزوانتی جنونو په ځواب کې د انتی باډی ګانو پېښېدنه ، د (Isoimmunization) په انډول .

Isoimmunization

د ایزوانتی جنونو په ځواب کې د انتی باډی ګانو پېښېدنه.

Isokinetic

دا اصطلاح د هغه بدنی روزنې (سپورټ) لپاره پکارېږی چې په بهیر کې د عضلې د لنډېدو او اوږدېدو سره عضلاتی ټون یو شان پاتې کېږی.

Isolate

جلاکول، بیلول، تجریدول. هغه ډله وګڼی چې د (جغرافیائی ،جنیټیکی ، ایکولوژیکی ، ټولنیزو او داسې نورو) پولو شته والی له مخې د خپلو همنوعانو سره د اړیکو له ټینګولو څخه محروم پاتې وی.

Isolation

جلاتوب کړنه تر سره کول، له نورو څخه د بېلولو کړنه ،تجریدول ، د بېلونې بهیر ، بېل شوې حالت . په یوه ځانګړې ساری ناروغی. د اخته کسانو قرنطین – ځارنه .

- Isolation Ward

یو ځانګړې خدماتی سرویس چېرته چې ډېر خطرناک انتانی –ساری ناروغی. تر قرنطین لاندې نیول شوېوی تر څو نورو کسانو ته لېږدونه ونکړی .

Isolationist

هغه څوک ډاکټر چې د ځانګړی ناروغانو(تجرید ، جلا توب او ځانګړیتوب) غوښتنه اود هغه په تر سره کولو کې ماهر وی.

Isolator

جلاکوونکې ، بېلوونکې ، داې یوه شفافه پلاستیکی بوجی. (خریطه) چې په(نرسنګ ، عملیاتونو او چاپېریال) کې پکاروړل شی.

- Isolator stretcher

جلاکوونکې (شخص یا دستګاه) ، پراخه کوونکې ،کشش منځ ته راوړونکې .

- Isolator cabinet

جلاکوونکې کوچنی او خصوصي خونه (اطاق) ، خلوت ګاه ، کابین ، په کابینې پورې تړلې ، داسې یوه ښېښه ئي لوخې

Isopropanol
د ایزوپروپایل الکهول په انډول.

Isoproterenol
دا د سالنډې ضد او ناروغۍ کمښت راوستونکی قصبی توسع ورکوونکی سمپاتومیمیټیک درمل دی چې هایدروکلورایدی او سلفیتی مالګه یې د هوائي لارو (قصباتو) پرانیستونکی او زړه د محرکې مادې په توګه کارول شی.

Isopter
د دوه سترګو په باصری ډګرونو کې د ګډو- مشترکو سیمو ښوونکې منحنی بلل شی.

Isopyknosis
د یوشان اورته کثافت درلودل په ځانګړی ډول په مختلفو کروموزونو اویا په یوه کروموزوم باندې پّه مختلفو سیمو پورې اړوند کثافت.

Isopyknotic
د (**Isopyknosis**) اړوند صفت.

Isordil
د آیزو سوربایډ نایټریت محصولاتو سوداګریز نوم دئ.

Isorrhea
د موادو په ترلاسه کولو او اطراح کولو کې تعادل.

Isorrheic
د (**Isorrhea**) اړوند صفت.

Isosensitization
د (**Allosensitization**) په انډول.

Isosexual
په هماغه جنس پورې اړوند.

Isosmotic
د مساوی آزموسیس فشار لرلو اړوند صفت.

Isosorbid
یو ډول اسموټیک متیازې راوستونکی (مدرر) درمل چې فورمول یې ($C_6H_{10}O_4$) دئ او د صدری خناق (انجینا) او اکلیلی شریانونو د عدم کفایې په درملنه کې پکار وړل شی.

- Isosorbid Dinitrate
د دوه نایټریت لرونکې آیزوسوربایډ چې د صدری خناق (انجینا) او اکلیلی شریانونو د عدم کفایې په درملنه کې پکار وړل شی.

- Isosorbid Monotrate
د یوه نایټریت لرونکې آیزوسوربایډ چې د صدری خناق د غه چاره باید د (تودوخی ،فشار او ځانګړوانزایمونو) په شته والې صورت ونیسی.

Isometheptene
د سمپاتومیمیټیک غبر مستقیم اغېزو څښتن امین چې د وعائی سرخوږ (سر درد لکه نیمسری) په درملنه کې کارول شی.

Isometric
په یونواخت ډول د اوږدوالی او ابعادو ساتنه ، د هغه عضلاتو د تقلص اړوند چې فشار یوازې په ډېرو کوچنیو او لنډو عضلی رشتو کې منځ ته راځی، دهغه تمرین اړوند چې پکې عضلات تر فشار لاندې راوستل شی خو تقلص نه کوی.

Isometrics
د عضلاتو بېساري او قوی تمرین چې پکې عضلات تقلص کوی خو لنډیدل نه مومی.

Isomtropia
په دواړو سترګو کې د نور د انکسار دکچې مساوی والې.

Isometropism
د شکل یوشان او ورته (کټ مټ) حالت ،په جنیټیک کې دغه اصطلاح د هغه پولی پوئیډې ارګانیزمونو د جینو تایپ لپاره کارولې شی چې د مختلفو جینی مرکبونو لرونکی ورته ګامیټونه منځ ته راوړی.

Isomorphous
د (**Isometropism**) اړوند صفت.

Isoniazid
پرته رنګه کریستالی مرکب دئ چې مکروبی ضد اغېزی لری او د نری رنځ (توبرکلوزس) په درملنه کې تري کار اخیستل شی لنډه نښه یې (**INH**) ده.

Isophoria
د دواړو سترګو په عمودی عضلاتو کې د ترینګلتیا د کچې یوشانوالې او ورته والې بلل شی.

Isopreciptin
یو ډول ایزو انتی جن چې د یوه پریسیپټین په توګه کار کوی.

Isoprenaline
دا د سالنډې ضد او ناروغۍ کمښت راوستونکی قصبی توسع ورکوونکی درمل دی ، د (**Isoproterenol**) په انډول.

Isopropamide Iodide
یو انټی کولینرجیک درمل چې په هضمی اختلالاتو کې د افراز ضد او سپزم ضد عامل په توګه کارول شی.

کیستیک آکنې(Severe Acne) او کونګلویاټا نورو جلدی ناروغیو پّه درملنه کې پکارېږی.

Isotropic

په ټولو لورو (جهتونو) کې د انکسار دضریب په څېر د یوشان خواصو لرل.

Isovaleric Acid

یو ډول کاربو کسیلیک اسید چې ایزووالیریک اسید یمیا ناروغی. کې یې کچه په وینه او متیازو کې ببدربغه زیاتوالې مومی.

Isovaleric Acidemia

د امینو اسیدونو د میتابولیزم یو ډول اختلال چې د لوسین د کتابولیزم په تګلوري کې په نیمګړتیا پورې تړلې او[په پلازما او متیازو کې د ایزو والیریک اسید د کچې په زیادښت ، خوسا شووپښو د بوی په څېر د بوی ، پیاوړی اسیدوز او کېتوزس ، تشنج ، کانګې ،سایکوموتوري روسته والې او شدیدو پېښوکې د کوما اومرګ]په مټه پېژندل شی.

Isovalemic

د یو شان حجم ساتنه ، د ورته حجم اړوند .

Isoxsuprine

یو ادرینرجیک درمل چې هایدروکلوریک مالګه یې د رګونود آزادوونکو عامل په توګه کارولە شی.

Isozyme

د هغه څو ډوله څخه هره یوه چې انزایم یې پّه یوه موجود یا مختلف دوله موجوداتوکې غوره کولای شو . ایزوزایمونه مختلف (کېمیاوی ،فزیکی ،ایمیونولوژیک) خواص لری خو یو ډول تعاملونه کتلایز کوی.

ispaghula

سپېغول ، د سپېغولو د نباتی بوټی موادو څخه جوړه خوراکی ترکیب چې د قبضیت درملنې په موخه په (Irritable Bowel Syndrome او Diverticulitis) کې پکار وړل شی ، د (Ispaghula Husk) په انډول.

Isradipine

د کلسیوم چینل بلاک کوونکې درمل دی چې د وینی د فرط فشار په درملنه تړې کار اخیستل کېږی .

ISS

د ترضیض (جروحاتو) د لمبر ورکولو سیستم (Injury Scoring System) لنډه نښه ده .

Issue

خیرې ، زوې ، چرکی ، وینه لرونکی یا نورو موادو راوتل ، (انجینا) او اکلیلی شریانونو د عدم کفایې په درملنه او مخنیوی منځ ته راوستولو(وقایه) کې پکار وړل شی.

Isospora

پرازیتی سپوروزواګانو یو ډول جنس دئ چې په (الوتونکو، چنګښو اوځینې تي لرونکو لکه انسان) کې موندل کېږی د (Isospora Belli .) او (Isospora . Hominis) په انسان کې د کوکسیدیوزس د ناروغۍ لامل ګرځی .

isospore

د هغه موجوداتو ایزوګامیټ چې د سپور د تولید له لارې تکثر کوی، یو ډول غېر جنسی سپور چې دهوموسپور ارګانیزمونو پواسطه منځ ته راځی .

Isosthenuria

د وینې د آزموزیس فشار د بدلونو سره سره بیا هم د تشو متیازو (ادرار) د آزمولایټي یوشان والې .

Isotone

ایزوټون ، دهغه څو هستو څخه هره یوه چې دنیوترونونو شمېر یې مساوی او د پروتونو شمېر (اټومی لمبر) یې توپیر ولری.

Isotonia

د فعالیت قدرت او توان یو ډول والې ، د فعالیت ورته توان او قوت درلودونکې ، د یوه محلول یا دوه محلولونو د عنصرونو تر منځ د اوسموزیس فشار یو شان والې .

Isotonic

ایزوټونیک ، هغه محلول چې حجرې پکې پرته لدې چې له غشأ څخه یې مایع تېره شی لامبو وهلای شی، د دوه محلولونو د عنصرونو تر منځ د اوسموزیس فشار یو شان والې اړوند صفت چې د (Hypertonic, Hypotonic) سره په پرتله کولو کې مهم دئ .په یوشان ډول سره د ټونوس ساتنه ،د (Isotonia) اړوند صفت.

- Isotonic Solution

آیزوټونیک محلول ، د یوه محلول یا دوه محلولونو د عنصرونو تر منځ د اوسموزیس فشار یو شان والې حالت ته ویل شی.

Isotonicity

د ډېرو یا د دوه محلولونو د عنصرونو تر منځ د اوسموزیس فشار یو شان والې او مساوی حالت.

Isotope

ایزوټوپ ، هغه کېمیاوی عنصر چې اټومی شمېره یې د بل عنصر سره یوشان وی خو اټومی کتلې یې سره توپیر ولری .

Isotretinoin

د رټینوئیک اسید مصنوعی بڼه چې په خوراکی بڼه د

یوه زوه یا قیحی ضایعه چې دغه ډول مواد افرازوی، لانجه ، موضوع،مساله، خپرونه- ګڼه لکه د (اخبار) ، تېرېدنه ، وتنه (دباندی) ،نتیجه ، اولاد ، صادرونه ، شیند نه ، انتشار.

Isthaoplegia

د ایستموس برخی ګوزن (فلج).

Isthmectomy

د تنګې یا ایستموس راویستنه په ځانګړی ډول د تایراید ایستموس.

Isthmian

برزخي ، تنګه لاره، تنګراهي ، لارې د سر پُل ، د برزخ یا تنګلارې اوسېدونکې . دایستموس لپاره اړوند صفت.

Isthmoparalysis

د (**Isthaoplegia**) په انډول . د ایستموس برخی ګوزن (فلج).

Isthmus

لنډ او نرې کانال یا جوف ، تر انکه ، خاکنا ، تنګه برخه ، تنګنا ، غاړه .ګڼه شمېره یې د (**Isthmi** او یا **Isthmuses**) پنامه یادېږی . نرې نښتې نسجی جوړښت چې لویه کتله د یوې ورته برخې سره نښلوی لکه د تایراید غدې مرکزی برخې تنګه . د دوه برخو ترمنځ نرې ارتباطی پتې.

- **Isthmus of Auditory Tube**

د اورېدنې (سامعی) مجرأ د غضروفی برخې او عظمی برخې په تقاطع سیمه کې تر ټولو نرې او تنګه باریکه برخه ، د (**Isthmus of Tub Austachian Tube**) په انډول.

- **Isthmus of Fauces**

د خولې او بلعوم تر منځ نرې منفذ.

- **Isthmus of Rhombencephalon**

د جنین د مغز نرې برخه د (**Rhombencephalon**) او مخ ېهلوونکی پاڼه جوړوی.

- **Isthmus of Thyroid Gland**

د تایراید نسج یوه پتې چې د تایراید دوه لوبونو ترمنځ د نښتنې یو ه اړیکه جوړوی.

- **Isthmus of Tub Austachian Tube**

د (**Isthmus of Auditory Tube**) په انډول.

- **Isthmus of Uterine Tube**

د رحمی تیوب د ترټولو پورته دېوال لرونکې او تر ټولو نرې برخه چې د رحمی تیوب ترټولو نژدې برخه جوړوی.

- **Isthmus of Uterus**

د رحم تنګه شوې برخه چې د رحم د جسم او سرویکس ترمنځ ځای لری.

Itch

کاښت ، کاکول ، خارښت کول،، خار ښت، خوږدرد ، ګرونه ، هغه ګرونه چې د جلدی ضایعاتو سره مل وی لکه د (**Scabies**) په جلدی ناروغی کې .

- **Backer Itch**

د ډوډی پخوونکو تر منځ خارښت ،د لاسونو یو التهابی درماتوز په ځانګړی ډول مزمنه مونیلیائی پرونیښیا چې په پرېمانه کچه پدوی کې لیدله شی.

- **Barber Itch**

د (**Tinea Barbae**) په انډول .

- **Grain Itch**

د (**Cycosis Vulgaris**) په انډول .

- **Grocer's Itch**

غنمی خارښت ، د هغه (**Pyemotes Ventricosus**) مایټ څخه زېرنده خارښتی درماتیت چې د هغه حشرو د لارو په واسطه ښکاره کېږي چې د (وښو ، غنمو او داسې نورو) بوټو پرمخ ژوند کوی.

- **Ground Itch**

خارښت لرونکې جلدی دانې چې د پوستکی ته د (**Ancylostoma Duodenlis**) او(**Nocator Americans**) د لاروا د نفوذ له امله منځ ته راځی.

- **Jack Itch**

د (**Tinea Cruris**) په انډول .

- **Swimmer Itch**

یو ډول خارښت لرونکې درماتیت چې د پوستکی داخل ته د شیستوزوماګانو د لارواګانو د نفوذ له امله په لامبووهونکو کې منځ ته راځی.

Itching = pruritus

کاکول ، خارښت کول کا ، خار خښت، خوږدرد ، ګرونه ، د پوستکی پرمخ نه خوښوونکې احساس چې سړې د پوستکی ګرولو ته اړپاسی .

Itchy

د ګروونکی لپاره صفت ، هغه څه چې ګرېدنه منځ ته راوړلای شی.

Iter

یو تیوب ډوله کانال.

- **Iter ad infundibulum**

د مغزی درېیم بطین او انفاندیبولوم ترمنځ اړیکیز کانال.

- **Iter Chorea Anterius**

هغه قدامی منفذ چې له لارې یې د کوردا تیمپانی عصب صماخی جوف ته ننوځی.

- **Iter Chorea Posterius**

هغه خلفی سوري چې له لارې یې د کوردا تیمپانی عصب صماخی جوف ته ننوځی.

- Iter Dentinum

هغه تګلوري چې د اوري څخه جوانې وهلو او بیا ودې کولو په بهیر کې یې یو غابښ طی کوی.

Iteral

د (Iter) اړوند صفت.

- itis

دا یو روستاړې دئ چې د التهاب (ګزک) معنی بشپړوی.

ITU

د جدی درملنې واحد او څانګه (Intensive Therapy Unit) لنډه نښه ده.

IU

بین المللی واحد. د درملو او کېمیاوی محلونو د کچې ټاکنې لپاره منل شوئ بین المللی واحد ته ویل شی (International Unit) لنډه نښه ده.

- Immunizing Unit

معافیتی واحد ، د ژغورندویه واحد.

- International Unit

نړیوال واحد ، بین المللی واحد.

IUCD

د بلاربښت د مخنیوی لپاره په رحم کې ځای پرځای کېدونکې اړوند وسیلې (Intrauterine Contraceptive Device) لنډه نښه ده.

IUD[1]

د رحم دننه د جنین مړینه ، درحمی دوران مړینه (Intrauterine Death) لنډه نښه ده.

IUD[2]

په رحم کې دننه ځای پرځای کېدونکې اړوند وسیلې (Intrauterine Device) لنډه نښه ده.

IUS

درحم دننه سیستم (Intrauterine System) لنډه نښه ده.

IUGR

د رحم دننه د ودې موندنې ځنډ او روسته پاتې والې (Intrauterine Growth Radiation) لنډه نښه ده.

IV

د ورید دننه ، داخل الوریدی (Intravenous) لنډه نښه ده.

IVF

په رحم څخه بهر په (In Vitro) کې تجربوی القاح (In Vitro Fertilisation) لنډه نښه ده.

IVP

د یوروګرافین د وریدی زرق له لارې د پښتورګو د حویضو اړوند ښکاره کېدونکې راډیوګرافی کلیشه اخیستل بلل شی (Intravenous Pyelogram) لنډه نښه ده.

IVU

د یوروګرافین د وریدی زرق له لارې د بولی سیستم بشپړ ډول سره د (پښتورګو د حویضو ، حالبونو، مثانې) اړوند ښکاره کېدونکې راډیوګرافی کلیشه اخیستل بلل شی (Intravenous Urography) لنډه نښه ده.

Ixodes

د پرازیتی وږړو یو ډول جنس چې ځینې یې د ناروغیو د لېږدوونکی په توګه کار کوی.

Ixodiasis

هر ډول ناروغی یا ضایعه چې د وږړو د چیچلو وروسته رامنځ ته شی ، په وږړو باندې ککړتیا.

Ixodid

په وږړو پورې اړوند ، د (Ixodes) جنس.

Ixodidae

د وږړو یو جنس چې د سخت بدن لرونکی دئ همداراز کُنې هم پکې شاملیږی.

Ixodides

وږړې ، د (Ixodoidea) د کورنۍ پّه ګډون د (Acrania Sub Order) هم بلل شی.

Ixodoidea

د سخت (کلک) او نرم بدن لرونکو وږړو په ګډون د ارتروپودا لویه کورنۍ.

J,j

د انګریزی ژبې لسم توری دئ چې په طب کې د ګڼ شمیر لغتونو لنډه نښه جوړوی.

J

د ژول (joule) لپاره لنډه نښه ده .

Jab

تلقیح کول .پیچکاری یا تزریق کول لکه د ټیټانوس زرق کول ،وهنه، ننه ایستنه، چخونه (چوخونه)، سوری پکې جوړونه، ننه ایستل، منډل، په چاړه وهل، چوخیدل ، په سوک وهل.

Jabber

ژرژر ږغیدل، بې سنجشه غږیدل، بې سنجشه وینا ، ژرژر خبرې.

Jackal

سورلنډی، چغال ،شغال .

Jackass

نرخر ، بې عقل سړی .

Jacket

د تنې یا د بدن د پورتنی برخې لپاره پوښ،کرتی، جاکټ، د ژوو پوست، دپټاټو (الوګانو/کچلاتو) پوستکی،دکتاب پوښ.

- Plaster of Paris Jacket

هغه جاکټ ډوله د پاریس پلاستر څخه جوړ او کاملاً بدن احاطه کوونکې پوښ چې د صدر او ملا د سمون او تثبیت لپاره کارول شی.

- Strile Jacket

د (Camisole) لپاره نامعلومه نوم . معقم جاکټ .

Jackrabbit

دشمالی امریکې یو ډول غټ سوی نوم دئ .

Jackscrew

د غاښونو د طب کې یوه وسیله چې د پیچ په تاوولو سره یې غاښونو قوس (لیندی) پرانیستل کېږی.

Jacksonian Epilepsy

جکسونین صرعه ، چې پکې د ټکانونو حرکتونه دمخه تر تر دې چې خپریدل او انتشار وکړی په یوه برخه کې پیل مومی دا ناروغی په کال (1863) کې د برطانوی نیورولوژسټ (John Hughlings Jackson) پذریعه شرحه شوه .

Jacquemier's Sign

دا یوه کلینیکی نښه یا علامه ده چې د بلاربښت په مقدم مرحلو کې د مهبل مخاطی غشأ د شرائینو د اندازې زیاتوالی له امله لږ څه آبی (Slightly Blue) رنګ اختیاروی دا علامه په کال (1806–1879) کې د فرانسوی ولادی متخصص ډاکټر (Jean Marie Jacquemier) پذریعه شرحه شوه .

Jactitation

دا د روانی نارو غیو له امله هغه عمل دی چې ثابته توګه په نارامه ډول څرخیږی.

Jag

تیره غاښی لکه ډډبرې ، تېره څوکه، غاښی، زیږ، څیرې، په سکاټلنډ کې د زرق یا تلقیح ته ویل کېږی، مستی ، نشه .

Jagged

تیرې تیرې څوکې، یاغاښی، پرې پرې، غاښور.

Jam

مربا ، کښیکښل، زیبښل، ټینګ تړل، ګهل یاګیل، درول، بې حرکته کول، ډم اچول یا ډم درول لکه دترافیک کاراونور

Jamb

د (Jam) په انډول.

Jangle

کړنګهار کول، کړنجار کول ، کړنګیدل، کړنجیدل، غالمغال کول.

Jargon

هغه لغت چې دهغه خلکو لپاره پکارږی چې قسماً علمیت لری مات ګوډ خبرې کول، بی معنی خبرې ، د یوه ټولګی مخصوص اصطلا حات ، خاصه لهجه ، نامفهومه وینا او دخبرو داسې بهیر چې بې معنی وی دا په روانی شدیدو اختلالاتو کې د افازیا سره مل وی ، نامفهومه ژبه ، د څوژبو څخه رامنځ ته شوې ژبه .

- Medical jargon

طبی جارګون .

Jaundice

ژیړې ، یرقان ، د هایپر بلیروبینیمیا په حالت کې د ترپخې (صفراوی) موادو رسوب له امله د (پوستکی ،صلبیی ،مخاطی غشأ ګانو او افرازاتو) ژیړېدل او د ببلابهلو لاملونو له کبله لکه د (تریخی لارو بندښت ، د ینې ناروغی د ویلیس ناروغی Weil's disease.) کې لیدل شی ورته (icterus) هم ویل شی .

- Acholuric Jandice

په وینه کې د بیلیروبین د زیادښت څخه پرته ژیړې چې د غیر مستقیم ډول بیلیروبین د کچې زیاتوالی سره یوځای وی کوم چې میتازو د

- **Broken Jaw**
ماته ژامنه ،چې دژامني هډوکو (مندیبولا هډوکی) د ماتېدنې له امله پېښېږی

- **Dislocated Jaw**
خلع شوې ژامنه ، وتلې ژامنه ، داحالت د ژامني د بندونو (**Temporomandibular Joints**) وتلو او هډوکو ماتېدو له امله پېښېږی،د (**Broken Jaw**) په انډول.

- **Hasburg Jaw**
د لاندینی ژامني له حد څخه زیاته راوتلتیا چې معمولاً (**Hasburg Lip**) سره یو خای وی.

- **Lower Jaw**
ښکته ژامنه چې ددواړه لورود (**Mandible**) هډوکو پذرېعه منځ ته راځی او څوړنده - خوځنده بڼه لری.

- **Lumpy Jaw**
په غوایانو کې د اکټینومایکوزس ناروغی. له امله منځ ته راځی.

- **Phossy Jaw**
د (**Phosphorous Necrosis**) په انډول.

- **Rubber Jaw**
د ژامني د هډوکو نرمښت کوم چې د هډوکی د جذب او خای پرخای يې د فیبروزی نسج د راتلو له امله په کلیوی اوستیو ډیستروفی ناروغی. کې منځ ته راځی.

- **Upper Jaw**
پورتنی ژامنه چې د دواړه لورو د (**Maxillae**) هډوکو پذرېعه منځ ته راځی چې د کوپړی هډوکو پورې تثبیت بڼه لری.

Jawbone
هغه هډوکی چې ژامني جوړوی او د (**Maxillae** او **Mandible**) هډوکو څخه منځ ته راځی.

JCV
د (**JC Virous**) ویروس ته ویل شی

Jejun-
دا یومختاړې دئ اود جیجینوم (**Jejunum** ، **jejuno-**) کولمې معنی بشپړوی.

Jejunal
د (**Jejunum**) جیجینوم اړوند صفت.

- **Jejunal Ulcer**
د جیجینوم کولمې زخم (قرحه) یا تپ بلل شی.

Jejunectomy
د جراحی کړنلارې تر سره کولو په ذرېعه د (**Jejunum**) کولمې ټوله یا یوې برخې راویستل دی. ګڼه بڼه يې (**Jejunectomies**) بلل شی.

Jejuno-
دا یومختاړې دئ اود جیجینوم (**Jejunum**) کولمې معنی بشپړوی.

سیستم له لاړې نه اطراح کېږی.

- **Acholuric Familial Jandice**
د (**Hereditary Spherocytosis**) پّه انډول.

- **Breast Milk Jandice**
په ځینو هغه ماشومانو کې د غېر مستقیم بلیروبین د کچې لوړ والې چې د مور په شیدو تغذیه کېږی کوم چې د مور په شیدو کې د (**5 Beta –pregnane -3 –Alpha -20 – Beta diol**) شته والې لری د ګلوکورونیل ترانسفریز انزایم د فعالیت مخه ډب کوی.

- **Cholestatic Jandice**
کولیستاټیک ژیړې ، یو ډول ژیړې چې په ینه کې د صفرا غېر نورمال بهیر له امله منځ ته راځی.

- **Hemolytic Jandice =**
هیمولایټیک ژیړې ، دا ډول د هیموګلوبین څخه د بیلیروبین په زیادښت پورې اړه لری او د سرو کریواتو د تخریب او ویجاړتیا له امله منځ ته راځی ،د (**Haemolytic Jaundice**) په انډول.

- **Hepatocellular Jandice**
یو ډول ژیړې چې د کبدی (ځیګر) حجرو پّه ناروغیو پورې تړلې دئ.

- **Hepatogenic Jandice**
یو ډول ژیړې چې د کبدی (ځیګر) حجرو پّه ناروغیو کبدی اختلالاتو پورې تړلې دئ،د (**Hepatogenous Jandice**) په انډول.

- **Leptospiral Jandice**
د (**Weil's Syndrome**) په انډول.

- **Mechanical Jandice**
انسدادی (میخانیکی) ژیړې .(**Obstructive Jandice**) په انډول.

- **Neuborn's Jandice**
د نوې زېږېدنې دورې اړوند ژیړې چې پکښې د وینې د بلیروبین سویه کچه ډېره لوړه وی .(**Icterus Neonatarum** او **Newborn Jaundice**) په انډول.

- **Nuclear Jandice**
هستوی ژیړې . د (**kernicterus**) په انډول.

- **Obstructive Jandice**
انسدادی ژیړې ، دا د صفراوی بهیر د بندښت له امله منځ ته راځی.

- **Physiologic Jandice**
فزیولوژیک ژیړې ، خفیف ډول ژیړې چې د زېږون په لومړیو ورځو کې په ماشومانو کې لیدل شی.

- **Retention Jandice**
یو ډول ژیړې چې د وینې د بهیر په واسطه لېږدول شی د لېږدېدلی بلیروبین په جذب کې د ینې د ناتوانی له امله منځ ته راځی.

Jaw
ژامنه ، ژامه ، دا برخه د هغه هډوکو څخه منځ ته راځی چې غاښونه پکې لګېدلی وی او فقاریه (شمزی لرونکی) حیواناتو په سر کې خای پر خای وی لکه ښکته او پورته ژامنه.

Jejunocecostomy
د جیجینوم کولمې او سیکوم تر منځ پیوند یا ترمیم او ګنډلو کړنلاره ده.

Jejunodudenostomy
د جیجینوم کولمې او دودینوم (اثناعشر) تر منځ پیوند یا ترمیم او ګنډلو کړنلاره بلل شی.

Jejunogastrostomy
د جیجینوم کولمې او معدې تر منځ د پیوند یا ترمیم او ګنډلو کړنلاره بلل شی.

Jejunoileostomy
د جیجینوم کولمې او ایلیوم (صائم) تر منځ د پیوند یا ترمیم او ګنډلو کړنلاره بلل شی ګڼخ بڼه یې (**jejunoileostomies**) ده.

Jejunoileitis
د جیجینوم او ایلیوم کولمو التهاب بلل شی.

Jejunojejunostomy
د جیجینوم کولمې یوې برخې او جیجینوم بلې برخې تر منځ د پیوند یا ترمیم او ګنډلو کړنلاره بلل شی. د جیجینوم دوه بر خو ترمنځ پیوند.

Jejunostomy
د جراحی کړنلاړې په مرسته د ګېډې د جدار له لارې د چیجینوم د کولمې راویستل او فوحه جوړول دی تر څو موادو تېرولو لپاره مصنوعی لاره منځ ته راشی ګڼه بڼه یې د (**Jejunostomies**) پنامه یادېږی.

Jejunotomy
د جیجینوم د کولمې غوڅولو اوپرې کولو کړنلاره بلل شی ګڼه شمېره یې (**Jejunotomies**) بلل شی.

Jejunum
د هضمی جهاز د نری کولمو هغه برخه چې د اثناعشر څخه تر ایلیوم پورې غزېدلې ده او تر دوه متره (**2 metres**) اوږد والې لری.

Jelly
جیلی، یوه نرمه او لزوجه ماده ده، یوه نیمه جامده کولوئیدی ماده.

- **Cardiac Jelly**
هغه ماده چې د رشیمی دورې په زړه کې وجود لری او وروسته د انډوکارډ په منضمی نسج باندې اوښتنه کوی.

- **Contraception Jelly**
د بلاربښت مخنیوی لپاره جیلی چې مهبل کې چمتو او کیښودل شی.

- **Jellyfish stings**
دا هغه ډول په هغه کسانو کې د لیدلو وړ وی چې دیوه روښانه او رونړ (شفافه) جسم څخه د اوږدې ګوتې په څېر ورته جوړښت چې (**Tentacles**) یا څانګه نومېږی دهغه دننه چوخبدونکې حجرې کېدای شی مجروح شی کله چې د تماس سره مخامخ شی بعضی څېزونه کېدای شی ډېر شدید مضر واقع شی چې معلومات یوازې د حقیقی مسمومېتونو درملنه کې تر ستر ګو کېږی.

- **Petroleum Jelly**
د پطرولو څخه جوړه جیلی د (**Petrolatum**) په انډول.

- **Wharton's Jelly**
د نامه د رسی اړوند داخل الحجروی ماده چې د (**Exomphalus**) اړوند نقیصې یوه طبقه منځ ته راوړی.

Jerk
ټکان، ټُند حرکت، تېز او سریع حرکت، کشش، غوښن انقباض، تشنج/اختلاج، شخبدل، غوڅې غوڅې خبرې کول، ژوولې خبرې کول، ناڅاپه ټکان، ګوډ ګوډ تګ کول، غیر ارادی حرکت، داء الرقص.

- **Achilles Jerk**
د (**Triceps sura reflex**) په انډول.

- **Biceps Jerk**
د بای سپس یا دوه سرې عضلې ټکان.

- **Knee Jerk = Quadriceps Jerk**
د (**Patellar reflex**) په انډول.

- **Limbs Jerk**
د لاسونو او پښو اړوند ټکانونه.

- **Quadriceps Jerk**
د (**Patellar reflex**) په انډول. د څلور سرې عضلې ټکان.

- **Tendon Jerk**
د ټینډون اړوند ټکان.

- **Triceps Surae Jerk**
د دریې سرې عضلې (**Triceps sura reflex**) ټکان د (**Achilles Jerk**) ټکان.

Jerusalem Cherry poisoning
داهغه ډول نبات دئ چې په هماغه کورنۍ پورې تړلې دئ چې وژونکې مسمومیت منځ ته راوړی دا (ډېر کوچنی، ګرد او سور نارنجی رنګ) لرونکې مېوه ده چې د خوراک څخه وروسته د مسمومیت لامل ګرځی.

Jet Lag
هغه حالت چې د اوږدې مودې سفر کوونکو کسانو کې د سفر له امله په الوتکه سفر کوونکو کې منځ ته راځی، دا د خوب او خوراکونو د وخت بدلون له کبله پېښېږی چې میتابولیزم کې بدلون منځ ته راځی.

- **Jet Lag Prevention**
دا یو ډول د خوب اختلال دئ چې هغه مهال منځ ته راځی کله د بدن بیولوژیک ساعت د ځایې (موضعی) وخت سره سمون ونکړی کله چې

یو ډول څرخنده بند چې تر یوه حد پورې څرخېدو او جانبی حرکت ته هم ادامه ورکوی.

- Composite Joint -

هغه بند چې په کې څو هډوکی سره پیوستون مومی ،د (**Compound Joint**) په انډول.

- Condyloid Joint

هغه بند چې په هغه کې د یوه هډوکی د سر ګردی برخه او د بل هډوکی د ژورغالی برخه کې ځای نیسی د محوری حرکت پر ته نورو ټولو حرکتونو ته لاره هواروی.

- Diarthrodial Joint

د (**Synovial Joint**) په انډول.

- Elbow Joint

د څنګل بند ، هغه بند چې د مټ او لېچو هډوکو تر منځ واقع دئ.

- Elepsoidal Joint

یو شبه کروی (بیضوی) بند چې ببضوی مقطعی سطحه لری.

- Enarthrodial Joint

د (**Spheroidal Joint**) په انډول.

- Facet Joint

د ملا د تیر بندونه.

- False Joint

کاذب بندونه، د (**Pseudoarthrosis**) په انډول.

- Fibrocartilagenous Joint

غضروفی –فیبروزی بند ، د (**Symphysis**) په انډول.

- Fibrous Joint

فیبروزی بند چې پکې هډوکی د فیبروزی نسج پواسطه نښلی.

- Flail Joint

یو ډول غېر معمول متحرک بند چې د صدری اضلاعو ماتېدنې له امله په صدری ترضیضاتو کې منځ ته راځی.

- Ginglymoid Joint

د (**Ginglymus Joint**) په انډول.

- Ginglymus Joint

څرېند او لوله ئي اوږد ډوله بند.

- Gliding Joint

د (**Plane Joint**) په انډول.

- Hinge Joint

د (**Ginglymus Joint**) په انډول.

- Hip Joint

د ورانه او حوصلې هډوکو ترمنځ جوړ شوې بند چې دفخذ هډوکې د کوکسی هډوکی په استابولوم جوف کې بند جوړوی.

- Immovable Joint

بې حرکته بند ، هغه بند چې خوځښت او حرکت نه کوی.

- Intercarpal Joint

د د لاس دمړوند برخې د هډوکو ترمنځ بندونه.

مسافر بیلابیلو سیمو ته سفر کوی پېښېږی.

Jet -Lagged

هغه کسان چې په (**Jet Lag**) کې تجربه لری.

Jewelry cleaners

دا هغه مهال منځ ته راځی کله چې زېور یا ګانې د پاکولو پرمهال د کارکوونکو پذرېعه وخوړل یا نشاق کړل شی.

Jimsonweed poisoning

دا یو ډول اوږد پېچلې او تاوراتاویدونکې نبات دئ کله چې ددې نبات مایع (جوس) وځښل اویا د هغې دانې وخوړل شی همدارنګه ددې نبات څخه د جوړ شوي چای څښلو له امله هم پېښېږی.

Jock itch

دا یو ډول فنګسی (چنیاسې) له کبله منځ ته راتلونکې ناروغی ده چې د سپوغزو په برخه کې خارښت منځ ته راوړی او همدارنګه سپوغزې (**Tinea Cruris**) یا (**Ringworm**) هم ورته ویل شی.

Joint

بند ، مفصل ، هغه برخه جوړښت چې د دوه یا ډېرو هډوکو د څوکو تر منځ واقع او د حرکت لپاره زمینه مساعدوی .هره برخه بند د هماغه برخې پنامه یادېږی. همدارنګه هغه اصطلاح او لغات چې د (**Arthr-, Arthro-**) مختاړو پذرېعه پېل مومی همدا معنی بشپړوی.

- Amphidiarthrodial Joint

د (**Amphidiarthrosis**) په انډول.

- Arthrodial Joint

د (**Plane Joint**) په انډول.

- Ball-and-socket Joint

د (**Spheroidal Joint**) په انډول.

- Biaxial Joint

دوه محوریزه بند ، هغه بند چې په دوه اصلی لورې کې (په هر جهت کې **90°** % ئې) حرکتونه ترسره کولای شی.

- Bilocular Joint

هغه ډول بند چې په دوه ساینویالی جزؤنه لری کوم چې د یوه بین المفصلی غضروف پواسطه بېلېږی.

- Cartilaginous Joint

غضروفی بند ، هغه بند چې هډوکی د غضروف سره پیوستون مومی

- Charcot's Joint

شخ او بې حرکته التهابی بندونه ، نیوروپتیک آرتروپتی.

- Choparts Joint

د پښې د پل برخې د (کلکانوس ، کلوئید ، تالوس، نویکولار) هډوکو ترمنځ بند ته ویل شی.

- Choclear Joint

- Sadal Joint
یو ډول بند چې د آس د زین په څیر ورته دوه سطحې لري چې هرې لورې ته قایمې زاویې لري.

- Simple Joint
ساده بند .یو ډول بند چې یوازې د دوه هډوکو د پیوستون څخه منځ ته راغلې وی .

- Spheroidal Joint
څو محوریزه بند ، داډول بند چې د یوه هډوکی ګردې سر لري او بل هډوکې ژور غالې لري و څو لورو ته حرکت کوی .

- Spiral Joint
د (**Choclear Joint**) په انډول ،څرخنده بند.

- Stifle Joint
شخ بند چې یوازې دوه لورو ته حرکت وکړلای شی لکه د زنګون بند.

- Synarthrodial Joint
فیبروزی بند .

- Synovial Joint
یو ډول ساینویال مایع اوساینویال غشأ درلودونکی بندونه چې په یوه کپسول کې دننه پراته وی چې په کمه یا زیاته پیمانه حرکت ته اجازه ورکوی .

- Temporomandibular Joint
د صدغی او ژامنې هډوکو تر منځ بند، یو دوه شاخه بند چې د منډیبولار هډوکی سر ، د منډیبولا ژوره او صدغی هډوکی مفصلی راوتلتیا پکې ونډه لری.

- Trochoid Joint
د (**Pivot Joint**) په انډول.

- Uniaxial Joint
هغه بند چې یوازې یو محور لورې ته حرکت کولای شی.

- Unilocular Joint
یو ډول سینویال بند چې یوازې یوه ژوره لری .

Joule
ژول ، جول ، د انرژی معیاری شوې واحد ،یو ژول په یو متری واټن کې د یو نیوټن کار د ځواک سره معادل دئ لنډه نښه ئې (**J**) ده . د (**4.184 joules**) په اندازه د یوه کالوری (**One Calorie**) سره معادل ده.

Jugal
د غومبورو پورې اړوند.

- Jugal Bone
د مخ د غومبوری هډوکی اړوند .

- Jugal Point
د مخ د غومبوری وتلې برخه .

Jugale
د (**Jugal Point**) په انډول .

- Joint -Breaker Fever
دهډوکو بند ماتوونکی تبه،د (**o'nyong-nyong Fever**) په انډول.

- Joint Capsule
سپین فیبروزی نسج چې د بندونو چاپیر او احاطه کوی او بندونه سره راټولوی.

- Joint Fluid Gram Stain
دا یو لابراتواری آزماښت دئ چې د باکتریاګانو د تثبیت په موخه ترسره کېږی.

- Joint Investment Plan
د پانګې اړوند ګډ او ځانګړی پلانونه چې ټولنیز خدمتونه او ځارنې څرګندوی.

- Joint Mouse
د زنګون بند د هډوکو د یوې برخې یا غضروف تخریب چې بند قلف کوی او له حرکته یې وباسی.

- Joint pain
د بندونو اړوند درد .

- Joint swelling
د بندونو پرسوب ، د مفصل تورم چې د التهاب یا وینې راټولېدنې له امله د بند دننه یا چاپېر نسج کې پېښېږی .

- Joint x-ray
د بندونو راډیوګرافی اخیستل یو ډول اړوند تشخیصیه کتنه بلل شی.

- Knee Joint
د زنګون بند . د (زنګون سترګې ، وړون او لښتګی) هډوکو ترمنځ بند.

- Lisfrance Joint
د پښو تلې د تارس او میتاتارس هډوکو ترمنځ بندونه.

- Mixed Joint
هغه بند چې خپل جوړښت کې ډول ډول بندونه لری.

- Multiaxial Joint
څو محوری بند . د (**Spheroidal Joint**) په انډول .

- Neurocentral Joint
د ملا د مُهرې په مرکز کې د مهره ئی قوس نیمائی ګانو تر منځ پیوستون .

- Peg-and –socket Joint
د (**Gomphosis**) په انډول .

- Pivot Joint
محوری بند ، یو محور لرونکې بند .

- Plane Joints
یو ډول ساینویال بند چې په هغه کې د هډوکو متقابلې سطحې هوارې دی یا یوازې لږ څه انحنأ لری.

- Pollyaxial Joint
څو محوریز بند ، د (**Spheroidal Joint**) په انډول.

- Rotary Joint
د (**Pivot Joint**) په انډول .

Jugular

په غاړ پورې اړوند ، وداجی .

- **Anterior Jugular**

قدامی وداجی وریدی ټوټه چې تر ټولو کوچنی برخه .

- **External Jugular**

خارجی وداجی دا د وداجی وریذ لنډه برخه ده چې دتحت الترقوی ورید سره نښلی .

- **Internal Jugular**

خارجی وداجی دا د وداجی وریذ غټه اوږده برخه ده چې د (Brachiocephalic Vein) ورید سره نښلی .

- **Jugular Nerve**

وداجی عصب چې په غاړه کې واقع دئ .

- **Jugular Trunk**

د غاړې نهائی لمفاوی رګونه چې تحت الترقوی ورید ته تخلیه کېږی.

Jugular vein

یو د دوه وریدونو څخه چې د غاړې دواړه لورو ته بهیر مومی.

Juice

شیره ، عصاره ، جوس ، هره هغه مایع چې د حیوانی یا نباتی نسج څخه په لاس راځی . د بدن طبیعی مایع .

- **Gastric Juice**

د معدې عصاره ، د معدوی غدواتو افرازات .

- **Intestinal Juice**

د کولمو برخې د غدواتو څخه افرازېدونکې مایع .

- **Pancreatic Juice**

د پانکریاس مایع او عصاره انزایم لرونکې مایع چې د پانکریاس حجرو پذریعه فراز او اثنا عشر ته توئیږی.

Jumper's Knee

د زنګون برخې شدید ډول درد لرونکې حالت دئ چې په [ټوپ اچوونکو ،منډه وهونکو او ډانس کوونکو (ځاکونکو)]کسانو کې منځ ته راځی .

Jumping

الوتل ، ټوپ اچول ، خېز وهل.

Junctio

بند ، مفصل ، د دوه هډوکو څوکو ترمنځ د توصل برخه.

Junction

بند ، مفصل ، د دوه هډوکو څوکو ترمنځ د توصل او پیوستون برخه.

- **Adherent Junction**

یو ډول بین الحجروی پیوستون چې په هغه کې د حجروی غشأ ګاني سره نښلی او داخل الحجروی اسکلیتی عنصرونه د حجرو د میخانیکی پیوستون له لارې منځ ته راځی.

- **Amelodenticular Junction**

د (Dentoenamel Junction) په انډول .

- **Atriventricular Junction(AV)**

هغه سیمه چې دهلېزی -بطینی غوټه او هیس ګېډی، پکې ونډه لری ځینې وخت د هیس ګېډی نوم څخه بهر شمېرل کېږی.

- **Dentocemental Junction**

د غاښ ریښې باندې د غاښ د سیمنټ او عاج پیوستون لیکه.

- **Dentoenamel Junction**

د غاښ په سر باندې د غاښ د مینا او عاج پیوستون لیکه.

- **Esophagogasteric Junction**

د معدې د کارډیا په ساده استوانه ئي اپیتلیوم باندې د مری د مطبق سنګفرشی اپیتلیوم د بدلون ځای . د معدې او مری د پیوستون سیمه.

- **Gap Junction**

بین الحجروی فضأ کې یوه نری فضأ چې داسې کانالونه لری چې له لارې ئې[امینواسیدونه ،قندونه و آیونونه ، نیکلیوټایدونه ، ویټامینونه او (CAMP)]تېرېږی .په هغه نسجونو کې چې برېښنائی پلوه تحریک منونکی دی دغه درزونه د آیونې بهیرونو په بڼه برېښنائی تحریکونه تېروی او د برېښنائي ساینپسونو په نوم یادېږی.

- **Gastroesophageal Junction**

د (Esophagogasteric Junction) په انډول

- **Ileocecal Junction**

د ایلیوم او سیکوم تر منځ د پیوستون ځای .

- **Intercellular Junction**

د حجرو په څنډو باندې هغه ځانګړې سیمې چې د ګاونډیو حجرو سره اړیکې شونې کوی.

- **Mucocutaneous Junction**

د مخاطی غشأ او پوستکی تر منځ د پیوستون سیمه لکه د (شونډو او سترګلو او مقعد) په برخه کې .

- **Mucogingival Junction**

د مخاطی طبقی او وریو تر منځ د پیوستون سیمه او هستولوژیک سرحدی خط.

- **Myoneural Junction**

په یوه حرکی عصب او یو هغه وروستی محرکې پاڼې تر منځ د پیوستون ځای چې ددې عصب په واسطه فعالېږی،د (Neuromuscular Junction) په انډول.

- **Occulding Junction**

د (Tight Junction) په انډول.

- **Sclerocorneal Junction**

د صلبیې او قرنیې ترمنځ د پیوستون سیمه .

- **Tight Junction**

یو ډول بین الحجرو پیوستون چې په هغه کې د غشأ [د حجروی غشأ د اتصالی پروتینونو له لارې] د ګاونډیو حجرو پلازمائی غشأ ګاني

په ډېر کلک او محکم ډول سره نښتې وی او پدې ډول د مولیکولونو د بین الحجروی لېږد مخه نیسی .

Junctional

د بندونو او پیوستون برخو اړوند صفت .

Junctura

مفصل ،بند ، پیوستون برخې ځای.

Junior Doctor

ځوان ډاکټر، د لږ تجربې خاوند ډاکټر ، تر روزنې لاندې ډاکټر ، هغه ډاکټر چې په روغتونو کې خپله د ټرېننګ (روزنې دوره) بشپړوی .

Junk Food

هغه خوراکونه یا غذا چې لږ تغذی ارزښت لری لکه د ډېر غوړو درلودونکی.

Jurisprudence

قانون پوهنه .

- **Medical Jurisprudence**

طبی قانون پوهنه، په ښلاښلو طبی څانګو د قانونی پښنو څېړنه.

juvenile

په ځوانی ډول پورې اړوند ، یو ځوان هلک یا پېغله نجلی ، یو کوچنی حیوان ، هغه حجره یا ارګانیزم چې د بلوغ او نابلوغی تر منځ واسطوی پړاو کې وی.

- **Juvenile Angiofibroma**

د ځوانی اړوند مرحلې انجیو فیبروما چې غېر سرطانی وده ده او د پوزې په خلف او ستونی په پروتنی برخه کې وی.

- **Juvenile Rheumatoid Arthritis**

په ماشومانو کې د ارتریت معمول دول دئ اوږدمهالې مزمنه ناروغی ده چې د بندونو درد او پرسوب سره مل وی یې (**JRA**) ده .

Juxta-

دا یو مختاړې دئ او د یو شی (ګاونديتوب او نږدې توب) کې د ځای په ځای شوی معنی بشپړوی.

- **Juxta -articular**

یوه بند یا مفصل ته نږدې واقع شوې اړوند صفت .

- **Juxta –glumerular Apparatus**

د پښتورګو د ګلومیرولونو ته نږدې ځای نیونه .

- **Juxta -position**

د (**Aposition**) مقابل موقعیت په انډول ، د یو اوبل تر څنګ د دوه یا ډېرو شیانو واقع کېدنه تر څو د هغوی ورته والې یا تفاوت واضیح کړل شی.

K , k

دا د انګریزی ژبې یوو لسم توري دئ او په طب کې د ګڼ شمېر لغتونو د لنډې نښې پتوګه کارولے شی

K⁺

د **(Kalium)** لپاره نښه ده چې د **(Potassium)** معنی خپلوی.

K⁺

او یا د **(Kalvin)** لپاره نښه ده چې د **(Potassium)** معنی خپلوی.

Kᴍ, Kₘ

د میکائیل ثابت **(Mechaelis Constant)** لپاره لنډه نښه.

k

د کیلو **(Kilo)** یا د **(-Kilo)** مختاړی لپاره نښه **(Symbol)** ده

Kahn Test

کان آزمایښت ، دا یو ډول آزمایښت دئ چې د وینې د سیروم آزموینه د سفلیس **(Syphilis)** ناروغۍ لپاره ترسره کېږی چې په کال **(1922)** کې د امریکائی سیرولوژست له خوا شرحه شوی .

KaK-

د **(Cac)** په انډول یو مختاړی دئ .

Kalazar

کالاژار ، داحشاوو لشمانیازس ، دا د حشوی کالدانې **(Leishmania)** اړوند ناروغی ده چې پکې د بدن دننه غړی (کولمې ،کبد ،او نور) د لشمانیا پرازیت پواسطه منتن شوي او د (تبې، وینه لړې ، عمومی وزن بایلنې ، د ینې او طحال ضخامه) په څېر نښې نښانې څرګندوی او کېدای شی وژونکې تکلاره خپله کړی.

Kaliopenia

د **(Hypokalimia)** په انډول ، په وینه کې د پوتاسیم د عنصر د طبیعی کچې څخه کمښت بلل شی.

Kaliopenic

د **(Kaliopenia)** اړوند صفت.

Kalium

دا د پوتاسیوم **(Potassium)** کېمیاوی عنصر لپاره نوم دئ چې په وینه کې یې د تیتې یا لوړې کچې شتون له کبله ببلا ببلې ناروغۍ پېښولای شی.

Kalidin

یو ډول کینین چې د پلازما د ګلوبولین په سر د کالیکرئین د اغېز له امله منځ ته راځی او دا هماغه برادي کینین دئ .

Kallikrein

د پلازمائی انزایمونو هغه ډله چې په مختلفو (غدو ،بولو او لمف) کې وجود لری چې اصلی دنده ئی د الفأ دوه ګلوبولین څخه د کنینونو آزادوونه ده .

Kallikrienogen

د کالیکرئین پریکارسور غېر فعاله ماده چې په نارمل ډول په وینه کې شتون لری.

Kanamycine

په اوبو کې حلېدونکې انتی بیوټیک دئ چې د سترپتومایسیس او کناماېسیس څخه لاس ته راځی په ګرام منفی هوازی باسیلونو او ځینو ګرام مثبت باکتری ګانو باندې ضد اغېزی کوی

Kaolin

طبیعی هایدریتی المونیوم سلیکیت چې پوډر یې د یوې جاذبې مادې او ځینې وختونه د پکټین سره مل د نس ناستې په درملنه کې کارول کېږی.

Kaolinosis

د کائولین د ذراتو انشاق څخه زېږنده پنوموکونیوزس .

Kaposi's Sarcoma

داد منضم نسج یو ډول کانسری ناروغی ده چې په پوستکی لمفوی عقداتو ته د وینه بهوونکی ډول بدلون ورکوی خاصتاً پّه نهایاتو کې چې پّه کال **(1902)** کې د **(Moritz Kohn Karposi)** جلدی عالم پذرېعه شرحه شوېدئ اوس مهال د **(AIDS)** ناروغۍ سره مل موندل کېږی معمولاً د عمر په آخر **(Italian and Jewish men)** کې منځ لېدل کېږی چې (پوستکې ،سږی ،معدې- کلمو ، اونورو غړو) کې منځ ته راځی .

Kartagener's Syndrome

دا یو ډول ارثی ناروغی ده پکې ټول غړی (صدری ،بطنی) غړي په مقابل لوري کې ځای پرځای وی .

Kary-

دا یو مختاړی دئ او د حجروی هستې **(Cell Nucleus)** معنی بشپړوی .

Karyo-

دا یو مختاړی دئ او د حجروی هستې **(Cell Nucleus)** معنی بشپړوی .

Karyogamy

د هستو د پیوستون سره یوځای د حجرو پیوستون .

Karyokinesis
د هستې وېش چې معمولاً د حجروېش یا مایتوزس بهیر لومړنی مرحله ګڼله شی.

Karyokinetic
د (Karyokinesis) اړوند صفت.

Karyolymph
د یوې حجرې د هستې مایع برخه چې نور عنصرونه پکې لامبو وهی.

Karyolysis
کاریولایزیس ، د یوې حجرې د هستې استحاله.

Karyolitic
کاریولایټیک ، د (Karyolysis) اړوند صفت.

Karyomorphism
کاریومورفیزم ، د حجروی هستې بڼه.

Karyon
کاریون ، د یوې حجرې هسته.

Karyophage
کاریون فاژ ، هغه پرازیت چې د ککړې (متن) حجرې هسته خوری

Karyoplasms
د (Nucleoplasm) په اندازه.

Karyopyknosis
د حجرې د هستې غونجېدل (چملک کېدل) او د کروماتین متراکم کېدل.

Karyopyknotic
د (Karyopyknosis) اړوند صفت.

Karyorrhexis
د هستې څیرې کېدل ، د حجروی هستې څیرې کېدل چې کروماتین په بې بڼې ګرانولوز اوړی او له حجرې څخه بهر ته اطراح کېږی.

Karyorrhectic
د (Karyorrhexis) اړوند صفت.

karyosome
د حجرې هسته ئی ، رنګینه ډول هسته، د کروماتین د نامنظمو او متراکمو محتواؤ برخو څخه چې د یوې حجرې په کروماتین شبکه کې خپره شوېوی.

Karyotype
د حجرې د هستې د کروموزومی محتوی، یا داچې د (Denver) د ډلبندی له مخې د کروموزومونو فوتومایکروګراف.

Karyotyping
دا یو ډول د لابراتواری کتنې آزمایښت دئ چې د حجرو په هغه نمونه کې ترسره کېږی چې جنیټیک ستونزو پلټون په موخه کارول شی چې پکې د کروموزومونو شمېر او جوړښتیز بدلونونه لټول کېږی.

Kat
د (Katal) په اندازه.

Kata-
دا یو مختاړې دئ چې د ښکته (کښته) معنی بشپړوی.

Katal
د اندازې نیونې واحد چې د کتالایټیک غبرګونونو د ښوونو لپاره وړاندیز شوې دئ .د تعرېف مخې دغه واحد دهغه کتالیټیک غبرګون سره اندازه دئ چې په هره ثانیه کې یې د چټکتیا کچه یو مول وی.

Katolysis
په ساده مرکبونو باندې د پېچلو کېمیاوی موادو ناکامله بدلون ، دغه اصطلاح په ځانګړی ډول د هضمی بهیر ونو لپاره کارول شی.

Kawasaki Disease
کواساکی ناروغی، دا یو ډول دپنځه ماشوم توب دورې ویروسی ناروغی ده چې د (Retrovirus) له املې منځ ته راځی چې پکې د مخاطی غشأ او لمفاوی عقداتو د وینې رګونو د جدارونو اوزړه د التهاب منځ ته راځی د (تبې ، جلدی اندفاعات، سترګې سورواڼې ، د پوستکی اچول او لمفاوی عقداتو پړسوب) کلینکی نښې لری چې عموماً په جاپان کې لېدل شوی او کټ مټ لامل یې لاهم ندې پېژندل شوې او د اتوایمیون تشوشاتو ستونزو څخه ګڼل شی.

Kayser-Fleischer Ring
دا یو ډول نصواری ډوله کړۍ (Brown Ring) ده چې د سترګو دقرنیې په چارپېر بهر نی برخه کې منځ ته راځی چې د (Hepatolenticular Degeneration) لپاره د پېژندنې غوره نښه بلل شی. دا د لومړی ځل لپاره په کال (1902–1904) کې د جرمنی د افتالمولوژی (Fleischer. Bernard Kayser) او داخلې متخصص (Fleischer Bruno Richard) عالمانو پذرېعه شرحه شو.

kcal
د کیلو کالوری (1000 gr) زر ګرامه په اندازه د (Kilocalorie) لنډه نښه ده.

kD
د کیلو دالتون په اندازه (kDa Kilodalton) لپاره لنډه نښه ده .

Keflex
د سفالوسپورین انتی بیوټیک لومړنی جنریشن د سفالکسین (Cephalexin) لپاره سوداګریز نوم دئ.

Kegel Exercises - self-care
دا یو ډول تمرین دئ چې دحوصلې د فرش د عضلاتو د تقویې لپاره او په ښځو کې د تصادفی متیازو تګ څخه د (توخی ، پرنجی یا درندو شیانو پورته کولو)پر مهال مخنیوی کوی ښایي د (رحم ، مثانې او کولمو) د عضلاتو تقویې لپاره تر سره شی.

Keller's Operation
د پښې د غټې ګوتې د (Bunion) چې د لومړنی بند برخې دردناکه غټه کتله بلل شی دلیرې کولو (غوڅولو) جراحی کړنه ده او یا هم د انکیلوز شوی مفصل د اصلاح په موخه دغه جراحی تر سره کېږی . چې لومړنی ځل لپاره د امریکائی عالم (William Lordan Keller) پذرېعه په کال (1904) کې تر سره او شرحه شوه .

Keloid
د پوستکی لپاسه هغه چټکه وده مونډونکې تندب (Scar Tissue) نامنظم راوتلې نسج بلل شی چې په ټیپې رغېدونکی برخه کې د ترمیم په لړ کې پېښېږی چې ډېره اندازه کولاجن نسج پېښېږی. لاملونه ئې (ځوانکه ،سوځېدنه، کڅوک ، کوچنې خراش ، جراحی عملیات ،واکسین شوې ټپ) بلل شی.

Keloidal
کېلوئېډی ، د (Keloid) اړوند صفت .

Kelosomus
د (celosomus) په انډول .

Kelvin
د ترمودینامیک د اندازې نیولو لپاره واحد.

Kenalog
د استنوئید تریامسینولون د محصولاتو سوداګریز نوم دئ.

Ken-
د کلمې یوه برخه ، دا یو مختاړې دئ او د تش (خالی) معنی بشپړوی .

Keno-
د کلمې یوه برخه ، دا یو مختاړې دئ او د تش (خالی) معنی بشپړوی .

Kepone
د یوه پولی کلورین سوداګریز نوم دئ چې په طبیعت نه تجزیه کېږی او د حشراتو ضد درملو په توګه کارول شی.

Kerasin
د یوه ګلوکوسریبروزیډ پخوانې نوم چې شحمی اسید یې لیګنوسریک اسیدی دئ.

Kerat -
د کلمې یوه برخه ، دا یو مختاړې دئ او د [تقرنی ، قرنی (پوستکی اچوونکی) نسج-kerato] معنی بشپړوی .

Keratalgia
د سترګې د قرنیې درد .

Keratan
د هغه امینوګلایکانی دوه ګلایکوزونو څخه هر یو چې د ډای سکراېډ **N** - استایل ګلوکوز امین او ګالکتوز تکرارېدونکو واحد دی خو دغه راډیکالونه د قرار نیولو د ځای او کاربوهایدریتی محتوی له مخې لړ څه سره توپیر لری .

- Keratan Sulfate
کراتان سلفیت ،دا ډول کراتان په (غضروف ،قرنیه ، او د بین الفقری ډیسک په مرکزی هسته) کې شتون لری او په مورکیوسندروم کې په بدن کې راغونډېږی.

Keratectasia
هغه حالت چې پکې د سترګو قرنیه بهر ته راوتلې بڼه غوره کوی.

Keratectomy
دجراحی عملیې پذرېعه د قرنیې د یوې برخې غوڅول او راویستل دی ګڼ شمېر یې (Keratectomies) بلل شی.

Keratic
تقرنی ، کراټیک ، د قرنیې (Cornea) او کراتین نسج (Horny Tissue یا Keratin) اړوند صفت.

Keratin
کراتین، د هغه سکلروپروتینونو څخه هر یو چې د(اپی درم ،ویښته ، نوک او بدن تقرنی نسجونو)اصلی برخه جوړوی .کراتینی پولی پیپټایډ د زیات سلفر سره د ویښتانو او نوکانو کې شتون لری او سخت –کلکو کراتینونو په نامه یادېږی .

Keratinisation
کراټینایزېشن ، په یوه نسج کې د تقرن د اوصافو منځ ته راتګ بلل شی. او ورته (Cornification) هم ویل کېږی،د (Keratinization) په انډول.

په قرنیه کې د ژورو رسوبونو سره مل مزمن کراتیت چې د قرنیې د مکدریت لامل ګرځی.

- Lacttice Keratitis

د قرنی ارثی او دوه اړخیزه ډیستروفی ده چې د تار په څیر ضایعاتو دپښنبدو سره مل وی.

- Microbial Keratitis

میکروبی کراتیت ، د قرنیې (باکتریائي ،چنیاسي،ویروس) له کبله منځ ته راتلونکي کراتیت چې معمولاً د نرم عدسیو (لنزونو) کارولو وروسته منځ ته راځی.

- Neuroparalytic Keratitis

یود ډول کراتیت چې د مخ (وچهی) عصب د ناروغۍ له امله منځ ته راځی کوم چې د لېمو او سترغلو د نه بندېدلو له کبله پېښېږی ، دغه عارضه د قرنیې د اپیتلیوم په مخ د ژورو لیکو /کرښو پېښېدو او وچېدو پذرېعه د پېژندلو وړ ګرځی .

- Phylctenular Keratitis

د (Keratoconjunctivitis) په انډول .

- Puntate Keratitis

دا یو ډول کراتیت دئ چې د قرنیې پرمخ د ژورو او ټیټو کډورتونو شتون په متېه د پېژندنې وړ ګرځی .

- Sclerosing Keratitis

تصلبی کراتیت ، د صلبې او قرنیې په ګډ ډول التهاب ، د سکلرا او قرنې دواړو التهاب .

- Trachomatous Keratitis

د (Pannus Trachomatous) په انډول.

K Ulcerative Keratitis

تقرحی کراتیت ، ټپ لرونکي کراتیت ، د قرنیې د اپیتلیوم د تپی کېدو سره مل کراتیت چې په قرنیه باندې د باکتریا ګانو د تیری او تهاجم وروسته سرچینه اخلی.

Kerato -

د کلمې یوه برخه ، دا یو مختاړې دئ او د [تقرنی ، قرنی ،پوستکی اچوونکی ، نسج] معنی بشپړوی .

keratoacanthoma

یو ډول سلیم اپیتلیائی تومور دئ چې موضعی تخریبی ځانګړنې لری او د سنګفرشی حجرې کارسینوما ته ورته دئ او د کراتینی پاڼو څخه ډک شوې دئ دغه تومور معمولاً د څو میاشتو په لړ کې پخپله ښه والې مومی او ګنې شمېره ښه یې (Keratoacanthomas یا Keratoacanthomata) بلل شی .

Keratocele

کراټوسل ، د (Descemete) غشأ فتق یا چُره ډوله راوتلتیا ده .

Keratocentasis

د قرنیې سوری کېدل .

Keratinase

کراټینېز ، یو پروتیولایتیک انزایم دئ چې کراتین تجزیه کوی ،د (Keratinize) په انډول .

Keratinised

کراټینایزډ ،کراتینی شوی نسج ته ویل شی. پتری پتری شوې.

Keratinising

کراتینی کېدل ، په کراتین اوښتنه ، تقرنی کېدل .

Keratinization

کراټینایزېشن، د (Keratinisation) په انډول .

Keratinize

کراټینایز ، د (Keratinase) په انډول .

Keratinocyte

کراټینوسایټ ، یوه اپی درمل حجره چې د کراتین جوړېدنې دنده تر سره کوی اود پوستکی په مختلفو طبقو کې په مختلفو نومونو یادېږی. کراتین جوړوونکې حجره.

Keratinoid

کراټینوئیډ ، کراتین ته ورته ، یو ډول ګولی چې په کراتین سره پوښل شوې وی په معده کې نه حلیږی خو په کولمو کې نه حلېږی.

Keratinosome

کراټینوزوم ، د هغه هګی ډوله ګرانولونو ځخه هر یوه چې په پوستکی کې ګلجی جهاز په ګاونډیتوب کې جوړېږی او دسایتوپلازم په لوړې کډه کوی او خپل محتویات د بین الحجروی فضأ دننه ته تخلیه کوی دا ډول ګرانولونه د بهرنیو موادو په وړاندې یو ډول جلدی ساتندویه خنډ شمېرل کېږی .

Keratitis

کراتیت ، د سترګو د قرنیې التهاب .

- Bullosa Keratitis

دقرنیې لپاسه د تیاکو شته والې التهاب .

- Dendritic Keratitis

د (Dentiform Keratitis) په انډول.

- Dentiform Keratitis

د قرنیې التهاب دئ چې د قرنیې پرمخ د ځانګه درلودونکو (غاښی ډوله) تېپونو رابرسېره کېدولامل ګرځی.

- Herpitic Keratitis

د هرپس سیمپلکس ویروس انتانی کراتیت چې د قرنیې پرمخ د ځانګه درلودونکو تېپونو رابرسېره کېدو سره مل وی .هغه کراتیت چې د سترګې په هرپس زوستر ناروغۍ سېر کې منځ ته راځی.

- Interstitial Keratitis

Keratoconjunctivitis

د قرنیې (Cornea) او ملتحې (Conjunctiva) برخې ګډ ډول التهاب.

- **Epidemic keratoconjunctivitis**

اپیډیمیک کراتو- کانجنکټیویت ، دا یو شدید ډول انتانی الهتابی بڼه لري چې ورسره د سیمې لمفاوی غوټې (عقدات) هم اخته کېږی او د یو ډول ادینو ویروس په واسطه منځ ته راځی .

- **Phylctenular keratoconjunctivitis**

یو ډول کراتوکانجنکتیویت دئ چې د قرنیې په زېرمو کې د توربخنو او کوچنیو ګردیو ضایعات او تېپونه منځ ته راوړی .

- **Keratoconjunctivitis Sicca**

هغه حالت چې د ملتحې د اویني ډکوالي (پُرخونی) کېدو د قرنیې د اپیتلیوم په وچېدو او پنډېدو ، دسترګې سوځښت ، خارښت او غالباً د لیدو کمښت سره مل وی.

- **Viral keratoconjunctivitis**

اپیډیمیک کانجنکتیویت ته وېل شی چې د وېروسونو له کبله منځ ته راځی .

Keratoconus

د قرنیې د مرکزی برخې مخروطی ډوله کنتله او راتلتیا.

Keratocyst

د قرنیې سیسټ.

Keratoderma

د پوستکی د تقرنی طبقې ضخامه ، یوه تقرنی طبقه یا پوښ.

- **Keratoderma Blennorrhagicum**

له سوزاک سره یوځای پوستول لرونکې سورایزس .

- **Keratoderma Climactericum**

د لاس په ورغوی او د پښې په تلې کې یو ډول اکتسابی کراتودرمی چې کله نا کله ددې سیمو د پنډشوی پوستکی پرمخ باندې ژور لیکو سره یو ځای وی دغه عارضه په پرې مینوپوز میرمنو کې لیدل کېږی.

- **Keratoderma Palmplanter**

د لاس په ورغوی او د پښې په تلې کې یو ډول ولادی – ارثی کراتودرمی اوپنډوالي چې کله نا کله د پنډشوی پوستکی پرمخ باندې درد ناکه ژور لیکو سره یو ځای وی دغه عارضه د نورو وتلیو غېرپه نارمل حالاتو سره مل لېدل کېږی.

Keratogenous

کراټوجېنوس ، هر هغه عامل چې د تقرنی موادو د ودې لامل ګرځی .

keratoglobus

یو ډول دوه اړخیزه غېرنارمل حالت چې په هغه کې قرنیه لویوالی مومی او راوتلې بڼه غوره کوی .د سترګې د ګاټې پرسوب .

Keratohelcosis

د قرنیې تېپې کېدل ، د قرنیې تپ ، د قرنیې پرهر.

Keratohyaline

تقرنی – هیالینی، په کراتو هیالینی ګرانولونو او یا د اپی درم په حُبیبوی (ګرانولی) طبقې پورې اړوند ، د کراتو هیالین ګډ جوړښت.

Keratoiritis

د سترګو د قرنیې او عنبی (Iris) التهاب .

Keratoleptyness

د قرنیې د قدامی برخې ویستل او پرځای یې د بولبار (بصلی) ملتحې ځای پرځای کول .

Keraroleukoma

د قرنیې پر مخ د سپین رنګه مکدریت منځ ته راتلل بلل شی.

Keratolysis

کراټولایزیس ، د پوستکی د اپیدرم د تقرنی طبقې نرمېدل او ېبلېدل .

- **Keratolysis Planter Sulcatum**

د تودو (ګرم) او لمدو (مرطوب) سیمو ځانګړې ناروغی ده چې د پښې د تلی پخ پوستکی کې د ژورو مېزابه ډوله تېپونو او د هغه د پوستکی د پرسوب په مرسته پېژندل شی.

- **Pitted Keratolysis**

د تودو (ګرم) او لمدو (مرطوب) سیمو ځانګړې ناروغی ده چې د پښې د تلی پخ پوستکی کې د ژورو مېزابه ډوله تېپونو او د هغه د پوستکی د پرسوب په مرسته پېژندل شی. په باراني موسمونو په پراخ ډول لیدل شی ، د (Keratolysis Planter Sulcatum) په انډول.

Keratoma

کراټوما ، مېخک ، د پوستکې په برخه کې د مېخ په څېر ورته جوړښت منځ ته راځی چې ډېر پېړ او ښاخې ډوله وی او د پښو په تله کې ډېر مهال لیدل شی ګڼه شمېره یې (Keratomas یا Keratomata) بلل شی.

Keratomalacia

د قرنیې نرمښت او نکروزس ، دا حالت د ویټامین (Vitamin A) د کمښت له امله لیدل کېږی همدارنګه د پوستکی د تقرنی طبقې نرمښت هم لېدل شی.

Keratomas

کراټوما ګاني یا ګڼ شمېر (Keratoma) بلل شی.

keratome

د قرنیې د پرې کولو (هوځولو) مخصوصه چاړه ده.

د قرنیې بدلون او یا یوې برخې پیوند کولو پلاستیک جراحی کړنه بلل شی ګڼه شمېره یې (**Keratoprostheses**) ده .

Keratorhexia

د قرنیې څېری کېدنه .

Keratoscope

د قرنیې د انحنا کتنې لپاره ځانګړې وسیله ده چې ورته (**Placido's Disc**) هم وایی.

Keratoscopy

د قرنیې کتنه ، د قرنیې معاینه کول .

Keratosis

د پوستکی آفتونه ، د پوستکی ناروغی. لکه د مېخک او تقرن ګڼه بڼه یې (**keratoses**) بلل شی.

- Actinic Keratosis

د پوستکی یو ډول مېخکی یا کراتوتیک وده ده چې د پوستکی د تقرن لامل ګرځی ښایې چې په خبائث واوړی د اوږدې مودې لپاره د لمر وړانګو مخامخ کېدو له امله منځ ته راځی .

- Blennorrhagica Keratosis

د (**Keratoderma Blennorrgicum**) په انډول .

- Follcularis Keratosis

یو ډول ارثی کراتوز چې د مرطوبو او بخار لرونکو سیمو اومېخک ډوله راوتلتیا سره مل چې یوتر بله نښتې بڼه لری او په پاپیلو درماتوزی وتلتیاوو او لویو مېخکونو تبدیلیږی او پېژندل شی.

- Inverted Follicularis Keratosis

یو اپیتلیائي سلیم تومور دئ چې معمولاً یوازې او منفرد وی او د ویښتانو فولیکول څخه منشه اخلی او د یوه غوښن پاپول یا نوډول په بڼه راڅرکندېږی .

- Linguae Keratosis

د ژبې لوکپلکیا .

- Keratosis Obturans

د غوږ په کانال کې دننه د اضافی او خانګړی جلدی تفلسی حجرو په څېر وده مومی چې ښائی د درد او لږه اندازه اوربدنې له لاسه ورکولو سره مل وی.

- Keratosis Palmaris et Plantaris

د (**Paloplanter –keratoderma**) په انډول .

- Keratosis Pharyngea

یو ډول کراتوز چې د ټانسیلونو پر مخ د تقرنی زوائدو او د بلعوم د جدارونو د لمفاوی فولیکولونو د سوریو په مټه پېژندل شی.

- Keratosis pilaris

یو ډول کراتوز چې د وېښتانو د تر فولیکونو پوری محدود وی دا سلیمه بڼه لری او ارثی منشه لری په هغه کسانوکې چې ډېر وچ پوستکې او یا هم [**Atopic Dermatitis** یا **Eczema**] لری منځ ته راځی په

Keratometer

هغه وسیله چې د قرنیې د انحنا ټاکنې لپاره کارول شی.

Keratometeric

د (**Keratometer**) اړوند صفت .

Keratometry

هغه پروسه چې د قرنیې د انحنا ټاکنې لپاره کارول شی.

Keratomileus

یو ډول کراتو پلاستی چې په هغه کې د ناروغ د قرنیې یو شق ایسټل کېږی په مطلوبه اندازه انحنأ ورکول کېږی او بیا په لومړی ځای کې ایښودل کېږی تر څو د لید عیب له منځه ولاړ شی.

Keratomycosis

کراټومایکوزیس، د قرنیې چنیاسې (فنګس) ناروغی.

- Keatomycosis Linguae

د ژبې کراټومایکوزیس ، د توریږ ژبې (**Black Tongue**) په انډول.

Keratonyxis

د (**Keratocentesis**) په انډول .

Keratopathy

د قرنیې هرډول غیر التهابی ناروغی. چې ګڼ شمېره یې (**Keratopathies**) بلل شی .

- Band Keratopathy

د قرنیې پرمخ د یوې توربخنې حلقوی پټی. پیدا کېدنه.

Keratophakia

یو ډول ګرانوپلاستی چې په هغه کې د یوه ورکوونکی شخص له قرنیې څخه ټوټه اخیستل کېږی اړینه انحنأ ور کوله کېږی او د اخیستونکی کس د قرنیې د طبقو په منځ کې پیوند کېږی.

Keratoplasty

د قرنیې نسج لپاسه د هر ډول پلاستیکی عملیات تر سره کول دی او ګڼه شمېره یې (**Keratoplasties**) بلل شی.

- Optic keratoplasty

د هغه تندبی نسج لپاره د قرنیې پلاستیک عملیات چې د باصری اختلال لامل شوېوی.

- Refractory Keratoplasty

دورکوونکې کس یا په خپله د ناروغ د قرنیې د یوې برخې راویستل او بیا انحنا ته یې بدلون ورکول او د باصری اختلال د سمولو لپاره د (قرنیې نسج په منځ یا طبقو ترمنځ) اخیستونکې کس ته پیوندوول .

- Fectonic keratoplasty

د قرنیې د له منځه تللی نسج لپاره د قرنیې پیوند.

Keratoprosthesis

د روسی عصبی متخصص (**Vladimir Mikhailovich Kernig**) پذریعه شرحه شو.

Kerosene poisoning

د خاورو تېلو مسمومیت ، دا یو ډول غوړ دی چې په څراغونو کې د سوند موادو په څېر کارول شی نو کله چې وخوړل شی او یا هم انشاق شی د دې مادی (**Kerosene**) مسمومیت پېښېږی

Ketamine

کېتامین ، دا یوډول د چټکې اغېزې درلودونکې عمومی بېهوښه کوونکې ماده ده سپین کریستالونه پوډر لری هایدرکلورایدی مالګې په بڼه په انسانانو او ویترنری طبابت کې کارول کېږی.

Keto-

دا یو مختاړې دئ او د یوه کیتونی ګروپ ستون معنی بشپړوی.

Ketoacid

د یوه کاربونیل ګروپ درلودونکې کاربوکسیلیک اسېد دئ.

Ketoacidosis

د بدن په نسجونو او وینې پلازما کې د کیتون جسمونو (**Ketone Bodies**) راټولېدنې سره مل د اسیدوزس ناروغی بلل شی او په شکري (**Diabetes**) کې منځ ته راځی.

- **Diabetic Ketoacidosis**

د شکري ناروغی اړوند کېتواسیدوزس.

Ketoaciduria

په متیازو کې د کیتواسیدونو اطراح ته ویل شی.

- **Branched–Chain Ketoaciduria**

د (**Mepale Syrup Urin Disease**) په انډول.

Ketaminoacidemia

د (**Mepale Syrup Urin Disease**) په انډول.

ketobuttyric Acid

د اسیتواستیتیک اسید په انډول.

- **β-ketobuttyric Acid**

د اسیتواستیتیک اسید د بېتا کیتوبیوتاریک اسید ډول

ketoconazole

کیتوکونازول ، دا د چنیاسې ضد اغېزلرونکې پراخ ډول اغېزې لری لکه د (**Cryptococcosis**او **Thrush**) پرضد.

Ketogenesis

د کیتونی جسمونو منځ ته راتګ او تولید بلل شی.

Ketogenetic

د (**Ketogenesis**) اړوند صفت.

ژمی موسم کې زیاتوالې مومی او په دوبی کې ښه والې مومی.

- **Keratosis Panctata**

یو ډول ارثی هایپر کراتوز چې پکې د لاسونو ورغوی او پښو تلی کې پریمانه ضایعات منځ ته راځی.

- **Seboeeheic Keratosis**

د اپیدرمی سرچینې درلودونکې سلیم تومور چې لږ حه صباغ لرونکې او ماتېدونکې نرم پلکونه په (مخ، تنې او اندامونو) په سرکې لیدل کېږی ، د (**Seborrheic Keratosis**) په انډول.

- **Senil Keratosis**

د (**Actinic Keratosis**) په انډول.

Keratosulfate

د (**Keratin Sulfate**) په انډول.

Keratotomy

د قرنیې غوڅولو جراحی کړنلاره چې په سترګې جراحی کې لومړنی پراودئ او ګڼه شمېره یې (**Keratotomies**) بلل شی.

- **Radial Keratotomy**

جذری ډول دقرنیې غوڅول ، د میوپیا د رغوونې او د قرنیې هواروولو په موخه د بهرنی ژی څخه د مرکز پّه لورې د قرنیې پر مخ د ګڼ شمېر پرې کول تر سره کېږی.

Keratotorous

د قرنیې ګنبذی کېدل.

Kerion

یوډول دردناکه راوتلې اګزوداتېف پرسوب چې سطحه یې د پوستول اندفاعاتو پذریعه پوښلې وی او دغه ضایعات د پوستکی په چنیاسې انتاناتو کې لیدل کېږی معمولاً دسر په (**Scalp**) کې د (**Ringworm**) پذریعه منځ ته راځی.

Kernicterus

د نوی زېږېدلو ماشومانو په منځ کې هغه نادره ډول ناروغی چې د عصبی پیاوړو نښو په شتون والی سره پېژندل شی او په وینه کې د بیلیروبین د کچې د بې درېغه لوړو سطحو سره یو ځای وی چې پوستکی او مخاطی غشأ ته ژیړ رنګ وربخښی چې ژیړې نومول شی اختلاطونه یې (کونوالې ، او نور عصبی اختلالونه) لاملونه یې (**Rh Hemolytic Disease** چې ښایې د **Hydrops Fetalis** حالت) پېښ کړل شی.

Kernig's sign

داهغه نښه یا علامه ده چې پکې پښې د زنګون بند څخه سمون (بسط) حالت نه غوره کوی که چېرې ناروغ ستونی ستاغ پروت وی پښې یې په ګېده باندې راټوله بڼه غوره کوی او د مننجیټ په ناروغی کې منځ ته راځی په کال (**1917**) کې

- **Ketones - urine**

په متیازو کې د کیتونی موادو شتون ته ویل شی چې په هغه کسانو کې چې کافی اندازه (**Sugar** یا **Carbohydrates**) نه مصرف کوی د لایپولایزس له امله منځ ته راځی .

Ketonuria

په متیازو کې د کیتونی موادو اطراح او شتون ته ویل د لایپولایزس له امله منځ ته راځی .

Ketoprofen

دا د غیر سټروئیدی التهاباتو ضد (**NSAID**) درمل دی چې د (**Rheumatoid Arthritis** او **Osteoarthritis**) ناروغیو په درملنه کې کارول شی.

- **Ketoprofen Overdose**

د کیټوپروفین د درملو په دېره کچه خوراک چې ښائی دا تصادفاً یا قصداً د ټاکلې اندازې څخه په لوړه کچه وخوړل شی.

Ketrolac

دا د غیر سټروئیدی التهاباتو ضد (**NSAID**) درمل دی چې د (**Rheumatoid Arthritis** او **Osteoarthritis**) ناروغیو په درملنه کې په لنډ مهاله ډول د دردونو آرامولو لپاره کارول شی.

Ketose

د مونوسکرایډونو یوه ډله چې غیر انتهائي کاربونیل ګروپ لري.

Ketosis

د بدن په نسجونو او مایعاتو –وینه کې د کیټونی جسمونو او موادو لکه (**Acetone** او **Acetic Acid**) له حد څخه زیاته راغونډېدنه چې په هغه حالتونو کې منځ ته راځی چې شحمی اسیدونه په نیمګړی ډول سره استقلاب یا میتابولایز کیږی او د شکرې (**Type- I. Diabetes Mellitus**) وروسته بالې اختلاط بلل شی.

Ketotic

د (**Ketosis**) اړوند صفت.

Ketosteroid

هغه ستروئیدچې خپل وظیفوی کاربن باندې یو یو کیټونی ګروپ لری د (**17- Ketosteroids**) چې د په متیازو کې په نورماله بڼه موندل کیږی او په ځینو ځانګړو تومورونو او همدغه راز ادرینال ولاړی هایپرپلازیا کې یې زیات شوی مقدارونه هم لیدل کیږی.

Keyhole Surgery

دا هغه جراحی طریقه ده چې دهغې له لارې یو نری جراحی

Ketogenic

د (**Ketogenesis**) اړوند صفت.

- **ketogenic Diet**

هغه ډول غذا چې د ډېر مقدار غوړو یا څربه موادو لرونکې وی او کیټوزس (**Ketosis**) حالت تولید کړی.

Ketoglutrate

د کیټو ګلوتاریک اسید مالګه.

- **α-Ketoglutrate**

د الفأ - ګلوتاریک اسید مالګه یا انیون.

Ketoglutaric acid

د آمینواسیدونو د میتابولیزم په بهیر او د یوه امین ګروپ د منلو په څېر انتقالی تعاملاتو کې د ترای کاربوکسیلیک اسید په کړی کې یو میتابولیک واسطوی محصول.

- **α-Ketoglutaric Acid**

د الفأ - کیټوګلوتاریک اسید.

Ketolysis

د کیټونی جسمونو تجزیه او تحلیل پروسه.

Ketolytic

د (**Ketolysis**) اړوند صفت.

- **Ketolytic Agent**

کیټولایټیک اجنټ ، کیټولایټیک ماده .

- **Ketolytic Process**

کیټولایټیک پروسه .

Ketonaemia

په وینه کې د کیټون جسمونو شتون ناروغه او بیمار حالت بلل شی.

Ketone

کیټون ، دا یو عضوی کیمیاوی جوړښت دئ چې د کاربونیل ګروپ ولری کوم چې د کاربن اتوم پکې له دوه نورو کاربُنی اټومونو سرن نښلېدلې وی یا په بله ژبه د کاربونیل ګروپ (**C=O**) په یوه کاربنی ځنځیر کې پروت وی دا مرکب د ګلوکوز د نشتوالی په حالت د انرژی تولید په موخه د شحم د تجزیې پروسې په لړ کې تولیدیږی او کیټوزس (**Ketosis**) منځ ته راوړی.

- **Ketone Bodies**

کیټون جسمونه چې د (**Fatty Acids**) څخه منځ ته راځی.

- **Ketone Group**

کیټون ګروپ یا ډله ، یو کیمیاوی ګروپ چې د کیټون اوصافو لرونکې وی او د کاربونیل ګروپ (**C=O**) او نورې دوه اړیکې یې د عضوی ګروپ سره جوړې کړې وی.

وسیله د اندوسکوپ پذریعه ګډې ته وردننه کېږی همدارنګه دغه کرنې ته لاپراسکوپیک جراحی (Laparoscopic Surgery) هم ویل کېږی .

KeV, kev

کیو الکټرون ولټ (Kilo Electrone Volt) لنډه نښه ده .

Kg

کیلوګرام Kilogram ، د تللو او وزن کولو اړوند زر ګرامه پیمانه بلل شی.

kHz

کیلو هرټز Kilohertz ، د اهتزاز لپاره زر هرتز اندازه بلل شی.

Kidney

پښتورګې ، بڼودې ، ګرده ، کلیه ، دبولی سیستم اړوند هغه دوه غړی چې د قطنی سیمه کې دواړه لورو ته پراته دی او د [وینې د تصفیې ، دمتیازو لهلارې د اضافی موادو اطراح ، په خراج الحجروی مایع کې د هایدروجن ، سوډیم ، پوټاسیوم او نورو آیونونو ، د غلظت تنظیم] دنده پر غاړه لری.

- Abdominal Kidney

دګډې دننه پښتورګی ، یو اکتوپیک پښتورګې چې د ایلیاک کرسټ په سر پروت دې نوم (سُره) یې د دوهمې فقرې په ګاونډیتوب کې ځای نیولې دئ.

- Amyloid Kidney

د (Renal Amyloidosis) په انډول .کلیوی امایلوئیدوزس.

- Artificial Kidney

مصنوعی پښتورګی.دا یو ډول ماشین دې چې پښتورګو عدم کفایه کې د وینې بهیر ورځخه تېریږی او وینه له یوریا او کریاتینین ځخه تصفیه کوی ، د هیمودیالایزس ماشین .

- Cake Kidney

یو کلک او سخت غړې چې غېر منظم بې بڼې لوبونه لری چې د دوه انالجن پښتورګو له پیوستون ځخه منځ ته راځی.

- Cicatrical Kidney

یو غړند او غونج (چملک) او غېر منظم بڼې لرونکې پښتورګې چې د خیری او زویو (قیح) لرونکی پیلونفریت له امله منځ ته راځی.

- Contracted Kidney

هغه متقلص او ضمور موندلای پښتورګې چې پکې پښتورګې غونج او نامنظمه بڼه خپله کړی.

- Kidney Dialysis

د مصنوعی پښتورګو پذریعه د بدن د وینې تصفیه کولو پروسه بلل شی چې ورته (Haemodialysis) هم ویل کېږی.

- Kidney Disease - resources

د پښتورګو د ناروغیو لپاره سرچینه . یو لړ پتې دي چې د هغې له مخې د دې ناروغیو اړوند معلومات تراسه کېږی.

- Kidney Donor

هغه ځوک چې خپله یوه کلیه (پښتورګې) د ترانسپلانټ لپاره بل چا ته ورکوی. پښتورګې ورکوونکې کس.

- Kidney Failure

د پښتورګو نه بریالیتوب ، کلیوی عدم کفایه ، هغه حالت چې پکې پښتورګی خپله دنده سمه نشی تر سره کولای .

- Fatty Kidney

هغه پښتورګی د وازدې په استحاله اخته شوېوی.

- Flee –Bitten Kidney

هغه پښتورګی چې په سطحه یې د نامنظمه انتشار لرونکی کوچنی پتیشیاګانې لیدل کېږی.

- Floating Kidney

لامبوزنې پښتورګی ، ډېرې خوځنده پښتورګی ، هایپرمویایل کلیه.

- Kidney Function Tests

د پښتورګو د دندې ټاکنې لپاره آزمایښت دئ چې پکې (BUN ، Creatinine – Blood ، Creatinine - Urine Creatinine Clearance) کنټل کېږی چې لنډه نښه یې (KFT) ده.

- Fused Kidney

دا یو ډول غېرنارمل حالت دئ چې دواړه لوری پښتورګی د ملاتیر قدام کې یو دبل سره پیوستون لری او بې ځایه وی. فیوزشوی بڼودی.

- Goldblatt Kidney

هغه پشتورګی چې د کلیوی بهیر د کمښت له امله د وینې د فشار د زیادښت لامل ګرځی.

- Head Kidney

د پرونفروز (Pronrhros) په انډول.

- Horseshoe Kidney

د آس د نعل په څېر پښتورګی ، دا یو ډول غېرنارمل حالت دئ چې دواړه لوری پښتورګی په انالجن بڼه د ملاتیر قدام کې یو دبل سره پیوستون لری او بې ځایه وی. فیوزشوی بڼودی.

- Hypermobile Kidney

ډېر خوځنده بڼودی ، هغه پښتورګی چې په آسانه بڼه سره ټکان مومی ، ډېر متحرک پښتورګی.

- Lumber Kidney

یو اکتوپیک پښتورګې چې په ایلیاک فوسا کې (د ایلیاک رګونو په قدام کې) د سکروم پرومانتېر په مخ کې پروت دی.

- Lump Kidney

قطنی پښتورګې ، د (Cake Kidney) په انډول.

- Kidney Machine

د وینې د ډیالایزس او تصفیې لپاره مصنوعی جوړ شوې ماشین.

- Middle Kidney

د (Mesonephros) په انډول.

- Pelvic Kidney

د حوصلې پښتورګې ، یو اکتوپیک پښتورګې چې د سکروم

Killer
وژونکي ، ختموونکي ، قاتل ، قتل تر سره کوونکي ، له منځه وړونکي لکه د (درد ، ژوند) له منځه وړونکي .

- **Killer Cell**
وژونکي حجري ، دا د ایمیون سیستم هغه معافیت منځ ته راوړونکي حجري دي چې نوري حجري چې خانګړي انتي جن پّه خپله سطحه باندې لري لکه د ویروسی حجري یا کانسری حجري له منځه وړی لکه د (**Killer T Cell**) حجري .

- **Killer Disease**
وژونکي ناروغی ، هغه ناروغی چې وژونکی بڼه ولری.

- **Killer T -Cell**
د ټی وژونکي حجري ، دا د ایمیون سیستم هغه معافیت منځ ته راوړونکي حجري دي چې نوري حجري چې خانګړي انتي جن پّه خپله سطحه باندې لري لکه د ویروسی حجري یا کانسری حجري له منځه وړی.

- **Pain killer**
درد له منځه وړونکی ،هغه درمل چې درد له منځه وړی لکه انالجزیک او ترانکولایزر درمل.

Killian's Operation
دا یو ډول جراحی کړنلاره ده چې پکې د جبهی سینوس (**Frontal Sinus**) پاکوول د کورت (**Curetting**) پذریعه د وریځې د ځیرلو او شق وروسته تر سره کېږی چې د لومړی ځل لپاره د (**Gustav Killian**) د جرمنی (**German Laryngologist**) پذریعه په کال (**1921**) شرحه او تر سره شو.

Kilo-
دا یو مختاړي دئ او د یوکیلو (**Kilo**) د زر (10^3) معنی بشپړوی او سمبول یې (**k**) دئ.

Kilocalorie
کیلوکالوری . د تودوخی (حرارت) واحد دئ او د (**1000**) کالوری په انډول ده لنډه نښه یې (**Kcal**) ده .

Kilodalton
کیلوډالټون ، دکتلې (وزن) واحد دئ او لنډه نښه یې (**KDa, kD**) ده .

Kilogram
کیلوګرام . د (**SI Unit**) په سیستم کې د کتلې اصلی واحد دئ او د (**1000 Grams**) ګرامه یا یو ډی سی متر مکعب اوبو سره په انډول ده یو کیلوګرام د (**2.205**) پونډه سره په انډول دئ لنډه نښه یې (**Kg**) ده .

Kilohertz
رز هرتزه ، یوکیلو هرتزه چې انډه نښه یې (**KHz**) ده .

پرومانتېر په سطحه او د ابهر دوه څانګې کېدو لاندې پروت دی.

- **Polycystic Kidney**
د ډېرو سیستونو درلودونکی ناروغی پښتورګې ، دا یوه ولادی ناروغی ده چې پکې پښتورګی د کوچنیو سیستونو څخه منځ ته راغلی وی.

- **Primordial Kidney**
د (**Pronephros**) په انډول .

- **Kidney Removal**
د پښتورګو رایستلو جراحی کړنلاره –طریقه چې ورته د (**Nephrectomy**) نوم هم ورکړل شوېدئ.

- **Kidney Removal -discharg**
د پشتورګو د ویې تلو څخه وروسته د افرازاتو شتون چې معمولاً تر څو ورځو پوري وی.

- **Sigmoid Kidney**
یو داسې پښتورګې چې بڼې یې بدلون مونداى وی کوم چې یو بډوډې لاندې پول (قطب) سره د بل هغه د پورتنی قطب پیوستون وروسته منځ ته راځی. د انګریزی (**S**) توری په څېر بډوډی.

- **Sponge Kidney**
اسفنجی بډوډې ، یو بې نښې او ولادی وضعیت چې پکې د کلیوی هرمونو د مرکزی برخې د راغونډوونکو کوچنیو سیستیکو پراختیاوو پښتورګی ته اسفنجی بڼه بخښلې وی.

- **Kidney Stone**
د پښتورګی ډبره ، د بډوډې تیږه.

- **Kidney Stones - Lithotripsy - discharge**
دپښتورګو د تېږو درملنه د لیتوتراپسی څخه وروسته دافرازاتو شتون .

- **Kidney Stones - self-care**
د پښتورګو د تیږو پخپله ځارنه او مراقبت .

- **Thoracic Kidney**
صدری پښتورګی، یو اکتوپیک پښتورګې چې په بشپړ یا نیمګړی ډول د ډیافراګم په سر د خلفی منصف په منځ کې پروت وی.

- **Kidney Transplant**
د پښتورګو د ترانسپلانټ (پیوند) کړنه او جراحی تر سره کول، د پښتورګو ترانسپلانټ کړنه چې پکې د یو چا پښتورګي بل چا ته پیوند کول شی.

- **Wondering Kidney**
د (**Hypermobile Kidney**) په انډول .

- **Waxy Kidney**
د (**Amyloid Kidney**) په انډول .

Kill
وژل ، وژنه ، د یوچا / یا ژوندی جسم د حیات له منځه وړل ، مړ کول .

Kilojoule
کیلو ژول . د (SI Unit) په سیستم کې د انرژی او حرارت اندازې نیولو اصلی واحد دئ او د (1000 Joules) ژول په انډول دئ لنډه نښه یې (kJ) ده .

Kilometer
کیلومتر . د متریک (CGS) په سیستم کې د واټن (مسافې ،فاصلې) ټاکنې اصلی واحد دئ او د (1000 m) متره په انډول دئ لنډه نښه یې (Km) ده .

Kilopascal
کیلو پاسکال . د (SI Unit) په سیستم کې د فشار اندازې نیولو اصلی واحد دئ او د (1000 Pascals) پاسکال په انډول دئ لنډه نښه یې (kPa) ده .

Kilovolt
کیلو ولټ . د (SI Unit) په سیستم کې دبرېښنا انرژی او حرارت اندازې نیولو اصلی واحد دئ او د (1000 Volts) ولټ په انډول دئ لنډه نښه یې (KV) ده .

Kimmelstiel-Wilson Disease
په شکرې ناروغانو کې د (Nephrosclerosis) حالت شتون بلل شی چې د امریکائی پتولوژست (Paul Kimmelstiel) پذرېعه په کال (1936–1970) کې او بیا ورسته د بریطانوی داخلې ناروغیوپوه عالم ښاغلی (Clifford Wilson) پذرېعه په کال (1906–1998) کې شرحه شو ، د (Kimmelstiel-Wilson Syndrome) په انډول .

Kin
د کورنۍ غړې یا نږدې خپلوان ، له یوه نسب او تېر څخه .

Kin -
دا یو مختاړې دئ او د (خوښت ، حرکت او څارویو - kine) معنی بشپړوی .

Kinaesthesia
د ببهوښۍ هغه حالت چې خپل د بدن غړو دخوښت او پوزیشن څخه یو څوک خبر ولری ، د (Kinesthesia) په انډول .

Kinanaesthesia
د ببهوښۍ هغه حالت چې خپل د بدن غړو دخوښت او پوزیشن څخه یو څوک خبر ونلری ، د (Kinanesthesia) په انډول .

Kinase
د یوه ورکوونکی (ډونر) مرکب څخه یوه رسپتور مرکب ته یوه له انرژۍ څخه بډایه ګروپ (لکه ATP) د لېږد د کتلایز کوونکی انزایمونو په ګډون د ترانسفریز انزایمونو یوه کوچنۍ ډله ،

- kinase
هغه روستاړې چې د غېر فعالو یا پریکارسور مرکباتو د اړوونکو انزایمونو د نومولو لپاره پکار وړل شی.

Kine -
دا یومختاړې دئ او د خوښت او حرکت معنی بشپړوی .

Kinematics
هغه علم چې د بدن د خوښتونو او حرکتونو د (میکانیزم ، اغېزو...) اړوند څېړنې تر سره کوی.

Kineplasty
د مصنوعی غړی په خوښت راوستلو کې د پرې شوی یوه غړی له ستامپ څخه کتپه اخیستله کېږی ګڼه شمېره یې (Kineplasties) بلل شی.

Kinescope
په سترګو کې د رېنا د انکسار د کچې د ارزونې لپاره وسیله

Kinesi-
دا یومختاړې دئ او د خوښت او حرکت معنی بشپړوی .

Kinesia
د په موټر کې دسفر زړه بدوالی (Motion Sickness) ته ویل شی.

Kinesics
هغه علم چې د بدن د خوښتونو او حرکتونو د (میکانیزم ، اغېزو...) اړوند څېړنې تر سره کوی.د (Kinematics) په انډول.

Kinesigenic
د خوښت او حرکت له امله پېښ شوی .

Kinesimketer
د حرکتونو د کمښت د اندازې نیولو لپاره وسیله .

Kinesiology
هغه علم چې د بدن دغړو خوښتونو او حرکتونو د (میکانیزم ، اغېزو ، درملنې...) اړوند څېړنې تر سره کوی .د (Kinematics) په انډول.

Kinesioneurosis
یو ډول عصبی وظیفوی اختلال دئ چې د حرکتونو ستونزو په مرسته پېژندل کېږی.

Kinesis
خوښت ، حرکت ، یو ډول حرکت چې د پارېدنې او تحریک له کبله منځ ته راځی چې کچه یې د تحریک د شدت پورې اړوند ده او د هغه د وسعت سره سروکار نلری.

